تفسیر ابوحنیفہ

تالیف

علامۃ العصر وحید الدہر ابو الفضل مولانا محمد عبد اللہ السید الایوبی

الصندوہاری العیلما نخیلی الحنفی النقشبندی عفی عنہ

ناشر

مکتبۃ القراۃ والتجوید

کافسی روڈ مشالدرہ کوئٹہ

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner



Maktaba Tul Ishaat .com



تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں



تفاسیر	خطبات	منطق
احایث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

Maktaba Tul Ishaat.com

MAKTABATUL QIRAIATI WALTAJWEED QUITTA

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

په پښتو ژبه کښې اولنی او په افغاني تاريخ کښې يې ساری

په زر گونو جديدو مسئلو باندې مشتمل

تفسیر البیان

وَالْمُحْصَنٰتُ ۞۞۞ لَا يُحِبُّ اللّٰهُ

شپږم توک ٦

تالیف او تصنیف

د علامة العصر ابو الفضل شيخ التفسير والحديث فقيه دوران مفسر الزمان

حضرت مولانا محمد عبيد الله الايوبي

الكندهاري السليمانخيلي الحنفي النقشبندي حفظه الله تعالى

مكتبة التراث والجديد

كانسي رود شالدره كوټه

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم ..... تفسير ايوبي پښتو شپږم ټوک

مؤلف ..... الحاج مولنا محمد عبيد الله الايوبي الكندهاري السليمانخيلي الحنفي حفظه الله تعالى بفضله الوهبي

کمپوزر ..... حبيب الحق حقاني (مينګل)

ټايپ ..... حقاني کمپيوټر اداره

نشر کوونکي اداره ..... مكتبة القراء ت والتجويد كانسي رود كوټه

د چاپ ځای ..... لاهور پاکستان

زېرى

الحمدلله زمونږ په دين اسلام کي علماؤ نه سترې کېدونکي کوششونه کړي دي، چې د هري ژبې علماؤ خپل د ژبې لپاره د قرآن عظيم الشان او احاديث مبارکه وو څخه ښه ښه مسائل د خپلو خلګو لپاره په خپله ژبه د قلم څوکې ته رسولي دي، نو زمونږ اداره هم الحمدلله په دې ډګر کي شاته نه ده چې د نورو مسائلو د وړاندې کولو وروسته يې اوس يو نوی کتاب په نامه د

تفسير ايوبي

چې د مبرمنو لپاره يو دُر بې بهاء تحفه ده. ژباړلی دی الله تبارك وتعالى دې په خپل دربار کي قبول او مقبول کړي آمين

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

جميع الحقوق محفوظة

جميع حقوق الملكية الادبية والفنية محفوظة لمكتبة القرائة والتجويد كوئٹه باكستان و يحظر طبع أو تصوير أو ترجمة أو إعادة تنضيد الكتاب كاملاً أو مجزأ أو تسجيله على أشرطة كاسيت أو إدخاله على الكمبيوتر أو برمجته على اسطوانات ضوئية إلا بموافقة الناشر خطياً.

Copyright ©
All rights reserved
Tous droits reserves

Exclusive rights by Maktabatul-Qiraat i waltajweed Quetta - Pakistan. No part of this publication may be translated, reproduced distributed in any form or by any means, or stored in a data base or retrieval system, without the prior written permission of the publisher.

الطبعة الاولى

١٤٢٧ هجري — ٢٠٠٧ ميلادي

مكتبة القرآءة و التجويد
شارع كانسي كوئٹه-باكستان
رقم الهاتف ٢٨٨٥٥٢٥-٠٣

MAKTABTUL-QIRRAT WALTAJWEED
KANSI ROAD QUETTA
BALOCHISTAN

ISBN 2-7451-3140-0

الحمد لله وحده والصلواة والسلام
على من لانبي بعده.

الله تعالى لره دي حمد وي چې د قرآن مجيد د خدمت او چوپړ و هلو لپاره يې مفسرين تيار کړي دي، او د ليکلو او خپرولو لپاره يې هم خپل له بندګانو څخه بعض خوش نصيبه بندګان منتخب کړي دي لکه څرنګه چې وايي

این سعادت بزور بازو نیست
تانه بخشد خدائ بخشنده

خو بنکاره خبره داده چې خوش نصيبه دي هغه انسانان د کومو چې د ژوند څو ګهوري شهبې د قرآن مجيد په خدمت کې تېري سې، برعکس څه انسانان بيا داسې هم سته چې هغه د دروغو قصې او واقعات خپروي، صرف او صرف خيالي تصوراتو ته وده ورکوي، او يا لا دا چې د الله تعالى مخلوق وداسې لاري ته رابولي کوم چې په حقيقت کې هغه لاري د شيطان لاري دي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نبي کريم ﷺ فرمايي! کوم چاته چي الله تعالی د خير اراده وکړي، نو هغه ته په دين کي پوهه ورنصيب کړي، په نړۍ کي دا يو منل سوی حقيقت دی چي د قرآني علومو خدمت په دنيا او آخرت کي د ښېګڼو سرچينه ده، او په ځانګړي ډول بيا که ځوک د خپل ژوند اخيري شپې د قرآن مجيد په خدمت کي تېرې کړي، نو د دنيا د ټولو پوهانو په اند هم تر داسي چا خوش نصيبه ځوک نسته.

همدا رنګه نبي کريم ﷺ فرمايي! چي الله تعالی وايي چي که چېرې د قرآن مجيد تلاوت، تدبر، تفسير، تعليم او تعلم زما له ذکره څخه ځوک مشغول وساتي، نو داسي چا ته به زه تر ټولو ښه هغه څه ورکړم کوم چي زما له لوري وسوال کونکو ته ورکول کېږي.

آمدم بر سر مقصود

حضرت علامه ايوبي صاحب مدظله العالي هم د خپل ژوند اخيري شپې د قرآن مجيد و تفسير ته وربښلي دي، کوم چي په حقيقت کي د ژوند تر ټولو مقاصدو يو ستر مقصد دی، او د الله تعالی د کتاب براه راست يو لوی خدمت دی.

زمونږ دعاء ده چي الله تعالی ەي ده ته ښه ژوند ورکړي تر څو دا تفسير وټولو مسلمانانو ته ډالی کړي.

همدا رنګه زمونږ د ټولو لوستونکو څخه هيله ده چي هغه دي د حضرت ايوبي صاحب د ښه صحت په اړه له الله تعالی څخه دعاوي ورته وغواړي، تر څو هغه پاته تفسير هم و اکمال ته ورسوي آمين، نور مو پر خدای سپارو

د دعاوو په هيله

قاري فضل الحق حقاني

باني مکتبة القراءت والتجويد

کوئټه بلوچستان

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين. والصلوة والسلام على سيدنا و سيد المرسلين وعلى آله وصحبه اجمعين.

شکریه

دروبش وايي: چې زه د مکتبة القراءت والتجويد چې تر مشرۍ د قاري مقري مجود اعظم خوشتويس بلا عديل قاري فضل الحق حقاني چې په بنار کې د کوټې موجوده ده ډېر ممنون او شکر ګذار يم چې د دروېش مصنفات عديده يا د قلم د کتابت له لارې او يا د کمپيوټر د صنعت له لارې و اعلى طباعت ته سپاري، او په ډېرو زېبا او قشنګ جلدونو کې يې و عالم اسلام ته وړاندې کوي، او په دې لار کې مالي او سفري کړاوونه پر ځان باندې وړي دي او وړي يې.

نو له دې کبله د دوروېش د هغو مصنفاتو چې طبع يې نامبرده پر غاړه اخستې ده اجازه خاص الخاص ودغه نامبرده ته هبه کړې ده، بل کتب فروش نه په تغير د کتابت يا په بل عنوان حق د طبع نه لري، هو که نامبرده قاري صاحب اجازه ورته وکړي هغه بېله خبره ده.

محمد عبيد الله ايوبي

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سکين او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

معذرت دروښ

پوه سه: چې اهل عقل او نقل پر دې خبره متفق دي چې انسان لره سهوه او نسیان او تېروتل لازلري الا من شاء الله، حتی چې قدماء د اهل تفسیر او محور کسان د محدثینو او پر منابرو د تحقیق ناست رجال د فقهاؤ څخه دغه آفته خلاص نه دي کا یدل علیه اختلافاتهم في مصنفاتهم، نو چې سهوه او نسیان وډې حد ته د شیوخو ورسېدله، زه عاصي چې د سنه ۱۴۰۰ را په دې خوا تر سنه ۱۴۲۷ هـ په تصنیف د حواشیو پر درسي کتابونو د هر فن چې وي، او په تصنیف د غټو کتابونو لکه فقه، تاریخ او تفسیر القرآن بخت یم، نو زما به څه حال وي په سهوه، خطاء او نسیان کې، نوړله دې کبله زه له هم عصرو علماؤ او له نسل آتي له علماؤ څخه په دې عجز او انکسار عرض کوم چې زما په مصنفاتو کې کوم ځای زما خطاء وویني، نو دې پر قانون کلي انساني چې ذکر سو حمل کوي، او له حسد، غیبت او بهتان څخه دې ځانونه وژغوري، او خپلې سپېځلې عمل نامې دې په دغو نجسو عملو نه توروي.

زموږ په اوسنۍ زمانه کې درې حسده روی کار دي (۱) د هم عصرۍ حسد (۲) د اختلافي قومي حسد (۳) او علمي حسد، ټوله علماء بلکې عوام په دې ښه پوهېږي چې د چا په حسد خدای ﷻ خپل ورکړی نعمت وبل چاته له هغه نه اخلي، او دا د حسد وظیفه یوازې زموږ په اوسني نسل پورې خاصه نه ده، بلکې تاسي د در مختار خطبه مطالعه کړئ چې څومره اندازه یې په نظم او نثر سره له حاسدانو څخه ژړلي دي.

دروښ وایي: چې دا مقوله دې حاسدان خپل استاذې وګرځوي.

بنده راسه د خدای ﷻ خپل سه　　لکه پر ځان داسې پر بل سه

البته هر عالم حق لري چې یو ځای یې غلطي د اهل علم په کتابو کې ولیدل په ډېر انصاف او سهل عبارتو یې بیان کړي، دا وو عذر د دروښ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله والمنة والصلوة والسلام على خير البرية وآله وصحبه الكملة.

اما بعد: فهذه مقدمة لبيان الباعث على تصنيف تفسير القرآن العزيز باللغة الافغانية.

گرانو وطنوالو او پر دين او اسلام او قرآن شيدا مسلمانانو ورونو او خويندو د پښتو ژبې سره علاقه مندانو، السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.

له دېرې زمانې څخه د دورېش محمد عبيد الله سڼي حنيفي نقشبندي ايوبي قندهاري سليمانخيلي غفرله په زړه کې خدمت د خپلو پښتنو ورونو او خويندو وپه اسلامي چارو کې، يعنې په عقائدو کې د اهل سنة والجماعة، او په عملياتو کې چې تولـه فرائض او واجبات او سنن او مستحبات په بر کې ولري ځای پيدا کړی و، چنانچه د زړه له محبت څخه دروېش په عقائدو کې پر نور ظلم پښتو شرح وکړه چې په پښتو کې مقبوليت عامه پيدا کړي، او دې مقبوليت د دروېش همت افزائي وکړه، نو بيا يې شرحه د ابو المنتهى وکړه، او يو مختصر تاريخ چې د عقائدو سره يې تړاو درلودی "شهادت الحسنين" يې په دري ژبه تصنيف کړی، چې هغو دواړو کتابو هم شهرت عامه او مقبوليت عامه وموندی، نو نور يې د دروېش همت لوړ کړی او د مرزا غالب دا بيت مې رهنما وګرځاوه.

همت بلند دار که نزد خدا وخلق　　باشد بقدر همت تو اعتبار تو

نو شرح د شروط الصلوة مې تصنيف کړه رفته رفته شرح د قدوري د صلوة او نکاح حصه په دري جلدو کې، او شرح د نور الايضاح مې په دري جلدو کې وپای ته ورسول، او شرح د کنز الدقائق تر نکاح پورې په دوه جلده کې هم پايه تکميل ته ورسېده، خو اخير الامر ددغو کتابو مقبوليت عامه او د لقد احسنت پيغام له اطرافو څخه د پښتنو زما تر خوله په يوه مجلس کې دا خبره ووتله چې کاشکې مې د خدای ﷻ په توفيق د قرآن عظيم تفسير هم په پښتو ژبه کړی وای، خو دا خبره ماته باعث د شغامي او تحريري مطالباتو د ورونو له خوا او دروېش ته باعث د تحرير او اضطراب وګرځېده له، له دې کبله چې قرآن مبارک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بحر عمیق دی او په ژور دریاب دروېش غوندي نا اوبازه سړي ګډ ېدل له خطره خالي نه وي. لکن دې خبري دونده شهرت پیدا کړی، چې بعض کتب فروشانو او خوشنویسانو د خپلو کتابو په بعض فهرستو کې چې د دروېش د مصنفاتو بیان به یې لیکی دا به یې هم لیکلي وه "تفسیر ایوبي حنیفي" او په دې ذریعه نور د تفسیر مذکوره خواهشمندان تر حد ډېر سوه، حتی چې بعض کسانو به ماته ویل چې تفسیر دي تر کومه ځایه رسولی دی او سره له دې چې ما شروع لا هم نه ود په کړې، او بعض کسانو به په کتب فروشانو کې پوښتنې کولې چې د تفسیر ایوبي کوم جلد نه دی چاپ سوی، نو دوربش چې دا مجبوري محسوسه کړه، نو یې ددې تفسیر د تصنیف کول و عالم استخاراتو ته وسپارل په خپله او په نورو صالحانو شاګردانو په نتیجه کې د عالم استخارو څخه ضمناً یا صراحةً اجازه د تفسیر مذکور عزم د دوربش یې نور هم ټینګ کړی، لکن وروڼو سره د مامر ډېر او ېښې ډېر او تر اندازه ټېر وارختا یم چې خپل کم علم ځان ته وګورم او بحر عمیق ته د قرآن وګورم دا تفسیر د ځان سره مناسب نه بولم لکن بیا مي هم پر توفیق د خدای ﷻ تکیه وکړه او په مذکوره تفسیر مي شروع وکړه.

ارشادات عاصي محمد عبیدالله قندهاري ایوبي نقشبندي از ابیات مثنوي معنوي للمولی جلال الدین الرومي قدس سره السامي.

چون لبسی ابلیس آدم روی هست	پس بهر دستی نیاید داد دست
زا نکه صیاد اورد بانگ صفیر	تا فریبد مرغ را آن مرغ گیر
بشنود آن مرغ بانگ جنس خویش	از هوا آید بیا بد دام پیش
حرف دروېشان بدوزد مرد دون	تا بخواند بر سلیمی زان پسون
کار مردان روشنی و گرمی است	کار دونان حیله وبی شرمی است
شیر پشمین از برای گد کنند	بو سلیم را لقب احمد کنند
بو سلیم را لقب کذاب ماند	مر محمد ﷺ را اولوا الباب ماند
آن شراب حق ختامش مشک ناب	باده را ختمش بود گند وعذاب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حافظ شیرازي عارف حقیقي در ضمن مجازات عشق خود ابراز نموده چنین میفرمایند

نسبت رویت اگر ماه پروین کرده اند
صورت نادیده تشبیهی بتخمین میکنند
شمه از داستان عشق شور انگیز ما است
آن حکایتها که از فرها وشیرین میکنند
نگهت جانبخش دارد خاک کوی گل رخان
عارفان ز انجا مشام عقل مشکین میکنند
خاکیان بی بهره اند از جرعه کاس الکریم
این تطاول بین که باعشاق مسکین کرده اند
ساقیامی ده که باحکم ازل تدبیر نیست
قابل تغییر نبود آنچه تعیین کرده اند

پوه سه: چي مراد مرشدان د طریقت دي.

نصیحت:

هر که آمد درجهان پرزشور — عاقبت میبایدش رفتن بگور
در ره عقبی است دنیا چون هلی — بی بقاء جای و ویران منزلی
دل منه بر این پل پر ترس بیم — برگ وه ساز مشو اینجا مقیم
نزد اهل معنی این کاخ سپنج — هست چون ویرانه خالی زگنج
دور باش از دوستی مال وجاه — زانکه مالت مار وجاه هست چاه
گرنه کوری گوری بین گفتمت — یکزمان بیکار منشین گفتمت
هیچ کس را نیست این منزل گذیر — از گدا، شاه وبرنا وپیر
ای که بر ما بگذری دامن کشان — از سر اخلاص الحمدی بخوان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نصیحت

فساد چرخ به بینم ونشنویم هنوز
چی چشمه ها کوراست وگوشها همه کر
با کسان که مه ومهر باشدش بالین
بعاقبت زگل خاک باشدش بستر
اگر از آهن وپولاد سورحصن کنی
حواله چون برسد ذود بکوبد در
بروشنی خوش وعیش ونوش غره مشو
که ظلمت ازپی نور است وزهر زیر شکر
دری که بر تو کشانید از هوا مکشای
رهی که بر نو نماینده هوس مسپر
براه تو همه جاهست سر نهاده مرو
بجام تو همه زهر است ناچشیده مخر

خواجه عبدالله انصاري هروی قدس سره السامي چو خوش نصیحت وزیبا موعظت در ابیاتیکه از هر کلمه آن شکر میریزد فرموده وگفته

اگر در ظلمتی اینک سراجت — حساب امروز کن فردا چه حاجت
هم اکنون حکم کل من علیها — ستاند اینک از تو تخت و تاجت
بکنج تخته تابوت خسپی — بخواری گر بود تختی زعاجت
کنون از حق فراقت مینمایی — بگور آیی بدانست احتیاجت
ترا پرهیز باید چند کامی — که فاسد شد گشت از عصیان مزاجت
کسادی در فساد افگن زتوبه — که چون فردا شود بینی رواجت
زرنج وفسق وزرق ای پیر انصار — مگر فضل خدا باشد علاجت

وهم او رحمه‌الله میگوید

دلا در کار خود میکن نظرها — که در راه تو میبینم خطرها
کشا از خواب غفلت چشم بیدار — بگوش وهوش تو گویم خبرها

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نگر درخلق گورستا ن فگنده — زیک تیر فنا جمله سپرها
بسا شاهان مهرویان درخاک — معاصی زیر قهر است ونموده
بکام نفس تو همچنو ن شکر ها — گذرگاه است این دینایی فانی
نمانند مرد عاقل در گذر ها — چو درپیش است مرگ ای پیر انصار
تماشای جهان کن در سفرها

او د خدای ﷻ له لوی جناب څخه دا خواست په ډیر عجز او نیاز کوم چې ماته کمال صحت او عافیت راکړي او فراغ کامل راکړي او توفیق عاجل راکړي چې دا تفسیر زه وپای ته ورسوم، وما ذالک علی الله بعزیز

وروښو زما عمر اوس د شپږ اتیا (۸۶) کالو په شا وخوا کې دی د ژوند بقاء مې تر تفسیره پورې ډیر کم دی.

الهي یا الهي ماته دومره مهلت په عمر کې را نصیب کړې چې زه پکښې دا تفسیر وپای ته ورسوم، نور ارمان خدایه زما نه دی پاته، اې خدایه ﷻ تا ودروښ ته هغه ټوله نعمتونه ورکړي دي چې د دروښ د حاله سره مناسب دي، اوس اې باداره جل سلطانک دا نعمت د تفسیر قرآني که څه هم زما عاصي جهول د شانه سره مناسب نه دی، لکن ستا قدرت تام دی او توفیق دې عام دی، وما دروښ ته راکړه توفیق کامل ددې تفسیر قرآني.

قبول د دعاء په دربار کې د رب العزیز ﷻ: ګرانو وطنوالو تر دې ځایه پورې د فقیر مقدمه وه لپاره د باعثه کولو د فقیر په پښتو د قرآن کریم د تفسیر.

هم دا اوس بحمدالله تعالی تفسیر د پاره "الم" په دوه جلده کې چاپ سوی دی او پر دین مین مسلمانان یې له مکتبة القرائت څخه په ډیر شوق هدیه کوي، او تفسیر د پاره "سیقول" هم په یوه جلد چاپ سوی دی چې مکتبة القرائت ومسلمانانو ته پیش کړی دی، او پاره د "تلک الرسل" هم په یوه جلد کې چاپ سوې ده او په مکتبة القرائت کې پر منظر عام ده، او پاره د "لن تنالوا البر" په یوه جلد کې هم وچاپولو ته تیار او مکمل دی، اوس عاصي تفسیر د "والمحصنٰت" شروع کوي ان شاء الله تعالی، رب یسر ولا تعسر وتمم بالخیر وبک نستعین.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ النِّسَآءِ

پوه سه: چې "والمحصنٰت" عطف دی پر "امهاتکم" باندې، والمعنی حرامې کړه سوې دي پر تاسې باندې هغه ښځې چې مړونه لري، نو ددغو ښځو نکاح وبل چاته نه ده روا. البته که يې مېړه مړ سي او عده د وفات يې تېره سي، نو بيا يې نکاح روا ده د بل چا سره. او يا يې مېړه طلاقه کړي او عده د طلاق يې تېره سي، نو بيا يې هم وبل چا ته نکاح روا ده.

فائده: دا ښځې چې مړونه لري "محصنٰت" يې په دې بولي چې تزويج دوی ساتلې دي له زنی څخه.

پوه سه: چې محصن په باب کې د زنا و هغه چاته وايي چې په شرعي نکاح سره مع القيود المذکورة فيما قبل کې ماينه لري او يا مېړه چې حد د زنا يې نو رجم دی کمامر، او "المحصنٰت" و هغه ښځو ته هم وايي چې زانيات نه وي کما قوله تعالی "محصنات غير مسافحات ای عفيفات من الزنا" او محصنات په دې آيت کې په معنا د ذوات الازواج دي.

فائده: بغوي رحمه الله وايي چې له ابی سعيد الخدري رضي الله عنه څخه روايت دی چې دا آيت په هغو ښځو کې نازل سوی دی چې دوی به مدينې منورې ته هجرت وکړی او دوی به مسلمانان مړونه درلوده په مکه کې، نو دغه ښځې به بعض مسلمانانو په نکاح کولې، وروسته به يې مسلمان مېړه هم هجرت پسې راوکړی، نو د داسې ښځو له نکاح څخه مسلمانان خدای عليه السلام نهي کړه، له دې حديث څخه مراد دادی چې د مهاجرې ښځې مېړه چې مسلمان وي که څه هم په دار الحرب کې وي، نو ددې نکاح وبل چاته نه ده روا لعدم اختلاف الدين حقيقةً ولې خو دواړه مسلمانان دي وعدم اختلاف الدار حکماً، ولې چې ښځه خو هم هجرت کولای سي، او که چېرې ښځه مسلمانه وي او هجرت وکړي او مېړه يې کافر په دار حرب کې وي، نو د هغې ښځې نکاح روا ده بدليل قوله تعالی "يا ايها الذين آمنوا اذا جاء کم المؤمنات مهاجرات فامتحنوا هن فاذا علمتموهن مؤمنات

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فلا ترجعوا هن الی الکفار لاهن حل لهم ولا هم یحلون لهن الی ان قال ولا جناح علیکم ان تنکحوا هن" ترجمه! اې هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دی چې تاسې ته راسې مؤمنات ښځې چې هجرت یې له دار حرب څخه کړی وي، کافر میړه یې په دار حرب کې پرې ښیی وي، نو تاسې امتحان کندي واخلی چې دوی د څه لپاره هجرت کړی دی، یعنې احتمال ددې سته چې د دار حرب میړه به یې نه وخوښ، نو له دې کبله به یې هجرت کړی وی او د ایمان باعث به نه و، نو که ستاسې یقین وچې دوی مومنانې دي یعنې ایمان یې باعث د هجرت ګرځېدلی دی، نو بېرته یې د کفارو په لاس مه ورکوئ، ولې چې نه دا ښځې وکفارو ته روا دي او نه کافران ودوی ته یعنې په نکاح او جماعو سره، او حرج او ګناه نسته پر تاسې چې تاسې نکاح ورسره وکړئ.

مسئله: د امام ابو حنیفه رحمه الله او د یارانو په نېز د ښځې او د کافر میړه تر منځ فرقت او جلاوالی په صرف را وتلو سره د ښځې له دار حرب څخه واقع کېږي لاختلاف الدارین حقیقةً وحکماً، او د امام اعظم رحمه الله په نېز پر ښځه باندې د طلاق عده نسته او د یارانو په نېز عده پرسته، او د امام شافعي، امام مالک او امام احمد په نېز وروسته تر دریم حیضه یې فرقت واقع کېږي که مدخول بها وه. او که مدخول بها نه وه سمدستي د اسلام سره یې فرقت واقع کېږي اختلاف دار ته نه ضرورت سته نه اعتبار.

فائده: د "نساء" لفظ په قرآن کریم کې د عموم لپاره دی یعنې هره ښځه چې ذات زوج وي وبل چاته یې نکاح نه ده روا ولیس للاحتراز عن الرجال کما لا یخفی.

اِلَّا مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ

مګر نه هغه مینځیانې چې ستاسې په ملک یمین کې وي.

دروښ وایي: چې ما پېښ ګوي کړې وه چې له انسان څخه ګاهي غلطي او سهوه او نسیان پېښېږي الا من شاء الله. هغه اوس داده چې په تفسیر کې ددې آیت عطاء رحمه الله چې ناموړی قدیم استاذ دی چې ددې استثناء معنا داده چې یو سړی خپله مینځه وخپل مریي ته په نکاح ورکړې وي هغه بادار کولای سي چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هغه مینځه ببر ته ور څخه وګرځوي او ملک یمین ته یې رد کړی، او دا خبره داسي چا چې د عطاء رحمه الله علیه په صف النعال کې نه دی داسي رد کړې ده وهذا القول مردود بالاجماع آه، لکن صحیح خبره داده چې مسلم، ابو داؤد، ترمذي، او نسائي د ابي سعید الخدري رضي الله عنه روایت کړی دی، دی وایي چې موږ مینځیاني راوستلې د اوطاس د سبي، او هغو کافران مړونه درلوده، نو موږ دا ښه نه ګڼل چې موږ ددوی سره وطي وکړو، نو موږ د علیه الصلوة والسلام څخه پوښتنه وکړه فنزلت "والمحصنٰت الا ماملکت ایمانکم" یعني مړوښي ښځي وتاسي ته نا روا دي مګر نه چې ستاسي په ملک کې وي چې سبایا د اوطاس دي، یعني که څه هم هغه کافران مړونه لري تاسي ته یې وطي په ملک یمین روا دي، او دا حدیث په مختلفو روایاتو او عباراتو په کتابو کې د احادیث شریفه وو راغلی دی.

نو حاصل ددې آیت دادی چې ښځي چې په سبي را وستل سي که د مېړه سره وي او که بېله مېړه وي ددې ښځي له مېړه څخه علاقه د زوجیت قطع سوه، او روا ده ومن ملکها ته چې وطي ورسره وکړي پس له استبراء یعني یو حیض دی ورته وګوري دا چې دا معلومه سي چې له کافر مېړه څخه خو حامله نه ده. ولي چې د بل پر کښت اوبه لګول شرع حرام بولي، وری في الحدیث الصحیح چې نعره کونکي له جانبه څخه د علیه الصلوة والسلام داسي اعلان وکړی په ورځ د اوطاء د سبي، الا لاتنکح الحبالی حتی یضعن حملهن ولا الحیالی حتی یحضن، ترجمه خبر اوسی چې څوک دي وطي نه کوي د امیدواره ښځو سره د سبي، تر هغو چې لنګي سوي نه وي، نو په حدیث مذکوره کې مراد له نکاح څخه وطي دي، او نه دي وطي کوي هغه ښځي چې مېندواري نه وي تر هغو چې یو حیض نه وي ورغلی چې دې ته د شرع په اصطلاح استبراء وایي.

مسئله: مالک د سبي دا کولای سي چې خپله مینځه وبل چاته په نکاح ورکړي، نو حاصل دادی چې د سبي څښتن هم مالک د رقبې ددې دی او هم مالک د بضع ددې دی، که یې مېړه د ماینې سره په سبي راوستلي وي او که یوازي ښځه سبي وي، دا مذهب د امام شافعي رحمه الله علیه دی، او امام مالک او امام احمد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وايي چې د سبا وو د اوطاس سره مړونه ورسره وه، او امام اعظم رحمه الله وايي چې د ماينې او د مهره تر منځ فرقه په نفس سبي سره نه راځي الا اذا سبي احد الزوجين بدون الآخر. امام عليه الرحمة وايي چې موجب او سبب د فرقت اختلاف الدارين حقيقةً وحكماً دون السبي، ولي سره د اختلاف الدارين مصالح د ازواج نه پر ځای کېږي، او امام عليه الرحمة وايي سبي سبب د ملک د رقبې ده ملک د بضع نه ده، مظهري رحمه الله په خوله د بيضاوي رحمه الله د امام اعظم رحمه الله مذهب په داسي الفاظو رد کړی دی وهذا استدلال في مقابلة النص.

دروښ وايي: چې ابن الهمام صاحب د فتح القدير وايي چې په سبایاوو کې د اوطاس داسي راغلي دي ان النساء سبين وحدهن يعني بدون الازواج وروایة الترمذي يفيد ذالک روی عن ابي سعيد رضي الله عنه قال اصبنا سبايا ولهن ازواج في قومهن يعني في دار الحرب، نو دا معلومه سوه چې سبايا د اوطاس بېله ازواجو سبي سوې وې، قد ذكر ذالک لرسول الله ﷺ فنزلت الآية.

دروښ وايي: چې مظهري رحمه الله په دېره دلاوري سره ددې جواب ورکړی دی، ځان يې داسي ګرځولی دی لکه دی چې حنيفي المذهب نه وي، بلکې تصريح يې په دې سره کړې ده حيث قال والظاهر فيه قوله الشافعي رحمه الله، او مظهري ځان ته ګويا مجتهد وايي وليس كذالک لان ابن الهمام رحمه الله اعلى كعباً من المظهري في علم الاحاديث، او حنيفيان وايي چې دا آيت يعني "الا ماملكت ايمانكم" پر عموم باقي نه دی بالاجماع فان مقتضى اللفظ حل المملوكة سواء ملكت بالسبي او الشراء او الارث او نحو ذالک، ولا شک المشتراط المتزوجة خارجة من هذا الحكم اجماعاً يعني هغه مينځه چې مېړه لري او بل سړی يې رانسي، نو مشتري ته يې وطي بالاتفاق نه دي روا، نو حنيفيان چې مسبيات مع الازواج يې هم ځندي تخصيص کړه ولي قانون شرعي دادی چې آيت قطعي ته لاړ د تخصيص خلاصه سي نو د بل شي تخصيص هم ځندي روا دی، وان كان المخصص الآخر ظنياً.

دروښ وايي: چې دا مسئله پر مذهب د ابو حنيفه رحمه الله فقيه ابو جعفر الطحاوي شارح معاني الآثار چې هم محدث دی او په دېرو درجو تر مظهري لوړ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی او هم اعلم الناس بمذهب ابی حنیفه رحمه الله منل سوی دی په خپل کتاب معاني الآثار کي يې دېره ښه ځېرلې ده، او د ابو حنیفه رحمه الله مذهب يې په احادیث مرویه بالاسانید سره ثابت کړی دی، نو مظهري که څه هم ځان ته د مجتهد ګمان کوي دونده قدر موږ نه ورکوو چې دی په مقابل کې د علامه ابن الهمام او د فقیه ابو جعفر الطحاوي رحمه الله ومنو، او دا مشکوک الحنیفیة ته موږ اجازه د رد د امام ابي حنیفه رحمه الله د مذهب نه ورکوو، البته مظهري شروح د بیضاوي چې مصنف يې شافعي المذهب دی مطالعه کوي او د هغو ردونه پر مذهب د ابي حنیفه رحمه الله خپل تفسیر کي رانقل کوي، دا وه د دروېش محمد عبید الله الحنیفي نظریه والعلم عند الله العزیز العلیم.

كِتٰبَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ ۚ

روح البیان وایي چې کتاب الله مصدر مؤکد دی ای کتب الله تحریم ماذکرن کتاباً وفرضه فرضاً.

وَاُحِلَّ لَكُمْ مَّا وَرَآءَ ذٰلِكُمْ

او حلاله کړل سوې ده یعني له جانبه څخه د خدای ﷻ نکاح د ماسوی له محرمات مذکوره وو څخه انفراداً وجمعاً ای الی اربع.

پوه سه: چې "احل آه" عطف دی پر "حرمت علیکم امهاتکم" باندې او په منځ کې يې "کتاب الله" راوړی دی ددې لپاره چې مسلمان باید محافظت وکړي پر محرماتو باندې د خدای ﷻ.

سوال: ذالک" څو اشاره ومحرماتو ته ده او محرماتې ښځې خو ډېرې وي، نو څرنګه اشاره په لفظ د "ذالک" مفرد ورته روا ده؟

ځواب: د مفرد اشاره په تاویل د ما ذکر ده.

پوه سه: چې قرائت د "احل" په مجهول صیغه قرائت دی د جعفر وحمزه والکسائي وحفص رحمهم الله نور قاریان له قراء سبعه څخه يې په صیغه د معلوم وایي، او ضمیر د فاعل يې راجع وخدای ﷻ ته دی چې په "کتاب الله" کې ذکر سو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: پر قرائت د معلوم څه سِر دی چې معطوف علیه یعنې "حرمت" یې مجهول راوړې او معطوف یعنې "احل" یې پر قرائت د معلومي یې معلوم راوړی؟

ځواب: تحلیل د نکاح انعام دی. نو ځکه یې نسبت وخدای ﷻ ته وکړی بخلاف التحریم، نو ځکه یې مجهول راوړی.

پوه سه: چې لفظ د "ماورائکم" که څه هم عام دی لکن په سنت نبوي ﷺ سره محرمات د رضاع او جمع په منځ کې د عمه او ورېرې یا جمع په منځ کې د خاله او خورزې او فوق الاربع ځندي خارج دي فافهم.

أَنْ تَبْتَغُوا

چې تاسي غواړئ.

پوه سه: چې د "تبتغوا" ضمیر راجع دی و مخاطبینو ته، او مفعول یې محذوف دی "تبتغوهن" یعنې دغه ماوراء ذلکم من النساء.

بِأَمْوَالِكُمْ

پخپلو مالو سره چې ولور دی په نکاح کې یا قیمت دی په شرا، کې د مینځې.

مُحْصِنِينَ

محصنین حال دی له ضمیر څخه د فاعل "تبتغوا" یعنې په داسي حال کې چې تاسي به عفت کوئ یعنې فرج به ساتئ له فاحشه څخه د زنا، او یا به ځان ساتئ له عقاب او عذاب څخه د خدای ﷻ چې مربوط په زنا پورې دی.

غَيْرَ مُسَافِحِينَ

حال بعد حال والسفاح الزنی یعنې د زنا لپاره به مال نه ورکوئ.

پوه سه: چې "غیر مسافحین" حال مؤکد دی لان المحصن یکون غیر مسافح.

حکایت: یو وخت یو لوی مجلس د ښوښو علماؤ په قندهار کې د یوې دستاربندی لپاره جوړ و، دروېش څه وځنډېدی، نو ورغلې علما، د پر وه ما ورته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وویل چې توله ستړي مه سئ د ټولو روغبړ کول او ولاړسه کښېنه تکلیف دی. یو سپین ږیری کم علمه ملا راولاړ سو او وه یې ویل مولوي صاحب راسه مسافحه به سره وکړو "په سین سره" ما ورته وویل ما خو تر اوسه مسافحه نه ده کړې او نه به یې وروسته وکړم. دی نه سو پوه او وه یې ویل چې ما څه درته وویل ما ورته وویل تا څه راته وویل، د بیرته د مسافحه لفظ ووایه "بالسین" ما بیرته هغه دمخه عبارت ورته ووایه. دی حیران پاته سو علماء حاضر خو وپوهېدله، اخیر ما ورته وویل چې عربي الفاظ مه استعمالوه او که یې استعمالوې صحیح یې استعمالوه. اسانه خبره دا وه چې ویلي دي وای راسه روغبړ سره وکړو، تا مسافحه وویل "په سین سره" چې د هغه معنا زنا ده، نو ځکه ما درته وویل چې مامسافحه نه ده کړې گویا تا راته وویل راسه زنا سره وکړو، نو زه خو پوه سوم چې ستا مراد روغبړ دی، نو به دي داسي ویلي وای که د عربي عبارت شوقي یې چې راسه مصافحه سره وکړو "بالصاد".

دروښ وایي: چې ددې حکایت ښه مطلب دادی چې پښتون دي په پښتو کې عربي الفاظ نه ورګډوي، او که یې خپل مهارت في العربیه مقصود وي، نو الفاظ عربیه دي په صحیح ډول وایي د سین او د صاد فرق دي وکړي کما في نحن فیه.

پوه سه: چې "سفح" په اصل لغت کې تویول د منې ثم سمي به الزنی لان المقصود في الزنی هو اخراج المني دون بقاء النسل کما في الجماع بالنکاح.

فائده: په علم نحو کې وایي چې څوک چې داسي ووایي "اعجبني زید علمه" چې لفظ د علم بدل اشتمال دی د زید، ولې چې زید خو محل د تعجب نه دی بلکې محل د تعجب یې علم دی، نو بناء علی هذا ان تبتغوا باموالکم محصنین آه بدل اشتمال دی من قوله ماراء ذالکم څخه. ولې چې اصل مقصود له حل څخه د ماورائکم الا ابتغاء هغې، بالاموال حالاً لان ماوراء المحرمات المذکورات لاتحل لاحد مطلقاً بل مقیدة بنکاح صحیح او بملک یمین وهو المراد بالابتغاء بالاموال. نو ابتغاء د ښځې په ورکړه سره د مال د زنی لپاره لیس من الابتغاء المراد ههنا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: له دې آیت څخه دا معلومه سوه چې مهر له لوازمو څخه د نکاح دی او تسمیه د مهر له لوازمو څخه د نکاح نه ده چې نکاح بېله تسمیه د مهر هم روا ده لکن که تسمیه نه وي بیا لازم مهر مثل دی که څه هم قیاس ددې مقتضي دی چې تسمیه د مهر چې نه وي نکاح دې صحیح نه وي قیاساً علی البیع لکن دا قیاس موږ پرېښو په نص د قرآن، قال الله لاجناح علیکم ان طلقتموا النساء مالم تمسوهن او تفرضوا لهن فریضةً چې چونکه په دې آیت کې مراد له "فریضة" څخه مهر دی، نو له دې آیت څخه دا معلومه سوه چې نکاح بدون تسمیة المهر هم صحیح ده، نو موږ دا وایو چې مهر خو له لوازمو څخه د نکاح دی ولیس من شرائط النکاح ذکره وتسمیته وعلیه انعقد الاجماع.

فائده: اقل د مهر په نیز زموږ لس درهمه دی قیاساً علی قطع الید في السرقة بهذا المقدار ولا تعیین في اکثر مقدار المهر اتفاقاً.

مسئله: نکاح بېله مهره له خواصو څخه د نبي ﷺ ده لقوله تعالی "وامرئة مؤمنة ان وهبت نفسها للنبي ان اراد النبي ان یستنکحها خالصة لک من دون المؤمنین، او د عین دغه آیت څخه دا هم معلومه سوه چې مؤمنانو ته نکاح بېله ولوره نسته یا مهر مسمی یا مهر مثل کما نص علیه في الآیة السابقة "ان تبتغوا باموالکم"

مسئله: که یو چا بنځه په نکاح کړه او دا یې شرط کړی مهر به یې نه وي، امام مالک رحمه الله علیه وایي چې نکاح یې صحیح نه ده لان النکاح عقد معاوضة کالبیع فکما لایصح البیع بشرط عدم الثمن لایصح النکاح بشرط عدم المهر ایضاً، موږ وایو چې نکاح معاوضه نه ده، ولي چې جزء د انسان چې بضع نه څرڅېږي، البته مهر چې موږ لازم بولو شرعاً اظهاراً لشرف المحل وهو البضع البته شرطول د عدم مهر شرط فاسد دی والنکاح لایفسد بالشروط الفاسدة بل یبطل الشرط ویصح النکاح بخلاف البیع بشرط عدم الثمن فان البیع یفسد بالشروط الفاسدة، راجع کتب الفقه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَمَا اسْتَمْتَعْتُمْ بِهٖ مِنْهُنَّ فَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ

پوه سه: چې روح البیان ددې آیت داسې ترجمه کړې ده، هغه شی چې تاسې نفع واخلئ په هغه شي سره یعني الجماع او الخلوة الصحیحة له دغو ښځو څخه یعني مایني بالنکاح الصحیح. نو تاسې ورکوئ ودوی ته مهرونه ددوی په مقابل کې د استمتاع یعني ټوله مهر.

پوه سه: چې نفس وجوب د مهر په ذمه کې د زوج په نفس عقد د نکاح دی او وروسته تر استمتاع ټوله مهر واجب الاداء دی.

پوه سه: چې بعض مفسران له استمتاع څخه عقد د متعه مراد بولي چې شیعه ګان یې صیغه بولي.

پوه سه: چې متعه مصطلح عقد دی د نر او ښځې تر منځ چې مراد له هغه څخه ملک د بضع وي تر یوه مده معینه پورې بمهر معین که څو ورځې وي او که میاشت وي چې هغه مده تېره سي، نو ښځه له مېړه څخه پخپله بائنه کېږي بیله طلاقه، او استبراء د رحم یې په یوه حیض سره کېږي چې نباید حمل یې نه وي اخستی، او د متعې د مېړه او مایني تر منځ میراث هم نسته او نه منکوحه د متعې د سړي مایني بلل کېږي او نه یې نر مېړه بلل کېږي.

دروښ وایي: چې که مراد متعه مصلحه وي نو دا آیت منسوخ دی لان الائمة الاربعة اجمعوا علی عدم المتعة الآن عند جمیع علماء الامصار الا طائفة من الشیعة، او نسخ یې په دې آیت سره ثابت دی "والذین هم لفروجهم حافظون الا علی ازواجهم او ما ملکت ایمانهم فانهم غیر ملومین، فمن ابتغی وراء ذالک فاولئک هم العادون" او مورد دمخه وویل چې د متعې ښځه مایني نه بلل کېږي لعدم التوارث کمامر، نو د متعې ښځه په ماوراء ذالک کې داخله ده.

دروښ وایي: چې ټوله علماء پر دې متفق دي چې متعه یو وخت په عصر نبوي کې روا وه لکن بیرته حرامه سوه، ولې چې مسلم له ربیع بن سبرة رضی الله عنه څخه روایت کړی دی چې دده پلار یعني سبرة رضی الله عنه چې دی د علیه الصلوة والسلام په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حضور کي و چي علیه السلام وویل "یا ایها الناس" ماتاسي ته اجازه کړې وه په استمتاع کي یعنې په عقد کي د متعه "وانه قد حرم ذالک الی یوم القیامة فمن عنده شیئ منهن" یعنې که د چا سره اوس هم ښځي د عقد متعه وي، نو هغه دي ایله کړي او هغه مهر چي مو ورکړی دی بیرته یې مه ځندي غواړئ، او ابن ماجه په صحیح سند سره داسي روایت له عمر رضي الله عنه څخه کړی دی چي ده په خطبه کي وویل چي علیه السلام مونږ ته درې واره د متعې اجازه کړې ده ثم حرمها، عمر رضي الله عنه زیاته کړه که چا اوس متعه وکړه او دی محصن و رجمته بالحجارة" یعنې په ډبرو یې سنګساروم کما هو حکم المحصن في الزنا.

دروښ وایي: چي خدای جل جلاله دي رحم وکړي پر مظهري رحمه الله چي مسئله د متعې یې دونده څېړلې ده چي مړه فتنه یې بیرته را ژوندۍ کړېده یعنې دده څېړنه چي څرک مطالعه کړي د بعض ناپوهانو به اوس هم د متعې پر جواز یقین سي فطالع تفسیره او دا به یې خیال سي چي مذهب د شیعه ګانو حق دی.

فَرِيضَةً ط

پوه سه: چي لفظ د "فریضة" حال دی له "اجور" څخه او فعیل په معنی د مفعول دی مفروضة من جانب الله، او یا مصدر مؤکد دی ای فرض فریضة.

وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا تَرَاضَيْتُمْ بِهِ مِنْ بَعْدِ الْفَرِيضَةِ ط

او ګناه نسته پر تاسي چي استمتاع په نکاح صحیح سره وکړئ چي تاسي په راضي سئ په هغه شي سره یعنې چي ماینه بعض مهر او یا ټوله مهر و مېړه ته وروبښي او یا مېړه تر مفروض مهر بالا بود ماینې ته ورکړي وروسته له له فریضه څخه د مهر.

پوه سه: چي زیاتوب په ولور او کم والی په مهر کي ملحق په اصل عقد سره ګرځي ګویا عقد پر زیات ولور سوی دی، نو ښځه له مېړه څخه د زائد طلب هم کولای سي لکه د اصل مهر طلب چي کولای سي. او په صورت کي د کم والي چي ټوله مهر ښځي و مېړه ته بخښلی وي ملحق په اصل عقد سره نه ګرځي لان المهر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

من لوازم عقد النكاح الشرعي. وهذا الذي قلنا حاصل الآية المتلوة فافهم.

مسئله: که ښځي ترنیم مهر کم مهره ته بخښلی و او مهره قبل الدخول دا طلاقه کړه رجع الزوج علیها الی تمام النصف عند ابي حنیفة رحمه الله و عند ابي یوسف و محمد رحمهما الله یتنصف المقبوض فقط.

إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿٢٤﴾

په تحقیق خدای پاک ښه خبر دی په مصالحو د بندګانو او حکمت لري په هغو احکامو چې خدای ﷻ وخپلو بندګانو ته مشروع کړی دی. فلا اعتراض علیه تعالی في الشرائع.

وَمَن لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنكُمْ طَوْلًا أَن يَنكِحَ الْمُحْصَنَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ

پوه سه: چې د "یستطع" معنا "یجد" ده ای من لم یجد کما یقول الرجل لا استطیع ان احج ای لا اجد مالا احج به او لفظ د "منکم" حال دی له فاعل مستتر څخه د "یستطع" ای حال کونه منکم والطول القدرة. او نصب یې بناء پر دې دی چې مفعول د "یستطع" دی، او "ان ینکح" محلاً منصوب دی چې مفعول دی د قدر. او مراد له "محصنات" څخه حراتي ښځي دي په دلیل ددې چې مقابل یې مینځیانې راغلي دي، وانما سمیت الحرات محصنات له دې سببه چې حریت دوی ساتلې دي له ذلت څخه د مینځي ټوب او له صفات رزیله وو څخه د رقیت کما لایخفی. ومعنی الآیة که چا نه درلودی قدرت مالي د نکاح د حري ښځي.

پوه سه: چې "من" موصوله دی متضمن معنی لره د شرط مبتداء ده خبر یې په وروسته آیت راځي.

پوه سه: چې مظهري رحمه الله "طولاً" منصوب بولي علی انه مفعول مطلق دی د "یستطع" والاوجه ماقلنا آنفاً.

فَمِن مَّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُم مِّن فَتَيَاتِكُمُ الْمُؤْمِنَاتِ

دا جمله خبر ده د "من" موصوله سابق وتقدیر الکلام فلینکح امرئة کائنة من جنس الاماء. یعنې مینځه د بل سړي، ولي چې د خپلې مینځي سره خو نکاح

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نه ده روا لعدم الحاجة لانه يجوز له وطيها بملک اليمين، چې هغه فتيات مؤمنات دي.

پوښتنه: د "فتى" معنا ځوان نر دی او د "فتاة" معنا ځوانه ښځه ده، نو څه سبب دی چې مريی که څه هم سپين زېری وي فتى يې بولي او مينځه که څه هم سپين سری وي فتاة يې بولي؟

ځواب: هوا معنا د فتى او فتاة خو هغه ده چې سائل ذکر کړه، لکن مريی او مينځه که څه هم سپين زېری يا سپين سرې وي لکن مولی او بادار يې په طور د ځوانانو استعمالوي يعنې خدمت په کوي او احترام د سپين زېرتوب يا سپين سر توب يې نه کوي کما في الاحرار.

فائده: امام شافعي او امام مالک ؒ په دغه آيت سره دليل وايي پر دې چې نکاح د مينځې سره د قدرته پر نکاح د حرې ښځې نه ده روا، او نکاح د کتابيه مينځې مطلقاً نه ده روا، دوی وايي هغه امر چې مقدر و د "فمما ملكت آه" يعنې فلينكح كمامر آنفاً لپاره د اباحت دی کما لايخفى، او دوی وايي چې وصف يعنې المؤمنات په معنى د شرط دی، نو اباحت د نکاح د مينځيانو مشروط دی په عدم طول سره د نکاح د حرې صراحةً، او بل په ايمان سره د مينځې په اعتبار د وصف، دوی وايي چې په عدم د شرط مشروط چې اباحت د مينځيانو و هم نيستي کېږي، نو چې اباحت نفي سو، نو تحريم ثابت سو لانهما في حكم النقيضين وان كانا ضدين فتدبر او ددې مذهب روايت د جابر بن عبد الله ؓ څخه او د عبد الله بن مسعود ؓ څخه هم مروي دی.

پوه سه: چې مور حنيفيان په ځواب کې د شافعي او مالک رح چې دليل په مذکوره آيت سره وايي داسي وايو "اولاً" چې استدلال په مفهوم مخالف سره لکه دوی چې ووايه زمور په نېز اعتبار نه لري، مثلاً يو سړی ووايي چې زه د شپې بېربېږم ددې دا معنا نه ده چې زه د شپې تهجد نه کوم، او مور وايو چې عدم د شرط نه واجبوي نفي د حکم، ولې چې اخيري درجه د شرط داده چې علت به وي او علماء متفق القول دا وايي چې عدم د علت عدم د حکم نه واجبوي لجواز

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وجوده بالعلة الاخرى لان تبادل العلل جائز عند العقلا، نو یو حکم چې مشروط په شرط سره وګرځي او یا مقید په یو وصف پورې ددې معنا داده چې دغه حکم په نېز او وخت کې د شرط یا وصف موجودېږي، و اما عدم تقدیر د الشرط والوصف فمسکوت عنه، نو عدم د حکم پر تقدیر د عدم الشرط او الوصف پر عدم اصلي پاته دی عدم شرعي نه دی.

پوښتنه: حنیفیه جواز د نکاح د مینځیانو مطلقاً که مؤمناتې وي او که کتابیاتې وي خواه زوج یې قادر پر نکاح د حرې وي او که نه وي، په څه دلیل یې روا بولي؟

ځواب په عموم ددې آیت "فانکحوا ماطاب لکم الآیة" او په عموم ددې آیت واحل لکم ما وراء ذالکم، والحاصل دا چې قید د مؤمناتو دلته یا قید د عدم طول د حرې جاري مجرى العادة، ولې چې عادةً نر چې حر وي نکاح د مینځې یې نه ده خوښه الا عند الضرورة وهي عدم طول د نکاح د حرې ښځې، او داغه رنګه عادت د مسلمان دادی چې په معاشرت د کافرې ښځې که څه هم کتابیه وي نه راضي کېږي او خپل د ځان پېغور یې بولي او دغه نکاح د مینځې چې ضرورت نه وي خلګ یې پېغور بولي، قال الله تعالى "لا تتخذوا الیهود والنصارى اولیاء" یعنې دوستان او د مېړه او د مایني تر منځ خواه مخواه محبت وي ومزید التحقیق في المظهري وروح المعاني وغیرهما.

پوه سه: چې امام مظهري په خپل تفسیر کې صرف دا بیان کوي چې ابو حنیفه داسي وایي او شافعي داسي، او د نورو امامانو مذاهب بیانوي نه دی ترحم و یو صاحب المذهب ته کوي او نه داسي کوي چې خپل ځان دي یو مذهب ته منسوب کړي لکه په کتابو کې د فقهي حنیفي چې وایي ولنا، گویا دی صرف بیان المذاهب کوي او د هغو دلائل او نقض او ابرام بیانوي ولله در صاحب روح المعاني حیث یقول وجوزهما الامام الاعظم رحمه الله فیفهم منه السامع انه حنیفي المذهب او د امام مظهري تفسیر یوه خوا ته مېلان نه ښیي بلکې په بعض ځایو کې د امام شافعي رحمه الله ته مائل سي، وهذا لیس صنع المقلد لمذهب خاص.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شعر

ومن مذهبي حب الديار لاهلها وللناس فيما يعشقون مذاهب

په مسلم الثبوت کي وايي ودليل المقلد مذهب امامه لاقوله فافهم.

وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِاِيْمَانِكُمْ

او خدای ﷻ خبر دی ستاسي په ایمانو سره، یعني فضیلت د یوه پر بل ایمان او عمل صالح سره دی، په حدیث شریف کي راغلي دي چي روایت یې ترمذي او ابو داؤد کړی دی له حضرت ابو هریره ﷺ څخه چي علیه الصلوة والسلام وویل "ان الله قد اذهب عیبة الجاهلیة وفخرها بالآباء. انما هو مؤمن او فاجر شقي الناس کلهم بنو آدم وآدم من تراب"

بَعْضُكُمْ مِّنْ بَعْضٍ ۚ

یعني بعض ستاسي که احرار وي او که ارقاوي من جنس بعض آخر، کمامر في الحدیث المذکور آنفاً.

فَانْكِحُوْهُنَّ بِاِذْنِ اَهْلِهِنَّ

نو تاسي په نکاح کوئ دغه مینځیانې په اجازه د اهل ددوی یعني د مالکانو ددوی.

پوښتنه: امر چي مطلق ذکر سي خو لپاره د وجوب وي نو نکاح د مینځیانو واجبه ده او که څه رنګه؟

ځواب: وجوب راجع وقید ته یعني باذن اهلهن یعني اذن د ماکانو په وخت کي د نکاح د مینځیانو واجب دی فلا یجوز نکاح الامة الا باذن سیدها.

وَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ

تاسي ورکوئ ودغو مینځیانو منکوحاتو ته مهرونه ددوی.

پوښتنه: چي ظاهر ددې آیت خو دادی چي مهرونه حق د مینځیانو دی، او جمهور علماء پر دې دي چي مهر د مینځي ملک دبادار ددې دی فما التوفیق؟

ځواب: آلوسي رحمه الله په روح المعاني کي ددې آیت ترجمه داسې کړې ده ای

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ادوا اليهن مهورهن باذن اهلهن وحذف هذا القيد لتقدم ذكره، او الوسي رحمه الله عليه بل ځواب داسي ورکړی دی چې په کلام کي حذف د مضاف سته ای آتوا اهلهن او ما تقدم علیه قرینه ده پر دې حذف، او بل ځواب یې داسي ورکړی دی چې آتوهن په ځای کي د آتوهم یعنې الموالي نکته داده چې اصل مهر خو حق د مینځیانو دی. ولې چې محل د وطي دوی دي مولی چې اخلي هغه په سبب د ملک یمین.

دروښ وایي: چې معنا د معروف دلته مفسرانو دا کړې ده چې ولور ددوی دي نه ځندوي او نه دي قصد د ضرر رسانی ودوی ته کوي.

مُحْصَنٰتٍ غَيْرَ مُسٰفِحٰتٍ وَّلَا مُتَّخِذٰتِ اَخْدَانٍ ۚ

چې دوی به پاک دامنې وي او زانیاتې به نه وي یعنې جهاراً او نه به دوی اخستونکي وي د پټکي یارانو د زنی لپاره.

فائده: محصنات حال دی له مفعول ځخه د "فانکحوهن وآتوهن علی سبیل التنازع. او حسن بصري رحمه الله عليه وایي چې مسافحه هغه زنی ته وایي چې هر چا چې د زنی دعوت ورکړی دا زنی ورسره کوي، او ذات حذن هغه زانیه بولي چې د یوه سړي سره زنی کوي، اهل جاهلیت اوله زنی ناروا بلل او دویمه یې روا ګڼل.

فائده: غیر مسافحات ولا متخذات اخذان بیان د محصنات دی.

مسئله: نکاح د مینځیانو چې یې مقیده کړه په قید د احصان لبیان الافضل عند الامام الاعظم رحمه الله عليه والشافعي رحمه الله عليه که نه نکاح د غیر محصنت هم روا ده.

فَاِذَآ اُحْصِنَّ

یوه سه: چې دا لفظ په صیغه معلوم بعض قراء وایي یعنې بفتح الالف والصاد، نو یې معنا داده چې دوی ساتلي وه خپل فروج په نکاح کولو سره له زنی ځخه، او په معنی د ازدواج او د اسلام راغلی دی او په هره معنی کي منع لغوي موجوده ده، او په آیت مذکوره کي معنی د تزویج مراد ده.

فَاِنْ اَتَيْنَ بِفَاحِشَةٍ فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنٰتِ مِنَ الْعَذَابِ ؕ

نو که راتګ وکړی دې مینځیانو مسلماتو متزوجاتو په زنی سره. نو پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دوی باندې نیمی د هغه عذاب سته چې پر محصنٰت یعنې حرائر ابکار یعنې هې مېړه چې زنی وکړي، یعنې پنځوس درې.

پوه سه: چې تفسیر د محصناتو دلته په حرائرو متزوجاتو چې زنی وکړي نه دی صحیح. ولې چې د هغو حد خو رجم و او رجم خو تنصیف نه قبلوي کما لا یخفی.

فائده: حد د زنی د حُر که نر وي او که ښځه چې شادي شده نه وي په نېږد امام اعظم رحمۃ اللہ علیہ سل (۱۰۰) درې دی لقوله تعالی "الزانیة والزاني فاجلدوا کل واحد منهما مائة جلدة".

پوښتنه: په حدیث کې د عبادة بن صامت رضی اللہ عنہ چې روایت یې مسلم کړی دی "البکر بالبکر جلد مائة وتغریب عام" یعنې حد یې سل درې او یو کال فرار کېدل دي. وعن زید بن خالد رضی اللہ عنہ قال سمعت رسول الله ﷺ یامر فیمن زنٰی ولم یحصن جلد مائة و تغریب عام" رواه البخاري. والیه ذهب الشافعي رحمۃ اللہ علیہ، نو خبره اوس داده چې حنیفیه رحمۃ اللہ علیہ خو تغریب عام نه وایي، نو ددې دوو صحیح حدیثو په جواب کې دوی څه وایي؟

ځواب: امام مظهري رحمۃ اللہ علیہ خو فقط دا دوه حدیثه راوړي دي او دا یې هم ویلي دي والیه ذهب الشافعي رحمۃ اللہ علیہ او په تغریب عام کې د حنیفیه رحمۃ اللہ علیہ له خوا هیڅ جواب نه دی ویلی فکانه رجح الحدیث علی المذهب کما هو ضیع اصحاب ظواهر الحدیث، و الفقیه ابو جعفر الطحاوي حمل الحدیثین المذکورین علی السیاسة دفعاً للفتنة. نو که اوس هم سیاست د امام المسلمین ددې تقاضاء وکړي چې تغریب عام به فائده وکړي نو تغریب د کال دي هم وکړي.

مسئله: حد د مریي او مینځي که متزوج وي او که غیر متزوج وي پنځوس درې دی، د مینځي دا خو په عبارة النص سره ثابت دی یعنې الآیة المذکورة او د مریي دا په دلالت النص سره.

پوه سه: چې امام اعظم رحمۃ اللہ علیہ د تغریب زیاتول زیادت بولي پر نص القرآن باندې باخبار الاحاد وهي لاتجوز ومقصود الامام الاعظم رحمۃ اللہ علیہ ان زیادة التغریب علی الجلد بطریق الحد لا تجوز لعدم ذکر التغریب في نص القرآن، واما بطریق

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

السياسة فيجوز التغريب كمامر آنفاً.

ذٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ الْعَنَتَ مِنْكُمْ

دا وهغه چاته مباح ده چې پر ځان ببرېږي له زنۍ څخه که دی مینځه په نکاح نه کړي، روح البیان "ذالک" اشاره بولي ونکاح ته د مینځي په نېږ د عدم قدرت د نکاح د حري ښځي.

پوه سه: چې د عنت لغوي معنی داده چې د سړي هډوکي مات سي وروسته بیا هر مشقت ته استعاره سو وروسته په عرف کې زنۍ ته وایي، ولې چې زنۍ سبب دی د مشقت په دنیا کې په حد سره او په اخرت کې په عقوبت سره.

وَأَنْ تَصْبِرُوا خَيْرٌ لَّكُمْ

او که تاسي صبر وکړئ له نکاح څخه د مینځیانو یعنې د شهوت د زنی علاج په ببرې د خدای ﷻ وکړئ او یا په نفلي روژو کما جال في الحديث النبوي. المشهور الذي رواه البخاري وغیره تاسي لره بهتره ده تر نکاح د مینځیانو. ولې چې په نکاح کې د مینځې وړاندې کول دي خپل د اولاد ومیریتوب ته، ولې چې اولادونه د مینځي خو مریان دي د بادار د هغې، او بل دادی چې مولی د مینځي خو حق د خدمت لري پر مینځه، نو دا ومېړه ته د وطي لپاره چنداني نه فراغه کېږي لکه حره ښځه، او بله داده چې مولی خپله مینځه په سفر کې ببولای سي د خدمت لپاره، نو مېړه به یې څه کوي، او بل دادی چې مولی خپل مینځه پر حاضر او غائب دواړو خرڅولای سي. نو په صورت کې د غائب به مینځي مېړه څه کوي، او بل دادی چې مینځه د مولی په امر دباندې وبازار ته د یو کار لپاره وتلای سي په دې ټولو کې خو اهانت او ذلت د ناکح دی ولذا ورد في الحديث النبوي الحرائر صلاح البيت والاماء هلاک البيت.

وَاللّٰهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢٥﴾

او خدای ﷻ بخښونکی د ګناه کارانو دی او مهربان دی. یوه له مهربانۍ څخه یې داده چې په نېږ د ابو حنیفه رحمه الله سره له قدرته پر نکاح د حري یې د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مینځي روا کړې ده که څه هم خلاف الاولیٰ د لماذکرنا من الوجوه لکن په شرط ددې چې سړی به حره ماینه نه لري، ولي چې نکاح د مینځي پر حري ناروا ده بالاجماع.

پوښتنه: په آیت شریف کې خو "مؤمنات" لفظ راغلی دی، نو د کتابیانو مینځیانو نکاح باید نه سي روا؟

ځواب: نکاح خو یې روا ده، مګر ابو حنیفه رحمه الله محمول پر ندب بولي یعنې تر نکاح د کتابیه نکاح د مؤمنې مینځي افضله ده لاختلاف المعاش اللائق بالزوجیة بیه المؤمن والکافرة الکتابیة کما لایخفی.

دروبش وایي: چې مظهري رحمه الله سره ددې چې دغه تفسیر چې وړاندې تېر سو مختاره د اکثره مفسرینو بولي بیا هم خپل په رایه یې داسي تفسیر کړی دی.

"ذالک" ای شرع الحد "لمن خشي العنت" ای لمن خاف مشقة الضرب. منکم حتی لا تقربوا الزنی.

فائده: امام اعظم رحمه الله د مینځي نکاح سره د طول د نکاح د حري مکروه بولي.

فائده: حر سړي ته د څلورو بښځو نکاح روا ده بالا نه ده روا کمامر، او مریي ته تر دوو بښځو بالا نکاح نه ده روا لان النکاح نعمة والرقیة منصف لنعمة البشریة.

فائده: طلاق مغلظ د حر سړي درې دی او د مریي طلاق مغلظ دوه دي لان الثلثة لاتحتمل التنصیف الحقیقي فافهم.

تنبیه: پوه سه چې نکاح له سنتو څخه د رسولانو ده او طریقه د مخلصو بندګانو ده وقد صح عن النبي ﷺ النکاح سنة من سنتي فمن رغب عن سنتي فلیس مني او کما قال، وروی البخاري وغیره قال رسول الله ﷺ یا معشر الشبان من استطاع منکم الباءة ای النکاح فلیتزوج فانها غض للبصر" یعنې ستر ګي پټونکې ده له نظر څخه د شهوت و اجنبي بښځو ته "واحصن للفرج" او ساتونکې ده د فرج له زنی څخه "ومن لم یستطع فعلیه بالصوم" یعنې نفلي روژې دي دهري نیسي "فانه له وجاء، هو نوع من الخصاء" لکن په اختلاف سره د طبائعو د انسانانو احکام د نکاح مختلف کېږي، یعنې که یو سړی په حال کې د توقان و یعنې غلبة الشهوة پر هغه نکاح واجبه ده او که یو سړی په حال کې د اعتدال و هغه ته نکاح مستحب ده،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او مکروه ده هغه چا ته چې له جماعو او نفقې څخه عاجزه و، او که دی په ځان پوهېدی چې زه عنین یم وهغه ته نکاح حرامه ده، په شرعه او شرح کې د شرعه وایي چې دي کوشش کوي چې دین داره او صالحه ښځه دي په نکاح کړي، ولي چې علما، وایي چې صالحه ښځه د دنیا ښه متاع ده، ولي چې د صالحې ښځې سره د سړي زړه فارغه وي له تدبیر څخه د کور، او صالحه ښځه د هر زیار باسي په پخولو کې د ډوډۍ او د ډېګ او د سرای په جارو کولو کې او د کور د مفروشاتو په صفا کولو کې، او د ژوندانه د نورو اسبابو په برابرولو کې.

فائده: انسان که څه هم د هر شهوت د جماعو نه لرې لکن بیا هم ماینه په کار ده، ولي چې انسان یوازې په کور کې ګزاره نه سي کولای، ولي که دی د کور کار په مخه واخلي نو د هر وخت به پر دې تېر سي نه به علم یا تعلیم یا تجارت یا دوکان یا روزانې مزدورۍ نه فارغه وي فالمرئة الصالحة معینة للشخص في الامور الدنیاویة والامور الدینیة بهذا السبب. له دې کبله ابو سلیمان دارانې رحمه الله وایي چې زوجه صالحه لیست من الدنیا فانها تفرغک لامور الآخرة سعدي شېرازي رحمه الله وایي.

زن خوب و فرمان برد پارسا — کند مرد درویش را بادشاه
سفر عید باشد بر آن کتخدای — که یار زشتش بود در سرای

فائده: که امکان و پېغله ښځه دي په نکاح کړي فانها تکون لک" او په جماع وغیره کې یې د مېړه سره محبت وي. ولي چې څوک یې نه وي لیدلی، او کونده ده که یې اولاد نه و، نو نیمی ستاده، او که یې له زاړه مېړه څخه عیال و، نو تولې د بل چا ده رزق ستا خوري او محبت یې د زاړه مېړه سره وي او هر ګړی وایي چې زما د زامنو پلار د هر ښه سړی و خدای جل جلاله دې وبخښي او نوی مېړه په خاروهي.

درویش وایي: چې حاصل د تولې مامر من جواز نکاح المملوکات دادی چې نکاح د مینځیانو رخصت دی او صبر کول څنډي عزیمت دی، والعلماء متفقون علی ان العزیمة اولی من الرخصة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يُرِيدُ اللَّهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمْ

اراده لري خدای ﷻ تا چې بیان وکړي وتاسي ته یعنې شرائع د اسلام او مصالح ستاسي د دنیوي او اخروي چارو.

پوه سه: چې چونکه په قانون د نحاتو حرف جر پر فعل نه سي داخلېدای، نو ځکه وروسته تر لام جاره "ان" مقدر دی ای لان یبین لکم او دا خو د ظاهري اعراب مقتضی وه، او دا معنی په حیث لام زائد لپاره د تاکید مقتضی ده معنی د استقبال.

وَيَهْدِيَكُمْ سُنَنَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ

او لارښوونه وکړي وتاسي ته د شرائعو د هغو کسانو چې تر تاسي دمخه تېر سوي یعنې الیهود والنصاری.

پوه سه: چې شرائع د من قبلنا چې منسوخ نه وي زمونږ په شریعت کې یې پر مونږ اتباع واجبه ده لکن په دې شرط چې خدای ﷻ په قرآن کې بیان وکړي او یا په سنت نبوي سره ثابت وي لکن پس له بیانه انکار پر ونه کړي او د یهود او نصاری وو نقل ته اعتبار نسته لانهم حرفوا کتابیهما بالزیادة والنقصان مگر نه لکه مثل د عبدالله بن سلام ﷺ او یا کعب احبار یې نقل وکړي.

وَيَتُوبَ عَلَيْكُمْ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٢٦﴾

پوه سه: چې "ویتوب" عطف دی پر "یبین" یعنې اراده لري خدای ﷻ چې تاسي ته بخښنه وکړي یعنې د هغو ګنهو چې تاسي تر بیان د خدای ﷻ دمخه کړی. او بعض مفسران وایي چې معنا د "یتوب" داده چې تاسي ته توفیق درکړي د توبې، او خدای پاک خبر دی په مصالحو د بندګانو او د حکمت څښتن دی چې بېله فائدې حکم نه کوي.

دروېش وایي: چې آلوسي بغدادي رحمه الله وایي چې مثل ددې ترکیب یعنې "یرید الله لیبین لکن آه" په کلام کې د عربو قدیماً وحدیثاً راغلی دی، او د نحاتو په دې ترکیب کې اختلاف دی، سېبویه او جماهیر د اهل بصره وایي چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مفعول د "یرید" محذوف دی، ای یرید تحلیل ما احل وتحریم ماحرم، او لام لپاره د تعلیل دی ای الارادة المذکورة لاجل بیان لکم چې په سبب د ان مقدره "یبین" په مصدر سره چې تبیین دی بدل سو، نو پر دې تقدیر تعلق د ارادې غیر له تبیین څخه دی بلکې معلول او علت دی، باعث د بصریانو پر دې دول ترکیب دادی چې "یرید" او مفعول متاخر ته چې "لیبین" دی په لام سره متعدي نه سي چې په نېز د بعض نحاتو ممتنع دی او بعض وایي چې ضعیف دی که څه هم روح البیان او مظهري وایي چې لام د تعدیه نه دی بلکې لام زائد دی لپاره د تاکید د استقبال چې په "یرید" کې سته چې دې لام ته صاحب اللباب لام د تکمله وایي مقابل د تعدیه. او بعض بصریان وایي چې مفعول د "یرید" محذوف نه دی کما في قبل هذا البیان بلکې "یرید" بېله ان مصدري مبتداء ده کما في قول الشاعر

""تسمع بالمصیري خیر جن ثراه"" ای سمعک بالمعیدي خیر من رؤیته، وقصة هذا البیت طویلة مذکورة في بعض کتب النحو والتفاسیر، نو دوی وایي چې "یرید" مبتداء ده او جار ومجرور یې خبر دی. فالمعنی ارادتي کائنة للتبیین وفیه تکلف کما لا یخفی انتهی کلام العلامة البغدادي الآلوسي رحمه الله بحذف کثیر وزیادة کثیرة من جانب العاصي. بیت

تروم العز ثم تنام کیلاً یغوص البحر من طلب اللالي.

وَاللّٰهُ یُرِیْدُ اَنْ یَّتُوْبَ عَلَیْكُمْ ۚ

پوه سه: چې مظهري رحمه الله وایي چې کرره للتاکید والمبالغة.

دروښ وایي: چې په تکرار ددې عبارت علاوه پر مبالغې بیان دی د بلاغت فائقه د قرآن عزیز، ولي دغه عبارت چې دمخه ذکر سو یعني "یرید الله لیبین لکم" څومره چون وچرا قیل وقال په اعتبار د اعراب کې و کما نقلناه عن الآلوسي رحمه الله وهذه العبارة لا اشکال بل لاخفاء في ترکیبه لان لفظ "الله" مبتداء و "یرید" خبره و "ان یتوب علیکم" مفعول "یرید" فتدبر هداک الله لدرک بلاغات القرآن العزیز.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَيُرِيْدُ الَّذِيْنَ يَتَّبِعُوْنَ الشَّهَوٰتِ اَنْ تَمِيْلُوْا مَيْلًا عَظِيْمًا ﴿۲۷﴾

او اراده لري هغه کسان چې متابعت د خواهشاتو نفسانیه وو کوي. یعنې الفجار. بعض وایي چې مراد ځیندي زانیان دي. او بعض وایي چې مراد ځیندي مجوسیان دي چې د خور او میرې نکاح روا بولي. او بعض وایي چې مراد ځیندي یهودان دي چې هغه د اخوات من اب فقط او د بنات الاخ والاخت نکاح روا بولي. چې تاسي مؤمنان لوی میل وکړي ددوی ومذهبو ته. یعنې تاسي هم حلال وګڼئ خپل د شریعت محرمات ددوی په متابعت.

پوه سه: چې د توصیف د میل په عظیم سره داده چې یو خو ګناه کول دي سره له اعتقاده په حرمت سره دا خو میل عظیم دی. او ګناه کول په اعتقاد د روا والي هغه میل اعظم دی کما لا یخفی.

يُرِيْدُ اللّٰهُ اَنْ يُّخَفِّفَ عَنْكُمْ ۚ وَخُلِقَ الْاِنْسَانُ ضَعِيْفًا ﴿۲۸﴾

اراده د خدای ﷻ چې پر تاسي امت محمدیه باندې تخفیف وکړي یعنې په امور شرعیه وو کې. ابن المنذر په تفسیر کې له مجاهد رحمه الله څخه روایت کړی دی چې یوه له تخفیف څخه د خدای ﷻ پر دې امت نکاح ده د مینځي، نصرانیه او د یهودیه ښځو سره. او تفسیر مدارک وایي چې دا قول د ابن عباس رضي الله عنه دی، و ورد في الحدیث بعثت علی الشریعة الحنیفیة، السمحة البیضاوي لیلها کنهارها او کما قال، واحل لهذه الامة بعض ماحرم علی من کان قبلکم، او پیدا کړه سوی دی انسان ضعیف یعنې صبر نه سي کولای له شهواتو څخه او تحمل د سختو عباداتو هم نه سي کولای او هر څو چې زمانه و قیامت ته نژدې کیږي ضعف د انسانانو زیاتیږي، او له هم دې سببه چې پر دې امت محمدیه چې اخیر الامم دی آساني یې زیاته کړې ده، کلبي رحمه الله وایي چې انسان ضعیف دی چې صبر له ښځو څخه نه سي کولای، نو ځکه خدای پاک فراخي د ښځو په نکاح کې ورته ورکړه، سعید بن المسیب رحمه الله وایي چې شیطان چې له بلې خوا د یو چا څخه عاجزه سي، نو د ښځو له خوا یې په فتنه اخته کوي. دی وایي چې زه د اتیا کالو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یم او یوه سترګه مي بالکل رنده سوه وان اخوف ما اخاف علی نفسي فتنة النساء.

دروښ وایي: چي زه د نیوي کالو یم اوس هم له فتنې څخه د ښځو تر هري ګناه ډیر ډیرم. ابو هریرة رضي الله عنه وایي اللهم اني اعوذبک من ان ازنی واسرق، فقیل له کبر سنک وانت صاحب رسول الله ﷺ اتخاف علی نفسک بالزنی والسرقة؟ قال کیف آمن علی نفسي وابلیس حي.

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ

ای هغه کسانو چي ایمان یې راوړی دی تاسي مه خورئ مالونه خپل یعني یو د بل مسلمان مال مه خورئ او د هغو کسانو مالونه هم مه خورئ چي ستاسي تابع وي یعني اهل ذمه.

مسئله: لاباس باکل مال الحربي الغیر المعاهد من غیر عذر.

بِالْبَاطِلِ

په وجه باطل سره یعني چي ممنوع وي شرعاً لکه په غصب سره او یا په سرقه یا خیانت سره یا په قمار سره یا په سود سره او یا په عقود فاسده سره، او یا بیع د نقود په نقود سره چي یو ظرف یې مؤجل وي او بل ظرف یې معجل وي کما في حوالات التجار فافهم.

إِلَّا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ

مګر نه دغه اکل الاموال یو د بل چي تجارت وي ستاسي په منځ کي په رضا د جانبینو.

پوه سه: چي "تجارت" کوفیان قراء په نصب وایي چي خبر د "تکون" یې بولي او اسم د تکونوا مضمر بولي والتقدیر الا ان تکون جهة الاکل تجارة، او نور قاریان یې په رفع سره وایي او "تکون" تامه بولي او "تجارت" یې فاعل بولي.

پوه سه: چي دا استثناء منقطع ده په معنی د لکن په، یعني کلوا وقت کون لاکل تجارة، او وقت کون التجارة الموجودة صادرة عن تراض منکم وقد صح عن النبي ﷺ کما رواه ابن ماجه عن ابي سعید الخدري رضي الله عنه اما البیع عن تراض

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یعنې بیع صحیح شرعي د بائع او مشتري په رضا باندي وي.

پوه سه چې تجارت بیعه ده یا په خبرو سره لکه بعت واشتریت او یا په تعاطي یعنې لاس په لاس ښله خبرو مثلاً د ډوډۍ نرخ معلوم و لکه اوس چې په څلور روپۍ ده نو یو سړی نان وای ته څلور روپۍ کنبږدي او ډوډۍ راواخلي هیڅ خبره ورسره ونه کړي.

دروښ وایي: چې تخصیص د تجارت چې په ذکر سره وکړي له دې سببه چې اغلب او انفع د مال د خورلو د چا تجارت دی. ورته اسباب د خورلو د بل د مال ډېر دي لکه د یو چا میراث چې ورپاته سي او یا څوک په بخښنه مال ورکړي او یا یې په زکوٰة کې ورکړي الی غیر ذالک. وعن رافع بن خدیج ﷺ ده وویل چې چا پوښتنه وکړه له رسول الله ﷺ څخه "ای الکسب اطیب" کوم کسب ښه دی "قال عمل الرجل بیده" یعنې د سړي عمل په خپل لاس سره. لکه روزانه والا یا نجاري والا یا بنایي والا وغیرها من اکساب الید "وکل بیع مبرور رواه احمد.

پوه سه: چې بیع مبرور هغه ده چې خیانت او دروغ او شروط فاسده نه وي پکښې الی غیر ذالک من الخبائث.

وَلَا تَقْتُلُوْٓا اَنْفُسَكُمْ ؕ

او تاسي مه وژنئ خپل ځانونه په هره توګه چې وي، یعنې خود ګڼي مه کوئ.

دروښ وایي: چې خود ګڼي په جاهلانو کې دهند رواج وه اخیر الامر وتهولي نړۍ ته د مسلمانانو هم پیل سوه په نړو او بنځو کې قسم قسم خودګڼي رواج سوې بعض ځوانان چې پر یو شي یې طبعیت خراب سي او مرانده په یوه تیر یا ګار در باندي وځړوي او سر ته د مراندي برابره خپل د غاړي لوپکه ورکړي او یو شی تر پښو لاندي کړي چې لوپکه یې غاړي ته واچول هغه تر پښو لاندي شی په پښه پرې وهي او ځان په دار کړي یو ګړی وروسته په خپه مړ سي، او بعض ځوانان چې د کور د ژوندانه چاري پر تنګې سي خپل ځان په توپنچه وغیره وولي، او بعضې بنځې چې په کور کې یې له یوه سببه ژوند تنګ سي، پر ځان ګاسلېټ وپاشي او کالو ته ورلګیت ووهي ځان سره لمبه کړي، او بعض بنځې بیاد موږ کانو د وژنې دوا وخوري.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بعض مفسران وايي چې مراد له آيت څخه دادی چې ځان وهلاکت ته مه پېښوه لکه د عمر ابن العاص رضي الله عنه څخه چې روايت دی چې يو وخت دی جنب سو او د ېر سخت يخ و، نو لپاره د سهار يې تيمم ووهی او لمونځ يې وکړی، نو موضوع چې د عليه الصلوة والسلام ته پېښ سوه، نو عليه والصلوة والسلام انکار نه پر وکړی، او بعض مفسران وايي چې دوند معاصي دي مسلمانان نه کوي چې سبب د هلاکت دده په دنيا او اخرت کې وي لکه يو سړی چې عمداً قتل کړي فانه القتل الحقيقي لنفسه يعني قصاصاً، او بعض مفسران وايي چې مراد له قتل څخه د ځان قتل د بل ورور مسلمان دی لان جميع المسلمين كنفس واحدة. او بغوي رحمه الله روايت کړی دی چې رسول الله ﷺ وويل که چا په يو شي ځان مړ کړی په دنيا کې عذبه يوم القيامة، او په يوه روايت کې د ابو هريره رضي الله عنه داسې راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام وويل که چا له غره څخه ځان راوه غورځاوه او ځان يې مړ کړی، نو دی به په دوزخ کې هم ځان له يو غره څخه راغورځوي خالداً مخلداً فيها ابداً، او که چا په وسپنه يعني چاړه وغيره ځان ووژني هغه وسپنه به يې په دوزخ کې په لاس کې وي ځان به په په وهي خالداً مخلداً فيها ابداً رواه البخاري ومسلم والترمذي.

دروښ وايي: چې امثال ددغو احاديثو ښې دېر دي او په صحاح سته وو کې مذکور دي.

فائده: علماء حضرات توجيه د خلود في النار چې په دغو حديثو کې مذکور دی دوه ډوله کوي، يو دا چې دا احاديث محمول پر مستحل دي يعني چې قتل ځان ته روا بولي، نو په استحلال دی کافر دی، نو ځای يې ابدي دوزخ دی، او بعض وايي چې دا احاديث محمول پر تشدد او تغليظ دي كما في قوله عليه الصلوة والسلام لاصلوة لجار المسجد الا في المسجد، وقوله عليه السلام من لا زكوٰة له لا صلوة له" يعني چې زکوٰة پر فرض وي او نه يې ورکوي، نو لمونځ يې هم نه دی صحيح او كما قال.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا ﴿٢٩﴾

خدای ﷻ پر تاسي مهربان دی ځکه یې تاسي امر کړلاست په حسناتو سره او نهي یې کړلاست له اعمال قبیحه وو څخه لفرط رحمته تعالی. او بعض مفسران وایي چې رحمت الهي پر دې امت دادی چې بني اسرائیل یې امر کړي وه په قتل نفس سره توبهً او تاسي یې له هغه څخه نهي کړلاست یعنې بقوله تعالی "ولا تقولوا انفسکم" بلکې ستاسي توبه یې پښېماني د زړه او استغنا. د ژبې وګرځوله کذا في روح البیان والمظهري وروح المعاني وغیرها.

وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ عُدْوَانًا وَظُلْمًا فَسَوْفَ نُصْلِيهِ نَارًا ۖ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرًا ﴿٣٠﴾

او که څوک فعل وکړي ددغه یعنې مال د غیر وخوري، او یا معصوم نفس ووژني په سبب د تجاوز پر بل چا. او ظلم وکړي پر خپل ځان چې ځان یې د خدای ﷻ وعذاب ته پېش کړی، نو ژر دی چې موږ به دی داخل کړو اورته یعنې په ورځ د آخرت. او دا کار د دخول و اورته خدای ﷻ ته اسانه دی.

پوه سه: چې "عدواناً او ظلما" منصوب دي علی الحالیة. نو په معنی د متعدیاً وظلماً دي لیصح الحمل. او یا یې نصب په سبب د مفعول له والي دی، ای لاجل العدوان والظلم.

پوه سه: چې امام رازي رحمه الله په تفسیر کبیر کې وایي چې ممکنات تولې نسبت و قدرت ته د خدای ﷻ یو ډول دي، نو څرنګه به بعض افعال اسانه وي وخدای ﷻ ته تر بعض؟ بیا امام جواب داسي ورکړی دی چې دا کلام مبني دی پر عرف، مثلاً یو سړی وایي چې فلانی کار ما ته اسانه دی. ددې معنا دا نه ده چې بل کار نو ماته ګران دی یعنې مفهوم مخالف نه لري.

فائده: علماء تولې په یوه خوله وایي چې خوړل د مال د غیر که څه هم اهل ذمه کافر وي حرام دی لکه وینې تویول چې حرام دی، قال علیه الصلوة والسلام کل المسلم حرام دمه وماله وعرضه" او په بل حدیث کې راغلي دي لا یحل مال

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

امرئ مسلم الا بطيبة نفس منه.

فائده: یو خیاط بعض علماؤ ته ورغلی چې زه چې د ظالم کالي ورجوړ کړم، نو زه دده معاون په ظلم کې ګڼل کېږم؟ هغه عالم ورته وویل چې په تاکي خبره نسته بلکې خبره په حداد کې ده یعنې آهنګر چې ظالم ته اصلحه ورجوړوي یعنې هغه معاون د ظالم دی.

إِنْ تَجْتَنِبُوا كَبَائِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ

که تاسي پرهېز وکړئ له غټو څخه د هغو ګنهو چې تاسي څېندي منع سوي یاست.

پوه سه: چې دا شرط دی جواب یې وروسته راتلونکی دی.

دروېش وایي: چې په کبیره ګنهو کې په عقائدو کې قدیماً او حدیثاً عظیم اختلاف دی، امام واحدي رحمه الله وایي چې صحیح داده چې کبیره ګناه حد معلوم نه لري چې بندګان دې په پوه سي، له دې کبله چې که حد معین ولري، نو عوام پر صغائرو ګنهو دلاور کېږي او لکه مباح داسي به یې استعمالوي، ولي چې دوی به وایي چې خدای ﷻ خو داسي ویلي دي چې که تاسي پرهېز وکړئ له کبیره ګنهو څخه "نکفر عنکم سیئاتکم" یعنې صغیره ګنهونه زه مفت دربخښمه، نو له دې کبله خدای ﷻ پټ ساتلي دي کبیره ګنهونه چې بندګان له هرې ګناه څخه پرهېز وکړي چې نبایده کبیره نه وي، لکه صلوة وسطی په هغه آیت کې "حافظوا علی الصلوة والصلوة والوسطی" خدای ﷻ پټ ساتلی دی تاچې بندګان پر ټولو لمونځو محافظت وکړي په ګمان ددې چې دا به صلوة وسطی وي، او داغه رنګه لیلة القدر یې پټه ساتلې ده تاچې روژیاتیان په هره شپه کې د میاشتې د روژې کوشش په طاعت او دعاء کې وکړي په ګمان د لیلة القدر، او دغه ساعت د اجابت د دعاء په ورځ کې د جمعې خدای ﷻ پټ ساتلی دی.

له ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چې ګناه کبائر هغه دي چې له اول څخه ددې سورت تر دې ځایه خدای ﷻ بیان کړي دي، او بعض علماء وایي چې کبائر اووه دي او دلیل په هغه حدیث د بخاري او مسلم وایي "اجتنبوا السبع الموبقات

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"ای "لمهلکات" (۱) الشرک بالله (۲) السحر (۳) قتل النفس التي حرمها الا بالحق لکه قصاص (۴) اکل مال الیتیم یعني ظلماً (۵) اکل الربوا (۶) والتولي یوم الزحف، یعني شاه ګرځول په ورځ کي د جنګ د کافرانو سره (۷) وقذف المحصنات المؤمنات الناقلات، او په بعض روایاتو کي د بخاري او مسلم داسي راغلي دي "الکبائر الاشراک بالله، والسحر، وعقوق الوالدین، وقتل النفس، وزاد البخاري والیمین الغموس، او مسلم په بل ځای کي د یمین غموس په ځای کي قول الزور راوړی دی، وفیه ان ذالک محمول علی انه علیه الصلوة والسلام ذکرها لبیان المحتاج منها وقت الذکر لا لحصره الکبائر فیما ذکره، او امیر المؤمنین علي ﷺ او عطاء رحمه الله او عبید بن عمیر رحمه الله ودې ته تللی دی چي ګناه کبائر اوه دي، او بعض علماء وایي چي نهه دي، استدلال په حدیث د ابن عمر چي دده چا پوښتنه وکړه چي کبائر ګنهونه څو دي؟ ابن عمر ﷺ ورته وویل چي ما د علیه الصلوة والسلام څخه داسي اوریدلي دي وه یې ویل چي ګناه کبائر نهه دي (۱) الاشراک بالله تعالی (۲) وقذف المحصنة (۳) وقتل النفس المؤمنة (۴) والفرار من الذحف (۵) والسحر (۶) واکل مال الیتیم (۷) واکل الربوا (۸) وعقوق الوالدین (۹) والالحاد في بیت الحرام چي ستاسي قبله ده احیاءً واموا تاً او له ابن مسعود ﷺ څخه روایت دی چي ګناه کبائر لس دي، او بعض صحابه وایي څورلس دي او بعض وایي چي پنځلس دي، او عبدالرزاق له ابن عباس ﷺ څخه روایت کړی دی چي دی وایي چي ګناه کبائر و اویاوو ته نژدې دي، او ابن جبیر له ابن عباس ﷺ څخه داسي روایت هم کړی دی چي ګناه کبائر اووه سوه ته نژدې دي لکن ابن عباس ﷺ وایي لا کبیرة مع الاستغفار ولا صغیرة مع الاصرار، او بعض وایي چي په ګنهو کي صغیره ګناه نسته بلکې هره ګناه کبیره ده دا مذهب دی د استاذ ابو اسحاق الاسفرائني، او د قاضي ابوبکر الباقلاني او د امام الحرمین ابو المعالي عبدالملک په کتاب کي چي ارشاد یې نوم دی او د ابن القشري په مرشد کي چي دده تصنیف دی بل حکاه ابن فورک عن الاشاعرة واختاره في تفسیره فقال معاصي الله کبیرة عندنا آه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وایي: چې ظاهر ددې آیت بلکې د احادیثو شریفه وو پر دې دلالت کوي چې ګنهونه دوه قسمه دي صغیره او کبیره. او ابن فورک ددې آیت داسې تاویل کړی دی چې ظاهر د آیت اباء ځندي کوي، علامه ابن حجر رحمه الله وایي چې جمهور علماء د مذاهبو اربعه وو پر دې متفق دي چې انقسام د ګناه وصغیره او کبیره ته حق دی. وقال انه لا خلاف بین الفریقین في المعنی ومراده بالفریقین الفریق القائل بالانقسام والفریقین القائل بان کل المعاصي کبیرة کمامر، ابن حجر رحمه الله وایي صرف اختلاف په تسمیه کي دی، نو فریق ثاني له دې ځکه احتراز کوي چې اطلاق د صغیره دي پر معصیت د خدای ﷻ وکړي نظراً الی عظمة الله وشدة عقابه. واجلالاً له عزوجل عن تسمیة معصیة صغیرة لانها اي المعصیة بالنظر الی باهر قدرته تعالی وعظمته تعالی کبیرة ولم ینظر جمهور العلماء الی ذالک ای ملاحظة جلالته تعالی لانه معلوم للکل بل قسموها الی القسمین ای الصغائر والکبائر کما یقتضیه صرائح الآیات القرآنیة والاحادیث النبویة خصوصاً دا آیت "ان تجتنبوا" تر پایه پوري وقال الامام حجة الاسلام ابو حامد محمد الغزالي لا یلیق انکار الفرق بین الصغائر والکبائر، وقد عرفنا ذالک من مدارک الشرع نعم قد یقال لذنب واحد کبیر وصغیر باعتبارین لان الذنوب تتفاوة في ذالک ای في الصغر والکبر باعتبار الاشخاص والاحوال ولهذا قال علیه الصلوة والسلام للجاهل ویل وللعالم سبعین ویلاً، ومن ههنا قال الشاعر.

لا یحقر الرجل الرفیع دقیقةً في السهو فیها للوضع معاذر
فکبائر الرجل الصغیر صغائر وصغائر الرجل الکبیر کبائر

والی هذا اشار من قال حسنات الابرار سیئات المقربین. وقال سید العشاق سیدي ابن الفارض قدس سره.

ولو خطرت لي في سواک ارادة علی خاطري سهواً حکمت بردتي

دروښ وایي: چې اکثرو صحابه وو او تابعینو رحمهم الله د صغیرې او کبیرې یو مفهوم او تعریف جامع او مانع بیان کړی دی، امیر المؤمنین علي رضي الله عنه وایي الکبیرة کل ذنب ختمه الله بنار او غضب او لعنة او عذاب. او ضحاک رحمه الله وایي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي کبيره ګناه هغه ده اوعدالله عليه حداً في الدنيا او عذاباً في الآخرة وماقاله الضحاک قريب الى ماقال امير المؤمنين ﷺ.

دروښ وايي: چي بعض علماء کبيره ګنهو لره عدد وايي يعني تعريف نه ورلره وايي وعددها عندهم ماجاء في الاحاديث النبوية کمامرت. او بعض صحابه او تابعين کبائرو ګنهو لره حد او تعريف وايي. نو تر دې مفهوم او حد چي هر څو او کوم ګنهونه لاندې سوي هغه کبيره دي وما عداها صغيرة وهو الصحيح عند اکثر الصحابة والتابعين. او په نهږ ددغو علماؤ هغه چي په بعض احاديثو صحيحه وو چي عدد د کبير ګنهو بيان سوی دی محمول دی پر اقبح د ګناه کبيره وو او يا مروج في الناس او يا متعلق بحقوق العباد دی.

بوه سه: چي اجتناب د کبيره ګنهو تکفير د صغيره ګنهو لازمه وي کماهو نص هذه الآية الى تمامها، او که يو چا لره صغيره او کبيره دواړه ګنهونه نه وي يمکن له الدخول في المدخل الکريم وهو حضرت اکرم الاکرمين، قال بعض المفسرين وجملة الکبائر مندرجة په دې شيه کې.

(۱) اتباع الهوٰی، والهوٰی هو ميلان النفس الى ما يستلذ به من الشهوات. نو ګاهي انسان په اتباع سره د هوٰی يقع في کثير من الکبائر، مثلاً البدعة والضلالة والارتداد الشبهة في امور الدين واللذات المحرمة وحفوظ النفس بترک الصلوة والطاعات کلها وعقوق الوالدين والاساتذة وقطع الرحم وقذف المحصنات وامثالها، ولهذا قال الله تعالى "ولا تتبع الهوى فيضلک عن سبيل الله، وقال عليه الصلوة والسلام "ماعبد آله ابغض على الله من الهوٰی" قال السعدي الشيرازي

غبار هوا چشم عقلت بدوخت سموم هوس کشت عمرت بسوخت
بکن سرمه غفلت از چشم پاک که فردا شوی سرمه در چشم خاک

(۲) حب الدنيا، فانه مطية کثير من الکبائر مثل قتل المسلم لاخذ ماله والظلم على عباد الله لاخذ الرشوة مثلاً والغصب والنهب والسرقة واکل الربوا، واکل مال اليتيم، ومنع الزکوة وشهادة الزور، کتمان الشهادة واليمين الغموس

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والحيف في الوصية والرشوة، واستحلال الحرام ونقض العهد وامثالها. وقال عليه الصلوة والسلام حب الدنيا راس كل خطيئة. وقال عليه الصلوة والسلام اتاني جبرئيل وقال ان الله قال وعزتي وجلالي انه ليس من الكبائر كبيرة هي اعظم عندي من حب الدنيا.

(۳) وغير ته د خداى ﷻ كتل. ولي چي له دې څخه شرک هم پيدا كيږي، والنفاق والرياء والكذب على الله وعلى رسوله وامثاله. قال الله تعالى "ان الله لا يغفر ان يشرک به ويغفر مادون ذالک لمن يشاء." وقال عليه الصلوة والسلام اليسير من الرياء شرک اى خفي"

بيت

بروى وريا، خرقه سهلست دوخت — وگر برخدا درفروشى نكوست
گرچه زندانست بر صاحب دلان — هر كجا بوى زوصل يانيست
هيچ زندان عاشق محتاج را — تنگ تر از صحبت اغيار نيست

وما سوى الله اغيار.

پوښتنه: بعض علماء وايي چي بنده گاهي داسي درجې ته رسيږي چي وده ته هيڅ گناه تاوان نه رسوي، ددې عبارت معنا څه ده؟

ځواب: ددې عبارت دا معنا نه ده چي بعض خلګ وداسي درجې ته رسيږي چي تكاليف آلهيه ځيندي پورته كيږي او محرمات شرعيه تولې وزبه حلال گرځي لان هذا كفر بواح وزندقة ظاهرة، بلكې ددې عبارت معنا داده چي بعض اهل الله دونده قرب الهي او مراقبه د خداى ﷻ حاصليږي چي اول خو له ده څخه گناه نه صادريږي او كه احياءً او نادراً له ده څخه گناه صادره سي كبيرةً او صغيرةً دونده لوى غم او بار يې پر زړه واقع كيږي گويا دده اهل، اولاد او اموال تولې هلاک سوه حتى چي دونده اوښكي تر ستر گو تويې كړي او زړه يې له غمه ډک سي او ندم، حسرت او پښيماني ورته حاصله سي چي اندازه يې نه وي، نو دغه مذكوره شيان سبب د نزول د رحمت الهي وگرځي گناه خو عفوه سي ومع هذا درجه يې په نېز د خداى ﷻ ډېره لوړه سي تر هغې درجې چي ده گناه نه وه كړې كريمه "اولئک يبدل الله سيئاتهم حسنات" بعض عارفان وايي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تانه ګرید ابر کی خندد چمن تانه ګرید طفل کی جوشد لبن
هر کجا آب روان سبزه شود هرکجا اشکی دوان رحمت شود

فائده: له سید تنا عائشة رضي الله عنها څخه روایت دی چي علیه الصلوة والسلام وویل الدواوین ثلثة" یعني عمل نامي د بنده ګانو درې قسمه دي "فدیوان لایعباء الله به شیئاً" یوه داسي عمل نامه چي خدای ﷻ هیڅ پروا نه کوي یعني بمافیه "ودیوان لایترک الله منه شیئاً" او بله داسي عمل نامه وي چي له هغې څخه خدای ﷻ هیڅ شی وبنده ته نه عفوه کوي "ودیوان لایغفر الله" یو داسي دیوان دی چي خدای ﷻ یې هرګز نه بخښي "اما الدیوان الذي لایغفر الله فهو الشرک"

دروښ وایي: چي شرک له ملحقاتو څخه دی یعني خدای ﷻ یې نه بخښي، چي څوک تکذیب وکړي د ماجاء به رسول الله ﷺ او په قطعي توګه ثابت وي، نو که دا تکذیب صریحاً او بېله تاویله وُ، هغه خو کفر دی او که په تاویل سره هغه ته هوا او بدعت وایي لکه اقوال د روفضو او خوارجوا او قدریه و او مجسمه وو وامثال ذالک، اما الدیوان الذي لایعباء الله به شیئاً هغه هغه دیوان د ګنهو دی چي په منځ کي د خدای ﷻ او د بنده وي لکه لمونځ چي یې قضاء کړی وي او یا یې فرضي روژه بېله عذره نه وي نیولې الی غیر ذالک من العبادات فان الله تعالی یغفر ذالک لمن یشاء، واما الدیوان الذي لایترک الله شیئاً فظلم العباد بعضهم بعضاً مثلاً د چاوینه یې عمداً توی کړې وي، او یا یې د چا مال غصباً یا سرقةً یا په حلف کاذب وغیره ذالک سره خوړلی وي، مطلب دا چي بېله اجازې د شرع شریفي یې د چا مال خوړلی وي فیدخل فیه الربوا او الخیانة ففي مثل ذالک القصاص یعني حسنات د جاني ومجني علیه ته ورنقل کوي او که حسنات د جاني خلاصې سوې د مجني علیه سیئات پر جاني حمل کوي ثم یجره الی النار کما جاء في الحدیث الصحیح الذي رواه البخاري وغیره، له حضرت ابوبکر رضي الله عنه څخه روایت دی چي یوه ورځ علیه الصلوة والسلام وویل چي زه تاسي خبر نه کړم په اکبر د کبائرو، درې واره یې دا خبره مکرره کړه: نو اصحاب کرامو رضي الله عنهم ورته وویل بلی یعني خبر مو کړه، نو علیه الصلوة والسلام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورته وویل چې اکبر د کبائرو اشراک بالله دی، وعقوق الوالدین وجلس وکان متکئا الا وقول الزور الا وقول الزور الا وقول الزور الا وقول الزور صحابه وو ﷺ ته یې داخبره مکرره کړه چې مونږ وویل لیلته سکت کاشکې دی ساکت سوی وای ددې خبرې له تکرار څخه یعنې شفقةً علیه.

پوښتنه: علیه الصلوة والسلام ولې قول الزور دونده مکرر کړی؟

ځواب: سبب یې دا و چې قول الزور اشراک بالله ته هم شامل و. او شهادات الزور قذف ته هم شامل و، او دعوه باطل ته هم شامل و، او کذب علی النبي ﷺ ته هم شامل و، نو له دې سببه قول الزور ډېرو ګنهو ته شامل و. نو علیه الصلوة والسلام یې مبالغه په نهي کې د قول الزور مبالغه په تکرار د سره وکی والله اعلم

دروښ وایي: چې بعض علماء وایي چې کبیره او صغیره له اسماء اضافیه وو څخه دي، ولې چې هر ذنب و مافوقه صغیره ده او و ماتحته کبیره ده. لیس بشئ لانه ع، ما معنی قوله تعالی "ان تجتنبوا کبائر ماتنهون عنه الی اخیرها لانه حینئذٍ اما یلزم مغفرة بعض الکبائر التي هي ادون من غیرها من الکبائر او یلزم عدم مغفرت بعض الصغائر التي تحتها صغائر اخر" وکلا الازمین باطل کما لا یخفی فتدبر.

نُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ

مونږ به وبخښو وتاسې ته صغیره ګنهونه. مثل القبلة واللمسة بالشهوة للمرئة الاجنبیة کما ورد في الحدیث الصحیح العینان تزنیان یعنې په شهوت و اجنبي ښځې ته وګوري "والیدان تزنیان" لکه په شهوت چې بېګانه ښځه مسحه کړي "والرجلان تزنیان لکه د زنا لپاره چې د ښځې کور ته ور روان سي "ویصدق ذالک الفرج وکذبه" که زنا وکړي او ګډه یې نه وکړي "کلها یکفرها الصلوات والصیام والاذکار وغیر ذالک. قال علیه الصلوة والسلام الصلوات الخمس والجمعة الی الجمعة ورمضان الی رمضان مکفرات لما بینهن اذا اجتنب الکبائر، رواه مسلم.

دروښ وایي: چې مغفرت د صغائرو ګنهو مشروط دی په اجتناب د کبائرو ګنهو یعنې که دا اجتناب د کبائرو ګنهو ونه کړي صغائر یې بخښل کېږي والصحیح

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ان ایراد هذا الشرط لاجل ان الکبائر اذا کانت ای وجدت لا الصغائر بالافعال المذکورة یعني الصلوٰة الخمس والجمعة الی الجمعة وغیرها مماذکرت. ودلیل مغفرة الصغائر بتلک الافعال قوله تعالی "ان الحسنات یذهبن السیئات"

وَنُدْخِلْكُمْ مُّدْخَلًا كَرِيمًا ﴿٣١﴾

او موږ به دوی داخل کړو ښه ځای ته یعني الجنة او القرب الی حضرت الرب جل سلطانه. بر کریمان کارها دشوار نیست.

پوه سه: چې بعض قاریان د "مَدخَلاً" لفظ په ضمه د میم وایي او بعض یې په فتحه د میم وایي. پر هر تقدیر دا لفظ یا ظرف مکان دی، نو مفعول به د "تدخلکم" وي. نو معنا یې داده چې موږ به دوی داخل کړو هغه ښه ځای ته د دخول، او یا "مدخلاً" مصدر میمي دی والمفعول علی هذا محذوف والمعنی ندخلکم الجنة دخولاً حسناً ای بلا تبعة ولا ملامة. قال مجاهد قالت ام سلمة رضی الله عنها الرجال یغزون ولا نغزوا" نران غزاوي کوي او موږ ښځي یې نه کوو یعني اجازه د غزاء خدای ﷻ نه ده راکړې "ولهم ضعف مالنا من المیراث یعني سره ددې چې قرابت و میت ته مو یو دی کالابن والبنت والاخ والاخت الی غیر ذالک، نو کاشکي موږ نر وایي، نو به مو غزاء کولای لکه نران او د نرو سره برابر به مو حصه د میراث ورلای، نو دا آیت نازل سو.

وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللَّهُ بِهِ بَعْضَكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ۚ

او تاسي اې ښځو تمنی مه کوئ د هغه شي چې په هغه شي سره خدای ﷻ تفضیل ورکړي بعضو ته ستاسي یعني الرجولیة پر بعض باندې یعني الانوثة.

دروښ وایي: چې وجه د نهي له تمنی مذکور ځخه داده چې دا تفضیل قضاء الهي ده، نو باید په قضاء الهي راضي اووسي، او د خدای ﷻ کارونه له حکمت او تدبیره خالي نه دي، مثلاً ښځه چونکه عورت ده نو په شمول کې ددې غزواتو کې لامحالة کشف العورة لازمېږي، او بل داده چې له ورته متنی ځخه حسد پیدا کېږي مع ان الحسد لایفید شیئاً.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: زه وبعضو ملایانو ته حیران یم چې په دې خو ښه پوهېږي چې حسد ماته هیڅ فائده نه کوي بلکې تاوان راته کوي ولې چې حسد گناه کبیره ده بیا هم حسد کوي. وهکذا الغیبت والبهتان. او پر منبر د وعظ چې دغه حاسد یا غیبت کونکی د حسد او غیبت قبائح په احادیثو سره بیانوي، نو ددې ملا علم حجت دی علیه لاله. لنعم ماقیل.

واعظان کین جلوه در محراب ومنبر میکنند
چون به خلوت میروند کاری دیگران میکنند

بلکې هر سړي لره په کار ده چې حتی الوسع والطاقة بذل د جهد خپل وکړي هغه عبادات او حسنات یې سبب د قرب الهي لپاره سي.

لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ

نرو لره خپله برخه ده چې خدای ﷻ دوی ته لیکلې ده من الفضل والثواب والاموال.

مِّمَّا اكْتَسَبُوا ۖ

یوه سه: چې "من" مدغمه لپاره د سببیت دی ای بسبب "ماکسبوا من الجهاد والتجارة من العبادات المختصة بهم وغیر المختصة ومن الغنیمة والارث بقدر ما قدرلهم في کتاب الله وسنة رسول الله ﷺ.

وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ

ښځو لره هم برخه سته مکتوب عند الله من الثواب والاموال.

مِّمَّا اكْتَسَبْنَ ۖ

په سبب د کسب ددوی من اطاعة الازواج وتدبیر الاولاد وحفظ الفروج وغیر ذالک ممایختص بهن ومالا یختص بهن من العبادات والارث وغیر ذالک حسب ما قدر لهن الله وروسوله.

وَسْئَلُوا اللَّهَ مِن فَضْلِهِ ۚ

یوه سه: چې مخاطب نر او ښځې دواړې دي یعنې تاسې سوال کوئ له خدای ﷻ څخه ثواب الدنیا والآخرة له فضله څخه د خدای ﷻ چې پر یوه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حسنه لس مثل ثواب ورکوي الی سبعمائة ضعف بل الی ماشاء الله.

إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا ﴿٣٥﴾

نو خدای ﷻ هر چاته وظیفه ټاکلې ده کالجهاد للرجال وحفظ البیت وتربیت الاولاد للنساء او نرو ته یې ضعف د میراث د نیمو ورکړی دی، وکل ذالک مبني علی حکم ومشتمل علی المصالح فلا ینبغي للنساء ان یطلبن وتمنین غیرما قدر لهن الله العزوجل، په حدیث قدسي کې راغلي دي "من استسلم لقضائي وصبر علی بلائي وشکر علی نعمائي کتبته صدیقاً وبعثته یوم القیامة مع الصدیقین ومن لم یرض بقضائي ولم یصبر علی بلائي ولم یشکر علی نعمائي فلیطلب رباً سوائي، وفي الحدیث الصحیح لن یزال الناس بخیر ماتباینوا ای تفاوتوا یعني في الفقر والغنی وغیر ذالک فاذا تساؤا هلکوا، وذالک لاختلاف النظام المرتبط بذالک یعني بعض الناس به سلطان وي بعض به وزیران وي بعض به قاضیان وي بعض به فقیران وي بعض به عالمان وي بعض به جاهل وي بعض په مجاهد وي بعض به قاعد البیت وي الی غیر ذالک.

دروښ وایي: چې ابن سرین رحمه الله له ابو هریره رضي الله عنه څخه داسي روایت کړی دی چې رسول الله ﷺ وویل "لایخطب الرجل علی خطبة اخیه" مرکه دي نه کوي یو سړی یعنې یوې ښځې ته پر مرکه د ورور دده یعنې چې بل مسلمان وهغې ښځې ته مرکه کړې وي یعنې تر هغو پورې چې هغه سابق مرکه والا ځپل مرکه قطع کړي "ولایسوم علی سوم اخیه" او د رانیولو د شي طلب دي نه کوي چې بل ورور د هغه په سودا بخت وي یعنې تر هغو چې هغه وروز یې پرېږدي، نو وروسته تر هغه که طلب د رانیولو وکړي بیا ورته روا ده الی اخیر الحدیث.

پوه سه: که مقصود په دې حدیث کې مبالغه ده په منع کې د حسد د چاسره.

مسئله: که مقصود د سړي حسد نه وي بلکې غرض یې حصول د نعمت وي په مثل د نعمت د بل چا، نو بعض علماء وایي چې دا روا ده لکن محققین علماء وای چې داسي تمنی هم نه ده روا، ولي چې حصول د هغه نعمت د بل سړي چې دی تمنی کوي مفسد به وي دده په حق کې په دین کې او ضرر به وي دده په حق

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کي په دنیا کي، نو له دې سببه محققین د علماء وایي چي داسي خواست دي سړی نه کوي چي خدایه ماته داسي سړی راکړې لکه د فلاني سړي او یا داسي ماینه راکړې لکه د فلاني سړي وامثال ذالک بل ینبغي ان یقول اللهم اعطني مایکون صلاحاً في دیني ودنیاي ومعادي ومعاشي.

دروښ وایي: چي که سړی ښه غور او فکر وکړي تر هغه دعاء چي خدای ﷻ په قرآن کریم و مسلمانانو ته ښوولې ده ښه دعاء او جامع او مختصره دعابه نه کي پیدا یعني ربنا آتنا في الدنیا حسنة وفي الآخرة حسنة وقنا عذاب النار، که څه هم ځینې علماء ترجمه د حسنةً په زوجه سره کړی دی لکن تقصیر دی په عمومي دعاء کي فلا یسمع قول ذالک البعض. او له حسن بصري رحمه الله علیه څخه روایت دی چي داسي خواست دي څوک نه کوي چي خدایه ماته ډېره دنیا راکړې فلعل هلاکه في ذالک المال الکثیر کما في حق ثعلبه، وقصة مشهورة وفي الحدیث والتفاسیر مذکورة.

وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَالِيَ

ای لکل ترکة المیت ومال، مور ګرځولي دي وارثان چي متفاوت دي په درجه کي د میراث او هر یو خپله حصه اخلي سره له تفاوته بحسب القرب الی المیت والبعد عنه کما بین في آیة المواریث والاحادیث الصحیحة واجماعات الامة المرحومة.

مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ ۚ

له هغه مال څخه چي پرې اینبسی وي یعني وروسته مور او پلار او نورو قریبانو

پوه سه: مما" بیان دی د "کل مع الفصل بالعامل وهو جعلنا لان لکل مفعول ثاني دی د "جعلنا" قدم علیه لتاکید الشمول ودفع توهم الجعل بالبعض دون البعض.

دروښ وایي: چي دا تفسیر مختاره د روح البیان دی. او قاضي پاني پتي یو ګډ ود تفسیر کړی دی چي بېله تشویشه د ذهن د متعلم بله فائده نه لري.

ع..... وللناس فیما یعشقون مذاهب.

وَالَّذِينَ عَقَدَتْ أَيْمَانُكُمْ

او هغه چي عقد ورسره کړی وي ستاسي رسته لاسو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې دا موصول مبتداء او متضمن معنی لره د شرط ده، نو ځکه یې په خبر کې فای جزائیه راوړه.

فَاٰتُوْهُمْ نَصِيْبَهُمْ ؕ

ورکوي ودوی ته خپله برخه له میراث څخه یعني السدس.

فائده: په ابتداء کې د اسلام چې دوو کسانو به عقد سره وکړی او دا به یې سره وویل چې هر یو چې په ما او تا کې مړ سي هغه ژوندی به یې شپږمه د مال میراث وړي چې دې ته یې مولی موالات وایه او حلیف یې هم بولي، نو سدس د مال د میت وده ته ورکول کېدی. او دا مولی موالات تر ذوی الارحام مقدم و، وثم نسخ ذالک بقوله تعالی "واولو الارحام بعضهم اولی ببعض"

مسئله: د امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله مذهب دادی که د یو مسلمان پر لاس یو کافر مسلمان سو، او دا یې عقد سره وکړی چې نو مسلم ورته وویل که زه مړ سوم میراث مي ستا دی او که زما څخه قتل خطاء وسو دیت به ته ورکوې. امام اعظم رحمه الله وایي چې دا عقد صحیح دی وعلیه عقله وله ارثه. لکن دا هلته چې دغه نومسلم هیڅ وارث نه لري، نو امام اعظم رحمه الله وایي چې دا میراث تر ذوی الارحام وروسته دی.

فائده: اسناد د عقد یې و ایمانو ته وکړی که څه هم عاقد خو سړی دی بناء دی پر عرف قدیم د عربو، چې په وخت کې د ورته عقد به دوی رسته لاسونه سره ونیول، نو گویا عقد رسته لاسو کړی دی.

اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ شَهِيْدًا ۝

په تحقیق خدای جل جلاله پر هر شي شاهد دی، ومنها ایتاء المیراث المذکور ومنعه. نو په دې آیت کې ترغیب دی په ورکړه کې د میراث د مولی موالات او تهدید پر منع د میراث ددوی.

فائده: بعض مفسرین وایي چې مراد د "الذین عقدت ایمانکم" څخه حلیفان دي چې په عربو کې به دا دستور هم و، او پر دې تقدیر مراد له "آتوهم نصیبهم" څخه کومک یو له بله سره او یو د بل خیر خواهي ده او اخلاص دی یو له بل سره د ژوندانه په چارو کې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نصیحت عام: پر هر مسلمان لازمه ده "ان ینصر اخاه المسلم ویخالطه علی وجه الخلوص النصیحة لاعلی وجه النفاق والعدواة. قال رسول الله ﷺ "مثل المؤمنین في توادهم وتراحمهم وتعاطفهم مثل الجسد الواحد اذا اشتکی عضو تداعی له سائر الجسد بالسهر والحمی" سعدي شیرازي رحمه الله چه خوش گفته

بنی آدم اعضای یکدیگرند — که در آفرینش زیک جوهرند
چو عضوی بدرد آورد روزگار — دیگر عضوها را نماند قرار
تو کزمحنت دیگران بیغمی — نشاید که نامت نهند آدمی

فائده: پر مسلمان دا واجبه ده چي د مسلمان وروز لپاره هغه خوښ ولري چي د ځان لپاره یې خوښ لري، په پښتو کي وایي "بنده راسه د خدای خپل سه" لکه پر ځان داسي پر بل سه" او مسلمان باید د بل مسلمان په حاجاتو کي مرسته او کومک ورسره وکړي. او په حدیث صحیح کي راغلي دي چي له اسبابو څخه د مغفرت د گناه ادخالک السرور علی قلب اخیک المسلم، داخلول دي د خوشحالي په زړه کي د مسلمان وروز، یعني مسلمان د مسلمان سره داسي خبره یا داسي عمل وکړي چي د هغه زړه په خوشحاله سي.

دروښ وایي: چي داسي کړه وړه په اوسنۍ زمانه کي لکه عنقا چي نوم یې سته مسمی یې نسته اللهم الافي بعض خواص المؤمنین والاولیاء الکاملین.

پوه سه: چي یوه بنځه مېړه په چپلاخه پر مخ وهلې وه، نو هغې بنځي و علیه الصلوة والسلام ته شکایت وکړی، نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل "القصاص" یعني ته یې هم په چپلاخه وواهه، فنزلت هذه الآیة.

اَلرِّجَالُ قَوَّامُوْنَ عَلَى النِّسَآءِ

نران یعني مړونه مقرر دي پر ماینو لکه ولات الامر پر رعیتو باندې، او خدای ﷻ مسلط کړي دي نران پر بنځو او ماینو باندې، نو خود به نر ماینه په چپلاخه د تادیب لپاره وهي، نو دآیت چي نازل سو علیه الصلوة والسلام اردتا امر آزمویږ خو اراده وه د یوه شي یعني قصاص او د خدای پاک د بل شي اراده وه یعني چي د تادیب د چپلاخې وهل د ماینې روا دي، او آنحضرت ﷺ زیاته کړه والذي اراد الله خیر، نو مېړه او ماینه یې رخصت کړه او د قصاص حکم نبي علیه السلام ښه ته واخستی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بِمَا فَضَّلَ اللّٰهُ بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ

پوه سه: چې کلمه د "با" سببیه ده او کلمه د "ما" مصدریه ده، ای بسبب تفضیل خدای ﷻ بعض د انسانانو چې نرانو دي پر نورو بعضو چې ښځي دي لکه په اصل خلقت کې لکه آدم او حوا. او په کمال د عقل د نرو تر ښځو لانه قد ورد في الحدیث الصحیح "هن ناقصات عقل ودین" او نر ښه تدبیر د کور کولای سي تر ښځه او نر فراځي د علم لري او قوت د بدن لري تر ښځې. او اعمال شاقه کولای سي چې ښځه یې نسي کولای، نو هم دا سبب دی چې نبوت په نر پوري خاص دی او دغه رنګه امامت صغری وکبری د نرو خاصه ده او قضاهم په نرو پوري خاصه ده او شاهدي په حدود او قصاص کې په نرو پوري خاصه ده، او وجوب د جهاد في سبیل الله او وجوب د جمعې د لمانځه او د اختر و د لمانځه او آذان او خطبه او جماعت په نرو پوري خاص دی، او په میراث کې د نر برخه د ښځې تر برخې دوه ده، او مالکیت د نکاح او د طلاق د نرو خاصه ده او تعداد د زوجاتو ونرو ته روا دی دون النساء، او روژه د نرو پوره ده او د ښځو دا ګاهي په سبب د حیض او نفاس کمه سي، او داغه رنګه لمونځونه د نرو دوه ډېر دي تر ښځو بسبب عوارض الحیض والنفاس، او داغه رنګه نر حج ته بېله ملګري تلای سي او ښځه بې محرمه حج ته نه سي تلای او یا به یې زوج ورسره ملګری وي. ولهذه الکمالات اللهیة للرجال قال علیه الصلوة والسلام لو امرت احداً ان یسجد لاحد لامرت المرئة ان یسجد زوجها رواه احمد عن معاذ ﷺ.

وَبِمَا أَنْفَقُوا مِنْ أَمْوَالِهِمْ

او بل له دې سببه چې نرانو دوه ډېر مالونه صرف کړي دي، اول په ولور کې د ښځو او دروسته په نفقاتو کې د دوی توله ورځ، او په جامو کې ددوی که څه هم مړونه توله ورځ مزدوري کوي خو ماینو ته نفقه برابروي وهذا امر کسبي.

پوه سه: وبما انفقوا الخ" عطف دی پر بما فضل الله ﷻ عطف الامر الکسبي علی الموهبي وقدم الموهبي لشرفته ولتقدمه طبعاً. اوس نو خدای ﷻ ښځې پر دوه قسمه وېشې او وایي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَالصّٰلِحٰتُ قٰنِتٰتٌ حٰفِظٰتٌ

نو صالح ښځي فرمانبرداره د خدای ﷻ وي په امور شرعیه وو کي او بیا حقوق د ازواجو هم پر ځای کوي یعنې په کامله توګه سره، او ساتونکي وي د فرجونو له اغیارو ځځه وکذا من لمسهم وقبلتهم، او دغه رنګه اموال د مېړه ساتي او دغه رنګه ساتي پټ اسرار د مېړه.

لِّلْغَيْبِ

بوه سه: چې "لام" په معنی د "في" دی والمعنی في غیبة الازواج، او یا "لام" صله دده "حفظت" لپاره والمعنی حافظات لماغاب عن الناس من اسرار الازواج واموالهم الخفیة.

بِمَا حَفِظَ اللّٰهُ

په سبب ددې چې خدای ﷻ دوی ساتلي دي.

پوښتنه: ددوی ښه خویونه خو خدای ﷻ بیان کړه لکن ددوی ثواب یې نه کړی بیان؟

ځواب: ددوی جزاء محذوفه ده چې عقل سلیم دلالت پر کوي ای احسنوا ایها الازواج معهن ولاتؤذوهن.

دروښ وایي: چې د ابن مسعود ﷺ قرائت دلالت کوي پر ماقلنا باندې روا ها طلحة بن مطرف حیث قرء ابن مسعود ﷺ في اخیر الآیة فاصلحوا الیهن او په بل روایت کې فاحسنوا الیهن.

دروښ وایي: چې په صحیح حدیث کې راغلي دي چې علیه الصلوة والسلام وایي "خیر النساء امرئة ان نظرت الیها سرتک" ښه د ښځو یعنې ماینو هغه ښځه ده چې که ته دې ته وګورې دا رویه یې تا خوشحاله کوي یعنې په ښه ځندا او وربښ تندي خبرې درسره کوي "وان امرتها اطاعتک" او که ته دا امر کړې په یو شي سره ستا اطاعت کوي یعنې په خوله دې کوي "واذا غبت عنها حفظتک في مالها ونفسها" او که ته غائب سې او له کوره ووځې او یا مسافر سې، دا ستا ساتنه کوي په مال کې ددې یعنې هغه ستا مال چې ددې په لاس کې دی، فالاضافة لادنی ملابسة او په خپل ځان کې یعنې د چا سره زنی وغیره نه کوي،

بوه سه: چې کلمه د "ما" یا مصدریه ده ای بحفظه تعالی ایاهن ای بالامر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بحفظ الغيب، او دوی يې باعثه کړي دي پر حفظ الغيب باندې په وعد او وعيد سره او دوی ته يې توفيق د حفظ الغيب ورکړی دی. او يا کلمه د "ما" موصوله ده ای بالذي حفظ الله لهن عليهم من المهر والنفقة وحسن المعاشرة معهن الى غير ذالک من حقوق الزوجية.

له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی چې عليه الصلوة والسلام وويل بنځه چې پنځه وخته لمونځ کوي او د مياشتې د روژې روژه نسي او فرج يې له زنی څخه ساتلی وي او فرمانبرداري د مېړه کوي "فليدخل الجنة من ای ابواب الجنة شائت" رواه ابو نعيم في الحلية. او له ام سلمة رضي الله عنها روايت دی چې مرفوع دی و عليه الصلوة والسلام ته دې وويل چې هره بنځه چې مړه سي او مېړه يې دې راضي وي دخلت الجنة رواه الترمذي.

وَالّٰتِیْ تَخَافُوْنَ نُشُوْزَهُنَّ

پوه سه: چې خطاب د "تخافون" ومړو ته د بنځو دی، او له "التي" څخه مراد زوجات دي، او "التي" مبتدا، ده متضمن معنا لره د شرط او "فعظوهن" يې خبر دی يعنې هغه ماينه چې تاسي ېې ېرېږئ له عصيان او تکبر څخه ددې.

پوه سه: چې اصل معنا د نشوز ارتفاع ده. نو ځکه مکان مرتفع ته نشز وايي.

پوه سه: چې ځينې مفسران معنی د "تخافون" په تعلمون سره کوي، يعنې چې ستاسي يقين سي پر نشوز د دوی استدلالاً بما في القاموس جعل من معاني الخوف العلم، او ځينې مفسرين "خوف" پر خپله معنا پرېږدي او عبارت په حذف سره: د مضاف بولي يعنې دوام نشوزهن واصرارهن عليه، يعنې اصل نشوز او تکبر خو متيقن وي تاسي له دوام څخه ېې ېرېږئ، لکن دې توجيه ته ضرورت نشته، ولې چې نفس خوف د نشوز کافي دی لپاره د وعظ. او علامه برسوي رحمه الله وايي الخوف حالة تحصل في القلب عند حدوث امر مکروه او عند الظن او العلم بحدوثه والانسب هٓ ان يفسر بالظن ای تظنون نشوزهن وتکبرهن وترفعهن عليکم بان ظهر بعض امارات النشوز عليهن بان يتکلمن مع الازواج بصوت عال والاباء عن المضاجعة في بعض الاوقات والعبوس (يعني تريو تندی) عند التکلم مع الازواج الى غير ذالک من امارات النشوز.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَعِظُوْهُنَّ

نو اول خو په قول لیږ نصیحت ورته وکړئ او له خدای ﷻ څخه د بهرې خبرې ورته وکړئ او د مېړه حقوق ورته بیان کړئ، او د جنت په ترغیب او له دوزخ څخه د ترهیب خبرې ورته وکړه، نو که وعظ فائده وکړه او بنځې له نشوز څخه توبه وکښل، نو خبره خلاص سول او که وعظ فائده ونه کړه.

وَاهْجُرُوْهُنَّ فِی الْمَضَاجِعِ

بیا نو هجران څندې وکړه په ځای کې د بیدېدو څوک وایي که پخوا ته په یوه تلتک کې ورسره بیدیدلې اوس مه ورسره بیدېږه یعنې ځای ځیندې جلا کړه، او بعض مفسران وایي په یوه ځای کې لکه پخوا چې ورسره بیدیدلې اوس هم ورسره بیدېږه خو شا ورګرځوه، پاڼې پټې دا تفسیر مختار کړی دی په قرینه ددې چې في المضاجع عبارت په قرآن نو په ځای کې د بیدېدلو هجران کول دغه شا ورګرځول دي، ولې که مراد ځای بدلېدل وای، نو داسې عبارت مناسب و عن المضاجع، او بعض مفسرین وایي چې دا عبارت کنایه ده له عدم الجماع څخه یعنې عادي جماع مه ورسره کوه، او که دې هجران هم فائده ونه کړه بلکې بنځې و نشوز ته دوام ورکړی نو بیا.

وَاضْرِبُوْهُنَّ

بیا یې ووهه، لکن اکثره مفسران پر دې رایه دي چې ضرب به مبرح یعنې سخت نه وي بلکې یو څو سپکي چپلاخې یې پر مخ ووهه، او یا یو څو سخت سوکان یې پر کوناتو ووهه. لکن په قرآن مجید کې لفظ د ضرب مطلق راغلی دی، نو باید سیاست د ضرب دي پر قدر او اندازه د مایني د نشوز وي، نو که بنځې فاحشه وکړه او یا یې فرضي لمونځ نه کاوه، او یا یې فرضي روژې نه نیولې او یا یې غسل د جنابت نه کاوه، نو مېړه دې کلکه وهي او په خونه کې دې بندي کړي دونده قدر چې د مېړه دا خیال سي چې اوس به نو دا دغه اعمال سیئه پرېږدي او توبه به هم وکاږي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وایي: چې دا وروسته څو کارونه یعني د فاحشې را شروع کارونه که څه هم د نشوز د بڼې له مېړه څخه نه دي بلکې د بڼې شخصي ګڼهونه دي. لکن په مقتضی د الرجال قوامون علی النساء. دروښ دلته ذکر کړه چې مېړه باید په هره توګه چې ماینه یې له شخصي ګڼهو څخه راګرځي پر ده لازمه ده چې را وه یې ګرځوي.

فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوا عَلَيْهِنَّ سَبِيلًا ۗ

که ماینو ستاسي اطاعت شروع کړی او له نشوز او تکبر څخه یې توبه وکښل، نو بیا مه طلبوئ تاسي پر دوی باندي لار د ایذاء او پېغور په خوله بلکې نشوز ددې داسي ګرځوي کان لم یکن منهن شیئاً لان التائب من الذنب کمن لا ذنب له.

إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيرًا ﴿٣٤﴾

په تحقیق سره خدای ﷻ عالي په قدرت سره پر ټولو مخلوق او لوړ دی په عظمت سره تر ټولو مخلوق.

پوه سه: مقصود له دې آیت څخه دادی چې تاسي پر "من تحت ایدیکم" باندي ظلم مه کوئ او له "علی کل شئ قدیر" خدای ﷻ څخه وبېرېږئ، ولي چې خدای ﷻ پر تاسي د ډېر قدرت لري تر تاسي پر "من تحت ایدیکم" باندي، او خدای پاک سره علو شان دده په توبه سره ستاسي تر ګڼهو در تېرېږي، نو تاسي په طریق اولی سره باید له ګڼهو څخه د "من تحت ایدیکم" په توبه سره ورتېر سئ لکه په "مانحن فیه" کي د نشوز ګناه.

دروښ وایي: چې په فتوی شرعه او په شرح کي د هغه وایي که د سړي علم پر خپل ماینه و پر فجور یعني فسق او یا دروغ او یا میل و باطل کار ته مثل الزنی، نو دې طلاقه کړي الا ان لایصبر عنها، مګر نه که یې صبر نه ځیندي درلودی یعني ډېره پر ګرانه وه فیتمسکها، نو بیا دې خوندي کړي.

دروښ وایي: چې ددې خبرې تاکید هغه حدیث کوي چې یو سړی و علیه الصلوة والسلام ته راغلی او وه یې ویل چې زما ماینه رد د لاس نه کوي یعني که څوک مچه ځیندي واخلي یا یې پر مخ یا پر بل ځای لاس ورتېروي، نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې داسې ده نو یې طلاقه کړه. هغه ورته وویل چې پر ما ډېره ګرانه ده صبر نه سم ځیندې کولای. نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل نو خوندې یې کړه یعنې درته ناسته دي وي، دا اجازه چې علیه الصلوة والسلام ورکړه ددې خوف له سببه چې که یې دی طلاقه هم کړي بیرته به دی په سبب د غایة محبت د زنی له لارې ورسره مبتلا سي، نو علیه الصلوة والسلام یې بقاء د نکاح خیر وبلل تر طلاق او بیرته بیا زنی.

فائده: ددې حدیث معنا دا نه ده چې سړی دې له خانه دوٹ جوړ کړي یعنې پر مایئه خلګ وینې چې زنی ورسره کوي دی دې نه طلاقوي په دې عذر چې پر ما ګرانه ده. په حدیث متفق علیه کې راغلي دي "لایجلد احدکم امرئته جلد العبد ثم یجامعها في اخیر الیوم" ددې مطلب دادی چې بنځه چونکه ضعیف البنیة ده او په وخت کې د وهلو عاجزه درته ناسته وي او ځغاستی نه سي، نو داسې سخته یې مه وهه لکه مریی چې وهې، ولې چې د مریي بدن قوي دی او که ډېر په عذاب سي ځغاستی هم سي او په حملو هم ځان خلاصولای سي، او حکیم بن معاویه له خپل پلار څخه داسې روایت کړی دی چې احمد، ابو داؤد او ابن ماجه دا حدیث نقل کړی دی قال قلت یا رسول الله ماحق زوجة احدنا علیه، قال ان یطعمها اذا طعمت" چې ډوډۍ به ورکوې که دې ډوډۍ غوښتل "ویکسوها اذا کسیت" او کالي به ورکوې که دې کالي غوښتل "ولا یضرب الوجه" او پر مخ به یې نه وهې، ولې چې مخ معدن د قوی لطیفه وو شریفه وو دی "ولا یقبح" او په بدو سترګو به نه ورته ګورې "ولا یهجرها الا في البیت" او هجرت یعنې ګوښه پرېوتل دي ځیندې کوي مګر په خونه کې، یعنې خو ځیندې بدوه په سبب د نشوز، نو د خوني دي نه ځیندې وځي بلکې په خونه کې دي ځان ته جلا ځای هوار کړي، حاصل د کلام دادی چې د مایئ بعض بد اخلاق باید مهرې ورته معافوي، ولې چې مایئه عاجزه ده او په مثال د مینځې ستا د کور او اولادو خادمه ده او له خپلو اقرباؤ څخه په میاشتو بلکې په کلو دور افتاده ده.

دروښ وایي: چې د کلمات جامعه وو ښائسته وو د خیر البشر ﷺ دا حدیث

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مبارک دی چې ټولو امامانو د حدیثو یې روایت کړی دی "کلکم راع وکلکم مسؤل عن رعیته الی اخیر الحدیث" ولې دا حدیث که څه هم په ضمیر د مذکر راغلی دی لکن نر او ښځې، شاه وگدا ته، رئیس ته د محلې، رئیس ته د یو قوم، د کور مشر ته، د کور ښځې ته، بادار او مریې ته دې ټولو ته شامل دی لکه څرنگه چې په هم دغه حدیث بطوله کې په تفصیل ذکر سوې دي، نو ددې حدیث په رښا حال د ناشزه مابینې من الوعظ والهجران او وروسته تر توبې ددې چې سړی غور وکړي مفصل معلومېږي ومن الله التوفیق.

وَإِنْ خِفْتُمْ

پوه سه: چې مخاطب په ضمیر د مخاطب حکام او قضات دي.

شِقَاقَ بَيْنِهِمَا

پر عدوات د مېړه او مابنې. یعنې په وعظ او هجران او ضرب سره عداوت ددوی نسو قطعه.

فائده: عداوت شقاق ددې سببه وایي چې هر یو له خصمینو څخه هغه کار کوي چې پر هغه بل باندې شاق او سخت پرېوځي. او یا له دې سببه چې هر یو د مخاصمینو علحده علیحده لار مختار کوي.

فائده: اضافت د شقاق یې وظرف ته یعنې بینهما مجازاً کما في قوله مکر اللیل والنهار.

پوښتنه: مېړه او مابنه خو دمخه نه دی ذکر سوی، نو اضمار قبل ذکر المرجع به نه وي؟

ځواب: یا ولې مېړه او مابنه له نشوز څخه فهمېږي، ولې چې نشوز عصیان د مابنې له امر څخه د زوج، او بل دا چې ذکر د مابنې او ضمیر د زوج له هغه آیت څخه ښکارېږي واللتي تخافون نشوزهن.

فَابْعَثُوا حَكَمًا مِّنْ أَهْلِهِ

ایها الحکام ومېړه ته، ای رجلاً عاقلاً عادلاً له قریبانو څخه د مېړه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَحَكَمًا مِّنْ أَهْلِهَا

او ور واستوئ وماينې ته يو حكماً د قريبانو ددې، يعنې ددې غرض لپاره چې حق او باطل په خصومت کې د مېړه او ماينې معلوم کړي او پر هغه غور وکړي.

فائده: حاکمان يې مقيد کړه چې له اقرباوو څخه د مېړه او ماينې وي له دې سببه چې اقارب په پټو احوالو د نر او ښځې ښه خبر دي تر اجانبو او اقرباو د نر او ښځې ډېر کوشش په اصلاح کې د ذات البين د مېړه او ماينې، او داغه رنګه ښځه خپل د اقرباوو سره په دلاوري خبرې کولای سي تر بېګانه وو. نو قيد د اقاربو استحبابي دی، نو که حکام بېګانه خلګ لپاره د معلومولو د ظالم او مظلوم ور واستوي هم روا ده. نو دا حکام هر څوک چې وي وروسته تر غور يې مېړه ظالم په خيال ورغلی. نو هغه دي امر کړي چې يا به د ماينې امساک بالمعروف في الشرع کوي، او يا به يې طلاقوي چې په عربي تسريح بالاحسان ورته وايي، او که ظلم په ښځه کې و حاکمان دې اول ښځه امر کړي په اطاعت د مېړه. او که ماينې دا نه قبلول بيا دې امر کړي چې فديه ورکړه يعنې خلع بالمال وسره وکړه.

إِن يُرِيدَا إِصْلَاحًا يُوَفِّقِ اللَّهُ بَيْنَهُمَا

که اراده درلوده دا دوو حکمينو اصلاحاً د اختلاف د مابين الزوجين او نيت ددوی صحيح و، او د يو جانب مراعات يې نه کاوه. نو خدای ﷻ به په سبب د حسن نيت د دوی يعنې مېړه او ماينې اتفاق او الفت پيدا کړي، نو ضمير اول راجع و حکمينو ته دی او ضمير ثاني وزوجينو ته دی، او داسي احتمال هم سته چې مراد له اصلاح څخه دي عام تر وفاق او تر فراق يعنې که د حکمينو مراد ماهو الاصلح و من بقاء النکاح او ايقاع الطلاق يوفق الله ذالک الاصلح بينهما.

إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا خَبِيرًا ﴿٣٥﴾

په تحقيق خدای ﷻ علم لري ددوی پر نيتو او خبر دی په ظالم او مظلوم د مېړه او ماينې، نو به ظالم ته جزاء ورکړي په دنيا او اخرت کې.

پوه سه: چې په دې آيت کې باعثه کول دي د مسلمانانو پر اصلاح د ذات البين

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یعني اختلاف په منځ کي د دوو کسانو اعم من الزوجین وغیرهما، په صحیح حدیث کي راغلي دي چي علیه الصلوة والسلام وویل چي زه تاسي ته خبر درنه کړم په هغه عمل چي افضل وي تر لمانځه او روژې او صدقې. والمراد النفلي منها قالوا بلی صحابه وو ﷺ وویل چي هو خبرو مو کړه، نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل "اصلاح ذات البین"

پوه سه: چي مصلحین خیار خلق الله والمفسدین شرارهم، ولي چي مفسدین کوشش کوي چي تر منځ د مسلمانانو تفریق او تباغض پیدا کړي، او په منځ کي د مسلمانانو فتنه راژوندی کړي، وفي الحدیث الصحیح الفتنة نائمة لعن الله من ایقضها.

پوه سه: چي له مفسدینو څخه هغه کسان هم مراد دي چي د دوو کسو تر منځ شیطانت کوي، او د یوه مسلمان خبره وبل مسلمان ته رسوي په نیت د ایقاع الشقاق بینهما.

دروښ وایي: چي په صحیح حدیث کي راغلي دي "الدین النصیحة" ثلاث مرات "قالوا لمن یارسول الله قال لله ولرسوله ولکتابه ولأئمة المؤمنین ولعامتهم انتهی"

دروښ وایي: چي محدثینو او مفسرینو رحمهم الله په شرح او بیان کي ددې حدیث مبارک داسي فرمایلي دي چي مراد له نصیحت څخه د خدای ﷻ دادی چي ایمان به پر خدای ﷻ لري او شریک به نه ورته وایي، او عمل به کوي په هغو چي خدای ﷻ ته په امر کړی یې او پرهیز به کوي له هغو عملو څخه چي خدای ﷻ ته ځیندي نهي کړی یې او خلګو ته به هم بلنه ورکوي ددغې لارې، او دوی ته به دغه لار ورزده کوي هم، واما النصیحة لکتابه ای القرآن العزیز ان تؤمن به" چي پر قرآن به له اوله څخه تر اخیره پوري ایمان لري، او تلاوت به یې کوي او عمل به په کوي بما فیه، او خلګ به هم رابولي ودغه ته.

واما النصیحة لرسوله: هغه دادی چي عمل به کوي بما امر به سره او خلګ به هم رابولي ودغه ته.

واما النصیحة للائمة: یعني بادشاهانو او رئیس جمهورانو ته د مسلمانانو، هغه دادی چي چي بغاوت به پر دوی نه کوي او دوی ته به د عدل او انصاف دعا،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کوي، او نور خلګ به هم دغې لارې ته رابولي.

پوه سه: چې مراد له ائمة المسلمين څخه هغه کسان دي چې دوی رعیت په ضلال او ګمراهي سره نه امر کوي، او په اطاعت د کافرانو یې هم نه امر کوي. والا فلا طاعة للمخلوق في معصية الخالق.

واما النصيحة للعامة: یعنې عامو مسلمانانو ته هغه دادی چې پر بل مسلمان هغه شی پسرزو کوي چې ستا پر خپل ځان پسرزو کوي کما ورد في الحديث النبوي ﷺ ایضاً. او په اصلاح د دوو مسلمانانو به سعي او کوشش کوي. او دعاء د صلاح به ومسلمانانو ته کوي.

دروښ وایي: چې په دغه یوه حدیث چې څوک عمل وکړي د دینا او اخرت خیرات پکښې نغښتی دی، لکن هيهات العمل في الزمان الحاضر زمان الفتن والسرور والفساد الا من شاء الله من خواص المؤمنين اللهم صبراً ونصراً وتوفيقاً وهداية وعلماً نافعاً.

وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا

او تاسي عبادت کوئ د خدای ﷻ او شریک مه نیسئ دده سره هیڅ شی.

پوه سه: چې په صحاح کې وایي چې عبودیت اظهار د تذلل او عجز دی. او عبادت ابلغ دی تر عبودیت، ولې چې عبادت اظهار د نهایت تذلل دی او مستحق د عبادت نه دی مګر هغه ذات چې نهایت عظمت لري او افضال وهو ليس الا ذات الباري عزوجل، ونهاية التذلل من العبد اینبول دي د اشرف اعضاء خپل چې مخ دی پر اخس ځای چې محکه ده په سجده کې، نو سجده کول وغیر ته د خدای ﷻ شرک دی لا مطلق الانحناء وتقبيل اليد للاساتذة والمشائخ. نو هغه معلوم الحال خلګ چې وایي چې تقبیل د لاس د استاذ وغیره څو تعظیم دی د هغه او تعظیم د غیر الله شرک دی، دېره لویه دلاوري کوي په دعوه کې د شرک پر مسلمانانو کیف؟! وقد صح ان الامام مسلم رحمه الله صاحب الصحيح جاء الى الامام البخاري رحمه الله فقبل يديه وقال مات اقبل رجليك يا سيد المحدثين وما طبيب الحديث في علله وهل هذا الا تعظيم الامام مسلم للامام البخاري، واما مجرد الانحناء بغير سلام وتقبيل اليد فلما كان في الملل السابقة فهو منسوخ في

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الشريعة المطهرة كما قالوا في سجدة اخوة يوسف عليه السلام له. او دوی نه پوهيږي چې تعظيم د صحابه کرامو رضي الله عنهم د رسول کريم ﷺ په اندازه کې و چې دوی وايي چې مورږ به په مجلس کې د رسول کريم ﷺ ناست وو داسې به وو کانما على رؤسنا الطير.

دروېش وايي: چې هم دا سبب دی چې عبادت کول خاص په خدای ﷻ پورې دی، وروسته خدای پاک داسې وويل چې "ولاتشرکوا به شيئا" پر دې چې شرک او عبادت خاصه د خدای ﷻ ده نه سره يو ځای کېږي.

پوښتنه: مشرکينو د مکې خو تعظيم د بتانو کاوه، نو دوی ولې مشرکان وګڼل سوله؟

ځواب: مشرکانو د مکې خو بتانو ته سجدې متعارفي کولې او له جماداتو څخه يې قضاء حاجات غوښتل مع الها لاتضر ولاتنفع بشئ.

پوښتنه: بعض مريدان له مشائخو څخه هم قضاء حاجات غواړي؟

ځواب: مريدان خو شيخ ته وايي چې خواست وکړه خدای ﷻ ته چې زما دا فلانی امر وکړي داسې نه ورته وايي چې ته قاضي الحاجات يې زما دا فلانی کار را وکړه، والفرق بين. او په يو درواېت کې راغلي دي چې حليمه سعديه چې د عليه الصلوة والسلام مرضعه وه يو وخت يې په حال کې د رضاع آنحضرت ﷺ لپاره د ملاقات د نيکه عبد المطلب مکې ته راوستلی و او په حطيم شريف کې يې کښېنولی و، او دې طواف کاوه يو دوه درې واره چې يې طواف وکړی په حطيم شريف کې يې عليه الصلوة والسلام نه وليدی، نو يې بغاري کړې دباندې تر حرم ووتل او هورې خلګ ناست وه، چې په هغو کې عبد العزی نامی يو سړی هم و هغه ورته وويل چې حليمه سعديه يې؟ ولې ژاړې هغې قصه ورته وکړه، عبد العزی ورته وويل چې مه ژاړه اوس بې دستي در پيدا کرم.

مولانا روم په مثنوي کې وايي.

برد اورا پيش عزی که اين صنم	هست در اخبار غيبی مغتنم
پير کرد اورا سجود و گفت زود	ای خداوند عرب وی بحر جود

الی اخير الابيات مطلب د دروېش دادی چې عربو مشرکانو به خپل بتان قاضي الحاجات ګڼلې او سره ددې چې قضاء الحاجات خاصه بلاشريکه د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای ﷻ ده او مسلمانان خو دا عقیده نه لري.

پوه سه: چي تنوین د "شیئاً" لپاره د تحقیر دی ای شیئا حقیراً وهو الصنم وای شیئ کان لان ماسوی الله بالنسبة الی جلال ذاته تعالی حقیر جداً وان کان جلیلاً في نفسه لکه چي بعض مشرکان وایي چي ملکي د خدای ﷻ لونې دي. نو ځکه یې مورږ عبادت کوو او یهودان وایي چي عزیر ابن الله دی یا نصاری وایي چي عیسی ابن الله دی. نو پر دې تقدیر "شیئاً" منصوب دی مفعول به د لاتشرکوا دی، او دا احتمال هم سته چي "شیئاً" دي منصوب وي مفعول مطلق د لاتشرکوا دي وي ای شیئاً من الاشراک که شرک جلي وي لکه د عبدة الاصنام شرک یاشرک خفي وي لکه د ریاء کارانو شرک.

پوه سه: چي عبادت د خدای ﷻ دوه قسمه دی یو اضطراري یعني پر بنده بې اختیاري دده راځي لکه مرض، مرګ فقر او غنی وغیرها. او بل عبادت اختیاري دی وهو المراد آه، وهو بامتثال او امره تعالی والاجتناب عن المعاصي.

وَّبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا

پوه سه: چي حرف جر یعني "باء" متعلق په محذوف پورې ده او "احساناً" د هغه مفعول مطلق دی ای احسنوا بالدین احساناً. او دا فعل محذوف یعني "واحسنوا" عطف دی پر "وعبدالله" عطف الانشاء الامري علی الانشاء الامري او یا عطف دی پر "لاتشرکوا" من قبیل عطف الانشاء علی الانشاء وان کانا مختلفین.

فائده: خدای پاک چي مربي اعظم د بندګانو دی کما ورد "الحمدلله رب العالمین" بندګان یې امر کړه په خپل عبادت سره او نهي یې کړه له اشتراک څخه به تعالی، وروسته یې امر په احسان سره د مربي اصغر وکړی چي مور او پلار دي یعني في الظاهر او احسان د مور او پلار یې تر راتلونکو احسانو دمخه کړی لان احسان الوالدین اعظم الحقوق البشریة.

پوه سه: چي احسان د مور او پلار ه دوی خدمت دی، او اولاد به نه پورته کوي آواز پر مور او پلار الا لعذر الصمم بهما. او په خبرو کي به ځیږوالی و دوی ته نه کوي او انفاق به کوي پر دوی بقدر القدرة او که مور او پلار اولاد امر کړی په یو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مطلب سره د تحصیل ولد به کوشش کوي ولو کانا کافرین.

مسئله: که د یو مسلمان پلار مشرک و او زوی ته یې وویل چې ما په شا کړه تر بت خانې پورې چې زه بتانو ته عبادت کوم، نه دې په شا کوي ولې چې دا کومک دی پر شرک باندې، او که یې پلار بت خانې ته پخپله تللی و او بیا یې زوی ته وویل چې ما په شا کړه تر کوره پورې، نو پر زوی یې واجبه ده چې په شا کوي به یې:

پوښتنه: خدای ﷻ د ځپل عبادت سره نهي له اشتراک څخه وکړي او د مور او پلار په احسان کي یې نهي له شي څخه ونه کړي؟

ځواب: نهي دلته هم تقدیراً سته یعني "ولاتؤزوهما" یعنې تاسي مور او پلار ته ازار مه رسوئ.

پوښتنه: ټوله پښتانه په دعاء کي د مور او پلار، مور دمخه ذکر کوي کما یقولون خدایه ما وبخښې زما مور او پلار وبخښې ددې سر څه دی؟

ځواب: مور په وخت کي د حمل او په وخت کي د ولادت او وروسته تر ولادت په حال کي د رضاع او بعد الرضاع د بر کړاوونه د عیال وړي دي بخلاف الاب کما هو ظاهر له دې سببه په حدیث صحیح نبوي ﷺ کي راغلي دي چې یو سړی راغلی و نبي کریم ﷺ ته یې وویل "من ابر" زه د چا سره احسان وکړم؟ علیه الصلوة والسلام ورته وویل "امک" د مور سره احسان وکړه هغه سړي ورته وویل بیا د چا سره احسان وکړم علیه الصلوة والسلام ورته وویل "امک" بیا هغه سړي ورته وویل "ثم من" علیه الصلوة والسلام ورته وویل "امک" بیا هغه سړي ورته وویل "ثم من" علیه الصلوة والسلام ورته وویل "ثم اباک" بیا د پلار سره احسان کوه ثم الاقرب فالاقرب.

وَبِذِي الْقُرْبٰى

او احسان کوئ د درلودونکو څخه د قرابت ستاسي.

پوه سه: چې "قربٰی" مصدر دی په معنا د قرابت دی، او د "القربٰی" لفظ عام دی که له ذوی الفروض څخه وي او که عصبات وي او که ذوی الارحام وي.

فائده: که د چا د ټولو ذوی القربی سره احسان له وسه نه وي پوره، نو بیا به د کومو ذوی القربی سره احسان کوي؟ ځینې علماء وایي الاقرب فالاقرب سره دي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

احسان کوي لکن صحیح داده الاجوح فالاجوح سره دي احسان کوي. د سلمان بن عامر په حدیث کي راغلي دي چي رسول الله ﷺ وفرمایله "الصدقة علی المسکین صدقة ای المسکین الاجنبي وهي علی ذی الرحم صدقة وصلة رواه احمد والنسائي وغیرهما.

مسئله: له دي آیت څخه دا معلومه سوه چي نفقه د مور او پلار اود نورو قریبانو نفقه پر سړي واجبه ده لکن بشرط کونه غنیاً بدلیل قوله تعالی "ویسئلونک ماذا ینفقون قل العفو" یعني هغه څه دي نفقه کوي چي زائد وي تر حاجت د سړي وفي الحدیث قال رسول الله ﷺ "خیر الصدقة ماکان عن ظهر غنی" رواه البخاري عن ابي هریرة ﷺ یعني ښه صدقه هغه صدقه ده چي وروسته تر غنا د سړي وي.

مسئله: د مور او پلار نفقه چي محتاجه وي پر عیال فرض ده که والدین قادر پر کسب وي او که نه وي. او د نورو اقاربو د نفقې د وجوب په باره کي دا شرط دی چي دوی به قادر پر کسب او مزدوري نه وي، یعني یا صغیر قابل کسب نه وي او یا شل او یا گوډ وي یا ښځه وي او یا ضعیف البنیة ناجوړی وي او یا ډیر سین ډیری سال خورده وي او غیر ذالک.

وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ

او د یتیمانو سره دي احسان کوي، او د مسکینانو سره دي احسان کوي.

فائده: یتیم په انسانانو کي هغه دی چي پلار نه لري او په حیواناتو کي هغه دی چي مور نه لري او په جماداتو کي هغه دی چي مثل نه لري کما یقال درة یتیمة یعني لا مثل لها.

مسئله: یو احسان د یتیمانو او د مسکینانو سره واجب دی چي زکوة د خپلو مالو به دوی ته ورکوي، او یو مستحب دی چي زائد تر زکوة په هم احسان ور سره کوي. بخاري د سهل بن سعد ﷺ څخه روایت کړی دی چي علیه الصلوة والسلام وویل "انا وکافل الیتیم في الجنة کهاتین واشار بالسبابة والوسطی و فرج بینهما شیئاً" زه او متولي د یتیم یعني چي انفاق پر کوي په جنت کي لکه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دغه دوې ګوتې چې سبابه او د منځ ګوته ده او لږ فصل به ورکړي. او د ابي امامه ﷺ په روایت کې چې روایت یې بغوي کړی دی چې علیه الصلوة والسلام وویل که څوک لاس تهر کړي پر سر د یتیم او د الاس تهر بدل صرف لپاره د خدای ﷻ وه، نو دغه سړي ته به په مقابل کې د هر وېښته چې دده لاس پر تهر سي لس نیکۍ نوشته کېږي (الحدیث)

وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبٰى

او احسان کوئ د هغه همسایه سره چې صاحب د قرابت دیني او یا نسبي وي د سړي سره، او ځینې علماء وایي چې په جوار کې در نژدې وي،

وَالْجَارِ الْجُنُبِ

او د هغه همسایه سره احسان کوئ چې یا په جوار کې لېرې وي او یا په قرابت کې لېرې وي او یا په قرابت دیني کې یعنې کافر وي.

بوه سه: چې له جابر بن عبد الله ﷺ څخه روایت دی چې علیه الصلوة والسلام وویل چې بعض همسایه ګان درې حقه لري یو حق د قرابت نسبي. او بل حق د شراکت في الدین، او بل د قرب جوار، او بعض همسایه ګان دوه حقه لري، یو قرابت د نسب، او بل قرابت د دین، یعنې کور یې لېرې وي، او بعض همسایه ګان یو حق لري یعنې د جوار چې کور یې هم در څخه لېرې وي او په اسلام کې هم در شریک نه وي، لکه مشرک یا اهل کتاب همسایه رواه الحسن بن سفیان وبزار، په حدیث مبارک کې راغلي دي "والذي نفسي بیده" چې حق د همسایه نه پرځای کوي مګر هغه څوک چې خدای ﷻ پر ده رحم کړی وي او داسي کسان لږ دي، علیه الصلوة والسلام زیاته کړه چې تاسي پوهېږئ چې حق د همسایه څه دی، که دی مسکین و ته به یې غني کوې یعنې احسان به ورسره کوې، او که یې قرض در څخه طلب کړی قرض به ورکوې، او که یو خیر وده ته ورسېدی لکه مثلاً زوی یې پیدا سو او یا له حجه راغلی او یا یې سرای جوړ کړی الی غیر ذالک من وجوه الخیرات ته به مبارکي ورکوې، او که یو شر ور ورسېدی مثلاً

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

زوی یا لور یا ماینه الی غیر ذالک یې مړ سو ته به فاتحې ته ورځې او د زړه داد به ورکوې. او که ناجوړی سو ته به پونښتنې ته ورځې. او که مړ سو ته به جنازې ته ورځې انتهی الحدیث.

درویش وایي: چې په ننني زمانه کې همسایه د سړي دښمن وي، او هر نوع ازار چې یې په وسه پوره وي همسایه ته یې رسوي حتی د تهرېدلو په وخت کې سلام هم نه اداء کوي. درویش ته دا پخپل محل کې په تجربه ثابته ده، تر ټولو عجبه او د حیرانی وړ خبره خو داده چې زما په محل کې یو ملا چې زما شاګرد هم دی ورته کارونه کوي ..... ع چو کفر از کعبه بر خیزد کجا ماند مسلمانی.

او هم دغه ملا چې خان مدرس عالم هم بولي پر منبر د وعظ حقوق د همسایه بیانوي..... بیت

واعظان کین جلوه در محراب ومنبر میکنند
چون بخلوت میروند آن کاری دیگران میکنند

ع..... توبه فرمایان چرا خود توبه کمتر میکنند

بخاري له ابن عمر رضي الله عنه څخه وایت کړی دی چې علیه الصلوة والسلام وویل "مازال جبرئیل یوصیني بالجار حتی ظننت انه سیورثه.

وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ

او احسان کوه د هغه چاسره چې ملګری دي وي پر بغل.

پوه سه: چې ابن عباس، قتاده، مجاهد او عکرمه رضي الله عنهم وایي چې مراد له صاحب بالجنب څخه ملګری د سفر دی. او ابن جریج او ابن زید وایي چې صاحب بالجنب چې ستا سره په صحبت کې وي په امید او طمع د فائدې فیشمل التلمیذ ایضاً. او بعض تابعین وایي چې مراد ځیندې ماینه ده.

وَابْنِ السَّبِيلِ

او احسان کوه د لاري د زوی سره. ځینې علماء وایي چې مراد له "ابن السبیل" څخه مسافر دی او اکثره علماء وایي چې مراد ځیندې مطلق میلمه دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې که مراد مطلق مېلمه سي چې د سړي کور ته راسي، نو دې ورځې خو يې د مېلمستيا حق دی او تر دريو ورځې بالا صدقه ده او مېلمه ته نه ده په کار چې کور والا تنګ کړي، يعنې ورته ناست وي پښې يې غځولې وي، په صحيح حديث کې راغلي دي چې روايت يې بغوي رحمه الله کړی دی چې عليه الصلوة والسلام وويل "من كان يؤمن بالله واليوم الآخر فليحسن الى جاره ومن كان يؤمن بالله واليوم الآخر فليكرم ضيفه ومن كان يؤمن بالله واليوم الاخير فليقل خيراً او ليصمت" يعنې يا دي د خير خبرې کوي او يا دي پته خوله کښېنې يعنې عبث خبرې دي نه کوي.

پوه سه: چې عبث خبرې هغه دي چې نه د دنيا فائده پکښې وي لکه بيع او شراء وغيرهما او نه د آخرت فائده پکښې وي لکه وعظ، تبليغ، تعليم وغيرها، بخاري او مسلم د ابي شريح الكعبي رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چې رسول الله ﷺ وويل "من كان يؤمن بالله واليوم الآخر فليكرم ضيفه جائزة يوم وليلة والضيافة ثلاثة ايام فما بعده صدقه الى اخير الحديث"

پوه سه: چې د دې حديثو مبارکه وو څخه دي څوک دا نه فهموي که چا داسي ونه کړه لکه په حديث شريف کې چې راغلي دي، نو هغه کافر دی، بلکې د حديث مبارک معنی داده چې مؤمن کامل بايد دغه کارونه وکړي، ولاشک ان من لم يعمل بمقتضى الحديث المذكور فهو ليس بمؤمن كامل.

فائده: کمال د ايمان مقول بالتشکيک دی، لامنتهی له في عالم الانس حتى ينتهى الى ساحة النبوة. وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ

او د هغه چا سره احسان کوه چې ستا په ملک کې وي يعنې مريان او مينځيانې، بلکې هغه حيواناتو ته هم شامل دی چې سړی يې مالک وي لکه اوښ، خويی، خر وغيره.

پوه سه: چې په اوسنی زمانه کې خو مينځيانې او مريان د عالم اسلام په لاس کې نسته ولعل الله يحدث بعد ذالک امراً، يعنې چې په عالم اسلام کې دي بيا مريان او مينځيانې پيدا سي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې په یوه حدیث صحیح کې راغلي دي چې علیه الصلوة والسلام پر یوه کلي ورغلی او په هغه کلي کې یوه ډنګره اوښه ولاړه وه، او هغې اوښې د علیه الصلوة والسلام په پښو کې خپل غاړه کښېښول او د اوښانو ناري او بغاري یې ورته وکړې، علیه الصلوة والسلام د کلي خلګو ته وویل چې دا اوښه د چا ده، یو سړي ورته وویل زما ده، علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې دې اوښې ماته شکایت وکړی چې زما مالک پر ما درانه درانه بارونه وړي او علف یعني وانښه وغیره ماته مناسب الحال یعني زما د مړتیا په اندازه نه راکوي، نو د اوښې مالک ته یې وویل چې سپک بارونه پر وړه او کافي علف ورکوه، وعلى هذا فقس الحمار والبقر والبقرة وغيرها.

دروېش وایي: چې امام پاني پتي رحمه الله په باب کې د مریانو او مینځیانو په هر احادیث صحیحه رانقل کړي دي من شاء فليطالع ثمة اعرضنا عنها لحال الاختصار في تفسيري هذا.

إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ مَن كَانَ مُخْتَالًا فَخُورًا ﴿٣٦﴾

په تحقیق خدای ﷻ نه خوښوي چې فخر کوي پر نورو خلګو په سبب د دنیا او یا د جاه وجلال.

بوه سه: چې عدم الحب کنایه ده له بغض څخه د هغه چا چې خیالور وي یعني متکبر وي. همسایه ګانو او قریبانو ته له کبره التفات نه کوي.

پوه سه: چې انسان چې انسان وي، عاقل وي باید خپل سر او پای وسنجوي چې د فخر او کبر ځای پکښې سته او که نه، مثلاً دی دي فکر ووهي چې زه د دوو ځایو څخه د بولو پیدا سوی یم او په اخیر کې د خاورو کور ته ځم، او د قیامت په ورځ به خدای ﷻ د ذرې ذرې سوال راسره کوي، نو فخر او ناز او خیال او کبر ته کوم ځای پاتې وي، او تاریخ اسلامي دي په غور سره مطالعه کړي ودي ګوري چې متکبران د دنیا لکه فرعون، نمرود، شداد، ابو جهل او قارونان د دنیا څه سوه او چېرې دي؟ قال بعض العارفين رحمهم الله تعالى.

نقد هستی محو کن در لا اله تا به بینی دار ملک پادشاه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غیر حق هرزره که مقصود تست　　تیغ لابرکش که آن معبود تست
لاکه عرش و فرش بر میبرد　　از فنا سوی بقا ره میدهد
لا ترا از تور هائی میدهد　　با خدایت آشنائی میدهد
چون توخودرااز میان برداشتی　　قصر ایمان را دری افراشتی

له جابر بن عبدالله ﷺ څخه طبراني داسي روایت کړی دی چې علیه الصلوة والسلام وویل "اې د مسلمانانو ولې له خدایه وبیرېږئ، ولې چې بوی د جنت له زر کاله مسافت څخه پیدا کېږي یعنې چې د سړي او د جنت تر منځ د زرو کالو لار وي بیا هم خوشبوي د جنت پر ولاړېږي، او دغه خوشبویي نه سي پیدا کولای عاق یعنې ازاري د مور او پلار او یا ازاري د استاذ، او هغه څوک چې قطع د صله رحمي یې د قریبانو کړې وي، او نه یې سپین ږیری زنا کاره پیدا کولای سي، او نه یې هغه څوک پیدا کولای سي چې لنګ او یا پرتوګ پر مخکه پسي کشېږي یعنې کبسته تر بجلکو د خیال له لاري "انما الکبریاء لرب العلمین"

او مسلم له عیاض بن حمار الاشجعي څخه داسي روایت کړی دی چې رسول الله ﷺ وویل چې خدای ﷻ ماته وحي کړي دي چې تاسي تواضع کوئ چې یو سړی دي پر بل فخر نه کوي، یعنې هیڅ سړی پر هیڅ چا او نه دي هیڅ څوک پر هیڅ چا ظلم او بغاوت کوي،

دروښ وایي: چې په اوسني زمانه کې قسم قسم فخرونه په پښتنو کې روان دي (۱) سرمایه داره پر مسکین په مال فخر کوي (۲) ملا صائب پر عوامو فخر کوي (۳) او په اصطلاح د پښتنو څرک پر پنجپای فخر کوي (۴) او درنې قوم پر خلجي فخر کوي والی غیر ذالک من وجوه الفخر في الافاغنة مثلاً فلانی سړی جت دی او یا پارسیبان دی او یا استاکار دی، ولنعم ماقیل

په قیامت نسته داسي پوښتنه　　چې د چا زوی یې له کوم وطنه

الَّذِينَ يَبْخَلُونَ

پوه سه: چې "الذین" بدل کل دی د "من کان" او جمع د موصول ده په اعتبار د معنی د "من" ده، او روح البیان وایي چې دا موصول مبتداء ده خبر یې محذوف دی ای احقاء.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بکل ملامة. او مظهري رحمه الله دا احتمال هم راوړی دی چې "الذین" د خبر وي د مبتدا، محذوفی ای "هم الذین آه" او دا احتمال هم ستە چې موصول منصوب علی الذم، والمعنی اذم الذین آه. چې د نحو په کتابو کې داسې تعبیر کوي اعني الذین.

پوه سه: چې له بخل څخه یا مراد بخل متعارف دی یعني البخل بالمال فرضاً او واجباً لکه زکوة او نفقه د والدینو او یا نفقه د محتاجه اقرباوو یا مستحب وي له انفاق پر بېګانه ګانو من المحتاجین والیتامی والمساکین. او یا مراد دی بخل په تواضع سره د نبي نوع سره کما هو المناسب لحال المختال الفخور.

وَيَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ

او نور خلګ هم امر کوي په بخل سره، بغوي رحمه الله نقل کوي چې ابن عباس رضي الله عنهما وایي چې آیت په شان کې د حیي بن اخطب او رفاعه بن زید او د نورو ګنو شمېرو یهودانو نازل سوی دی چې دوی به د انصارو سره په وخت کې د ملاقات داسې ویل چې تاسې خپل مالونه مه صرفوئ پر مهاجرینو، مور ببر بډو چې تاسې به له فقر سره مخامخ سئ، او تاسې ته نه ده معلومه چې حال د علیه الصلوة والسلام به څرنګه سي، نو پر دې تقدیر مراد له بخل څخه بخل بالمال دی، او بعض مفسران وایي چې مراد له بخل څخه بخل بالعلم دی لکه د یهودانو ملایانو به بخل کاوه په اظهار کې د اوصافو د علیه الصلوة والسلام چې په تورات کې دوی ته بیان سوي وه.

وَيَكْتُمُونَ مَآ اٰتٰىهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ۭ وَاَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ

او دوی به پټاوه هغه شی چې خدای ﷻ دوی ته ورکړی و یعني من المال والغنی او العلم، او مور اراسته کړی دی کافرانو لره.

پوه سه: چې څای خو د ضمیر و یعني واعتدنا لهم. لکن اسم ظاهر یې په څای کې راوړی تنبیهاً علی کفرهم بهذا الکتمان او بالبخل او الامر بالبخل.

عَذَابًا مُّهِيْنًا ۝

عذاب د اهانت لکه چې دوی اهانت د نعمت د مال وکړی یعني چې په څای کې د انفاق في سبیل الله یې بخل مختار کړی او یا یې نعمت د علم په اهانت وکړی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې په ځای کې د اظهار یې کتمان مختار کړی. نو ځکه موږ دوی ته عذاب د اهانت ورکړی.

دروښ وایي: چې بخل له ډیمه صفاتو څخه د انسان دی چې له بخل څخه نور امراض مزمنه نفسانیه پیدا کیږي لکه حرص د دنیا الذي هو راس کل خطیئة بقول الصادق المصدوق ﷺ، والبغض والکراهة عن الفقراء السائلین وقطع صلة الارحام الی غیر ذالک، او له هم دې سببه سید البشر ﷺ فرمایي چې سخي سړی قریب دی وخدای ﷻ ته او نژدې دی وجنت ته، او نژدې دی وخلګو ته یعنې د خلګو ښه ځیندې راځي او لیرې دی له اور څخه. والبخیل بعید من الله، بخیل له خدایه لیرې دی، او لیرې دی له جنت څخه او لیرې دی له خلګو څخه یعنې د خلګو بد ځیندې راځي "قریب من النار" او هر آئینه جاهل سخي محبوب دی وخدای ﷻ ته تر عابد بخیل. رواه الترمذي عن ابي هریرة ﷺ، او ابو سعید الخدري ﷺ داسي حدیث مرفوع له علیه الصلوة والسلام څخه نقل کړی دی چې دوه خویه نه سره جمع کیږي په مؤمن کې "البخل وسوء الخلق" رواه الترمذي.

دروښ وایي: چې دا حدیث یا لپاره د زجر دی له دغو دوو خویو څخه او یا مراد له مؤمن څخه فرد کامل دی. والله اعلم بمراد رسوله ﷺ، او ترمذي له ابوبکر صدیق ﷺ داسي روایت کړی دی چې جنت ته نه سي داخلیدای "خب" یعنې چې په منځ کې د خلګو فساد کوي او نه بخیل. او نه مثان یعنې چې د چا سره احسان وکړي بیا یې هر ځای وړپیادوي.

پوه سه: چې مراد له دخول څخه د جنت یا دخول اولی دی، او یا حدیث مبني پر زجر دی والله اعلم بمراد رسوله ﷺ.

وَالَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ رِئَآءَ النَّاسِ

او هغه کسان چې نفقه کوي یعنې خلګو ته یې ورکوي خپل مالونه لپاره د لیدلو د خلګو یعنې تاچې خلګ ووایي چې فلانی سړی عجبه سخي دی.

پوه سه: چې "رئآء الناس" مفعول به دی د "ینفقون" او دا موصول عطف دی پر موصول اول یعنې "الذین یبخلون آه"

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: په منځ کې د معطوف او معطوف علیه خو مناسبت او مشارکت په یو شي کې شرط دی فما وجه المشارکة والمناسبة؟

ځواب: بخل په انفاق کې او انفاق "رئآء الناس" دواړه صفات مذمومه دي، او یا دا چې انفاق "رئآء الناس" داسې دی لکه عدم الانفاق یعنې البخل چې هیڅ نفع او فائده نسته پکښې، او یا دا وجه د مناسبت ده چې بخل یو طرف دی د انفاق شرعي، ای الانفاق لمرضات الله، وهذا الطرف هو التفریط وانفاق "رئآء الناس" چې صرف اسراف دی بل طرف دی د انفاق شرعي چې اسراف یې بولي فهما ای البخل والانفاق "رئآء الناس" مشارکان في انهما طرفا الانفاق الشرعي او دواړه سببه دي د جلب د عذاب الهي.

وَلَا يُؤْمِنُونَ بِاللّٰهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ

او ایمان نه لري پر خدای ﷻ او پر ورځې د آخرت حتی چې انفاق به یې سبب د نجات له عذابه د آخرت ګرځېدلای وای، روح البیان وایي چې مراد په دې آیت کې کفار د مکې دي چې مالونه یې مصرفول په عداوت کې د رسول کریم ﷺ او لپاره له منځه وړلو د اسلام او قرآن.

پوه سه: چې د ذم د انفاق "رئآء الناس" دا حدیث مبارک کافي دی چې روایت یې ابوهریره رضي الله عنه له علیه الصلوة والسلام څخه کړی دی او دغه حدیث مسلم راوړی دی چې رسول کریم ﷺ وویل چې خدای ﷻ وایي "انا اغني الشرکاء عن الشرک" زه د هر غني یم له شریکي عبادت څخه د مسلمانانو یعنې د ریا کارانو له عبادت څخه چې زما سره په عبادت کې بل څوک شریک کړي وي زه بنده دده له شرک سره پریږدم یعنې هغه شریک دي په ورځ د آخرت ثواب ورکړي زه یې نه ورکوم.

وَمَنْ يَّكُنِ الشَّيْطٰنُ لَهٗ قَرِيْنًا فَسَآءَ قَرِيْنًا ۝

او چا چې شیطان ملګری وي، نو بد دی دې سړي ته ملګری شیطان لانه یامره بالفحشاء والمنکر، لکه دلته چې ددوی داغه دوست شیطاه دوی امر کړه په بخل او په صورت کې د انفاق په ددوی امر کړه په ریاء سره.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې "ربط د من یکن آه" له ماقبل سره دادی چې انفاق "رئآء الناس" او عدم ایمان پر خدای ﷻ او پر ورځ د اخرت نبوونه د عدو الله والمؤمنین شیطان ده.

پوه سه: چې په دې آیت کې تحذیر دی د مؤمنانو د مصاحبت او خلت او دوستۍ څخه د شیطان.

فائده: علماء حضرات وایي چې د ریاء کار مثال داسې دی لکه یو سړی چې کودري پر نقشه د دراهمو او دنانیرو وتراشي او په یوه ګڼونه کې یې واچوي او په بازار کې یې په شاوي، نو خلګ دا ګمان کوي چې ددې سړي سره څومره دراهم او دنانیر ورسره دي، نو ددې سړي فائده صرف د خلګو خبرې دي او که دا کودري یو دوکان ته وروړي هیڅ شی نه په رانیول کېږي، داغه رنګه ریاء کار لره د خلګو خبرې فائده ده وبس، او په بازار کې د آخرت وده ته په ریائي عمل هیڅ شی په لاس نه ورځي، محقق وایي.

هر که مقصودش از کرم آنست — که بر آرد بمردم آوازه
باشد از مصر فضل کرم وجود وکرم — خانه او برون زدروازه

سعدي شیرازي قدس سره وایي.

عبادت باخلاص نیت نکوست — وگر نه چه آید زبی مغز پوست
چه زنار مغ در میانت چه دلق — که درپوشی از بهر پندار خلق

وَمَاذَا عَلَيْهِمْ لَوْ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَاَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقَهُمُ اللّٰهُ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ بِهِمْ عَلِيْمًا ۝

او څه تاوان او ضرر به وای پر دوی یعني الطوائف المذکوره که دوی ایمان راوړی وای پر خدای ﷻ او پر ورځ د قیامت او انفاق یې کولای له هغه مال چې موږ دوی ته په رزق کې ورکړی و یعني به الانفاق في سبیل الله وفي مرضاته او دی خدای ﷻ په دوی ښه خبر.

پوه سه: چې استفهام د ماذا علیهم انکاري دی یعني هیڅ تاوان او ضرر نه و.

پوه سه: چې "من" په "مما" کې تبعیضي دی یعني بعض قلیل له اموالو څخه د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

زکوة مثلاً چې په دراهمو کې زکوة ربع العشر دی چې ۲۰ هر ادنی شی دی، وهکذا في السوائم لکه پسونه، پوزې، غویان او اوښان چې په هغو کې هم زکوة لږ شی دی. او په اضافت کې رزق و ضمیر ته د خدای ﷻ نکته داده چې رزق او راس المال د زکوة هم ما درکړی دی. او په مال کې هم لږ شی درځه غوارم کمامر او هغه هم په دې شرط درځخه غوارم چې ستا تر حوائجو اصلیه وو لکه سلاح، د سپرتیا آس او په اوسنۍ زمانه کې د سپرتیا موټر او مفروشات البیت او د ستوګنې سرای الی غیر ذالک به زائد وي، او کال به هم پر تیر سوی وي او پوره به هم نه وي درباندې، او بیا به په زکوة کې یو په لسمه تر اوه سوه مثل پوري بلکې تر ماشاء الله پورې عوض او ثواب درکوم نو ته ولې منع د زکوة کوې.

دروښ وایي: چې د مانع الزکوة مثال داسې دی چې یو سړی و یوچا ته دوه سوه درهمه مثلاً مفت ورکړي او بیا هغه سړي ته یو فقیر ودرېږي، نو هغه سړی و معطي له المال ته ووایي چې د هغه دوه سوه درهمه څخه پنځه درهمه په قرض حسن ماته راکړه چې زه به یې عوض تر اووه سوه مثله پورې بیا درکړم چې زه اوس دغه پنځه درهمه ودې فقیر ته ورکوم، او هغه سړی چې معطي له دی منع وکړي نو دا مانع به ډېر احمق او کنجوس نه وي؟ هو! دی.

نو عاقل سړی باید اطراف د خپل مال چې زکوة پکښې کېږي وسنجوي، او په ښه خوشحالۍ سره دې زکوة ورکړي.

پوښتنه: اغنیاء به وایي چې دا مال خو ما پخپل تجارت دکانداري حاصل کړی مثلاً؟

ځواب: که تاسي وخدای ﷻ ته دا رزق منسوب نه بولئ. خو کافر کېږې. ولې چې خدای پاک وایي "ان الله هو الرزاق" او بل ځای وایي "یرزق من یشاء" الی غیر ذالک من الآیات الصریحة في ان الرزق من جانبه تعالی. او که نه صرف ځان کاسب بولي او ورکونکی د رزق خدای ﷻ بولي، پیا خو د منع د زکوة هیڅ وجه نسته.

دروښ وایي: چې استفهام په ماذا علیهم آه، کې لپاره د توبیخ او سرزنش دی پر منعه د انفاق في سبیل الله ولمرضات الله عزوجل، فتدبر فیما قلنا.

دروښ وایي: چې د بخل د مذمت په باره کې او د انفاق في سبیل الله د مدح

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حدیث د بخاري ج ۱ جز. ۱۳ چې په دې عنوان یې راوړی دی حدیث "ابرص واقرع" پیس او پک "واعمی" یعنې په ستر ګو روند. د هر مناسب الحال د وړاندې آیتو سره دی.

پوه سه: چې بخاري خپل په دوو سندو سره له ابي هریره ﷺ څخه داسې روایت کړی دی چې دی وایي ما له رسول الله ﷺ څخه واورېدل چې ویل یې (ان ثلاثة في بني اسرائیل ابرص واقرع واعمی) درې کسه له بني اسرائیلو څخه چې یو پیس و، بل پک و او بل روند و (بدء الله ان یبتلیهم) اراده وکړه خدای ﷻ چې په دوی امتحان وکړي.

پوه سه: چې خدای ﷻ خو عالم الغیب والشهادة دی او د ځان لپاره خو امتحان ته ضرورت نه لري، بلکې ددې لپاره چې په امتحان سره خلګو ته ددوی حال معلوم کړي تاچې خلګ عبرت ځیندي واخلي. سعدي شیرازي وایي

پند گیر از مصائب دیگران — تا نگیرند دیگران زتو پند
نه رود مرغ سوی دانه فراز — چو دیگر مرغ بیند اندر بند

(فبعث الیهم ملکاً فأتي الابرص) نو خدای ﷻ ودوی درو ته ور واستول یوه ملکه. نو هغه ملکه وار دواره وپیس ته ورغله (فقال اي شیئ احب الیک؟ قال لون حسن وجلد حسن قد قذرني الناس) نو ملکې پیس ته وویل چې تاته څه شی خوند درکوي؟ پیس ورته وویل چې ښه رنګ او ښه پوست. یعنې اوس خو زما مخ تپلي تپلي دی په سبب د پیس او د بدن پوست مي هم ټیکیالی دی په سبب د پیس، او هر مجلس ته چې ورسم خلګ بد راڅخه ورې یعنې وایي درغلی منحوس، نو مي مجلس ته نه پرېږدي (قال فمسحه فذهب عنه فاعطي لوناً حسناً وجلداً حسناً) علیه الصلوة والسلام وویل چې ملکې یې پر مخ او بدن باندې لاس ورتېر کړی، نو پیس ته د خدای ﷻ په قدرت ښه رنګ ورکړه سود مخ او پوست یعنې د پیس دا مرض کامل جوړ سو (واي المال احب الیک فقال الابل او البقر شک في ذالک) نو ملکې ورته وویل چې کوم مال دي خوښ دي؟ هغه ورته وویل چې اوښ یا غوا. بلکې په دې کې شک دی ابو اسحق راوي وایي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې پیس اوښه خوښه کړه که یې غوا لکن دا معلومه خبره ده چې یوه له پک او پیسه څخه اوښه خوښه کړې ده او بل غوا (فاعطي ناقة عشرا وقال يبارک لک فيها) نو ورکړه سوه وپیس ته یعنې د ملکې له خوا اوښه چې د لسو میاشتو بلاربه وه یعنې چې د لنګېدو وخت یې نژدې و کما هو قانون ولادة الناقة. او ملکې ورته وویل چې تاته به برکت درکړه سي په دغه اوښه کې یعنې نسل پر نسل به دېرې سي (قال فاتى الاقرع فقال اي شيئ احب اليک؟ قال شعر حسن ويذهب عني الاذاء قد قذرني الناس قال فمسحه فذهب واعطى شعراً حسناً) علیه الصلوة والسلام وایي چې بیا هغه ملکه ورغله پک ته او ملکې ورته وویل چې څه شی تاته ښه خوند درکوي؟ پک ورته وویل ښه د سر وېښتان او زما څخه چې دا پک والی ولاړ سي. ولي چې هر مجلس ته ورسم خلګ بد راڅخه وړي. یعنې بعض وایي ولاړ سه د سر دي بد بوی ځي. او بعض وایي ولاړ سه د موچانو پلاره مثلاً، نو ملکې یې پر سر لاس ورټېر کړی سر یې په ښوو وېښتانو پټ سو او د پک والي دانې وغیره یې جوړې سوې (فقال فاي المال احب اليک؟ قال البقر. فاعطي بقرة عشراء. فقال يبارک لک فيها) بیا ملکې وپک ته وویل چې کوم مال وتاته ښه محبوب دی؟ هغه ورته وویل غوا.

پوه سه: چې بقر اسم جنس دی نر او ښځې دواړو ته شامل دی فلا يرد مايتوهم، نو پک ته ورکړه سوه د ملکې له خوا غوا چې د لسو میاشتو بلاربه وه او ملکې ورته وویل چې برکت یې درکړی تاته په دغه غوا کې یعنې نسل پر نسل به ګورم خیندي جوړ سي (قال واتى الاعمى فقال اى شيئ احب اليک؟ قال يرد الله علي بصري فابصر به الناس فمسحه فرد الله عليه بصره) علیه الصلوة والسلام وایي چې بیا ملکه راغله وړانده ته ملکې ورته وویل چې څه شی تاته محبوب ترین دی؟ ړانده ورته وویل چې خدای ﷻ وماته رد کړي زما دید د سترګو او په هغه سره زه خلګ وویني یعني وغیرهم من الاشياء الغريبة الدالة على قدرة عظيمة للمعبود بالحق كما قال السعدي الشيرازي قدس سره.

برګ درختان سبز در نظر هوشیار هر ورقی دفتریست معرفت کردگار

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نو ملکي يې پر ستر ګو لاس ورتېر کړی، نو خدای ﷻ رد کړه و هغه راوند ه ته لیدل د ستر ګو (فقال فاي المال احب الیک؟ قال الغنم فاعطاه شاةً والداً) نو ملکي ورته وویل چې کوم مال دي ښه خوښ دی؟ راوند ورته وویل چې د پسو جنس، نو ملکي وده ته ورکړه مېږ چې پر لنګېدو وه (فانتج هذان وولد هذا فکان لهذا واد من الابل ولهذا واد من البقر ولهذا واد من الغنم) نو په لنګېدو سوې هغه دوې یعنې اوښه او غوا او لنګه سوه مېږ.

پوه سه: چې لنګېدو ته د اوښې او غوا انتاج وایي او لنګېدو ته د مېږې ولاد وایي، اخیر په مرور د زمانې پیس لره پوره شپله سوه د اوښانو، او پک لره بسته شپله سوه د غوا وو، او راونده لره بسته شپله سوه د پسو.

فائده: دروېش وایي چې که څه هم په دغه حدیث مبارک کې دانه دي راغلي چې دا دري کسه په یوه ځای کې وه او که په جلا جلا ځایو کې کې اوسېدل، لکن ظاهره داده چې په جلا جلا ځایو کې اقامت پذیره وه، تاچه پک د پیس له حاله کما سیأتي في وقت الامتحان عبرت وانه خلي فتامل في ذالک والله اعلم بمراد رسوله ﷺ في هذا الحدیث (ثم انه آتی الابرص في صورته وهیئته فقال رجل مسکین انقطعت بي الحبال فلا بلاغ بي الیوم الا بالله، ثم بک اسئلک بالذي اعطاک اللون الحسن والجلد الحسن والمال بعیراً اتبلغ به في سفري) ورونه هغه ملکه ورغله پیس ته په هغه صورت او هیئت کې چې پیس لیدلې وه یعنې چې پر ته یې لاس تېر کړی او جوړ سو او بیا یې اوښه ورکړه.

بوه سه: چې ورتګ په هغه صورت کې لپاره د اقامت د حجت د ملامت دی پر پیس باندې. نو ملکي ورته وویل چې زه یو مسکین سړی یم چې قطع سوی دی زما د سفر اسباب، نو زه نه رسېږم منزل مقصود ته مګر نه په خدای ﷻ سره او بیا په تا سره، او زه تاته سوال کوم په هغه چا چې تاته یې لون حسن او جلد حسن درکړی دی د یوه اوښ چې زه پر هغه ځان ورسوم مقصد ته په دې سفر کې.

پوښتنه: ملائکې خو معصومې دي له ګناه ځخه دا خبره د ملکي خو درواغ وه،

خواب: دروېش وایي چې دده سوال اسانه ځواب هغه دی چې فاضل سندي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورکړی دی بان له تعالی ان یبیح التکلم لبعض المصالح بما ظاهره کذب او هو کذب بالحقیقة ایضاً فحین ابیح ذالک فلا اشکال علی التکلم بذالک لانه ما اتی الا بالمباح له فلا اثم علیه ولا یقدح ذالک في عصمة الملائکة عن المعاصي لان هذا التکلم في حق هذا الملک لیس بمعصیة انتهی (فقال ان الحقوق کثیرة) نو پیس ورته وویل چې حقوق خو ډیر دي یعنې موږ په چا ورسیږو (فقال کاني اعرفک الم تکن ابرص یقذرک الناس فقیراً فاعطاک الله تعالی) ملکې ورته وویل لکه زه چې تا پېژنم ته پیس نه وې چې خلګو به بد درځخه وړل او مسکین هم وې خدای ﷻ تاته مال درکړی (قال لقد ورثت کابراً عن کابر) پیس چونکه اوس نه پیس و او نه مسکین بلکې پېدا ل و، نو د ملکې په خبره یې بد یوړه او وه یې ویل چې دا ډېر ښه رنګ، جمال او مال ماته له پلار او نیکه راپاته دی، یعنې نه مو په پلار او نیکه کې پیس و او نه فقیر و.

دروېش وایي: چې مسکین سړی چې ډېر مال پیدا کړي او یو ځوک دده د مسکنت حال ورپیاد کړي ډېر بد په وړي دلت علیه التجربة في الوقت الحاضر انفاً چناچه یو ځوک چې یو اندازه دنیا پیدا کړي که یې حج هم نه وي کړی خلګ یعنې طامعان یې حاجي صاحب بولي او که یې یو ځه دنیا پسې ډېره سوه او حج یې هم وکړی خلګ یعنې طامعان یې حاجي آغا بولي.

دروېش وایي: چې ما پخپلو سترګو ولیدل چې یو ملا صاحب د یو حرام خوره پېدا ل لاسونه ور مچ کړه او پېدا ل هم لاسونه د ملا صاحب وخولي ته ورپورته کړه. دا ټوله د طمعي له سببه (ملکې ورته وویل که ته درواغ وایي خدای ﷻ دي تا بیرته هغه سي وګرځوي لکه ته چې پخوا وې.

دروېش وایي: چې د پیس په اوښانو مرض ګډ سو کرار کرار مړه کېدل په مرور د لږ زماني اوښان ټوله مړه سوه او جاه وجلال د پیس خان بالکلیة ختم سو او آثار د پیس والي بیرته پر ښکاره سوه او بیرته لکه پخوا هم فقیر سو او هم پیس سو (ثم آتی الاقرع في هیئته وصورته فقال مثل ماقال لهذا ورد علیه مثل ماورد علیه هذا) بیا ملکه ورغله وپک ته پخپل پخوانې هیئت او صورت کې، نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ملکي وپک ته هغه خبري وکړي لکه پیس ته چې یې کړي وي، او پک هم هغه سي رد د ملکي وکړی لکه پیس چې کړی و (فقال له ان کنت کاذباً فصیرک الله الی ماکنت علیه) نو ملکي پک ته وویل که په ته درواغ وایي خدای ﷻ دي بیرته هغه سي وګرځوه لکه مخ کي چې وې،

دروښ وایي: چې د پک حال د پیس پر حال چې مو ذکر کړی قیاس کړه.

(وآتی الاعمی في صورته فقال رجل مسکین وابن السبیل وتقطعت بي الحبال في سفري فلا بلاغ الیوم الا بالله ثم بک اسئلک بالذي رد علیک بصرک شاةً اتبلغ بها في سفري)

دروښ وایي: چې ددې عربي عبارت ترجمه هم هغه سي دده لکه د مخ د عبارت عربي په بیان کي چې د پیس او د پک د حال وه (فقال قد کنت اعمی فرد الله بصري وفقیراً فاغناني الله فخذ ماشئت فوالله لا احمدک للشیئ اخذته لله فقال امسک مالک فانما ابتلیتم فقد رضي الله عنک وسخط علی صاحبیک) نو راونده پخپله ورته وویل چې زه دمخه روند وم، نو زه خدای ﷻ په سترګو بینا کړم او زه فقیر وم خدای ﷻ غني کړم، نو واخله هرڅو پسونه چې غواړې بیا یې زه، قسم په خدای دی زه ستا حمد نه وایم پر ترک د شي چې ته حاجت ورته لرې "فلفظ الترک محذوف" والمعنی زه نه راضي کیږم له تا څخه چې ته هغه پسونه پرېږدې چې ته حاجت ورته لرې، دا ټوله د خدای ﷻ د رضی لپاره بوزه ملکي ورته وویل خپل مال دي خوندي کړه زه هیڅ پسه نه غواړم، دا صرف ستاسي یعني پیس، پک او راونده خدای ﷻ امتحان وکړی له تا څخه راضي سو او پر هغه نورو دوو یعني پیس او پک باندي په غضب سو.

دروښ وایي: چې وپای ته ورسېدی هغه طویل حدیث د بخاري مع الترجمة من هذا العبد العاصي والله الموفق.

دروښ وایي: چې د حدیث فوق الذکر سره دا حدیث د بخاري چې په عنوان د حدیث الغار یې راوړی دی ډېر مناسب دی،

پوه سه: چې بخاري پخپل متصل سند سره د عبدالله بن عمر ﷺ څخه داسي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رایت کړی دی چې رسول الله ﷺ وویل (بینما ثلثة نفر ممن کان قبلکم یمشون اذ اصابهم مطر فآوو الی غار فانطبق علیهم) په دې منځ کې دریې نفره له هغو کسانو څخه چې تر تاسې دمخه تېر سوي وه یعنې من بني اسرائیل کما قال الطبراني، نو پر دوی شروع سو باران یعنې تېز باران، نو دوی پناه یوړه د غره یوه غاري ته یعنې په غاري ننوتل چې باران تېر سي برته به را ووځو، نو د غاري خوله پر بنده سوه،

دروېش وایي: چې په دې ځای کې خو بخاري دغونده خبره کړې ده یعنې فانطبق آه لکن په بل ځای کې د بخاري او د اصحاب السنن په روایاتو کې سبب د انطباق د فم الغار داسې بیان کړی دی چې باران یوه غټه ډبره را ګهل کړه چې د غاري په خوله کې چسپه ولګېدل او دې درو کسانو چې هرڅومره کوشش وکړی ډبره یې نه سوای لهړي کولای (فقال بعضهم لبعض انه والله لاینجیکم الا الصدق فلیدع کل رجل منکم بما یعلم انه صدق فیه) نو دې دریې کسانو یوه وېل ته وویل چې په تحقیق تاسې ته نجات نه سي درکولای مګر نه رښتیا ویل، نو هر یو له تاسې دي وخدای ﷻ ته دعاء وکړي په هغه عمل سره چې دوی پوهېږي چې دا عمل ما رښتیا کړی دی یعنې خالصاً لله (فقال واحد منهم اللهم ان کنت تعلم انه کان اجیر عمل لي علی فرق من ارز فذهب وترکه) نو یوه له دریې کسانو څخه وویل اللهم که چېرې ته خبر یې چې ما یو مزدور درولی و په مزدوری د یوه فرق چې دریې کاسې کېږي د شالیو د ورجو یعنې چې ورجي یې نه وي ځیندي جلا سوي، نو هغه مزدور ولاړی او مزدوري یې نه یوړه،

پوښتنه: د مسلمان خو ایمان دی چې خدای ﷻ په هر شي خبر دی فما معنی الشک في قوله "ان کنت تعلم آه"؟

ځواب: دا شک په علم کې د خدای ﷻ نه دی بلکې شک راجع وقائل ته دی یعنې دی شکي دی چې دا زما عمل به خالصاً لله وي او که نه او مقبول عندالله به وي او که نه،

دروېش وایي: چې دغه سوال او جواب په راتلونکو چې وروسته به په صیغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کې د شک راسي هم جاري دی (واني عمدت الی ذالک الفرق فزرعته فصار من امره اني اشتریت منه بقراً وانه آتاني یطلب اجره فقلت اعمد الی تلک البقر فسقها فقال لي انما کان لي عندک فرق من ارز فقلت له اعمد الی تلک البقر فانها من ذالک الفرق فساقها فان کنت تعلم اني فعلت ذالک من خشیتک فضرج عنا فانساخت عنهم الصخرة) او ما قصد وهغه شالیو ته وکړی، نو مي وکړلې یعنې پخپله مځکه کې، نو وګرځېدلې له حال څخه د فرق یعنې ورځې یې ډېرې وکړې، نو په هغو ورځو مي غویې رانیوی.

پوه سه: چې بقر اسم جنس دی نر او ښځې دواړو ته شامل دی، لکن وروسته له ضمیر مؤنث څخه دا معلومېږي چې غوا مراد وه، او شان دا و چې هغه اجیر راغلی خپله مزدوري یې غوښتل، ما ورته وویل چې هغه غوا ورسه بوزه، هغه مزدور ماته وویل چې زما خو ستا سره یو فرق شالی وې او ته وایي غوا بوزه، ما ورته وویل چې غوا بوزه ولې چې دا غوا ستا په فرق رانیول سوې ده، نو هغه اجیر هغه رهي کړه، نو که خدایه ته خبر یې چې ما دا کار وکړی ستا له یېرې نو موږ ته فرجه راکړې، نو دېرې لوی څنګ وواهه.

دروښ وایي: چې ځینې ملایان چې د "فانساخت" ترجمه داسي کوي چې ډبره ګېل سوه دا ترجمه غلطه ده، له دوو سببو، یو دا چې په ځینو روایتو کې داسي راغلي دي "حتی رءو السماء" یعنې صرف دونده څنګ یې وواهه چې دوی اسمان ولیدی یعنې تر هغې فرجې وتلامې نه سوای، او بل دا چې که ډبره ګېل سوې وای نو د هغو نورو دوو کسو وزاریو ته څه ضرورت پاته و (فقال الآخر اللهم ان کنت تعلم انه کان لي ابوان شیخان کبیران واني کنت آتیهما کل لیلة بلبن غنم لي فابطأت عنهما لیلة فجئت وقد رقدا واهلي وعیالي یتضاغون من الجوع وکنت لا اسقیهم حتی یشربا ابوای فکرهت ان او قظهما وکرهت ان ادعهما فیستکنا لشربتهما فلم ازل انتظر حتی طلع الفجر فان کنت تعلم اني فعلت ذالک من خشیتک ففرج عنا الصخرة فانساخت عنهم الصخرة حتی نظروا الی السماء) او هغه بل سړي وویل اللهم که چېرې ته علم لرې چې ما لره مور او پلار وه،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي تثنیه د ابوان بناء ده پر تغلیب د اب پر مور باندې او دواړه شېخان کلان ساله وه. او زه به وم هره شپه به مي د ځپلو مېږو شیدې راوړې د مور او پلار لپاره یعني دمخه تر خپل عیال.

درویش وایي: چي ترجمه د "لبن" چي ما په شیدو سره وکړه بناء پر اصطلاح قدیم د عربو چي هغو لبن شیدو ته وایه، ورنه په اوسنی اصطلاح کي د عربو شیدو ته حلیب وایي او لبن شلومبو ته وایي کمامر منا، نو زه یوه شپه وځنډېدم له مور او پلار څخه یعني ناوخته راغلم، نو زه چي راغلم دوی بیده سوي وه او زما اهل وعیال بوغاري وهلې له لوږې، او زما عادت و چي تر هغو مي عیال ته شیدې نه ورکولای تر څو مي مور او پلار نه وای ځیښلې او دا مي هم مناسب ونه ګڼل چي مور او پلار زه راویښ کړم د شیدو د ځیښلو لپاره او دا مي مکروه وبلل چي دوی پرېږدم، نو دوی به ضعیفه سي لشربتها بحذف المضاف ای لعدم شربتهما.

درویش وایي: چي عیال خو اخیر بیده سوه، نو همېشه او ټوله شپه زه مور او پلار ته منتظروم چي اوس به راویښ سي او اوس به راویښ سي حتی چي سپېدی راوچاودې دوی راویښ سوه یعني ما شیدې ورکړې، نو که ته خبر یې اې خدایه چي ما دغه خدمت د مور او پلار سته له بهري کړی دی. نو ډېره ایسته کړه، نو ډېري بیا لږ ځان ایله کړی حتی چي دوی اسمان ولیدی لکن وتلای نه سوه (فقال الآخر اللهم ان کنت تعلم انه کانت ابنة عم من احب الناس الي واني راودتها عن نفسها فابت الا ان اتیها بمائة دینار فطلتها حتی قدرت فاتیتها فدفعتها الیها فامکنتني من نفسها فلما قعدت بین رجلیها قالت اتق الله ولا تفض الخاتم الا بحقه فقمت وترکت المائة الدینار فان کنت تعلم اني قد فعلت ذالک من خشیتک ففرج عنا ففرج الله عنهم فخرجوا) نو بیا هغه بل یعني اخیري سړي له بنډ یانو څخه د غاري داسي وویل چي اې الله که ته علم لرې چي شان او حال دا و چي ما لره یوه د اکا لور وه چي ما ته تر ټولو انسانانو یعني تر ښځو محبوبه وه، نو له دې څخه ما طلب وکړی ددې د نفس چي مراد ځینديي زنی ده، نو دې منع له زنی څخه وکړه: بېله دې چي زه به دې ته سل طلاوي ورکوم، نو ما د سلو طلاوو په برابرولو پسې کوشش شروع کړی حتی چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هغه سل طلاوي مي برابرې کړې، نو مي راوړي او د اکار لور ته مي ورکړې، نو دې هم ماته پر خپل ځان باندې قدرت راکړی، یعنې پرتوګ یې وکښې، نو زه یې د دوو پښو تر منځ کښېنستم یعنې ځان مي وجماعو ته اراسته کړی، دې راته وویل له خدایه څخه وببرېږه او زما د بکارت مهر مه راماتوه مګر نه په حق سره چې نکاح ده، نو ماته چې یې دا وویل زه ځیندې ولاړ سوم یعنې بېله جماعو او هغه سل دیناره مي هم ورېرېښول، نو که اې خدایه ته خبر یې چې دا کار ما ستا له ببرې وکړی، نو ډبره ایسته کړه د غاري له خولې څخه، نو ډبره یکلخته ګېل سوه، نو دوی درې سره په سلامت او عافیت سره راووتل.

فوائد حدیث الغار المذکور: (۱) چې څوک د چا مزدوري وکړي باید اجرت بلا مهلت ورکړي او که مزدور ولاړی او ورک سو، نو هر وخت چې راغلی که ګټه دده مزدوری کړې وه د ګټې سره یې ورکوي (۲) خدمت د مور او پلار خصوصاً چې ضعیفه وي باید تر حده ډېر وکړي (۳) چې پر جماع قادر سي او هیڅ مانع هم نه وي باید د خدای ﷻ له ببرې یې پرېږدي.

إِنَّ اللَّهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ

خدای ﷻ ظلم نه کوي پر بندګانو باندې په قدر د یوې ذرې، نو بالا تر یوې ذرې خو په طریق اولی ظلم نه کوي یعنې چې د یو بنده حسنات ور لږ کړي او یا ګناهونه ناکرده ور زیات کړي الی غیر ذالک.

پوه سه: چې مثقال مفعال دی له ثقل څخه یعنې په قدر د ثقل د یوې ذرې، بعض اهل لغت وایي چې ذره هغه ډېر کوچنۍ مېږۍ ته وایي چې له ډېر کوچنیوالي څخه تقریباً په ستر ګو نه معلومېږي. او بعض اهل لغت وایي چې ذره هغه کوچنۍ کوچنۍ اجزاء دي چې په وخت کې د برابروالي د لمر پر یو سوري لیدل کېږي، له دې آیت څخه دا وفهمېدل چې عذاب ابدي د کفارو په دوزخ کې ظلم نه دی.

پوښتنه: د کافر عمر په دنیا کې یا سل کاله مثلاً یا پنځه سوه کاله یا زر کاله یا زیات تر هغه یا کم تر هغه کما في کتب التواریخ والتفاسیر، نو ابدي دوزخ چې نهایت نه لري ظلم به نه وي او څرنګه؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: ژوند دوه قسمه دی، یو ژوند د دنیا دی هر څو کاله چې وي اخیر فاني دی، او یو ژوند د آخرت دی چې هغه عمر متناهي دی، نو کافر چې خپل ټوله عمر د دنیا په کفر کې تېر کړی و، نو ټوله عمر د آخرت به په دوزخ کې تېروي لان العمرین یقاس احدهما بالآخر فلا ظلم في تابیدهم في النار، وهذا کالمؤمن چې هر عمر یې په دنیا کې تېر کړی وي په توحید او ایمان کې، نو په ورځ د آخرت به یې ابدي ژوند په جنت کې وي لان العمرین یقاس احدهما بالآخر فتذکر فان هذا سانح عزیز.

معذرت: دروېش وایي چې مظهري رحمه الله ددې آیت په تفسیر کې بعض صحیحه احادیث په روایت د بغوي او بخاري راوړي دي لکن چونکه په هغو حدیثو کې متشابهات عبارات موجود دي التي لا یعلم تاویله الا الله بالوقف اللازم کما هو المذهب الحنیفي، نو هغه احادیث مې پخپل تفسیر کې درج نه کړه له دې کبله چې ظاهر د هغو احادیثو پر جسمیت د خدای ﷻ دلالت کوي کما هو مذهب المجسمة، وهذا خلاف مذهب اهل السنة والجماعة، نو زما دغه تفسیر چونکه د بعضې کم علمه امامانو او طالبانو او عوام د پښتنو لپاره دی، نو زه وېرېدم که دغه احادیث زه ذکر کړم مطالعه کونکي په بلا د جسمیت د خدای پاک نسي اخته او خدای ﷻ ته جسم ثابت نه کړي.

سوال: احادیث مذکوره خو ذکر کړه په اخیر کې ووایه چې فلانی او فلانی عبارت له متشابهاتو څخه دی؟

ځواب: د متشابهاتو په معنی به زه خپل مطالعه کونکي چې ما ذکر کړه څرنګه پوه کړم، بلکې دروېش وایي چې کاشکي مظهري هم وتشابه ته د بعض عباراتو اشاره کولای، ولي چې بعض امامان تفسیر مظهري په سبب د اختصار او شهرت مطالعه کوي او عوامو ته وعظ پکښې کوي او عوام چې دغه ظاهر الفاظ د حدیثو واوري د جسمیت په بلا به اخته سي وهذا عذري الیکم والله حفیظ علیکم.

وَإِنْ تَكُ حَسَنَةً يُضَٰعِفْهَا

که چېرې وي مثقال د ذرې نیکی خدای پاک هغه مضاعف وي،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې ضمیر مؤنث د "تک" راجع دی و "مثقال" ته او تانیث یې په اعتبار د خبر دی چې "حسنة" او یا دا چې مثقال و "ذرة" ته مضاف دی. نو تانیث یې په اعتبار د مضاف الیه د مرجع دی لاتحادهما في المعنی هذا ماقاله المفسرون.

دروښ وایي: چې که ضمیر و "ذرة" ته راجع سي فلا اعتبار الی توجیه التانیث.

فائده: له "حسنة" څخه په اعتبار د تنکیر یوه حسنه مراد ده، او له تضعیف څخه مراد تضعیف الی اضعاف مضاعفة کثیرة باعتبار العرف وفي الحدیث الذي رواه ابن جریر وابن ابي شیبة عن ابي هریرة ﷺ، دی وایي ما له علیه الصلوة والسلام څخه واورېدل "یضاعف الحسنة الفي الف حسنة"

فائده: اصل د "تک" تکون ان شرطیه جازمه چې پر داخل ده نون حرکت حذف سو التقاء د ساکنینو په منځ کې د واو او نون راغله او چونکه حرف علت حذف کړه سو "تکن" پاته سو بیا د تخفیف لپاره په سبب د کثرت استعمال نون هم حذف کړی "تک" پاته سو، بغوي رحمه الله په خپل سند له انس ﷺ څخه روایت کړی دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل "ان الله لایظلم المؤمن حسنة یثاب علیها الرزق في الدنیا ویجزي في الآخرة" واما الکافر فیطعم في الدنیا حتی اذا افضی الی الآخرة لم یکن له حسنة یعطی بها خیراً رواه احمد ومسلم" ترجمه الحدیث په تحقیق خدای ﷻ ظلم نه کوي د یوې "حسنة" یعنې که څه لږ وي یعنې چې ثواب دي ورنه کړي بلکې خدای ﷻ وده ته ثواب په مقابل کې د هغه رزق په دنیا کې ورکوي او خدای ﷻ جزاء ورکوي د هغې حسنه په اخرت کې، او هرچه کافر دی فیطعم في الدنیا خدای ﷻ رزق ورکوي په دې دنیا حتی چې کافر آخرت ته ورسي نه وي دلره حسنه حتی چې خدای ﷻ ورکړي وده ته خیر. له عبدالله بن عمرو بن العاص ﷺ څخه روایت دی، دی وایي چې علیه الصلوة والسلام وفرمایل چې یو سړی به ومیدان ته د آخرت حاضر کړه سي چې نهه نیوي (۹۹) کاغذات د کرام الکاتبین له خوا به په ده پسې لیکل سوي وي او هغه سړی به زما له امت څخه وي. هر کاغذ به یې په اندازه د سترګو د دید وي، بیا دا کاغذات یعنې دده د سیئاتو به پرده باندې ولوستل سي او ده ته به وویل سي چې ددغو کاغذاتو له یو شي څخه انکار لرې آیا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پر تاباندي ظلم زما کاتبانو د عملو د بندګانو سوی دی؟ هغه سړی به ووایي لا یارب، نو خدای پاک به ورته ووایي چې ته کوم عذر لرې یا نېکي سړی حیران پاته سي، اخیر ووایي لا یارب، خدای پاک ورته ووایي چې دغسي نه ده لکه ته چې وایي چې زه حسنه نه لرم بلکې ته یوه حسنه لرې، او نن ورځ ظلم نسته، وروسته یو کوچنی کاغذ په لاس ورکړي چې په هغه کې صرف دا نوشته وي ﴿اشهد ان لا اله الا الله وان محمدا عبده ورسوله﴾ بیا خدای ﷻ ورته ووایي چې ورسه په ترازو کې خپل د بدو او د ښو عملو نامه سره وتله هغه بنده ورته ووایي چې څه وزن به وي ددې ښځي کوچنې کاغذ په مقابل کې د هغو نورو او ږدو کاغذانو، مطلب یې دا وي چې تول ته حاجت نسته، خدای پاک ورته ووایي "انک لاتظلم" یعنې خواه مخواه به یې تلې، نو دی مجبوراً ورسي او کوچنی کاغذ په یوه پله کې کښېږدي او لوی لوی کاغذان په بله تله کې کښېږدي هغه د لویو کاغذو پله په هوا اګرځي او د کوچني کاغذ پله پر مځکه پرته وي، ولي چې د کلمې شریفې سره هیڅ شی نه سي برابر کېدای، رواه ابن ماجه وابن حبان والحاکم.

دروښ وایي: چې په یو بل حدیث مبارک کې راغلي دي چې که اوه آسمانونه او مځکې په یوه پله کې کښېښوول سي او کلمه مبارکه په بله پله کې کښېښوول سي، نو بیا به هم د کلمې مبارک پله درنه وي.

پوښتنه: کلمات د شهادت خو د هر مسلمان سره خوندي دي، او سره ددې چې په حدیث مبارک کې داسي راغلي دي "ان رجلاً من امتي الی اخیر الحدیث" نو د یوه رجل د تخصیص څه وجه ده؟

ځواب: دا یو سړی چې سره د ډېرو سجلاتو او کاغذاتو د سیئاتو فقط یو کوچنی کاغذ د "اشهد ان لا اله الا الله وان محمداً عبده ورسوله" ورسره وي او هغه کوچنی کاغذ پر هغه لوی لوی سجلاتو او کاغذاتو غالب راسي او د هغه سړي د بخښني او دخول د جنت بلا عذاب وګرځي دا هغه سړی دی چې خدای ﷻ یې په خپل رحمت سره وبخښي، او پر خدای ﷻ ځای د اعتراض نسته یفعل مایشاء ویحکم مایرید لایسئل وهم یسئلون.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَيُؤْتِ مِنْ لَّدُنْهُ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿٤٠﴾

او ورکوي خدای ﷻ د صاحب ته د هغې حسنې له خپله اړخه بېله هغه ثوابه چې خدای ﷻ وعده کړې ده پر عمل حسن باندې وذالک تفضل من الله العزیز الرحیم.

دروښ وايي: چې له ابو هریره ﷺ څخه روایت دی چې خدای پاک ودې اجر ته عظیم وایه، نو د هغه اجر د عظمت مقدار وچاته نه معلومېږي.

دروښ وايي: چې بغوي رحمه الله په خپل سند سره له عبدالله بن مسعود ﷺ یو طویل حدیث روایت کړی دی چې د هغه حدیث په اخیرنۍ حصه کې داسې راغلي دي چې یو بنده به په ورځ د قیامت ومیدان ته حاضر کړه سي او یوه ملکه په نعره وکړي پر رؤس د اولین او اخرین چې دا فلانی دی که ده چا پر ده حق باندې وي رادې سي خپل حق دي ځینې واخلي. نو حقداران چې حاضر سي، نو بنده ته وویل سي چې ورکړه تولو حقدارانو ته خپل حقوق. نو هغه بنده به ووایي من این یارب وقد ذهبت الدنیا. نو هغه سړی ووایي چې د کومې خوا یې ورکړم دنیا خو تهره سوه یعنې زما مال او شتمني خو په دنیا کې پاته سوه. نو خدای ﷻ ملکو ته ووایي چې دده په اعمال حسنه وو کې وګورئ او له هغو حسنه وو څخه خلګو ته ددوی حقوق ورکړئ، نو چې حقوق د تولو خلګو دده له اعمال حسنه وو څخه اداء سوه او یو مثقال ذرة حسنة پاته سوه، نو ملکې وخدای ﷻ ته ووایي چې حقوق خو توله ختم سوه او ددې سړي مثقال ذرة حسنه پاته سوه، نو خدای پاک ملکو ته ووایي چې هغه ذرة حسنه یې ور مضاعف کړئ "وادخلوه بفضل رحمتي الجنة" ومصداق ذالک في کتاب الله ان الله لایظلم مثقال ذرة وان تک حسنة یضاعفه آه وان عبداً شقیاً لم یبق له عمل صالح یعنې بېله ایمان قلبي وان کان مثقال ذرة وبقي حقوق الناس. نو خدای پاک امر وکړي وملکو ته چې اعمالا سیئه د پوروړو را اخلئ او دده وسیئاتو ته یې ورضموئ چې کله هغه کار هم وپای ته ورسېږي ملکو ته ووایي چې اوس یې نو و اور ته وړیږي وهئ، رواه البغوي وابن المبارک وابن ابی حاتم. وفي هذا المقام سؤال دقیق وله جواب انیق فتامل فیهما بفکر عمیق.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې په حدیث صحیح کې راغلي دي چې خدای ﷻ په هغه وخت کې وملکو ته ووایي چې جنتیان وجنت ته ورسي چې ورسئ خوراکي شیان راوړئ ودغو جنتیانو ته، نو ملکي قسم قسم مطعومات ودوی ته راوړئ چې د هر یوه خوند له بله څخه جلا وي، وروسته تر اکل او شرب خدای پاک ودوی ته ووایي چې زه ستاسي رب یم ما خپله وعده د تاسي سره پر ځای کړه، نو زما څخه سوال کوئ چې در پر ځای کوم یې دوی وایي چې "ربنا نسئلک رضوانک" دوه واره یا درې واره خدای پاک ورته ووایي "قد رضیت عنکم" اما زما سره تر دغو ټولو نعمتو زائد نعمتونه ستاسه کما ورد ولدي المزید، جنتیان حیران پاتې سي چې تر دې ټولو نعمتو به زائد نعمت څخه شی وي، نو خدای پاک حجاب د کبریا له ځان څخه لهرې کړي بلا کیف، نو دوی چې د خدای ﷻ دیدار بلا کیف وبلاجهت تر یوې اندازې وکړي باره پر سجده وخدای ته پرېږدي تر یو وخته پورې پر سجده باندې پراته وي، خدای پاک ورته ووایي چې سرونه پورته کړئ دا ځای یعنې جنت د سجدې ځای نه دی یعنې د عبادت ځای دنیا وه، نو دوی هېر کړي د جنت ټوله نعمتونه او دیدار د خدای ﷻ ودوی ته محبوب وي تر هر نعمت.

دروښ وايي: چې دا خو یو دیدار عمومي و د جنتیانو لپاره وروسته بیا دیدار خصوصي ستاسه په حسب او مقدار د قرب الی الله للانبیاء علیهم السلام بحسب تفاوتهم في الدرجات ولاولیاء الله وصلحاء الامة المرحومة مع التفاوت في تعدد الروية والعلم عند الله.

فائده: معتزله له رؤیة څخه د خدای ﷻ منکر دي او په عقلي دلائلو سره دلیل وایي، ولهذا قال الطوسي في التجرید ورؤیة الله تعالی کما یزعمها اهل السنة والجماعة باطل لانه لابد انیکون المرئي في مکان لایکون في غایة القرب ولا في غایة البعد ویکون المرئي في جهة من الرائي ای جهة المواجهة من الرائي وکل ذالک محال في حقه تعالی.

دروښ وايي: چې دلائل له فاسد عقل څخه ددوی دي چې آخرت پر امور د دنیا قیاسوي او دا قیاس فاسد دی، نور نو لمزید تفصیل د مسئلې د رؤیت الهي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په شرح عقائد او شرح مقاصد کي للعلامة التفتازاني رحمه الله او په مواقف للقاضي عضد الملة والدين وشرحه للسيد الجرجاني رحمه الله او په نورو کتابو کي مطالعه کړئ يعني د عقائدو د اهل السنة والجماعة.

فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَىٰ هَٰؤُلَاءِ شَهِيدًا ﴿٤١﴾

نو څرنګه به وي حال ددغو کافرانو چي نه يې حقوق د خدای ﷻ پر ځای کړي وي او نه يې حقوق د بندګانو، يعني حال ددوی په ورځ کي د قيامت.

پوه سه: چي استفهام په "کيف" کي لپاره د تهويل دی يعني ډېر بد حال به وي ددوی چي موږ راتګ وکړو له هر امت څخه په يو شاهد چي نبي د هغه امت دی چي شاهدي به اداء کوي پر خپل امت بما عملوا من خير او شر وتصديق من صدقه وتكذيب من كذبه، او راتګ وکړو په تا سره اې محمد ﷺ پر خپل امت که عليه الصلوة والسلام ليدل وکړي ته شاهد يې.

فائده: کلمه د "فا" په "کيف" کي تفريع ده پر مفهوم د کلام سابق يعني اذا علمت ان الله لا يظلم مثقال ذرة ويأخذ من الظالم حق المظلوم فكيف آه"

پوه سه: چي مراد له امت څخه د عليه الصلوة والسلام امت د دعوت دی، ولي چي په حديث شريف کي چي ابن المبارک رحمه الله له سعيد بن المسيب رضي الله عنه څخه روايت کړی دی داسې راغلي دي چې "ما من يوم الا وتعرض على النبي ﷺ امته غدوة وعشية فيعرفهم بسيماهم واعمالهم فلذالک يشهد عليهم" او روايت کړی دی بخاري چي ابن مسعود رضي الله عنه وويل چي ماته عليه الصلوة والسلام وويل چي ته يو څه قرآن مجيد ماته ووايه، ما ورته وويل "اقرء عليک يا رسول الله وعليک انزل، قال نعم" نو ابن مسعود رضي الله عنه وايي چي ما سورة النساء ورته شروع کړی حتى چي دې آيت ته ورسېدم "فكيف اذا جئنا من كل امة بشهيد وجئنابک على هؤلاء شهيدا" عليه الصلوة والسلام راته وويل اوس بسته، ما چي عليه الصلوة والسلام ته وکتل تر سترګو مبارکو يې اوښکي بهېدلې.

دروېش وايي: چي مشهور مفسرين وايي چي مراد له "هؤلاء" څخه نور انبياء

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

علیهم السلام مراد دي چې هغه انبیاء به پر خپلو امتو باندې شاهدي اداء کړي. نو علیه الصلوة والسلام ددوی پر صدق شاهدي اداء کوي، او بعض مفسران وایي چې مراد له "هؤلاء" څخه مؤمنان ددې امت دي چې دا مؤمنان به شاهدي اداء کړي د انبیاؤ لپاره ددوی پر امتو او علیه الصلوة والسلام به د خپلو مؤمنو امتیانو شاهد د تزکیې وګرځي.

دروېش وایي: چې دا شهادت د مؤمنانو پر امتو باندې ددې تفسیر په سورت بقره کې تېر سوی دی فتذکر.

يَوْمَئِذٍ يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَعَصَوُا الرَّسُولَ لَوْ تُسَوَّىٰ بِهِمُ الْأَرْضُ

په دغه ورځ چې حال یې هغه و چې تېر سو في قوله تعالی "فکیف آه" چې دا ورځ د قیامت ده تمنی به کوي هغه کسان چې کفر یې کړی وي په دنیا کې او عصیان او نافرماني یې کړې وي له رسول ﷺ څخه چې کاشکې پر موږ مځکه برابره یعني خاورې سوې وای او د مځکې اجزاء ګرځېدلې وای او بیا نه وای راژوندي سوي.

دروېش وایي: چې مظهري رحمه الله داسې تفسیر ددې آیت کړی دی "الذین آثروا بالکفر والعصیان جمیعاً او باحدهما آه" دا تفسیر مناسب نه دی، ولې چې په کفر او عصیان رسول دواړو سره یې راتګ کړی وای او یا په یوازې کفر سره هغه بېشکه دا تمنی کوي یعني لو تسوی بهم آه لکن د احدهما څو یو شق دادی چې کفر به یې نه وي کړی صرف عصیان رسول یې کړی وي په اعمالو سره لکه لمونځ. روژه وغیره چې دې ته مؤمن عاصي وایي هغه خو دا تمنی نه کوي، ولې چې امید د شفاعت الرسول لري او امید د رحمت عامه الهي لري کمامر عنقریب مثاله، نو صحیح تفسیر هغه دی چې برسوي رحمه الله کړی دی حیث قال وعصیان الرسول محمول علی المعاصي المغایرة للکفر فلا یلزم عطف الشیئ علی نفسه ای یتمنی الذین جمعوا بین الکفر وعصیان الرسول انتهی.

پوه سه: چې بعض قراء کلمه د "تسوی" په فتحه د تا او په تشدید د شین بادغام التاء التفعل في السین او بعض قاریان یې په فتح د تاء او تخفیف د سین

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وايي بحذف تاء التفعل والاصل على القرائتين "تتسوٰى" دی او مشهور قراء يې په ضمه د تاء او په تخفيف د سين چې مجهوله صيغه سي د تفعيل له بابه.

دروښ وايي: چې يوه ترجمه د "يسوٰى بهم الارض" هغه وه چې مورږ دمخه ذکر کړه، او کلبي رحمه الله وايي چې په ورځ د قيامت چې د وحوشو او مرغانو تر منځ د ظلم کسات خدای ﷻ سره وکاږي وروسته وايي "کونوا تراباً فتسوٰى بهم الارض" نو په دغه وخت کې کافران هم دا تمنٰی وکړي.

وَلَا يَكْتُمُونَ اللَّهَ حَدِيثًا ﴿٤٢﴾

او دوی نه پټوي له خدايه هيڅ خبره.

دروښ وايي: چې په نهږ د عطاء رحمه الله جمله د "ولا يكتمون آه" معطوف ده پر "تسوٰى بهم الارض" باندې او دا جمله داخله ده تر تمنٰی لاندې او مضارع په معنی د ماضي ده، يعنې دوی وايي کاشکې د خدای ﷻ نازل سوي آيتونه په تورات کې په نبوت او نعوت د محمد ﷺ مورږ نه وای پټ کړي، او نه ورځ د قيامت کې به سبب د نجات وای انتهى بحاصله، لکن پر دې تقدير دا آيت خاص په يهودانو پورې ګرځي، نور کافرانو ته شاملږي، والظاهر من سياق الآيات السابقة عموم هذه الآية بجميع الكفرة، او بعض مفسران وايي چې دا کلام مستانف دی يعنې تر تمنٰی لاندې داخل نه دی بلکې دا جمله معطوف ده پر "يود آه" او دې مفسر ددې آيت ترجمه داسي کړې ده چې دوی قدرت نه لري پر کتمان د خپل کفر، اول خدای ﷻ ددوی په عملو او کفر خبر دی، او دويمه دا چې جوارح او اعضاء د دوی ددوی په عملو سره ورکوي.

دروښ وايي: چې بخاري په خپل کتاب کې له سعيد بن جبير رضي الله عنه څخه يو ډېر اوږد حديث مبارک را نقل کړی دی چې د هغه حديث په يوه برخه کې داسي راغلي دي چې سعيد بن جبير رضي الله عنه له ابن عباس رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه چې د قرآن مجيد په يوه ځای کې خدای پاک وايي "ولا يكتمون الله حديثاً" او بل ځای داسي راغلي دي "والله ربنا ما كنا مشركين، فقد كتموا كفرهم" ابن عباس رضي الله عنه ورته وويل چې په اول الامر دوی له خدای ﷻ څخه خبره نه پټوي او خپل کفر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

منې، خو چې دوی وویني چې خدای ﷻ و مؤمنانو ته کبیره ګنهونه وربخښي صرف مشرکانو ته یې نه بخښي، نو په دې وخت کې دوی له شرکه منکر سي "واللہ ربنا ماکنا مشرکین" په طمع ددې چې مونږ به هم خدای ﷻ وبخښي، نو خدای ﷻ ددوی پر خولو مهرونه ور ولګوي او پر دوی باندې شاهدي اداء کړي ددوی لاسونه او پښې "بما کانوا یعملون" نو په دغه وخت کې دوی دا تمنی وکړي "یود الذین کفروا وعصوا الرسول لو تسوّٰی بهم الارض، ولا یکتمون اللہ حدیثاً" او حسن بصري رحمۃ اللہ علیہ وایي چې د قیامت ورځ مواطن لرې په یوه مواطن کې کافران هیڅ خبرې نه کوي کما ورد "ولا تسمع لهم الا همسا" او په بل مواطن کې خبرې کوي خو درواغ وایي کما ورد "واللہ ربنا ماکنا مشرکین" وجاء ایضاً ما نعمل من سوء، وفي موطن اخر یعترفون علی انفسهم کما قال اللہ فاعترفوا بذنبهم"

دروښ وایي: چې په حدیث شریف کې چې روایت یې ابو داؤد، ترمذي او حاکم کړی دی او ترمذي ویلي دي چې حدیث حسن له علي ﷺ څخه چې یوه ورځ د مازدیګر تر لمانځه عبدالرحمن بن عوف ﷺ ډوډۍ کړې وه چې متعدد اصحاب پکښې شامل وه، وروسته تر ډوډۍ شراب راوړل سوه چې په هغه وخت کې شراب حرام نه وه، نو شراب مو هم نوش کړه چې د شرابو د سکر وخت ورسېدی د مابنام د لمانځه وخت و، نو علي ﷺ وایي چې زه یې دمخه کړم ما د "قل یا ایها الکافرون" سورت داسي ووایه "قل یاایها الکافرون اعبد ما تعبدون" په حذف سره د لا د کلمې په ټوله سورت کې، نو دا آیت نازل سو.

یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ وَاَنْتُمْ سُكٰرٰى حَتّٰى تَعْلَمُوْا مَا تَقُوْلُوْنَ

ای هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دی تاسي مه نیژدې کېږئ لمانځه ته په داسي حال کې چې تاسي نشه یاست یعنې سکر د شرابو درسره وي تر هغه وخته چې تاسي پوهېږئ چې تاسي یې وایاست.

پوه سه: چې معنٰی د "لاتقربوا الصلوة" داده چې "لاتصلوا" لکن په نفي کې د قربان مبالغه ده په نهي کې د لمانځه کولو په وخت کې د سُکر کما في قوله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تعالى "لاتقربوا الزنى" وقوله تعالى لآدم وحواء "لاتقربا هذه الشجرة"

دروښ وايي: چې حرمت د شرابو ډېر په تدريج سره نازل سوی دی سبب يې دادی چې عرب ټوله په شراب نوشي اخته وه، نو که يې په يوه وار حرمت نازل سوی وای شايد بعض مسلمانانو به عمل نه وای په کړی، اول خدای ﷻ دا آيت نازل کړی "ويسئلونک عن الخمر قل فيها اثم کبير ومنافع للناس واثمهما اکبر من نفعهما"

ژباړه: مسلمانان ستاځخه پوښتنه کوي په باره کې د شرابو او قمار، ته ورته ووايه چې د شرابو په څيښلو او د قمار په کولو کې لويه ګناه ده، او د خلګو فائدې هم پکښې دي خو ګناه يې ډېره ده تر نفعې، نو بعضې مسلمانانو په دغه آيت سره شراب نوشي او قمار پرې ښول، دوی دا ويل چې داسې کار بايد سړی نه وکړي چې ګناه يې تر فائدې ډېره وي، او بعضې خلګو وويل چې موږ نفع پر اخلو او له ګناه ځخه پرهېز کوو، وروسته چې دا آيت نازل سو "يا ايها الذين آمنوا لاتقربوا الصلوة" نو شراب نوشي ډېره کمه سوه، ولې چې د ماپښين تر لمانځه وروسته نه څيښل کېده، ولې چې د مازديګر تر لمانځه پورې يې سُکر نه زائلېدی، او داغه رنګه د مازديګر تر لمانځه وروسته نه څيښل کېده، ولې چې د ماښام تر لمانځه پورې يې سکر نه زائلېدی، او د ماښام تر لمانځه وروسته هم خلګو پرهېز ځنې کوی، ولې چې د ماخستن لمونځ پسې راتلی، نو فقط د ماخستن تر لمانځه وروسته به يې څيښل چې تر سهاره پورې به يې سکر پای ته رسېدی، او يا به يې د سهار تر لمانځه وروسته څيښل چې د ماپښين تر لمانځه به يې سکر ختمېدی، وروسته تر هغه په حرمت قطعي حرام سوه کما سيئاتي.

دروښ وايي: چې ضحاک بن المزاحم وايي چې مراد له سکر ځخه سکر النوم دی چې سړي ته ډېر خوب ورځي له لمانځه ځخه نهي دی، استدلال يې په هغه حديث متفق عليه ويلی دی چې له عائشې ﷺ ځخه مروي دی، دا وايي چې رسول الله ﷺ وويل چې سړي ته خوب ورسي او دی لمونځ کوي نو بيده سي حتی چې خوب ولاړ سي، ولې چې يو له تاسو ځخه لمونځ کوي او دده ستر ګي له خوبه ډکې وي، نو دی به طلب د مغفرت کوي خو ځان ته به بنېرا وکړي يعنې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دده به نیت دا وي چي ووایي "اللهم اغفرلي" لکن چونکه خوب پر غالب دی او په ځان نه پوهېږي داسي به ځني وویل سي "اللهم لاتغفرلي"

دروښ وایي: چي دا حدیث که څه هم صحیح متفق علیه دی لکن په آیت کي مراد خوب نه دی بلکي مراد په آیت کي سُکر د شرابو دی کمامر في حدیث علي ﷺ.

او شان نزول د آیت په نېږ د اکثرو مفسرینو هم دغه سکر د شرابو مراد دی والله اعلم بالصواب.

تنبیه: له دې آیته دا معلومه سوه چي مصلي باید په حضور قلبي سره لمونځ کوي او په معاني کي د قرآن مجید دي فکر وهي او دنیاوي فکرونه دي په لمانځه کي نه وهي او که د قرآن مبارک په معنا نه پوهېدی بیا دي په نورو کارو کي د دین او د خیر فکر وهي کما روی ان امیر المؤمنین عمر ﷺ اذا صلی تفکر في تجهیز الجیوش لمحاربة الکفار، فعلم من ذالک ان التفکر في الامور الدینیة لاینافي حضور الصلوة وان کان یعلم معاني القرآن کما فعل عمر ﷺ.

وَلَا جُنُبًا

پوه سه: جنباً" عطف دی پر جملې د "انتم سکاری" چونکه هغه جمله منصوب علی الحالیة وه، نو گویا معنا یې داده "لاتقربوا الصلوة سکاری ولا جنبا" فلهذا صح عطف المفرد علی الجملة.

فائده: جنب هغه چا ته وایي چي جنابت ورسېدلی وي که په ویښه کي وي له جماع څخه او که په خوب کي د شیطان له بازیه الی غیر ذالک کالاستمناء، مذکر، مؤنث، مفرد او جمع پکښې برابر دي لجریانه مجری المصدر.

إِلَّا عَابِرِي سَبِيلٍ

پوه سه: چي دا لفظ استثناء مفرغه ده له اعم الاحوال څخه محلاً منصوب دی حال دی له ضمیر څخه د "لاتقربوا" لکن په اعتبار د تقید د نهي په دویم حال سره چي "جنبا" دی نه په اعتبار د تقید اول سره چي "وانتم سکاری" دی، عامل د نصب یې "لاتقربوا" دی، والمعنی لاتقربوا الصلوة جنباً في حال من الاحوال، خو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نه چې تاسي په لاره کې روان یاست یعنې مسافرین یاست. نو سفر ستاسي عذر دی. نو که جنب یاست یا اوبه نه وي او یا اوبه وي لکن ډېر یخ وي چې تاسي له استعمال څخه د اوبو پر مرض ببر ېږئ، نو به لمونځ په تیمم سره وکړئ.

بوه سه: چې اول آیت چې په رخصت کې د تیمم نازل سوی دی هغه د سورت مائده آیت دی، هغه تر دا اوسنې آیت دمخه نازل سوی دی.

بوه سه: چې طبرانې له اسلع رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چې ما به د رسول الله ﷺ خدمت کاوه په سفر کې، نو یوه ورځ یې راته وویل چې اسلع ولاړسه پر اوښه رحل کښېږده ما ورته وویل چې ماته مابښام جنابت پېښ سوی دی چې شپه ډېره یخه وه نو زه ببر ېدم که ژه غسل وکړم یا به مریض سم او یا به مړ سم، نو جبرائیل علیه السلام آیت الصعید نازل کړی یعنې "فتیمموا صعیدا طیبا" نو علیه الصلوة والسلام ماته تیمم راوښود ضربةً للوجه وضربة للیدین، نو ما تیمم وواهه او پر اوښې باندې مې رحل کښېښود.

المسائل المتعلقة بالجنابة

مسئله: د څلورو مذاهبو امامان رحمهم الله تعالی او جمهور د مسلمانانو پر دې متفق دي چې جماع موجب د غسل ده که انزال سي او که نه، ولې چې ذکر خو پټ دی په فرج کې او په انزال بعض خلګ پوهېږي او بعض خلګ نه په پوهېږي په سبب د ضعف یا په سبب د رقت منې، نو چونکه جماع سبب وه غالباً نو د دین امامانو جماع چې سبب ده په ځای کې د مسبب چې انزال دی ودرول لکه نوم او خوب چې په ځای کې د حدث درول سوی دی، ولې چې هوډې هم نوم غالباً سبب د خروج د ریح دی نو ځکه د نائم اودس مات دی، ویوټیه قوله علیه الصلوة والسلام اذا جاوز الختان الختان وجب الغسل انزل او لم ینزل.

مسئله: که سړی بیده و، نو چې راویښ سو پرتوګ یې لوند و، غسل پر واجب دی که څه هم جماع یې په خوب کې نه وي پیاد، او ګاهې په غایت رقت سړی تعلقه نه سي پېژندلای، او که د نائم جماع په یاد وي او پر جامه یې لوند والی نه و غسل نسته باندې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: غسل په خروج سره د منې بالاجماع واجب دی. لکن ابو حنیفه، امام محمد، امام مالک او امام احمد رحمهم الله وایي چې دفق او شهوت شرط دی په وخت کې د جلا والي د منې له خپله ځایه څخه چې د نر ملا ده، او امام ابو یوسف رحمه الله وایي چې دفق او شهوت شرط دی په وخت کې د انفصال او خروج د منې دواړو.

دروښ وایي: چې فائده ددې اختلاف داده چې که د سړي په وخت کې د انفصال المني دفق او شهوت و لکن سړي د ذکر سر تینګ ونیوی چې د فق او شهوت یې کرار سو، نو یې د ذکر سر ایله کړی او منې یې ووتل، نو د امام ابو یوسف رحمه الله په نېز غسل نسته باندې، ولې چې په وخت کې د خروج المني خو دفق او شهوت نه و، او په نېز د هغو نورو ائمه مذکورینو غسل باندې واجب دی، ولې چې په وخت کې د انفصال المني خو دفق او شهوت و، وهو شرط عندهم، او امام شافعي رحمه الله وایي چې خروج د منې موجب د غسل دی وان لم یقارن اللذة سواء کان الخروج بدفق اولاً. وتفصیل دلائل المذاهب المذکورة في کتب الفقة.

دروښ وایي: چې ما چې د مخني تفسیر "عابري السبیل" ترجمه په مسافر سره وکړه، دا د علي رضي الله عنه قول دی، او ابن عباس، مجاهد، سعید بن جبیر، ابن مسعود، سید بن المسیب رضي الله عنهم او ضحاک، حسن بصري، عکرمه او نور ګڼ شمېر تابعین رحمهم الله د "الا عابري السبیل" داسې تفسیر کړی دی "لاتقربوا الصلوة" ای مواضع الصلوة وهي المساجد بحذف المضاف جنباً الا عابري السبیل. راویان د احادیثو مبارکه وو وایي چې د بعضې انصارو د سرایو دروازې په مسجد نبوي راخلاصې وې، نو دوی ته چې به په کور کې جنابت ورپېښ سو او اوبه به یې په کور کې نه درلودې چې غسل په وکړي، نو په طلب د اوبو به دوی په مسجد نبوي کې تېرېدل، نو دا آیت په شان کې د هغو کسانو دی، نو حاصل د آیت دادی چې بېله درنګه او مکث دې په مسجد کې تېر سي.

دروښ وایي: چې پر هم دغه قول په اوسنۍ زمانه کې قیاس دی حال د بعضې طالبانو چې د خوب ځای یې مسجد وي، او یا یې حجره د مسجد په پای کې وي او اوبه په خارج المسجد کې نو دوی ته روا ده تېردل په مسجد کې د غسل په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

طلب پسي، اما په مسجد کي په درنګ نه کوي. وهذه فائدة نفسية.

حَتّٰى تَغْتَسِلُوْا

تر هغو چي تاسي غسل کوئ.

پوه سه: چي "حتّٰی" غاية لپاره د نهي دی له لمانځه څخه يعني پرته له مسافر معذوره، ولي چي هغه ته تيمم روا دی د جنابت لپاره.

پوښتنه: څرنګه صحيح کېږي چي غسل دي غايت سي لپاره د نهي عدم القربان حالة الجنابة. ولي چي په غسل کي خو جنابت زائلېږي او غاية د شي خو بايد د هغه سره يو ځای کېږي؟

ځواب: غاية د شي چي حتّٰی دی دلالت پر کوي د اخير سره د جنابت يعني چي جنابت پای ته ورسېږي يو ځای کېږي کما في قولهم نمت البارحة حتى الصباح يعني جزء اخير د خوب خو د صباح سره يو ځای کېږي فكذا ههنا فتامل.

مسئله: جنب ته د بيت الله شريفي طواف نه دی روا لانه في المسجد. او نه هم جنب ته تلاوت د قرآن مجيد روا دی په نېز د جمهورو فقهاؤ. او امام مالک وايي چي لږ قرآن ويل لپاره د تعوذ لکه "قل اعوذ برب الناس الخ و ده ته روا دی، والحق عدم الجواز لان القرآن قليله وكثيره مساويان في الاحكام.

وَإِنْ كُنْتُمْ مَّرْضٰٓى اَوْ عَلٰى سَفَرٍ

پوه سه: چي دا آيت تفصيل دی د جنب د حال والمعنى ان كنتم جنباً مرضٰى او على سفر وحذف لفظ جنباً لان الكلام في الجنب.

فائده: قيد د مرضٰى او على سفر پر غالب عادت مبني دی، ولي تيمم چي روا کېږي غالباً په سبب د مرض او يا سفر مباح کېږي، نو غرض دادی چي دا قيد مفهوم مخالف نه لري. يعني چي جور سړي ته چي مسافر به هم وي تيمم نه دی روا. ولي د ابو ذر ﷺ څخه روايت دی چي ژه په ربذه چي د يو ځای نوم دی د مدينې منورې په اطرافو کي مقيم وم او څو ورځې به اوبه د اوداسه او غسل لپاره نه پيدا کېدې. او ګاهي به جنابت ماته راورسېدی، نو ما په دې باره کي د عليه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الصلوة والسلام څخه پوښتنه وکړه، نو علیه الصلوة والسلام وویل "التراب کافیک ولولم تجد الماء عشر حجج" خاوري یعنې تیمم پر خاورو تالره کافي دی که څه هم تر لسو کالو پوري وي. وفي روایة الصعید الطیب وضوء المسلم لو الی عشر حجج. قال المظهري رحمه الله رواه اصحاب السنن وصححه ابو داؤد.

فائده: مرض درې قسمه دی، یو دادی چې که صاحب المرض اوبه استعمال کړې یا د اوداسه یا د غسل، نو غالباً به مړسي لکه د کوي شدید مرض چې پر سړي په لوی والي ښکاره سي. او یا لوی لوی دانې، او دویم دا قسم مرض دی چې د اوبو په استعمال سره خو نه مري لکن په استعمال سره د اوبو ډېر دردونه پر تېرېږي او مرض یې سختېږي او یا اوږدېږي، او دریم داسې مرض دی چې په استعمال سره د اوبو نه سړی مري او نه سخت دردونه پر تېریږي لکن د ابو له استعمال څخه پر بدن بعضې ښانونه پاتېږي فقهاء د احنافو په اول دوه قسم مرض کې تیمم روا بولي، او په دریم قسم کې روا نه بولي والعلم عندالله.

اَوْ جَآءَ اَحَدٌ مِّنْكُمْ مِّنَ الْغَآئِطِ

او یا راسې یو ستاسې د بولو او یا نور چکر څخه.

پوه سه: چې غائط ګنبسته ځای ته وایي، نو راتګ له غائط څخه کنایه ده له بولو کولو یا نور چکر وهلو څخه. ولې چې غالباً سړی چې چکر وهي، نو د مځکې په یو ګنبسته ځای کې یې وهي.

فائده: له دې آیته دا معلومه سوه چې خارج عن السبیلین چې معتاد وي لکه بولي او چکر اودس په ماتېږي او پر دې دلالت نه کوي چې خارج عن السبیلین که غیر معتاد و، نو اودس په ماتېږي بدلیل حدیث عائشه رضي الله عنها چې علیه الصلوة والسلام وه فاطمې بنت ابی حبیش ته وویل چې هغې شکایت د استحاضې و علیه الصلوة والسلام ته وکړی، نو علیه الصلوة والسلام داسې ورته وویل اغسلي منک الدم ویوضئ لکل صلوة، نو که غیر معتاد ناقص نه وایي، نو ولي علیه الصلوة والسلام فاطمه مذکوره امر کوله چې هر لمانځه ته اودس تازه کوه.

فائده: دا آیت ساکت دی له حکم څخه د خارج عن غیر السبیلین لکه قی او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وینه، نو په دې آیت سره دلیل ویل د امام شافعي رحمه الله چې خارج عن غیر السبیلین ناقض نه دی صحیح نه دی کمالا یخفی.

پوه سه: چې مذهب د امام اعظم رحمه الله دادی چې خارج عن غیر السبیلین ناقض دی په شرط ددې چې نجس وي، نو که هر څو ډېره خوله د سړي له بدنه ووځي اودس یې نه په ماتېږي او داغه رنګه وینه چې د تپ تر خولې تېره نه سي یعنې سېلان ونه کړي مرداره نه ده، او داغه رنګه لږ قی مردار نه دی په حکم کې د نارو دی، بخلاف الکثیر من الدم والقیئ لانه نجس بدلیل انه لو القی الکثیر من الدم او القیئ في الماء القلیل ینجساه کما في کتب الفقه.

اَوْ لٰمَسْتُمُ النِّسَآءَ

او یا تاسې مسه کړئ ښځې.

پوه سه: لمس کنایه ده له جماعو څخه، والحاصل اذا اصابکم المرض او السفر او الحدث او الجنابة.

فَلَمْ تَجِدُوْا مَآءً

او تاسې اوبه نه کړئ پیدا.

پوه سه: چې مراد د عدم وجدان د اوبو عدم قدرت دی پر استعمال داوبو. یعنې یا ګرمسره اوبه نه وي، او یا اوبه په ځاه کې وي او سولاغه نه وي، او یا تناو نه وي، او یا پر اوبو باندې مار وي، یا درنده وي، یا دښمن وي،

فائده: مراد دلېرې والي څخه د اوبو دادی چې یو میل قدر لېرې وي، او یا دا چې که سړی ولاړ سي اودس تازه کوي قافله ځندې غائبېږي، او یا په اوسنۍ زمانه کې موټران یې و اوداسه ته نه پرېږدي، موټر ځندې بیایي.

دروښ وایي: چې داسې مانع د اوداسه دحج په وخت کې د ډېر پښېږي، په عربستان کې حاجیانو ته، او یا اوبه د سړي سره ورسره وي، لکن که دی اودس په تازه کې، نو ورسته تنده ور پښېږي، او یا په سبب د ډېر یخ ښېږي، که زه اودس تازه کړم مریض به سم، او یا مریض وي، او دا یې ګمان وي که زه اودس تازه کړي، مرض به مې زیات سي، په حدیث شریف کې راغلي دي د عمرو بن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

العاص رضي الله عنه څخه چې په غزا کې د ذات السلاسل زه شیطان خطاء ایستم نو زه بیرېدم، له جهته د ډېر یخ که زه غسل وکړم مړ به سم، نو ما تیمم وواهه او اندېوالانو ته مې د جماعت لمونځ ورکړی، نو دا قصه یو چا و علیه الصلوة والسلام ته وکړه نو علیه الصلوة والسلام وویل "یاعمر اصلیت باصحابک و انت جنب" ما ورته وویل چې ما د خدای پاک دا ایت اورېدلی وو، "ولاتقتلوا انفسکم الایة" نو علیه الصلوة والسلام وخندل هېڅ یې نه راته وویل، اود مجاهد څخه روایت دی، چې دا آیت په باره کې د یو سړي د انصارو نازل سوی دی، چې مریض وو او دا طاقت یې نه درلودی چې ولاړ سي اودس تازه کړي او خادم یې هم نه درلودی، نو دا واقعه چې علیه الصلوة والسلام ته بیان سوه نو دا آیت نازل سو" وان کنتم مرضی "ترپایه پورې.

دروېش وایي: چې ټوله مفسرین لکه مظهري او روح البیان او روح المعاني و غیرهما وایي په جواز کې د تیمم و سړي ته "عدو مسلط علی الماء" هم کافي دی.

دروېش وایي: چې ددې عبارت فائده داده چې په افغانستان کې تر اوسه سنه ۱۴۲۸ هـ ۲۸ کاله میدان جنګ دی د مشرانو ترمنځ او یا د خلقیانو او روسانو او د مجاهدینو تر منځ او یا د امریکایانو او طالبانو تر منځ، نو ګاهي ډېر پېښېږي چې مجاهدین یا طالبان په دښت کې وي که څه هم اوبه نږدې وي لکن پر اوبو جانب مقابل مسلط وي، نو دې مجاهدو او طالبانو ته په تیمم سره لمونځ روا دی، وهذا فائدة مهمة سنية".

فَتَيَمَّمُوا

اي قصدو" په قاموس کې وایي توخي یعني طلب او تعمد یعني قصد ته وایي، نو له دې سببه چې په مفهوم لغوي کې د تیمم قصد ماخوذ دی، امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله وایي چې په تیمم کې نیت شرط دی بخلاف الوضوء والغسل یعني که یو څوک لپاره د تبرد اودس تازه کړي او یا غسل وکړي لمونځ په روا دی، او امام زفر رحمه الله وایي چې په تیمم کې هم نیت نه دی شرط والحجة علیه هذه الآیة، او امام شافعي، امام مالک او امام احمد رحمهم الله وایي چې په اوداسه او غسل کې هم نیت شرط دی والمسئلة مبسوطة في کتب الفقة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صَعِيدًا

پوه سه: چې صعید مخته د مځکې وایي که خاوري وي او که رېګ وي او که ګچ وي او که ډبره وي. زجاج لغوي رحمه الله وایي لا اعلم خلافاً لاهل اللغة في ذالک حتی که پر مخ د مځکې بنویه ډبره وي که څه هم پر هغې هیڅ خاوره یا ګرځ نه وي بیا هم تیمم باندې روا دی وهو مذهب ابو حنیفه رحمه الله. بغوي وایي چې ابن عباس رضي الله عنه وایي چې صعید یوازې خوارو ته وایي.

طَيِّبًا

یعنې پاکه مځکه، حتی که یو مخ د مځکې سړې نه معلوم وچې مردار دی پر هغه مځکه تیمم نه دی روا. او بعض اهل مذهب وایي چې د طیب معنی مثبت ده یعنې چې شی شین کوي، نو پر ترخه یا توروه مځکه تیمم روا نه بولي. والتفصیل في کتب الفقها. رحمهم الله ولا نشتغل بالنقض والابرام في هذا التفسیر الوجیز لانه خلاف موضوع هذا التفسیر وهو انه تفسیر لعموم قوم الافاغنة.

فَامْسَحُوا بِوُجُوهِكُمْ

پوه سه: چې کلمه د "باء" زائده ده فالمعنی "وامسحوا وجوهکم" نو استعاب د تولې مخ په مسح کې د تیمم فرض دی اجماعاً لکه په اوداسه کې د لوېو چې فرض دی.

وَأَيْدِيكُمْ

پوه سه: چې "ید" نوم دی د لاس تر اوږو پورې ځکه چې د زهري رحمه الله څخه روایت دی چې په تیمم کې د لاس مسحه تر اوږو او تخرګو پورې فرض ده. او اصحاب کرام رضي الله عنهم مسحه د لاسو تر اوږو او تخرګو پورې کوله لکن د مخه تر تعلیم د رسول الله ﷺ چې مسحه د لاس په تیمم کې تر مرفقینو پورې فرض ده وذالک ان التیمم في الوجه والیدین عوض عن الوضوء فیها فغایة الوضوء یعني المرفقین غایة لمسح التیمم ایضاً، او په حدیث کې د عمار بن یاسر رضي الله عنه چې بزار روایت کړی دی "کنت في الصوم حین نزلت آیة التیمم فامرنا رسول الله ﷺ فضربنا واحدة للوجه ثم ضربة اخری للیدین الی المرفقین رواه البخاري

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ایضاً" او په بل حدیث کي چي روایت یې حاکم رحمه الله کړی دی له جابر رضي الله عنه څخه چي یو سړی و علیه الصلوة والسلام ته راغلی چي ماته جنابت ورسېدی په سفر کي چي اوبه نه وي، نو ما کالي وکښل او په خاورو کي ولغبېدم یعني قیاساً منه للتیمم علی الغسل بالماء. نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل التیمم ضربة للوجه وضربة للیدین الی المرفقین.

مسئله: امام اعظم رحمه الله وایي چي تیمم د داسي لمانځه لپاره هم روا دی چي هغه عوض نه لري یعني که څه هم اوبه موجودي وي. لکه د اختر لمونځ که ابتداءً وي او که بناءً وي یا د جنازې لمونځ وغیره ته د ولي. په دې توګه چي ولي د جنازې خو لمونځ څنډوالی سي تر اودس تازه کېدو پورې او بل څوک خو یې نه سي څنډوالی، او د وختي لمانځه د قضا کېدو لپاره او یا د جمعې د لمانځه د فوت لپاره تیمم نه دی روا. ولي چي دا دوه لمونځونه خو خلف او عوض لري چي قضایي لمونځ دی د وختي لمانځه لپاره او ماپښین لمونځ دی د جمعې لپاره.

مسئله: که مسافر تیمم وواهه په سبب د اوبو د نیستي والي او لمونځ یې وکړی وروسته وخت هم باقي و چي اوبه یې پیدا کړي، نو اعاده د لمانځه نسته باندي عند الحنیفیة رحمهم الله په دلیل د هغه حدیث چي ابو سعید الخدري رضي الله عنه یې روایت کړی دی چي دوه کسان د اصحابو کرامو رضي الله عنهم څخه په سفر کي، نو د لمانځه وخت ورسېدی او د دوی سره اوبه نه وي نو دواړو تیمم پر صعید طیب باندي وواهه او لمونځونه یې وکړه وروسته وخت د لمانځه باقي و چي دوی اوبه پیدا کړي نو یوه صحابي اودس تازه کړی او لمونځ یې راوګرځاوه، او هغه بل لمونځ نه راوګرځاوه. نو وروسته تر سفر علیه الصلوة والسلام ته راغله او دا موضوع یې ورته بیان کړه، نو علیه الصلوة والسلام و هغه سړي ته چي لمونځ یې نه و راګرځولی داسي وویل "اصبت السنة. واجزئتک صلوتک" یعني طریقه مسنونه داغه ده او ستا کړی لمونځ ستا کافي دی. او هغه بل ته چي لمونځ یې راګرځولی و داسي وویل لک الاجر مرتین، تاته خدای ﷻ دوه ثوابونه درکوي. رواه النسائي وابو دؤد والحاکم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: د فقهي شريفي په تولو کتابو کي وايي چي هر شی چي ماتونکی د اوداسه دی. لکه بولي مثلاً هغه شی ماتونکی د تيمم هم دی، لکن ماتونکی د تيمم يو شی پر بالا دی يعني وجدان الماء يعني چي اوبه پيدا سوې تيمم خپله مات سو. حاصل ددې فائدې دادی لکه سړی چي اودس تازه کړي په هغه اوداسه هر څو لمونځونه که فرض وي که سنت وي او که نفل وي کولای سي تر څو چي اودس يې ماتېږي. داغه رنګه په تيمم سره هم مذکوره لمونځونه کولای سي تر څو چي اودس يې ماتېږي او يا اوبه پيدا کېږي، او امام شافعي رحمه الله تيمم طهارت ضروري بولي نو هر لمانځه ته به تيمم وهي. زمونږ دليل هغه حديث نبوي دی "الصعيد الطيب وضوء المسلم وان لم يجد الماء عشر سنين فاذا وجد الماء فليمس بشرته فان ذالک خير رواه اصحاب السنن الاربعة من حديث ابي ذر او ترمذي ويلي دي چي دا صحيح حديث دی.

إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَفُوًّا غَفُورًا ﴿٤٣﴾

په تحقيق خدای ﷻ عفوه کونکی چي ستاسي د اسانی لپاره يې تيمم درته روا کړی دی، او بخښونکی دی چي سړه له جنابته يې لمونځ درته روا کړی دی يعني عند عدم الماء او الاعذار المذكورة كما مرت فتذكر.

دروښ وايي: چي ابن اسحاق له عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه داسي روايت کړی دی چي رفاعة بن زيد بن تابوت چي د يهودانو له مشرانو څخه وو چي د عليه الصلوة والسلام سره به يې خبري کولې ژبه به يې يوې او بلې خواته پېچلې مثلاً په څای کي د السلام عليكم کي به يې السام عليكم يعني غم دي نازل وي پر تاسي باندي. او دا به يې هم و عليه الصلوة والسلام ته ويل چي هغه به خبري کولې "راعنا" چي دا کلمه په ژبه کي ددوی پوچ بنکنځل دي كما سيجيئ في تفسير فنزلت هذه الآيات.

أَلَمْ تَرَ

آيا ته نه ګورې،

پوه سه: چي خطاب په "الم تر" وغيره و معين ته دی يعني خاص و عليه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الصلوة والسلام ته. په قرینه ددې چې وروسته صیغه د جمعې رازي لکه "تضلوا اعدائکم"

إِلَى الَّذِينَ أُوتُوا نَصِيبًا مِّنَ الْكِتٰبِ

چې ودوی ته یې ورکړه یوه برخه د کتاب یعنې تورات چې مراد ځنې یهودان د مدینې دي.

پوه سه: چې نکره راوړل د "نصیباً" لپاره د تحقیر ده یعنې "نصیباً" حقیراً ذالک النصیب الحقیر محض القرائة باللسان دی بهله ایمانه بما فیه والا لما کتموا نعوته ﷺ.

يَشْتَرُونَ الضَّلٰلَةَ

پوه سه: چې "اشتروا" دلته پر حقیقي معنا نه دی بلکې په معنا د استبدال ده، او مراد له ضلالت څخه کفر دی په علیه الصلوة والسلام سره، اوسره ددې چې دوی په شان کې د نبي اخیر زمان محمد ﷺ پر بنه هدایت او ایمان وه په باره کې د علیه الصلوة والسلام لکن د مبعث د علیه الصلوة والسلام بدلیل قوله تعالی وکانوا یستفتحون علی الذین کفروا" یعنې دوی به پر مشرکانو طلب د فتح کاوه په برکت د نبي علیه السلام لکن چې علیه الصلوة والسلام مبعوث سو او مدینې منورې ته راغلی او دوی هم وپېژندی چې هم دغه محمد علیه السلام هغه نبي موعود في التوارة دی او علماء ددوی پر خپل ریاست پر عوامو وبېرېدل، نو هغه هدایت سابقه یې په ضلالت او انکار له نبوت څخه د علیه الصلوة والسلام رد کړی، لکه په بل ځای کې چې خدای ﷻ وایي "فلما جاء ما عرفوا کفروا به، فلعنة الله علی الکافرین"

پوه سه: چې جمله د "یشترون" جمله استینافیه ده په استیناف بیاني. جواب ده د سوال مقدر ده گویا سائل وویل چې دوی څه کوي چې زه مخاطب سوم په الم تر سره فاجیب بانهم یشترون الضلالة بالهدی وکلمة با داخلة علی المتروک.

پوه سه: بعض اهل التفسیر وایي چې دا رؤیت علمي دی ولې چې استبدال د ضلال څو په ستر گو نه لیدل کېږي لکن صاحب د روح البیان وایي چې دا رؤیت بصري دی ولې چې دا شنائع په یهودانو کې له جهته د غایة الشهرة لکه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

محسوس بالبصر گرځېدلی دی.

وَيُرِيدُونَ أَنْ تَضِلُّوا السَّبِيلَ ﴿٢٧﴾

یعنې دوی سره د خپله ضلال کوشش کوي چې تاسي هم ګمراهان کړي او له حقي لارې مو په مشکوکو او شبهاتو واړوي، والمقصود من هذه الآية تحذير المؤمنين من هؤلاء اليهود وعدم استماع كلامهم والمجانبة منهم. نو دوی د انسانانو شیطانان دي کما قال في سورة الاستعاذة الثانية من الجنة والناس.

وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِأَعْدَائِكُمْ

پوه سه: چې صیغه د تفضیل یعنې چې خدای ﷻ ښه خبر دی په دښمنانو ستاسي ددې لپاره ده چې که تاسي بعض دښمنان پېژنئ اما خدای ﷻ ستاسي ټوله دښمنان پېژني یا د دښمنانو پر دښمني که علم اجمالي لرئ خدای ﷻ علم تفصیلي پر لري، نو دا جمله تاکید ده د تحذیر د مسلمانانو له یهودانو څخه لکه د مخنی جملې څخه چې مراد و.

وَكَفَىٰ بِاللَّهِ وَلِيًّا ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ نَصِيرًا ﴿٤٥﴾

او کافي دی خدای ﷻ تاسي لره په دوستی او نفع رسولو کې، او کافي دی ستاسي کومکي په دفع کې د شر د اعداؤ ستاسي او په کومک درکولو کې پر دښمنانو یعنې که دغه یهود وي او که نور وي.

پوه سه: چې کلمه د باء زائده ده پر فاعل د "کفی" په دواړه ځایو کې.

سوال: فائدة د زیادت له باب څخه وه؟

ځواب: فائده یې تاکید دی د اتصال اسنادي په منځ کې د فعل او فاعل، ولي چې کلمه د باء لپاره د الصاق ده کما قال النحاة، نو حاصل د آیت دادی چې چونکه خدای ﷻ کافي او ناصر دی د مؤمنو بندګانو لپاره، باید مؤمنان هم پر خدای ﷻ توکل وکړي او له دښمن څخه ونه ویرېږي.

پوه سه: چې د بعضو کسانو بلکې د بعض ملایانو تر خالق پر مخلوق تکیه ډېره وي او شپه و ورځ یې بغل خولي د فقر او سوال وغاړه ته اچولې وي پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مخلوق طواف ونه کوي.

فائده: هره نشه او سکر خلګ پرېښولای سي مثلاً نسوار، چیلم، چرس بلکې هېروئن چې د منشیاتو لوړ دي تجربې ثابته کړې ده چې ددغو شیانو عادي خلګو توبې کښلې دي او پر هغو توبو قائم پاته سوي دي، مګر نشه د فقر او سوال چې له هغې څخه هیڅ څوک توبه نه سي کښلای بلکې سره له دې چې دی غنې وي، نو د خلګو پر کورو د روژې په میاشت کې ګرځي شپه او ورځ زکاتونه ځني غواړي او په دې هم خبر وي چې زکات وغنې ته حرام دی، او اضحیه او سرسایه پر واجبه وي او نه یې کوي له دې سببه چې د خلګو د غنې خیال رابانديرانه سي بیا به زکات نه راکوي بلکې زائد تر مسکن او تر اثاث البیت او تر نفقې د عیال دونده روپۍ لري چې خلګو ته یې په ګټه یا په سود یا ګروی ورکړي وي چې پر ده حج فرض وي او په خیال کې یې حج نه وي، ولې چې که دی حج ته ولاړ سي د فقر او سوال دروازه پر بند ېږي، دا هغه فقیر دی چې په شان کې دداسي کسانو خیر البشر ﷺ داسي ویلي دي چې بعض مؤمنان به د قیامت په ورځ داسي حشر سي چې مخ به یې خالص هډوکي وي یوه توته د غوښو به هم نه وي باندي چې محشر والا به یې ټوله په دغه ننباني پېژني چې بې ضرورته سوال ګرو، حتی چې داسي کسان د فقر په نشه اخته دي چې هیڅو ګاډیانې یې پر لین باندي چلېږي او دی په بازار کې ګرځي فقر او سوال کوي.

مِنَ الَّذِينَ هَادُوا يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ عَنْ مَّوَاضِعِهِ

پوه سه: چې دا آیت متصل دی په ماقبل پورې او بیان دی د "للذین اوتوا الکتاب نصیباً آه" او د اعراب له لارې خبر دی د مبتداء محذوفې والتقدیر من الذین هادوا قوم یحرفون.

پوه سه: چې بعض علماء وایي چې "کلم" جمع د "کلمة" ده.

سوال: که "کلم" جمع وای، نو په دې آیت کې ولې ضمیر د مفرد په مواضعه ورته راجع کېدی؟

ځواب: ضمیر د مفرد راجع دی ومضاف محذوف ته، والتقدیر یحرفون بعض

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الكلم. واختار الجامي في شرح الكافية انه اسم جنس واختار العلامة التفتازاني كونه اسم جنس. او د دواړو قولنو تر منځ يې داسي محاكمه كړې ده چې هغه كسان چې نفي د جمعيت كوي مراد يې دادی چې جمع صيغةً ده. او هغه څوک چې جمع يې بولي جمع معنوي يې بولي، ولې چې د اسم جنس اطلاق په يوه او دېرو كېږي، ومعنى الآية او له هغو كسانو څخه چې يهودان دي هغه كسان دي چې تغيير او تبديل يې كړه هغه كلمات چې په تورات كې دوی ته خداى ﷻ راليږلي ودله خپلو څايو څخه والمراد نعوته ﷺ المذكورة في التوراة. بيهقي له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت كړی دی چې په تورات كې خداى ﷻ داسي فرمايلي وه چې ترجمه يې داده چې نبي عليه السلام به اكحل العين وي يعنې سترګې به يې تورې وي "اربعة" ميانه قد سړی به وي "جعد الشعر" به وي يعنې وېښتان د سر او ږيره به يې لږ څه پېچلي وي يعنې داسي پېچلي به نه وي لكه د حبشيانو وېښتان او داسي ايله به هم نه وي لكه د روميانو وېښتان "حسن الوجه" ښه ښائسته نوراني مخ به يې وي، نو څرنګه چې عليه الصلوة والسلام مدينې منورې ته راغلی او هغه اوصاف مذكوره تولـه پكښې موجود وه. نو د يهودو د علماؤ حسد ورسره پيدا سو او پرخپل جاه وجلال او رياست وبېرېدل. نو نعوت د عليه الصلوة والسلام يې داسي په تورات كې نوشته كړه چې نبي آخير الزمان چې نبي امي هم دی طوال دېر جګ سړی به وي ازرق سترګې به يې شينې وي سبط الشعر وېښتان به يې لكه د روميانو كت ټه لري. نو ملايانو به اميانو ته وويل چې دا سړی نبي اخير زمان نه دی، له دې ښېرې چې خلګ ايمان نه پر راوړي نو زموږ ماده د رزق به قطع سي.

فائده: بعض سر سخت ملايانو د يهودانو خو داسي كوله لكه ذكر چې سوله، او بعض ميانه روه ملايانو لكه معتزله، شيعه، وهابيه او نور د قرآن مجيد د آيتو ترجمه و عوامو ته د خپلو عقائدو زائغه وو سره برابر ورته كوي د عوامو دا خيال سي چې چونكه قرآن مجيد د ملا صاحب ومخ ته پروت دی، نو د قرآن دا غه معنا ده لكه دی چې وايي فضلوا واضلوا او دا سلسله اوس هم جاري ده وهابيان.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سلفیان، اهل ظاهر الحدیث او په نامه موحدین هم ورته ترجمې د قرآن عزیز کوي.

دروښ وایي: چې حل او فصل ددې اختلافاتو به په ورځ د قیامت کېږي.

وَيَقُولُونَ سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا

او دغه یهودان و نبي عليه السلام ته وایي موږ ستا خبرې یعنې تبلیغ د دین د اسلام واورېدی لکن په خوله دي نه کوو.

پوه سه: چې دا جمله معطوف ده پر هغه جمله "ویحرفون آه" لکن دا خبره ددوی تحریف نه دی، که مراد له تحریف څخه ما في التوراة وي، نو دا خبره خو د تورات نه ده چې دوی به تحریف کاوه.

پوه سه: چې که ددې خبرې کونکي سرسخته مجاهر یهودان وي، نو معنا د آیت یا داده چې دوی به مخامخ و علیه الصلوة والسلام ته ویل چې موږ ستا خبرې خو واورېدلې لکن موږ عمل نه په کوو، یعنون پرتا ایمان نه راوړو، او یا معنا د آیت داده چې دوی به نورو مجاهرینو یهودانو ته ویل چې موږ د محمد ﷺ خبرې واړېدلې لکن قناعت او تصدیق مو نه دی پر کړی، نو گویا دا خبره ددوی لپاره د دفع د توهم ده نورو مجاهرینو وکړه، او بعض مفسران وایي چې دا قول د منافقانو یهودانو و، نو پر دې تقدیر "سمعنا" یې و علیه الصلوة والسلام ته په حضور کې ویل او "عصینا" یې ومجاهرینو ته ویل کما في سورة البقرة "ومن الناس من یقول آمنا بالله آه" الی ان قال "واذا رجعوا الی شیاطینهم قالوا انا معکم انما"

وَاسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ

بعض مفسرین وایي چې د "واسمع" کلمه دوی مخامخ و علیه الصلوة والسلام ته ویله او په زړه کې به یې ویل غیر مسمع، نو دا ښېرا ده و علیه الصلوة والسلام ته معنا یې داده چې یا کون سې او یا مړ سې، او محققین د مفسرانو وایي چې دواړې کلمې یې مخامخ ورته ویلې، ولي چې غیر مسمع دوه احتماله لري یو چې تېر سو دا خو د دوی په زړه کې مراد و، بل احتمال دادی چې "غیر مسمع مکروهاً من القول" دا خو بیا دعاء ده، نو د علیه الصلوة والسلام په خیال به یې معنا ثاني ورکړه لعنهم الله تعالی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَّرَاعِنَا

پوه سه: چې په صحیح حدیث کې راغلي دي چې علیه الصلوة والسلام به وعظ او تبلیغ او خبري چابک چابک کولې، نو اصحابو کرامو ﷺ به ورته ویل راعنا یعنې زموږ د حال مراعات کوه چې موږ دي په خبره پوه سو، نو دا لفظ چې یهودانو واورېدی غنیمت یې وبالله، او په خپلو کې یې سره وویل چې پخوا نه موږ ده ته په پټه سره ښکنځل کول اوس به یې مخامخ ورته کوو، ولې چې راعنا په سریاني یا عبراني ژبه کې ښکنځل دي، والمعنی یا احمق في هذا نزلت آیة سورة البقرة "یاایها الذین آمنوا لاتقولوا راعنا وقولوا انظرنا ج" نو دلته هم یهودانو د عصر نبوي لعنهم الله جمیعاً دا لفظ د والمتعنتین په مخاطبه کې د علیه الصلوة والسلام استعمالوی سخریةً بدین الاسلام واستهزاء بالرسول علیه السلام.

لَيًّا بِأَلْسِنَتِهِمْ

پوه سه: چې "لیاً" مفعول له دی لقوله "یقولون" والمعنی دوی به پېچلې خپلې ژبې او بدلاوه به یې حق چې تعظیم دی په باطل سره چې ښکنځل دي یعنې التوقیر في الظاهر بالشتم المضمر.

وَطَعْنًا فِي الدِّينِ ط

او د طعن په دین کې او عیب پر علیه الصلوة والسلام ویل، ولې چې دوی به په خپلو کې سره ویل که محمد علیه السلام نبي بر حق وای، نو ده ته به زموږ د زړونو حال معلوم وای یعنې چې موږ ښکنځل ورته کوو او پسخند په وهو.

وَلَوْ أَنَّهُمْ قَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا وَاسْمَعْ وَانْظُرْنَا لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَأَقْوَمَ لا

او که دوی په پټه او په ظاهره سمعنا واطعنا په عوض کې ددې قول د دوی سمعنا وعصینا او دوی صرف واسمع لفظ ویلای یعنې بهله غیر مسمع او دوی ویلای کلمه د وانظرنا چې معنا یې انتظرلنا وه په ځای کې د راعنا دا بدلول په ددوی لپاره فائده وایې او حقه خبره به وای، ولې چې احتمال د استهزاء او د ښکنځلو به نه وای،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَٰكِن لَّعَنَهُمُ اللَّهُ بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُونَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٥٥﴾

لکن دغه یهودان خدای ﷻ له خپل رحمت عامه څخه لهري کړي دي. په سبب د کفر ددوی په دین اسلام او په علیه الصلوة والسلام سره، نو دوی ایمان نه راړي مګر نه لږ ددوی.

پوه سه: چي قلیلاً منصوب دی علی کونه مفعول مطلق لیؤمنون ای ایماناً قلیلاً چي هیڅ اعتبار نه لري چي هغه ایمان دي په بعض رسولانو چي موسی علیه السلام دی فقط او ایمان دی په بعض کتابو سره چي تورات دی فقط او یا ایمان في الظاهر او انکار في الباطن کما في المنافقین منهم.

امام مظهري رحمه الله وایي چي ابن اسحاق له ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چي علیه الصلوة والسلام د بعضو ملایانو سره د یهودانو چي یو په هغو کي عبدالله بن سوریا و او بل کعب بن اسید و، نو ورته وه یې ویل "یا معشر الیهود اتقوا الله" اې ډلې د یهودانو له خدای ﷻ څخه وبپرېږئ یعني ایمان راوړئ قسم په خدای ﷻ دی چي تاسي پوهېږئ چي دغه دین چي ما راتګ په کړی دی حق دی، دوی په ځواب کي ورته وویل چي موږ ستاد دین په حقیقت نه پوهېږو او پر خپل یهودیت او کفر یې انکار وکړی، نو خدای ﷻ دا آیت نازل کړی.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ آمِنُوا بِمَا نَزَّلْنَا مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُم

اې هغه کسانو چي ورکړه سوی دی کتاب یعني تورات، ایمان راوړئ پر هغه کتاب چي ما نازل کړی یعني القرآن علی محمد ﷺ. او حال دا دی چي دغه مانزلنا یعني القرآن تصدیق کونکی دی د هغه کتاب چي ستاسي سره دی یعني التوراة.

پوه سه: چي موافقت د قرآن کریم د تورات سره یا دا معنا ده چي قرآن کریم پر داسي چا نازل دی چي نعوت د هغه ستاسي په کتاب تورات کي موجود دي، او یا دا معنا چي په تاریخي قصو کي د تورات سره موافق دی مع کونه نازلاً علی النبي الامي ﷺ او یا په دعوت کي و توحید ته او عدل بین الناس او نهي له معاصیو څخه لکه زنی، لواطت، قتل بغیر حق وغیر ذالک.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مِّنْ قَبْلِ اَنْ نَّطْمِسَ وُجُوْهًا

پوه سه: چې تنوین د "وجوهاً" عوض دی له مضاف الیه څخه ای وجوهکم، والطمس في اللغة ازالة اثر الشئ، او دلته مراد محو کول دي د اثارو د مخانو ددوی لکه خوله، پڑه، سترګي، ورځي وغیره.

فَنَرُدَّهَا عَلٰٓى اَدْبَارِهَآ

او موږ به وګرځوو مخان ددوی لکه څټ یعنې لکه په څټ کې چې نه خوله سته او نه پڑه وغیره مخان ددوی هم لکه څټان ددوی ګرځوو، ابن عباس رضی الله عنه وایي نجعلها کخف البعیر، یعنې مخان ددوی به داسې وي لکه د اوښ څپړ، او قتاده رحمه الله وایي چې مراد له وجه څخه سترګي دي یعنې په سترګو به یې ړندۀ.

پوښتنه: خدای ﷻ خو ددغو یهودانو سره که دوی ایمان رانه وړي نو مخان به یې لکه څټ وګرځي او سره ددوی چې دوی خو ایمان نه راوړی او مخان یې لکه څټ داسې نه وګرځېدل؟

ځواب: بعض علماء وایي چې دا مسخه په یهودانو کې راتلونکې ده د مخه تر قیام د قیامت، او بعض وایي چې دا طمس مشروط په دې سره و چې هیڅ څوک له یهودانو څخه ایمان نه راوړي، نو چې عبدالله بن سلام او ده ملګرو رضی الله عنهم ایمان راوړی، نو دا وعید له نورو یهودانو څخه پورته سو، او بعض مفسران وایي چې په دې آیت خدای ﷻ د "وجوه علی الادبار" او د "لعن" تر منځ په منفصله قضیه مانعة الخلو راوړې ده، او لعنت خو پر دوی ثابت و نو وعید الهي صحیح او پر ځای سو، او امام مظهري رحمه الله یو ځواب په داسې الفاظو سره ذکر کړی دی، والصحیح عندي الخ لکن دروېش وایي چې زه خو نه په پوهېږم والله اعلم بمراد عباده، او امام مظهري پخپل تفسیر کې راوړي دي او هیڅ حواله یې و یو کتاب ته د حدیثو نه ده کړې او سند یې هم نه دی ذکر کړی لکه دده چې عادت و چې یا به یې حواله وکتاب ته د حدیثو کوله او یا به یې سند ذکر کاوه، دلته یې داسې ویلي دي د عبدالله بن سلام رضی الله عنه د ایمان راوړلو په باره کې چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عبدالله بن سلام ﷺ چې دا آیت واورېدی. نو د مخه تر دې چې کورته ولاړ سي لاسونه يې پر مخ نيولي وه او عليه الصلوة والسلام ته راغلی او ايمان يې راوړی او عليه الصلوة والسلام ته يې وويل چې زما دا خيال نه و چې زه په تر تاپوري راورسېږم حتی چې زما مخ به څټ وګرځي انتهی.

دروبش وايي: چې دا روايت په اسلام کي د عبدالله بن سلام ﷺ د ټولو کتابو د صحاح سته وو مخالف دی، په دې طويل حديث کي د بخاري راغلي دي چې حاصل يې دادی چې عبدالله بن سلام ﷺ وويل چې زه خپل د خورما په باغ کي وم چې خبره دعربو د نبي يعني عليه الصلوة والسلام مې واورېدل نو چابک مې خورما سره ټوله کړه راغلم، نو د عليه الصلوة والسلام نوراني مخ چې مې وليدی له ځان سره مې داسې وويل ما هذا الوجه وجه كذاب، او بيا راغلم و عليه الصلوة والسلام ته مې ووېل چې زه دري پوښتنې ستا څخه کوم چې بېله نبي بل څوک نه دی په خبر (۱) ما اول طعام اهل الجنة (۲) وما اول اشراط الساعة (۳) ولي ګاهي اولاد د يوې مور او پلار بعض په رنګ پلار او اکاګانو ته کېږي، او بعض عيالونه مور او ماماګانو ته کېږي، عليه الصلوة والسلام چې دا دري سره ځوابونه ورکړه چې تفصيل د ځوابو يې په بخاري وغيره کي دی، نو عبدالله بن سلام ﷺ اسلام راوړی، وروسته حديث نور پسې طويل دی.

دروبش وايي: چې زه دا نه وايم چې مظهري رحمه الله ته دا حديث طويل د بخاري نه و معلوم، ولي چې امام مظهري لوړ محدیث دی لکن زه دا وايم چې ولي امام مظهري دغه موضوعي لنډ حديث په اسلام کي د عبدالله بن سلام ﷺ په تفسير کي درج کړی دی او هغه صحيح طويل حديث يې صرف نظر ګرځولی دی. آيا امام مظهري به تطبيق د دغه لنډ حديث چې ده دلته راوړی دی د هغه حديث صحيح طويل سره وکړای سي که څرنګه، هذا ماعندي والله اعلم بالصواب في هذا الباب.

فائده: پوه سه چې مسخ جزوي په امت مرحومه کي واقع سوې ده (۱) د ابي علقمه رحمه الله روايت دی چې زه په يوه قافله کي شامل وم، نو قافلې والو يو سړی آمر ګرځولی و چې د هغه په امر به يې يو ځای اړول او د هغه په امر به يې کوچ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کاوه، نو یو ځای موږ واړول. خو دا زموږ امر و حضرت ابوبکر رضی الله عنه او حضرت عمر رضی الله عنه ته دې ښکنځل کول موږ دې منع کړی لکن زموږ په خوله یې عمل نه کاوه، نو موږ دې غمجن شوو. نو یو شپه موږ یو ځای اړولي وه چې سهار سو لمونځونه مو وکړه هر سړي پر خپل راحله باندې بار باندې کړی موږ منتظر وو چې اوس به امر اعلان وکړي، خو اعلان تر وخت وځنډېدی، نو موږ ورغلو چې په امر څه سوي دي. نو موږ چې ورغلو دی چار زانو ناست و او پښې یې په پټو پټې کړي دي موږ چې پوښتنه وکړی، که ګورو چې پښې یې د سرکوزي وي. نو دی له اوښه راوغورځېدی درې واړه یې د سرکوزي ناري ووهلې او سر تر پایه سرکوزی وګرځېدی، او میدان یې کړه دښت ته وختی. کذا في روضة العلما..

(۲) شیخ دهلوي رحمه الله په شرح کي د مشکوٰة راوړي دي چې یو محدث عالم ته په یو صحیح حدیث کي د علیه الصلوة والسلام "کیف لا یخاف من وضع راسه یعني في السجدة قبل الامام او رفعه قبله ان یجعل راسه حمار" شک پیدا سوی و چې څرنګه به یې سره د خره ګرځي، نو په قصده یې بل سړی یعني شاګرد دمخه کړی او دې محدث به قصداً وضع او رفعه تر امام دمخه کوله چې لمونځ یې وکړی په اندازه کي یې وکتل مخ او سره یې د خره و چابک یې مخ پټ کړی کورته ولاړی، وروسته به یې لمونځ او درس په حجاب کي کاوه هیڅ طالب نه یې مخ نه ورښکاره کاوه. لکن څه وخت چې به یو طالب د حدیثو کتابونه خلاص کړه او له ده څخه به یې اجازه او رخصت غوښتی، نو دې استاذ به هغه فارغ شده طالب وخپل خلوت ته ور وغوښتی او مخ به یې ورښکاره کړی، او دا به یې ورته وویل چې درورہ د پر فهم کوه چې په احادیثو نبویه وو کي شک په زړه کي درونه ګرځوي او خپل قصه به یې ورته ورته وکړه.

أَوْ نَلْعَنَهُمْ كَمَا لَعَنَّا أَصْحَابَ السَّبْتِ ۚ وَكَانَ أَمْرُ اللَّهِ مَفْعُولًا ﴿٤٧﴾

او یا به موږ لعنت وکړو پر دوی لکه چې موږ لعنت کړی و پر اصحابو د شنبې د ورځې، یعني الیهود الذین منعوا من صید السمک یوم السبت، نو دوی هغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بنکار نه پریښوی. نو موږ پر هغو لعنت نازل کړی چې سرکوزان او بیزو ګان سوه په زمانه کې د داؤد علیه السلام.

دروښ وایي: چې تفصیل د لعنت د یوم السبت موږ په پوره ډول راوړی دی د سورة بقره ددې آیت په تفسیر کې "ولقد علمتم الذین اعتدوا منکم في السبت فقلنا لهم کونوا قردةً خاسئین ؕ" نو ددې تفسیر ایوبي د مذکوره آیت وتفسیر ته رجوع وکړئ فلاحاجة الی الاعادة.

او دی امر د خدای ﷻ نافذ او کېدونکی چې څوک یې مانع او ردونکی نه سي کېدای.

دروښ وایي: چې لعنت پر اصحاب السبت باندې یواځې پر ژبه د داؤد علیه السلام و. نو مظهري چې عیسی بن مریم هم ورسره راوړی دی لیس کما ینبغي لان لعنت اصحاب السبت لیست في زمن عیسی علیه السلام بل هو محصور علی زمن داؤد علیه السلام واللعنة علی لسان عیسی علیه السلام لعنة اخری فتامل.

دروښ وایي چې عدم مراعات د اوامرو د خدای ﷻ او اجتناب له هغو کارو څخه چې خدای ﷻ معصیت بللی وي سبب د غضب الهي ګرځي او د عذاب الهي په دنیا کې کم في اصحاب السبت وغیرهم.

له ابن احمد المؤذن څخه روایت دی چې ما طواف کاوه د بیت الله شریفې یو سړی مې ولیدی چې د کعبې شریفې پوښ یې ټینګ نیولی و. او دا یې ویله اللهم اخرجني من الدنیا مسلماً او دغه دعاء یې مکرره ویله بل یې هیڅ دعاء نه کوله. نو ما ورته وویل چې تاولي دغه یوه دعاء. ټینګه کړې ده. نوري دېرې دعاګانې هم ستا ولي هغه نه کوې؟ نو هغه سړي راته وویل که چېرې ته زما په قصه خبر سې، نو ما به معذوره وبولې په دا یوه دعاء کې. نو ما ورته وویل چې ستا قصه څه شی ده. نو دې سړي راته وویل چې زما دوه ورونه وه. مشر ورور مې مؤذن و ځلو ېښت کاله ېښله اجرته یعني احتساباً لله. نو وخت چې قریب الموت سو نو یې وویل چې قرآن مجید راته راوړئ. نو زموږ دا خیال سو چې مړی په تبرک په قرآن مجید سره کوي، نو یې قرآن شریف په لاس کې ونیوی واشهد علی نفسه من حضر انه بریئ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مما فيه ثم تحول الى دين النصرانية فمات على النصرانية، نو چې هغه مو ښځ کړی، بيا مې دا بل ورور دهرڅ کاله اذان وکړی چې ناجوړی سو په وخت کې د زکندن، نو دې ورور مې هم د هغه مشر ورور لاره اختيار کړه او له قرآن مبارک څخه بېزار سو او دين د نصرانيت يې مختار کړی، نو پر نصرانيت مړ سو. نو زه هم بېربوم چې زه هم پر نصرانيت مړ نه سم، نو ما هم له دې سببه دا يوه دعا، تينګه کړې ده، اللهم اخرجني من الدنيا مسلماً، نو احمد مؤذن وايي چې ما و هغه سړي ته وويل چې ستا هغه دوو ورونو په دنيا کې څه عادت درلودی؟ ده راته وويل چې د هغو دا عادت و چې په ژوند کې به په ښځو پسې وه د زنا، لپاره او د په هلکانو به پسې وه د لواطت لپاره، اللهم اعذنا من هذين الفعلين الخبيثين بحرمة سيد الثقلين صلى الله وعلى آله وصحبه اجمعين.

إِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهٖ

په تحقيق خداى ﷻ نه بخښي هيڅ چاته شرک بالله،

پوه سه: چې ددې معنا داده چې سړی پر هغه شرک باندې مړ سي او که چېرې له شرک څخه توبه وکاږي او ايمان راوړي، نو هغه سابق شرک وربخښل کېږي په دې کې د مذاهبو اربعه وو اتفاق دی د صحابه کرامو ﷺ "لان التائب من الذنب كمن لاذنب له" ای ذنب کان، ويدل عليه قوله تعالى "قل للذين كفروا ان ينتهوا يغفر له ماقد سلف"

فائده: شريک وخداى ﷻ ته نيول دوه قسمه دی يو شريک دی په وجوب الوجود کې لکه مجوسيان چې وايي عالم لره دوه خدايان واجب والوجود ستة، يو خالق د ښو شيانو دی لکه انسانان او عذايي موادو چې دوی يې يزدان بولي، او بل پيدا کونکی د بدو شيانو دی لکه ماران لړمان درندگان وغيره وهغه ته دوی اهرمن او په بل روايت يې شيطان بولي، او بل شريک وخداى ﷻ ته په عبادت نيول دي لکه مشرکان د مکې يا مشرکان د هند وغيرهم.

سوال: که يو سړی په غير د شرک کافر و لکه يهود او نصارى او پر هغه دين مړ سو، نو هغه خداى ﷻ بخښي؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: یهود او نصارٰی که څه هم ظاهراً وخدای ته شریک نه وایي چونکه عزیر ابن الله بولي او نصارٰی عیسٰی ابن الله بولي، نو دوی هم په حقیقت کي مشرکان دي.

سوال: د مشرکي ښځي سره خو نکاح نه ده روا، او سره ددې چي د اهل کتابو د ښځو سره د مسلمان نکاح رواه ده اجماعاً؟

ځواب: عدم جواز د نکام د مشرکي ښځي هلته دی چي شرک ظاهري ولري، او د اهل کتابو د ښځو څو شرک معنوي او حقیقي دی نه شرک ظاهري والفرق بین.

وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَآءُ ۚ

او بخښي خدای ﷻ ماسوی له شرک څخه که صغیره وي که کبیره وي، په خط - یې کړې وي یا په قصد که څه هم بېله توبې مړ سي، لکن هغه چاته چې د خدای ﷻ د بخښي اراده ورته وسي.

پوښتنه: تاولي تعمیم وکړی که څه بېله توبې مړ سي؟

ځواب: دا تعمیم له تقیید څخه د "من یشاء" وفهمېدی، ولي چي مذنب او ګناه کبیره والا چي توبه وکاږي هغه په قرارد "التائب من الذنب کمن لا ذنب له" وتقیید نه ضرورت نه لري لکه د شرک سره سره چي هیڅ عمل صالح فائده نه کوي، وجه د رد یې داده چي که چېرې دغسي وایي، نو قید ته د مشیت څه ضرورت و، نو په دې آیت کي رد پر مرجیه ولي دی. ولي خو دوی پر خدای ﷻ بخښه واجبه بولي، او دوی وایي چي سره د ایمانه هیڅ ګناه ضرر نه لري لکه سره د شرکه چي هیڅ عمل صالح فائده نه لري، وجه د رد پر مرجیه داده که داسي وای لکه دوی چي وایي، نو وقید ته د لمن یشآء فائده نسته، ولي چي خو دوی بخښنه پر خدای ﷻ واجبه بولي، او داغه رنګه پر معتزله وو باندي هم رد وسو چي دوی وایي تعذیب د مؤمن مرتکب د کبائرو چي بې توبې مړ سي پر خدای ﷻ واجب دی دلیل د رد یې دادی چي ددې آیت له سوق څخه صراحةً معلومه سوه چي مشرک چي بېله توبې له شرک څخه مړ سي د شرک ګناه یې نه وربخښل کېږي او ځای یې ابدي دوزخ دی. نو مؤمن مذنب چي بېله توبې له ذنب څخه مړ سي ګناه یې نه وربخښل کېږي او ځای یې ابدي دوزخ دی، نو فرق په منځ کي د مشرک بې توبې او د مؤمن مذنب بې توبې څه دی. او مورږ نه پوهېږو چي معتزله به

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ددغه آیت څه ترجمه کوي؟ "ویغفر مادون ذالک لمن یشاء" او دغه رنګه په دې آیت سره رد دی پر خوارجو چې د هغو مذهب دادی "کل ذنب کبیرة شرک وصاحبه مخلد في النار" وجه الرد: له ابن عمر رضي الله عنهما څخه په صحیح سند روایت دی چې دی وایي چې موږ به له طلب څخه د مغفرت و اهل کبائرو نه چې بې توبې به مړه سوه ځان ساتی، یعني دعاء د مغفرت به مو نه ورته کول، چې دا آیت نازل سو "ویغفر مادون ذالک لمن یشاء" او له علیه الصلوة والسلام څخه مو دا هم واورېدل "انې ادخرت دعوتي شفاعتي لاهل الکبائر من امتي" نو موږ له زړونو څخه هغه پخوانۍ خیالات ووتل او امید د مغفرت و اهل کبائرو نه چې بې توبې مړه سي پیدا سو.

دروېش وایي: چې بغوي رحمه الله په نقل د کلبي رحمه الله وایي چې دا آیت په شان کې د وحشي چې د حضرت حمزه سید الشهداء رضي الله عنه قاتل و چې دغه وحشي د احد په جنګ کې دی مبارک په شهادت ورساوه نازل سوی دی.

پوه سه: چې دغه وحشي په مکه کې د یو چا مریی و او دده د مالکانو پلار حضرت حمزه رضي الله عنه په بدر کې وژلی و، نو د وحشي مالکانو وده ته وویل که تا حمزه مړ کړی موږ به تا ازاد کړو، نو وحشي چې حمزه شهید کړی مالکانو یې وفاء په وعده ونه کړه او دی یې نه کړی آزاد، نو وحشي و علیه الصلوة والسلام ته خط ورواستاوه چې زه پر خپل کره پښیمانه یم او اسلام ته مې شوق کېږي لکن د اسلام مانع مي هغه آیت دی چې ته په مکه مکرمه کې وې او پر تاباندې نازل سوی و او ما اورېدلی و "والذین لا یدعون مع الله الها آخر ولا یقتلون النفس التي حرمها الا بالحق ولا یزنون" نو ما خو د خدای عزوجل سره الهة اخرې بللی دی، او قتل نفس بغیر الحق مي هم کړی دی او زنا مي هم کړې ده، نو که دغه آیتونه نه وای ما ایمان راوړی فنزل "الا من تاب وعمل صالحا" نو دا آیت علیه الصلوة والسلام ور واستاوه وحشي چې ووایه، نو علیه الصلوة والسلام ته یې نوشته کړه چې په دې آیت کې خو سخت شرط سته یعني وعمل صالحا زه په ځان باور نه لرم چې زه به عمل صالح وکړم، غرض یې دا و چې د عمل صالح لمن خو ډېره فراخه ده تر دې به زه وګرای سم او که نه، بیا دا آیت نازل سو "ان الله لا یغفر ان یشرک به ویغفر مادون ذالک لمن یشاء" نو علیه الصلوة والسلام دا آیت ورواستاوه وحشي چې ووایه بیرته یې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورته نوشته کړه په دې آیت کې مغفرت مشروط په مشیت پورې د خدای ﷻ دی، نو زه نه پوهیږم یقیناً چې زما د ګنهو د بخښنې سره به د خدای ﷻ مشیت او اراده وي او که نه. بیا دا آیت نازل سو "یا عبادي الذین اسرفوا علی انفسهم لاتقنطوا من رحمة الله ان الله یغفر الذنوب جمیعاً" چونکه په دې آیت کې قید او شرط نه و، نو وحشي سره د څو کسو نورو چې دده اندیوالان وه ومدینې منورې ته راغله او صادقانه ایمان یې راوړی، او علیه الصلوة والسلام یې ایمان قبول کړی، او بیا علیه الصلوة والسلام د وحشي څخه کیفیت د حمزه ﷺ د قتل وپوښتی، وحشي چې کیفیت د حمزه ﷺ د قتل خیګر خونه واقعه ورته بیان کړه، نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل "ویحک غیب وجهک عني، نو وحشي شام ته ولاړی تر مرګه پورې دورې و.

پوښتنه: علیه الصلوة والسلام و وحشي ته وویل "غیب وجهک عني" ولې؟

ځواب: له دې سببه یې ورته وویل چې دده په هره پلا لیدلو سره ځیګر خونه قتل د سید الشهداء ورپیاد نه سي.

فائده: وحشي وروسته بیا یو کار وکړی چې مسیلمة الکذاب چې د علیه الصلوة والسلام په عصر کې یې د نبوت دعوه کړې وه د علیه الصلوة والسلام تر وفات وروسته یې په یو جنګ کې دغه مسیلمة الکذاب قتل کړی، نو وحشي به ویل چې دا مکافات دی د حضرت حمزه ﷺ د قتل.

پوه سه: چې په حدیث شریف کې راغلي دي په قول د حضرت علي ﷺ چې ده وویل "هذه الآیة ارجی آیة في القرآن" یعنې دا آیت د امید لوی آیت دی په قرآن مجید کې یعنې قوله تعالی "یاایها الذین اسرفوا علی انفسهم لاتقنطوا من رحمة الله ان الله یغفر الذنوب جمیعاً" لکن دروېش وایي چې دا قضیه مهمله په قوت کې د جزئیت ده. نو دا سوال نه پیدا کېږي چې دا څو عین مذهب د مرجیه وو دی کمامر سابقاً فتدبر.

وَمَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدِ افْتَرٰٓى اِثْمًا عَظِيْمًا ﴿۴۸﴾

او که چا شرک مختار کړی په خدای ﷻ سره، نو پر خدای ﷻ یې لوی درواغ او بنکاره ګناه غوټه کړه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې معنا د "افتراء" افساد ده او په کذب او ظلم او شرک کې مستعمل دی علی ما في الصحاح للجوهري او "اثماً" منصوب مفعول مطلق دی، والتقدیر ارتکب الکذب والفساد کذباً وفساداً عظیماً یعنې چې د شرک په مقابل کې نور ګناهونه حقیر ګڼل کېږي، نو ځکه شرک قابل د عفو الهي نه دی بخلاف سائر الاثام په حدیث مروي کې د جابر ﷺ راغلي دي چې علیه الصلوة والسلام ویل "ثنتان موجبتان" دوه خصلته موجب د شي، نو یو سړي و علیه الصلوة والسلام ته وویل "ماالموجبتان؟ قال من مات لایشرک بالله شیئاً دخل الجنة ای اولاً او بعد حین، ومن مات یشرک بالله شیئاً دخل النار ای ابداً رواه مسلم"

دروښ وایي: چې ما وویل ای اولاً او بعد حین. لانه قد ثبت في الآحادیث النبویة الصحیحة ان بعض المذنبین من المؤمنین اذا لم یدرکه الشفاعة النبویة او الرحمة العامة الالهیة العامة یدخل النار حسب ما اراد الله.

پوه سه: چې ګناهونه درې قسمه دي، یوه ګناه داسې ده چې امید د بخښې پې نسته. وهو الشرک والکفر، او بله ګناه داسې ده چې بخښل کېږي، دا هغه ګناه ده چې په منځ کې د خدای ﷻ او بنده وي کترک الصلوة او الجماعة وهکذا سائر حقوق الله عز وجل من الاوامر والمنهیات، او بله ګناه داسې ده چې خدای ﷻ پې نه پرېږدي وهو ظلم العباد بعضهم بعضاً.

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ يُزَكُّوْنَ اَنْفُسَهُمْ

پوه سه: چې مخاطب علیه الصلوة والسلام دی او استفهام لپاره د تعجب دی ای اعجب یا محمد ﷺ او مراد له "الذین" څخه یهودان دي، آیا ته نه ګورې وهغو کسانو ته چې د ځانو پاکي بیانوي په خوله سره او په حقیقت کې پاک نه دي لکفرهم بمحمد ﷺ. یهودانو به ویل چې نحن ابناء الله واولیائه یعنې لکه زامن پر خدای ﷻ ګران یو او مورږ د خدای ﷻ دوستان یو او په بل عبارت به پې داسې ویل چې مورږ لکه کوچنې اولاد د خدای او پر کوچنې خو ګناه نسته.

پوه سه: چې لفظ د "الذین آه" عام دی که څه هم په شان کې د یهودانو نازل دی، خو هغه ناقص پیرانو او تګانو پیرانو ته هم شامل دی چې همېشه خپل بزرګي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بیانوي، او مرید انو ته ځان داسي په خیال ورکوي چې په اوسنۍ زمانه کې هغه لوی بزرګ دی، او په حقیقت کې د مرید انو د مالو لپاره یې دام درولی وي.

پوه سه: چې د ځان تزکیه د کبر او عجب علامه ده، لکن دوی نه پوهیږي چې مشک آنچه خود ببوید نه آنکه بګوید، عطاء رحمه الله.

مسئله: لکه د خپل ځان تزکیه چې نه ده روا، داغه رنګه د بل چا تزکیه هم نه ده روا ای الحاکم الجازم به الا علی حسن الظن بالشخص لان مالکل احد من القرب الی الله والثواب عنده تعالی لایعلمه الا الله. ولهذا قال الله تعالی ولاتقف مالیس لک به علم. لکه بعض جاهل مریدان چې خپل شیخ او پیر په خپلو ټولو حالاتو خبر بولي او خپل شیخ ته حاضر او ناظر وایي سبحانک هذا بهتان عظیم وکذب بواح.

بَلِ اللّٰهُ يُزَكِّيْ مَنْ يَّشَآءُ

بلکې خدای ﷻ حکم په طهارت کوي هغه چاته چې خوښه یې سي لکه انبیاء علیهم السلام والملائکة المقربون، او یا معنا داده چې خدای ﷻ پاکوي له ګناهو ځخه یعني په مغفرت سره هغه څوک چې اراده د طهارت ورته ولري.

فائده: له حسن بصري رحمه الله ځخه چا پوښتنه وکړه چې یو سړی په هوا الوزي، نو دا حتماً د خدای ﷻ دوست دی، حسن رحمه الله ورته وویل چې مرغان ټوله په هوا الوزي، بیا هغه ورته وویل چې څوک چې پر اوبو ځي داد خدای ﷻ د ولایت دلیل دی، حسن رحمه الله ورته وویل چې د اوبو اوسیدونکي حیوانات ټوله پر اوبو رفتار کوي، نو هغه ورته وویل چې د خدای ﷻ د دوستۍ دلیل نو ستا په نهز څه شی دی؟ حسن رحمه الله ورته وویل چې د ولایت دلیل مطابقت د احکام شرعیه وو دی چې امتثال د اوامرو د خدای ﷻ دی او ځان ساتل دي له منهیاتو ځخه في ای لباس کانوا، یو محقق وایي ..... بیت

بر فلک برتر بود اسرار او شیئا لله شیئا لله کار او

علماء وایي چې د خدای ﷻ تر پیژندلو د ولي الله پیژندل ګران دی، ولي چې خدای ﷻ لره نه مثل سته په ذات کې او نه په صفاتو کې او خالق د علویاتو او سفلیاتو دی کما قال السعدي الشیرازي رحمه الله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

برگ درختان سبز درنظر هوشیار هر ورقی دفتریست معرفت کردگار

واما ولي الله فهو كسائر الناس في الظاهر فلا يعرفه عموم الناس.

مقوله: قدر زر زرگر شناسد قدر جوهر جوهری.

وَلَا يُظْلَمُونَ فَتِيلًا ﴿٤٩﴾

او ظلم نه کول کېږي پر دوی په قدر د یوه فتیل.

دروښ وایي: چې د روح البیان رایه داده چې ضمیر د "لایظلمون" راجع دی و هغو کسانو ته چې له موصول اول څخه مراد وه یعني الیهود کما مر تفصیله، نو روح البیان وایي ای یعاقبون بتلک الفعلة ولا یظلمون في تلک العقاب فتیل وهذا التوجیه موافق للسیاق کما لایخفی.

پوه سه: چې فتیل هغه تار دی چې د خورما د مند کي په منځ کي موجود وي، او ظلم په حق کي معاقب تر حق بالا عذاب ورکول دي، او په حق کي د مؤمن کامل نقصان تر ثواب لائق دده قال الله تعالی "لاظلم الیوم" او مظهري ګاهي وایي چې ضمیر راجع دی و "من یشاء الله تزکیته" ته یعني د دوی ثواب نه ورکموي یو فتیل، او فتیل ضرب مثل دی په حقارت او لږ والي کي.

دروښ وایي: چې دا ترجمه د مظهري رحمه الله که څه هم د سیاق بعید سره نه ده برابره لکن د سیاق قریب سره برابره ده، په اخیر کي مظهري وایي چې ضمیر د "لایظلمون" دي راجع وي "الناس اجمعین" ته چې له ما سبق څخه وفهمېدی آه.

دروښ وایي: چې دا توجیه د مظهري نه د سیاق بعید سره مناسبت لري او نه د سیاق قریب سره، بلکې د ربط سره د آیتو د قرآن کریم في هذا المقام هم مناسب نه ده والله اعلم.

انْظُرْ كَيْفَ يَفْتَرُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ ۖ وَكَفَىٰ بِهِ إِثْمًا مُّبِينًا ﴿٥٠﴾

وګوره ته اې محمد ﷺ څرنګه درواغ وایي "یهودان" پر خدای ﷻ باندي او بس دي دوی لره دغه درواغ پر خدای ﷻ ویل ګناه ښکاره.

پوه سه: چې د یهودانو یوه عقیده خو دا وه چې موږ زامن د خدای ﷻ یو او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دوستان د خدای یو نو په ورځ د قیامت به موږ ته هیڅ عذاب نه وي، نو دا دعوه د بنوت یعني زوم والي که پر حقیقت حمل کوې، نو حقیقت بنوت خو پر خدای ﷻ محال دی او که یې مراد دا وي چې کالابناء چې احباء یې عطف تفسیر سي، نو دا دعوه هم محاله ده، ولي چې سره له کفره سړی د خدای ﷻ دوست نه سي کېدای او دوی اول په تورات کافران دي حیث کتموا وبدلوا ما في التوراة من نعوت النبي المبعوث في اخیر الزمان وهو محمد ﷺ ثم کفروا بالقرآن ومع ذالک کیف یکون احباء الله تعالی. او بله دعوه د یهودانو داده چې خدای ﷻ زموږ د ورځې ګنهونه د شپې رابخښي او د شپې ګنهونه مو د ورځې رابخښي او دا هم درواغ دي.

پوه سه: چې جمله د "وکفٰی به" حال ده له فاعل څخه د "یفترون" په تقدیر د قد، ولي چې په نحوه کي وایي ماضي چې حال واقع سي قد یا ظاهر یا مضمر غواړي، وقد ذکر النحاة دلیل ذالک في کتب النحو.

دروېش وایي: چې صاحب د روح البیان په تفسیر کي د هغه آیت "بل الله یزکی من یشاء" یو اوږد تحقیق کړی دی چې دا تزکیه پر دې موقوفه ده چې سړی د یو شیخ مقتداء صاحب العلم بالعلوم الشرعیة مرید وګرځي. لکن په اخیر کي یې ویلي دي وهذا في هذا الزمان کالکبریت الاحمر.

دروېش وایي: چې صاحب د روح البیان چې په سنه ۱۱۲۷ هـ کي وفات سوی دی وایي چې مثل دداسي شیخ مقتداء کالکبریت الاحمر.

دروېش وایي: چې زموږ په زمانه کي به داسي شیخ کامل او مکمل صاحب الشریعة والطریقة سړی چېرې پیدا کړې اللهم الا نادراً سنه ۱۴۲۷ هـ ق.

پوه سه: چې مفسران د کتاب الٰهي په یوه خوله وایي چې کعب بن الاشرف الیهودي د ځان سره اویا کسه وروسته تر واقعې د احد مکې مکرمې ته بوتله تاچه د مکې د قریشو سره چې مشري یې د ابو سفیان په غار ه وه معاهده وکړه پر جنګ د رسول الله ﷺ او د مسلمانانو سره او پر مدینه منوره یې یرغل وروړی او یهودانو هغه عهد او میثاق چې د علیه الصلوة والسلام سره یې کړی و چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مورِ او تاسي به جنګ نه سره کوو ماته يې کړه. نو کعب د ابو سفيان پر کور واړول او ابو سفيان يې د هر اعزاز او احترام وکړی. او نورو ملګرو يې د قريشو پر کور واړول. نو ابو سفيان و کعب ته وويل چې تاسي خو اهل کتاب ياست او محمد هم اهل کتاب دی، نو ستاسي په دوستي په مقابل کي د محمد باور نه لرم امکان لري چې تاسي به مورِ ته چم کوئ او د محمد دوستان به ياست په حقيقت کي. ابو سفيان ورته وويل چې هغه وخت زه په تا باور کوم چې زمورِ دغو دوو بتانو ته به سجده کوې او ايمان به پر راوړې، نو کعب بن الاشرف هم هغسي وکړه. وروسته کعب ملعون و قريشو ته د مکې وويل چې د هرش کسان دي ستاسي او د هرش زمورِ دي سره غونډه سي او خپلي سينې دي د کعبې پر دېوالـه ومښلوي او په رب د کعبې به قسم اخلي چې مورِ به په په اتفاق سره پر محمد او مسلمانانو حمله کوو. نو دا آيت نازل سو.

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ اُوْتُوْا نَصِيْبًا مِّنَ الْكِتٰبِ يُؤْمِنُوْنَ بِالْجِبْتِ وَالطَّاغُوْتِ

آيا ته نه ګورې اې محمد ﷺ "والرؤية علمية والاستفهام للتعجب" وهغو کسانو ته چې ته ورکړه سوې وه برخه د کتاب يعني تورات چې کعب بن الاشرف او ملګري دده مراد دي چې دوی ايمان راوړی پر جبت او طاغوت باندي.

پوه سه: چې جبت او طاغوت د دوو بتانو نومان دي چې قريشو به يې عبادت کاوه من دون الله قاله عکرمه رضي الله عنه.

دروښ وايي: چې ددې حديث هغه چې مورِ په شان نزول کي ددې آيت ذکر کړه، او ابو عبيده رحمه الله وايي چې جبت او طاغوت د هر معبود نومان دي چې عبادت يې من دون الله کېږي. لکن دا توجيه له قانونه خلاف ده لان العطف يقتضي التغاير بين المعطوفين.

دروښ وايي: چې نور روايات نا تائيد شده په باره کي د جبت او طاغوت هم سته والله اعلم بحالها.

پوه سه: چې ابو سفيان و کعب بن الاشرف ته وويل چې تاسي خو اهل کتاب ياست او مورِ خو اميون يو، آيا مورِ خير يو که محمد ﷺ؟ کعب ورته وويل چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

محمد څه وايي او څه کوي؟ ابو سفيان ورته وويل چې دی وايي معبود يو دی او زمونږ اصنام باطل بولي او قطع د وصله رحمي کوي او څوک چې دده دغه خبره نه منې هغه وژنې او د بيت الله شريف حرم يې پريښو. نو کعب ورته وويل چې ستاسي څه شی دی. ابوسفيان ورته وويل چې مونږ د بيت الله شريف خدمت کوو او حجاجو ته اوبه د زمزم ورکوو او نور خدمتونه يې کوو او له مسکينه سره مرسته کوو، نو کعب ورته وويل چې تاسي خير ياست تر محمد، نو دا آيت نازل سو.

وَيَقُولُونَ يعنې کعب بن الاشرف واصحابه. **لِلَّذِينَ كَفَرُوا** يعنې ابو سفيان وقومه مشرکي مکة. **هَٰؤُلَاءِ** يعنې کفار مکة. **أَهْدَىٰ** پر هدايت او راه راست دي. **مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا** ای محمد ﷺ واصحابه واتباعه. **سَبِيلًا** ﴿۵۱﴾

د دين له لاري.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ لَعَنَهُمُ اللَّهُ ۖ وَمَن يَلْعَنِ اللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُ نَصِيرًا ﴿۵۲﴾

دغه کسان يعنې کعب و اصحابه هغه کسان دي چې خدای ﷻ پر دوی لعنت کړی دی يعنې له خپل رحمت عامه څخه يې لهرې ساتلي دي او پر چا چې خدای ﷻ لعنت وکړي ته نه سې پيدا کولای "ای مخاطب غير معين" هغه ملعون الهي لره کومک کونکی چې د خدای ﷻ له هغه عذاب څخه يې خلاص کړي.

أَمْ لَهُمْ نَصِيبٌ مِّنَ الْمُلْكِ فَإِذًا لَّا يُؤْتُونَ النَّاسَ نَقِيرًا ﴿۵۳﴾

پوه سه: چې په دې آيت کې خدای ﷻ بيان کوي د يهودانو د حسد او بخل چې دا دوه وصفه بد ترين د خصالو مذمومه وو دي، ولې په بخل سره خپل مال وبل ته ورکوي او د حسد له سببه محبت د زوال نعمت د له بله غواړي.

فائده: "ام" په دې آيت کې منقطعه دی چې په معنا د "بل" او همزه دی کلمه د "بل" لپاره د انتقال ده يو مضمون بل مضمون ته او همزه يې لپاره د انکار دی له دې سببه چې يهودانو ته نصيب من الملک پيدا سي لکه يهودانو چې به ويل سيصير الملک اليهم، وجه د انکار يې داده چې ملک او رياست لره لوازم سته چې هغه په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یهود و کي نسته ولي رئیس او بادشاه د قوم باید په غایت سخاوت سره موصوف وي پر خوار او غریبو د رعیتو او په یهودو کي اعلی درجه د بخل موجوده ده.

ترجمه: آیا یهودو لره به پیدا سي یوه ادنی برخه د ریاست. یعني داسي نه سي کېدای ولي که دوی ته یوه برخه د ریاست و رسېږي دوی به نه ورکوي هیڅ چاته برابر د حقیر شي چي نقیر دی لکمال بخلهم فکیف یعطیهم الله الملک.

پوه سه: چي نقیر یو کوچنی غار دی د خورما د منډکي په شا کي وهو مثل لغایة الحقارة کالفتیل، نو چي دوی په وخت کي د ریاست نقیر وچاته نه ورکوي نو د ذلت او مسکنت په وخت کي به چاته څه شی ورکړي، نو گویا د سعدي شیرازي د بیت مصداق دوی دي.

بخیل ار بود زاهد بحر وبر بهشتی نباشد بحکم خبر

أَمْ يَحْسُدُونَ النَّاسَ

پوه سه: چي کلمه د "ام" دلته هم منقطع ده په معنا د بل آه ده. او ابن عباس رضي الله عنه او حسن بصري رحمه الله وایي چي له "الناس" څخه یو ازي علیه الصلوة والسلام مراد دی "حسدوه علی ما احل الله من کثرة النساء حیث قالوا لیس هم محمد الا النکاح" او بعض مفسران وایي چي مراد له "الناس" څخه علیه الصلوة والسلام او ټوله اصحاب مراد دي.

دروېش وایي: وهو الاوفق بلفظ الناس في العرف او حسد یې ددوی سره پر نبوت او پر قرآن او پر زیاتوالي د عزت ددوی او فتح د قرې وو او نصرت الهي یوماً فیوماً.

دروېش وایي: چي دا شیان په حسد سره دېر لائق تر کثرة النساء.

عَلَىٰ مَآ اٰتٰىهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ

چي دوی ته خدای ورکړي دي خپل له فضله څخه وهو الامور المذکورة آنفاً.

دروېش وایي: چي ضمیر د جمع هم پر دې دلالت کوي چي حسد د یهودانو د علیه الصلوة والسلام او د ټولو اصحابو سره و، نه یو ازي د علیه الصلوة والسلام سره، او قتادة رحمه الله وایي چي مراد له "الناس" څخه عرب دي ولي چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای ﷻ نبي محمد ﷺ په دوی کي او قرآن يې په عربي ژبه نازل کړی، دروښ وايي چې دا توجيه هم مناسبه ده.

فَقَدْ اٰتَيْنَآ اٰلَ اِبْرٰهِيْمَ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَاٰتَيْنٰهُمْ مُّلْكًا عَظِيْمًا ﴿۵۴﴾

نو په تحقيق موږ د آل ته د ابراهيم چې د عليه الصلوة والسلام اسلاف او نيکه ګان دي، والمراد من آل ابراهيم اسماعيل او اسحاق او يعقوب او نور انبياء چې چې د يعقوب زامن وه، کتاب يعني التوراة والانجيل والزبور.

پوه سه: چې لام د کتاب لپاره د جنس دی نو دغو ټولو کتابو ته شامل دی او ورکړی مو و حکمت يعني نور علوم ماسوی له کتاب څخه. او مو ورکړی و دوی ته سلطنت ډېر لوی، کما ملک يوسف وطالوت و داؤد وسليمان عليهم السلام وغيرهم من اولاد ابراهيم عليه السلام. نو خدای ﷻ ومحمد ﷺ ته هم کتاب او نبوت ورکړی دی لکه هغو ته بلکې افضل تر هغو، نو تاسي ولي حسد ورسره کوئ، نو ددې آيت ربط د ماقبل سره يعني "ام يحسدون الناس آه" داسي دی چې که باعث ستاسي د حسد د عليه الصلوة والسلام او د اصحابو سره دا وي چې پر عليه الصلوة والسلام او اصحابو خپل فضل کړئ بالامور المذکورة من قبل. نو دا خو باعث د حسد نه دی، ولي چې "قد آتينا آل ابراهيم آه" او ابراهيم ستاسي د اسلافو هم جد دی او د عليه الصلوة والسلام هم جد اعلی دی فمالکم کيف يحسدون ايها اليهود مع محمد ﷺ.

دروښ وايي: چې تاريخ وايي چې د سليمان عليه السلام درې سوه د ولور ماينې وې او اووه سوه يې مينځيانې وې چې ټولې زړ کېږي د وطي لپاره. او د داؤد عليه السلام سل ماينې وې. او د عليه الصلوة والسلام په دغه وخت کي نهه ماينې وې. نو تاسي ولي پر عليه الصلوة والسلام عيب د کثرة الزوجات وياست

دروښ وايي: چې دغه خوابونه چې خدای ﷻ يهودانو ته ورکړه، نو يهودان له اعتراض څخه پر عليه الصلوة والسلام او اصحابو ساکت سوه.

فَمِنْهُمْ مَّنْ اٰمَنَ بِهٖ

نو بعض له يهودانو څخه ايمان راوړی و پر عليه الصلوة والسلام لکه عبدالله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بن سلام او دده ملګري.

پوه سه: چې کلمه د "فا" لپاره د تفصیل د یهودانو د حال ده.

وَمِنْهُمْ مَّنْ صَدَّ عَنْهُ

او بعضو له یهودانو څخه ډډه وکړه له ایمان راوړلو څخه پر نبي الله.

وَكَفٰى بِجَهَنَّمَ سَعِيْرًا ۝

او کافي دی دغو یهودانو لره چې د ایمان راوړلو څخه یې منعه وکړه جهنم دوزخ سوځونکی دوی لره، یعني که چېرې دوی ته عذاب في الدنیا هم ورنه کړل سي خو د جهنم عذاب یې بس دی، او که عذاب په دنیا کي ورکړه سو، نو دوی به خسر الدنیا والآخرة وي.

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِنَا سَوْفَ نُصْلِيْهِمْ نَارًا

په تحقیق هغه کسان چې کفر وکړي او منکر سي له آیتو څخه چې قرآن عظیم الشان دی ژر دی چې موږ به دوی داخل کړو اوور ته یعني جهنم ته په ورځ د آخرت.

پوه سه: چې دا آیت بیان دی د ماقبل آیت یعني "ومنهم من صد عنه" تر پایه پورې.

دروښ وایي: چې روح البیان وایي چې په دې آیتو کي یعني له "الم تر الی الذین اوتوا آه" څخه تر "کفی بجهنم" پورې داسي په زړه پورې بیان کړی دی چې خدای ﷻ په آیات سابقه وو کي د یهودانو عقائد زائغه او اخلاق سیئه و تولي دنیا ته رسوا کړه اول یې جهل شدیده ددوی بیان کړی چې عبادت د بتانو افضل دی تر توحید او تر عبادت د خدای وحده کمامر تفصیله في ملاقات کعب بن الاشرف الیهودي ورفقائه مع ابو سفیان في مکة، دویم خدای ﷻ دوه غایة ذمیمه خویونه بیان کړه چې بخل او حسد دی، بخل دادی چې یو سړی وهیڅ چاته نه ورکوي یو شی بما آتاه من النعم حیث قال لا یؤتون الناس نقیراً، او حسد دادی چې تمنی ددې کوي چې خدای دي ومخالف ته د دوی هیڅ نعمت نه ورکوي، کما قال الله تعالی "ام یحسدون الناس" نو بخل او حسد په دې کي خو شریکان دي چې منع د نعمت له بله غواړي، لکن بخیل د خدای ﷻ نعمت پر ده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

باندي بل چاته نه ورکوي. او حاسد داغواړي چې خدای ﷻ دي نعمت خپل و محسود ته ورکوي فهما شر الرزائل. او سبب د دواړو دي بد و خویو جهل دی په کتب الهیه وو سره، قال السعدي الشیرازي رحمه الله.

شور بختان به ارزو خواهند	مقبلان را زوال نعمت وجاه
گرنه بیند بروز شپره چشم	چشمه آفتاب را چه گناه
راست خواهی هزار چشم چنان	کور بهتر که آفتاب سیاه

وقد قال العلماء الحسود لایسو.

دروېش وایي: چې حسد د چا و محسود ته تاوان نه کوي بلکې حسد کالحسک من تعلق به هلک، که د چا حسد سړي ته تاوان کولای دروېش ته به هیڅ نعمت الهي نه وای پاته سوای لکن د حاسد انو د حسد سره سره نعم الهیه پر دروېش روز افزون علی المزید دي الحمدلله، اوزه وایم.

هم یحسدونني وشر الناس کلهم	من عاش في الناس غیر محسود

او بخل چې ضد یې احسان دی داسي یو خوی دی چې انسان خو څه کوي حیوانان هم په احسان مسخر کېږي، وقد قیل بالبر یستعبد الحر، سعدي شیرازي وایي.

خورش دِه بکنجشک وکبک وحمام	که یک روزت افتنده یابی بدام
زر از بهر خوردن بود ای پسر	زبهر نهادن چه سنگ وچه زر

دروېش وایي: چې د معراج په حدیث کې راغلي دي چې آنحضرت ﷺ له دوزخ کتل کوله، نو یو سړی یې ولیدی په اور کې چې اور شاوخوا پر راګرځېدلی ولکن دا سړی یې نه مسه کاوه، نو علیه الصلوة والسلام له جبرئیل علیه السلام څخه پوښتنه وکړه چې دا سړی څوک دی چې اور یې نه مسه کوي؟ جبرئیل علیه السلام ورته وویل چې دا حاتم طائي دی، چې په تواریخو کې په غایت سخاوت او کرم سره شهرت لري، نو حاتم چونکه مشرک و، نو په دوزخ کې خو به وي لکن په سبب د سخا یې اور نه مسه کوي، نو جود او سخاء له سړي څخه لهړي کوي عذاب د دنیا او د عقبی وسبب لحصول الملک في الدنیا والعقبی انتهی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې پښتو ژباړه د کلام د روح البيان سره د زيادت د عاصي له خوا پای ته ورسېده.

كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُودُهُمْ بَدَّلْنٰهُمْ جُلُودًا غَيْرَهَا

هر وخت چې وسوځي پوستوکی ددوی يعنې د دوزخيانو، موږ ورېدلوو دوی ته نور پوستوکي غير له اولو پوستوکو تاچه عذاب يې نوی سي.

پوه سه: چې د "جلود" بدل به يا داسي وي چې هغه جلود بعينه پر بل صورت کي، او يا داسي چې له هغو پوستوکو څخه اثر د احراق زائل کړي تاچه بيرته اثر د احساس د عذاب پکښې پيدا کړي. قال ابن عباس رضي الله عنه "يبدلون جلوداً بيضا" يعني غير محرق لكه امثال د کاغذانو كما روى عنه البغوي رحمه الله.

له ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چې دا ايت په وړاندي د عمر رضي الله عنه وويل سو، نو معاذ بن جبل رضي الله عنه وويل چې زما سره ددې آيت تفسير سته "يبدل في كل ساعة مائة مرة" معاذ رضي الله عنه زياته هكذا سمعت رسول الله ﷺ، او بعض راويان د حديث وايي چې په يوه ساعت کي يې يو سل او شل واره وربدلوي، او بعض راويان وايي چې په يوه ساعت کي يې شپږ زره واره وربدلوي، او بعض راويان وايي چې په يوه ساعت کي يې اويا زره واره وربدلوي.

دروښ وايي: چې والاعتماد على رواية معاذ بن جبل، والعلم عند الله.

لِيَذُوقُوا الْعَذَابَ

تاچې دائم پاته سي دوی لره احساس د عذاب الهي.

إِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَزِيزًا حَكِيمًا ۝

په تحقيق سره خدای عزوجل غالب دی لا يمنعه شئ عما يريد، او کفارو ته عذاب ورکوي پر مقتضی د حکمت.

وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ خٰلِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ۖ

او هغه کسان چې ايمان يې راوړی وي پر خدای عزوجل په توحيد سره، او پر عليه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الصلوة والسلام باندې په نبوت سره او پر قرآن باندې بانه من عبد الله او اعمال صالحه یعنې موافق د شریعت سره یې هم کړي وي، ژر دی چې مونږ به دوی داخل کړو وجنتو ته چې بهېرې یه لاندې تر درختو د هغو جنتو ولې "یعنې څلور ولې" اوبه، شیدې، عسل، شراب او دوی به ابد الآباد په دغو جنتو کې چې نه به مرګ وي او نه ایستل له جنتو څخه.

لَهُمْ فِيهَا أَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ۖ

پوه سه: چې ابو سعید الخدري رضي الله عنه له علیه الصلوة والسلام څخه نقل کړی دی په تفسیر کې د "مطهرة" چې دا زوجات به پاکې وي له حیض، اودس مات، بولو، ګرنګو، ګروبو، له ولد څخه او له منې څخه.

وَنُدْخِلُهُمْ ظِلًّا ظَلِيلًا ۝

او مونږ به داخلوو جنتیان له په سایه کې.

پوه سه: چې "ظلیل" صفت مشبه دی لپاره د تاکید د "ظل" کقولهم یوم ایوم ولیل لئیل وما اشبه ذالک، نو د سایې معنا داده چې لمر یې نسي زائلولای بلکې همېشه به وي ولې چې په جنت کې لمر نسته.

پوښتنه: په جنت کې چې لمر نسته چې سړی د هغه په ګرمي ازار سي، نو فائده د ادخال د جنتیانو په ظل ظلیل کې څه ده، بله خبره داده چې په دنیا کې هغه ځای چې همېشه پر سایه وي نور د لمر نه ور رسېږي هوا یې بند بویه وي او تاوانې وي فما معنی وصف الجنة بالظل الظلیل؟

ځواب: قال امام الهمام فخر الدین الرازي رحمه الله في تفسیره الکبیر، چې بلاد د عربو چونکه په نهایته ګرمي کې دي هر ګرم وه، نو سایه ددوی په بلادو کې سبب د یو راحت ده، نو ظل کنایه ده له راحت څخه، نو معنا د آیت داده چې جنتیان به په راحت کې وي، او توصیف چې یې په ظلیل سره وکړی، نو یې معنا داده چې جنتیان به په نهایت راحت کې وي، کما ورد في الحدیث النبوي "السلطان ظل الله في الارض ای السلطان العادل راحة الله" په محکمه کې یعنې راحت دی له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رعیتو لپاره، قال امام الرازي رحمه الله هذا ما یمیل الیه خاطري.

دروښ وایي: چې په صحیح حدیث کې راغلي دي چې علیه الصلوة والسلام وویل چې په جنت کې یوه داسې درخته ده چې که پر آس سپور سړی په سایه کې د هغې درختې سل کاله رفتار وکړي نه یې سي قطع کولای، او که تاسې ددې تصدیق غواړئ، نو دا آیت ووایاست "وظل ممدود" او په جنت کې هغه نعمتونه ستر من الثمار والقصور والحور العین وغیرها چې نه د چا سترګو لیدلي دي او نه د چا غوږو اورېدلي دي، یعنې بالتفصیل او نه د چا پر زړه ورګرځېدلي دي یعنې تصور د هغو نعمتو هم چا نه دی کړی یعنې بالتفصیل که یې تاسې تفصیل غواړي له قرآن څخه نو د قرآن دا آیت ووایاست "فلا تعلم نفس ما اخفی لهم من قرة اعین" نو د یوې درې ځای د جنت خیر تر دنیا ومافیها، نو ددې تصدیق لپاره تاسې وویاست "فمن زحزح عن النار وادخل الجنة فقد فاز" وقال رسول الله ﷺ چې اهل الجنة یعنې د رجال جعد یعنې د سر وېښتان به یې کت کت وي چې دا د وېښتانو غایت حسن دی "جرد مرد" بدن به یې له وېښتانو خالي وي او د بې ږیرې هلکانو پر ډول به وي "لیس لهم شعر الا في الراس" وېښتان به یې ګرده بدن نه لري مګر پر دغو ځایو سر، ورځې او بانهو ګان، ولې چې ددغو ځایو وېښتان د نر لپاره زینت دی یعنې پر ځیګر، پښو، لاسو، بغلو، او څپو ځسه به یې هیڅ وېښته نه وي، ولې چې هغه زینت نه دی، او د ټولو جنتیانو قد به د آدم علیه السلام رنګه وي یعنې شپېته ګزه، او عمر به یې درویشت کاله وي، سپین زېبا رنګونه به یې وي، او زرغونه کالي به وي الی غیر ذالک من النعم.

فقیه ابو اللیث السمرقندي وایي که څوک دا مذکوره نعمتونه غواړي، نو پر پنځو شیانو دي دوام وکړي (۱) خپل نفس یعنې ځان به له ټولو ګنهو څخه منع کوي قال محقق الشعراء.

ونهی النفس بفرمود الله　　بایدت ترک هوا وترک گناه

(۲) په لږ دنیا دي راضي اوسي ولي چې ثمن د جنت ترک د دنیا دی، قال

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الشاعر این زن زانیه شوی کش دنیارا گر علي وار طلاقش ندهم نامردم

(۳) سړی به پر تولو عباداتو حریص وي چې شاید دا عمل به سبب د مغفرت او د دخول د جنت وي او شاید دا به وي، وهکذا علماء وایي "به بهانه نمی بخشد... وبه بهانه می بخشد" قال السعدي الشیرازي رحمه الله.

عمل باید اندر طریقت نه دم که سودی ندارد دم بی قدم

(۴) د صالحانو کسانو سره به محبت کوي او ددوی سره دي نشست او برخاست کوي، قال الشاعر:

نخست موعظه پیر مجلس این حرفست ....که از مصاحب ناجنس احتراز کنید

نو پر انسان لازمه ده چې مصاحب دي د اهل خیر او صلاح وي، ولې چې صحبت تاثیر لري، او بل دا چې یو صالح چې خدای ﷻ وبخښي بیا د نورو یارانو مصاحبانو شفاعت کوي، قال السعدي الشیرازي قدس سره،

امید است از آنان که طاعت کنند که بې طاعتانرا شفاعت کنند

(۵) له خدای ﷻ څخه دي ډېر خواستونه کوي چې ماته جنت راکړې او خاتمه مي پر ایمان وګرځوې، قال الشاعر،

غنیمت شمارند مردان دعا، که جوشن بود پیش تیر بلا

إِنَّ اللّٰهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمٰنٰتِ إِلٰى أَهْلِهَا

په تحقیق خدای ﷻ تاسي ته درکوي امانت ښیان وهغه چاته چې تاته یې امانت درکړی دی،

پوه سه: چې مفسران د قرآن عظیم الشان په یوه خوله ددې آیت شان نزول داسي بیانوي په عبارتو مختلفه وو سره، چې نبي کریم ﷺ کله مکه معظمه فتحه کړه او بنار ته د مکې داخل سو، نو عثمان بن طلحه د کعبې دروازه بنده کړه او کیلي یې د خان سره یوړه، او علیه الصلوة والسلام چې کیلي ځني وغوښتله عثمان چې هنوز کافر و منع یې وکړه او وه یې ویل چې که زه په دې پوهېدلای چې دی رسول د خدای ﷻ دی نو به مي کیلي نه وای ځني منع کړې،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نو علیه الصلوة والسلام و علي رضي الله عنه ته وویل ورسه کیلي په زوره ځني واخله، علي رضي الله عنه ورغلی د عثمان لاس یې ونیو او کیلي یې ځني واخسته او د کعبې شریفې خونه یې خلاسه کړه او ورداخل سو او دوه رکعته نفل یې پکښې وکړه دی چې راووتی عباس رضي الله عنه ورته وویل چې کیلي ماته راکړه تاچې لکه سقایه د زمزم چې زما په تصرف کښه سدانة د کعبې یعنې حفاظت د خونې د کعبې به هم زما سي یعنې کیلي به یې زما په تصرف کې سي: نو دا آیت نازل سو نو علیه الصلوة والسلام علي رضي الله عنه راوغوښتی او ورته وه یې ویل کیلي بیرته عثمان ته ورکړه او عذر د لاس پېچلو ورته ووایه، نو علي رضي الله عنه ورغلی عثمان ته یې اول عذر د لاس پېچلو ووایه او کیلي یې بیرته ورکړه، عثمان ورته وویل چې اول دي کیلي زما څخه په زوره واخستل او زهیر دي هم کړم او اوس عذر کوې او کیلي دي بیرته راوړه، نو علي رضي الله عنه دا آیت ورته تلاوت کړی یعنې چې کیلي بیرته تاته درکول په امر سره د خدای ﷻ دی، نو عثمان وویل اشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمد رسول الله، نو جبرائیل علیه السلام و نبي علیه السلام ته راغلی او ورته وه یې ویل سدانت د کعبې به د عثمان په لاس کې وي ابداً.

تاریخ د اسلام وایي چې څه وخت چې عثمان و مدیني منورې ته هجرت کاوه کیلي د کعبې مبارکې یې وخپل زوی شیبه ته وسپارل، نو کیلي د کعبې مبارکې به په لاس کې د عثمان د اولاد وي تر قیامته پورې.

دروښ وایي: چې مظهري رحمه الله علیه په ځای کې د هجرت داسې عبارت راوړی دی فلما مات عثمان دفع الی اخیه شیبة، والله اعلم بالصواب في هذا الباب.

په حدیث شریف کې په صحیح سند سره راغلي دي چې عمر بن الخطاب رضي الله عنه وایي چې علیه الصلوة والسلام د کعبې له خونې را ووتی او دا آیت یې وایه، عمر رضي الله عنه وایي فداه ابي وامي چې ما نه و اوربدلی دا آیت دمخه تر دغه نو ظاهره داده چې دا آیت د کعبې مبارکې په خونه کې نازل سو.

پوه سه: علماء رحمهم الله قدیماً وحدیثاً دا وایي چې په قرآني آیاتو کې اعتبار د عموم لره د لفظ دی خصوص ته مورد د اعتبار نسته، یعنې دا اوسنی آیت که

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څه هم په شان کې د کعبې د کیلی دی چې د عثمان په لاس کې وې، لکن چونکه لفظ د امانات عام دی، نو نور امانات هم پکښې داخل دي، له انس ﷺ څخه روایت دی قال قلما خطبنا رسول الله ﷺ الا قال لا ایمان لمن لا امانة له ولا دین لمن لا عهد له. ای الوفاء بالعهد" او په حدیث کې د بخاري په روایت د ابو هریره ﷺ یو له علاماتو څخه د نفاق دا ګڼل سوی دی "اذا اوتمن خان" یعنې چې امین وګڼل سي دی خیانت کوي یعنې اداء د امانت نه کوي.

پوه سه: چې امانت خاص په ودیعت پورې نه دی چې په پښتو یې امانت بولي چې د ودیعت معنا داده چې یو سړی وچاته نقود یا متاع وغیره کښېږدي او ورته ووایي چې هر وخت زما په کار سوه رابه یې کړې، بلکې امانت هر حق ته د چا چې پر چا باندې وي هم شامل دی او اداء یې واجب ده و اهل ته د هغه حق. مثلاً د یو سړی پر بل پور باندې وي دا پور امانت واجب الاداء دی، عاریت هم په امانت کې داخل دی مثلاً یو طالب علم له یو چا څخه کتاب عاریت یوړی دا هم امانت دی الی غیر ذالک من العواري فتدبر في امثلة الامانات.

وَإِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ ۚ

او چې تاسي حکم کوئ په منځ کې د خلګو تاسي به حکم کوئ په عدل سره، یعنې مطابق د شریعت غراء سره او مراعات د یو جانب به خلاف الشریعة نه کوئ په سبب د قرابت یا د رشوت وغیر ذالک، خواه سړی قاضي وي که حاکم وي یا محکم بین المتخاصمین وي.

پوه سه: چې حکم بالعدل هم له جملې څخه د امانات دی. او خلاف له هغه څخه خیانت دی.

فائده: دا جمله داخله تر هغه ایت لاندې ده "ان الله یامرکم. والتقدیر ان الله یامرکم اذا قضیتم وحکمتم بین الناس آه" له ابو ذر ﷺ څخه روایت دی چې ما علیه الصلوة والسلام ته وویل چې ما عامل او حاکم پر یو عمل وګرځوه، علیه الصلوة والسلام راته وویل "انک ضعیف" او دا عمل امانت دی او په قیامت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رسوايي او ندامت دی "الا من اخذها بحقها و ادی الذي علیه فیها" وفي روایت مسلم اني اراک ضعیفا" یعني قابل د اداء امانت د عمل دي بولم "واني احب لک ما احب لنفسي" او زما پر تا هغه شی پسرزو دی چي زما پر ځان پسرزو دی "لاتامرن علی اثنین ولا تولین مال یتیم" ته امارت مه کوه پر دوو کسانو او کفالت د مال د یتیم هم مه کوه، او وروسته یې زیاته کړې ده چي اطاعت د خدای ﷻ او د خدای د رسول ﷺ او د اولوا الامر هم امانت دی یعني په دې درو کي هم باید خیانت ونه کړل سي.

إِنَّ اللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُم بِهِۦٓ ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ سَمِيعًۢا بَصِيرًا ﴿٥٨﴾

په تحقیق خدای ﷻ ښه بولي هغه شی چي خدای تاسي ته نصیحت کوي په هغه سره په تحقیق خدای ﷻ اوریدونکی دی ستاسي د اقوالو او لیدونکی دی ستاسي د احوالو، والمراد بسمعه تعالی وبصره تعالی العلم بالمسموعات والعلم بالمبصران لا السمع بآلة الاذن ولا البصر بآلة العین لانه تعالی لیس بجسم ولا ذي اعضاء کما ثبت في کتب عقائد اهل السنة والجماعة.

پوه سه: چي د اعراب له لارې "نعم" فعل مدح دی او کلمه د "ما" نکره ده په معنی د شیئاً او "یعظکم" صفت د "مال" دی او ضمیر مجرور و "ما" ته رجع دی او مخصوص بالمدح یې محذوف دی، والتقدیر نعم شیئاً یعظکم به تادیة الامانة والحکم بالعدل وهذا الاخیر هو المخصوص بالمدح.

فائده جلیله: پوه سه چي دا آیت یعني "ان الله یامرکم ان تؤدوا الامانات آه" بیا تر دې ځایه پورې "ان الله نعما یعظکم آه" یو جامع آیت د تولو امورو شرعیه وو، والتفصیل چي معاملة د انسان به یا د خدای ﷻ سره وي او یا د نورو بندګانو سره او د ځان سره، ولا بد من رعایة الامانة في جمیع هذه الاقسام، قسم اول چي معامله د خدای ﷻ سره د هغه فعل د تولو ماموراتو د خدای ﷻ دی او پرهېز کول دي د تولو منهیاتو د خدای ﷻ قال العلماء وهذا الجزء لاساحل له.

قال ابن مسعود ﷺ الامانة في کل شئ لازمة في والوضوء والجنابة والصلوة والزکوة والصوم وغیر ذالک، مثلاً د ژبي امانت دادی چي ژبه به نه استعمالوي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په درواغو، غیبت، شیطانت، کفر، بدعت او په پوچ ویلو کې وغیرها. او امانت د سترګو به محرماتو ښځو ته په شهوت نه ګورې، او امانت د غوږو دادی چې رباب او نور ملاهي به نه په اوري او د فحش او د کفر خبرې به نه اوري وعلى هذا فقس جميع الاعضاء. حاصل يې دادی چې هر عضو به په هغه شي استعمالوي چې خدای ﷻ هغه عضو د هغه کار لپاره پیدا کړی وي، قال السعدي رحمه الله.

زبان از بهر شکر وسپاس — بغیبت نگرداندش حق شناس
گذرگاه قرآن وپند است گوش — به بهتان وباطل شنیدن مکوش
دو چشم از پی ضع باری نکوست — نه عیب برادر بود گیر دوست

او دوهم قسم چې رعایت د امانت د ټولو خلګو سره په هغه کې داخل دی رد د ودائعو او د عواریو او تطفیف په کیل او وزن کې به هم نه کوي. او د خلګو عیوب به نه پاڼي، او امراء به عدل کوي د رعایا وو سره او علماء به عدل کوي د عوامو سره یعنې علماء به عقائد حقه او اعمال شرعیه ور ښیي، او هغه اعمال به ور ښیي چې په هغو کې نفع د عوامو وي په دنیا او آخرت کې، او ماینه به د مهره سره په امانت ژوند کوي یعنې زنا، به نه کوي الی غیر ذالک، او دریم قسم چې امانت د انسان دی د خپل ځان سره هغه دادی چې مسلمان به هغه کار کوي چې دده نفع پکښې وي في الدین والدنیا، او له شهوت پرستی او غضب او سوء الخلق وغیرها څخه به ځان ساتي، وهذا معنی قول من اعطي له الکلم الجامعة رسول الله ﷺ "کلکم" راع وکلکم مسؤل عن رعیة، وقال لا ایمان لمن لا امانة له"

دروېش وایي: چې ګرانو مطالعه کونکو په دې تفسیر کې په باب کې د امانت خبرې راځخه اوږدې سوې، غرض مې نصیحت و تاسي ته خدای ﷻ دې په دارینو خوشحاله کړي هغه څوک چې د دروېش نصیحت په غوږو د رضا او محبت واوري حتی عمل هم په وکړي، حافظ شیرازي قدس سره وایي:

امروز قدر پند عزیزان شناختم — یارب روان ناصح ما از تو شاد باد

پند حکیم محض حق است ومحض خیر
فرخنده بخت آنکه بسمع رضا شنید

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي:

غرض نقشیست کزما یاد ماند — که هستی رانمی بینم بقائی
مگر صاحبدلی روزی برحمت — کند درحق این مسکین دعائی

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ

اې هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دی تاسي اطاعت او فرمانبرداري د خدای کوئ، او اطاعت کوئ د رسول چې محمد ﷺ دی، او د خاوندانو د امر پر تاسي باندې چې ستاسي څخه وي یعنې مؤمن وي،

دروښ وايي: چې "منکم" په قید سره د هغه "اولوا الامر" خارج سو چې مسلمان نه وي لکه په لویه وچه کې د هندوستان چې اولوا الامر مشرکین دي هغه اطاعت نه دی لازم، او په بعضو دولتو کې اولوا الامر امریکایان وي.

دروښ وايي: چې بعض مفسران وایي چې په دې باره کې راغلي دي چې علیه الصلوة والسلام پر یو لښکر خالد بن ولید ﷺ آمر ګرځولی و او په هغه لښکر کې عمار بن یاسر ﷺ هم و، نو دا لښکر روان و او هغه قوم ته ورسېدی چې دوی یې اراده درلوده، نو لښکر په سفیدو کې هغه ځای ته ورسېدی او کافران د هغه ځای چې خبر سوه ټوله تښتېدلي وه او وطن یې خالي پرې اینښی و، مګر یو سړی د هغه قوم چې عمار ﷺ ته ورغلی و او دا یې ورته ویلي وه چې زه مسلمان سوم "واشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمداً عبده ورسوله" نو عمار ورته وویل "ینفعک اسلامک فاقم" یعنې ستا اسلام تاته ګټه کوي، نو دلې اوسه، نو سهار چې خالد ﷺ غارت وکړی خلګ خو ټوله تښتېدلي، نو خالد پاته سړی ونیوی، عمار ﷺ ورته وویل دا سړی خوشي کړه دې اسلام راوړی دی وهو في امان مني، نو د خالد بن ولید او عمار تر منځ ناوړه خبرې دوه اړخیزې وسوې، نو چې کله مدینې منورې ته راغله ددې موضوع مرافعه و علیه الصلوة والسلام ته وسوه، نو علیه الصلوة والسلام د عمار ﷺ امن ودغه سړي ته خو قبول کړی، لکن عمار ﷺ یې نهي کړی بیله آمر لښکر وچاته امان مه ورکوئ،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نو دده په حضور کي خالد بن وليد هغه ناوړه خبره وعمار ته تکرار کړه، نو عليه الصلوة والسلام وخالد ته وويل "من احب عماراً احبه الله ومن ابغض عماراً ابغضه الله ومن لعن عماراً لعنه الله.

دروښ وايي: چې هغه ناوړې خبرې چې ما ذکر کړې هم دغه وې، فاعتذر اليه خالد "نو خالد و عمار ته عذر وکړی او هغه يې راضي کړی، فنزلت هذه الآية في ذالک لکن مع ذالک العبرة لعموم اللفظ لا لخصوص المورد وسئاتي تفصيله.

دروښ وايي: چې مذکور شان نزول ابن جرير او ابن ابي حاتم له سدي څخه روايت کړی دی، لکن بخاري او مسلم او اصحاب السنن الاربعة وايي چې دا آيت په شان کې د عبدالله بن خذافة چې عليه الصلوة والسلام په يوه سريه کې استولی و نازل سوی دی وباقي القصة کمامرت.

پوښتنه: اولوا الامر څوک دي؟

ځواب: ابو شيبه له ابو هريره ﷺ څخه روايت کړی دی چې اولوا الامر امیران د لښکر وه.

دروښ وايي: چې دا يو لفظ عام دی او وتولو قومندانانو ته د عساکر اسلامیه وو علی تفاوت درجاتهم شامل دی، له حضرت علي ﷺ څخه روايت دی "حق علی الامام ان يحكم بما انزل الله ويؤدي الامانة. نو چې امام داسې وکړي، نو حق دی پر رعايا وو چې دده حکم به اوري او اطاعت به يې کوي، له حضرت ابو هريره ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وويل "من اطاعني فقد اطاع الله ومن عصاني فقد عصى الله" دا له دې سببه چې امر او نهي د عليه الصلوة والسلام په امر د خدای ﷻ دي قال عز من قائل "وما ينطق عن الهوى ان هو الا وحي يوحى" عليه الصلوة والسلام زياته کړه "ومن يطيع الامر فقد اطاعني ومن يعص الامر عصاني" متفق عليه.

دروښ وايي: چې تولې مفسرين او فقهاء په يوه خوله وايي دا وجوب د اطاعة الامر خاص دی په هغه امير پورې چې امر دده مخالف د شرعي شريفي سره نه وي، او د خلفاء راشدينو پر نقشه روان وي، نو ځکه صاحب د روح البيان وايي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"هم امراء الحق وولاة العدل كالخفاء الراشدين ﷺ ومن يقتدى بهم من المهتدين كعمر بن عبد العزيز وغيرهم، واما امراء الجور والاعتساف بمعزل عن العطف على الله ورسوله في وجوب الطاعة فانهم اللصوص المتغلبة لاخذهم اموال الناس بالقهر والغلبة بل بعض الامراء يجعل اميراً بمعولة الكفار كالامريكيين وغيرهم.

دروښ وايي: چې په اوسنۍ زمانه کې به مصداق د اولوا الامر په شرائطو مذکوره په ټوله اسلامي نړۍ کې نه وي اللهم الا ماشئ وندر.

نکته: خدای ﷻ داسې ويل "اطيعوا الله واطيعوا الرسول و اولى الامر منكم" يعنې له اولوا الامر سره يې اطيعوا نه ووايه، تعلمياً للادب مع الله ورسوله فافهم.

دروښ وايي: چې قاضي ثناء الله چې تفسير مظهري دده تصنيف دی چې په سنه ۱۲۲۵ هـ کې دی وفات سوی دی، دده له وفات څخه تقريباً دوه سوه کاله تېر سوي دي، د هم د اولوا الامر تفسير کړی دی چې دا آيت شامل دی وفقهاؤ، علماؤ او مشائخو ته، يعنې پيران چې مريدانو ته تلقين ورکوي بل اولى لانهم ورثة الانبياء وخازنوا احكام الله واحكام رسوله" انتهى.

دروښ وايي: چې د مظهري رحمه الله مراد د تېرو سوو زمانو علماء او فقهاء او مشائخ دي او يا مراد دده د زمانې دي، نه د دور حاضر يعنې سنه ۱۴۲۷ هـ وقبل ذالک خصوصاً په ښار کې د کوټې چې فقيه ددې زمانې بعض داسې علماء هم سته چې په اصطلاح ددوی يې وړه دوره بولي چې په څلورو مياشتو کې څلور جلده هدايه شريفه او در مختار او جلالين، بيضاوي ورسره و طالبانو ته يې په درس وايي فكيف يمكن فهم الطالب ذالک، داسې فقهاء امانت نه لري بلکې د طالبانو سره خيانت کوي.

او داغه رنګه علماء د دور حاضر په کوټه کې ودې درجې ته د خيانت رسېدلي دي چې پر دېوالو د جامع ګانو يې اشتهارونه لګولي وي چې فلانی مولوي صاحب دوره نحوه وصرف په دوو مياشتو او فلانی مولوي صاحب دوره تفسير په دوو مياشتو وهكذا دورة المنطق ودورة الرياضي الى غير ذالک په دوو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

میاشتو کي طالبانو ته درسوي، نو انصاف په کار دی چي طالبان به څرنګه علوم مذکوره په دوو میاشتو کي زده کړي. د مولوي صاحب خو دا یقین وي چي زده کولای خو یې نه سي لکن دده غرض دا وي چي پر ما یوه ډله طالبان را ټول وي زما به شهرت وي، دا ټوله کارونه خیانت دی د طالبانو بېچاره ګانو سره، نو هم دا سبب دی چي طالبان په ورته دورو مروجه وو کي علوم وایي. نو بیا چي دوره حدیث وکړي او په اصطلاح لنګوټه وتړي د مراح یا زرادي یا هدایة النحو، ایساغوجي الی غیر ذالک پر درس باندي قدرت نه لري، د کوټي په ښار او په مضافاتو کي تخمیناً زر (۱۰۰۰) طالبان لنګوټي تړي ګمان نه کوم چي په دې زرو کي پر صحیح درس د علوم مروجه کتابو دي لس نفره قادر وي، او بل خیانت بیا د بعضې ملایانو د مقدیانو سره دادی چي دی غني بلا شائبه وي بیا هم دی له مقتدیانو څخه زکاتونه ټولوي او اضحیه نه کوي او سرسایه نه ورکوي، اللهم الا سراً یعنې چي مقتدیان په خبر نه سي بیا به زکوٰة نه ورکوي، او حج که څه هم بلا ریب پر فرض وي نه یې کوي. ولي چي په حج کي خو دېره رسوایي د غناء ده. نو بهر ښه چي زکوٰة به یکلخته راباندي بند سي.

واعظام کین جلوه در محراب ومنبر میکنند
چون بخلوت میروند آن کار دیگر میکنند

دروېش وایي: چي آفتونه ټوله د پښتنو په علاقه کوټه او مضافاتو کي محصور دي. د پاکستان په پنجاب، لاهور، کراچي وغیره کي نظامي درس پر خپل ترتیب دی. په کوټه کي هم بعضې حقیقي مدرسې سته چي درس یې پر ترتیب روان دی او په ښه تحقیق سره روان دی ولله الحمد. او د بعض مساجدو علما، هم په دورو کتابونه نه وایي بلکي حسب المقدور هر څو کتابونه چي درسوي په ښه غور سره یې درسوي او طالبان حسب الطاقة په کتاب پوه کوي.

او بعض ملایان داسي هم سته چي د مقتدیانو د زکاتو په خاطر یې د استاذانو حقوق تر پښو لاندي کړي دي، او ځانو ته مفتیان هم وایي..... مصرع

بدین عقل ودانش باید گریست

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

واما مشائخ الدور الحاضر چې د خلیفه ګانو په نامه یاد ېږي دادي چې دوی پیرې واسطه د ټولولو د امو الو د مریدانو لپاره ګرځولې ده. نو بعض له دې پیرانو څخه یوه شپه د یو مرید پر کور یرغل وروړي او هلته تر پزې پورې ځان په ورجو او غوښو مورِ کړي بله ورځ د بل مرید پر کور وهکذا. نو که یې د مرید په ګوته د زرو غمی داره ګوتمی ولیدل نو مرید ته وایي چې ته راکه دا څرنګه ښه غمی داره ګوتمی ده. مرید چې یې ورکړي دی یې پخپله ګوته کړي بیرته یې وکاږي مرید ته یې ونسي، مرید له شرمه ورته ووایي چې پیر صاحب یا آغا صاحب دغه ګوتمی یې ستا کرار یې پیر صاحب په ګوته کړي، او داسې خلیفه ګان هم سته چې د مریدانو ښځې خو هیڅ ستر نه ځني کوي، ولې چې د عوامو جاهلانو مریدانو خو دا خیال دی چې پیر صاحب د هر چا مور او پلار دی. نو خلیفه صاحب پسې ګوري که د یو مرید غوږه ښائسته لور او یا خور ولیدل، نو بله ورځ و هغه مرید ته ووایي چې ما خوب لیدی چې ستا لور یا خور ما په نکاح کړې وي، د جاهل مرید خو دا عقیده وي چې د پیر صاحب خوب حق دی، کرار خور یا لور په نکاح ورکړي، چې دېرو خلیفه ګانو په دې چل ول دوې درې ماینې پیدا کړي دي.

دروښ وایي: چې ورته کاروونه د خلیفه ګانو د دور حاضر نور هم دېر دي او دوی نو ځانو ته مشائخ وایي حقیقت خو دادی چې دوی ډاکو ګان دي مشائخ له کومه دي، حاصل دا چې حقیقي شیخ او د مریدي ور شخصیت په اوسنی زمانه کې دېر نادر دی باید عوام له استخارې څخه کار واخلي او د چا په خوږو خبرو خطا نه وزي او د خدای ﷻ د دوست او شیخ کامل مریدي وکړي.

دروښ وایي: چې دا و بیان د امام مظهري رحمه الله د قول چې ده په خپل تفسیر کې لیکلی وه چې فقهاء، علماء او مشائخ هم تر اولوا الامر لاندې دي بلکې بطریق الاولی.

دروښ وایي: چې شاید زما په دغه اظهار اتو به بعض فقهاء د دور حاضر او بعض علماء د اوسني عصر او بعض خلیفه ګان د اوسنی زمانې ناراضه سوي وي لکین پرواه نه لري، ولې ګفته شده تو حق بګوی اګر هیچ کس را نیاید پسند،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اوس به بیر ته رجوع و تفسیر ته د قرآن عظیم الشان وکړو.

فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ

که ستاسي نزاع (جګړه) پیدا سوه په یو شي کي یعني په هغو شیانو کي چې ستاسي امیر تاسي په امر کړي واست، یعني بعضو علماؤ ویل چې اطاعت د امیر په دغه کار کي واجب دی، او بعضو ملایانو ویل چې اطاعت د امیر په دغه کار کي جائز نه دی، نو تاسي رجوع وکړئ هغه شی یعني حکم د هغه شي و خدای ﷻ ته یعني الی کتاب الله چې قرآن پاک دی (ای من نصه واشارته ودلالته و مقتضاه، کما فصل الثلثة ذالک في کتب اصول الفقة) او وه رسول الله ﷺ ته چې دی ژوندی وي، او پس له وفاته دده و احادیثو مبارکه وو ته.

پوښتنه: د اجماع الامة او د قیاس ذکر ونه کړه سو؟

ځواب: اجماع او قیاس په کتاب او سنت کي داخل دي، ولي چې د ځلورو مذهبو فقهاء وایي چې د اجماع الامة لپاره یو سند غواړي من کتاب الله ای من انواعه الاربعة المذکورة او من سنة رسوله ﷺ، او دغه رنګه قیاس لره مقیس علیه غواړي من کتابه تعالی او من سنته رسوله ﷺ والحاصل" وروسته تر رجوع وماذکره ته که شرع شریفي اجازه د اطاعت د امیر در کړه خو اطاعت یې وکړه والا فلا، په هغه حدیث کي چې روایت یې بخاري او مسلم کړی دی له ابن عمر ﷺ څخه داسي روایت راغلی دی چې علیه الصلوة والسلام وویل چې اطاعت د امیر المؤمنین لازم دی که د مامور خوښه وي او که یې نه وي خوښه مالم یؤمر بمعصیة فان امر بمعصیة فلا سمع ولا طاعة لانه لا طاعة للمخلوق في معصیة الخالق، او له علي ﷺ څخه روایت دی "لاطاعة لاحد في معصیة انما الطاعة في المعروف" متفق علیه، وفي الهدایة که یو والي یا حاکم حکم کړی و په یو شي سره بیا یې قاضي ته د محکمې ورواستاوه چې دا حکم امضاء کړه قاضي دي هغه حکم امضاء کړي حتماً مګر نه دې امضاء کوي که هغه حکم د والي یا حاکم مخالف و له کتاب الله څخه، مثلاً حاکم په یوه دعوه کي چې مدعي یو شاهد درلودی د بل شاهد په ځای کي حاکم مدعي ته قسم اینبی و، ولي چې دا حکم د والي یا حاکم مخالف دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

له دې آیت څخه "فاستشهدوا شهیدین من رجالکم" او یا له حدیث څخه مخالف وي لکه حاکم چې حکم کړی وي چې هغه ښځه چې مېړه یې دې طلاقه ورکړي وي، په صرف عقد د بل مېړه سره و زوج اول ته روا کېږي یعنې وطي د زوج ثاني نه غواړي، ولې چې دا حکم مخالف له هغه حدیث مشهور څخه دی چې روایت یې حضرت عائشې رضی الله عنها کړی دی په باره کې د زماعه رضی الله عنه د ماینې چې علیه الصلوة والسلام ورته وویل "لاحتی تذوقي عسیلته ویذوق عسیلتک.

دروښ وایي: چې دا اوږد حدیث مذکور دی په بخاري وغیره کې، وقد مر بیانه وتفصیله في سورة البقرة، او یا حکم د حاکم مخالف وي له اجماع څخه لکه چې حاکم حکم کړی وي چې د مذبوحې متروک التسمیة عامداً غوښې حلالې دي، ولې چې دا حکم دی د صدر اول یعنې صحابه کرامو رضی الله عنهم له اجماع څخه کما في کتب السیر مخالف دی.

که قاضي مجتهد حکم کړی و په یوه مسئله کې وروسته مجتهد ته یا نورو ته ښکاره سوه چې دا حکم د کتاب الله او یا له سنت رسول الله څخه مخالف دی، نو پر مجتهد او نورو خلګو دا لازمه ده چې رجوع وکتاب الله یا سنت رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وکړي او اجتهاد د مجتهد دې پرېږدي، بیهقي رحمه الله په خپل کتاب کې چې نوم یې مدخل دی په اسناد صحیح د عبد الله بن المبارک رضی الله عنه څخه روایت کړی دی، دی وایي چې ما له ابو حنیفه رحمه الله څخه واورېدل ده وویل ماجاء عن النبي صلی الله علیه وسلم فعل الراس والعین" یعنې پر سر او پر سترګو زما قبول دی، او داغه رنګه له حضرت ابو حنیفه رحمه الله څخه روایت دی چې تاسي پرېږدئ زما قول په حدیث د رسول الله صلی الله علیه وسلم او داغه رنګه په قول د صحابه کرامو رضی الله عنهم، او داغه رنګه له ابو حنیفه رحمه الله څخه روایت دی "فاذا صح الحدیث فهو قولي.

إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ

که تاسي یاست چې ایمان مو راوړی وي پر خدای جل جلاله او پر ورځ د آخرت.

پوه سه: چې دا جمله شرط ده پر جزاء یې ماقبل دلالت کوي یعنې فردوه الی الله ورسوله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ذٰلِكَ خَيْرٌ وَّاَحْسَنُ تَاْوِيْلًا ۝

او همدغه رد د حکم و خدای او و رسول ته ښه دی ستاسي لپاره تر هغه چي ستاسي په دماغو کي يې قرار نیولی وي، او ښه دی په مآل کي من تاویلکم بلا رد.

په حدیث شریف کي راغلي دي چي یو منافق مسلمان چي نوم يې بشر و، د یو یهودي سره يې په یوه شي کي دعوه وه. نو یهودي ورته وویل چي راځه چي پر علیه الصلوة والسلام شریعت سره وکړو. ولي چي یهودي په دې پوهېدی چي علیه الصلوة والسلام رشوت نه اخلي او نه د چا مراعات کوي، او منافق ورته وویل چي راځه چي پر کعب بن الاشرف فیصله سره وکړو، ولي چي منافق پوهېدی چي کعب رشوت خوړه دی، خیر خو علیه الصلوة والسلام ته راغله، علیه الصلوة والسلام منافق په ملامت کړی. نو چي را ووتل منافق ورته ټینګ سو چي دا فیصله زه نه منم راځه چي پر عمر فیصله وکړو. نو عمر رضي الله عنه ته چي دواړه راغله. نو یهودي ورته وویل چي زما او د بشر تر منځ خصومت و، علیه الصلوة والسلام ته ورغلو بشر يې ملامت وباله، نو بشر پر فیصله د علیه الصلوة والسلام نه سو قانع. نو ده وویل چي راځه چي پر عمر رضي الله عنه فیصله وکړو، نو دادی مونږ تاته راغلو، نو عمر رضي الله عنه وبشر ته وویل دا د یهودي خبره رشتیا ده؟ بشر ورته وویل هو! نو عمر رضي الله عنه ورته وویل چي تاسي یو ګړی ودرېږي زه کورته ځم بیرته راځم، نو عمر رضي الله عنه کور ته ولاړی او پټو يې پر ځان وپېچی او توره يې تر پټو لاندي نیولې وه، چي را ووتی توره يې کش کړه او منافق يې په وواهه ځای پر ځای يې مړ کړی او دا يې وویل چي زما قضاوت دغه دی د هغه چا لپاره چي په قضا، د خدای او د رسول د خدای نه وي راضي. نو دا آیت نازل سو.

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ يَزْعُمُوْنَ اَنَّهُمْ اٰمَنُوْا بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ
وَمَآ اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ يُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّتَحَاكَمُوْٓا اِلَى الطَّاغُوْتِ

آیا ته نه ګورې و هغو کسانو ته چي دوی وایي یعني په قول باطل سره "چي له زعم څخه دلته مراد دی" چي دوی ایمان راوړی دی پر هغه کتاب چي پر تا نازل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوی دی یعنې القرآن العزیز اوپر هغه کتاب چې تر تا دمخه نازل سوی دی یعنې التورات دوی ارادہ لري چې تحاکم او فیصله خصوماتو و طاغوت ته وروړي چې مراد ځنې دلته کعب بن الاشرف دی.

پوه سه: چې د "طاغوت" وزن فعلوت دی او د مبالغې صیغه ده لکه رحموت جبروت کعب بن الاشرف خدای ﷻ طاغوت وباله لکثر طغیانه کما هو المشهور في احواله واقواله في شان دین الاسلام وفي شان محمد ﷺ.

فائده: حضرت عمر ﷺ چې د هغه منافق سره په توره پرې کړې، نو جبرائیل ؑ و علیه الصلوة والسلام ته وویل چې عمر ﷺ فرق دی په منځ کې د حق او باطل فمسي بالفاروق.

دروښ وایي: چې یو کتاب په نامه د الفاروق سته چې په هغه کې ټوله مفصل احوال د امیر المؤمنین عمر بن الخطاب ﷺ او دده ټولې کارنامې او فتوحات پکښې تحریر دي من شاء فلیشتري الکتاب المذکور من المکاتب في بلدة کویته.

پوښتنه: په قصه کې د عمر بن الخطاب ﷺ خو یو منافق و یعنې بشر کمامر او په آیت کې "الی الذین" په صیغه د جمع راغلی دی؟

ځواب: و بشر ته ورته نور منافقان هم وه لکه الحلاس بن الصامت، معتب بن قشیر، رافع بن زید، نو ځکه یې صیغه د جمع راوړه.

دروښ وایي: چې بعض مفسران ددې آیت شان نزول داسې بیانوي چې د یهودانو دوه قومه وه په مدینه منوره او شاوخوا کې د بني نضیر او بني قریضه په نامه یادېدل او په قومي لحاظ په زمانه کې د جاهلیت بني النضیر ترفع درلوده پر بني قریضه وو چې نتیجه یې دا وه چې که چېرې د بني قریضه یو سړي د بني نضیر یو سړی وژلی وای، نو قاتل ځو یا قصاصېدی او یا یې سل وسق خرما ورکول، یعنې دیت چې هر وسق شپېته صاع و، او که د بني نضیر یو سړي د قریضه یو سړی وژلی وای، نو قاتل نه قصاصېدی او دیت یې فقط شپېته وسق و، نو څه وخت چې علیه الصلوة والسلام ومدینې منورې ته هجرت وکړی، نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یهودان درې قسمه سوه، یو قسم مخلص مسلمانان سوه لکه عبدالله بن سلام رضی الله عنه او دده ملګري او بعض یهودانو د دواړو قبیلو په نفاق سره ایمان راوړی، او یو قسم جهراً وعلانیة پر هودیت پاته سوه، نو د بني نضیر یوه سړي د قریضه یو سړی قتل کړی. نو په دې موضوع خصومت پیدا سو. بني نضیر ورته وویل چې زموږ او ستاسي تر منځ دا فیصله په جاهلیت کي سوې وه چې زموږ سړی به ستاسي د قتل په سبب نه وژل کیږي او صرف شپېته وسق خورما به درکوو اوس هم هغه فیصله ده. نو بني قریضه وو ورته وویل چې دا خو زموږ او ستاسي فیصله وه د جاهلیت په وخت کي چې تاسي بني نضیر پر موږ ډېر واست اوس خو موږ او تاسي سره ورونږه یو دین مو یو دی یعني اسلام فلا فضل لکم علینا في الدین. نو منافقانو ددوی ووېل چې رائئ چې پر ابو برزة اسلمي چې کاهن و فیصله وکړو. او مسلمانانو مخلصانو ددواړو ډلو ووېل چې علیه الصلوة والسلام ته به ورسو هر څه چې په دین د اسلام کي حکم و هغه ته به غاړه کښېږدو فانزل الله آیة القصاص وهذه الآیة من قوله تعالی "الم تر الی الذین" بیا تر پایه پورې، نو پر دې شان نزول مراد له طاغوت څخه ابو پرزة اسلمي کاهن دی،

دروېش وایي: چې فوائد شتی متعلق په اولوا الامر پورې دادي.

(۱) قال رسول الله ﷺ که چا معامله کول د خلګو سره یعني والله اعلم من الامر نو یې ظلم نه کاوه پر دوی او چې خبرې به یې کولې د خلګو سره درواغ به یې نه ورته ویل، او چې د خلګو سره به یې وعده وکړه خلاف د وعدې یې نه کاوه فهو من کملت مروٴته وظهرت عدالته ووجب اخوته یعني رعیت باید ده ته د وروړ په سترګو وګوري یعني اطاعت یې وکړي،

(۲) لابد للامراء من خوف الله وخشیته باجراء الشرائع والاحکام الاسلامیة واجراء السنن النبي ﷺ حتی یملأ الله قلوب الناظرین الیهم رعباً وهیبةً یعني وان کان الهیئة في الظاهر کالخلفاء الراشدین رضی الله عنهم ومن مشی علی اقدامهم.

دروېش وایي: چې موصوف په دغو صفاتو سره امراء په اوسنۍ زمانه کي هیڅ نشته اللهم الا نادراً کما لایخفی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(۳) تاریخ اسلامي وایي چي د روم پادشاه و امیر المؤمنین عمر ﷺ ته بعضې جامې او څه خوراکي مواد د خپلو حکومتي خلګو په لاس سره د جاه او جلال ورکړه، نو هغه قاصدان چي مدینې منورې ته راغله پوښتنه یې وکړه چي د امیر المؤمنین قصر چېرې دی، نو خلګو ورته وویل چي امیر المؤمنین یو لوی سرای هم نه لري فضلاً عن القصر کما توهمتم بلکې هغه په یو ډېر کوڅنې سرای کې ژوند کوي چي د سرای دروازه یې توره ده او د سرای دېوال یې نهایت زوړ دی. نو یو چا چي یې سرای ور وښووی. دوی چي دروازه ور وتکول عبدالله بن عمر ﷺ ورته راووتی او قاصدانو ته یې وویل چي هغه اوس کور ته ډوډی وخوړل او دُره یې واخستل دباندي ووتې بیا چي عبدالله بن عمر ﷺ وکتل عمر ﷺ د یو دېوال و سایې ته بیده و دُره یې تر سر لاندي کړې وه. نو یې قاصدانو ته وویل چي هغه دی امیر المؤمنین بیده دی. قاصدان چي راغله ورته ودرېدل عمر ﷺ یې په خوارۍ خوب بیده ولیدی. نو یې داسي وویل "عدلت" عدالت دي کړی د رعیتو سره "فامنت" نو زړه دي بېغمه دی "فنمت حیث شئت" نو بیده یې هر ځای چي دي زړه غواړي "وامرائنا ظلموا فاحتاجوا الی الحصون والجیوش" او زمونږ امیرانو ظلمونه کړي دي، نو ځکه دوی د ځپل محافظت لپاره مجبور دي وقلعو او لښکرو ته..... سعدي شېرازي قدس سره وایي

بادشاهی که طرح ظلم افگند	پای دیوار ملک بکند
نکند جور پېشه سلطانی	که نیاید زګرګ چوپانی

ارد شیر وایي چي دینداري د سلطنت تادای دی او عدل یې چوکي داري ده، نو هغه دېوال چي پر مځکه تادای نه لري هغه ژر نړېږي. او هغه بادشاهي چي چوکیدار نه لري له منځه ځي، قال العلماء الظلم عار وجزائه نار والاجتناب عنه واجب علی کل مسلم وعاقل ولو کان کافراً" نه وینئ چي نوشیروان سره له کفره په عدل سره د نوشېروان عادل نوم د تاریخ په پاڼو کې ثبت کړی. او حجاج بن یوسف سره د ظاهري مسلمانی د ظلم په سبب د سفاک نوم په تاریخ کې پرېښو ومن الله التوفیق..... بیت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د عبيد په زړه کې نور نور د هر شيان دي
که يې بيان کړي حاسدان هر گوره د هر دي

وَقَدْ اُمِرُوْٓا اَنْ يَّكْفُرُوْا بِهٖ ؕ وَيُرِيْدُ الشَّيْطٰنُ اَنْ يُّضِلَّهُمْ ضَلٰلًۢا بَعِيْدًا ۝

او حال دادی چې دوی امر کړه سوي وه يعنې د الله پاک له خوا چې دوی دي کفر کوي په طاغوت سره يعنې له طاغوت څخه دي مخالفت کوي که طاغوت انسي وي لکه کعب بن الاشرف او يا ابو برزة اسلمي، او که طاغوت جني وي لکه ابليس و اولاده واتباعه. او اراده لري شيطان چې تاسي گمراهان کړي په ضلال بعيد سره له حق څخه.

حاصل د آيت دادی چې مسلمانان به مخالفت کوي له طاغوته د هر قسم د اقسامو مذکوره وو چې وي، او داغه رنگه مؤمنان مامور دي په دې سره چې دوی به مخالفت کوي د يهودانو او نصارى وو خصوصاً الامريکيين والانکليسيين. او مخالفت به کوي له کاهنانو او شيطانانو څخه او بېزاري به کوي له دوی څخه.

دروېش وايي: چې بد دی حال د هغو کسانو چې امريکايان يې هم کاسه او هم کوزه وي او هم دوی يې اهل مشوره وي. قال رسول الله ﷺ من اتى كاهناً" يعنې غيب ويونکي ته "فصدقه بما يقول" او تصديق يې وکړی په هغو خبرو چې کاهن کولې "او اتى حائضاً يعنې جماع يې وکړه د مايني سره په وخت کې د حيض "او اتى امرئة في دبرها" او وطي يې وکړې د مايني سره په دبره کې "فقد برئ مما نزل على محمد" نو له هغه دين څخه چې پر محمد ﷺ نازل سوی دی بېزار سو. روى هذا الحديث اصحاب السنن بسند صحيح عن ابي هريرة رضي الله عنه قاله المظهري

وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا اِلٰى مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ وَاِلَى الرَّسُوْلِ

او چې وه به ويل سوه د منافقانو ته چې تاسي راسئ د هغه شي ته چې خداى ﷻ نازل کړی دی او رسول الله ﷺ ته راسئ.

پوه سه: چې موږ ضمير د "لهم" د منافقانو ته راجع کړی. ولې چې دا آيت په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شان کې ددوی نازل سوی دی بقرینة مابعیده. او له عطف څخه د "ولی الرسول" په قرینه ددې چې اصل په عطف تغایر دی بین المعطوفین چې "الی الرسول" غیر دی له "ما انزل الله" څخه چې قرآن دی. او داغسې هم ده ولې چې رسول الله ﷺ به ګاهې حکم کاوه په وحي غیر متلو سره چې آحاد یث مبارکه وه چې راځي. او ګاهې به یې اجتهاد سره کاوه علی من جوز الاجتهاد للنبي ﷺ.

رَأَيْتَ الْمُنٰفِقِيْنَ يَصُدُّوْنَ عَنْكَ صُدُوْدًا ﴿۶۱﴾

ته وینې چې منافقان ستا څخه روی ګرداني کوي وبل چاته. ولې چې په بل چا کې دوی د رشوت ځای هم وینې او د قومیت ځای هم وینې. او په تا کې هیڅ شی بهله حق ویلو منافقان نه وینې.

بوه سه: چې "صدوداً" مفعول مطلق دی د "یصدون".

پوښتنه: خدای ﷻ دمخه ومنافقانو ته د "لهم" ضمیر راوړی او دلته یې اسم ظاهر د دوی راوړی حکمت یې څه دی؟

ځواب: حکمت تقبیح ددوی د حال ده په دغه اسم قبیح سره.

درویش وایي: چې منافق او حق ویونکی ضد دي. منافق د حق ګویه تل خلاف وي.

فَكَيْفَ

استفهام لپاره د تعجب دی وحال ته د منافقانو. والمعنی فکیف لایستحیون من قولهم الآتي مع ظهور حالهم لکل ذی بصیرة.

إِذَآ أَصَابَتْهُمْ مُّصِيْبَةٌ ﴿۶۲﴾

چې دوی ته ورسیږي یو مصیبت چې عمر ﷺ د دوی یو منافق مر کړی کمامر.

بوه سه: چې "اذا" دلته د صرف ظرفیت لپاره دی نه د استقبال لپاره کما هو اصل معناه لان المصیبة المذکورة امر ماض ههنا.

بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيْهِمْ

چې دوی وروسته تر حکم د علیه الصلوة والسلام و عمر ﷺ ته محاکمه وروړه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ثُمَّ جَآءُوكَ

بیا تاته راسي یا د عذر لپاره او یا د طلب د دم المقتول لپاره.

يَحْلِفُونَ بِاللَّهِ إِنْ أَرَدْنَآ إِلَّآ إِحْسَٰنًا وَتَوْفِيقًا ﴿٦٢﴾

دوی قسمونه اخلي حلفاً کاذباً لظهور حالهم. زمونږ نه وه اراده په تحکیم د عمر رضي الله عنه مګر نه فیصله په منځ کي د خصمینو په وجه حسن سره. او موافقه د خصمینو مو غرض وه. یعني ستا مخالفت مو غرض نه و او نه ستا له حکمه سخط یعني بغض کوو. یعني مونږ بهر بدلو چي علیه الصلوة والسلام خو حق حکم کوي او حق خو تریخ وي. نو طرف د متخاصمینو به له تا څخه ناراضه سوی وای او زمونږ اصل غرض صلح ددغو متخاصمینو په منځ کي وه او ستا څخه بهر بدلو چي تا به صلح نه وای کړې. نو عمر رضي الله عنه ته مونږ له دې جهته ورغلو چي دی به صلح وکړي او متخاصمین به سره راضي کړي.

أُولَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ يَعْلَمُ ٱللَّهُ مَا فِى قُلُوبِهِمْ

دوی هغه کسان دي چي خدای ﷻ خبر دی په هغه شي چي ددوی په زړو کي دی یعني نفاق، نو کاذب قسمونه ودوی ته فائده نه کوي.

فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ

نو ته مخ وارووه د قبول د عذر ددوی او یا د دوی له مطالبې څخه د دم د مقتول دده چي عمر رضي الله عنه قتل کړې فان دمه هدر.

وَعِظْهُمْ

او دوی ته نصیحت وکړه چي نفاق پرېږدئ او په اخلاص مسلمانان سئ.

وَقُل لَّهُمْ فِىٓ أَنفُسِهِمْ قَوْلًۢا بَلِيغًا ﴿٦٣﴾

او ووایه دوی ته په باره کي د ځانو ددوی یو قول بلیغ مؤثر في القلوب. او حسن بصري رحمه الله وایي چي قول بلیغ دادی چي دوی ته ووایه چي یو وخت به خدای ﷻ ناګاه ستاسي د قتل حکم صادر کړي. ولي داسي بهرول ددوی د زړو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پښې ته رسېږي او بعض مفسرين ددې آيت داسې ترجمه کوي فاعرض عنهم اى عن عقابهم لئلا يقول الكفار ان محمداً يقتل اصحابه فيعرض النضرة في قلوبهم عن الاسلام وعظهم اى باللسان وقل في انفسهم آه. يعني في الخلوة ولي چې نصيحت په پته ګټور دى تر علانيت نصيحت.

وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا لِيُطَاعَ

موږ نه دى استولى يو رسول له رسولانو څخه مګر نه ددې لپاره چې دده اطاعت دي وکړه سي. لان اطاعة الرسول اطاعة الله وهو مقصود من الرسالة.

پوه سه: چې استثنا. دلته مفرغه ده اى ما ارسلناه لشيئ من الاشياء الا ليطاع.

بِاِذْنِ اللّٰهِ

اى بسبب اذنه تعالى وامره المبعوث اليهم چې دوى به ددغه اطاعت کوي، نو څوک چې په حکم د رسول نه وي راضي او اطاعت يې نه کوي، نو مستحق د قتل دى، ولي چې دغه سړى خو رسالت ددغه رسول نه منې لکه عمر ﷺ چې هغه منافق قتل کړى چې د عليه الصلوة والسلام په حکم نه و راضي.

وَلَوْ اَنَّهُمْ اِذْ ظَّلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ

که چېرې دغه منافقين هغه وخت چې دوى ظلم کړى و پر خپلو ځانو باندې په سبب د نفاق او د تحاكم الى الطاغوت.

پوه سه: چې کلمه د "لو" چونکه فعل غواړي. نو ځکه يې مفسرين داسې بولي ولو ثبت انهم آه.

جَآءُوْكَ

که راغلى واى وتاته اې محمد ﷺ يعني په اخلاص سره او له نفاق څخه يې توبه کښلې واى.

پوه سه: چې "جاؤاک" خبر دى د "ان" واذا الظرفية متعلق به.

فَاسْتَغْفَرُوا اللّٰهَ

او طلب د بخښې يې له خداى څخه کړى واى په توبه سره له نفاقه او عليه الصلوة والسلام ته يې عذر کړى واى مما فعلوا بالاخلاص وصميم القلب.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُوْلُ

او طلب د بخښني کړی وای دوی لره رسول ﷺ.

پوه سه: چې داسي يې نه وويل فاستغفرت کما هو مقتضى الخطاب في قوله جاؤاک لپاره د تعظيم د شان د عليه الصلوة والسلام په وصف سره د رسول، او لپاره د تنبيه پر دې چې شان د رسول دادی چې عذر د مجرم قبلوي ولو کان الجرم عظيماً.

لَوَجَدُوا اللّٰهَ تَوَّابًا رَّحِيْمًا ﴿۶۴﴾

دوی به پيدا کړی وای خدای ﷻ يعنې يقين به يې سوی وای پر خدای ﷻ چې قبلونکی د توبې دی چې په اخلاص سره وي. او زائد پر قبول د توبې رحم کونکی دی في الغاية چې سيئات د تائب په حسناتو وربدلوي.

پوه سه: چې شان نزول د وروسته آيت په اتفاق د ائمة الحديث الستة داسي بيان سوي دي چې زبير بن العوام ﷺ د انصارو د يو سړي سره خصومت يعنې دعوه وه په واله کي د حرة يعنې يو جاري مانده و چې دواړو خپلي مځکي په اوبه ولې لکن د زبير ﷺ مځکه لوړه وه چې ولې ته يې بند نه وای ور اچولی اوبه نه ورختلې، نو انصاري ورته وويل چې ولې ته به بند نه ور اچوې که ستا مځکي ته درخېژي او که نه، نو دا موضوع و عليه الصلوة والسلام ته پېش سوه. نو عليه الصلوة والسلام و زبير ته وويل چې ته والې ته بند ور اچوه چې ستا مځکه اوبه سوه بيا يې انصاري ته ور ايله کوه. نو انصاري و عليه الصلوة والسلام ته وويل چې تا دا حکم له دې سببه وکړی چې زبير ﷺ ستا د عمه زوی دی. نو د عليه الصلوة والسلام رنګ ډېر تغير سو، وروسته عليه الصلوة والسلام وزبير ته وويل چې خپله مځکه اوبه کړه بيا تر هغو اوبه انصاري ته مه ور ايله کوه څو اوبو د مځکي پنډلونه نه وي پټ کړي، نو انصاري چې عليه الصلوة والسلام ته درد وروستی زبير ته يې پوره خپل شرعي حق ورکړی او دمخه چې کومه فيصله عليه الصلوة والسلام کړې وه او زبير ته يې صرف دا ويلي وه چې ستا مځکه صرف اوبه سوه انصاري ته اوبه ور ايله کوه د دواړو مراعات عليه الصلوة والسلام کړي وه، چې انصاري و عليه الصلوة والسلام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ته درد وروستی نو زبیر ته یې خپل پوره حق ورکړی.

پوښتنه: انصاري څرنګه داسې د ادب خلاف خبره و نبي علیه السلام ته کوله؟

ځواب: دا سړی د اوس یا د خزرج د قبیلې منافق و. انصاري یې په دې وباله چې په نصب ددوی سره شریک و.

پوښتنه: بعض مفسران لکه بغوي رحمه الله وایي چې دغه سړی چې له زبیر رضي الله عنه سره یې دعوه وه حاطب بن ابي بلتعة و. لکن مظهري رحمه الله وایي چې دا خبره غلطه ده، ولې چې حاطب خو انصاري نه و بلکې مهاجر و. او بل کامل مسلمان و چې د بدر په غزاء کې هم شامل سوی و، نو څرنګه به هغه داسې کفر امیزه خبره و علیه الصلوة والسلام ته کوله.

دروښ وایي: چې بغوي رحمه الله روایت کوي چې دغه دوه کسان یعنې زبیر رضي الله عنه او هغه بل په نامه انصاري چې د علیه الصلوة والسلام له خوا راووتل مقداد بن الاسود رضي الله عنه په لاره کې ولاړ و او یو یهودي هم له مقداد سره ولاړ و. نو مقداد پوښتنه څنې وکړه چې دعوه چا وګټله؟ هغه انصاري ورته وویل چې دعمه زوی یې وګټله او د خولې کونج یې سره کش کړی له پسخنده، یهودي پوه سو چې استهزاء یې په حکم د علیه الصلوة والسلام وکړه، نو یهودي وویل قاتل الله هؤلاء. یشهدون انه رسول الله او بیا یې قضاء او حکم متهم بولي. یعنې د عمه د زوی مراعات یې وکړی. نو له دې روایت څخه صراحةً معلومه سوه چې مخاصم د زبیر رضي الله عنه منافق و لان الاستهزاء بحکم رسول الله ﷺ کفر باجماع الامة المرحومة.

فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ

دروښ وایي: چې بعض مفسرین وایي چې کلمه د "لا" زائده ده کما في "لااقسم بیوم القیامة" او ربک قسم دی، او بعض مفسرین وایي چې کلمه د "لا" لپاره د نفي ده ای لیس الامر کما فعل الذین یزعمون انهم مؤمنون ثم لایرضون بحکمک ثم استانف القسم بقوله وربک "قسم په رب ستا دی چې دوی مؤمنان نه سي کهدای.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حَتّٰى يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ

تر هغه وخته پورې چې دوی په تا محکم گرځوي په هغه منازعاتي او مختلف فیها احکامو کې په منځ کې ددوی لکه د زبیر او انصاري چې په والې کې د حرې اختلاف و او ته یې محکم کړې.

ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا ﴿٦٥﴾

پوه سه: چې جمله د "ثم لا یجدوا" عطف ده پر "یحکموک" باندې، والمعنی وروسته ستا تر محکم والي به نه پیدا کوي په زړو کې خپل تنګي او شک د هغه حکم څخه چې تا قضا په وکړه او تسلیم ېږي به وتاته انقیاداً وطوعاً بلاکراهة لحکمک "تسلیماً" مفعول مطلق دی.

پوه سه: چې په دې آیتو کې دلیل دی پر دې چې که چا رد کړی یو شی له احکامو څخه د او یا له اوامرو څخه د رسول الله ﷺ، نو هغه د اسلام د فراخې دائرې څخه ووتی خو رد یې په سبب د شک وي یا پر وجه د سرکښۍ.

والدلیل علی هذا چې صحابه کرامو ﷺ پر مانعینو د زکوٰت یعني پر وجه د انکار له فرضیت څخه د زکوٰة او دوی ویل چې دا صرف یو معاونت چې مونږ د علیه الصلوة والسلام کاوه وروسته تر وفات د علیه الصلوة والسلام حکم د ارتداد وکړی او جنګ یې ورسره وکړی او اولادونه یې په سبي ځني راوستل.

پوه سه: چې متابعت د رسول الله ﷺ فرض عین دی په فروض عینه وو کې او فرض کفایي دی په فرض کفایه وو کې کصلوة الجنازة مثلاً، او واجب دی په واجباتو کې لکه وتر اضحیه وغیرهما، وسنة في السنن وهکذا، ومخالفته تزیل نعمة الاسلام اعاذنا الله تعالی..... سعدي رحمه الله

خلاف پیمبر کسی ره گیرند — که هرگز بمنزل نخواهد رسید

نو نبي کریم ﷺ دلیل دی د حق د لارې او مخالفت یې دلیل د ضلالت دی، حافظ شیرازي وایي

بگوی عشق منه بې دلیل راه قدم — که من بخویش نمودم صد اهتمام ونشد

وفي الحدیث الصحیح قال رسول الله ﷺ لا یؤمن احدکم حتی یکون هواه تبعاً

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لما جئت به.

وَلَوْ اَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ

ای لو ثبت ولي چي وروسته تر لو فعل ضروري دی که موږ فرض کړو پر دغو کسانو چي وایي چي موږ ایمان راوړی دی او سره د هغه سره حکم نه وي راضي وهم المنافقون لان سوق الكلام في المنافقين. او دا نه ده روا چي ضمير د عليهم دي وتيولو مؤمنانو د زمانې د عليه الصلوة والسلام راجع وي ای الصحابة ﷺ، ولي چي څرنګه به صحيح وي حکم پر صحابه کرامو که زه پر دوی يو شی فرض کړم دوی يې نه کوي، او سره ددې چي خدای ﷻ مدح د اصحابو کړې ده په دې آيت سره "كنتم خير امة اخرجت للناس" وقوله تعالى في حقهم "يسارعون في الخيرات" او عليه الصلوة والسلام ويلي دي خير القرون قرني والصحابة داخلون في قرنه ﷺ، او بل دليل دادی که ضمير راجع وي و اصحابو ته د عليه الصلوة والسلام، نو بايد چي اصحاب د موسی عليه السلام افضل وای تر اصحابو د عليه الصلوة والسلام ولي چي اصحاب د موسی عليه السلام چي امر سوه په توبه کي د عبادت العجل په قتل د ځانو هغو هم دغه کار وکړی.

اَنِ اقْتُلُوْٓا اَنْفُسَكُمْ

چي خپل ځانونه مړه کړئ ای يقتل بعضهم بعضاً يعني في التوبة عن اعراضكم عن حكمك الى غيرك لكه بني اسرائيل چي په زمانه کي د موسی په توبه کي د عبادة العجل په دهغه قتل الانفس امر سوي وه.

اَوِ اخْرُجُوْا مِنْ دِيَارِكُمْ

او يا وځئ له خپلو وطنو څخه او له خپلو ساريو څخه لکه بني اسرائيل په خروج له مصر څخه امر سوه،

مَّا فَعَلُوْهُ اِلَّا قَلِيْلٌ مِّنْهُمْ

نه به وای دغه کار چي قتل د ځانو دی او يا وتل د خپلو وطنو او سرايو دی مګر لږو کسانو ددوی،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې په دې مقام کې يو دقيق سوال سته هغه دا چې روح البيان ضمير د "عليهم" ومنافقانو ته راجع کړی دی حيث يقول على هؤلاء المنافقين، وروسته يې په تفسير کې د الا قليل منهم داسې ويلي دي وهم المخلصون، نو سوال دادی چې مخلصين خو په منافقينو کې نه وه داخل، نو استثناء څرنګه ځنې صحيح کېږي. او داسې ځواب هم ځوک نه سي ورکولای چې استثناء منقطع ده، ولې چې ضمير د منهم چې راجع و منافقانو ته دی په مستثنی کې موجود دی.

دروښ وايي: چې ددې سوال ځواب مظهري رحمه الله داسې ورکړی دی بتوفيق الله تعالى اياهم للاخلاص بعد النفاق.

دروښ وايي: چې دا صرف يو احتمال دی، نو صحيح په ځواب کې د اشکال مذکور دادی چې ضمير د عليهم راجع سي و منافقينو ته په شمول د بعض قليل د مؤمنانو لکه اهل البدو. نو استثنا، به صحيح سي. او د قليل منهم څخه به اراده د مخلصانو هم صحيح سي او حکم د قلت به هم صحيح سي فتامل تاملاً دقيقاً والله اعلم بالصواب واليه المرجع والمآب.

وَلَوْ اَنَّهُمْ فَعَلُوْا مَا يُوْعَظُوْنَ بِهٖ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَاَشَدَّ تَثْبِيْتًا ۙ

او که چېرې دوی کړی وای هغه کار چې دوی ته نصيحت په هغه کار سره کېږي چې متابعت دی د رسول ﷺ په خوښه سره او په کمال رغبت سره، نو ددوی لپاره به دا متابعت خير وايي يعنې په دنيا او اخرت کې. او ډېر ښه به وايي از روی تحقيق د ايمان ددوی يعنې ايمان به يې له شک او شبهې څخه وتلی وای.

پوه سه: چې نصب د "تثبيتاً" بناء دی پر تميز له نسبت څخه د اشد وفاعل ته.

پوه سه: چې حسن بصري او مقاتل رحمهما الله وايي چې دا آيت چې نازل سو حضرت عمر، عمار بن ياسر، عبد الله بن مسعود او نور ګڼ شمېر صحابه وو رضي الله عنهم ويل والله لو امرنا يعنې بقتل الانفس لفعلنا والحمد لله الذي عافانا" يعنې په دې امر مشکل سره يې نه کړو مکلف، نو عليه الصلوة والسلام ته چې ددوی دا خبره ورسېده داسې يې وويل "ان من امتي لرجالاً الايمان في قلوبهم اثبت من

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الجبال الرواسي" په تحقيق زما په امت کي داسي کسان ستة چي ايمان ددوی په زړو کي محکم دی تر پر خپل ځای ولاړ و غرو.

وَإِذًا

يعني که دوی دا فعل کړی وای "وهذا عطف على قوله تعالى لكان خيراً لهم"

لَّآتَيْنَٰهُم مِّن لَّدُنَّآ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿٦٧﴾

مونږ به ورکړی وای له خپلې خوا څخه تفضلاً ثواب زائد تر اعمالو ددوی، او ثواب د تثبت پر دين باندې ثواب لوی يعني ثواباً لايقادر قدره لان ماعده العظيم جل جلاله عظيماً فلا يحيط به الفهم والعقل.

وَلَهَدَيْنَٰهُمْ صِرَٰطًا مُّسْتَقِيمًا ﴿٦٨﴾

او مونږ به دوی ته هدايت کړی وای د لاړي سمي چي تګ پر هغه لاره سړی و خدای ﷻ ته رسوي. وفي الحديث الصحيح "من عمل بما علم ورثه الله علم مالم يعلم" که څوک عمل وکړي په هغه علم چي ده زده کړی دی خدای ﷻ به و هغه ته ميراث ورکړي د هغو شيانو د علم چي دده نه و زده، وفي الحديث الصحيح "لايكون احدكم كالعبد السوء ان خاف عمل يعني والا لا، ولا كالاجير السوء ان لم يعط لم يعمل. وكن ماقيل من لم يركب الاهوال لم نيل الاموال.

دروښ وايي: چي اموال خسيسه عند الله بيله ډهرو شدائدو نه پيدا کيږي فكيف ينال رضى الملك الجبار والاقامة في دار القرار بدون احراق اهواء النفس الامارة بعشق ونار، رزقنا الله تعالى واياكم رضى العزيز الغفار في الحيوة المستعار.

دروښ وايي: لکه څنګه چي د امراض ظاهره وو دواګاني سته. داغه رنګه د عصيان د مريضانو مجربه دوا سته وهو التوبة بالاخلاص بحيث لا يعود الى الذنب كما لا يعود الحليب الى الضرع.

دروښ وايي: چي په يو حديث کي راغلي دي چي بعض محدثينو حسن ګڼلی دی. چي يو سړی و عليه الصلوة والسلام ته راغلی او وه يې ويل "يارسول الله انک لاحب الي من نفسي وولدي" ته پر ما ګران يې تر ځان او تر عيال، او زه چي ګاهي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پر کور یم ستا محبت مي په زړه کي راسي، نو مي په کور کي صبر نه کېږي حتی چي زه رانه سم او ستا مبارک مخ ونه وینم "واذا ذکرت موتي وموتک عرفت انک اذا دخلت الجنة رفعت مع النبیین واني ان ادخلت الجنة خشیت ان لا اراک" او زه چي په یاد کړم خپل مرګ او ستا مرګ زه پوهېږم چي ته چي داخل سې د جنت ته ته به پورته کړه سې د نبیانو ومقام ته یعني ډېرو مقاماتو ته د جنت او که زه چېرې داخل سم د جنت ته زه بهر ږم چي په جنت کي به تا ونه وینم ولي چي ته به په اعلی درجاتو کي د جنت مقیم یې او زه به په ډېرو کښتو درجو کي د جنت یم. یعني نو څرنګه به دي وویني او بیا به مي صبر څرنګه کېږي؟ علیه الصلوة والسلام هیڅ ځواب ور نه کړی حتی جبرائیل علیه السلام دا آیت نازل کړی.

وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ

څوک چي اطاعت وکړي د خدای ﷻ په اداء کي د فرائضو او داغه رنګه په ترک کي د منهیاتو قطعیه وو او اطاعت وکړي په اداء کي د سنتو.

فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ

نو دغه کسان ملګري وي د هغو کسانو چي خدای ﷻ د هغو کسانو احسان کړی دی او نعمت یې ورکړی دی په دنیا او آخرت کي چي هغه عبارت دانبیاء علیهم السلام دی.

پوه سه: چي بغوي رحمه الله وایي چي دا آیت په شان کي د ثعبان رضي الله عنه چي ازاد شده مریی و د علیه الصلوة والسلام او ډېر سخت محبت یې د علیه الصلوة والسلام سره درلودی او د علیه الصلوة والسلام له لیدو یې هیڅ صبر نه درلودی یوه ورځ ثعبان رضي الله عنه و علیه الصلوة والسلام ته راغلی رنګ یې ډېر تغیر خوړلی و او په مخ کي یې آثار د غم او حزن ښکاره کېدل، نو علیه الصلوة والسلام پوښتنه ځني وکړه چي ولي متغیر اللون او مغموم یې؟ ثعبان رضي الله عنه ورته وویل چي زه نه ناجوړی یم او نه مي پر یو ځای درد سته لکن زه چي تا ونه وینم ډېر سخت وحشت راته پیدا کېږي تر هغو چي تا وینم. اوس زما اخرت پیاد سو او دا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مي په زړه کي راوګرځېدل چي په ورځ د قيامت خو به عليه الصلوة والسلام په درجات عالياتو کي د انبياء عليهم السلام وي او زه که جنت ته ور هم سم په کښته منازلو کي به يم، نو تا به نه وينم نو زه به څرنګه صبر کوم په دې سبب مي رنګ تغير خوړلی دی او مغموم يم فانزل الله هذه الآية.

دروېش وايي: چي مفسرين وايي چي عبرت عموم لره لفظ دی چي "فاولئک" دی خصوص لره مورد نه دی، او دروېش وايي چي ددې آيت مختلف شان نزولونه په احاديثو کي راغلي دي لکن منافات نه سره لري په تولو کي دي نازل وي.

فائده: په يو صحيح حديث کي راغلي دي چي صحابه کرامو ﷺ له عليه الصلوة والسلام څخه پوښتنه وکړه چي څرنګه به وي زمونږ او ستا ملاقات په جنت کي "وانت في الدرجات العاليات من الجنة ونحن في المنازل السافلة منها" نو عليه الصلوة والسلام داسي ځواب ورکړی "ان الاعلیین ینحدرون الی من هو اسفل منهم فیجتمعون في ریاضها فیذکرون ما انعم الله علیهم ویثنون علیه"

ژباړه: د لوړو درجو خلګ راکښته کېږي الی من هو اسفل و جنت ته. هغه چا چي تر دوی کښته دي له جنتيانو څخه. نو دوی يعني اعلی او اسفل په باغو کي د اسفل د جنت سره جمع سي، نو دوی يو له بل سره د خدای ﷻ د نعمتو بيان کوي پر دوی باندې او حمد وايي د خدای ﷻ پر ما انعم باندې.

دروېش وايي: چي يو دار الاقامة او منزلت د عالي او د سافل دی هغه خو سره جلا دی، او يو ځای کېدای نه سي، او يو ملاقات او ليدل دي د سافل سړي لکه صحابه کرام ﷺ او نور اولياء کرام رحمهم الله علي المرتبة والمنزلة لره لکه عليه الصلوة والسلام چي محبوب د تولو و هغه ته لار خلاصه ده لکه په دې نږدې حديث کي چي بيان سوه. او عين ممکنه ده که څه هم مسموع نه ده بعض سوافل دي د ملاقات او ديدار لپاره په اجازه د لوړو درجو لرونکو و ملاقات ته دوی په منازلو کي د هغو بعض اوقات ورسي لکه په دې دنيا کي چي يو مريی په اجازه د مولی د هغه کور ته د ملاقات لپاره ورتلای سي.

دروېش وايي: چي مسلم، ابو داؤد او نسائي له ربيعه بن کعب اسلمي ﷺ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څخه روایت کړی دی، ربیعه ﷺ چې ما به د اوداسه اوبه او نور د ضرورت شی لکه مسواک وغیره و علیه الصلوة والسلام ته وروړی، نو یوه ورځ یې راته وویل "سلني" زما څخه یو شی وغواړه؟ ما ورته وویل یا رسول الله ﷺ "اسئلک مرافعتک في الجنة" زه ستا څخه غواړم یو ځای ستا سره په جنت کې، علیه الصلوة والسلام راته وویل "اوغیر ذالک" یا بل شی وغواړه، ما ورته وویل "هو ذاک" زما سوال هم داغه دی" یعني د بل شي سوال نه کوم، علیه الصلوة والسلام راته وویل "فاعني علی نفسک بکثرة السجود" یعني زما سره ته کومک وکړه ستا پر نفس باندې یعني ته به زما سره په جنت کې یو ځای کې یې په ډېرو سجدو سره یعني لمونځو سره، له دې حدیث څخه دا معلومه سوه چې مرافقت د ربیعه بن کعب ﷺ د علیه الصلوة والسلام سره په جنت کې چې علیه الصلوة والسلام منظور کړی لکن دا اله خو اصو څخه د ربیعه ﷺ دی والله اعلم بالصواب.

فائده: په دې آیت کې خدای ﷻ کلمه د "نبیین" وویل او لفظ د "مرسلین" یې نه وو ایه حکمت یې څه دی؟

ځواب: عدد د انبیاء علی نبینا وعلیهم الصلوة والسلام ډېر دی تر رسولانو، په صحیح حدیث کې راغلي دي چې له علیه الصلوة والسلام څخه چا پوښتنه وکړه "کم النبیین" انبیا څو دي. ده ورته وویل "مائة الف واربعة وعشرون الفا" وفي روایة مائة الف واربعة وعشرون الفا" بیا هغه چا پوښتنه ځنې وکړه چې رسولان په دوی کې څو دي؟ علیه الصلوة والسلام ورته وویل درې سوه دیارلس جماً غفیراً.

مسئله: د انبیاء علیهم السلام په ایمان کې دي عدد معین نه ذکر کوي لما علمت من اختلاف الروایتین بلکې داسې به وایي چې زما پر ټولو انبیاء علیهم السلام باندې ایمان دی، او د رسولانو په عدد کې اختلاف نه ستە، نو که مرسلین ذکر سوي وای فقط درې سوه دیارلس ته په شامل وای، فافهم هذه الفائدة الجدیدة في هذه الآیة الکریمة.

وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ

عطف دی پر نبیین باندې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې په دې آیت کې خدای ﷻ الذین انعم الله علیهم پر څلورو برخو وېشلی دی پر ترتیب د منازلو ددوی في القرب الی جنابه تعالی وتقدس، اوله دله به انبیا علیهم السلام وبلله څکه چې دوی سره له کمال خدا داده په تکمیل د نورو انسانانو په توحید او نورو صفاتو عالیه وو او اعمال صالحه وو سره وبذل غایة مجهودهم في هذا الطریق وتحمل المشاق والشدائد والصبر علیها في ابلاغ الهدایة الی کافة الخلق، نو انبیا علیهم السلام پس له کمال علمي او عملي پر تکمیل د نورو هم ګمارل سوي دي.

او دویم قسم یې صدیقون ذکر کړه چې صدیق صیغه د مبالغې ده ای المبالغ في الصدق والاخلاص في الاقوال والافعال الی النهایة التقوی چې قوت نظري او قوت عملي ددوی وغایة الصفا ونهایة التهذیب ته رسېدلی دی.

او دریمه درجه یې شهداء دي چې د غایة حب الهي له کبله او د محبت د اعلاء د کلمة الله او د حفاظت د دین مبین د اسلام له دښمنانو څخه یې خپل خوږ ژوند او خپل ګران روحان په ښیندلي دي.

او څلورمه ډله یې صالحان بندګان نامزد کړي دي چې هغو تولنه امور شرعیه پر ځای کړي وي او له منهیاتو څخه د دین یې ځان ساتلی وي اللهم اجعلنا منهم.

درویش وایي: چې خواجه عبد الله انصاري مدفون شهر هرات قدس سره په بیان کې د څلورمې ډلې داسې ویلي دي:

حبذا قومی که داد زندگی را داده اند	ترک دنیا گفته اند واز همه ازاده اند
روزها باروزها در گوشها بنشسته اند	بازشبها در قیام بندگی استاده اند
نفس خود را قهر کرده روح کرده پر فتوح	زاد تقوی برگرفته بهر مرگ آمده اند
طرفة العیني نبوده غافل از حضرت ولي	سیلها بااین همه از دیدها بکشاده اند
یکزمان از نوح همچون نوح فارغ نیستند	همچو یحی گوئیا از بهر زاری زاده اند
زآب تاب تب الی الله غسل کرده آن کسان	روی خود برخاک پای مسجد بنهاده اند
ربنا گویند ازان لبیک عبدي می شنوند	جمله سرمست الست از جرعه این باده اند
راحتی دیدند وذوقی یافتند از انس وجان	روز شب در کونج خلوت برسر سجاده اند

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تا بدنیا آمدند از کلبه کتم عدم　　سوی حضرت جزنیاز ونالہ نفرستادہ اند
پیر انصاری تو میدانی که ایشان کیستند　　فرقه بی کرو فروز مره دل سیاه اند

درویش میگویند که اکثر اهل الله و اولیاء الله درلباسی وافعال واقوال و احوال چناچه خواجه عبدالله انصاری رحمة الله علیه بیان فرموده میباشند، لکن گاهی اهل الله در لباس شاهی وفقر قلبی خودرا نمودار میگردانند. چناچه حضرت جامی رحمة الله علیه درحال مرشد خود راخواجه عبید احرار قدس سره را بدین عنوان آورده اند.

چو فقر اندر قبای شاهی آمد　　بتدبیر عبید الله آمد

چناچه در انبیاء کرام این دو قسم موجود بوده ببین جاه وجلال سلیمان علیه السلام ونظر کن به فقر وکشنگی ماهواره حضرت سید البشر محمد ﷺ راکه موافق ابیات خواجه عبدالله انصاری بوده. راهي است که مختار پیامبر خدا محمد مصطفی بوده، وراه مرشد حضرت الجامی خواجه عبیدالله رحمة الله علیه راهی است که سلیمان بن داؤد بر آن بوده.

درویش میگوید رائهای اولیاء الله مختلف هست لکن مقصود بالذات که تقرب الی الله ووصل عریان است یک است رزقنا الله وایاکم التقرب الی الله ﷻ به هر طریق که باشد.

درویش میگوید که ماها علماء عصر حاضر میگویم که حدیثکه در آن آمده که "علماء امتي کانبیاء بني اسرائیل" مایان هم در آن داخل میباشم ونیز میگویم که مایان تمنی راههای صالحین داریم چه گوئید این دعوی واین تمنی درست است ویا خیر؟

جواب: این دعوه خیالست ومحالست وجنون، الا ماشاء الله واین تمنی اشتهاء کاذب است مثل اشتها مریض مرض محرقه بگوشت وغیره الا نادرأفي بعض العلماء من العصر الحاضر. زیرا که موانع سدراه والدعوی المذکور درین عصر موجود هستند بدترین موانع تکبر است که سر چشمه آن در ابلیس بوده که به همگان معلوم است. هم ازین تکبر ابلیس پلید، سعدي شیرازي چنین حکایت نموده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تکبر عزازیل را خوار کرد بزندان لعنت گرفتار کرد

دوم حقد وحسد که سرشالان آن یهودان مدینه بودند در عصر نبوی . سوم عدم مراعات سنت نبوي ﷺ که سبب ناراضی آن حضرت ﷺ خواهد بود در قبر انور حجره مبارکه. چهارم غیبت وبهتان که اکثر ماها مثل نمک طعام استعمال مینمایند.

دروېش مېګوید عمر او به {۹۰} خواهد رسید تجربه بسیار دارم من علماء صالح دیده ام که علم انها فقط بر کنز وقدوری شرح الیاس مستخلص محصور بوده لکن زهد وتقوی وخوف خدا وامتثال امر الهي واجتناب از نواهی بانند ازه بود که همه وهمه اولیاء الله بودند. امروز علم چهاره علوم در علماء عصر حاضر موجود است لکن در میدان عمل اسپهای آنان لنگ است ودر منهیات روان دوان میروند وفرق مختلفه هوا وهوس از دین مبین وعقائد اهل سنت والجماعة برگشتند مثل وهابیه وسلفیه وغیر آن ... ع قیاس گیر از زمستان مابهار مرا.

وَحَسُنَ أُولَٰئِكَ رَفِيقًا ﴿٦٩﴾

یعنې ښه دي دغه څلور صنفه چې ذکر کړه سوه.

پوه سه: چې "رفیقا" منصوب دی من نسبته حسن الی اولئک او یا حال دی له "اولئک" څخه.

سوال: اولئک" خو جمع دی. نو "رفیقا" یې جمع ولي راوړی؟

خواب: د رفیق اطلاق پر یوه او جمع دواړو کېږي.

ذَٰلِكَ

یعنې مرافقت سره منعم علیهم کې څه عمل ددوی نه وي کړی.

الْفَضْلُ مِنَ اللَّهِ

دا د خدای ﷻ فضل او احسان دی.

بوه سه: چې "ذالک" مبتدا. ده او "الفضل" یې صفت دی او خبر یې "من الله" دی او یا "الفضل" خبر دی د "ذالک" او "من الله" یې حال دی ای کائنا من الله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَكَفٰى بِاللّٰهِ عَلِيْمًا ﴿۷۰﴾

او کافي دی خدای ﷻ خبر په سبب د ذالک اللحوق.

پوه سه: چي کلمه د "با" زائده ده پر فاعل باندي هر ځای چي په قرآن کریم کي راسي. والحاصل ان سبب لحوق المحب بالمحبوب من عمل کعمله وذالک المحبة امر لا یعلمه الا الله تعالی او کرام کاتبین هم نه دي په خبري. وعن انس ﷺ ان رجلاً قال یا رسول الله ﷺ الرجل یحب قوماً ولم یلحق بهم ای من حیث اعمالهم فقال النبي ﷺ المرء مع من احب رواه احمد والبخاري ومسلم. وفي البخاري ومسلم عن عبد الله بن مسعود وانس قال قال رجل یا رسول الله ﷺ متی الساعة قال ویلک ما اعددت لها قال ما اعددت لها الا اني احب الله ورسوله انت مع من احببت یعني الرسول ﷺ لعدم المکان لله تعالی. قال انس ﷺ فما رئیت المسلمین فرحوا بشئ بعد الاسلام فرحهم بهذا" انس ﷺ وایي مانه دی لیدلی مسلمان چي خوشحاله سوی دی وي په یو شي پس له اسلامه لکه خوشحالي ددوی په دي قول د علیه الصلوة والسلام انت مع من احببت. ولي صحابه ﷺ ټوله محبین د علیه الصلوة والسلام غایة الحب فیکونون معه ﷺ في الجنان لا في الدرجة والمنزلة بل في الزیادة والملاقات هر وخت چي ددوی اراده سي اللهم اجعلنا منهم بفضلک وکرمک فانک علی کل شئ قدیر وبالاجابة جدیر.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا خُذُوْا حِذْرَكُمْ

اې هغه کسانو چي ایمان یي راوړی دی درسره اخلئ حذر خپل.

پوه سه: چي "حِذر" بکسر الحاء وسکون الدال و "الحَذر" بالفتحتین معناهما واحد ای ما یحذر به عن العدو من السلاح والخیل وغیرهما وقد جاء المثل والمثل والاثر علی الوزنین المذکورین.

فَانْفِرُوْا ثُبَاتٍ

وځئ و جهاد تهدد کافرانو "ثبات" جمع ثبة په معنا د جماعت یعني عشرة فما فوقها کذا روی عن ابن عباس ﷺ. فالمعنی جماعات متفرقة او دی سرایا وایي جمع د سریة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَوِ انْفِرُوا جَمِيعًا ﴿٧١﴾

او یا وځئ جهاد ته سره جمع چي ودي ته غزوه وایي.

وَإِنَّ مِنكُمْ لَمَن لَّيُبَطِّئَنَّ

او په تحقیق بعض ستاسي ځخه. هغه کسان چي له جهاد ځخه تاخیر کوي او ځان کاږي وهم المنافقون. دا جمله عطف ده علی خذوا حذرکم باندي عطف القصة علی قصة الی قوله فلیقاتل.

پوښتنه: منافقان خو کافران وه نو په منکم کي ځرنګه داخل کړه چي مراد ځني مؤمنان دي؟

ځواب: دخول ددوی په اعتبار د ایمان قولي او ظاهري دی لاباعتبار الکفر الباطني والقلبي.

پوه سه: چي مراد له "لمن آه" ځخه ابن ابی واصحابه دي چي په غزاء کي د احد یې تخلف مختار کړی.

فائده: کلمه د لام په "لیبطئن" کي لپاره د قسم محذوف دی تقدیره وان منکم والله لیبطئن ای یتخلفون عن الجهاد.

پوه سه: چي "لمن" اسم دی "ان" لام د ابتداء چي پر داخل کړي په سبب د فصل بالخبر وهو منکم کما هو القانون النحوي.

فَإِنْ أَصَابَتْكُم مُّصِيبَةٌ

نو که تاسي ته به اې مؤمنانو ورسېدی یو غم لکه شکست او شهادت لکه په احد کي چي اوویا کسه شهیدان مسلمانانو له لاسه ورکړه او شکست یې هم په برخه سو.

قَالَ قَدْ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيَّ إِذْ لَمْ أَكُن مَّعَهُمْ شَهِيدًا ﴿٧٢﴾

نو دا منافق ویي خدای ﷻ ه پر احسان او انعام پر ما وکړی په دې سبب چي که د مسلمانانو په میدان جنګ کي حاضر وای، نو ماته په قتل په برخه سوی وای یا به مي جراحت په برخه سوی وای.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَئِنْ أَصَابَكُمْ فَضْلٌ مِّنَ اللَّهِ لَيَقُولَنَّ كَأَن لَّمْ تَكُنۢ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُۥ مَوَدَّةٌ

او که چېرې ورسېږي فضل له جانبه څخه د خدای ﷻ وتاسي ته لکه فتح پر کفارو، هر آئینه دا منافق وایي له ډېره غمه څخه کما یدل علیه التاکید بالنون الثقیلة، او لفظ د "کان" مخفف د مثقل دی اسم یې ضمیر شان محذوف دی لم تکن بالتا، والیا، قرائتان متواترتان. ولي چې اسم د "یکن" چې لفظ مودت دی او مونث غیر حقیقي تذکیر او تانیث د فعل دواړه یې روا دی په منځ کې ستاسي مسلمانان او د منافق.

پوه سه: چې جمله د "لم تکن آه" په منځ کې د "لیقولن" او مقوله د هغه چې یالیتني دی، والمعنی په داسي شان کې وي منافق لکه ستاسي او دده تر منځ مودت او شناخت نه و لاان محبتهم کان المال ولم یصل الیهم شئ من الغنیمة وهذه مقوله القول.

یٰلَیْتَنِیْ كُنْتُ مَعَهُمْ فَأَفُوْزَ فَوْزًا عَظِیْمًا ﴿۷۳﴾

پوه سه: چې اصل منادی محذوفه ده ای یا قومي کشکې زه ملګری وای د مسلمانانو په دغه ګټور جنګ کې. نو ما په بری پیدا کړی وای لوی بری یعني الغنیمة. والمعنی ماته به هم د غنیمت لویه برخه رارسېدلې وای.

فَلْیُقَاتِلْ

نو جنګ دي کوي.

پوه سه: چې دا کلمه معطوفه ده پر "خذوا حذرکم" باندي، او په دې جمله کې التفات دی له خطاب څخه د "خذوا" و غیبت ته د "فیقاتل آه"

فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ الَّذِیْنَ یَشْرُوْنَ الْحَیٰوةَ الدُّنْیَا بِالْاٰخِرَةِ

په لاره کې د خدای ﷻ یعني صرف او صرف لپاره د اعلاء کلمة الله یعني "لا اله الا الله. یعني لا لغنیمة ولا لاظهار الشجاعة ولا للعصبیة وغیر ذالک وهم المخلصون من المؤمنین. نو پر دې تقدیر موصول فاعل دی د "یشرون" او بعض مفسرین وایي چې شراء پر خپل معنا ده ای یختارون الحیوة علی الآخرة وهم المنافقون.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: منافقان کله في سبيل الله جنګ کوي نما معنا کونهم مخاطبون بالقتال؟

خواب: د آیت معنا پر دې تقدیر دا ده چې منافقان دي د ځانه سره فکر وکړي او ایمان بالاخلاص دي راوړي او له نفاقه دي توبه وکاږي او بیا دي قتال في سبیل الله وکړي نو ځکه دا انفاق ددوی حسرت ونه ګرځي پر دوی په دنیا او آخرت کې. وهذا مثل ان تقول للجنب صل ای اغتسل عن الجنابة ثم صل وامثلته کثیرة. او دا هم احتمال سته چې مخاطب په فلیقاتل سره دي مؤمنان مخلصان وي لکه په خذوا حذرکم کې او له موصول څخه دي مراد کافران او منافقان وي چې دوی حیوة الدنیا پر آخرت خوښه کړې ده. نو شرا پر دې تقدیر هم پر خپله معنا ده او موصول مذکور محلاً منصوب مفعول به ده فلیقاتل دی.

وَمَنْ يُّقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَيُقْتَلْ اَوْ يَغْلِبْ فَسَوْفَ نُؤْتِيْهِ اَجْرًا عَظِيْمًا ۝

او څوک چې جنګ کوي د کافرانو سره په لاره کې د خدای ﷻ. نو ووژل سي یعني شهید سي او یا غالب سي پر کافرانو یعني په جنګ کې ژوندی پاته سي. نو ژر دی چې زه په ده ترکړم ثواب لوی یعني په ورځ د آخرت. ولې چې ده خو خپل جهد وکړی حسب طاقت او په اعلاء د کلمة الله یې کوشش وکړی. نو چې دی ووژل سي او اعلاء د کلمة الله دده په جنګ سره حاصله نه سوه. نو ثواب د بذل النفس او د بذل الجهد خو خدای ﷻ پاک یقیناً ورکوي. نو که دی غالبه سي سره د اعلاء د کلمة الله احراز د غنیمتو خو یې هم وکړی. نو دې سړي ته هم خدای ﷻ اجر عظیم ورکوي، او پیدا کول د غنیمت دده و اجر څه تاوان نه کوي که دده نیت خالص وي د اعلاء کلمة الله لپاره او لپاره د اعزاز د دین وي لا الغنیمة.

له ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې بخاري او مسلم راوړی دی چې نبي ﷺ وویل چې خدای ﷻ وعده د مغفرت کړې ده د هغه چا سره چې دوځي په لاره کې د خدای ﷻ "لا یخرجه الا ایمان بي وتصدیق برسلي ان ارجعه بما نال من اجر وغنیمة او ادخله الجنة. وعن ابي هریره رضی الله عنه ایضاً قال قال رسول الله ﷺ مثل او حال د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مجاهد في سبيل الله لكه حال د هغه سړي چې روژې نسي او ولاړ وي پر لمونځ او آيات د خدای پکښې وايي او مستي نه کوي نه په روژه کي او نه په لمونځ کي حتى يرجع المجاهد في سبيل الله. وفي الحديث الصحيح قال رسول الله ﷺ جاهدوا المشركين باموالكم" تاسي جهاد کوئ له مشرکينو سره په مالو سره. يعني انفاق کوئ او خرچه ورکوئ و مجاهد ينو ته "وانفسكم" او په خپلو ځانو سره يعني پخپله هم په جهاد کي درېږه "والسنتكم" او په خپلو ژبو سره بنېرا کوه مشرکينو ته د شکست او ماتي خوړلو او مسلمانانو ته دعاء کوه د نصرت او غنيمت.

وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُونَ

او څه سوي دي په تاسي باندي چې جنګ نه کوئ. کلمه "ما" استفهاميه مبتدا. ده "ولكم" يې په اعتبار د متعلق يې خبر دی ای ماثبت لكم.

دا جمله حال ده عامل يې "ثبت" دی. والمعنى ماثبت لكم تاركين القتال والاستفهام للانكار على الترك.

فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ

په لار کي د خدای ﷻ يعني لاعلاء كلمة الله "والمستضعفين" عطف اسم الجلالة ای في سبيل الله المستضعفين ای في خلاصهم بحذف المضاف من ايدي المشركين بمكة. قال ابن عباس ﷺ كنت انا وامي من المستضعفين وليس مقصوده الحصر فيهما.

مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ

بيان للمستضعفين يعني له لويو خلګو څخه چې به ضعيفه وه او د هجرت طاقت به يې نه درلودی او ښځي چې دوی د سفر لار ومدينې ته يوازې نه سوای قطعه کولای او بچه مرده هلکان چې د مشرکينو د مکې د ډېرو کرارو سره مخامخ وه.

الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هَٰذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا

هغه مستضعفين چې دوی به په مناجات او دعا کي داسي ويله مونږ وباسې له دغه قريې څخه يعني مکه "ربنا" منادی بحذف حرف النداء يعني يارينا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې لفظ د "قریه" په اصطلاح د قرآن عام دی ښار ته هم وایي، چې ظالم دي اهل ددې قریې.

پوه سه: چې لفظ د ظالم کله څه هم لفظاً د قریه لکن تذکیر یې په اعتبار د مسند الیه المذکر المذکور بعدها یعني اهلها.

وَاجْعَلْ لَّنَا مِنْ لَّدُنْكَ وَلِيًّا ۚ وَّاجْعَلْ لَّنَا مِنْ لَّدُنْكَ نَصِيرًا ﴿٧٥﴾

او ګرځوي ستا له خوا څخه یو څوک چې ته ولي زمونږ کار وکوي او مونږ ته راکړې ستا له خوا کومک کونکي زمونږ چې د مشرکانو ازار زمونږ څخه منع کړي.

دروښ وایي: چې ددوی خواست خدای ﷻ قبول کړی چې علیه الصلوة والسلام مکه مکرمه فتح کړه او عتاب بن اسید ﷺ یې حاکم پر مکه مقرر کړی چې علیه الصلوة والسلام مدینې ته تلی چې هغه د هر مظلوم کسات له ظالمه څخه اخستی.

اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ

هغه کسان چې ایمان یې راوړی وي دوی جنګ کوي په لار کې د خدای ﷻ ای الطریق الموصل الی الله وهو طاعته واطاعة رسوله.

وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ الطَّاغُوْتِ

او هغه کسان چې کافران دي هغه جنګ کوي په لار کې د شیطان.

پوه سه: چې "طاغوت" صیغه د مبالغې ده که څه هم سرکښ ته وایي لکه دمخه چې تېر د سوه چې کعب بن الاشرف ته یې طاغوت وویل، لکن مراد دلته رئیس اعظم د طاغوتانو دی یعني الشیطان کما یدل علیه مابعده.

فَقَاتِلُوْٓا اَوْلِيَآءَ الشَّيْطٰنِ ۚ

نو تاسي جنګ کوئ سره د دوستانو د شیطان.

اِنَّ كَيْدَ الشَّيْطٰنِ كَانَ ضَعِيْفًا ﴿٧٦﴾

په تحقیق مکر د شیطان ضعیفه دی، ولي چې مکر د شیطان محصور دی صرف پر وسوسه باندې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تنبیه: د بدر په غزاء کي چې د مشرکانو تعداد زر نفرو ته رسېدی او ټولـه هم مسلح وه او هم د سپر تیا شیان ورسره وه شیطان په رنګ د سړي ورته راغلی او ابو جهل یې تر لاس ونیوی او داسي یې ورته وویل "لاغالب لکم من الناس الی اخیر الآیة في موضع آخر من القرآن" وروسته چې شیطان ملکي ولیدلې چې د مسلمانانو د ضعف په خاطر چې تعداد یې درې سوه دیارلس و دوه اسان، پنځه اوښان او اته توري ورسره وې او علیه الصلوة والسلام د دېرو دلسوزۍ زاري په سبب میدان جنګ ته راغلی، نو شیطان د ابو جهل لاس ایله کړی او د شا پر خوا روان و او ابو جهل ته یې وویل "اني بریئ منکم اني اری مالاترون اني اخاف الله والله شدید العقاب" وهذا لفظ عبارة القرآن ناقلاً لقول الشیطان في موضع آخر من القرآن، والمعنی زه بېزاره یم ستاسي څخه زه وینم هغه څه چې تاسي یې نه وینئ یعني اللعین الملائکة او زه له خدای ﷻ څخه ببر یږم.

دروښ وایي: چې معنا د بېرې د لعین له خدای ﷻ څخه داده چې دا ملکي خدای ﷻ زما پر قتل ونه ګماري والله اعلم بالصواب.

یوه سه: چې شیطان خو مخلوق دی او یو رزیل ملعون دی نو دده کید نسبت به وکید ته د باري ﷻ چې خالق د عالمیانو دی او عالم په حال د ټولو کائناتو العلویات والسفلاتو دی بې څه نسبت وي بلکې د نیست او هست نسبت به یې وي.

یو بشننه: خدای ﷻ دلته کید د شیطان ضعیف وبلی او په صورت یوسف کي یې د بنځو کید ته عظیم ویلي دی "ان کیدکن عظیم" وجه یې څه ده؟

خواب: شیطان خو وسوسه د زنا په زړه کي د سړي ور اچولای سي. نور خو یې زنا ته نه سي مجبوره کولای لکن یوه فاحشه زانیه ښائسته بنځه چې په خلوت کي سړي ته ورسي لامحاله زنا په کولای سي الا من عصمه الله، داغه رنګه شیطان به د دوو وروڼو تر منځ په وسوسه سره عداوت پیدا کړي لکن یو په بل نه سي وژلای او بنځه یو ورور په بل ورور وژلای سي، مثلاً د یوه ماینې کاذبانه خپل مېړه ته وویل چې ستا ورور زما څخه مچه واخستل او زه یې و زنا ته دعوت کړم، خو ما په ډېر خیګر خونې ځان څنې خلاص کړی، نو ددې بنځې مېړه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورځي بيلا تحقيق خپل ورور په ګولۍ ولي مثلاً. دوه ورونه ديوه مور او پلار چې دپر سره خوشحاله وي ښځي سره جلا کولای سي.

سمع شنيده واقعه: په يوه قريه کي ډوه ورونه وه چې يو يې ملاصوفي نومېدی او بل شېر نومېدی بزګری او باغوانی يې کولې. دپر سره ګران وه او دواړو ماينې درلودې. يوه ورځ شېر وخپلې ماينې تهويلي وه چې زما او د ملاصوفي داسي بنه ورور ګلوي ده چې دا څو کاله چې موږ تاسي راوادە کړي ياست ما وده ترخه خبره نه ده سره کړې. نور ورونه چې دواړه ماينې ولري له لږ وخت کي په وښ سره جلا سي. د شېر ماينې ورته وويل چې موږ ښځي يو تا او ستا ورور نه سره جلا کوو. شېر ورته وويل چې ستاسي په شيطانت موږ نه سره جلا کېږو. خير دا خبره خو د شېر او د ماينې دپره دمخه سوې وه.

دروېش وايي: چې په پخوا زمانه کي او اوس هم د صحرا. د خلګو دا رواج دی چې چونکه په ژمي قصابي نه کېږي. نو هر کور والا که څه هم مسکين وي د ګال د سره يو بنه وری رانسي او بنه خواړه او اوربشي ورکوي تاچي وژمي ته بنه تيار سي. نو په ژمي يې حلال کړي. او دې ته صحرايان لاندی وايي. دا پوسه چې حلال کړي له هډوکو څخه خلاصي غوښي جلا کړي او پر هغو غوښو دپره مالګه واچوي او پر مني يې وخړوي (منی داوي چې يوه اوږده محکمه لکړه په مځکه کي بنخه کړي او پر سر يې يو بل کوچنی لرګی تينګ وروتړي او هغه بې هډوکو غوښي نيمی د لوړ لرګي پر يوه خوا او نيمی يې پر بله خوا ور واچوي تاچه وچې سي، بيا کوچنی کتړې ځني جوړي کړي او بيا يې توله ژمي په کتو کي خوري چې مزه داري غوښي وي. او د لاندي په ورځ پخوا دا قانون و چې په محل کي به چا لاندی وکړی د محلې له هر کور څخه به يې يو يو سړی مانښام مېلمه کاوه او دلښت او لری به يې باندي کړی او ورجي به يې هم ورسره پخې کړې مانښام به يې د کلي مېلمانه مازه کړه او خپلو کورو ته به ولاړه. خو ددې اصطلاح سره موافق ملاصوفي او شېر هم يو بنه غټ پوسه د کال له سره څخه رانيولی و د لاندي ورځ چې راغله شېر د مځکي د خړوبولو لپاره تللی و. ملاصوفي پوسه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حلال کړی او پر مروجه قانون یې سنبال کړی او د مېلمنو کار یې هم برابر کړی. شپږ هم مانبام ته راورسېدی او د مېلمنو کار او خدمت پای ته ورسېدی. شپږ وایي زه چې خوني ته ورغلم ماینه مي په یو کونج کې ناسته ده ما ورته وویل چې څه کوې دلته غلې ناسته یې. دې د کاڈبانه ژړا په لهجې راته وویل چې داغسې ناسته یم، خو ما ته ژړا ډېر ګروم راوستی او دې ته مي وویل چې اخیر څه پېښه ده دې بیا وژړل خو زه یې ډېره متاثر کړم، نو ما ورته وویل چې ژړ راته وایه چې څه پېښه ده. دې په ژړا کې راته وویل چې ټن چې دې لالا پوسه حلال کړی او نس یې ور څیرې کړی خپل زوی چې یې ورغلی هغه لوی پښتورګی یې په لاس ورکړی او زما یتیم چک چې ورغلی هغه دونده کوچنی پښتورګی یې ورکړی. شپږ وایي چې ماینې مي وویل چې تر اوسه لا زما د زوی پلار ژوندی دی ملا صوفي داسې ظلم ورسره وکړی دا که خدای ناخواسته پلار یې مړ سي ملا صوفي به څرنګه ظلمونه ورسره وکړي. شپږ وایي ما ورته وویل چې دغسې به یې نه وي کړي، دې راته وویل په خدای که یې بل ډول کړي وي. شپږ وایي ما ماینې ته وویل چې زه به هم د ملا صوفي خوښ سم چې د مني پر سر به غوښې ورسره ووېشم او آئینده به زما او ده وېش سره جلا وي. شپږ وایي چې د ډېره درده ما ور ناري کړه چې لا لا؟ ملا صوفي په خپله خونه کې و. ماینې راته وویل چې څه یې کوې؟ ما ورته وویل چې هم دا ننه شپه ده سره وېش کوم، ما ینې راته وویل اوس یې پرېږده شپه ده سهار به وېش ورسره وکړې. شپږ وایي زما زوروونه دي چې دباندې ور ووځم او د ملا صوفي سره یې معلومه کړم ماینه مي خوني ته کشوي چې اوس یې پرېږده. په اخیر کې یې راته وویل چې د یوه پوسه په دوو پښتورګو کې تا تر اوسه یو لوی یو او بل کوچنی لیدلی دی. او بیا یې راته وویل چې تا خو ویله چې ما او ملا صوفي ډېره سره ګران یو. ما درته وویل چې موږ ښځې ښې ښځې یو چې تاسې نه سره جلا کوو. او اوس مي څرنګه په دروغو وېش ته اماده کړې. شپږ وایي ما ورته وویل چې خدای ﷻ مو دي ستاسي له شر او تګیه وساتي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې له دې اوږدې قصې څخه زما مطلب دادی چې مېړه بايد د ماښې خبره بلا تحقيق او تامل پر غوږ ونه نيسي او عمل پرې ونه کړي. لهذا ښځو ته د حبائل الشيطان لقب ورکړه سوی دی يعنې د شيطان رسۍ. اول مکر د ښځې چې سړی له هوښه باسي د دروغو ژړا ده چې د هرې ښځې رسماً زده ده.

دروښ وايي: چې دا رنګه واقعات شنيده او ديده ماته معلومي دي لکن په تفسير کې بالا ګنجائش د قصو نسته، نو دا قصه په قرار د مشت نمونه خروار وبولئ.

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ قِيْلَ لَهُمْ

ته نه ګورې هغو کسانو ته چې وويل سوه دوی ته له جانبه د رسول الله ﷺ، يغوي رحمه الله عليه له کلبي رحمه الله عليه څخه روايت کړی دی چې په هغه وخت کې چې عليه الصلوة والسلام په مکه مکرمه کې و او ازار د اهل مکې پر مسلمانانو تر اندازې دېر سو، نو عبد الرحمن بن عوف الزهري، مقداد بن الاسود الکندي، قدامة بن مظعون الجهني، سعد بن ابي وقاص او نور ګڼ شمېر مسلمانان رضي الله عنهم قبل ان يهاجروا له عليه الصلوة والسلام څخه اجازه د جنګ وغوښتل د کفارو سره د مکې، نو عليه الصلوة والسلام ورته وويل.

كُفُّوْٓا اَيْدِيَكُمْ

تاسې باندې کړئ خپل لاسونه يعنې ځانونه له جنګ څخه د کفارو د مکې، ولې چې زه په جنګ سره ددوی نه يم امر سوی.

وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ

او لمونځ کوئ او زکوة ورکوئ، يعنې ځانونه په لمونځ او زکاتو چې تاسې په امر سوي ياست مشغول کړئ، ولې چې په لمونځ او زکاتو سره د نفس تصفيه رائحي، نو دا جهاد دی د نفس امارة بالسوء سره. او جهاد د نفس سره مقدم دی تر جهاد د کفارو سره، ولې اصلاح د ځان مقدمه ده تر اصلاح د بېګانه چې کفار دي، نو ځکه خدای جل جلاله جهاد له نفس سره پر هر مسلمان فرض عين ګرځولی دی، او جهاد له کفارو سره فرض کفايي الا في بعض الاحوال چې کافران د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسلمانانو محکه اشغال کړي.

پوه سه: چې استفهام د "الم" لپاره د تعجب دی او ځای د تعجب یې هغه دی چې وروسته تر امر بالقتال یوې ډلې له جنګ څخه ډډه وکړه او د کفارو بېړه یې په زړو کې پیدا سوه، اوسره ددې چې دوئ تولې اماده باش وه و قتال ته دمخه تر امر بالقتال کمایدل علیه قوله تعالی "کفو ایدیکم آه" لان الامر بالکف عن الشئ انما یکون بعد القصد الی ذالک الشئ.

فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ

پس هغه وخت چې قتال د کفارو سره پر دوی فرض سو، یعنې وروسته تر هجرت د علیه الصلوة والسلام مدینې ته. نو هغه پر دوی سخته پرېوته او جبن یې مختاره کړی. ولې چې دوی له ازاره د کفارو خلاص سوه او ژوند یې په راحت سو.

إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُمْ يَخْشَوْنَ النَّاسَ كَخَشْيَةِ اللَّهِ

پوه سه: چې "اذا" د مفاجات او جواب د "لما" دی او "فریق" مبتداء ده او "منهم" یې صفت دی. نو نکره مخصصه سوه دلته یې ابتداء صحیح ده کما تقرر في النحو. او "یخشون" یې خبر دی او اضافت په خشیة الله اضافت دی د مصدر د مفعول ته او "کخشیة" په محل کې د مفعول مطلق تشبیهي دی، ومعنی الآیة ناببره یوه ډله له دوی څخه بېرډله د خلګو یعنې له کافرانو څخه یې داسې بېره وه لکه سړی چې له خدایه بربرې.

أَوْ أَشَدَّ خَشْيَةً ۚ

او یا سخت تر بېرهدلو له خدای ﷻ څخه.

پوښتنه: بېرهدل له کافرانو څخه په مثل د بېرهدلو له خدای ﷻ څخه او یا الله تر هغه خو کفر دی. نو څرنګه به نسبت ددغې به ومسلمانانو ته وسي؟

ځواب: دا کلام مبني پر مجاز دی په دې ډول چې دغو کسانو چې ژر امتثال د خدای د امر په قتال کې د کفارو او جبن یې مختار کړی او د نفس په خوله یې وکړه، نو خدای ﷻ ذکر کړی په دې سبب چې شدة الخشیة من الکفار تر خشیة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

له خدای ﷻ څخه او مراد یې مسبب دی اعني التقاعد من القتال وعدم المسارعة اليه وهذا لا يستلزم ان يكون في الواقع خشيتهم من الناس من خشيتهم من الله بلكې بعض وخت د نفس او د شيطان په ښائسته کولو د يوې ګناه هغه ګناه وکړي او له عذاب څخه غافل وي او يا طمع د مغفرت له خدای ﷻ څخه وي مثلاً يو سړی له خلګو څخه په پټه زنا وکړي طمعاً لغفرانه. نو ددې معنا خو دا نه ده چې ددې زاني دا عقيده ده چې خلګ اشد عذاباً دي تر خدای ﷻ او د هر قدرت لري پر عذاب دده تر خدای ﷻ. او په دې آيت سره خوارج دليل وايي چې مرتکب د ګناه کبيرې کافر دی، ولې دغه کسان چې له جهاد څخه ګنبښتل دا خو يوه ګناه ده چې دوی وکړه او خدای ﷻ دغه کسان د هر بېرته ونکي وبلل د خلګو تر بېرې له خدای ﷻ څخه وهذا کفر بواح؟

ددې ځواب دادی چې موږ دمخه وويل چې دا کلام محمول پر مجاز دی، يعنې سبب ذکر دی او مراد ځنې مسبب دی. البته که کلام محمول پر حقيقت وای، نو د خوارجو دليل لره به وجه وای.

پوښتنه: خدای ﷻ و مجاز ته څه ضرورت لري؟

ځواب: قرآن مجيد د عربو پر ژبه نازل دی او په عربي ژبه کې فصاحت او بلاغت دی چې پر صحيح مذهب هم داغه فصاحت او بلاغت فائقه سبب د قرآن د اعجاز دی، مبني دی في الاکثر على المجازات والاستعارات كما لا يخفى على من تتبع كلام العرب العرباء وتتبع القرآن العزيز حتى يجد فيه من المجازات العديدة والاستعارات الكثيرة.

دروښ وايي: چې که څوک زما په دغو خبرو کې شک لري د حسد له لاري يا د تعصب له لار، نو دې دی د اصول فقه کتابونه ښه په غور سره مطالعه کړي، او يا دې مطول او مختصر په معاني وو کې مطالعه کړي چې دغه کتابونه د هر مجازاتو او استعاراتو مثالونه له قرآن عزيز څخه پېښوي.

پوښتنه: عبيد الله تاخو خبرې د عوامو تر فهم ډېرې کړې او ستا تفسير خو پښتو و د عوامو لپاره؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: زه منم چې زما تفسیر په پښتو ژبه دی، لکن ما داسې نه دي ویلي چې زما تفسیر صرف او صرف د عوامو لپاره دی. بلکې زما په تفسیر سره عوام هم فائده اخستلای سي او بې حسده ملایان هم فائده ځنې اخستلای سي. او دا خبره ما د هر واړونه په دې تفسیر کې کړې ده قطعاً لعرق الحسد والطعن والغیبة والبهتان، ولهذا اقول.

هم یحسدونني ولا ابالي فشر الناس من عاش یوماً غیر محسود

وَقَالُوْا رَبَّنَا لِمَ كَتَبْتَ عَلَيْنَا الْقِتَالَ لَوْلَآ اَخَّرْتَنَآ اِلٰٓى اَجَلٍ قَرِيْبٍ ؕ

او دوی وایي چې اې زموږ ربه ولې دې پر موږ فرض کړی جنګ د کافرانو سره یعنې خو موږ په قتال کې وژل کېږو. او ولې دې موږ ببله جنګه ځنډولو تر اجل د مرګ چې نژدې دی په خپلو کورو کې چې پر خپلو فراشو مړه سوي وای.

فائده: دا دوې جملې یعنې "لم کتب آه" ولو لا اخرتنا آه" یې په عطف سره نه راوړې. اشاره ودې ته ده چې دوی به ګاهې یوه جمله ویله او ګاهې به یې دا بله جمله ویله. او مجموع دواړې یو کلام نه دي.

پوه سه: چې دا ددوی خبرې پوښتنه نه ده له حکمت څخه د واجبولو د جنګ د کفارو سره. ولې چې هغه حکمت خو هر چاته معلوم دی چې اعلا، د کلمة الله ده او تخلیه ده د محکي له کفر څخه. بلکې دا ددوی تمنی ده چې مدة د کف عن القتال لږ څه زیات کړي حذراً من الموت.

قُلْ مَتَاعُ الدُّنْيَا قَلِيْلٌ ۚ

ته ورته ووایه چې تمتع او نفعه اخستل د دنیا په منافعو سره لږ ده. یعنې نسبت د منافعو ته د آخرت. او بل د دنیا منافع سریع الزوال دي. نو که تاسي ته مهلت هم درکړه سي او عمرونه مو هم زیات سي فرضاً. نو فائده یې څه ده؟

وَالْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لِّمَنِ اتَّقٰى ۣ

او ثواب د آخرت چې جنت دی مع نعیمها التي لاعین رئیت ولا اذن سمعت ولا خطر علی قلب بشر کما جاء في الحدیث الصحیح. چې یو له هغو ثوابو څخه په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جهاد في سبيل الله پورې مربوط او تقاعد او سستي له جهاد څخه نه کول دي، او ثواب د آخرت خير دی تر ثواب د دنيا چې د يو څو ورځو په تمتع پورې مربوط دی، او ثواب د آخرت د هر دوام داره دی تر ثواب د دنيا.

وَلَا تُظْلَمُونَ فَتِيلًا ۝

او فتيل چې بېخي ادنی شی دی پر تاسي ظلم نه کېږي يعنې چې ستاسي ثواب دي کم کړل سي.

پوه سه: چې نعمتونه د آخرت ښه دي تر نعمتو د دنيا من وجوه.

(۱) نعم د دنيا لږ دي او نعمتونه د آخرت بېخي دهر دي (۲) نعم د دنيا قطع کېږي په مرګ سره د سړي، او نعم د آخرت ابدي دي لعدم الموت فيها (۳) نعم د دنيا ملګري دي د غمو او آفتو او د طبعيت د خلاف کارو سره، او نعم د آخرت د ټولو کدوراتو، غمو او آفتو څخه خلاص دي (۴) نعم د دنيا چې سړی هر څونده سرمايه داره وي په دې نه پوهېږي چې سبا ورځ به څه حال وي، او نعم د آخرت يقيني دي تر ابد پورې، نو نتيجه يې داده چې عاقل سړی اختيار کړي هغه شی چې خير دی من کل وجه او پرېږدي هغه شی چې شر وي من کل وجه، محقق شيرازي وايي.

عمارت يا سرای ديگر انداز — که دنيا را اساسی نيست محکم
فريدون را سر آمد بادشاهی — سليمان برفت از دست خاتم
وفاداری مجوی از دهر خون خوار — محالست انگبين درکام ارقم
مثال عمر سربر کنده شمعيت — که کوته باز ميباشد دمادم
ويا برفی گذاران بر سر کوه — کزو هر لحظه خبرثی ميشود کم

دروېش وايي: چې يوه سړي له بل سړي څخه سرای رانيوی، نو دوارې و حضرت علي ﷺ ته راغله چې موږ ته قباله را وکاږه، نو علي ﷺ داسي قباله ورنوشته کړه "بسم الله الرحمن الرحيم اما بعد: فقد اشترى مغرور من المغرور دارا دخل فيها في سكة الغافلين لا بقاء لصاحبها فيها" او د سرای حدود اربعه يې داسي ليکنه کړه "الحد الاول ينتهي الى الموت والثاني الى القبر والثالث الى الحشر والرابع الى الجنة او النار والسلام" علي ﷺ چې دا قباله پر مشتري

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وویل هغه بیرته سرای و بائع ته رد کړی او ثمن یې تولـه خیرات کړی و تزهد في طلب الدنیا وهکذا یکون العارف.

حکایت: یو عارف بالله ته ته یو چا وویل هل تعرف الله فغضب العارف وقال هل ترائي اعبد من لا اعرفه، سائل ورته وویل "هل تعصي من تعرفه قال لا" سعدي عمری که میرود بهمه حال سعی کن .... نادر رضای خالق همچون بسر بری

پوه سه: چې په رد کې د هغه قول د منافقانو چې دوی په باره کې د مقتولینو د احد د جنګ دا ویل "لو کانوا عندنا ماماتوا وما قتلوا" دا آیت مبارک نازل سو.

أَيْنَ مَا تَكُونُوا يُدْرِكْكُّمُ الْمَوْتُ وَلَوْ كُنتُمْ فِي بُرُوجٍ مُّشَيَّدَةٍ

هر چېرې چې تاسي یاست مرګ به پیدا کوئ یعني مرګ به در رسېږي عند حلول الاجل الموعود، که څه هم تاسي یاست په لوړو قلعو کې چې ډېرې محکمې وي، او قتاده رحمه الله وایي چې "شید" و ګچو ته وایي، نو د شید معنا داده چې په ګچو وهل سوي وي لپاره د غایة الاستحکام.

پوه سه: چې منافقانو او یهودانو د مدینې منورې به ویل چې زموږ مهوږ او کښتونه مخ پر نقصان روان دي د کومه وخته چې دغه سړی او اصحاب ددې مدینې ښار ته راغلي دي، نو دا آیت نازل سو.

وَإِن تُصِبْهُمْ حَسَنَةٌ يَقُولُوا هَٰذِهِ مِنْ عِندِ اللَّهِ

که دوی ته ورسېږي یو ښه والی یعني فراخي د رزق او هر وخت بارانونه او د کښتو ښه ښه حاصلات وي، نو دوی وایي چې دا د خدای ﷻ له لوري دي پر موږ یې پېرزو ینه وکړه.

وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَقُولُوا هَٰذِهِ مِنْ عِندِكَ

او که دوی ته ورسېږي یو خصلت یعني یو له بدو شیانو لکه قحط او لږ والی د مهوو او د حاصلاتو او د کښتو، نو دوی تاته وایي چې دا شیان ستا له لوري موږ ته پېښ سوه یعني ستا د سوی پالی او شومتوب له سببه ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قُلْ كُلٌّ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ

ته ورته ووایه چې هر یو له حسنې او سیئې څخه له جانبه د خدای ﷻ دي حسب ارادته لانه هو الخالق علی الاطلاق، یعنې حسنه په تفضل او احسان دی او سیئه یې انذار او انتقام دی علی مقتضی حکمته، او پر خدای ﷻ دا نه ده روا چې له چا څخه انتقام اخلي په شوم د بل چا، نو نسبت د شوم و علیه الصلوة والسلام ته کول او سره ددې چې دوی په کفر او معاصیو کې غرق دي دا ددوی لوی حماقت دی او ظاهر البطلان خبره ده.

فَمَالِ هٰٓؤُلَآءِ الْقَوْمِ لَا يَكَادُوْنَ يَفْقَهُوْنَ حَدِيْثًا ﴿۷۸﴾

پس څه عارض پېښ سو دغه قوم ته یعنې کافرانو ته چې قریب نه ده چې دوی به پوه سي په خبره، یعنې بالفعل پوهېده خو بېخي نسته.

پوه سه: چې بعض مفسرین وایي چې مراد له حدیث څخه قرآن مبارک دی، ولې که د قرآن پر آیتو دوی ښه غور کړی وای، نو دا به ورته معلومه سوې وای چې خیر او شر تولو له جانبه څخه د خدای ﷻ دي حسب حکمته و ارادته، او دا په هم ور معلومه سوې وای چې خدای ﷻ چاته عذاب نه ورکوي په عمل یا په شوم د بل چا. او بعض مفسران وایي چې په هیڅ شي نه پوهېږي فهم کالانعام بل هم اضل فضلاً عن فهم القرآن.

فائده: متعلقة بقوله اینما تکونوا آه" پوه سه چې د علماء پر دې اجماع ده چې مرګ لره نه مرض معلوم ستة او نه سن معلوم ستة او نه اجل معلوم ستة حکمت د خدای ﷻ دادی چې مسلمان باید هر وخت د مرګ لپاره آماده باش وي.

وفي الحدیث اکثروا ذکر حازم اللذات یعني الموت، وقال الله تعالی "کل نفس ذائقة الموت" نو باید همېشه د مسلمان مرګ په سترګو او په زړه وي، او په مال او قصورو غره نه سي، ولې چې دا شیان به پاتېږي او دی به ځني ځي، او دلیل ته هم ضرورت نسته ولې چې هر سړي دا حال په مشاهده لیدلی دی، بیت

پند گیر از مصائب دیگران — تا نگیرند دیگران زتو پند
تزود مرغ سوی دانه پراز — چو دیگر مرغ بیند اندر بند

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قال السعدي الشيرازي قدس سره

جهان ای پسر ملک جاوید نیست　　زدنیا و فاداری امید نست
نه بر باد رفتی سحرگاه وشام　　سریري سلمان علیه الصلوة والسلام
بآخر ندیدی که برباد رفت　　خنک آنکه با داد ودانش برفت

مسلمان لره پکار ده چي په خیر باقي بعد الموت کي دنیا مصرف کړي لکه یو مدرسه وقفي جوړه کړي او یا پول جوړ کړي او یا په علوم دینه وړو کي یو کتاب تصنیف کړي، او یا یو مسجد د مسلمانانو د لمونځو لپاره جوړ کړي، لکن داسي مسجد نه چي په منځ کي د مسلمانانو تفریق پیدا کوي او یا وقدیم مسجد ته د ضرر رسولو لپاره وي، ولي که د باني هغه نیت وي هغه ته بیا مسجد ضرار وایي او لمونځ پکښي مکروه دی.

مَآ أَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ فَمِنَ اللَّهِ

هغه چي تاته ورسېږي اې انسانه یو نعمت لکه مال او دولت او صحت وعافیت دا له جانبه ځخه د خدای ﷻ ده صرف فضل او احسان د خدای ﷻ دی. یعني په عباداتو سره که څه هم موافق د شریعت غرا وي که فرائض او نوافل وي، که بدني او مالي وي همه و همه د خدای ﷻ د موجوده نعمتو شکر نه په اداء کېږي فضلاً عن استحقاق الاجر والجنة، ولهذا قال خير البشر ﷺ من من احد يدخل الجنة الا برحمة الله قيل ولا انت قال ولا انا" رواه البخاري ومسلم عن ابي هريره رضي الله عنه.

وَمَآ أَصَابَكَ مِن سَيِّئَةٍ فَمِن نَّفْسِكَ

او هغه چي تاته ورسېږي یوه سیئه یعني البلاء من فقر ومرض وغیر ذالک، نو هغه ستا د نفس د خوا دی یعني نفس ته باعثه کړي پر بعضي معاصیو، نو دا سیئه د هغو معاصیو جزاء او عقوبت دی پر دې دنیا، او ستا جزاء ده د سیئه عملو یعني د بل چا له شوم ځخه نه ده لکه یهودانو او منافقانو د فقر او مسکنت نسبت و شوم ته د علیه الصلوة والسلام او اصحابو رضي الله عنهم کاوه. نو دغه انسان مصیبت زده که کافر وي نو دا دنیا وي مصیبت یو نمونه خدای ﷻ ورښیي د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عذاب اخروي، او که مصیبت زده شخص مسلمان وي، نو دا مصیبت دنیوي به يې کفاره سي د ګنهو دده، او یا به يې د درجو د لوړوالي سبب سي. په متفق علیه حدیث کې راغلي دي چې روایت يې بي بي عائشې رضي الله عنها کړی دی "ما من مصیبة تصیب المسلم الا کفر الله بها عنه حتی الشوکة یشاکها" نسته یو مصیبت چې مسلمان ته ورسېږي مګر نه خدای ﷻ دده ګناه ور ږژوي په هغه مصیبت سره حتی یو ځوز (اغزی) چې په جګ سي.

وَأَرْسَلْنَاكَ لِلنَّاسِ رَسُولًا

پوه سه: چې جار او مجرور متعلق دي په "ارسلناک" پورې نو "رسولا" یا مفعول مطلق او یا حال دی لپاره د تاکید، نو ترجمه يې داسي ده چې موږ ته استولی يې و خلګو ته رسول، یا حال کونک رسولاً، او که جار او مجرور په رسولاً پورې متعلق وي، نو يې معنا داسي ده موږ ته استولی يې رسول و ټولو خلګو ته یعنې عموم د خلګو فائده کوي لکه په بل آیت کې چې راغلي دي "وما ارسلناک الا کافة للناس" یعنې ستا رسالت یوازې په عربو پورې نه دی خاص، بلکې د عربو او عجمو دواړو رسول يې بلکې د جن لپاره هم رسول يې.

وَكَفَىٰ بِاللَّهِ شَهِيدًا ﴿٧٩﴾

کافي دی خدای شاهد ستا پر رسالت باندې چې له جملې څخه د شاهدی د خدای نزول القرآن المعجز ونصب سائر المعجزات وبالخصوص خاتم النبوة قال الشیخ فرید الدین العطار.

دعودتش فرمود به هر خاص وعام	نعمت خود را باو کرده تمام
مبعث امت وي نکوهش بتان	امت او بهترین امتان
برمیان دو کتف خورشید وار	داشته مهر نبوت آشکار

پوه سه: چې په منځ کې د دوو وږو د علیه الصلوة والسلام مهر نبوت اشاره ده وعصمت ته دده له وسوسه څخه د شیطان، ولي خناس مردود له مابین الکتفین څخه خپل خرطوم داخلوي او د انسان و زړه ته يې رسوي او هلته په زړه کې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وسوسې ور اچوي، نو که سړی ذکر د خدای ﷻ خنس یعنې شیطان یې ترشا سې وکذالک سمي بالخناس،

پوه سه: چې مهر نبوت د علیه الصلوة والسلام د وږو په منځ کې یوه غوښه وه په اندازه د خپمې د تنې او یا د یو مرغه د هګۍ، او د هغه پر شا وخوا باندې وېښتان وه مائل و خضرت ته، او پر هغه غوښه په قدرت الهي نوشته وه محمد نبي امین.

مَنْ يُّطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ ۚ

یعنې څوک که اطاعت د رسول وکړي هغه اطاعت د خدای کړی دی، ولې چې رسول ﷺ خو مبلغ دی او آمر په حقیقت کې خدای ﷻ دی.

پوه سه: چې بغوي رحمه الله وایي چې څه وخت چې به علیه الصلوة والسلام دا ویل "من اطاعني فقد اطاع الله ومن احبني فقد احب الله" نو بعض منافقانو به ویل مایرید هذاء الرجل الا ان نتخذه رباً کما اتخذت النصاری عیسی بن مریم ربا" نو دآیت نازل سو یعنې چې علیه الصلوة والسلام به دا ویل من اطاعني فقد اطاع الله" هر چاچې زما اطاعت وکړی، نو د خدای ﷻ اطاعت یې وکړی او څوک چې زما سره محبت کوي نو په تحقیق د خدای ﷻ سره یې محبت وکړی.

وَمَنْ تَوَلّٰى فَمَآ اَرْسَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا ۝

پوه سه: چې "ومن" مبتداء ده خبر یې محذوف دی، وقوله "فما ارسلناه آه" دلیل دی د خبر محذوف، والتقدیر "من تولی عن طاعتک فلا تهتم به" که څوک ستا له فرمانبرداری څخه سر وغړوي نو یې غم مه کوه، ولې چې موږ ته نه یې استولی پر دوی باندې محافظ د اعمالو ددوی، ولې چې ما علیک الا البلاغ المبین وقد بلغت الرسالة وعلینا الحساب. نو "حفیظاً" حال دی د کاف له ضمیر څخه د مفعول د "ارسلناک"

وَيَقُوْلُوْنَ طَاعَةٌ

یعنې منافقان وایي چې تا به دوی امر کړه په یو شي سره "طاعة" خبر د محذوف مبتداء ده ای امرنا طاعة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: حق خو دا و چې دوی "طاعة" په نسب سره ویلای وای یعني نطیعک طاعة لکن دوی عدول ورفع ته وکړی للدلالة علی الدوام والثبات.

فَإِذَا بَرَزُوا مِنْ عِنْدِكَ بَيَّتَ طَآئِفَةٌ مِّنْهُمْ غَيْرَ الَّذِي تَقُولُ ۖ

نو چې دوی ووځي ستا له حضور څخه تغیر او تبدیل ورکوي، کذا فسره قتاده والکلبي لفظ "بیت" او ابو عبیده رحمه الله وایي چې معنا د "بیت" قدروا لیلاً غیرما اعطوک من العهد نهاراً، نو پر دې تقدیر مشتق له "بیتوته" څخه دی، یوه ډله ددوی غیر له هغه چې دې طائفې به ویل فالضمیر في تقول راجع ای الطائفة، یعني درواغ او مخالف د هغه خبري کوي چې ستا په حضور کې کړې وه من العهد والوصیة والنصیحة.

وَاللَّهُ يَكْتُبُ مَا يُبَيِّتُونَ ۚ

او خدای ﷻ نوشته کوي یعنې امر ورکوي چې نوشته کړي ملکي مایبیتون تاچه دوی ته پوره جزاء ورکړي، او یا دآیت معنا داده چې خدای ﷻ نوشته کوي په جمله کې د مایوحی الیک تاچې تاهم خبر کړي په اسرار د دوی.

فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ ۚ

نو ته اعراض وکړه ددوی څخه او باک مه په کوه. او یا معنا داده چې پر دوی مخامخ ملامتیامه وایه او اخبار او اعلان مه کوه په نومانو ددوی د اصحابو، او ته تکیه پر خدای ﷻ کوه په تولو کارو کې خصوصاً د منافقینو په باره کې.

وَكَفَىٰ بِاللَّهِ وَكِيلًا ﴿٨١﴾

او کافي دی خدای ﷻ تالره "وکیلاً" یعنې چې تفویض د تولو کارو و خدای ﷻ ته وکړې.

أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ ۚ

آیا فکر نه وهي منافقان په قرآن کې، اول په نظم کې د قرآن او دویم په معنا کې د قرآن او په هغه عجائب او غرائب او فصاحت او بلاغت فائقه کې د قرآن، او په قصص موافقه وو کې د قرآن چې د تورات او انجیل سره دی او په امثال ښائسته وو کې د قرآن الی غیر ذالک. تاچه دوی ته به دا واضح سي چې قرآن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کلام البشر نه دی.

وَلَوْ كَانَ مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللّٰهِ

او که چېرې وای قرآن له جانبه د غیر الله لکه مشرکانو چې به ویل چې محمد ﷺ دا قرآن له ځانه جوړوي په کرار کرار که د خدای له خوا وای. نو په یوه وار به نازل سوی وای لکه تورات او انجیل.

لَوَجَدُوا فِيهِ اخْتِلَافًا كَثِيرًا ﴿٨٢﴾

دوی به پیدا کړی وای دېر اختلاف، یعنې معاني د قرآن به سره نقیض وای یو د بله سره، او الفاظ د قرآن بعض فصیح او بلیغ یعنې پر قانون د عربیت به برابر وي، او به یې رکیک خلاف البلاغة وای، او بعضې قصې به یې د تاریخ سره برابري وای او بعضې به یې د تاریخ خلاف وای، او د بعضو سورتو اتیان بالمثل به یې کېدای سوای، ولې قوت بشري دونده توان او طاقت نه لري چې دونده لوی کتاب دی بې مذکوره نواقصو جوړ کړي.

پوښتنه: په قرآن مبارک کې خو ناسخ او منسوخ سته، نو دا اختلاف نه دی او که څرنګه؟

ځواب: یا دا اختلاف په اعتبار د احوالو د خلګو دی او د مصالح د زمانو دی.

دروښ وایي: چې تحقیق د نسخ په تفسیر کې د هغه آیت مطالعه کړه "ماننسخ من آیة او ننسها الی آخیر الآیة"

وَإِذَا جَاءَهُمْ أَمْرٌ مِّنَ الْأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذَاعُوا بِهِ ۖ

چې و به رسېدی دوی ته یعنې منافقانو ته او یا ضعیف الرای مسلمانانو ته یو شی له حال څخه د سرایا وو چې علیه الصلوة والسلام به یوه خوا او بله خوا ته استولې وې که به د امن حال و چې فتح پر دښمن به وه او سلامت د سرایا به وه او یا له خوف څخه چې شکست د مسلمانانو به پکښې و. نو دغو منافقانو او یا دا ضعیفه مسلمانانو به دستې دا خبرونه ونشر او اشاعت ته وسپارل او د علیه الصلوة والسلام د نشر او اشاعت فکر به یې نه ساتی.

پوه سه: چې بغوي رحمه الله په شان نزول کې ددې آیت داسې ویلي دي چې علیه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الصلوة والسلام به کوچني فوجونه د لسو کسانو څخه نیولې بیا تر څلورو سوو کسو پورې بعضې باندې او قریو ته د کافرانو استوله د جنګ لپاره چې هغو ته په عربي سرایا ویل کېدل چې له سر څخه ماخوذ دی یعنې په پټه استول، نو چې سرایا به غالبه سوې پر کافرانو او یا به مغلوبه سوې منافقانو کشف الحال ددوی کاوه په ذریعه د جاسوسانو، نو دستي به یې حال د سرایا وو که په غالبه و که مغلوب په مدینه کي مسلمانانو ته شائع کړی، دمخه تر دې چې د علیه الصلوة والسلام سره مشوره وکړي، نو په صورت کي د مغلوبیت د سرایاوو د مدینې والو زړونه به ضعیف او غم جن سوه، او دغه بعض ضعیف الرای مسلمانانو به هم ورته اشاعت کاوه، او یا به علیه الصلوة والسلام ودوی ته خبر ورکړی بما اوحی الیه من فتح او ظفر او یاد تخویف وحي به یې ورته بیان کړې دوی به دستي شائع کړې.

پوښتنه: په دې اشاعت د خبر د سرایا وو یا امن او یا خوف څه مفسده وه چې خدای ﷻ په ذم کي د منافقانو داخبره وکړه؟

ځواب: خبره د امن د سرایا چې خصم و اوري د ځان په ساتنه وپر کوشش کوي، او که د هزیمت د سرایاوو خبر واوري جنګ ته نوره ادامه ورکوي.

وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى الرَّسُولِ وَإِلَىٰ أُولِي الْأَمْرِ مِنْهُمْ

او که دوی رد کړی وای خبر د امن او خوف د سرایاوو و رسول الله ﷺ او خاوندانو ته د رایي یعنې الصحابة الکرام کابی بکر وعمر وعثمان وعلي رضي الله عنهم، ولي دوی صاحب د بصارت دي.

پوه سه: چې دغه مذکوره صحابه کرام چې اولوا الامر یې ویلل، ولي چې نور صحابه له دوی څخه امر غواړي غالباً او یا امر په معنی د مشورې دی او نبي علیه السلام به ددوی سره مشوره کول دمخه تر دې چې خلګ به یې په یو شي سره امر کول او خلګ یې امر کول بالاقتداء بهم، چناچه ترمذي د ابو سعید الخدري رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چې علیه الصلوة والسلام وویل اقتدوا بالذین من بعدي ابی بکر وعمر رضي الله عنهما.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لَعَلِمَهُ الَّذِينَ يَسْتَنْبِطُونَهُ مِنْهُمْ

پوه سه: چې اصل معنا د د استنباط استخراج ده يعني يستخرجون بانظارهم يعني الصحابة مايليق بذالک الامر من الاشاعة او الاخفاء، والمراد بالموصول النبي ﷺ و اولوا الامر من الصحابة رضي الله عنهم.

فائده: په راوړو کې د موصول اقامة د اسم ظاهر ده په ځای کې د ضمير لان الحال يقتضى ان يقال لعلمهم لسبق ذكر النبي ﷺ و اولى الامر قريباً، والنكتة فيه اظهار فخامة شانهم.

وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ

که نه واى فضل او رحمت د خداى پر تاسي قريشو باندي خصوصا او پر ټولو عربو عموماً يعني بارسال الرسول العربي القريشي وانزال القرآن بلسان العرب.

لَاتَّبَعْتُمُ الشَّيْطٰنَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۸۳﴾

تاسي به متابعت كړى واى د شيطان مگر لږو كسانو.

پوه سه: چې استثناء راجع ده وضمير ته د "اتبعتم" يعني ستاسي څخه به لږ كسان وايي چې د اضلاله د شيطان په دعوت وشرک ته به يې ځان ساتلى.

پوه سه: چې بعض انسانانو ته خداى ﷻ عقول سليمه وركړي وي چې له خيرو څخه د هوا او هوس او خواهشاتو نفسانيه وو يې خلاص كړي وي، نو هغه خپل نوراني زړه په دې خداى ﷻ پوه كړي چې عبادت د بتانو پوچ او بې اصله كار دى، لكه زيد بن عمر بن نضيل، ورقة بن نوفل ابن عم خديجة الزهراء زوجة النبي ﷺ، نو دا يوه بله نوع ده له فضل څخه د خداى ﷻ "يعطيه من يشاء" او بعض مفسرين يې حذف د موصوف مفعول مطلق بولي والتقدير "اتبعتم الشيطان الا اتباعاً قليلاً" يعني في بعض الامور، ولي چې د ځان ساتنه له متابعت څخه د شيطان له تعليماتو څخه د قرآن عزيز او د تبليغاتو د رسول الله ﷺ لاس ته راځي، ولي عقول د خلګو په حسن د بعضو كارو او په قبح كې د بعضو كارو كافي نه دى، نو بايد خبرونه د سرايا وو من الفتح والهزيمة تاسي تر امر د رسول الله ﷺ ځنډولى واى او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قبل الوقت او قبل امره ﷺ مو شائع کړی نه وای.

دروښ وایي: چې پر دې تقدیر ربط د آیت "ولو فضل الله آه" د مخنې آیت سره "ولو ردوه آه" ښه واضح سو فافهم فانه سانح عزیز.

دروښ وایي: چې شیخ نجم الدین قدس سره په تاویلاتو نجمیه وو کې داسې ویلي دي چې شاید دا استثناء یعنې الا قلیلاً به و ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته راجع وي. ولې چې ابو بکر رضی الله عنه دمخه تر بعثت د علیه الصلوة والسلام رسولاً ددده سره هم رایه وء چې عبادت د بتانو لکه چې قریشو کاوه باطل او اغلظ کار باله.

دروښ وایي: چې چونکه خدای ﷻ دمخه حال د هغو کسانو بیان کړی چې له جنګ څخه د کفارو یې ډډه کول او ددوی قولونه یې هم بیان کړه "وقالوا ربنا لم کتبت علینا القتال آه" او ددوی حال یې هم بیان کړی بقوله تعالی "یخشون کخشیة الله آه" په دې آیت کې یوازې خدای ﷻ علیه الصلوة والسلام مخاطب وګرځاوه ولو کان وحده او وعده د نصر یې ورسره وکړه او دا خدای ﷻ ورته ښکاره کړه وتاته تاوان نه رسوي او د قتل د غیر پر تا مواخذه نشته.

فَقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ

ته اې محمد ﷺ جنګ کوه په لار کې د خدای ﷻ، یعنې که څه هم نور مسلمانان له جهاده کښینې او تا یوازې پرېږدي.

لَا تُكَلَّفُ إِلَّا نَفْسَكَ

تاته تکلیف نه در کول کېږي مګر په فعل د خپل ځان بحذف المضاف یعنې تاته ضرر نه کوي مخالفت او تقاعد عن القتال ددوی. بغوي رحمه الله وایي چې ابو سفیان چې له جنګ څخه فارغه سو او اوویا کسه نامور صحابه کرام رضی الله عنهم یې شهیدان کړه چې په هغو کې سید الشهداء حمزه رضی الله عنه هم و، نو ابو سفیان و علیه الصلوة والسلام ته ور ناړې کړې اوس خو داغه مړي بس ته په راتلونکي کې به زه او ته په بدر صغری کې بیا یو جنګ سره کوو علیه الصلوة والسلام ورته وویل ان شاء الله تعالی. نو د بدر صغری د مېلې موسم د ذی القعدې له اول څخه شروع کېدی. نو چې وخت د بدر صغری راورسېدی، نو علیه الصلوة والسلام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسلمانانو ته بلنه د وتلو ورکړه د بعضې مسلمانانو دا خروج خوښ نه و، کذا خرج ابن جریر عن ابن عباس ﷺ، نو علیه الصلوة والسلام وویل "واللہ لاخرجن ولو وحدي" زه به وزم بدر صغری ته که څه هم یوازي یم.

وَحَرِّضِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۚ

او ته باعثه کوه مسلمانان پر جنګ د کفارو او پر خروج و بدر صغری ته. ولي چي ستا وظیفه تبلیغ او تحریض دی، وما علیک الا البلاغ المبین.

عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّكُفَّ بَاْسَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ

شاید خدای ﷻ به بند کړي ستاسي جنګ د هغه کسانو سره چي کافران دي یعني ابو سفیان وحزبه.

پوه سه: چي "عسی" ویل د خدای پاک لکه وعداه محتوم ده، نو علیه الصلوة والسلام سره د اوویا کسانو بدر صغری ته راهي سوه.

پوه سه: چي ابو سفیان چي وعده یې د رسول الله ﷺ سره د بدر صغری کړې وه، نو څه وخت چي موسم د بدر صغری را ورسېدی خدای ﷻ یې په زړه کي رعب او ېږه پیدا کړه او نه راغلی، کوم مسلمانان چي راغلي وه د بدر صغری په بازار کي یې خرید او فروخت سره شروع کړی او ښې ښې ګټې یې وکړې، او خدای ﷻ خپله وعده په هغه آیت کي کړې وه "عسی اللہ آه" او په بل ځای کي یې د قرآن داسي ویلي دي په باره کي د مسلمانانو چي بدر صغری ته تللي وه "فانقلبوا بنعمة من اللہ وفضل لم یمسسهم سوء"

دروښ وایي: چي دا قصه مفصله په سورت آل عمران کي تېره سوه.

وَاللّٰهُ اَشَدُّ بَاْسًا وَّاَشَدُّ تَنْكِيْلًا ۝

او خدای پاک سخت دی په دبدبه کي او عظیم السلطنة او سخت دی په عذاب ورکولو کي د کفارو تر قریشو وغیرهم.

مَنْ يَّشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً يَّكُنْ لَّهٗ نَصِيْبٌ مِّنْهَا ۚ

که څوک د بل چا سه شفاعت وکړي یعني په شفاعت سره ضرر ځني دفع کړي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او جلب د نفع ورته وکړي او خاص د خدای ﷻ د رضا لپاره، دې شافع ته به خدای پاک ورکړي برخه د شفاعت یعنې ثواب د شفاعت.

پوه سه: چې مجاهد رحمه الله وایي چې شفاعت کونکي ته خدای پاک ثواب د شفاعت ورکوي که څه هم شفاعت قبول نه سي. کذا روی ابن ابي حاتم رحمه الله.

له ابو موسی اشعري رضي الله عنه څخه روایت دی چې یو سړی چې به علیه الصلوة والسلام ته راغلی او طلب د حاجت به یې کاوه، نو علیه الصلوة والسلام به په مونږ مخ را واړاوه او راته وه به یې ویل "اشفعوا تؤجروا" تاسي شفاعت ددې سړي ماته وکړئ او ثواب د شفاعت حاصل کړئ ویقضی الله علی لسان نبیه ماشاء بخاري مسلم، او په بل حدیث کي راغلي دي چې علیه الصلوة والسلام وویل "الدال علی الخیر کفاعله" رواه البزار عن ابن مسعود رضي الله عنه یعني په ثواب کي سره برابر دي.

پوه سه: چې یو له شفاعت حسنه څخه و مسلمان ته دعاء ده، عن ابي درداء رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ اذا دعاء الرجل لاخیه بظهر الغیب قال الملائکة امین ولک بمثل ذالک، که یو سړي دعاء وکړه لپاره د ورور یعنې د بل مسلمان په غیاب کي د هغه، نو ملکي وایي امین او تاته هم مثل ددغې دعاء درکول کیږي، او ابن عباس رضي الله عنه وایي شفاعت حسنه اصلاح بین الناس ده او بعض وایي شفاعت حسنه بنه خبري دي د خلګو په منځ کي چې غرض یې ثواب او خیر وي.

دروښ وایي: چې ددغو نامورو روایانو رضي الله عنهم غرض حصر نه دی فیما قالوا بل قال "کل واحد منهم ذکر الاهم من الشفاعة عنده" والله اعلم بالصواب.

وَمَنْ يَّشْفَعْ شَفَاعَةً سَيِّئَةً يَّكُنْ لَّهٗ كِفْلٌ مِّنْهَا ۭ

او که چا شفاعت وکړی بد شفاعت، وي به ده لره یوه برخه د هغه یعنې ګناه د هغه شفاعت، ابن عباس رضي الله عنه وایي چې شفاعت شیئه نمیمه یعنې د دوو کسانو ترمنځ شیطانت کول دي، او بعض علماء وایي د چا غیبت کول دي، او بعض علماء وایي چې د خلګو په منځ کي بدي خبري کول چې مفضي وشر ته سي.

له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت د ی چې علیه الصلوة والسلام وویل که یو چا د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بل سړي کومک وکړی په قتل کي د یو چا په یو لږ خبره سره "لقی اللّٰه" د خدای پاک سره به ملاقي سي په ورځ د قیامت به حشر سي "مکتوب بین عینیه" نوشته به وي د سترګو تر منځ دده هغه "آیس من رحمة اللّٰه" نا امید دی له رحمت څخه د خدای ﷻ.

دروښ وایي: چي نو به څه حال وي د هغه کسانو چي د کفارو سره په صف کي ولاړ وي او مسلمانان وژني کما في الزمان الحاضر سنه ۱۴۲۷ هـ ق. شیخ اکبر محي الدین ابن العربي قدس سره وایي چي په بعضو بلادو کي د عربو یوه غټ مالدار سړي زه مېلمه کړم او ډېري تحفې او هدایاوي یې زما لپاره راوړي وې. نو ډوډۍ او هدایاوي چي یې حاضري کړې، نو دده مځکي حکومت وقتي سرکاري کړي وې، نو ما ته یې وویل چي ته زما شفاعت سلطان الوقت ته وکړه چي زما مځکي بیرته راکړي. زما خبره په نېز د سلطان الوقت ډېره مقبوله وه. نو ما ورته وویل چي نېه دی شفاعت به دي وکړم لکن ډوډۍ دي نه خورم او هدایا دي هم نه کوم په زړه کي مي دا را وګرځېدل چي دا خو ګویا ماته رشوت راکوې. نو ورغلم سلطان الوقت ته او د هغه سړي شفاعت مي وکړی. سلطان الوقت سمدستي د هغه سړي مځکي بیرته ورکړې. زه ځني ولاړم نه مي ډوډۍ وخوړه او نو مي هدایاوي قبولې کړې.

وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ مُّقِيتًا ﴿۸۵﴾

او دی خدای ﷻ پر هر شي مقتدر یعني چي یو له شیانو څخه مجازات د حسناتو او د سیئاتو دی.

وَإِذَا حُيِّيتُم بِتَحِيَّةٍ

چي تاسي ته پېښ کش درکړه سي په یو پېښ کش سره.

پوه سه: چي "تحیه" مصدر دی د حیاک اللّٰه که څه هم په اصل کي اخبار دی چي معنا یي ده "ته ژوندی ساتلی یې خدای ﷻ" لکن په معنا د انشاء او دعاء دی یعني خدای ﷻ دي ژوندی لره.

پوه سه: چي عرب په جاهلیت کي پلار او زوی چي په سره ملاقي سوه، نو یو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او بل ته به یې سره ویل حیاک الله یعنې خدای دي دراز عمر درکړي ، او وروسته دا لفظ په اسلام کې بدل سو په سلام سره او خدای ﷻ زمونږ لپاره تحیه سلام وګرځاوه په دنیا او په جنت کې. د عمران بن حصین ﷺ څخه روایت دی مونږ به د جاهلیت په وخت کې یو وبل ته داسې ویل "انعم الله بک عینا" او یا انعم صباحاً فلما جاء الاسلام" نو مونږ د جاهلیت له وینا څخه نهي سوو رواه ابو داؤد.

وعن ابن هریره ﷺ ده وویل چې خدای ﷻ چې آدم علیه السلام پیدا کړی پر صورت دده چې جګ والی یې شپېته ذراع و، نو وروسته د خلق یې آدم علیه السلام ته وویل ورسه هغه څه نفر ملکې چې ناستي دي سلام ورواچوه. او غوږ ونیسې چې دوی څه درته وایي هغه ستا او ستا د اولاد تحیه ده. نو آدم علیه السلام ورغلی او ورته وه یې ویل السلام علیکم؟ هغو ورته وویل وعلیکم السلام ورحمة الله یعنې لفظ د رحمة الله یې دده پر سلام زیات کړی بخاري او مسلم.

دروښ وایي: چې له دې حدیث څخه دا معلومه سوه چې السلام علیکم او خواب د هغه سنت قدیمه دی، نه یوازې د اسلامي دین له خوا څخه، البته اهل جاهلیت دا آبائي تحیه په نورو الفاظو بدل کړی دی کمامر، د اسلام دین بیرته تحدید وکړی وبس.

پوه سه: چې بعض علماء وایي چې تحیه د نصاری وو وضع الید علی الفم وه، او تحیه د یهودانو اشاره د لاس په ګوتو سره وه، او تحیه د مجوسیانو په صرف سر کښته کولو سره وه، یعنې د ټولو دا په فعل تحیه وه په خوله یې هیڅ نه ویل، او تحیه د اهل جاهلیت حیاک الله خدای دي دراز ژوند درکړي، او بعضو به ویل عش الف سنة زر کاله ژوندی اوسې او السلام علیکم ډېره ښه تحیه ده، ولې چې د نصاری، یهودانو او مجوسیانو دا خو صرف عملي کار و دعاء هیڅ نه وه پکښې، او د جاهلیت په تحیه کې که څه هم دعاء وه لکن دعاء یې پر دې دنیا حصر وه، او د السلام علیکم په تحیه کې دعاء د سلامت ده مخاطب ته په سلامیتا له آفاتو څخه د دنیا من مرض وفقر وموت العیال الی غیر ذالک ومن آفات الآخرة کالمناقشة في الحساب ودخول النار وغیر ذالک، فالتحیة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الاسلامية اشرف التحيات لقدمها والاشتمالها للدنيا والآخرة.

فَحَيُّوا بِأَحْسَنَ مِنْهَآ أَوْ رُدُّوهَا ؕ

نو تاسي وقائل ته د سلام دده تر سلام ښه تحيه ورکړئ، او يا ور ده کړئ "بحذف المضاف اى ردوا امثالها" يعني هغه دده په الفاظو ځواب ورکړئ.

پوه سه: چې ښه طريقه يې داده که سړي تاته وويل السلام عليكم ته په ځواب کې د رحمة الله لفظ هم ورضم کړه يعني وعليكم السلام ورحمة الله، او که هغه رحمة الله هم وويل ته په ځواب کې ور زياته کړه وبركاته يعني وعليكم السلام ورحمة الله وبركاته، او رد يې دادی چې هغه ووايي السلام عليكم ته ورته ووايه وعليكم السلام.

مسئله: سلام اچول ابتداءً خو سنت دی لکن ځواب يې واجب دی.

فائده: په قرآن مجيد کې او د تخيير لپاره دی که څه هم رد احسن يې مستحب دی.

پوښتنه: کلمه د واو په وعليكم السلام کې د عطف لپاره خو نه سي کېدای، ولي عطف د کلام د يوه متکلم د بل متکلم پر کلام خو نه دی روا، او ابتدائيه خو هم نه دی لانه وقع جواباً لقول المسلم الآخر؟

ځواب: کلمه د واو عطف ده پر محذوف باندې والتقدير علي وعليكم السلام.

مسئله: منتهی د سلام دغه الفاظ دي السلام عليكم ورحمة الله وبركاته. ولي چې تولو مذکوره الفاظ تولو اقسامو ته د مطالبو شامل دي وهي السلامة من المضار ونيل المنافع، او معنا د رحمة الله دوام دی د هغو او معنا د برکاته زيادت او نما د هغو، کلها في الدنيا والآخرة فلم يبق شئ من المطالب، ولهذا اكتفى في تشهد الصلوة على هذا المقدر، په حديث شريف کې راغلي دي "من قال السلام عليكم ورحمة الله وبركاته" د هغه لپاره دېرش نېکۍ نوشته کېږي.

فائده: هر څوک چې سلام وبل ته وايي دده اختيار دی که السلام عليكم وايي يعني په تعريف د السلام او که سلام عليكم وايي يعني په تنکير سره، ولي چې دواړه لفظونه په قرآن مبارک کې راغلي دي قال الله تعالى "والسلام على من اتبع الهدى" وقال "وسلام على من اتبع الهدى" لکن په قرآن کې تنکير ډېر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راغلی دی والکل جائز ، لکن له لمانځه څخه د خلاصیدو په وخت کي سلام تعریف ضروري دی لعدم سماع التنکیر فیه.

سوال: نحات خوا وایي چي خالصه نکره مبتداء نه سي واقع کیدای یعني تعریف یا تخصیص غواړي، نو سلام په قرآن کي څرنګه او یا زمونږ د سلام په نکارت سره توجیه به یې څه وي؟

ځواب: عبدالرحمن الجامي په شرح کي د کافیه وایي چي سلام نکره مخصصه ده ای سلام من قبلي علیک.

پوښتنه: یو سړی چي بل سړي ته سلام وایي، نو داسي ورته وایي "السلام علیکم" او هغه بل سړی ورته وایي وعلیکم السلام، نو ضمیر د جمع چي کوم دی چاته راجع دی؟

ځواب: په دې صورت کي سلام و سړي ته دی او د دوو ملکو چي دده سره دي او ملکي هم دده د سلام ځواب ورکوي "ومن سلم علیه الملک فقد سلم من عذاب الله ان شاء الله" په صحیح حدیث کي راغلي دي چي یو سړی و علیه الصلوة والسلام ته راغلی او داسي سلام یې ووایه السلام علیکم. علیه الصلوة والسلام ورته وویل و علیکم السلام ورحمة الله وبرکاته، او بل سړی چي دواړه ځوابونه د علیه الصلوة والسلام یې اوریدلي وه، نو ولاړ سو او بیرته راغی او داسي سلام یې و علیه الصلوة والسلام ته ووایه السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته فقال وعلیک فقط، نو هغه سړي ورته وویل چي زما سلام دي راکم کړی یعني هغه اوږد و، نو د خدای ﷻ هغه آیت څرنګه سو "فحیوا باحسن منها" علیه الصلوة والسلام ورته وویل چي تا ماته د فضل او احسن ځای نه پریښو، نو ځکه ما ځواب بالمثل درکړی.

مسئله: امام ابو یوسف رحمه الله وایي که یو چا بل سړي ته وویل چي پر فلاني مي سلام وایه، پر هغه واجبه ده چي سلام به ور رسوي، او که چا په کاغذ کي بل سړي ته سلام لیکلی و، دی به هم جواب په په مکتوب سلام سره ور استوي.

دروښ وایي: چي وایي وکلما زاد في السلام او الجواب کان اکثر ثواباً

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وافضل آه" له دې عبارت څخه دا معلومېږي چې سلام او ځواب دهغه حد محدود نه لري وهذا ينافي قول النبي ﷺ فيمامر من الحديث آنفاً چې هغه سړي ته يې وويل چې تا ماته د فضل ځای نه پرېښو آه، نو که حد محدود سلام نه درلودای څو و مغفرت ته به عليه الصلوة والسلام ورسره زيات کړی وای، نو دا به يې رد وای په احسن منها سره، او دغه رنګه د کليه قاعدې سره د مظهري رحمه الله هغه حديث د ابن عباس رضي الله عنه هم منافي ذی چې ابن عباس رضي الله عنه ته چا سلام ورواچاوه او وه يې ويل السلام عليكم ورحمة الله وبركاته وزاد لفظ آخر فقال ابن عباس رضي الله عنه السلام انتهى الى البركة يعنې سلام د برکت پر لفظ ختم سو، او داغه رنګه مظهري رحمه الله يو حديث په روايت د معاذ بن انس رضي الله عنه را نقل کړی دی او نسبت د روايت يې ابو داؤد ته کړی دی چې يو سړی و عليه الصلوة والسلام ته راغلی او داسې سلام يې ووايه السلام عليكم ورحمة الله وبركاته ومغفرته، عليه الصلوة والسلام ورته وويل دا يې څلوېښت، يعنې څلوېښت نېکۍ چې دا هم پر دې دلالت کوي چې د سلام الفاظ محدود نه دي والله اعلم بالصواب.

مسئله: که يوه ډله ناسته او يو چا سلام ورواچاوه او يوه سړي د سلام ځواب ورکړی کافي دی، ولې د سلام ځواب فرض کفايي دی، او که يوه ډله روانه وه او يوه نفر ناستو خلګو ته سلام واچاوه کافي دی لان ابتداء السلام سنة كفائية.

مسئله: تبادر و سلام اچولو ته چې دوه کسه په مخه سره ورسي ښکاره دی او افضل دی، که مشر سړي تبادر وکړی او که کشر، په حديث شريف کې چې روايت يې ابو هريره رضي الله عنه کړی دی راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام وفرمايل "لاتدخلوا الجنة حتى يؤمنوا" يعنې تاسي جنت ته نه سئ ورتلای تر څو چې مو ايمان نه وي راوړی "ولا تؤمنوا حتى تحابوا" او تاسي مؤمنان نه سئ کېدای چې يو له بله سره محبت ونه کړئ "اولا ادلكم على شئ اذا فعلتموه تحاببتم" آيا زه تاسي ته داسې درونه ښيم چې تاسي هغه وکړئ محبت به مو سره پيدا سي "افشوا السلام بينكم" تاسي ډېر سره واياست سلام په خپل منځ کې، رواه مسلم، او له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چې اول کونکی د سلام له کبره خلاص دی رواه البيهقي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: سپور سړی دي وپیاده سړي ته سلام وایي او پیاده دې و ناست سړي ته وایي او لږ خلګ دي ودېر جماعت ته سلام وایي او کشر سړی ته و مشر ته سلام وایي کذا جاء في حدیث البخاري ومسلم.

مسئله: سړی دي سلام تر خبرو مخکي وچاته ور اچوي.

مسئله: که یو چا د بل چا سلام چاته وروړی، نو هغه دي په جواب کې داسي ورته ورته ووایي علیک وعلیه السلام کما ورد في الحدیث الذي رواه غالب عن ابیه عن جده، غالب رحمه الله وایي چې زه پلار واستولم چې ته ور سه و علیه الصلوة والسلام ته زما سلام ووایه ما چې دا سلام د پلار له لوري و علیه الصلوة والسلام ته ورساوه، نو ده مبارک په ځواب کې داسي راته وویل علیک وعلی ابیک السلام.

فائده: حاجیان چې حج ته ځي نو نور قریبان او دوستان یې ورته ووایي چې زما سلام به و علیه الصلوة والسلام ته وایه، نو پر ده واجب ده چې دا سلامونه به و علیه الصلوة والسلام په وخت کې د حضور د قبر شریف رسوي، اوس نو مسئله داده چې د حاجي صاحب خو د ټولو سلام استونکو نومان نه دي په یاد چې نوم پر نوم ټوله سلامونه د قبر انور په مواجهت حضرت خاتم النبوة ﷺ ورسوي، نو حاجي دي داسي ووایي "الصلوة والسلام علیک یا رسول الله من جانب جمیع من اوصاني بالسلام علیک" یعني صلوة او سلام دي وي پر تا یا رسول الله ﷺ له طرفه څخه د ټولو هغو کسانو چې ما ته یې وصیت کړی و یعني زه یې امر کړی وم په سلام پر تابندي یا رسول الله ﷺ، نو د قبر انور څخه داسي ځواب ورکړه سي که یې څوک اوري که یې نه اوري علیک وعلیهم السلام وهذه کرامة عظیمة لهذا الشخص یعني چې سلام د خلګو یې و علیه الصلوة والسلام ته ورساوه لان عقیدة اهل السنة والجماعة ان رسول الله ﷺ حي في قبره یرزق.

مسئله: که یو سړي و بل ته سلام ووایه وروسته ددوی دوو تر منځ یوه درخته حائل سوه یا د هوال یا یوه ډبره چې بیا سره ووینې بیا دي نوی سلام وروا چوي په اول سلام دي کفایت نه کوي، وبهذا المعنی جاء حدیث ابی هریره رضي الله عنه الذي رواه ابو داؤد.

مسئله: څوک چې له چا څخه رخصت اخلي په وخت کې د رخصتېدلو دي هم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

السلام علیکم ورته ووایي، عن قتاده ﷺ قال قال رسول الله ﷺ اذا دخلتم بیتا فسلموا علی اهله فاذا خرجتم فادعوا اهله بالسلام، چې تاسې داخل سئ و یو کور ته، نو تاسې سلام ووایاست و اهل ته د کور، او چې تاسې وځې رخصت واخلئ د کور والا ځخه په سلام سره رواه البیهقي.

له ابو هریره ﷺ ځخه روایت دی چې علیه الصلوة والسلام وویل چې یو سړی چې یو مجلس ته ورسي، نو سلام دي ورواچوي که کښېنستی خو کښېنې دي، او که ځني تلی بیا دي سلام و هغه مجلس والو ته ووایي، په اخیر کي ددې حدیث داسې راغلي دي "فلیست الاولی باحق من الثانیة" رواه الترمذي وابو داؤد.

و هیڅ کافر ته دي ابتداءً سلام نه کوي لقوله علیه الصلوة والسلام لاتبدوا الیهود ولا النصاری بالسلام الی اخیر الحدیث"

مسئله: که په یو مجلس کي مسلمانان، یهودان او مشرکان ګډوډ سره ناست وه، سلام خو دي ور اچوي لکن په نیت کي دې مسلمانان وي، وبمثله جاء الحدیث مرفوعاً کما رواه الشیخان.

مسئله: که اهل ذمه یعنې کافر چې د مسلمانانو ذمه یې قبله کړي وي سړي ته سلام ور واچوي ځواب دي فقط دونده قدر ورته وایي وعلیکم، وبهذا جاء الحدیث عن انس ﷺ رواه البخاري ومسلم.

مسئله: نه دی واجب بلکې نه دی روا سلام و هغه چاته چې هغه په لمانځه ولاړ وي، او بل د خطبې په وخت کي، نو که په لمانځه کي هغه سړي ځواب ورکړی لمونځ یې فاسد دی، او په وخت کي د قرائة القرآن جهراً او په اذان او اقامت کي، او د حدیثو د درس یا د نورو علومو دینه وو د درس په وخت کي دي هم ځوک سلام نه اچوي.

پوه سه: چې په روایت کي د روح البیان په جواب کي د سلام د اهل الذمة وو لفظ د علیک بدون الواو راغلی دی او دا روایت د هر په زړه پوري دی تر روایت د مظهري رحمه الله کمامر عنقریب. له دې کبله چې معطوف علیه ته ضرورت نه سي پیدا ای علي وعلیکم کمامر منا فتدبر فیه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: قاضي چې په محکمه کې ناست وي د مدعي او د مدعیٰ علیه سلام ته دې ځواب نه ورکوي، او داغه رنګه قاضي چې د حکم ځای ته راسي او خصمان ناست وي سلام دي نه ور اچوي تاچه هیبت یې بر قرار وي.

مسئله: قرطبي وایي چې ځوانانو ښځو ته دي سلام نه وراچوي او نه دي د سلام ځواب ورکوي په سبب د خوف د فتنې په خبرو کې ددوی په وسوسه د شیطان، او پر محارمو ښځو او سپین سرو باندې سلام او ځواب د سلام دواړه ښه کار دی.

مسئله: هغه خلګو ته چې په قطار یا شطرنج سره اخته وي او یا مغنې په غنا اخته وي او یا سړی پر بولو یا اودس مات ناست وي، او یا کوتري الوځوي یا لخ سړی یعنې عورت یې لخ وي دې ټولو ته دي سلام نه اچوي.

پوه سه: چې یو ملنګ مسجد ته ورغلی او یو مولوي صاحب ناست و، ملنګ سلام ورواچاوه مولوي صاحب ډېر په کرار سره ځواب ورکړی، وروسته یو بل غني سړی راغلی هغه چې مولوي صاحب ته سلام واچاوه، نو مولوي صاحب په ډېر بلند آواز سره وعلیکم السلام ورته ووایه، نو ملنګ ورته وویل مولوي صاحب د سلام ځواب پر څو قسمه دی؟ مولوي صاحب ورته وویل یو قسم دی، ملنګ ورته وویل ستا داخو دوه قسمه دی، نو مولوي صاحب ډېر خجالت سو.

إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ حَسِيبًا ﴿٨٦﴾

په تحقیق خدای ﷻ د هر شي یعنې هر عمل حساب کونکی دی او جزاء ورکونکی دی، نو په جمله کې د هر شي او رد د سلام داخل دی وبه یحصل الربط بما قبله کما لا یخفیٰ.

دروښ وایي: چې مناسب د مبحث سره د سلام چې له حقوقو څخه د مسلمانانو دی یو پر بل باندې هغه حدیث دی چې روایت یې ابو هریره ﷺ کړی دی چې علیه الصلوة والسلام وویل چې یو مؤمن بر بل مؤمن شپږ حقونه لري.

(۱) پوښتنې ته به ورځي چې ناروغه وي (۲) جنازې ته به یې ورځي چې مړ سي (۳) او قبلونه د مهلمستیا به یې کوي چې دعوت ورکړي (۴) سلام به وراچوي چې ورسره ملاقي سي (۵) یرحمک الله به ورته وایي چې ونوږي (۶)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خير خواهي به يې کوي که هغه حاضر وي او که غائب وي، رواه النسائي وفي رواية الترمذي ذكر السادس ويحب له مايحب لنفسه ولا منافات بين الحديثين لان مآل وينصح له آه ويحب له آه واحد.

فائده: له متمماتو څخه د تحية السلام د مصافحت والمعانقة، د مصافحه معنا داده چې يو له بله تر بغل لاسونه سره وکاږي او جوړ خوشحاله سره کوي. اود معانقې معنا داده چې لاسونه يو له بله په غاړه کې سره واچوي، وفي الحديث الذي رواه احمد والترمذي عن ابي امامة رضي الله عنه چې عليه الصلوة والسلام وويل تمام تحياتكم بينكم المصافحة، وعن ابي ذر رضي الله عنه دى وايي زه نه يم ملاقي سوى د رسول الله ﷺ هيڅ وخت الا صافحني او عليه الصلوة والسلام ماته يوه ورځ يو سړى راستولى و اوزه کورته نه وم، نو زه چې کورته راغلم کورته يې راته وويل چې عليه الصلوة والسلام په تاپسې سړى را استولى و، نو زه چې ورغلم عليه الصلوة والسلام پر چارپائي پروت و، نو زه يې په غېږ پوري ټينګ کړم فکان تلک اجود واجود دې کار د عليه الصلوة والسلام ډېر ښه خوند وکړى رواه ابو داؤد.

اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ

پوه سه: چې لفظ "الله" مبتداء ده او "لا اله آه" يې خبر دى او دا جمله معترضه ده په منځ کې د دمخه تهديد الهي چې د "ان الله كان آه" څخه وفهمېدى او د وروسته تهديد چې د "ليجمعنكم" څخه فهمېږي، نو يې معنا داده الله ﷻ نسته بل مستحق د عبادت بېله ده، نو پر دې تقدير "ليجمعنكم آه" خبر بعد الخبر دى د "الله" د لفظ، او دا احتمال هم سته چې لفظ "الله" دي مبتداء وي کلمه توحيد دې جمله معترضه وي او "ليجمعنكم" دې خبر وي.

لَيَجْمَعَنَّكُمْ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ

لام لپاره د قسم دى اى والله زه به سره جمع کړم تاسي له قبرو څخه و ورځې ته د قيامت يعني د حساب لپاره او يا لام په معنى د في جاره دى اى في يوم القيامة والمآل واحد.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لَا رَيْبَ فِيْهِ

چې شک نسته په دې ورځ کې او یا په دې جمع کې.

پوه سه: چې لام لپاره د نفي جنس دی او "ریب" مبني پر فتحه یې اسم دی او "فیه" یې خبر دی،

سوال: خدای پاک نفي د شک وکړه او سره ددې چې منکران د قیامت تولـه مشرکان دي؟

ځواب: معنا د آیت داده چې شک نسته په ورځ کې د قیامت بعد النظر الصحیح في بدء خلق الله الذي یعترف به المشرکون لقولهم في سوال من قال لهم من خلقکم "الله" وبدء الخلق لیس باهون من الاعادة فینبغي ان یعترفون ویصدقون بالاعادة، وقیل معناه لاریب فیه للمؤمنین وهو ظاهر لان من شروط الایمان بیوم القیامة.

وَمَنْ اَصْدَقُ مِنَ اللّٰهِ حَدِيْثًا ۝

او څوک دی زیاده تر صادق په خبرو کې، یعني نسته فالاستفهام للانکار.

پوه سه: چې دا جمله لکه دلیل لقوله لاریب فیه، ولي د قیامت د ورځ اخبار خو خدای ﷻ کړی دی والکذب علی الله محال نقلاً وشرعاً، نو چې خدای ﷻ وویل لاریب فیه، نو قیامه د قیامت رشیتا ده "ومن اصدق آه" بخاري وایي چې علیه الصلوة والسلام چې د احد جنګ ته ووتی، نو منافقان تر یو ځایه ورسره ووتل. وروسته عبدالله بن ابي رئیس المنافقین نارې کړې چې دا جنګ نه دي بلکې په قصد سره ځان وژني فرجعوا الی المدینة (۳۰۰) نو د اصحابو په منځ کې اختلاف پیدا سو، بعضو ویل راسئ اول دا منافقین له منځه یوسو، وروسته به د مشرکانو جنګ ته ورسو یعني احد ته، او بعضو اصحابو وویل چې ولي ددوی په جنګ ځانونه اخته کوو والمهم لنا حزب المشرکین، نو دا آیت نازل سو.

فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنٰفِقِيْنَ فِئَتَيْنِ

پـله څه سبب تاسي مسلمانان لپاره د قتال د منافقینو دوې ډلې سولاست یعني لاینبغي لکم الاختلاف في هذا الموقع الحساس.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې کلمه د "فا" تفریع ده پر هغه قول ومن اصدق من الله آه، وحاصل التفریع چې تاسي په خپله رایه ولي اختلاف کوئ په باره کې د منافقینو. ولي ددوی حال نه سپاري و حکم ته د خدای ﷻ هر څه چې هغه حکم در کړي هغسي وکړئ لانه تعالی اصدق حدیثاً.

پوه سه: چې کلمه د "ما" مبتدا، ده او "لکم" یې په اعتبار المتعلق المحذوف خبر دی ای ماثبت وسنح لکم في المنافقین ظرف دی متعلق په فعل محذوف پورې او "فئتین" حال دی له ضمیر څخه د "لکم" والعامل فیه الفعل المحذوف.

فائده: علامه مظهري رحمه الله علیه که څه هم هغه شان نزول ددې آیت چې په روایت د بخاري دروښ ذکر کړی راوړی دی، لکن وروسته یې دوه نور شان نزوله داسي بیان کړي دي چې د سیاق سره د کلام آتي چندان مناسبت نه لري والله اعلم بالصواب والیه المرجع والمآب.

پوښتنه: امام مظهري رحمه الله علیه څو منل سوی مسلّم مفسر او محدث او علامه دی چې ته یې په صف النعال کې هم نه یې، نو ته ولې پر ده تنقید کوې؟

ځواب: دا ستا خبرې چې تا وکړې دا دروښ ستا له منې لکن زما اختلاف دده سره ګاهې ګاهې دی، نه پر حسد علمي بناء دی نه پر حسد قومي بلکې اظهار د خپل فکر کوم چې دا نه غیبت دی بلکې داده مصنفینو قدیماً وحدیثاً عادت دی

دروښ وایي: چې ددې آیت په شان کې لکه مظهري چې مختلف روایات په نقل د روح المعاني څخه که څه هم و نقل ته یې اشاره نه ده کړې، داغه رنګه په نورو تفاسیرو کې لوی جنجال دی په شان نزول کې ددې آیت او د ابعدها، لکن چونکه عمومي مطالعه کونکي ددې اسي مختلف اقوالو د زدکړې توان نه لري، نو ځکه ستا له ترجمه ددغو آیتو پر موافق د روایت د سید المحدثین محمد بن اسمعاعیل البخاري کوم ان شاء الله تعالی.

وَاللّٰهُ اَرْكَسَهُمْ

خدای ﷻ رد کړه دوي، یعني وکفر ته یعني نفاق ددوی یې رسوا کړی حیث رجعوا بدعوت رئیس هم عبدالله بن ابي من غزوة احد واختلف الصحابة رضي الله عنهم في قتلهم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وترکهم کمامر او خدای ﷻ په دې قول فمالکم آه، دوی له دغه اختلاف څخه منع کړه.

بِمَا كَسَبُوْا

من الرجوع عن غزوة احد په سبب د سابق نفاق ددوی، او مظهري چې تفسیر کړی دی من الردة واللحوق بدار الحرب هغه پر هغو روایاتو چې مخالف له روایت څخه د بخاري رحمه الله دی مبني دی.

اَتُرِيْدُوْنَ اَنْ تَهْدُوْا مَنْ اَضَلَّ اللّٰهُ

آیا ستاسي اراده ده چې تاسي پر هدایت وګرځوي ایها المؤمنون هغه کسان چې خالق د هدایت او ضلال چې خدای ﷻ په دوی کې خلق د ضلال کړی دي: والمراد هؤلاء المنافقون.

دروښ وایي: چې په دې آیت کې اشاره ودې ته ده چې خالق د هدایت او ضلال خدای ﷻ دی بنده صرف کاسب دی کما هو مذهب اهل السنة والجماعة، او ثواب او جنت ورکول او یا دوزخ او عذاب ورکول په ورځ د قیامت هم مربوط په کسب پورې د بنده دی.

وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ سَبِيْلًا ۝ وَدُّوْا لَوْ تَكْفُرُوْنَ كَمَا كَفَرُوْا

او څوک چې خدای ﷻ ګمراه کړي ته اې محمد ﷺ نه سې پیدا کولای لارد هدایت و حق ته، دغه منافقین خوښه او تمنی لري ددې چې تاسي مخلص مسلمانان کافران کړي لکه دوی چې کفر مختاره کړی دی، نو کلمه د "لو" په معناد ان مصدري ده، په صحیح روایت سره ثابته ده چې د مسلمانانو چې د احد په غزاء کې هزیمت او شهادت په برخه سو. نو دغو منافقانو به وپاته مخلصو مسلمانانو ته ویل چې بیرته د خپل پلار او نیکه دین ته رجوع وکړئ موږ به مو د ابو سفیان سره صلح دروکړو، لکن هیهات قبول ذالک من المؤمنین المخلصین وترک دین الرسول.

فَتَكُوْنُوْنَ سَوَآءً

نو به تاسي برابرسئ ددوی په ضلال او کفر کې.

پوه سه: چې "فتکونون" کې نون عطف دی پر "تکفرون" باندې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَلَا تَتَّخِذُوا مِنْهُمْ أَوْلِيَاءَ حَتَّىٰ يُهَاجِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ

نو تاسي مه اخلئ ايها المؤمنون له دغو منافقينو څخه دوستان يې په سبب د اشتراک نسبي او قومي، تر هغو چې دوی هجرت کوي په لار کې د خدای ﷻ.

دروښ وايي: چې مظهري رحمه الله چې وايي ان الهجرة كانت يومئذ فريضة آو، ده له هجرت څخه هجرت له مکې څخه مدينې منورې ته مراد کړی دی عکرمه رضي الله عنه وايي چې هجرت پر درې قسمه دی، یو هجرت دی د مؤمنانو په اول کې د اسلام و دار المؤمنين المدينة المنورة ته وهي كانت مفروضة كما قال المظهري، او بل هجرت دی د منافقانو چې هغه خروج د منافقانو سره د علیه الصلوة والسلام و غزواتو ته صابرين محتسبين.

دروښ وايي: وهو المراد ههنا فينظم الكلام الالهي والآيات القرآنية على نسق واحد موافقاً لما رواه البخاري كما مر، عکرمه رضي الله عنه وايي چې دريم هجرت دی د عامة المؤمنين وهي ترک ما نهى الله تعالى عنه يعني هجرت له گنهو څخه.

تمهید: دروښ وايي منافقان څو قسمه وه، یو قسم داسي وه چې له مکې مکرمې څخه راغله مدينې منورې ته او اسلام به يې راوړی بيرته به يې په زړو کې د خپل زاړه دين شرک محبت په زړه کې ور وګرځېدی او مرتد به سول، مګر یو څو ورځې به يې د علیه الصلوة والسلام سره منافقانه ژوند وکړی وروسته به يې علیه الصلوة والسلام ته وويل چې موږ به مکې ته ولاړ سو چې خپلې پېښې او پورونه وکاږو، او زموږ نور سامانونه چې هورې پاتې دي را به يې وړو او دلې به په مدينه کې تجارت په کوو، علیه الصلوة والسلام به اجازه ورکړه دوی چې به ولاړه هورې به يې خپل ارتداد ښکاره کړی او هلته به پاتې سوه، او بعض منافقان داسي وه چې له قريشو څخه به و مدينې منورې ته راغله ایمان به يې راوړی وروسته به پښېمانه سوه، نو علیه الصلوة والسلام ته به يې وويل چې پر موږ باندې د مدينې هوا بده لګېږي موږ به بېرته ولاړ سو هورې به هوا خوږې وکړو بېرته به راسو، علیه الصلوة والسلام به اجازه ورکړه دوی چې بدر ته ولاړه کرار کرار پسې روان وه چې مکې ته يې خانونه ورسول، او بل قسم منافقان هغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وه چې عبد الله بن ابي يې مشري پر غاړه درلوده او په غزاء کې د احد يې د عليه الصلوة والسلام ملا ور ماته کړه يعنې له لښکر څخه د احد ووتل او مدينې ته راغله كما رواه البخاري. او بعض منافقان به د عليه الصلوة والسلام سره غزاء ته ولاړه لکه د عبد الله بن ابي په مشرۍ يو څو کسه په يوه غزاء کې د عليه الصلوة والسلام سره ملګري وه، لکن په لار کې د عبد الله د نفرو او انصارو تر منځ څه جنګ او دعوه پېښه سوې وه، او بعض راوايان وايي چې د بعضې مهاجرينو او د ابي د اتباعو تر منځ څه د حملو جنګ سوی و. نو عبد الله بن ابي وخپل ملګرو ته وويل على ما حكاه الله عنهم في سورة المنافقين لاتنفقوا على من عند رسول الله حتى ينفضوا چې نفقه مه ورکوئ و هغو کسانو ته يعنې رسول الله ﷺ والمهاجرين حتى چې له لوږې به دوی سره متفرق سي، او د رسول الله ﷺ څخه به ولاړ سي، او دا يې هم وويل لئن رجعنا الى المدينة ليخرجن الاعز منها الاذل، يعنې که موږ رجوع وکړه و مدينې ته، نو عزت والا خلګ به (خپل ځانونه يې ښوول) وباسي ذليل خلګ (چې عليه الصلوة والسلام او مهاجرين يې مراد وه) دا خبره چې عليه الصلوة والسلام ته چا ورورسوله، نو عليه الصلوة والسلام ابي او ملګري راوغوښتل چې تاسي رشتيا دا خبره کړې ده، دوی قسمونه ورته واخستل چې موږ دا خبره نه ده کړې، نو عليه الصلوة والسلام دوی تصديق وکړی او د خبر راوړونکي يې تکذيب وکړی، حتى چې دا سورت نازل سو ﴿اذا جائك المنافقون قالوا نشهد انك لرسول الله والله يشهد انك لرسوله والله يشهد ان المنافقين لكاذبون الى اخير السورة﴾ او بعض منافقان داسي وه چې عليه الصلوة والسلام به يوې غزاء ته وتى دوی به ځانونه ګوښه کړه او جنګ ته به نه ورسره ولاړه. او عليه الصلوة والسلام چې به له غزاء څخه را ستون سو دوی به راغله عذر بالباطل به يې ورته کاوه، مثلاً يوه به ويل چې زما ماينه ډېره سخته ناجوړه وه و امثال ذالك، او پر دې به يې و عليه الصلوة والسلام ته قسمونه اخستل. آنحضرت ﷺ چې ډېر صاف دله او رحم دله شخصيت و د دوی قسمونه به يې ومنله او دوئ به يې معذوره وبلل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تبصره: دروښ وايي چې د منافقينو بعض منافقت خو عليه الصلوة والسلام چشم دید ولیدی لکه هغه منافقين چې د احد له جنګه يې ډډه وکړه او له نبوي لښکر څخه راووتل، او د بعضو منافقت و عليه الصلوة والسلام ته په وحي سره معلوم سو لکه په سورة المنافقون کې تر پايه پورې، نو ولې عليه الصلوة والسلام او مخلصو مسلمانانو د دوی د قتل امر نه ورکاوه؟

ځواب: اول خو د اسلام رنګ بدی و، ولې لږې خلګو به ويلای چې محمد ﷺ خپل بعض اصحاب او مسلمانان وژني چې ډده طبعيت ځني خراب سي، او دويم ځواب دادی چې د هر منافقان د انصارو مخلصونو سره په قوميت شريک وه يعني الاوس والخزرج، او په عربو کې قوم ګلوي او قو پرستي ډېره مشروع وه، نو له دې کبله عليه الصلوة والسلام حکم ددوی د قتل نه کاوه چې په منځ کې د مخلصانو د اوس او خزرج بې اتفاقي او جنګ او نزاع نه سي پيدا، لکه بعض اوقات چې داسي موضوعات په انصارو کې رونما سوي هم وې کما في الآحاديث الصحيحة المتفق عليها.

دروښ وايي: چې وروسته تر تمهيد او تبصره واوره تفسير د آياتو باقيه وو.

فَإِنْ تَوَلَّوْا

که دوی اعراض وکړی، مظهري رحمه الله وايي اى عن الايمان او عن الهجرة بعد الايمان فان الهجرة كانت فريضة يومئذ آه.

دروښ وايي: چې تفسير له ايمان څخه خو صحيح دی لکن تفسير په "تولى" سره بعد الايمان عن الهجرة نه دی صحيح، ولې سلمنا موږ منو چې هجرت فرض و لکن تارک د يوه فرض خو وژل کېږي. البته منکر د فرضيت بې کافر دی او وژل کېږي، او مؤمنان د مکې خو د هجرت له فرضيت څخه نه وه منکر غاية الامر دوی چې هجرت نه کاوه مرتکب د کبيرې ګناه به وه، نو مرتکب د کبيرې ماسوی له زاني بعد الاحصان او يا لواطت على بعض المذاهب خو نه وژل کېږي. مثلاً څوک چې لمونځ نه کوي يا زکواة نه ورکوي لکن منکر د فرضيت بې نه وي، او يا غيبت کوي او يا دروغ وايي مګر منکر د تحريم بې نه وي؛

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وعلى هذا فقس المامورات والمنهيات الاخر.

فَخُذُوهُمْ وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ وَجَدْتُمُوهُمْ

نو تاسي يې نسئ يعنې بنديان کوئ يې او وژنئ يې هر چېرې چې مو پيدا کړه لکه نور کافران.

دروښ وايي: چې دونده تغليظ پر هغو مؤمنانو د مکې چې هجرت يې سره له فرضيته نه و کړی څرنګه امام مظهري روا وبلی.

وَلَا تَتَّخِذُوا مِنْهُمْ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴿٨٩﴾

دروښ وايي: چې حکم د نهي د ولايت يې مکرر راوړی لپاره د تاکيد.

پوه سه: چې له "ولانصيراً" څخه دا معلومه سوه چې له کافره دي څوک کومک نه غواړي، زهري رحمه الله وايي چې انصارو له عليه الصلوة والسلام څخه اجازه وغوښتل چې ابن أبي چې د احد له جنګ را وګرځېدی مونږ به له خپلو حليفانو څخه د يهودو کومک وغواړو د احد په جنګ کې، نو عليه الصلوة والسلام ورته وويل "الخبيث لاحاجت لنا فيه" يعنې يهود خبيث دي مونږ حاجت نه لرو خبيث ته.

دروښ وايي: چې هغه دوې ډلې د منافقينو چې فقير ذکر کړې هغو ارتداد مختاره کړی او مکې مکرمې ته ولاړې حکم ددې آيت "فخذوهم آه" موافق دی لکونهم کفاراً اشد الکفر وهو الارتداد بعد الايمان. او دا حکم پر نورو منافقينو نه سو جاري که څه هم دوی ددغه حکم د اجراء مستحق وه، لوی علت خو يې دا و چې مونږ دمخه ذکر کړی چې يو خو د اسلام او د عليه الصلوة والسلام څخه د هغو خلګو چې په صورت حال په نه وه خبر نصرت زياتېدی کمامر منا عنقريب، او بل چې د تعصب قومي بېره هم وه کمامر ايضاً. او بله خبره دا وه چې دوی په قسمونه اخستل چې مونږ دا کار يا دا خبره نه ده کړې کما اخبر الله تعالى عنهم في سورة المنافقين "اتخذوا ايمانهم جنة فصدوا عن سبيل الله" دوی، دوی يعنې منافقينو ګرځولي دي قسمونه خپل سپر، يعنې د مسلمانانو ومخ ته، نو دوی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خلګ منع کول له لاري څخه، او هغه خلګ چې په غزواتو کې به د علیه الصلوة والسلام سره نه وه شامل سوي اعذار کاذبه او باطله به یې پېشول او له علیه الصلوة والسلام څخه به یې دا غوښتل چې مونږ ته بخښنه وکړه چې په دې باره کې خدای ﷻ په سورة المنافقین کې دا آیت نازل کړی دی "سواء علیهم استغفرت لهم او لا تستغفر لهم ان تستغفرلهم سبعین قرة فلن یغفر الله لهم"

فائده: دا آیت "فخذوهم آه" که څه هم مورد یې خاص دی لکن حکم یې عام دی، مرتدینو، مجاهرینو او محاربینو کفارو ته شامل دی بقرینة مابعدها.

دا و برادرانو تفسیر ددغو آیتو د قرآن کریم په اندازه د علم ناقص د دروېش، والله اعلم بمراده في کتابه العزیز، که زه پر خطاء وم وروڼو علماؤ د تنقید او د بیان د صواب ډډه مه کوئ لکن نه د حسد له لاري بلکې د قرآن عزیز د خدمت لپاره.

تتمة الکلام: دروېش وایي چې نمونه د تعصب قومي په منځ کې د اوس او د خزرج به تاسي ته بیان کړم چې سعید بن منصور او ابن ابي حاتم له سعد بن معاذ ؓ څخه روایت کړی دی قال خطب رسول الله ﷺ من لي بمن یؤذیني ویجمع في بیته من یؤذیني "څوک به زما سره کوم وکړي د هغه چا په باره کې چې ما زهیروي او دوی په کورو کې جمع کوي هغه کسان چې ما زهیروي، چې اشاره د علیه الصلوة والسلام و عبدالله بن ابي رئیس المنافین ته وه، نو سعد بن معاذ ؓ وویل "ان کان من الاوس" که دا سړی چې تا زهیر وي د اوس له قبیلې وي چې د معاذ ؓ قوم و "قتلنا مونږ به هغه مړ کوو "وان من اخواننا من الخزرج" یعنې چې عبدالله بن ابي ددغې قبیلې و "امرتنا فاطعناک" ته مونږ امر کړه مونږ به ستا اطاعت وکړو "فقام سعد بن عبادة ؓ" چې د خزرج د قبیلې سړی و "فقال یا ابن معاذ مابک طاعة رسول الله ﷺ" یعنې تا وویل که خزرج قبیلې ته امر راکړې مونږ به ستا اطاعت وکړو، تالره نسته قدرت د اطاعت د رسول الله ﷺ د خزرج په قبیله کې "فقام اسید بن حضیر ؓ" چې هغه د اوس له قبیلې و "فقال انک یا ابن عبادة منافق وتحب المنافقین" چې اشاره یې و ابی سلول ته وه، راوي وایي چې فصار الفریقان فکادوا ان یقتلوا" نو دواړې قبیلې اوس او خزرج سره پورته سوه چې نیږدې و چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جنګ دي سره شروع کړي. نو علیه الصلوة والسلام دوی سره ساکت کړه له خبرو څخه. او علیه الصلوة والسلام هم له خطبې ویلو څخه ساکت سو.

پوښتنه: دا څه موضوع وه چې علیه الصلوة والسلام په زهیر ښدی؟

ځواب: دا د ډیره اوږده قصه ده چې په بخاري، مسلم او په نورو کتابو کې د حدیثو هم راغلې ده چې حاصل یې دادی چې په غزاء کې د بني المصطلق چې سیدتنا عائشه رضي الله عنها متهمه سوه په زنا سره د صفوان رضي الله عنه. نو ابن ابي به دې قصې ته ترویج ورکاوه، او دا قصه یې زنا د عائشې رضي الله عنها له صفوان بن المعطل رضي الله عنه سره رشتیا بلل. او د ابن ابي په کور کې به نور منافقان سرا راجمع کېدل او دې قصې ته به یې تشهیر او ترویج ورکاوه، او دده لعین غرض یې آیه کېدل وه د رسول الله ﷺ.

إِلَّا الَّذِينَ يَصِلُونَ

مګر نه هغه کسان مه یې نیسئ او مه یې وژنئ چې دوی ځانونه ورسوي.

پوه سه: چې "الا الذین" استثناء ده ددې قول د خدای ﷻ "فخذوهم واقتلوهم" یعنې دغه کسان مه نیسئ په مریتوب او مه یې وژنئ.

إِلَىٰ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُم مِّيثَاقٌ

بغوي رحمه الله وایي چې دا کسان د بني اسلم قبیله وه. موضوع دا وه چې علیه الصلوة والسلام د هلال بن عامر الاسلمي سره قرارداد کړی و دمخه تر خروج و مکې ته یعنې لپاره د فتح د مکې چې نه به ته زما سره کومک کوې نه به د بل چا سره کومک کوې پر موږ باندې او هغه څوک چې پناه وروړي له قوم څخه دده او یا له نورو اقوامو څخه، نو هغو لره جوار او امان دی مثل ماللهلال. دا خو روایت و د ابن ابي حاتم له مجاهد رحمه الله څخه، او ابن مردویة له حسن بصري رحمه الله څخه داسې روایت کړی دی چې سراقه بن مالک مدلجي خلګو ته وویل چې علیه الصلوة والسلام فتح وکړه د بدر او د احد موضوع هم خلاصه سوه او پر شا وخوا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کفارو هم غالب سو ، نو سراقه دا وویل چې ماته دا خبر رارسېدلی دی چې علیه الصلوة والسلام اوس اراده لري چې خالد بن الوید زما قوم ته را واستوي او زما هم دا اراده ده چې زه د علیه الصلوة والسلام او د مسلمانانو سره قرارداد وکړم چې که ستا قوم یعني قریشو ستا دین قبول کړی او مسلمانان سوه موږ هم اسلام قبلوو او په اسلام کې داخلېږو ، او که ستا قوم ایمان نه راوړی ، نو موږ به نه بېروې او کار به نه رالري "فاخذ رسول الله ﷺ بید خالد" نو علیه الصلوة والسلام خالد تر لاس ونیوی او ورته وه یې ویل چې ولاړ سه ددوی سره هغه وکړه چې ته یې اراده لرې ، نو خالد چې دې قوم ته ورغلی ، نو صلح یې پرې دې ورسره وکړه چې تاسي به هیڅ چاته د علیه الصلوة والسلام پر ضد کومک نه ورکوئ ، او که قریش مسلمانان سوه تاسي به هم اسلام قبلوئ فانزل الله یصلون ۞ نو هغه کسان چې پناه به یې بن مدلج ته وروړه ، نو د هغه هم داغسي حکم و لکه د بني مدلج او پناه ورونکی ودوی ته ددوی په عهد کې داخل دی.

اَوْ جَآءُوْكُمْ

او یا هغه قوم چې تاسي ته راسي.

پوه سه: چې "اوجاءوکم" عطف دی پر صله د موصول مقدم التقدیر الا الذین وصلوا الی قوم آه او یجیئکم آه.

حَصِرَتْ صُدُوْرُهُمْ

حال په تقدیر د قد لکونه ماضیا کماهو القانون النحوي في حالیة الماضي ، یعني په داسي حال کې چې تنګ سوي زړونه ددوی ذکر محل چې صدور دي مراد ځني حال دی چې زړونه دي.

اَنْ يُّقَاتِلُوْكُمْ

چې ستاسي مسلمانانو سره جنګ وکړي.

دروښ وایي: چې چونکه حصرت لازمي دی ، نو "ان یقاتلوکم" مفعول به دی په تقدیر د عن ، او یا "ان یقاتلوکم" علت دی د "حصرت صدروهم" والتقدیر کراهة "ان یقاتلوکم"

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اَوْ يُقَاتِلُوْا قَوْمَهُمْ ؕ

او یا جنګ وکړي د خپل قوم سره، والمعنی تنګوي زړونه ددوی ستاسي له جنګه په سبب د معاهدې چې ستا او ددوی تر منځ سوې ده، او له جنګ څخه د قوم ددوی چې قریش دي یعنې چې ستاسي سره ملګري سي او له قریشو سره جنګ وکړي.

پوه سه: چې خدای ﷻ و علیه الصلوة والسلام ته داسي حکم ورکړی و چې هغه کسان چې مرتد سوي وه که ددغو معاهدو سره یو ځای سي فلهم حکمهم یعنې له قتال څخه دغه مرتدین هم مخفوظ دي، ولي چې جنګ ددغو مرتدینو چې هغو په معاهدینو کې ځای نیولی دی مستلزم دی جنګ کول د معاهدینو سره وهو لایجوز.

وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَسَلَّطَهُمْ عَلَيْكُمْ فَلَقٰتَلُوْكُمْ ۚ

او که د خدای ﷻ اراده وای دغه معاهدین به یې مسلط کړي وای پر تاسي یعنې زړونه به یې ورقوي کړي وای او ستاسي سره به یې جنګ کړی وای.

پوه سه: چې په دې آیت کې خدای ﷻ خپل احسان بیان کړی پر مسلمانانو چې د کفارو په زړونو کې یې ستاسي رعب واچاوه چې معاهدې ته مجبور سوه.

فَاِنِ اعْتَزَلُوْكُمْ فَلَمْ يُقَاتِلُوْكُمْ وَاَلْقَوْا اِلَيْكُمُ السَّلَمَ ۙ فَمَا جَعَلَ اللّٰهُ لَكُمْ عَلَيْهِمْ سَبِيْلًا ۝

که دوی ګوښه ګي مختاره کړه له جنګ څخه، نو جنګ نه درسره کوي او تاسي پېش نهاد او خواهش د صلح وکړئ، نو خدای ﷻ نه ده ګرځولې تاسي لره پر دوی باندې لار، یعنې لار د وژلو او نیولو په بند سره یعنې وینې د دوی او اموال ددوی محفوظ دي.

سَتَجِدُوْنَ اٰخَرِيْنَ يُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّاْمَنُوْكُمْ وَيَاْمَنُوْا قَوْمَهُمْ ؕ

ژر دی چې تاسي به داسي قوم غیر له ماقبل قومو څخه پیدا کړئ چې دوی اراده لري ددې چې ستاسي ځان په امن کې کړي یعنې چې تاسي تعرض نه ورته وکړئ او له قوم څخه هم ځانونه په امن کې وګرځوئ چې هغه هم تعرض نه پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وکړئ. له ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چې دا قوم د اسد قوم و او د غطفان، چې دوی په مدینه منوره کې حاضر وه او په خوله یې ریاءً او حفظاً اشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمداً رسول الله ووایسه او په واقع کې مسلمانان نه وه. نو ددوی له قربیانو څخه به چې چا ورته وویل چې په څه سبب دې اسلام راوړی دی؟ دوی به ورته وویل چې په دې اسلام سره مو ځانونه بېغمه کړه له منګولرانو او لرمانو څخه. او له تورو خزدکو څخه ددوی مراد مسلمانان وه. او چې د صحابه کرامو ﷺ سره به ملاقي سو دوی به ورته ویل چې موږ ستاسي پردین یو. په دې دول دوی له مسلمانانو او د خپل قوم څخه ځانونه ساتلي وه.

كُلَّمَا رُدُّوا إِلَى الْفِتْنَةِ أُرْكِسُوا فِيهَا

هر وخت چې به دوی وغوښتل سوه وفتنې ته یعنې د نور قوم له خوا څخه چې هغه قوم ددوی به له مدینې څخه ګوښه اوسېدل.

پوه سه: چې مراد له فتنې څخه کفر او جنګ د مسلمانانو سره کول دي. نو دوی په ورو ګرځېدل و هغې فتنې ته په ډېره بده توګه یعنې هغه به یې ومنل.

فَإِنْ لَمْ يَعْتَزِلُوكُمْ وَيُلْقُوا إِلَيْكُمُ السَّلَمَ وَيَكُفُّوا أَيْدِيَهُمْ

که دوی ستاسي څخه ځانونه ګوښه ونه ساتي او ستاسي څخه د صلح د معاهدې خواهش ونه کړي او بند نه کړي خپل لاسونه له شر رسولو څخه وتاسي نه.

پوه سه: چې "یلقوا" عطف دی پر مدخول د "لم" چې "یعتزلوکم" وکذا قوله "ویکفوا ایدیهم" یعنې چې ستاسي د جنګ بېزاره نه سي او ستاسي فرمانبرداره نه سي په طلب کې د صلح او معاهدې او خپل لاسونه راتول نه کړي ستاسي له شر رسولو څخه.

فَخُذُوهُمْ وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ وَأُولَٰئِكُمْ جَعَلْنَا لَكُمْ عَلَيْهِمْ سُلْطَانًا مُبِينًا

نو تاسي دوی نیسئ یعنې بندیان کوئ یې او وژنئ یې هر چېرې چې مو قدرت پر پیدا کړی او په لاس درغله، او دغه کسان چې موصوف په دغو بدو صفاتو سره وه، موږ ګرځولی دی تاسو لره پر دوی باندې حجت ظاهراً واذناً

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بالقتل والقتال ولي چې ددوی حال په کفر، غدر او په عداوت کې ښکاره سو حتی چې پر تاسي یې د لرمانو، منګورانو او تورو خڼدکو ټومان هم کښېښول.

شان نزول الآية الآتية: بغوي رحمه الله وایي چې عیاش بن ربیعة المخزومي دمخه تر هجرت د نبي عليه السلام و علیه الصلوة والسلام ته ورغلی او ایمان یې راوړی، او بیا وبېرېدی چې که زما اسلام زما وقریبانو ته ښکاره سي ماته په یو مصیبت جوړ سي، نو مدیني منورې ته وتښتېدی، نو په محکمه قلعه کې د اطرافو د مدیني یې ځای ونیوی، نو د عیاش مور چې دده په اسلام او و مدیني ته په تښتېته خبره سوه ډېره بې صبري او ژړا یې پر لار واچول. نو دې خپلو دوو زامنو ابو جهل او حارث ته چې دواړه د هشام زامن وه او د عیاش مورنۍ وروڼه وه داسي وویل چې والله که د بام وسایې ته کښېنم او زه به څکه د دوډی ونه کړم او نه به اوبه وڅښم تر څو زما زوی عیاش ماته رانه ولي. نو ابوجهل او ورور یې حارث په عیاش پسې رهي سوه د مدیني پر خوا او حارث بن زید بن ابي انیسه هم ورسره ملګری سو، نو مدیني ته ورغله او د عیاش معلومات چې یې وکړی خلګو هغه قلعه وروښوول چې عیاش پکښې اوسېدی. نو ابو جهل او حارث چې د عیاش مورنۍ وروڼه وه و عیاش ته یې وویل چې ته راکښته سه او د مور پوره حال یې ورته بیان کړی او دوی قسم ورته واخستی چې موږ تا نه مجبوره کوو پر هیڅ شي، او نه ستا او ستاد دین تر منځ مانع ګرځو، نو عیاش یو خو د مور د جزع او فزعې په خاطر او ددوی د قسمو په سبب ورته راکښته سو، نو له مدیني څخه چې یې را لهرې کړی نو یې د عیاش پښې او لاسونه د اوښ په مرائدي ټینګ وروتړل او هر یوه سل سل غمچني وواهه، نو اخیر یې مکې ته وروستی او مور ته یې تسلیم کړی، نو مور یې ورته وویل چې لاسونه دې تر هغو والله که در خلاص کړم تر څو چې ته کافر نه سې بما امنت به یعني رسول الله ﷺ. نو یې داغسي و لمرته وغورځوی چې د مکې د دوبي وخت و، عیاش خو یو ګړی صبر وکړی لکن د دې پر تکلیف له کبله یې کفر ودوی ته ښکاره کړی وقلبه مطمئن بالایمان، نو ابوجهل او حارث او مور یې لاسونه ورخلاص کړه، نو حارث بن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

زید چې د ابوجهل او حارث ابنې هشام دریم ملګری و، عیاش ته یې ډ پېغور په لهجه داسې وویل چې ای عیاشه دغه دین چې تا پرېښووی که چېرې هدایت و نو تاخو هدایت پرېښو کافر سوې، او که چېرې دا دین ضلالت و، نو تا ډېره زمانه پر ضلالت تېره کړه، عیاش ددې بې حیا، له پېغور څخه ډېر متاثر سو، نو عیاش ورته وویل چې زما قسم په خدای ﷻ دی که ما ته یو وخت یوازې ولیدلې زه به دې قتل کوم، وروسته عیاش بیرته خپل اسلام بنکاره کړی او مدینې ته ولاړی، بیا وروسته حارث بن زید هم ایمان راوړی او مدینې ته ولاړی او علیه الصلوة والسلام دغه وخت په مدینه کې و، او عیاش د حارث بن زید په اسلام راوړلو کې حاضر نه و او نه یې په اسلام راوړلو خبر و، نو نابېره عیاش په قباء کې پر حارث پېښ سو دستې یې قتل کړی، خلګو ورته وویل افسوس دی تالره دا دې څه وکړه حارث بن زید خو اسلام راوړی و، نو عیاش ورغلی و علیه الصلوة والسلام ته یې ټوله قصه خپل او د حارث بن زید د نقل وکړه او دا یې ورته وویل چې هیڅ د حارث بن زید په اسلام نه وم خبر، فنزلت هذه الآیة.

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ اَنْ يَّقْتُلَ مُؤْمِنًا اِلَّا خَطَـًٔا ۚ

نه ښایي او نه ده روا مؤمن لره چې وژني بل مؤمن مګر نه په خطاء سره، ولې چې ایمان دده مانع دی له قتل څخه د مؤمن، او بعض مفسرین وایي چې نسته مؤمن لره من حیث انه مؤمن یعنې نه دمخه او نه وروسته او نه موجود ډېرې پر لاسونو دده چې مسلمان دې قتل کړي بغیر حق (مثل القصاص) ولې چې د مؤمن ناحقه قتل د لویو محظوراتو او ممنوعاتو څخه د دین او د اسلام دی فهو اخبار لفظا من عدم قتل المؤمن من المؤمنین بغیر حق او مقصود مبالغه ده في الحرمة، نو ګویا ایمان د قاتل المؤمن بغیر حق متعمداً په سبب د کمال نقصان د ایمان یې منزلة العدم دی او دې تفسیر ته اشاره په هغه حدیث کې ده چې بخاري یې روایت کړی دی من قوله علیه الصلوة والسلام په علاماتو کې د مؤمن "ولا یقتل حین یقتل وهو مؤمن" انتهی الحدیث باختصار، او بعض وایي چې دا نفي په معنا د نهي ده یعنې لا یقتل المؤمن بغیر حق متعمداً، لکه په دې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

آیت کې "ماکان لکم ان توذوا رسول الله ولا ان تنکحوا ازواجه من بعده ابداً".

پوه سه: چې "الا خطاءً" دا استثناء داعم الاحوال او خطاءً منصوب علی الحالیة ای کائناً علی حال من الاحوال الا علی حال الخطاء. او یا منصوب دی علی کونه مفعول مطلق ای قتلاً الا قتلاً خطاءً.

فائده: قتل څو قسمه دی. یو قسم عمد قتل دی چې یو سړی مسلمان قصداً په داسې آله مړ کړي چې هغه د وژلو لپاره وضع سوی وي. لکه په پخوانی زمانه کې توره او غشی، او په اوسنی زمانه کې کلاشنکوف، توفک، توپنچه، بم وغیر ذالک من الآلات الموضوعة للقتل وحکمه القصاص الا ان یصلحوا ورثة المقتول من القصاص علی المال فیجب الدیة في مال القاتل.

مسئله: که یوه له اقرباؤ څخه د مقتول وقاتل ته عفوه وکړه، دا نور یې نه سې قصاص لای بلکې دیت به غواړي، امام اعظم رحمه الله په قتل عمد کې کفاره پر قاتل نه غواړي، او شافعي رحمه الله کفاره هم پر لازمه بولي، دلائل یې په کتابو کې د فقه وګورئ دده د دلائلو راوړل د دروښ عادت نه دی لکه د مظهري، او بل قسم شبیه بالعمد دی، فمن ضرب شخصاً سوطاً او سوطین عمداً، نو هغه سړی مړ سو، نو دا شبیه بالعمد دی بالاتفاق، یا یو سړي بل سړی قصداً په سوک وواهه پر غوږ باندې او هغه مړ سو فهو ایضاً شبیه بالعمد اتفاقاً، او که یوه سړي بل سړی ووهی په کوچنی غمچینه ډېر وارونه او هغه مړ سي دا هم شبیه بالعمد دی عند الامام الاعظم وصاحبیه وعمد عند الشافعي، او که یوه سړي بل ووهی په ډېره غټه ډبره او یا په لوی لرګي چې غالباً د دوارو له وهلو څخه سړی ژوندی نه سي پاته کېدای، نو د نورو امامانو په نېز دا قتل عمد دی موجب یې قصاص دی. او امام اعظم رحمه الله وایي چې دا شبه عمد دی قصاص نسته پکښې. دا شبه العمد اول د اقسامو د قتل خطاء دی، او دوهم قسم د قتل خطاء دادی چې یا خطاء په قصد کې د قاتل وي وهو ان یرمی شیئاً وهو یظنه صیداً لیقتله واذا هو ادمي. او دریم قسم خطاء دا په فعل کې نه په قصد کې لکه یو سړی چې په قصد د نوبهان ولي هغه پر یو مسلمان ومنبلي او مړ یې کړي او یا د راسي په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خیال هغه سړی حربي وي نو دی چې واړی پر وکړي او مړ یې کړي وروسته وړتلو معلومه سي چې هغه مسلمان و. او څلورم قسم یې ما اجری مجری الخطاء لکه یو بیده سړی پر بل وروارړي او مړ یې کړي چې دا قتل په ښځو کي د هر پیښېږي چې کوچني ته تی ورکوي اخیر بیده سي پر کوچني ور واړي او مړ یې کړي، او پنځم قسم د خطاء دادی چې یو سړی د بل سبب د قتل وګرځي یعنې سبب د قتل د قاتل د خوا وي نه فعل د قتل. لکه یو سړی چې څاه (کویی) وکني یا لویه ډبره کنبېږدي په خپل ملک کي بل سړی هغه څاه ته ولوېږي او پکښې مړ سي یا بل سړی پر هغه ډبره غوځار سي او مړ سي.

پوه سه: چې حکم د ددې تولو اقسامو د خطاء دیت پر عاقله یعنې نژدې قوم د قاتل اتفاقاً ولي مسلمان خو قتل سو او قصاص یې نسته، نو اقلاً دیت خو باید وي تاچې د مسلمانان وینه هدر اورایګان ولاړ نه سي، او بل حکم د تولو دغو اقسامو وجوب د کفارې دی پر قاتل چې بیان به یې راسي ان شاء الله او له میراث څخه محروم دی په تولو اقسامو په نېز د ائمه ثلثه وو لکن امام اعظم رحمه الله وایي چې په قتل بالتسبیب کي حرمان د قاتل له میراث څخه د مقتول نسته، ولي قتل بالتسبیب خو حقیقةً قتل د جاني له خوا نه دی ولي چې قتل خو تصرف دی په بدن کي د مقتول هغه خو دلته نسته بلکې تصرف خو هغه په بل شي کي کړی مثلاً چې څاه یې کنبلی دی.

وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَأً فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ

او که چا مړ کړی مؤمن په خطاء سره، ازاد کول دي دیوې رقبې د مریي.

پوه سه: چې کلمه د "من" مبتداء ده متضمن معنی لره د شرط ده او خبر یې دا قول دی "فتحریر رقبة.

پوه سه: چې د "تحریر رقبة" سره مبتداء محذوفه سته ای فجزائه تحریر رقبة لان جزاء الشرط انما یکون جملة فافهم.

فائده: مظهري رحمه الله وایي چې له دې آیته دا فهمېږي چې کفاره هم باندې سته لان الکفارة لدفع الاثم انتهی. او روح البیان وایي چې دا تحریر کفاره ده وهي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حق الله تعالى انتهى والله واعلم بالصواب.

مسئله: في رواية عن ابي حنيفة رحمه الله لايجب الكفارة في الشبيه بالعمد په كفايه كي چې شرح د هدايه ده وايي چې جرجاني وايي وجدت رواية عن اصحابنا ان الكفارة لايجب في شبه العمد آه.

فائده: په لغت عربي كي ځه هم رقبه غاړې ته وايي لكن مراد څنې تولې جسد دی من قبيل ذكر الجزء ارادة الكل.

پوه سه: چې مراد له "رقبة" څخه رقبه كامله ده، نو د ام الولد اعتاق په كفاره كي نه دی روا، ولي چې ام الولد خو مستحق د عتق ده حتى لايجوز بيعها. قال عليه الصلوة والسلام في حق ام الولد اعتقها ولدها. او داغه رنګه نه دی روا اعتاق د مدبر مريي يعنې بادار ورته ووايي چې زما تر مرګ وروسته ته ازاد يې وهذا مذهب ابي حنيفة رحمه الله ويجوز عند الشافعي. او روا دی عتق د مكاتب مريي چې هيڅ چې هيڅ شی يې بدل كتابت نه وي ورکړی په نېز د ابو حنيفه رحمه الله او نه دی روا په نېز د شافعي رحمه الله.

مسئله: د لېونې مريي عتق نه دی روا، داغه رنګه په دواړو سترګو د ړانده او يا ګونګي او يا كوڼ چې هيڅ شی نه اوري، ولي چې په دوی كي يو جنس د منفعت د يوه عضو نسته، نو داسې مريي كالهالك (لكه مړ) دی. او داغه رنګه نه دی روا چې دواړه لاسونه يې پرې وي يا يې دواړې پښې پرې وي لما ذكرنا انه فاتت جنس المنفعة يعنې منفعة البطش في مقطوع اليدين ومنفعة المشي في مقطوع الرجلين. او داغه رنګه نه دی روا چې يو لاس او يوه پښه يې له يوه طرفه څخه پرې وي. ولي چې داسې سړی تګ نه سي كولای ولو على العصاء او كه يې جهت د پرې لاس او د پرې پښې سره جلا و هغه روا دی ولي چې هغه پر لكړه تلای سي. او د اعور يعنې چې په يوه سترګه روند وي او د اعمش چې تر سترګو يې اوبه بهېږي چې په پښتو يې خچنک بولي او د پيس عتق روا دی ولي چې دا كسان ناقص المنفعة دي. او اعتاق د عنين مريي او يا خصي مريي روا دی. ولي چې له مريي څخه خدمت دی هغه په دوی كي سته نسل خو مقصود نه دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: د کفارې د وجوب پر قاتل باندې شرط دادی چې قاتل به عاقل وي لهونې به نه وي بالغ به وي پر صبي کفاره نسته او مسلمان به وي پر کافر قاتل کفاره نسته. ولي چې کفاره خو عبادت ده فيشترط لوجوبها مايشترط لوجوب سائر العبادات. او شافعي رحمه الله وايي چې هيڅ شی شرط نه دی د کفارې د وجوب لپاره.

مُؤْمِنَةٍ وَّدِيَةٌ

رقبه به مؤمنه وي او بل دیت پر لازم دی.

پوه سه: چې په کفارة القتل کې ایمان شرط دی بالاجماع لورود النص بالایمان او په کفارة الیمین یا صوم یا ظهار کې ایمان شرط نه دی، نو په رقبه مؤمنه کې صغیر او کبیر، نر او ښځه یعنې مینځه گرده برابر دي، "ودیة" عطف دی پر تحریر رقبة باندې یعنې وجزائه دیة. في القاموس الدیة حق القتل ای المقتول یعنې اصالة لکن اولیاء د مقتول قائم مقام د قتیل دي.

مسئله: دیت د قتل خطا، پر عاقله د قاتل دی یعنې هغه نیژدې قومي قریبان د قاتل.

فائده: وجوب د دیت پر عاقله باندې که څه هم له قرآن مبارک څخه نه فهمیږي لکن په حدیث مشهور سره او په اجماع سره ثابت دی.

مُسَلَّمَةٌ إِلَىٰٓ أَهْلِهِۦٓ

تسلیم کوي به یې و اهل ته د مقتول یعنې ورثته.

مسئله: د دیت حکم د میت د ترکې حکم دی من حیث التقسیم والحرمان والحجب کما في السراجي ص۲ ویتعلق بترکة المیت حقوق اربعة آه، نو دغه حقوق په دیت کې د مقتول هم جاري دی، والتفضیل یفضی الی التطویل وهو لایناسب هذا التفسیر.

إِلَّآ أَن يَصَّدَّقُوا۟

مگر تسلیم نه دی واجب که ورثه د مقتول دیت وبخښي، او یا یې مقتول وروسته تر تپې کېدو دمخه تر مرگ وبخښی.

پوه سه: چې خدای جل جلاله له دې عفوي څخه تعبیر په تصدق وکړی لپاره د باعثه کولو د اولیاؤ د مقتول پر بخښه باندې او تنبیه یې پر دې وکړه چې عفو د ثواب کار دی،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ولي چې قاتل خو په خطاء قتل وکړی نو لکه دی چې نه و مجرم اولیاء دده باید تر جرم د دیت لاندې را نه وستل سي، قال رسول الله ﷺ کل معروف صدقة رواه البخاري.

فَإِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ عَدُوٍّ لَّكُمْ

او که چېرې و مقتول له داسي قوم څخه چې هغه دښمنان وه یعنې کافران وه یعنې د قومیت په لحاظ د کافرانو له قومه څخه و.

پوه سه: چې د "عدو" اطلاق پر واحد او پر جمع دواړو کېږي، نو ځکه "عدو" دلته د قوم صفت واقع سو چې اسم جمع دی.

وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ

او حال دا و چې مقتول مسلمان و نو جزاء یې ازادول د مؤمنه رقبې ده، یعنې فقط دیت یې نسته.

پوه سه: چې مفسرین وایي چې معنا ددې آیت داده چې یو سړی مسلمان وي هجرت یې ودار الاسلام ته نه وي کړی وروسته تر اسلام، او یا یې یو وار هجرت کړی وي لکن بیرته دار حرب ته تللی وي پر اسلامي حال، نو یو مسلمان هغه سړی مړ کړي په خطاء سره، نو کفاره یعنې تحریر رقبة مؤمنة خو یې سته، ولي چې دده وینه معصومه ده په سبب د اسلام ولا یجب الدیة، ولي هغه عصمت چې سړي ته دیت لازمه وي هغه په دار اسلام سره دی او دی یعنې دغه مقتول خو هغه عصمت نه لري، په حدیث شریف کې چې روایت یې ابن المنذر له جریر بن عبدالله بحلي څخه کړی دی چې رسول الله ﷺ وویل "من اقام مع المشرکین فقد برئت منه الذمة"

وَإِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِّيثَاقٌ

او که چېرې و مقتول له داسي قوم څخه یعنې د کفارو له قوم څخه چې ستاسي مسلمانانو او ددوی تر منځ عهد و یعنې اهل ذمه وه.

فَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰ أَهْلِهِ

یعنې جزاء د هغه دیت دی او واجب پر عاقله د قاتل دی چې تسلیم کېږي به و اهل ته د مقتول یعنې ورثه د هغه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې تصویر او صورت ددې مسئلې دادی چې مقتول یا کافر اهل ذمه وي او یا کافر معاهد وي.

پوه سه: چې دیت د مسلمان او د کافر سره برابر دی په نېز د امام اعظم رحمه الله وفي المدارک في هذه الآية دليل على ان دية الذمي كدية المسلم انتهى.

پوه سه: چې "دية" مصدر دی من ودی القاتل المقتول ای اعطی وليه المال الذي هو يدل النفس وذالک المال يسمى الدية تسمية بالمصدر والتاء في اخيرها بدل من الواو المحذوفة في الاول كما في عدة.

فائده: دیت په خطاء کې د سرو زرو زر دیناره دي او د سپینو زرو عشرت الاف درهم، او دیت پر عاقله د قاتل دی په قتل خطاء کې.

وَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ

یعنې له مال څخه د قاتل که قاتل د رقبه مؤمنه مالک و او یا یې دونده روپۍ درلودې چې رقبه مؤمنه په رانسې، او هغه روپۍ به د قاتل تر حوائجو اصلیه وو او له پور څخه بالا وي.

فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ

که قاتل رقبه نه درلوده او نه قادر پر تحصیل د رقبه و، نو واجب ده پر قاتل په دغو تولو صورتو کې، به روژې نسې دوې میاشتې پرله پسې.

مسئله: که دغه سړي یوه ورځ روژه وخوړل په دغو دوو میاشتو کې بېله عذر شرعي او یا یې نیت هېر سو یا د بلې روژې قضایې یا نفلي واجب ده پر ده له سره څخه نیول د روژو اجماعاً لاشتراط التتابع نصاً، او که چېرې بنځه قاتله وه او دغه روژې یې نیولې بیا یې د حیض په ورځو کې وخوړلې د سره راګرځول د روژو پر دې نسته اجماعاً لانه عذر شرعي، او که دغه سړي یوه روژه وخوړل په عذر د مرض یا د سفر نو پر ده باندې استیناف واجب دی په نېز د جمهورو علماؤ

پوه سه: چې مجاهد رحمه الله وایي که دا روژې نیونکی له روژو څخه عاجزه سو دوه ورځې یې په ځای کې د روژو نه درېږي په نېز د امام اعظم رحمه الله او د امام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مالک رحمه الله، او په صحیح قول کې د امام شافعي او امام احمد وایي چې اطعام هم کفایت کوي دوی یې پر ظهار قیاسوي، لکن دا قیاس دی په مورد کې د نص قرآني او امر جامع مقیس او مقیس علیه نه سره لري.

تَوْبَةً مِّنَ اللَّهِ ۗ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿١١﴾

پوه سه: چې "توبة" منصوب ده علی انه مفعول له ای شرع الله الصیام علی القاتل لاجل توبة منه تعالی علیه، او یا مفعول مطلق دی د فعل محذوف ای تاب الله علیکم بتلک الصیام توبة، او خدای ﷻ خبر دی په حال د قاتل او حکمت لري په هر کار کې چې کوي یې.

دروښ وایي: چې بغوي رحمه الله دا وروسته شان نزول داسې راوړی دی چې مقیس بن ضبابه کندي او دده ورور هشام اسلام راوړی څو ورځې وروسته د مقیس ورور هشام مړ یعنې وژل سوی پیدا سو په بني النجار کې. نو مقیس و علیه الصلوة والسلام ته راغلی او ده د خپل ورور هشام د قتل په بني النجار کې ورته بیان کړه، نو علیه الصلوة والسلام د مقیس سره یو بل سړی چې د بني النجار د قبیلې و ور سره ملګری کړی چې رسول الله ﷺ تاسې امر کوي که تاسې ته قاتل د هشام معلوم دی، نو د مقیس په لاس یې ورکړئ چې دی یې قصاص کړي او که قاتل تاسې ته نه وي معلوم، نو مقیس ته یې دیت ورکړئ، نو مقیس او ملګری فهري چې بني نجار ته ورغلی او پیغام او امر د علیه الصلوة والسلام یې ودوی ته ورساوه هغو ورته وویل سمعاً وطاعةً لله ولرسوله. قاتل د هشام خو نه دی راته معلوم لکن مونږ به دیت ورکوو، نو سل اوښان یې مقیس ته ورکړه، نو مقیس او فهري چې د مدینې منورې و خواته را روان سوه مقیس ته شیطان وسوسه ورواچول چې تاچې د ورور دیت قبول کړی دا خو ستا لپاره لوی پیغور دی او خلګ به ښکنځل هم درته کوي. راسه دا فهري مړ کړه نو دا به نفس بنفس سې او دیت به بچت درته پاته سي، نو د فهري فکر نه و چې مقیس ناګاه په یوه لویه ډبره پر سر وویشتی او مړ یې کړی. او مقیس خپل اوښان د مکې پر خوا روان کړه او مکې ته ورغلی بهر ته کافر سو، نو خدای ﷻ دا آیت نازل کړی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَنْ يَّقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا

چې یو څوک مړ کړي مؤمن په حیثیت د ایمان په قصد سره نه په خطا، یعنې بل عداوت نه ورسره لري لکه مقیس چې د فهري سره یې هیڅ عداوت نه درلودی بلکې په دې حیثیت یې مړ کړی چې د مقیس په زړه کې د کفر خوا تینګه سوې وه او فهري مسلمان و نو په دغه سبب مړ کړی، او یا معنا داده چې قاتل لکه د مقیس وژل د مقتول چې فهري و ځان ته یې روا بولي.

پوښتنه: له دې قصې څخه خو دا معلومه سوه چې وژل په درانه شي لکه مقیس چې په درنه ډبره فهري ووشتی او مړ یې کړی خدای ﷻ په دې آیت کې دا قتل متعمداً وبالله، او سره ددې چې امام اعظم رحمه الله دا قتل شبه عمد بولي. نو حنفیان به څه ځواب ورکوي.

ځواب: د شبه عمد حکم د عمد په حیث د ګناه له دې کبله احناف وایي چې شبه عمد لره کفاره نسته لکه عمد لره، او مورږ چې شبه عمد له عمد څخه جلا بولو د قصاص له جهته یعنې په عمد کې حکم قصاص دی او په شبه عمد کې چې قصاص نسته د آلة القتل د شبهې له وجهې، او په دې آیت کې خو بیان د ګناه دی نه د قصاص حیث قال الله تعالی فجزائه جهنم نو ځکه امام اعظم رحمه الله په شبه عمد کې دنیاوي حکم دیت بولي او اخروي حکم یې د عمد سره برابر دی.

فائده: مقیس مذکور هغه کافر دی چې د فتح مکې په کال علیه الصلوة والسلام دده حکم له نورو کفارو سره جلا کړی یعنې چې مقیس ته هیڅ امان نسته هر چېرې چې وي ودي وژل سي، نو مقیس په دغه ورځ د کعبې مبارکې پردې تینګې نیولي وې چې مسلمانانو مړ کړی.

فَجَزَآؤُهٗ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيْهَا

لاجل کفره اللازم لسخطه من الایمان کمافهم من قصة او یا له دې سببه چې قاتل یې قتل و ځان ته روا بولي، نو خو هم قاتل کافر دی لان مستحل الکبیرة کافر کما في کتب العقائد.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: څینې وختونه یو مسلمان بل مسلمان مړ کړي د فرط غضب له سببه او یا یو بل سبب وي لکن قتل یې وخان ته روا نه بولي. نو هغه به څرنګه همېشه وي؟

ځواب: د خلود معنا دوام نه ده بلکې مکث طویل دام او لم یدل فیشمل جمیع صور القتل العمد ای الکافر والمستحل والمؤمن.

فائده: بخاري او مسلم له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت کړی دی چې قاتل لره د مؤمن عمداً توبه نسته، او بغوي رحمه الله هم ورته روایت له ابن عباس رضي الله عنهما څخه کړی دی لکن په نورو تفاسیرو کې خلاف ددغه روایت له ابن عباس رضي الله عنهما څخه منقول دی حیث قال ابن عباس رضي الله عنهما "فجزائه جهنم خالداً فیها لوجازاه الله" یعنې که خدای ﷻ پوره جزاء ورکوي "لکنه یتفصل علیه" لکن خدای ﷻ دده سره احسان کوي "ولا یخلد لایمانه" او خدای ﷻ یې همېشه په اور کې نه پرېږدي په سبب د ایمان دده انتهی.

دروښ وایي: چې عین ممکنه ده چې ابن عباس رضي الله عنهما دي له هغه مذهبه څخه چې بخاري او مسلم دده نقل کړی و کمامر رجوع کړې وي لما تواتر في الاحادیث الشریفة "ان المؤمن لا یخلد في النار بکبیرة آیة کفیرة کانت مالم یکن مستحلاً لها ولا مستخفابها" والله اعلم.

دروښ وایي: چې علماء قدیماً وحدیثاً په دې مسئله کې د قاتل عمداً د بل مؤمن اختلاف لري چې توبه یې سته او که نسته لکن وجه د جمعې ددغو اقوالو سته هغه دا چې په قتل عمد کې د مؤمن دوه حقه سته یو حق العبد دی چې قصاص دی هغه د قاتل نه دفعه کېږي، نو هغه علماء چې وایي چې توبه یې نسته معنا یې داده لاتوبة له في حق العبد وهو القصاص یقتص منه لامحالة، او بل حق الله دی چې د احترام د نهي د خدای ﷻ ونه کړي او مؤمن یې عمداً قتل کړي نو که دی صحیح توبه وکاږي خدای ﷻ تر خپل حق په آخرت کې تر دوزخ ورتېرېږي کما في سائر الکبائر لانه تعالی غفور رحیم ووصف نفسه بقوله وانا التواب الرحیم.

دروښ وایي: چې وهذا وجه وجیه للجمع ینبغي ان یکتب بمداد الذهب علی قراطیس الاذهان.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: معتزله په دغه آیت سره دلیل وایي چې مرتکب د کبیرې ګناه مخلد في النار دی ویقولون لافرق بین کبیرة قتل المؤمن عمداً وبین سائر الکبائر. او خوارج هم په دغه آیت سره دلیل وایي چې مرتکب د کبیرې کافر دی. دوی وایي چې خلود في النار ببله کافره بل چاته نسته وقد حکم الله تعالی في هذه الآیة بخلود کبیرة قتل المؤمن عمداً فعلم ان هذا القاتل کافر وعلیه یقاس سائر الکبائر واما اهل السنة والجماعة دوی تاویل کوي ددغه آیت کمامر قریباً، اهل سنت وایي چې اجماع د عصر اول پر دې منعقد ده چې مؤمن لایخلد في النار وان مات بلا توبة وان المؤمن لا یسلب عنه اسم المؤمن بالکبیرة کما یقوله الخوارج.

وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهٗ وَاَعَدَّ لَهٗ عَذَابًا عَظِيْمًا ﴿۹۳﴾

د خدای ﷻ غضب دی پرده او له رحمت عامه څخه د خدای ﷻ ترټلی دی. او اراسته کړی دی خدای ﷻ ده لره عذاب دردناک چې عذاب د دوزخ دی. معتزله او خوارجو چې دا دومره سخت آیتونه د قرآن عظیم الشان واورېدل چې په شان کې د قاتل د مؤمن عمداً نازل سوي دي، نو معتزله وایي که مسلمان هم وي لکن ځای یې ابدي دوزخ دی او نور مرتکب د کبیرې ګناه یې پر قیاس کړي دي او خوارجو کافر بللی دی او نور یې هم پر قیاس کړي دي.

پوښتنه: تاسي وړاندي قول د معتزله او د خوارجو قولونه په اجماع د عصر اول رد کړه، او په اصول الفقه کې وایي چې اجماع لره سند ضروري دی یا اشارة النص د قرآن او یا دلالة النص د قرآن او یا حدیث نبوي. نو دغې اجماع لره کوم سند سته او که څرنګه؟

خواب: هو اسند یې د قرآن مبارک په دلالة النص کې ددې آیت موجود دی "یاایها الذین آمنوا کتب علیکم القصاص في القتلی آه" دا خو معلومه خبره ده چې قصاص په قتل عمد کې د مؤمن لازم دی او سره د هغه خدای ﷻ قاتلان په عنوان د "الذین آمنوا" رواړه په دې سره خو مذهب د خوارجو رد سو چې دوی مرتکب د کبیرې کافر بولي. او بل په قرآن کریم کې راغلي دي "ومن یعمل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مثقال ذرة خيراً يره" يعنې يرى ثوابه نو ايمان خو عمل قلبي دى چې تصديق د زړه دى په نېز د محققينو او يا عمل قلبي او لساني دى چې الشهد ان لا اله آه په خوله ويل على ماهو المشهور من وان الايمان مركب من التصديق بالجنان والاقرار باللسان او دا خبره مسلمه ده زمونږ او د معتزله و تر منځ چې داسې نه سې كېداى چې خداى ﷻ دي ثواب د عمل خير په جنت كې چاته وركړي وروسته تر دې يې بيا دوزخ ته واستوي. نو ثواب د ايمان چې وركوي وروسته تر عذاب بالنار به يې وركوي. نو معلومه سوه چې مرتكب د كبائرو گنهو كه څه هم بې توبې مړ سي مخلد في النار نه دى. او په دې سره مذهب د معتزله وو رد سو چې مرتكب د كبيرې مخلد في النار بولي او په حديث كې د بخاري او مسلم راغلي دي من قال لا اله الا الله دخل الجنة وان زنى وان سرق وزنى آه په دې حديث سره مذهب د معتزله او خوارجو دواړو رد سو. او په حديث كې د مسلم چې له جابر رضي الله عنه څخه يې روايت كړى دى "من مات ولا يشرك بالله دخل الجنة" په دې حديث سره هم دواړه مذهبونه رد سوه كما لا يخفى.

او په بل حديث كې د عليه الصلوة والسلام چې روايت يې عبادة بن الصامت رضي الله عنه كړى دى او بخاري او مسلم هم راوړى دى چې عليه الصلوة والسلام يوه ورځ وويل "بايعوني على ان لا تشركوا بالله" زما سره بيعت وكړئ چې تاسې په شريك نه گرځوئ له خداى ﷻ سره هيڅ شى "ولا تسرقوا" او تاسې به غلا نه كوئ "ولا تزنوا" او تاسې به زنا هم نه كوئ "ولا تقتلوا اولادكم" او تاسې به نه وژنئ خپل اولاد لكه د اهل جاهليت چې عادت و "ولا تاتوا ببهتان تفترونه بين ايديكم وارجلكم" او تاسې پر چا ناحقه عيب نه وا ياست چې دغه عيب تاسې په منځ د لاسو ستاسې او په منځ د پښو ستاسې دا كنايه ده له دې څخه چې ستاسې خود ساخته عيب وي چې هيڅ اثر هم نه لري "ولا تعصوا في معروف" او تاسې به عصيان نه كوئ په يو شي سره چې معروف په شرع شريفه كې وي "فمن وفى منكم فاجره على الله" كه وفا وكړه په دغو شرطو، نو ثواب يې پر خداى ﷻ دى "ومن اصاب من ذالك شيئا نعوقب في الدنيا فهو كفارة له" كه له دغو مذكوره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ګنهو څخه یو کار وکړي او په هغه ګناه ده ته عذاب ورکړه سو په دنیا کې مثلاً سرقه یې وکړه لاس یې پرې سو، نو هغه عقاب الدنیا دده لپاره کفاره ده په دنیا کې یعنې په آخرت کې مواخذه یې نسته باندې ومن اصاب من شیئاً ثم ستره الله فهو الی الله ان شاء عفا عنه وان شاء عاقبه فبایعناه علی ذالک، او که سړی له دغو ګنهو څخه یو کار وکړي او خدای ﷻ پرده پرې واچول یعنې خلګ یې په خبر نه کړه. نو عقاب د دنیا پرې جاري نه سو، نو ددې ګناه تفویض و خدای ﷻ ته دی که د خدای ﷻ خوښه وه عفوه به ورته وکړي یعنې جنت ته به یې داخل کړي او د دوزخ له عذاب څخه به یې وساتي او که د خدای ﷻ خوښه وه عذاب به ورکړي. نو مونږ بیعت ورسره وکړي پر دغه شیانو آه.

دروبش وایي: چې دا حدیث صریح په رد کې د معتزله وو چې دوی چې مرتکب د کبیرې ګناه که بې توبې مړ سي ابدي ځای یې دوزخ دی، او په حدیث کې احتمال د عفو هم موجود دی او دغه رد د مذهب د خوارجو هم په وسو، ولې که مرتکب د کبیره ګناه کافر وای، نو احتمال د عفوي الهي به څرنګه پکښې موجود وای؟

دروبش وایي: چې اشارات د کتاب الله او دغه احادیث مذکوره تولې اسناد دي د اجماع مذکورې لپاره فانقطع عرق السوال المذکور والله الموفق للخیر والملهم للصواب.

فصل

دروبش وایي: چې سړه د احتمال د عفوي قتل د مؤمن عمداً بغیر حق شک نسته چې ډېره لویه ګناه ده، في الحدیث لزوال الدنیا اهون علی الله من قتل مسلم بشطر کلمة جاء یوم القیامة مکتوب بین عینیه آیس من رحمة الله تعالی.

دروبش وایي: چې د معاون یې دا حال دی نو د خودې قاتل به څه حال وي؟؟

وفي الحدیث اول مایحاسب علیه العبد یعنې في حقوق الله هو الصلوة و اول ما یقفی بین الناس في الدماء ثم یحاسب العبد في حق الزکوة وغیرها هل منعها او اداها انتهی، وفي الحدیث خمس من الکبائر لاکفارة فیهن (۱) الاشراک بالله (۲) وعقوق الوالدین (۳) والضرار من الزحف (۴) وقتل النفس ای المؤمن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عمداً ای بغیر حق (۵) والیمین الغموس.

وعن ابي هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ "اجتنبوا السبع الموبقات ای المهلکات وعد منها قتل النفس التي حرم الله الا بالحق متفق علیه.

وعن ابی سعید وابی هریرة رضي الله عنهما لو ان اهل السماء والارض اشترکوا في دم مؤمن لاکبهم الله في النار" رواه الترمذي.

دروښ وایي: چې احادیث صحیحه په باب کې د حرمت د قتل د مؤمن عمداً بغیر حق کثیرة وفي احصائها بجملتها تکلف عظیم علي وعلی المتعلمین لهذا التفسیر فاکتفینا بهذا المقدار القلیل.

پوه سه: چې بخاري. ترمذي او مستدرک په حاکم کې روایت کړی دی له عکرمه رضي الله عنه څخه او هغه له ابن عباس رضي الله عنه څخه چې یو سړی و له بني سلیم څخه چې د هغه سره یوه رمه پسونه هم وه. نو اصحاب د علیه الصلوة والسلام ناست وه هغه سړي سلام ورواچاوه. صحابه وو رضي الله عنهم یوه وبل ته سره وویل چې دا سړی یعني د پسو خاوند چې مورږ ته یې سلام واچاوه صرف ددې لپاره چې زمورږ څخه ځان وساتي یعني مسلمان خو نه دی. نو یې هغه سړی مړ کړی او پسونه یې و علیه الصلوة والسلام ته راوستل او صورت حال یې و علیه الصلوة والسلام ته وویایه. نو دا آیت نازل سو.

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا ضَرَبْتُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَتَبَيَّنُوا

اې هغه کسانو چې سفر کوي په محکمه کې په لار کې د خدای ﷻ یعني د جهاد لپاره تاسي په کار کې فکر کوئ چې د کافروالي او مسلمانۍ درک در معلوم پرې.

بوه سه: چې حمزه او کسائي له قراء سبعه وو څخه په دې آیت کې او په سورت حجرات کې دا عبارت په تا مثناة من فوق او په ثاء مثلثه سره وایي یعني "فتثبتوا" من التثبیت ای قفوا حتی تعرفوا المؤمن من الکافر. او نور قراء سبعه یې په باء موحده او یا مثناة من تحت او په نون سره وایي کما رسمنا في متن القرآن ههنا مشتق من التبین یعني التامل والتفکر في الامر، یعني تلوار مه کوئ حتی یوضح لکم الامر ای حال الکافر والمسلم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې بغوي له کلبي رحمهما الله څخه له ابن عباس رضي الله عنه څخه داسي روايت کړی دی چې نوم ددغه مقتول مرداس بن نهيک و چې د فدک اوسېدونکی و. او په فدک کې دغه سړی مسلمان و نور ټوله کافران وه. نو عليه الصلوة والسلام يوه سريه چې قومندانی د غالب بن فضالة الليثي پر غاړه وه د فدک د غزا لپاره استولې وه د فدک کافرانو چې دا واورېدل ټوله وتښتېدل يو مرداس المذکور چې مسلمان و پاته سو، ولې چې دی خو پر دين د اسلام و، نو د مسلمانانو له لښکره نه ښېرېدی، نو د مسلمانانو لښکر چې راغلی او نعرې د الله اکبر يې ويلې ده هم الله اکبر ووايه وهو يقول لا اله الا الله محمد رسول الله. نو اسامه بن زيد حمله پر وکړه او مرداس يې قتل کړی او پسو رمه يې ځنې رهي کړه او عليه الصلوة والسلام ته ددې موضوع خبر دمخه رسېدلی و. نو عليه الصلوة والسلام ته دې پر درد ورغلی و، او دا يې ويله قتلتموه لما معه لمامعه تاسي داسړی يعني مرداس مړ کړی په سبب د پسو چې دده سره ورسره وه، ثم قرء رسول الله ﷺ هذه الآية على اسامة. اسامه رضي الله عنه وايي ما عليه الصلوة والسلام ته وويل استغفرلي فقال فكيف بلا اله الا الله. اسامه رضي الله عنه وايي ما دې واره طلب د استغفار وکړی عليه الصلوة والسلام به هغه خبره راته کوله فيكف بلا اله الا الله. اسامه رضي الله عنه تر داسي پورې چې زما په زړه کې دا خوښه وه چې تر نن ورځې دمخه ته نه وايي مسلمان سوی او نن مسلمان سوی وای چې له دې جرمه څخه خو به خلاص وای. اسامه رضي الله عنه وايي چې وروسته تر دې واره عليه الصلوة والسلام طلب د بخښې زما له خدای جل جلاله څخه وکړی، او په يو بل روايت کې راغلي دي چې اسامه وايي ما و عليه الصلوة والسلام ته وويل چې دې سړي چې کلمه ووېل د سلاح له ېېرې يې وويل په رښتيا يې نه ده ويلې. نو عليه الصلوة والسلام راته ووېل هلا شققت عن قلبه فتعلم انه قالها املا" تا يې نو ولې زړه نه ور څېرې چې ده کلمه د زړه ويلې ده او که نه. انتهى روايت البغوي بحذف بعض عباراته وزيادة بعض.

وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ أَلْقَىٰ إِلَيْكُمُ السَّلَامَ

او تاسي منه واياست و هغه چا ته چې پېښ کړي سلم،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې که څه هم "سلم" بفتحتين په معنى د صلح او انقياد دى لكن دلته مراد څنې سلام عليكم بقرينة القرائة الاخرى بلفظ السلام والمراد بمن هو المرداس كمامر.

لَسْتَ مُؤْمِنًا

ته نه يې مسلمان او سلام دي د ځان او پسو د خلاصى لپاره وويايه.

تَبْتَغُونَ عَرَضَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

دا جمله حال ده له ضمير څخه د "تقولوا" ای حال كونكم چې تاسي په دغه قول سره لست مؤمنا غواړي او طلب كوي د مال او منافعو د ناقص ژوند چې د مرداس پسونه دي.

پوه سه: چې په عرف كې "عرض" هغه شي ته وايي چې دوام نه لري او دغه غنيمت او پسونه خو هم دوام نه لري.

فَعِنْدَ اللّٰهِ مَغَانِمُ كَثِيرَةٌ

نو په نېز د خدای ﷻ دپر غنيمتونه ستا په دنيا او اخرت كې، نو حاجت نشته وتحصيل ته د غنيمت دنيوي په حيلو سره چې څوك سلام در واچوي تاسي ورته واياست چې ته مسلمان نه يې سلام دي صرف د تعوذ لپاره واچاوه.

كَذٰلِكَ كُنْتُمْ

داغسي واست تاسي، د "كان" اسم ضمير د "تُم" دى او كاف په "كذالك" كې د "كان" خبر دى مقدم سوى دى.

فَمَنَّ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ

ای قبل هذه الواقعة هغه وخت چې تاسي په اسلام كې داخل سواست او كلمه د لا اله الا الله مو وويل او په هغه كلمه ستاسي وينې او مالونه محفوظ سوه بيله دې چې ستاسي د زړونو حال خو هم نه و معلوم چې د ژبې د كلمې سره برابر وي او كه نه.

فَمَنَّ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ فَتَبَيَّنُوا

نو خدای ﷻ احسان وكړى پر تاسي چې په اسلام او استقامت في الدين سره يې مشهوره كړلاست، او هيڅ چانه يې څاى د اعتراض پر تاسي نه پريښو، او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بعض مفسران وايي چې "كذالك كنتم قبل الهجرة" چې تاسي په خپل قوم مسلمانانو کې به محفوظ الدم والمال واست په لا اله الا الله سره فقط فمن الله عليكم بالهجرة فيتصن ايمانكم بالهجرة.

پوه سه: چې تکرار د "بينوا" لپاره د تاکيد دی دمخه د "بينوا" كما يقول اهل المعقول "العالم حادث لانه متغير وكل متغير حادث فالعالم حادث" فكلمة الفاء ههنا فصيحية ای اذا عرفتم من قتل المرداس بلا تحقيق الحال ورد ما قال السلام عليكم، او تاسي مسلمانان په اول الامر کې دغسي واست چې پرتاسي به چا تعرض کاوه د ايمان قلبي پوښتنه يې نه ځني کوله بلکې په صرف لا اله الا الله سره به يې کفايت کاوه او ستاسي د زړه حال يې نه پلټلی، نو تاسي هم "فتبينوا" بل اكتفوا بما قيل لكم من كلمة الله او التسليم الذي هو من شعائر الاسلام، او بعض مفسرين وايي دا "تبينوا" تفريع ده پر دې قول د خدای ﷻ "فعند الله مغانم كثيرة" يعني په نېز د خدای ﷻ ډېر مغانم سته، نو تاسي په اخستو کې د غنيمت ډېر احتياط وکړئ او دا ځان ته معلومه کړئ چې دا غنيمت من عند الله دی او مورډ ته حلال دی او که له اعراضو څخه د دنيا دی او مورډ ته حرام دی لکه د مرداس غنيمت.

إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ﴿٩٤﴾

او په تحقيق سره خدای ﷻ دی ستاسي په عملو که خير وي که شر ښه خبر، او ستاسي په اختلو کې من الحلال والحرام هم خبر دی.

پوه سه: چې دا آيت هم وعد دی په اعتبار د اعمالو د خير او هم وعيد دی په اعتبار د اعمالو د شر، مظهري وايي چې په دې آيت کې دليل دی چې ايمان د مکره صحيح دی لپاره د اجراء د احکامو د دنيا، او بل پر دې دليل دی چې مجتهد ګاهي خطاوځي او خطاء يې مغفوره ده که ده تقصير نه و کړی په طلب کې د حق، او پر دې هم دليل دی چې مجتهد ته په کار ده چې له ډور فکر او نهايت تامل وروسته دې حکم کوي بما ظهر له او په مالاح له في اول الامر دې عجولاً حکم نه کوي، او که مجتهد ټوله شرائط د اجتهاد پر ځای کړي خو بيا هم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خطاوځي فهو ماجور، او بل پر دې هم دلیل دی چې نه دي حکم په کفر سره د هغه چاچې لا اله الا الله ولا یعجل في فعله تر هغو چې پوره حال یې معلوم‌پرې. او غازیانو که په یو بنار یا قریه کې شعائر د اسلام ولیدل کالمساجد او یا شعائر د اسلام یې واورېدل کالآذان. نو پر هغه بنار یا کلي دي برید نه کوي، ولي چې په حدیث شریف کې راغلي دي "ان رسول الله ﷺ کان اذا غزی قوماً فان سمع اذاناً کف عنهم وان لم یسمع اغار علیهم رواه البخاري وغیره. او داغه رنګه په صحیح حدیث کې راغلي دي چې علیه الصلوة والسلام یوه ټولګی چې په عربي یې سریه بولي یو خواته استول. نو هغو ته به یې داسي وصیت وکړی "اذا رئیتم مسجداً وسمعتم مؤذناً فلا تقتلن احداً انتهی.

دروښ وایي: چې نومورو راویانو چې سر کړه د هغو امام بخاري دی، له زید بن ثابت څخه داسي روایت کړی.

دروښ وایي: چې زید بن ثابت رضي الله عنه د علیه الصلوة والسلام د وحي کاتب دی چې علیه الصلوة والسلام پر زید باندي یعني خپل ځان یې مراد دی دا آیت لوستی یعني ددې لپاره چې زید یې نوشته کړي "لا یستوي القاعدون من المؤمنین والمجاهدون في سبیل الله" زید رضي الله عنه وایي چې علیه الصلوة والسلام ددې پر ما القا کوله د نوشتې لپاره چې عبدالله بن ام مکتوم رضي الله عنه چې په دواړو سترګو ړوند و او په بل روایت کې عبدالله بن جحش او ابن مکتوم دواړه راغله چې دواړه په سترګو رانده وه. نو عبدالله بن ام مکتوم او یا سره د ملګري وویل چې که ما یا مورږ طاقت د جهاد درلودای یعني په سترګو ړوند یا رانده نه وای. نو ما یا مورږ به هم جهاد کولای. زید وایي په داسي حال کې چې د علیه الصلوة والسلام وروون زما پر ورانه پروت و وحي پر راغلې زید وایي چې د علیه الصلوة والسلام وروون دوئه درونده سو چې زما ګمان سو چې زما وروون به را مات کړي وحي چې پورته سوې.

لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ

ای عن الجهاد في سبیل الله "من المؤمنین" دا لفظ حال دی له قاعدون څخه ای حال کون القاعدون من المؤمنین یعني لا من المنافقین.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ

پوه سه: چې ضرر سوء الحال ته وایي یا په نفس کې د سړي لقلة العلم والفضل والعفة، او یا په بدن کې چې اندام یې نه وي یا ناقص وي لکه په مانحن فیه کې چې د ابن مکتوم د ستر ګو دید نه و او یا په حال ظاهر کې د سړي چې مال نه لري، نو دې ټولو کسانو ته شامل دي چې نه به شل وي نه به روند وي نه به سخت مریض وي او نه به ضعیف البدن وي د کبر سن له کبله او نه به عدیم المال وي چې د جهاد د لاري خرڅ یې کړي.

فائده: غیر اولی الضرر "صفت دی د "قاعدون"

پوښتنه: القاعدون "خو معرفه ده بالاف واللام او غیر چونکه متوغل په ابهام کې دی مثلاً غیر زید خو شامل دی ټوله مافي السموات والارض ته نو لفظ د غیر په سبب د اضافت ومعرفې ته لکه دلته چې "اولی الضرر" دی نه معرفه کېږي، نو څرنګه به صفت د "القاعدون" واقع سي؟

ځواب: نحات وایي چې یو ضد وي غیر په اضافت و هغه ضد ته معرفه کېږي ولي مراد ځني هغه بل ضد دی کما قالوا في قولهم علیک بالحرکة غیر السکون دلته هم "اولو الضرر" یو ضد لري چې فاقد الضرر دی، نو د غیر لفظ معرفه دی فافهم، او بعض مفسران وایي چې الف واللام په "القاعدون" کې لپاره د عهد ذهني دی لانه لیس المراد بالقاعدین قوم باعیانهم نو کله څه هم لفظ د "القاعدون" معرفه دی لکن په حکم کې د نکرې دی، نو توصیف یې په نکره سره صحیح دی کما قالوا في قول الشاعر "ولقد امر علي اللئیم یسبنی" یعنې په دې شعر کې له "لئیم" څخه لئیم معین نه دی مراد توصیف یې په جمله د "یسبني چې په حکم کې د نکرې دی صحیح دی. وما اعترض علیه المظهري فلیس بشئ لان التخصیص المظهري ذالک الحکم ای ان المعرفة التي في حکم النکرة یوصف بالنکرة بتوصیف بجملة مضارعة لیس علیه دلیل غیر ان في المثال المذکور ولقد امر آه کذالک ونفس المثال لا یدل علی تخصیص القاعدة الکلیة بذالک المثال فقط مالم یصرح النحاة بذالک.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَالْمُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ

نه دي سره برابر دغه مجاهدين په لاره کي د خدای ﷻ په خپلو مالو سره او په ځانو سره او هغه کسان چي قاعدين وي چي نه يې مال او نه يې ځان صرف کړی وي په لار کي د خدای ﷻ.

دروښ وايي: چي په دې آيت کي بذل المال تر بذل النفس مقدم راوړی دی ددې سببه چي بذل المال طبعاً تر بذل النفس مقدم دی، ولي چي اول به غازي في سبيل الله توره او غشي وغيره ذالک من اداة الحرب برابروي او د سفر او سپر تيا لپاره به آس يا اوښ وغيره برابروي بيا به نو غزا ته ځي، او بذل النفس په وخت کي د ملاقات د دښمن منځ ته راځي او که دغه تقدم طبعي نه وای، نو بذل النفس په شرافت او کثرة الثواب کي افضل دی تر بذل المال کما لا يخفٰی.

فائده: دا عدم مساوات هلته دی چي قاعدين د عذر له سببه پر کور نه وي پاته سوي، که چېرې قاعدينو شرعي عذر درلودی لکه رونده او شل يا نور مرضونه چي مانع د وتوفی سبيل الله وه، او يا قاعد دونه مال نه درلودی چي په سفر کي يې په ځان خرڅ کړي، نو که د معذورينو غير مجاهدينو نيت صادق وي يعني په زړه کي يې دا راسخ وه چي که ما دا موجوده عذر نه درلودای زه به هم في سبيل الله وتلی وای، نو هغه قاعدين د مجاهدينو سره په ثواب کي برابر دي، بلکې ممکنه داده چي قاعد مخلص النية به تر مجاهد په ثواب کي بالا وي يعني اذا کان جهاده رياء وسمعة وفي مثل ذالک قال عليه الصلوة والسلام نية المؤمن خير من عمله لانه قضية مهملة في قوة الجزئية.

پوه سه: چي بخاري له انس ﷺ او ابن سعد له جابر ﷺ څخه روايت کړی دی چي عليه الصلوة والسلام د تبوک له غزا څخه را ستون سو او مدينې منورې ته را نژدې سو داسي يې وويل ان في المدينة لاقواماً ماسرتم من مسير ولا قطعتم من واد الا کانوا معکم (يعني في الاجر والثواب) قالوا يا رسول الله وهم بالمدينة (قالوا ذالک تعجباً من ذالک) قال نعم وهم بالمدينة حبسهم العذر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ دَرَجَةً ؕ

پوه سه: چې مراد له قاعدينو څخه هغه دي چې اصحاب د عذر شرعي نه وي کمامر.

پوه سه: چې د "درجة" تنوين او تنکير لپاره د تعظيم دی او "درجة" منصوب ده په حذف د حرف جر والمعنى بدرجة عظيمة، او په روح البيان کې وايي چې "درجة" دي مفعول وي ولي چې د "درجة" څخه خو مراد تفضيل دی چې معنا يې مرة من التفضيل ده وکانه قيل فضلهم تفضيلة واحدة، او هغه چې مظهري ويلي دي چې "درجة" دي حال وي له "المجاهدين" څخه والمعنى والتقدير ذوی حاجة آه که څه هم صحيح ده لکن حذف المضاف انما ينبغي عند عدم الوجه الاسهل للاعراب من حذف المضاف وههنا الوجه الاسهل موجود کمامر.

فائده: دا جمله توضيح ده د عدم مساوات في الجملة السابقة يعنې لا يستوي القاعدون الخ.

پوښتنه: دا جمله خو کافي وه په نفي کې د مساوات، نو دمخه به د نفي مساوات څه فائده وي؟

ځواب: صحيح ده چې دا جمله مغني وه له نفي څخه د مساوات لکن سره د هغه يې داوړي جملې راوړې، له دې سببه چې نفي د مساوات تفضيل ته متضمن وه دلالةً واجمالاً، وهذه الجملة مصرحة بالتفضيل. او د علم بلاغه علماء وايي چې تفصيل بعد الاجمال او تصريح بعد الدلالة مفيد د مزيد تاکيد ده او د تمکن في الذهن، والى هذا المعنى اشار الفاضل الجامي رحمة الله عليه.

چه خوش باشی که بعد از انتظاری بامید رسد امیدواری

پوښتنه: عدم مساوات د يو عامل د طاعت اية طاعة كانت ومن لم يعمل بها خو بدهي دی فای فائدة في بيان عدم مساوات المجاهدين والقاعدين؟

ځواب: فائده يې داده چې بعض خلګ به دا توهم کوي چې مجاهدين چونکه د سفر في سبيل الله په کړاوونو او شدائدو اخته دي، نو نه د تهجد و لمانځه ته فارغه دي او نه نفلي روژو ته الى غير هما من نوافل العبادات، او قاعد في

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

البيت په ښه فارغه زړه د شپې او د ورځې ډېر نفلي عبادات کولای سي او حقوق الناس کخدمة الاولاد وصلة الاقارب هم پر ځای کولای سي نو شاید قاعد به تر مجاهد افضل وي، نو دا توهم خدای ﷻ په دغه آیت سره دفع کړی "فضل المجاهدين آه"

دروېش وايي: چې ددې آیت ومضمون ته اشاره په هغه حدیث نبوي چې متفق علیه دی راغلې ده حیث قال رسول الله ﷺ "مثل المجاهد في سبيل الله كمثل الصائم "اى نهارا" القائم القانت بآيات الله "اى ليلاً" لايضر من صيام ولا صلوة حتى يرجع المجاهد في سبيل الله"

دروېش وايي: چې په قاعد کې دومره اعمال عادة غیر ممکن دي فلا يتصور المساوات بينهما فضلاً عن تفضيل القاعد على المجاهد.

وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى ؕ

یعني کل واحد من المجاهدين والقاعدين، وعده کړې ده خدای ﷻ د مثوبت چې ښه ده یعني د جنت چې ډېر کریم ځای دی.

فائده: له دې آیت څخه دا معلومه سوه چې جهاد فرض کفایي دی، ولې که فرض عین وایي نو قاعدین به مستحق د عقاب وای دون الثواب.

دروېش وايي: چې امام مظهري رحمه الله په عنوان د فصل یوه مسئله راوړې ده چې حاصل یې دادی چې که کافران په خپلو وطنو کې وه، نو پر امام المسلمین دا لازمه ده چې یو کال د کلو دي خالي له غزاء څخه د هغو کافرانو نه پرېږدي یا به پخپله غزاء ته ځي یا به سرایاوي استوي حتی چې جهاد معطل نه سي لان النبي ﷺ والخلفاء الراشدون جهاد يې مهمل نه دی پرې اینښی طول اعمارهم.

دروېش وايي: چې مظهري رحمه الله په دې مسئله کې د اجماع دعوه هم کړې ده.

دروېش وايي: چې وروسته تر دې چې علیه الصلوة والسلام د جهاد امر له خدای ﷻ له خوا څخه تر لاسه کړی بقیه ژوند يې ټوله په غزواتو کې د کفارو تېر کړی دی یا بنفسه الشريفة او یا بالسرایا حتی غزا ښتوا فريضة او ښتوا التضير وفتح الله له، وغزاء خيبر ووادی القری وتبوک وغیرها، حتی امام بخاري د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کتاب المغازي په اول کي د علیه الصلوة والسلام اتلس یا نهه لس غزواتي راوړي دي، او دا هم صحیح خبره ده چي خلفاء راشدون ﷺ هم د جهاد کار مهمل نه دی پرې اینبی خصوصاً په زمانه کي د خلافت د امیر المؤمنین عمر ﷺ حتی چي د علیه الصلوة والسلام په برکت او د خلفاء راشدینو ﷺ په غیرت اسلام شرق او غرب، شمال او جنوب ته ورسېدی. لکن خبره داده چي په اوسنی زمانه کي به کوم دولت اسلامي دا وظیفه اجراء کړي یعني چي کافران پر ځای ناست وي او اسلامي دولت دې غزاء ته ورځي، بلکې په اوسنی زمانه کي لویه مېرانه د دولت اسلامي داده چي خپل دولت اسلامي د کافرانو له غلبې څخه وساتي. مثلاً مصر چي قوي دولت د مسلمانانو دی دا توان نه لري چي د اسرائیلو پر حکومت چي د امریکې له خوا یې خبسته اینبوول سوې ده غزاء وکړي، او نه شام دا طاقت لري چي د اسرائیلو سره دي جنګ وکړي، او نه فلسطین چي دا شل کاله یې د اسرائیلو تر بمباری لاندي ژوند تېر کړی دی او اوس یې یو جزوي استقلال تر لاسه کړی دی، پر اسرائیلو باندي حمله کوي وهکذا سعودي عربستان او یمن دا توان نه لري چي پر اسرائیلو دي حمله وکړي، ولي چي د اسرائیلو وشاته لوی درنده امریکا ولاړ دی، البته عراق یو لوی قوي دولت و چي امکان و چي د مجاورو کافرانو سره دي غزاء وکړي. لکن د نړۍ لوی شیطان امریکا چي له عراق څخه خطر محسوس کړی او لوی لوی ذخائر د نفطو یې هم په عراق کي ولیدل، نو یې ناري کړې چي عراق اتم بم لري او زهر جن ګازونه او نور نور مخرب عامه شیان لري او څو واره یې د عراق تلاشی وکړې، نو امریکا چي په دې پوه سو چي د عراق سره داسي صلاح نسته چي زما سره دي جنګ په وکړي کرار یې په مشوره د نورو شیطانانو د دنیا لکه انګرېزان وغیره حمله وکړه او عراق یې تر خپلې قبضې لاندي راوستی الی الآن سنه ۱۴۲۷ هـ ق.

دروېش وایي: چي نه پاکستان دا توان لري چي د هندوستان جنګ ته ورسي او دی حمله پر وکړي، د پاکستان لویه مېرانه داده چي د هندوستان له حملې څخه یې خپل مملکت پاکستان ساتلی دی، په موجوده وخت کي یو ایران یو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

منظم لوی دولت اسلامي سته چې هغه ته هم امریکا د افغانستان له لارې چې د امریکا په اوسنۍ زمانه کې یوه مستعمره ده پر ایران حمله وکړي.

حاصل د کلام دادی چې د مظهري دغه وصیت به کوم حکومت په اوسنۍ زمانه کې پر ځای کړي.

دروېش وایي: چې امکان لري چې د افغانستان غیرت من وګړي به دا وصیت پر ځای کړي، ولې چې دغو افغانانو شوروي اتحاد چې په ټوله نړۍ کې ستر قدرت و لکه امریکا په اوسنۍ زمانه کې اخیر الامر په ورکولو د ډېر قربانیو یې له افغانستان څخه مخ توری وشاړه، لکن شوروي اتحاد چې د افغانستان پر مسلمانانو یې ډېر ظلمونه کړي وه او ملک یې ور وجار کړی و په دې دنیا خدای ﷻ سزاء ورکړه چې اتحاد شوروي یې ور درې ورې کړی، او روسیانو مخ تورو ته یوازې ماسکو ور پاته سو وبس.

وَفَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ اَجْرًا عَظِيْمًا ۝ دَرَجٰتٍ مِّنْهُ

او خدای ﷻ بالا کړي دي مجاهدین یعني بانفسهم واموالهم کمامر، پر هغو مؤمنانو چې له جهاد څخه پاته وي لکن غیر اولي الضرر کمامر، ډېرې درجې له طرفه څخه د خدای ﷻ.

پوه سه: چې "اجراً" منصوب دی چې مفعول مطلق دی د "فضل" لان فضل بمعنی اجر کانه قیل اجرهم اجراً عظیماً، او یا مفعول ثاني د "فضل" دی، ولې چې هغه متضمن دی معنا ته د اُعطی کانه قیل واعطی الله المجاهدین اجراً عظیماً.

پوه سه: چې درجات بدل کل دی له اجراء څخه لپاره د بیان د مقدار د اجر عظیم، او لفظ د "منه" صفت دی د "درجات" ای درجات کائنة من الله تعالی وفیه اشارة الی فخامة تلک الدرجات لکونها من عطایا القادر المطلق والرحمن المعظم العالم بحال العباد، وفي الحدیث الصحیح ان في الجنة مائة درجة اعدها الله للمجاهدین في سبیله مابین الدرجتین کمابین السماء والارض.

وَمَغْفِرَةً وَّرَحْمَةً ؕ

یعني بخښنه د هغو ګناهونو چې بخښنه یې په جهاد في سبیل الله پورې خاصه ده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او رحمت دی د خدای ﷻ.

پوه سه: چې "مغفرةً ورحمةً هم بدل دی له "اجراً" څخه.

فائده: درجات خو غیر مذنب لره دي او مغفرت مذنب لره دی او رحمت دواړو لره دی.

وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٩٦﴾

او دی خدای ﷻ بخښونکی د ګنهو د مجاهدینو او مهربان دی پر مجاهدینو في سبيل الله تعالى.

پوه سه: چې خدای پاک تفضیل د مجاهدینو مکرر راوړی او ددوی په تفضیل کې یې مبالغه وکړه اجمالاً وتفصیلاً، ولې چې اولاً یې اشاره و تفضیل ته د دوی وکړه په نفي سره د مساوات د دوی او د قاعدینو تر منځ بقوله جل ذکره "لا يستوي القاعدون" او بیا یې تفضیل د مجاهدینو بیان کړی مجملاً بقوله "درجة" او بیا یې د دوی تفضیل بیان کړی تفصیلاً بقوله تعالى "اجراً عظيما ومغفرة ورحمة" دا ټوله د ترغیب د مسلمانانو وجهاد في سبيل الله ته او د تعظیم د فعل د جهاد، ولې چې سبب کلي د نشر د اسلام في اقطار الارض هو الجهاد ليس الا.

پوښتنه: د توحید د درجې اولاً او هر والی د درجو تر منځ به منافات نه وي؟

ځواب: یا منافات نسته ولې چې په درجه بالتوحید کې مراد تفضیل دی د هر مجاهد پر هر قاعد بدرجةٍ واحدةٍ او په درجات بالتکثیر کې مراد تفضیل دی د جمیع المجاهدین علی جمیع القاعدین بدرجات والقانون ان مقابلة الجمع بالجمع يقتضي تقسيم الآحاد على الآحاد فكان لكل مجاهد تفضيلاً على كل قاعد بدرجة واحدة، او په زړه پورې ځواب دادی چې تفضیل په یوه درجه او په دوه درجو په حال پورې د مجاهدینو اړه لري في حسن النية ومزيد المحبة للجهاد وسهولة الجهاد في بعض الاحوال وشدتها في بعض وقلة المكث في الجهاد وطوله وغير ذالك من احوال الجهاد في سبيل الله فلو احد من المجاهدين يكون تفضيلاً بدرجة وللآخر بدرجتين وللثالث بدرجات ثلثة ثم وثم الى ما يعلمه الله ﷻ، او بعض مفسرین وایي چې مراد د "فضل الله المجاهدين على القاعدين درجة" درجه د دنیا ده من الغنيمة والسلطنة وجميل الذكر، او په صیغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د وحدت چې يې راوړه لپاره د تحقير د دنياوي نعمتو لانها وان جلت قليلة حقيرة بالنسبة الى النعم الاخروية من الجنات العالية. او مراد د فضل الله المجاهدين چې دوهم وار ذکر سو درجات د آخرت دي لانها كثيرة جزيلة لاعين رئت ولا اذن سمعت ولا خطر على قلب بشر كما ورد في الحديث النبوي. او قتاده رضي الله عنه وايي چې مراد له قاعدينو څخه په اول آيت کې اولي الضرر والا يعني معذورين کسان دي چې نيت د جهاد په زه کې ټينګ لري لکن عذر يې مانع د جهاد د عمل ګرځېدلی وي. نو مجاهدين پر دغو قاعدينو معذورينو يوه درجه بالا دي. ولي چې په نيت خو دواړه دلي سره برابري دي لکن په مجاهدينو کې عمل د جهاد هم سته. او د دغو مجاهدينو بالعمل والنية والمجاهدين بالنية فقط وعد الله لهم الحسنى على نياتهم. او قاعدون چې دوهم وار ذکر سوي دي هغه قاعدون دي چې بېله عذره له جهاد څخه ناست وي. نو د هغو په باره کې خداى پاک وايي "وفضل الله المجاهدين على القاعدين اجراً عظماً درجات منه ومغفرة ورحمة.

دروېش وايي: چې هغه تفسير چې قاضي پاني پتي په قيل سره په ځپل تفسير کې راوړی دی چې مراد له مجاهدون اولون څخه هغه مجاهدين دي چې د کفارو سره په جهاد اخته وي. او مراد له مجاهدين آخرينو څخه هغه مجاهدين دي چې د ځپل نفس اماره سره جهاد کوي. نو دې اخيرو مجاهدينو لره ده. اعد الله لهم اجراً عظيماً درجات القرب من الله تعالى ومغفرة ورحمة. بيا وروسته ده هغه حديث راوړی دی په نقل له بيهقي څخه چې رسول الله ﷺ وويل "المجاهد اى كامل مجاهد من جاهد نفسه الى اخير الحديث" چې دا خبره خو ډېره صحيحه ده او حديث هم صحيح دی. لکن دروېش وايي چې ددې آيت تفسير څرنګه صحيح دي. ولي چې تر له آيتونه ددې مقام خو په جهاد ظاهري کې د کفارو نازل سوي دي چې د جهاد اصغر په نامه يادېږي نه په جهاد معنوي کې يعني الجهاد مع النفس چې د جهاد اکبر په نامه عليه الصلوة والسلام معرفي کړی دی. حاصل دا چې مفسر لره ښايي چې هر رطب او يابس په تفسير کې د قرآن نه راوړي ومن الله التوفيق.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اِنَّ الَّذِيْنَ تَوَفّٰهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ

پوه سه: چې "ان الذين توفهم" احتمال د ماضي صيغې هم لري كما هو الظاهر او د مضارع احتمال هم لري بحذف احدى التائين والاصل تتوفهم چې معنا يې داده په تحقيق چې روح يې قبض كړي.

پوه سه: چې مراد له "الملائكة" څخه ملک الموت دی وحده كما ورد في قوله تعالى "قل يتوفكم ملک الموت الذي وكل بكم.

سوال: ملک الموت خو يو دی يعنې عزرائيل عليه السلام، نو د جمعيت معنى به څه وي؟

ځواب: عرب ګاهي له مفرد څخه په جمع تعبير كوي د تعظيم لپاره، لكن سره ددې صحيح داده چې مراد له "الملائكة" څخه عزرائيل او اعوان دده دي، په دليل د هغه حديث چې روايت يې احمد او نسائي كړی دی له ابي هريره رضي الله عنه څخه چې په يوه برخه كې د هغه حديث راغلي دي چې د مؤمن چې د زكندن وخت را ورسېږي، نو ملكي د رحمت ورته راسي او ددوی سره د سپينو وربښمو كالي ورسره وي، نو د مؤمن نفس ته ووايي را ووځه له بدن څخه راضيةً مرضيةً عنك الى روح الله وريحان ورب غير غضبان، يعنې ته به خوشحاله يې او خداى عزوجل هم ستا څخه راضي دی الى اخير الحديث، او د كافر چې زكندن سي، نو د عذاب ملكي ورته راسي او څيرې توكر ورسره وي، نو پر روح يې ږغ وكړي چې را ووځه ساخطةً مسخوطةً عليك الى عذاب الله عزوجل الى اخير الحديث. او احمد رحمه الله د براء بن عاذب رضي الله عنه دې پر اوږد حديث روايت كړی دی چې د هغه په يوه برخه كې داسي راغلي دي چې د مسلمان چې له دنيا څخه د انقطاع وخت او وآخرت ته د اقبال وخت يعنې د زكندن وخت را ورسېږي، نو ډېري ښائسته ملكي چې سپين مخان يې وي لكه لمر او ددوی سره كفنونه د جنت له كفنو څخه ودسره وي او په هغه كفنو كې خوشبويي پاشل سوې وي، نو دا ملكي لېږي ورته كښېني چې مړی يې وينې وروسته ملک الموت راسي او دده وسر ته كښېني، نو ملک الموت ورته ووايي اې پاكه روحه را ووزه له بدنه و بخښي ته د خداى عزوجل او رب دي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درڅخه راضي دی، نو دا روح چي دا بشارت ووارې داسي په اساني له بدن څخه راوځي لکه یو څاڅکی چي له مشکولا څخه راوځي، نو ملک الموت هغه روح راواخلي، چي دی راواخلي هغه نوري ملکي يې د سترګي په رپ دده په لاس کي نه پرېږدي، نو هغه په هغه کفن او خوشبويي کي وپېچي تر پايه د حديث.

دروښ وايي: چي له دې حديث څخه دا معلومه سوه چي روح او نفس جسم لطيف دی لايرى باعيننا بدلالة الاكفان والحنوط والحزوج من البدن.

دروښ وايي: چي ددې حديث په اخير کي حال د کافر او دده د روح په ډېره سختي سره بيان سوی دی نجنا الله تعالى من الكفر عند الموت واماتنا على الاسلام الخالص الحق.

پوه سه: چي ددې ايت شان نزول بغوي رحمه الله داسي بيان کړی دی چي په مکه کي بعض خلګ وه چي د اسلام کلمه يې بنکاره کړې وه مګر هجرت يې مدينې ته نه و کړی چي يو په هغو کي قيس بن الفاكة بل المغيرة و، او بل قيس بن الوليد بن المغيرة او نور ورته کسان هم وه، نو چي د مکې مشرکان بدر ته راووتل دوی هم ورسره را ووتل او د کفارو سره يو ځای په بدر کي ووژل سوه، او بخاري له ابن عباس رضي الله عنهما څخه داسي روايت کړی دی چي بعض خلګ له مسلمانانو څخه د مکې د مشرکانو سره به په جنګ کي ملګري کېده او جماعت او ډله د مشرکانو به يې ډبروله پر عليه الصلوة والسلام باندي، نو د مسلمانانو له خوا څخه چي به يو غشی ورغلی په دوی کي به مونښتی او مړ به سو، او يا به مسلمانانو په توره ووهل او مړه به سوه.

دروښ وايي: چي له دې عبارت څخه د حديث مذکور چي يکثرون سواد المشركين داسي فهمېږي چي دوی به پخپله جنګ نه کاوه.

پوه سه: چي نص د قرآن پر دې دلالت نه کوي چي دغه کسان مسلمانان وه، كما روى ابن عباس رضي الله عنهما كان قوم بمكة قد اسلموا فلما هاجر رسو الله ﷺ كرهوا ان يهاجروا وخافوا من اهل مكة. او په بل روايت کي د ابن عباس رضي الله عنهما داسي راغلي دي "كان قوم من اهل مكة قد اسلموا وكانوا يخفون الاسلام من مشركي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مکة" نو مشرکانو دوی و بدر ته د ځان سره راوستل، او بعض ددغو مسلمانانو د بدر په غزاء کي په شهادت ورسېدل، نو بعض مسلمانان چې په هغو خبر وه چې دا مسلمانان وه او په زوره و جنګ ته راوستل سوي وه، نو يې طلب د بخښنې د هغو لپاره کاوه، او مذکوره آیت نازل سو.

فائده: مونږ وړاندي وویل چې نص د قرآن پر دې دلالت کوي چې دغه خلګ حقیقةً مسلمانان نه وه، نو هغه روایت چې ابن مندة کړی دی او د مذکوره کسانو نومان يې هم اخستي دي او په اخیر کي يې دا ویلي دي چې دغه کسان چې بدر ته راغله او لږ والی يې د بدر د غزاتو ولیدی، نو ددوی په زړو کي شک پیدا سو او دا يې هم وویل غر هؤلاء دینهم یعني دغه مسلمانان د بدر غولولی دی دین ددوی، نو په بدر کي قتل سوه آه.

دروښ وایي: چې دا روایت د مثلو وړ نه دی، ولي چې له دې روایت څخه دا معلومېږي چې دا کسان مرتد سوه فهذه الروایة مخالفة لنص القرآن. والله اعلم بالصواب.

ظَالِمِيٓ أَنفُسِهِمۡ

په داسي حال کي چې دوی ظالمان وه پر خپلو ځانو باندي یعني په ترک سره د هجرت او په اوسېدلو سره په دار الشرک مکه کي، او دوی اخستی و پر غاړه معصیت د موافقت د کفارو حتی الخروج معهم الی بدر.

پوه سه: چې بغوي وایي چې بعض علماء وایي چې د چا اسلام نه قبول کېدی وروسته تر هجرت د نبي ﷺ ومدیني ته الا بالهجرة و هذا قول لیس بشئ، ولي چې هجرت په هغه وخت کي که څه فریضه محکمه وي لکن ترک ددې فرض خو دې لره نه دی مستلزم چې اسلام ددوی نه قبول کېږي او یا به څوک دا حکم کوي چې دوی مسلمانان نه وه بل غایة الامر کونهم عاصین بترک الهجرة وعدم موالاة المسلمین معهم کما یدل علیه قوله تعالی "والذین آمنوا ولم یهاجروا مالکم من ولایتهم من شئ حتی یهاجروا وان استنصروکم في الدین فعلیکم النصر" ولي چې ددې آیت له اخیر څخه دا فهمېږي چې دوی خو مسلمانان دي حتی که ستاسي څخه کومک په دین وغواړي کومک به ورسره کوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې "ظالمي انفسهم" حال دی له ضمیر څخه د مفعول په "توفهم" کې.

مسئله: که اوس یو څوک په داسې دار الکفر کې و چې شرائع د اسلام پې نه سوای پر ځای کولای، نو هر هغه هجرت واجب دی له هغه دار الکفر څخه وله ثواب المهاجرین.

پوښتنه: په حدیث شریف کې راغلې دي چې علیه الصلوة والسلام د فتح مکې په ورځ وویل "لاهجرت بعد الیوم" حتی چې بعض علماء وایي چې د هجرت د آیت وجوب منسوخ دی؟

ځواب: معنی د قول د علیه الصلوة والسلام داده چې هجرت له مکې څخه و مدینې منورې ته بعد الیوم نسته لکون المکة بعد الفتح دار الاسلام ولا یعد من المهاجرین ولا ثواب الهجرة لمن هاجر بعد فتح مکة" او نه په مهاجرینو کې حساب دي او د حدیث دا معنا نه ده چې هجرت مطلقاً نسته. بلکې آیت د هجرت منسوخ نه دی بلکې محکم دی او هجرت واجب دی پر هغه چا چې شرائع د اسلام نه سي پر ځای کولای په دار الکفر کې.

پوښتنه: آیا پر مسلمانانو د هندوستان هجرت واجب دی؟

ځواب: هیڅ نه دی واجب البته مندوب به وي، ولي چې مسلمانان د هندوستان په ازاده توګه شرائع د اسلام پر ځای کولای سي من الآذان وصلوة الجمعة والعیدین، او حکومت هند په لکاوو مسلمانانو ته پاسپورټ د حج ورکوي او د هند حکومت په مکه معظمه، منی او عرفات کې د خپلو حاجیانو لپاره ښه په زړه پورې انتظامات کوي کما رئینا ذالک بالمشاهدة.

قَالُوا

یعنې ملائکه د وفات ودوی ته وایي لپاره د توبیخ او سرزنش پر هجرت نه کولو باندې.

پوه سه: چې جمله د "قالوا" خبر د "ان" ده او عائد دی و مبتداء محذوف ته ای قالوا لهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فِيمَ كُنتُمْ

پوه سه: چې دا جمله مقوله ده د "قالوا" او اصل د "فيم" فيما و حذف الالف تخفيفاً والمعنى في اى شئ كنتم آيا مسلمانان ۇاست لكه ستاسي اقرار چې پر اسلام دلالت كوي، او كه پر كفر واست لكه چې دلالت كوي ستاسي اوسېدنه سره د كفارو د مكې بلا عذر.

قَالُوا

او وايي دغه وفات كړه سوي خلګ په خواب كي د ملكو چې هغو ورته وويل "فيم كنتم" ددې عذر لپاره چې مونږ فريضه د هجرت پرې اينښې وه.

كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِي الْأَرْضِ

چې مونږ ضعيفه وو په مځكه كي د مكې مقابله او مقاومت د كفارو د مكې مو له لاسه نه و پوره او اظهار د دين او اعلاء د كلمة الله مو هم له وسه نه وه پوره.

قَالُوا

ملكې وايي په خواب كي ددوى د عذر د تكذيب لپاره.

پوه سه: چې دا "قالوا" هم جمله مستانفه ده د سوال خواب ده چې هغو متوفيانو چې عذر مذكور بقولهم كنا آه يې ووايه، نو ملكو په خواب كي ورته وويل.

أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوا فِيهَا

آيا نه وه مځكه د خداى ﷻ فراخه چې تاسي هجرت كړى واى وهغې مځكي ته چې تاسي به په هغه مځكه كي قادر واى پر اظهار د شرائعو د اسلام او پر مخالفت د كافرانو او پر اظهار او اعلاء د كلمة الله باندې لكه هغه مسلمانانو چې هجرت يې مدينې منورې ته وكړى او يا يې حبشې ته هجرت وكړى.

فائده: استفهام د "الم تكن آه" استفهام انكاري دى او نفي د نفي اثبات دى، يعنې مځكه د خداى ﷻ د هجرت لپاره فراخه وه. نو ولې مو هجرت نه كاوه.

فائده: كلمه د "تهاجروا" منصوب ده په اسقاط د نون لكونها جواباً للاستفهام والقاعدة متقررة في النحو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَأُولَٰئِكَ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ

نو دغه متوفين تاركي الهجرة بلا عذر ځای ددوی دوزخ دی.

پوه سه: چي كلمه د فا لپاره د سببيت ده يعني ترك الهجرة سبب سو ددي.

تنبيه: دا گمان دي څوك نه كوي چي دا كسان په ترك الهجرة سره كافران سوه، ولي په ترك د يو فرضي عمل بېله انكاره د فرضيت سړی نه كافر كېږي كما هو مذهب اهل السنة والجماعة اختلافاً للروافض او نه دي دا گمان كوي چي ددغو كسانو به ابدي ځای دوزخ وي لماتقرر عند اهل السنة والجماعة ان مرتكب الكبيرة لا يخلد في النار خلافاً للمعتزلة.

وَسَاءَتْ مَصِيرًا ﴿٩٧﴾

او بد دی ځای د ورتگ جهنم. اعاذنا الله واياكم من هذه المصير امين.

دروبش وايي: چي ومانقل عن السدي ان من ترك الهجرة مع القدرة فهو كافر ليس بصحيح. والدليل عليه عدم تقييد الله عزوجل قوله ماهم جهنم بالخلود والتابيد.

فائده: حال ددغو تاركي الهجرة په ورځ د قيامت مفوض دی ومشيت ته د خدای ﷻ عظمت قدرته وكثرت رحمة ان شاء عذبهم في النار الى ماشاء الله بدون الخلود والتابيد وان شاء غفرلهم كما هو حكم سائر ارباب الكبائر ماتوا بغير التوبة عند اهل السنة والجماعة.

إِلَّا الْمُسْتَضْعَفِينَ

پوه سه: چي مفسرين په يوه خوله وايي چي دا استثناء منقطع ده، ولي چي دا مذكوره كسان تحت الاستثناء نه په موصول كي يعني الذين توفهم آه كي داخل دي او نه په ضمير كي د موصول داخل دي او نه په اشاره كي و موصول ته يعني "فاولئك آه" ولي چي دا مذكوره كسان تحت الاستثناء خو د "ظالمي انفسم" نه دي په ترك سره د هجرت، ولي چي وجوب د هجرت خو مربوط دی په قدرت سره ولاقدرة لهؤلاء المذكورين.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: په استثناء منقطع کي خو توهم د قدرت په مستثنی منه کي غواړي کما في قولهم جائني القوم الا حماراً. نو ولدان چي مذکور په استثناء کي دي خو توهم د دخول په مستثنی منه کي چي "ظالمي انفسهم" ده نسته لعدم التکلیف بالهجرة علی الولدان؟

ځواب: دروښ وايي چي اول ځواب دادی چي ذکر د ولدانو مبالغه في التحذیر عن ترک الهجرة للمکلفین، او دوهم ځواب دادی چي مراد له ولدانو څخه بحذف المضاف اولیاء د ولدانو دي، یعني که اولیاء د ولدانو دا قدرت درلودی چي دا ولدان نقل کړي له دار الکفر څخه پر دوی دا نقل واجب دی والا فهم من المستضعفین، درې یم ځواب دادی چي توهم "ظالمي انفسهم" په ولدانو کي په اعتبار د مایؤل الیه یعني که دوی بالغان سي او قدرت پر هجرت پیدا کړي او بیا یې هم نه وکړي، نو به ظالمي انفسهم وګرځي.

مِنَ الرِّجَالِ

لکه شیخ فاني یا شل او یا مریض غیر قابل للسفر راجلاً، او پر راحله هم قدرت نه لري، او یا صاحب العیال وي چي د ټولو د نقل طاقت نه لري او که دی یوائځي ولاړ سي بېرېږي چي عیال به مي د لوږي له کبله ضائع سي الی غیر ذالک من اعذار الرجال.

وَالنِّسَآءِ

لان الغالب فیهم ضعف البنیة وعدم استطاعة السفر او کونها مخفیة للایمان من زوجها الکافر، نو دا ببرېږي که ژه و هجرت ته اماده سم مهره به مي په ایمان خبر سي او مړه به مي کړي.

وَالْوِلْدَانِ

یعني کوچنیان چي بالغان نه وي.

پوښتنه: مریان یې نه کړه ذکر؟

ځواب: په سبب د ظهور د حال دده ولي مریی که پر هجرت قادر وي وجب علیه الهجرة او حق د مولی یې مانع د وجوب د هجرت نه سي کېدای، ولي حق د مانع د فرض عین نه سي کېدای چي هجرت دی فیما نحن فیه ویؤید ذالک هغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حدیث چې محمد اسحاق صاحب المغازي رحمه الله او حافظ محمد بن یوسف الصالحي رحمه الله او بخاري او مسلم یې په ګډه روایت کړی دی چې حاصل د ټولو مع اختلاف عباراتهم دادی چې علیه الصلوة والسلام سره د صحابه کرامو رضي الله عنهم چې طائف محاصره کړی، نو منادي د علیه الصلوة والسلام اعلان وکړی چې هر مریی چې له حصار څخه د طائف راوځي هغه حر دی، نو په نوبت درویشت مریانو ځانونه علیه الصلوة والسلام ته راورسول او علیه الصلوة والسلام ټوله آزاد کړل او هغو اسلام راوړی، نو علیه الصلوة والسلام دغه آزاد شده ګان پر اصحابو کرامو رضي الله عنهم تقسیم کړه، یعني یو د ازاد شده ګانو به یې یوه صحابي ته وسپاري چې ددې سړي خرڅ و خوراک، جامه او تر مدینې پورې د سپرتیا بوده به هم ته وربرابروي او قرآن شریف به په زده کوې او شرائع او احکام د اسلام به هم ته ورښیې، نو په دغه ډول درویشت ازاد شده ګان پر درویشتو صحابه کرامو چې طاقت مالي به یې درلودی تقسیم کړه، وروسته د ثقیف یعني د طائف باشنده ګانو ایمان راوړی او طائف فتح سونو بعض مشران چې تر ټولو نامورې وه لکه حارث بن کلدة د ثقیف د قبیلې و علیه الصلوة والسلام ته راغله او غوښتنه یې وکړه چې دا درویش کسان دي بیرته رق ته رد سي، نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل هؤلاء عتقاء الله لاسبیل الیهم" یعني دا درویش کسه خدای ﷻ ازاد کړه ودوی ته لار د بیرته مریتوب نسته.

لَا يَسْتَطِيعُونَ حِيلَةً وَّلَا يَهْتَدُونَ سَبِيلًا ﴿٩٨﴾

ددوی په قدرت کې نه وه چې یوه حیله یعني اسباب د هجرت برابر کړي، نه خپل لاره د هجرت ورته معلومه وه، او نه یې بل سړی لارښود درلودی.

فَأُولَٰئِكَ عَسَى اللَّهُ أَن يَعْفُوَ عَنْهُمْ ۚ وَكَانَ اللَّهُ عَفُوًّا غَفُورًا ﴿٩٩﴾

نو دغه بیان شده معذورینو ته شاید خدای ﷻ عفوه د ترک الهجرة وکړي.

فائده: خدای پاک ودغو معذورینو ته لفظ د "عسی" ووایه او لفظ د "عفوی" یې هم ووایه لشاره ودې ته ده چې د ترک الهجرة کار ډېر خطرناکه دی حتی چې معذور هم باید چې بې پروا نه وي، او له خدای ﷻ څخه سره سره له عذره عفوه وغواړي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ابن عباس رضي الله عنه وايي چي زه اوزما مور له هغو کسانو څخه وو چي خدای جل جلاله معذور ګڼلي وه. او رسول الله ﷺ به ودغو مستضعفينو ته په لمانځه کي دعا کوله. چناچه بخاري له ابي هريره رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چي عليه الصلوة والسلام به چي د ماځستن د لمانځه په اخيري رکعت کي سمع الله لمن حمده ووايه، نو داسي دعا، به يې په جهر سره کوله "اللهم انج عياش بن ابی ربيعه اللهم انج الوليد بن الوليد اللهم انج سلمة بن ابی هشام اللهم انج المستضعفين من المؤمنين. اللهم واشدد وطائک علی مضر اللهم اجعلها عليهم سنني کسني يوسف.

دروښ وايي: چي دا قنوت دائم نه دی چي په وتر و کي ويل کيږي بلکې دا قنوت پر يو نازل آفت پر مسلمانانو لکه وبا، او طاعون او يا د کافرانو د تسلط پر مسلمانانو يې ويل مستحب دی او د ماځستن په لمانځه پوري هم تخصيص نه لري. وهذا مذهب الحنفية رحمهم الله كما بين في كتب الفقه الحنفي.

فائده: جمله د "لا يستطيعون" د "المستضعفين" صفت ده.

سوال: جمله خو په حکم کي د نکرې ده كما تقرر في كتب النحو فكيف يصح كونها صفت للمعرف باللام ای المستضعفين؟

ځواب: چونکه مستضعفين يو قوم معين نه دی، نو الف ولام يې لپاره د عهد ذهني دی فهو في حكم النكرة ايضاً فيصح التوصيف كما في قول الشاعر "لقد امر علی اللئيم يسبني" چي جمله د "يسبني" صفت ده د "اللئيم" ولي چي د بل شي احتمال نسته پکښي او په لئيم کي الف ولام لپاره د عهد ذهني دی اذ لا يمكن المرور على الطبعية ولا يمكن المرور على كل لئيم في الدنيا حتى يكون اللام للجنس او للاستغراق ولا معهود في الخارج في البيت المذكور فبقي احتمال العهد الذهني فيصح توصيفه بالجملة واخير المصرع المذكور "فمضيت ثمة قلت لا يغينني.

وَمَن يُهَاجِرْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ يَجِدْ فِي الْأَرْضِ مُرَاغَمًا كَثِيرًا وَسَعَةً

که څوک هجرت وکړي په لاره کي د خدای جل جلاله لپاره د اجراء د احکامو شرعيه وو بلا خوف او يا لپاره د اعلاء د کلمة الله هغه به پيدا کړي په مځکه کي پراخي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې ابن عباس رضي الله عنه وايي چې "مراغم" د تحول ځای ته وايي مشتق دی له رغام څخه وهو التراب. او بعض مفسران وايي چې د مراغم معنی لاړ ده چې یراغم قومهم الکفار ای یفارقهم علی رغم انوفهم چې پرې به ددوی په خاورو وي وهو ایضا من الرغام وهو التراب. او مجاهد رحمه الله وايي چې ځای د خلاصون له کافرانو څخه دی. او ابوعبیده رحمه الله وايي چې مراغم معنی ځای د هجرت من راغمت قومي ای هاجرتهم. او په قاموس کې وايي چې مراغمة هجران او لهرې والي ته وايي. او مراغم بضم المیم وفتح الغین ځای ته د ورتلو وايي او ځای ته د تېښتې وايي او قلعې ته وايي.

دروښ وايي: چې د ټولو تفسیر و مآل یو دی یعنې ځای د هجرت او استوګنې په مځکه کې. او فراخي به پیدا کړي په رزق او معاش کې او ځګر به یې هم فراخه وي په سبب د امن او د زوال د خوف الکافرین في اداء الاحکام الشرعیة بلا اضطراب وخوف. بغوي رحمه الله وايي چې دا آیت چې نازل سو، نو یو سړي د بني لیث واورېدی چې شیخ کبیر و او په عین حال کې مریض هم و چې جندع بن ضمرة یې نوم و. نو یې وویل چې والله ما انا ممن استثنی الله تعالی واني لاجد حیلة ولي من المال مایبلغني الی المدینة. بلکې تر مدینې لا لهرې ځای ته. او وه یې ویل چې قسم په خدای ﷻ دی که زه ننه شپه په مکه کې تېره کړم، نو یې زامنو ته وویل چې ما له مکې څخه وباسئ. نو زامنو پر چارپائي واخستی او تنعیم ته یې ورساوه، نو د زکندن علامه ورته پیدا سوه. نو رسته لاس یې پر چپه لاس کښېښو یعنې د بیعت په توګه او داسې یې وویل هذه لک وهذه لرسولک ابایعک علی مابایعت رسولک قمات، نو ددې خبرې و علیه الصلوة والسلام ته ورسېدی او مسلمانانو وویل چې کاشکې دی مدینې منورې ته ژوندی رارسېدلی وای، نو هجرت به یې تام وای او ثواب به یې ډېر وای او مشرکانو د مکې به خندل او دا به یې ویل "ما ادرک هذا ماطلب" یعنې جندع نه کړی پیدا هغه شی چې ده غوښتی یعنې الهجرت الی المدینة فنزلت هذه الآیة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَنْ يَّخْرُجْ مِنْ بَيْتِهٖ مُهَاجِرًا اِلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ثُمَّ يُدْرِكْهُ الْمَوْتُ الْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ اَجْرُهٗ عَلَى اللّٰهِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۝

او هغه څوک چې ووځي له کور څخه خپل په داسي حال کې چې هجرت کونکی و خدای ﷻ ته او ورسول ته د خدای پاک یعني لپاره د اعلاء د کلمة الله او د زدکړي د حدیث نبوي، او بیا مرګ ناګاه پر راسي یعني قبل الوصول الی مطلوبه، نو اجر او ثواب یې پر خدای ﷻ په قرار د وعدې چره سو. او دی خدای بخښونکی د ګناه یعني که له دغه مهاجره څخه څنډ په هجرت کې راغلی وي او خدای پاک مهربانه هم دی.

پوه سه: چې دا حدیث په مختلفو طریقو سره راغلی دی چې مظهري ﷺ متضادي طریقې ټولې جمع کړي دي چې جمع د ټولو هیڅ امکان نه لري، او نتیجه د صنیع د مظهري داده چې پر علماؤ او طالبانو یې شان نزول د دې آیت په دریاب کې غرق کړی والله الموفق فارجع الی تفسیر المظهري لیظهر لکم صدق ماقلت.

وَاِذَا ضَرَبْتُمْ فِى الْاَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَقْصُرُوْا مِنَ الصَّلٰوةِ ۖ

او چې تاسي سفر کوئ په مځکه کې.

پوه سه: چې قید د ارض اتفاقي په اعتبار د اغلب دی، ورنه د سفر د دریاب هم دغه حکم دی، نو نسته پر تاسي ګناه چې تاسي کم کړئ بعض له لمانځه ای الرباعیة دون الثنائیة والثلاثیة بالاجماع.

پوه سه: چې جار ومجرور صفت دی د محذوف ای شیئاً من الصلوة عند سیبویه، او مفعول به لتقصروا بزیادة من عند الاخفش.

پوه سه: چې دا آیت تر یو ځایه پورې بیان دی د کیفیت د لمانځه په اوقاتو کې د ضرورت کالسفر ولقاء العدو والمطر والمرض.

فائده: مراد له سفر څخه هر سفر چې وي که د هجرت لپاره وي که د جهاد لپاره وي که د حج لپاره وي که د تجارت لپاره وي او که د سیاحت لپاره وي.

مسئله: مده د سفر چې قصر د لمانځه پکښې روا کېږي درې ورځې او درې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شپې دی ورځي د تګ لپاره و شپې د استراحت لپاره په تګ د بار کړي اوښ یا پر پښو، کرار تګ ته د مسافر او چابک تګ ته ددې اعتبار نسته، حتی که یو مسافر دپر تهز رفتاره و چې د درو ورځو مسافت یې په یوه ورځ قطعه کړی او یا په موټر کې سپور و چې د درو ورځو مسافت یې مثلاً په دوه یا درې ساعته کې قطعه کړی قصر به کوي، او که یو سړی ضعیفه و چې د یوې ورځې مسافت یې په درې ورځې قطعه کړی قصر به نه کوي.

فائده: د درو ورځو او درو شپو مسافت شپږ بریده دی او هر برید څلور فرسخه دی او هر فرسخ درې میله دی او هر میل دولس زره ګامه دی.

تنبیه: ظاهر د آیت کریمه تخییر د مسافر بین القصر والاتمام، او بل پر دې چې اتمام افضل دی لانه تعالی نفي الاثم في القصر لانه بظاهره یدل علی ان الاتمام وان کان افضل لکن لا اثم في القصر.

پوه سه: چې پوره کول د لمانځه په سفر کې نه دی روا په تهز د امام اعظم رحمه الله بغوي رحمه الله وایي چې دا مذهب مروي دی له عمر، ابن عمر، جابر بن عبدالله او له عبدالله بن عباس رضي الله عنهم څخه او دا مذهب دی د حسن بصري رحمه الله او د عمر بن عبدالعزیز او د قتاده او د مالک او امام شافعي رحمهم الله، او احمد بن حنبل رحمه الله وایي چې په پوره لمونځ کول په سفر کې روا دی، بغوي رحمه الله وایي چې ددې مذهب روایت د عثمان او د سعد بن ابي وقاص رضي الله عنهما سوی دی.

پوه سه: چې ظاهر د آیت خو دلیل دی د امام شافعي رحمه الله کمامر، او ابو حنیفه رحمه الله د یعلی بن امیه رضي الله عنه په حدیث سره دلیل وایي، دی وایي ما سوال وکړی له عمر بن خطاب رضي الله عنه څخه ددې آیت په باره کې "لیس علیکم جناح ان تقصروا من الصلوة ان خفتم ان یفتنکم الذین کفروا" او ما عمر رضي الله عنه ته وویل چې اوس خو خلګ په خوف کې نه دي، نو به اوس هم قصر روا وي او که څرنګه؟ عمر رضي الله عنه راته وویل چې ماته هم دا شک پیدا سو، نو ما د علیه الصلوة والسلام څخه پوښتنه وکړه، نو علیه الصلوة والسلام راته وویل "صدقة تصدق الله بها علیکم فاقبلوا صدقته" رواه مسلم والمعنی قصر د لمانځه په سفر کې خیرات دی د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای ﷻ له خوا څخه پر تاسي باندي نو تاسي قبوله کړئ صدقه د خدای ﷻ.

دروښ وايي: چې په اصول الفقه کې وايي چې امر چې مطلق وي له قرائنو څخه لپاره د وجوب دی، نو قصر واجب دی او اتمام نه دی روا وهو مذهب ابي حنيفه رحمه الله.

مسئله: که یو مسافر یو بنار ته ورغلی او نیت یې دا و چې صبا یا بله ورځ به څم، او یا یې دا نیت و چې هر وخت چې زما کار په دې بنار کې خلاص سي زه به څم، یعني نیت د اقامت یې نه و چې پنځلس ورځې دي په نېز د حنفیانو، نو په ټن او صبا کې پر مسافر میاشتې بلکې کلونه تېر سوه قصر به کوي.

مسئله: که له سړي څخه په کور کې لمونځ قضاء سو، او په سفر کې یې قضا راوړل پوره به یې کوي. او که په سفر کې لمونځ څنې قضاء سوی و او په کور کې یې قضاء راوړل قصر به کوي عندنا.

إِنْ خِفْتُمْ أَنْ يَفْتِنَكُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا

که تاسي ویرېدلست چې موږ به په فتنه کې واقع کړي هغه کسان چې کفر کوي یعني یو مکروه به راورسوي یا قتل یا جرح او یا بند او یا به مو مالونه راڅخه یوسي.

بوه سه: چې "ان خفتم" شرط دی جزاء نه غواړي ولې چې جزاء له ماقبل څخه فهمېږي یعني "فليس عليكم جناح ان تقصروا من الصلوة" والمعنى ان خفتم الفتنة من الكفار فاقصروا من الصلوة.

دروښ وايي: چې ظاهر د آیت خو دادی چې خوف الفتنة د جواز قصر شرط ده په ظاهر ددې آیت خوارج قول کوي. لکن اجماع د امت پر دې ده چې خوف شرط د قصر نه دی بلکې دا شرط مبني دی پر غالب. ولې چې غالب سفرونه د علیه الصلوة والسلام گمان د خوف به پکښې و فلاحکم لهذا الشرط كما في قوله تعالى په باره کې د مینځیانو د زنا. ولاتكرهوا فتياتكم على البغاء ان اردن تحصناً. احادیث ټوله پر دې دلالت کوي چې قصر د صلوة په حال کې د آساني هم روا دی لکه په وړاندې حدیث کې د یعلی بن امیه له عمر ﷺ چې ذکر سوه، او بل حدیث هغه دی چې شافعي رحمه الله یې روایت کړی دی له ابن عباس ﷺ څخه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې مونږ سفر وکړی له رسول الله ﷺ سره په منځ کې د مکې او مدینې امناً لایخاف الا الله یصلی رکعتین، او له حارثه بن وهب خزائي ﷺ څخه روایت دی "صلی بنا رسول الله ﷺ ونحن اکثر ما کنا قط وآمنه بمنی رکعتین" متفق علیه.

پوه سه: چې قصر د لمانځه مسافر لره رخصت اسقاط دی په معنی د عزیمت یعني ان الاتمام لم یبق مشروعاً حتی چې په اتمام سره دی ګناه کبار دی. او که چېرې یو مسافر اتمام د لمانځه وکړی یعني څلور رکعته یې وکړه. نو که د منځ په ناسته کې نه کښېنستی لمونځ یې فاسد دی. لترک القعدة الآخیرة. ولي چې د منځ ناسته خو د مسافر د لمانځه اخیره ناسته ده. او که په منځ کې په قدر د تشهد کښېنستی بیا ولاړ سو دوه رکعته یې نور وکړه لمونځ خو یې صحیح دی لکن ګناه کار دی ولي چې د فرضي لمانځه سلام یې وځنډاوه کذا في فتاوی الاشباه والنظائر او داغه رانګه په تفسیر حدادي کې وایي که مسافر د ماپښین لمونځ څلور رکعته وکړی او د منځ په ناسته کې په قدر د تشهد نه کښېنستی لمونځ یې فاسد دی لکه سړی چې د سهار لمونځ څلور رکعته وکړي.

سوال: په آیت شریف کې داسې راغلي دي "فلیس علیکم جناح ان تقصروا الخ" نو که چېرې قصر واجب دی نو د نفي د جناح څه وجه ده؟

ځواب: چونکه د مسلمانانو د رباعي لمانځه د اتمام سره عادت او الفت و. نو شاید د دوی په زړو کې به دا ورګرځي چې قصر به نقصان وي. نو د دوی د توهم د دفع لپاره یې "فلاجناح علیکم آه" ووایه لکه په سعي کې صفا او مروه چې خدای پاک وایي "فمن حج البیت او اعتمر فلاجناح علیه ان یطوف بهما" او سره د دې چې سعي بین الصفاء والمروة واجبه ده عندنا او رکن په نېز د امام شافعي رحمه الله نو په هغه آیت کې نفي د "جناح" لپاره د دفع د توهم د مسلمانانو خدای پاک وویل په دې معنا چې پر صفا او مروه باندې د جاهلیت په زمانه کې دوه بتان وه چې اهل جاهلیت به هغه مسح کول او سعي به یې کوله. نو وروسته تر اسلام که څه هم هغه بتان له منځه ولاړه لکن شاید بعض مسلمانان به دا توهم وکړي چې سعي خو صنیع د جاهلیت وه. نو شاید په اسلام کې به دا فعل یعني سعي ګناه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وي لکه کافرانو او مشرکانو چې به ویل چې ظاهراً خو مسلمانانو بتان لپري کړه لکن اوس هم د هغو بتانو پر ځایو طواف کوي.

مسئله: عاصي (ګناه کار) په سفر کي لکه قاطع الطریق او مطیع لکه مسافر د حج او عمري مثلاً په رخصت کي د قصر د لمانځه سره برابر دي، ولي چې نفس سفر خو معصیت نه دی، والمعصیة في قصد العاصي فلا اعتبار له کالمسافر المطیع یمسح علی الخفین ثلاثة ایام ولیالیها فکذا العاصي بالسفر یمسح علی الخفین بمقدار مسح المطیع. هذا هو البیان الکافي في قصر الصلوة للمسافر علی مذهب ابی حنیفة واصحابه رحمهم الله تعالی.

إِنَّ الْكٰفِرِيْنَ كَانُوْا لَكُمْ عَدُوًّا مُّبِيْنًا ﴿۱۰۱﴾

په تحقیق سره کافران ستاسي ښکاره دښمنان دي.

شان نزول: پوه سه چې احمد، حاکم او بیهقي له ابي عیاش څخه روایت کړی دی چې موږ د علیه الصلوة والسلام سره ملګري و په عسفان کي. نو د بلي خوا د مشرکینو لښکر په مشري د خالد بن ولید په مخه راغلی په دغه وخت کي خالد بن ولید مسلمان سوی نه و، او دوی زموږ و مخ ته د قبلې وخوا ته وه. نو علیه الصلوة والسلام په مجموعي ډول د ماپښین لمونځ موږ ته په جماعت راکړی، نو کافرانو سره وویل چې په لمانځه کي ډېره ښه موقع وه کاشکي موږ نابیره حمله پر کړې وای، بیا دوی سره وویل چې دا موقع که تېره سوه، وروسته مسلمانان بل لمونځ لري یعني د مازدیګر لمونځ چې هغه لمونځ مسلمانانو ته محبوب دی تر زامنو او ځانونو، نو په هغه لمانځه کي به حمله پر وکړو، نو جبرائیل علیه السلام دا آیت و علیه الصلوة والسلام ته راوړی "واذا کنت فیهم" نو چې وخت د مازدیګر د لمانځه راغلی، نو علیه الصلوة والسلام اصحاب امر کړه چې سلاح د ځانو سره واخلئ، نو موږ د علیه الصلوة والسلام تر شا دوه صفه سوو علیه الصلوة والسلام چې له قرائت څخه فارغه سو رکوع ته ولاړی موږ دواړو صفو رکوع ورسره وکړه بیا یې سر مبارک له سجدې څخه پورته کړی موږ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هم سرونه پورته کړه، بیا علیه الصلوة والسلام او دده سره نژدې صف سجدې ته ولاړه او دشا صف ولاړ و یعنې سجدې ته نه ورسره ولاړې بلکې حراست او پهره یې کول چې دښمن حمله ونه کړي چې علیه الصلوة والسلام سره د اول صف له سجدې څخه فارغه سو او ولاړ سو، دوهم صف والا کښېنستل ځای پر ځای یې سجده وکړه وروسته دا دوه صفه شا ومخ سوه یعنې د شا صف د اول صف ځای ته ورغلی او اول صف د شا د صف ځای ته راغلی بیا دا بل رکعت چې تمام سو علیه الصلوة والسلام رکوع ته ولاړې موږ هم دواړه صفه رکوع ته ورسره ولاړو، بیا چې یې سر له رکوع څخه راپورته کړې موږ تولو سرونه راپورته کړه بیا چې علیه الصلوة والسلام سجدې ته ولاړې اول صف چې په دمخه رکعت کې دوهم صف وه وسجدې ته ورسره ولاړه او دوهم رکعت حراست کاوه وروسته دوهم صف ځای پر ځای کښېنستی او سجده یې وکړه، وروسته علیه الصلوة والسلام سلام وګرځاوه موږ هم سلام وګرځاوه فتم صلوة السفر بهذه الطریق.

پوه سه: چې علیه الصلوة والسلام دوه واړه صلوة خوف کړې دی یو وار په عسفان کې او دوهم وار په غزاء کې د بنې سلم.

فائده: مسلم د صلوة خوف دا مذکوره ډول بیان کړې دی په روایت د جابر رضی الله عنه.

وَإِذَا كُنْتَ فِيهِمْ

او چې ته حاضر یې یا محمد ﷺ په مسلمانانو کې.

پوه سه: چې دا قید ورسره مراد دی "وانتم تخافون العدو" او تاسې له دښمن څخه ویرېږي، ولې چې د امت اجماع پر دې ده چې د صلوة الخوف لپاره د دښمن ویره شرط ده.

مسئله: امام ابو یوسف رحمه الله وایي چې صلوة خوف مختص په علیه الصلوة والسلام پورې دی نورو ائمه وو ته د مسلمانانو نه دی روا بدلیل قوله تعالی "واذا کنت فیهم" او نور عامه علماء وایي چې صلوة خوف وروسته تر علیه الصلوة والسلام هم مشروع دی، په روح البیان کې وایي چې جمهور د علماؤ پر دې دي چې صلوة الخوف ثابت او مشروع وروسته تر علیه الصلوة والسلام هم دی په حق کې د تولو امت صرف علیه الصلوة والسلام نه خدای پاک کیفیت د صلوة الخوف

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وروښو تاچي امت اقتدا، پسي وکړي. او علامه زمخشري رحمه الله په کشاف کي وايي چي امامان د امت محمدي تابعان د عليه الصلوة والسلام دي په هر عصر کي او دوی به هم هغه کار کوي چي عليه الصلوة والسلام کاوه فکان صلوة الخوف له شامل لکل امام امة يعرض لهم الخوف من العدو ان يؤم الناس کما ام رسول الله ﷺ" او خطاب ددې چي وانت فيهم چي په صلوة الخوف کي حضور د عليه الصلوة والسلام شرط نه دی. لان کثيراً من الخطابات القرآنية مخصوصة به ﷺ مع ان المراد هو وامته قال الله تعالى "خذ من اموالهم صدقة تطهرهم" نو له دې څخه خو دا معلومېږي چي اخذ د صدقې مخصوص په عليه الصلوة والسلام پورې دی فکذا صلوة الخوف وقال الله تعالى اقم الصلوة لدلوک الشمس" وامثال هذه کثيرة في القرآن. والدليل عموم الخطاب چي صحابه کرامو رضي الله عنهم صلوة خوف وروسته تر عليه الصلوة والسلام کړی دی من غير انکار من احد منهم فکان اجماعاً. ابو داؤد روايت کړی دی چي صحابه کرامو رضي الله عنهم د عبد الرحمن بن سمره په مشري د کابل په غزاء کي صلوة خوف وکړي. او د امام المؤمنين علي رضي الله عنه څخه روايت دی چي ده صلوة الخوف د صفين په جنګ کي وکړی.

دروښ وايي: چي له نورو صحابه وو رضي الله عنهم څخه هم صلوة خوف مروي دی ان شئت فطالع کتب السير والمغازي ارشدک الله تعالى.

فَأَقَمْتَ لَهُمُ الصَّلٰوةَ فَلْتَقُمْ طَآئِفَةٌ مِّنْهُمْ مَّعَكَ

او تا ودوی ته لمونځ ورکاوه. نو يوه ډله د مسلمانانو دي له تاسره پر لمانځه ودرېږي يعني لښکر دوې برخې کړه يوه برخه دي له تاسره پر لمانځه ودرېږي يعني په جماعت کي، نو ته هغه ته لمونځ ورکړه.

وَلْيَأْخُذُوْٓا اَسْلِحَتَهُمْ

او دغه ډله چي ستاسره پر لمانځه ودرېږي خپله سلاح به ورسره وي.

پوه سه: چي امام مالک رحمه الله وايي چي حمل د سلاح په لمانځه کي د خوف پر لمونځ کونکو واجب دی، او نور علماء وايي چي دا امر د وجوب نه دی بلکې د استحباب دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَإِذَا سَجَدُوا فَلْيَكُونُوا مِن وَرَائِكُمْ

نو دغه ډله چې یو رکعت لمونځ ستاسره وکړي نو دغه ډله دي مخامخ ودښمن ته ودرېږي.

پوه سه: چې مراد له سجدې څخه یو رکعت لمونځ دی.

وَلْتَأْتِ طَائِفَةٌ أُخْرَىٰ لَمْ يُصَلُّوا فَلْيُصَلُّوا مَعَكَ وَلْيَأْخُذُوا حِذْرَهُمْ وَأَسْلِحَتَهُمْ

او رادې سې هغه ډله چې لمونځ یې نه و کړی. نو هغه دي لمونځ وکړي ستاسره یعنې دوهم رکعت. او دغه ډله دي له ځانه سره ولري حذر.

پوه سه: چې صلوة خوف د علیه الصلوة والسلام پر څو ډوله منقول دی حتی چې حافظ ابن حجر عسقلاني رحمه الله وایي چې صلوة خوف د علیه الصلوة والسلام څخه پر څورلس وجهې منقول دی چې ابن حزم اندلسي رحمه الله دغه ټوله اقسام په مستقله رساله کې ذکر کړي دي چې بعض د هغو په صحیح مسلم کې مذکور دي او اکثره حصه د هغو په ابو داؤد کې ذکر سوې ده. او حاکم په مستدرک کې اته قسمه راوړی دی. او ابن حبان رحمه الله نهه قسمه ذکر کړی دی. او بل قسم په روایت د بخاري او مسلم له جابر بن عبدالله رضي الله عنه څخه په دې ډول راغلی دی. دی وایي چې موږ د علیه الصلوة والسلام سره وو په غزوة ذات الرقاع کې. نو علیه الصلوة والسلام یوې ډلې ته دوه رکعته لمونځ ورکړی بیا هغه تر شا سوه. بیا یې بلې ډلې ته هم دوه رکعته لمونځ ورکړی. نو د علیه الصلوة والسلام لمونځ څلور رکعته سو او د دوارو ډلو دا دوه دوه رکعته سوه متفق علیه. په دې کې دوه احتماله سته چې څلور رکعته دي علیه الصلوة والسلام په یوه سلام سره کړي وي او یا دې په دوه سلامه سره کړي وي لکه صراحةً چې په حدیث کې د جابر رضي الله عنه راغلي دي "صلی نبي ﷺ صلوة الخوف ببطن نخل فصلی بطائفة رکعتین ثم سلم" بیا دوهم ډله راغله هغو ته یې هم دوه رکعته لمونځ ورکړی او بیا یې سلام وګرځاوه.

دروښ وایي: چې په دې کیفیت کې دا اشکال سته چې علیه الصلوة والسلام خو په ذات الرقاع کې یقیناً مسافر و، نو څلور رکعته یا په یوه سلام یا په دوه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سلامه یې څرنګه کوله؟

ځواب: په یوه سلام څلور رکعته بناء پر دې که څه هم په اتمام د صلوة مسافر لره اختلاف د مذاهبو سته چې بعض وایي روا دی بلکې عزیمت دی کما ذهب الیه الشافعیة، او بعض علماء وایي چې اتمام د لمانځه مسافر ته نه دی روا کما هو مذهب الحنیفیة، لکن دا اختلاف مخصوص په امت پورې دی او جواز د اتمام د لمانځه په سفر کې پر مذهب د حنیفیانو له خواصو څخه د علیه الصلوة والسلام وه، واما علی مذهب الشافعیة فلا اشکال فیه، او په دوه سلامه لمونځ کول یا بناء دی پر ما روی انه کان في ابتداء یجوز اداء الصلوة الواحدة مرتین او یا علیه الصلوة والسلام په یوه کې د دوو رکعتو مفترض و او په نورو رکعتو کې متنفل و، او اقتداء د مفترض په متنفل پسې که څه هم اختلاف پکښې سته لکن جواز یې له خواصو څخه د علیه الصلوة والسلام و بالاجماع هذا ما عندي في حل هذا الاشکال والله اعلم بحقیقة الحال.

مسئله: روا دی صلوة الخوف په وطن کې یعنې بهله سفره عند خوف العدو وان کان نادراً، عند الجمهور خلافاً لمالک رحمه الله، نو په رباعي لمونځو کې یې هره ډلې ته دوه رکعته لمونځ امام ورکوي او دوه رکعته به یوازې کوي او د مابنام په لمانځه کې به اولې ډلې ته دوه رکعته لمونځ امام ورکوي، او دوهمې ډلې ته به یو رکعت ورکوي، او بل کیفیت یې بخاري او مسلم راوړی دی چې نبي ﷺ اول رکعت لمونځ ورکړی ویوې ډلې ته د غازیانو، او هغه بله ډله د دښمن مخ ته ولاړه وه چې رکعت علیه الصلوة والسلام پوره کړی داغسې ولاړ و او هغې ډلې هغه یو رکعت یوازې وکړی، بیا دا ډله ولاړه او د دښمن و مخته صف سوه او هغه بله ډله راغله، سر علیه الصلوة والسلام وهغو باقي یو رکعت ته جماعت بیا علیه الصلوة والسلام پر هیئت د تشهد ناست و چې هغو هم خپل لمونځ پوره کړی، نو بیا علیه الصلوة والسلام په دواړو ډلو سره سلام وګرځاوه، او بل کیفیت یې دادی چې بخاري په خپل کتاب صحیح کې د سالم بن عمر رحمه الله او هغه د خپل پلار عمر رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چې صورې وغزاء ته ولاړو وطرف ته د نجد او د دښمنه سره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مخامخ سوو. نو علیه الصلوة والسلام موږ ته داسي لمونځ راکړی چې یو ډله د علیه الصلوة والسلام سره پر لمانځه ودریدله او یوه ډله د دښمن و مخ ته ولاړه وه، نو علیه الصلوة والسلام رکوع وکړه او دوې سجدې یې وکړې او دې ډلې هم ورسره وکړې بیا دا ډله ولاړه د دښمن ومخته ودریدله او هغه ډله چې لمونځ یې د علیه الصلوة والسلام سره نه و کړی راغله علیه الصلوة والسلام دې ډلې ته باقي رکعت په رکوع او دوو سجدو سره ورکړی وروسته یو وار یوې ډلې خپل پاته رکعت پوره کړی او بیا بلې ډلې خپل پاته رکعت پوره کړی.

فائده: امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله علیه په اقسامو کې د صلوة خوف دا وجه مختاره کړې ده تر نورو "وغلط من قال ولم یجوز سواه" لکن امام اعظم رحمه الله علیه وایي چې دوهمه ډله دي وروسته تر سلام د امام ولاړه سي د دښمن ومخ ته او اوله ډله دي راسي خپل لمونځ دي پوره کړي او بیا دي دوهمه ډله راسي او خپل لمونځ دي پوره کړي او سلام دي وګرځوي.

فائده: قال الشافعي و احمد و مالک رحمهم الله تعالی چې ټوله هیئات د صلوة خوف چې له علیه الصلوة والسلام څخه مروي دي ټوله مقبول او معتمد بها دي انما الخلاف في ترجیح بعض الکیفیات علی بعض.

وَدَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْ تَغْفُلُوْنَ عَنْ اَسْلِحَتِكُمْ وَاَمْتِعَتِكُمْ فَيَمِيْلُوْنَ عَلَيْكُمْ مَّيْلَةً وَّاحِدَةً ؕ

پوه سه: چې دا آیت بیان دي د سبب او علت دی د ماقبل آیت اعني قوله تعالی "ولیاخذوهم آه" ددې آیت معنا داده چې تمنی لري هغه کسان چې کفر کوي یعني کافران د جنګ، که تاسي غافله سئ له خپلو سلاوو څخه او له هغو شیانو څخه چې تاسي له هغو څخه فائده اخلئ یعني په جنګ کې نه مطلق متاع، نو به دوی حمله وکړئ پر تاسي یوه حمله یعني اجتماعي حمله به درباندې وکړي.

فائده: جمله د "فیمیلون" عطف ده پر "تغفلون" باندې او کلمه د "لو" لپاره د تمنی ده او جمله بیان ده د دوی، او دا هم روا ده چې کلمه د "لو" دي په معنا د ان مصدري وي او جمله دي په محل کې د نصب وي د "ود" مفعول به دي وي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې کلبي رحمه الله له ابن عباس رضي الله عنه څخه په شان نزول کې دې آیت داسې وایي چې رسول الله ﷺ د بني انمار او د قوم د محارب غزاله روان و چې د غرمې او ګرمۍ وخت پر راغلی او هیڅ څوک له دښمنانو څخه نه معلومېدل. نو مسلمانانو سلاح له ځانه جلا کړه او د آرام کولو په نیت هر یوه د یوې درختې لاندې ځای ونیوی او علیه الصلوة والسلام د قاضا حاجت لپاره ولاړی او توره یې د یوې درختې لاندې وځړول او لږ لږ باران هم شروع و. نو د علیه الصلوة والسلام او د صحابه کرامو رضي الله عنهم تر منځ شپله حائل وګرځېدل. نو علیه الصلوة والسلام په سایه کې د هغې درختې چې ده توره پورې ځړولې وه آرام کاوه چې غویرث بن حارث محاربي علیه الصلوة والسلام ولیدی چې یکې تنها تر درختې لاندې پروت دی، نو یې په غره کې خپلو ملګرو ته وویل چې ما دې خدای مړ کړي که ما نن محمد مړ نه کړی، نو توره ورسره ده او له غره څخه راکښته سو توره یې له تېکې څخه کښلې ده، چې راورسېدی علیه الصلوة والسلام ته یې دا لفظ وویه "من یعصمک منې الآن" څوک به دې زما څخه خلاص کړي اوس؟ یعنې چې هیڅ مددګار نسته درسره. علیه الصلوة والسلام ورته وویل "الله" یعنې خدای ﷻ به مې درڅخه خلاص کړي بیا علیه الصلوة والسلام دا دعاء وکړه "اللهم اکفنې غویرث بن الحارث بماشئت" نو غویرث چې سر کښته کړی چې علیه الصلوة والسلام په توره ووهي نابیره یې په ملا او اوږو کې داسې تینګ درد پیدا سو چې توره یې له لاس څخه ولوېده. نو علیه الصلوة والسلام د غویرث توره راواخسته او غویرث ته یې وویل "من یمنعک منې الآن؟" غویرث ورته وویل "لااحد" نو علیه الصلوة والسلام و غویرث ته داسې وویل "اتشهد ان لا اله الا الله وان محمداً عبده وروسوله واعطیک سیفک. قال لا ولکن اشهد ان لا آقا تلک لکن" زه په دې شاهدي اداء کوم چې جنګ نه درسره کوم ابداً ولا اعین علیک عدواً فاعطاه رسول الله ﷺ سیفه. فقال غویرث والله لانت خیر منې قال النبي ﷺ اجل انا احق بذالک. نو غویرث چې خپلو الهیو الانو ته ورسېدی نوله ماجرى یې ورته وویل. فنزل الآیة المذکورة وهذه الآیة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِنْ كَانَ بِكُمْ أَذًى مِنْ مَطَرٍ أَوْ كُنْتُمْ مَرْضَىٰ أَنْ تَضَعُوا أَسْلِحَتَكُمْ

او نشته پر تاسي ګناه که چېرې پر تاسي حمل د سلاح تکليف وه، چې دا اذى يا باران د چې سلاح يې درلندوله. او يا تاسي مريضان واست چې د سلاح د حمل توان مو نه درلودى په دې کې چې تاسي سلاح کښېږدئ.

دروښ وايي: چې مظهري رحمه الله وايي چې په دې آيت کې چې خداى جل جلاله وضع د سلاح په عذر سره د باران يا د مرض مربوطه کړه. نو دا معلومه سوه چې امر په اخذ د سلاح په وخت کې د صلوة خوف چې په دمخه آيت کې راغلى و لپاره د وجوب دى كما قال مالک والشافعي دون الاستحباب لکن مظهري د استحباب د قائل نوم نه کړى ذکر. لکن صاحب د روح البيان الحنيفي حقاً وايي چې فقهاء يعنې د مذهب حنيفي وايي چې حمل د سلاح په صلوة الخوف کې واجب نه دى لانه ليس من اعمال الصلوة والامر في قوله تعالى "وليأخذوا حذرهم واسلحتهم" لپاره د وجوب نه دى بلکې لپاره د ندب دى.

پوه سه: چې مظهري لفظ د "لاجناح" خطاء ايستلى دى دده خيال دادى چې د جناح معنى کبيره ګناه ده او کبيره ګناه خو په ترک کې د واجب وي. نو معلومه سوه چې اخذ السلاح او حذر په دې آيت کې هم دا اوس تهر سو واجب و مندوب نه و.

دروښ وايي: چې د "جناح" لفظ نه لغةً نه عرفاً او نه شرعاً په ګناه کبيره پورې خاص دى. نو ترک د مندوب شرعي هم في الجملة جناح ده ولو صغيرة. نو ددې اوسنې آيت معنى داده چې اخذ د حذر او سلاح په صلوة الخوف کې ځنې هم مندوب ده چې تارک يې بلا عذر مرتکب د صغيرې ګناه دى لکن ترک الاخذ مع عذر المطر او المرض ليس فيه جناح اصلاً. هذا تحقيق الحنيفي بالحق محمد عبيد الله الايوبي. وهذا هو الوجه في تسمية الفقير تفسيره بالتفسير الايوبي الحنيفي والله اعلم بالصواب.

وَخُذُوا حِذْرَكُمْ إِنَّ اللَّهَ أَعَدَّ لِلْكَافِرِينَ عَذَابًا مُهِينًا

او تاسي احتياط بايد واخلئ په تحقيق خداى جل جلاله اراسته کړى دى عذاب سپکاوي ورکولو، چې په دې دنيا يا قتل دى يا بنديي کول دي او په قيامت کې دوزخ دى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې په دې آیت کې وعده د خدای ﷻ له خوا ومسلمانانو ته په کومک سره پر کافرانو باندې پس له دې چې دوی امر کړه په حذر سره، دا وعده د کومک به قوي کړي ددوی زړونه او دوی به وپوهېږي چې امر په حذر سره له کفارو څخه په سبب د ضعف ددوی د زړونو دی او نه په دې سبب چې دښمن خامخا پر دوی غالب دی، بلکې په سبب ددې چې دنیا دار الاسباب ده باید اسباب سړی صرف نظر نه کړي بلکې وروسته تر تهې د اسبابو عادیه وو او د بیداری په کار کې د جنګ توکل علی الله وکړي لانه تعالی ناصر عباده في الحقیقة.

ع..... کشت کن پس تکیه بر جبار کن

فَإِذَا قَضَيْتُمُ الصَّلٰوةَ

چې تاسې اداء کړئ صلوة خوف یعنې څنې فارغه سوا ست.

پوه سه: چې قضا دلته په معنا متارفه سره نه ده بلکې په معنا د آداء ده.

فَاذْكُرُوا اللّٰهَ قِيَامًا وَّقُعُوْدًا وَّعَلٰى جُنُوْبِكُمْ

نو تاسې ذکر کوئ د خدای ﷻ حال کونکم قیاماً یعنې چې ولاړ یاست جمع د قائم، وحال کونکم قعوداً چې ناست یاست جمع د قاعد ده، او تاسې پر اړخو پراته یاست.

پوه سه: چې مراد له ذکر څخه تسبیح ده یعنې "سبحان الله" او تحمید دی یعنې "الحمدلله" او تهلیل دی یعنې "لا اله الا الله" او تکبیر دی یعنې "الله اکبر" وغیر ذالک من انواع الاذکار والمقصود استغراق جمیع الاحوال بالاذکار.

پوه سه: چې تسبیح او تهلیل او تکبیر وغیرها لایختص بحال دون حال یعنې یجوز تلک الاذکار في حال الجنابة والحدث ایضاً ما عدی القرآن فانه لایجوز قرائته في حال الجنابة ویجوز قرائته في حال الحدث عن حفظ بدون مس فانه لایجوز مس المصحف للمحدث.

پوه سه: چې مقصود په دې آیت کې مبالغه ده په ذکر کې د خدای یعنې ذکر د خدای د هر کوئ مظهري چونکه په دقیقه نه دی خبر چې مقصود مبالغه ده، نو له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دې سببه چې مراد په آیت کې دوام الحضور دی، ولې چې دوام د ذکر د ډېرې خو ممکن نه دی.

دروبش وایي: چې دوام الحضور والمراقبة خو یېله اولیاء الله المستغرقین في محبته تعالی ممکن نه دی تولو خلګو ته او مخاطب په آیت سره خو یوازې مستغرقین دي. او هغه حدیث چې ابو داؤد روایت کړی دی له عائشې رضي الله عنها څخه چې کان رسول الله ﷺ یذکر الله علی کل احیانه" مراد یې دادی چې ذکر د خدای مخصوص په حال دون حال سره نه دی. او مظهري د هغه حدیث تفسیر په حضور قلبي سره کړی دی والله اعلم بمراده تعالی في الآیة ومراد حدیث عائشه رضي الله عنها. او بعض محدثان وایي چې مراد په آیت کې دادی چې تاسي چې له صلوة الخوف څخه پر هیئت مذکوره فارغه سئ بیا ذکر د خدای ﷻ یعني لمونځونه کوئ قیاماً په حال کې د صحت وقعوداً او علی جنوبکم بحسب الطاقة في حالة المرض یا جراحة یا ضعف. والمقصود ان الصلوة من اعظم ارکان الاسلام فلا یجوز ترکها بل یجب ادائها حسب الطاقة من الاحوال الثلثة.

فَإِذَا اطْمَأْنَنتُمْ فَأَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ

چې هغه وخت چې ستاسي زړونه مطمئن سوه یعني خوف زائل سو، بیا تاسي اداء کوئ لمونځونه سره د تولو ارکانو او شرائطو یعني داسي لمونځ نو بیا نه دی روا لکه په وخت کې د خوف چې مو اداء کاوه.

إِنَّ الصَّلَوٰةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَٰبًا مَّوْقُوتًا

په تحقیق لمونځ چې دی مکتوب او مفروض دی نو "کتاباً" چې مصدر دی په معنی د مکتوب دی، او د مکتوب معنی مفروض ده باتفاق المفسرین او لمونځ موقوت دی په خپلو وختو پورې چې نه قبل الوقت یې اداء روا ده او نه یې بعد الوقت اداء روا ده، البته قضاء یې روا ده.

دروبش وایي: چې دا آیت په تفصیل کې د اوقاتو د لمونځو مجمل دی تفصیل د اول وخت د هر لمانځه او د اخیر وخت په احادیث شریفه وو کې مذکور دي او اصل منبع ددې اوقاتو د لمونځو د اول او د اخیر هغه حدیث صحیح د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بخاري د مسلم وغیرهما دی چې پر علیه الصلوة والسلام باندې په شپه د معراج پنځه لمانځه خدای ﷻ فرض کړه. نو بیا جبرائیل علیه السلام دوی ورځې او شپې علیه الصلوة والسلام ته په مکه مکرمه کې د دوو ورځو لمونځو په جماعت ورکړه او اول او اخیر د لمونځو یې وروښو. لکن بیا هم د امامانو په اول او اخیر کې د بعضو لمونځو اختلاف سته چې ځای د بیان یې کتابونه د فقهې شریفې دي لکن دا څو مسئلې اجماعي دي، یعنې چې اول وخت د سهار دلمانځه طلوع ده صبح صادق دی لکن بعض امامان په غلس کې یې اداء د سهار د لمانځه مستحب بولي. او امام اعظم رحمه الله اسفار مندوب بولي. او فقیه ابو جعفر طحاوي رحمه الله لپاره د جمع د حدیث د اسفار او تغلیس دا مختاره کړې ده چې شروع دی د سهار د لمانځه په غلس کې کوي او اتمام دی په اسفار کې.

او اول د لمانځه د ماپښین اجماعاً وروسته تر زوال د لمر دی لکن اخیر وخت یې پر مرور د یک ځندي سایه پېله سایه د زوال ختم کېږي او په نېز د امام اعظم رحمه الله پر دوه چندي ختم کېږي، نو احتیاط د ماپښین په لمانځه کې دادی چې دمخه تر مرور د یک چندي سړی لمونځ کوي تاچې د مذاهبو له اختلافه ووځي.

او د مازدیګر د لمانځه اول مرور د یک چندي دی په نېز د بعض ائمه وو، او په نېز د امام اعظم رحمه الله وروسته تر مرور د دوه چندي دی، نو احتیاطاً او لپاره د مراعات د مذاهبو باید سړی د مازدیګر لمونځ وروسته تر رسېدلو د دوه چندي اداء کړي، او ځندول د مازدیګر د لمانځه تر اصفراره پورې د لمر مکروه تحریمي دی.

او اول وخت د ماښام د لمانځه غروب الشمس دی او اخیر وخت یې قبل غروب الشفق ای الاحمر او الابیض علی اختلاف المذاهب. نو احتیاط دادی چې د ماښام لمونځ په شفق احمر کې سړی اداء کړي.

او اول د ماخستن د لمانځه وروسته تر غروب د شفق دی لکن احتیاط دادی چې وروسته تر شفق ابیض یې سړی وکړي تاچه له اختلاف څخه ووځي، او ځندول د ماخستن د لمانځه تر ثلث اللیل پورې مندوب دی الا عند تقلیل الجماعة او تر نصف اللیل وروسته پورې ځندول مکروه دی، د دروېش خپله شخصي رایه داده چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په وخت کې د حج یا د عمرة الرمضان مراعات د جماعات عظمی د حرمین شریفینو دې سرې کوي لغاية اجماع الناس في هذين الوقتين في الحرمين الشريفين.

فائده: په شرح کې د حکم عطائیه وایي چې خدای ﷻ ته د بندګانو حرص او ملال معلوم و. نو حکمه یې طاعات لږ او متفرق پر دوئ فرض کړه، لکه په شبانه روز کې پنځه لمونځونه او د هر لمانځه وخت یې تر فرضي لمانځه ورزیات کړی تاچه که په اختیار چا بعض نوافل لمونځونه کول وبه یې کړي، او په کال کې یې یو واړ روژه پر فرض کړه، او په دوه سوه روپو کې یې زائد عن الحاجة اصلي او کال هم پر تېر سي پنځه روپۍ زکوة یې پر فرض کړی.

فائده: په صحیح حدیث نبوي ﷺ کې راغلي دي چې پینځه قسمه خلګ دي چې ددوی اور نه مري. او نه مري چینجان ددوی ولا یخفف عنهم من عذابهم.

اول مشرک بالله دی. دوهم عاق د والدینو دی. دریم د همسایه د مایني سره زنا کول دي، څلورم هغه جاسوس دی چې سلطان جائر ته د خپل ورور جاسوسي کوي، او پینځم هغه څوک دی چې اذان واوري او جماعت ته نه سي ور من غیر عذر.

پوه سه: چې بغوي رحمه الله علیه وایي چې په جنګ کې د احد چې مشري یې د ابو سفیان پر غاړه وه. اوویا مسلمانان پکښې شهیدان سوه او د هر مسلمانان زخمیان سول حتی چې رسول الله ﷺ هم پکښې زخمي سو. نو ابو سفیان د مکې پر خوا یو څو میله ولاړی بیرته یې اراده د رجوع وکړه مدینې ته چې د مسلمانانو استیصال وکړی حتی علیه الصلوة والسلام هم شهید کړي، نو جبرائیل علیه السلام و علیه الصلوة والسلام ته راغلی او د ابو سفیان د رجوع حال یې راوړی او دا یې وویل چې تاسي مخ ته ور ووځئ. علیه الصلوة والسلام چې دا خبره مسلمانانو ته واوروله هغو د خپلو تپو د دردو ذکر ورته وکړی. یعنې په دې تازه درناکه تپو کې مو ږ څرنګه بیرته جنګ ته ولاړ سو، نو دا آیت نازل سو.

وَلَا تَهِنُوا فِي ابْتِغَاءِ الْقَوْمِ

تاسي مه ضعیفه کېږي ای مسلمانانو که څه هم که څه هم په الم د جراحاتو مبتلی یاست. په طلب کې د جنګ د قوم یعنې ابو سفیان او ډډه د فوج چې رجوع یې وکړه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنْ تَكُونُوا تَأْلَمُونَ فَإِنَّهُمْ يَأْلَمُونَ كَمَا تَأْلَمُونَ ۚ

که تاسي ته الم د جراحاتو د احد درسره دی، نو کفار خو هم الم د جراحاتو لري لکه تاسي چي الم د جراحاتو لرئ، ولي چي د ابو سفیان په لښکر کي هم بعض نفر تپیان وه.

وَتَرْجُونَ مِنَ اللَّهِ مَا لَا يَرْجُونَ ۗ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿١٠٤﴾

او تاسي امید لرئ وخدای ﷻ ته په اخرت کي د ثواب او د جنت چي کافران هغه امید نه لري، ولي چي دوی بعث بعد الموت نه منې، او دی خدای ﷻ ښه خبر په حال ستاسي او د کافرانو بلکي د هرشي في السماء والارض. او خدای ﷻ حکمت لري په تولو اوامرو کي او په منهیاتو کي. لکن ابو سفیان ته وروسته تر ارادې د رجوع خدای پاک په زړه کي بهره ورواچول او ملګرو ته یې وویل چي اوس د مسلمانانو دغه مړي او تپونه بس دي بیا به یې بله پلا ګورو.

إِنَّا أَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ

په تحقیق موږ پر تا باندې نازل کړی اې محمد ﷺ کتاب چي قرآن کریم دی.

دروښ وایي: چي ددې آیت په شان نزول کي داسي متضاد قولونه بعضو مفسرینو راوړي دي چي هیڅ جمع یې نه ده ممکنه یعنې چي دا آیت دي ددې تولو په شان کي نازل سوی وي، او صاحب د روح البیان الشیخ اسماعیل حقي چي وفات یې په سنه ۱۱۲۷ھ سوی دی وایي چي یو سړی و له انصارو څخه چي طعمه بن ابیرق یې نوم و د بني ظفر له قوم څخه و، یوه زغره یې د خپل همسایه قتاده بن نعمان څخه غلا کړه چي هغه زغره په بوجی کي د اوړو وه، او د بوجی بیخ سوری و طعمه بوجی په شا کړه. نو اوړه تر هغه سوري لیکه په پسې وه او د زید بن السمین یهودي کورته یې ورووړه چي دا خوندي کړه، نو د قتاده شک هم پر طعمه راتلی چي طعمه دي غلا کړې وي، ولي طعمه قدیم د جاهلیت د وخت غل و، طعمه چي یې تینګ کړی او د کور تلاشي یې وکړه خو زغره له ده سره نه سوه پیدا او په خپله طعمه هم قسم ورته واخستی یعنې والله بالله ماسرقتها ومالها علم، نو قتاده بن نعمان او خپلوانو یې طعمه خوښي کړی، نو یې د وړو پل پسې واخستی،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نو د یهودی زید کورته د وړو پل ورغلی، نو یهودي یې تینګ کړی، نو یهودي ورته وویل چې دا بوجی چې زغره هم پکښې وه ماته طعمه بن ابیرق راوړه چې دا راخوندي کړه او نورو ډېرو یهودانو هم پردغه شاهدي ورکړه چې دغه بوجی مورِ ولیدل چې طعمه زید بن السمین ته ورکړه، نو د طعمه قوم چې بنې ظفر وه د شپې سره ټول سول چې درځئ چې رسول الله ﷺ ته ورسو چې دا غلا له طعمه څخه واړوي چې زمورږ د ټوله قوم رنګ په بدېږي او پر یهودي یې تهمه کړي، نو هغه وچې علیه الصلوة والسلام وویل چې یهودي ته دي عذاب د قطع الید ورکړه سي په سبب د قوم د طعمه علی برائته من السرقة وعلی ان الیهودي هو السارق، او چونکه علیه الصلوة والسلام د جرح ځای په شاهدي کې ددوی نه ولیدی، ولې چې شاهدان او مشهود له دواړه ظاهراً مسلمانان وه، مګر علیه الصلوة والسلام په دې باب کې توقف وکړی د وحي په انتظار فنزلت هذه الآیات، او دې آیاتو علیه الصلوة والسلام ته دا ثابته کړه چې طعمه او قوم دده ټوله کاذبان دي او یهودي له غلا څخه بري دی، او روح البیان دا روایت هم کړی دی چې طعمه چې خبر سو وتښتېدی مکې مکرمې ته او مرتد سو، او په مکه کې یې د شپې د خواړ یو چاد کور دېوال سوری کاوه چې دکور سامان غلا کړي نو دېوال پر راونړېدی او تر دېوال لاندې مړ سو، ولهذا قیل اذا عثرت رجلاً علی سیئة فاعلم ان لها اخوات.

له امیر المؤمنین عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چې یو سړي غلا کړې وه او ماته راغلی، نو ما د قطع الید حکم پر وکړی، نو د هغه مور راغله او ژړل یې او عمر رضي الله عنه ته یې ویل چې زما د زوی دا اوله غلا ده عفوه ورته وکړه، عمر رضي الله عنه ورته وویل چې درواغ وایي په اوله ګناه خدای ﷻ څوک نه رسوا کوي.

دروښ وایي: چې صاحب د روح المعاني السید الوسي علامة بغداد رحمه الله چې په سنه ۱۲۷۰ هـ کې وفات سوی دی هغه دوه قسمه مخالف شان نزوله بیان کړي دي، وروسته تر هغه قاضي ثناء الله رحمه الله المشهور بالمظهري چې هغه په سنه ۱۲۲۵ هـ کې وفات سوی دی چې هغه بیا رقم رقم شان نزوله بیان کړي دي.

دروښ وایي: چې دا د بیان د اختلاف د اهل تفسیر په شان کې د دې آیت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وعندي الارجح ماذكر صاحب روح البيان. والعلم عند الله العزيز العلام.

بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَآ أَرٰىكَ اللّٰهُ ؕ

ای متلبساً بالحق ای الامر والنهي والعلوم الحقة تاچه ته حکم وکړې په منځ کي د خلګو په هغه چي خدای ﷻ درښوولي وي او وحي يې کړي وتاته چي په دې مخصوصه پېښ شده قضيه کي طعمه سارق دی او که يهودي.

پوه سه: چي په دې آيت کي دليل پر دې دی چي عليه الصلوة والسلام حکم په ظن سره نه کاوه بلکې يقين ته به منتظر و بالوحي کما في هذه القضية.

فائده: بعض علماء وايي چي له دې آيت څخه دا معلومه سوه چي عليه الصلوة والسلام لره اجتهادي حکم کول نسته لکه نورو مجتهدينو ته د امت مرحومه لکن حق داده چي نبي ﷺ ته اجتهاد روا و که قضيه تر لاس وتله تر انتظار د وحي، او که قضيه له لاسه نه وتله بيا انتظار د وحي هم روا دی او اجتهادي حکم هم روا دی، کذا قال الشيخ ابو منصور الماتريدي قدس سره، او که چېرې عليه الصلوة والسلام حکم په اجتهاد سره وکړی او خدای ﷻ مطلع پر خطاء ونه ګرځوی، نو عليه الصلوة والسلام ته دا يقين کېږي چي حکم اجتهادي زما حق عند الله دی بخلاف سائر مجتهدي الامة.

دروښ وايي: چي د مجتهدينو د امت په باره کي لوی اختلاف دی چي په تلويح الاصول او مسلم الثبوت کي يې مفصل بيان موجود دی دلته يې نقل اجمالي و متعلم ته ددې تفسير فائده نه کوي، او بيان تفصيلي يې د زړکوونکو ددې تفسير ډېر مشکل کار دی، ولهذا اعرضت عن بيانه اجمالاً وتفصيلاً.

وَلَا تَكُنْ لِّلْخَآئِنِيْنَ خَصِيْمًا ۙ

"او ته مه ګرځوه" دا جمله عطف ده پر "انزلنا" باندې. د خائنانو يعني ددوی د خلاصونه "خصيماً" دلته په معنا د مدافع دی.

سوال: "انزلنا" خو جمله خبريه ده او "لاتكن" خو جمله انشائيه ده، نو عطف به يې څرنګه صحيح وي؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خواب: ودې ته عطف بالمعنی وایي په نحو کي، یعني قلنا ورسره مقدر دی، والتقدیر وقلنا لاتکن، نو عطف د اخبار پر اخبار دی.

پوښتنه: خائن خو یوازې طعمه و کمامر، نو د جمعیت څه معنی ده؟

خواب: د طعمه قوم چې بني ظفر و دوی هم غوښتونکي وه چې دا غلا دي پر یهودي زید بن السمین تاوان سي او طعمه دي بري سي کمامر عنقریب.

وَّاسْتَغْفِرِ اللّٰهَ ۚ

او ته طلب د بخښنې وکړه له خدای ﷻ څخه.

پوه سه: چې که څه هم علیه الصلوة والسلام د غلا حکم پر یهودي نه دی کړی او وحي ته منتظر و لکه په زړه کي یې دا وه چې طعمه پر حق دی په شهادت د قوم او یهودي ملامت دی، نو له دې سببه خدای ﷻ دی امر کړی په استغفار سره لما قالوا ان امر الخطیر خطیر.

اِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۝ وَلَا تُجَادِلْ عَنِ الَّذِيْنَ يَخْتَانُوْنَ اَنْفُسَهُمْ ۚ

په تحقیق خدای ﷻ بخښونکی د ګنهو دی او علاوه پر بخښه مهربان هم دی، او بحث او مدافعه مه کوه د هغه کسانو له طرفه لکه چې طعمه او قوم دده وو چې دوی خیانت کوی د خپلو ځانو سره.

سوال: دوی خو خیانت د یهودي سره کاوه د خپلو ځانو سره خو یې نه کاوه؟

خواب: چونکه وبال او عذاب د دوی د خیانت عاقبة الامر ودوی ته راجع کېږي، نو ځکه "یختانون انفسهم" راوړه سو.

پوه سه: چې په دې آیت کي که څه هم په طعمه او قوم کي د هغه نازل دی لکن حکم یې عام دی کما هو حکم الاحکام القرآنیة موردها وان کان خاصاً لکن احکامها عامة.

اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ خَوَّانًا اَثِيْمًا ۝

په تحقیق خدای ﷻ محبت نه کوي بلکې بغض کوي، ولي چې د خدای ﷻ او د بنده تر منځ، د حب او بغض تر منځ واسطه نسته لکه په بندګانو کې چې واسطه سته کما لایخفی علی کل عاقل، هغه څوک چې د بر خیانت کونکی او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دهر گناه کار وي يعني هر څوک چې وي لکه په مانحن فيه کې طعمة کمامر في احوال خيانته حتى مات في الخيانة والسرقة في مكة كمامر.

يَسْتَخْفُوْنَ مِنَ النَّاسِ

دوی يعني طعمه او قوم دده ځانونه پټوي له خلګو حياء او په سبب د رسوائي له بيري.

دروښ وايي: چې په اوسنۍ زمانه کې اکثره خلګ حتى العلماء بيره د رسوائي د خلګو په زړه کې لري او د خدای ﷻ بيره يې په زړه کې نه وي. بيت

واعظان کين جلوه درمنبر ومحراب ميكنند
چون بخلوت ميروند آن كاری ديگران ميكنند

وَلَا يَسْتَخْفُوْنَ مِنَ اللّٰهِ وَهُوَ مَعَهُمْ

او له خدای ﷻ څخه ځان نه پټوي او حيا نه لري، او حال دادی چې خدای پاک احق بالحياء دی لانه تعالى عالم الغيب والشهادة وقادر على التعذيب والفضيحة، او حال دادی چې خدای پاک د دوی سره ورسره ورسره دی يعني په اعتبار د علم او قدرت، نو د داسې عالم، خبير خدای ﷻ سره بله چاره نسته چې بنده به پټ له خلګو څخه مالا يحب الله کار نه کوي.

اِذْ يُبَيِّتُوْنَ مَا لَا يَرْضٰى مِنَ الْقَوْلِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ بِمَا يَعْمَلُوْنَ مُحِيْطًا ۝

هغه وخت چې دوی يعني طعمه او قوم دده بنو ظفر د شپې د درواغو بندبست کاوه چې عليه الصلوة والسلام ته به داسې درواغ وايو چې طعمه بري دی او يهودي اصل غل دی چې دا داسې قول دی چې خدای ﷻ نه دی په راضي او خدای پاک په عمل ددوی محيط علماً دی.

فائده: اذ" ظرف دی د متعلق د ظرف چې معهم دی او ترجمه چې ماوکړه پر تقدير ددې ده چې کلمه د "ما" مصدريه سي او که موصوله، نو عائد و "ما" محذوف ته دی والتقدير بما يعلمونه محيط، فتدبر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هَآ أَنتُمْ هَٰٓؤُلَآءِ

پوه سه: چې "ها" حرف تنبیه ده او "انتم" مبتداء ده او "هؤلاء" منادی ده په حذف د حرف نداء او وروسته جمله خبر ده مبتداء ده.

جَٰدَلْتُمْ عَنْهُمْ

تاسي اې قومه د طعمه بن ابیرق لپاره ددې مو جدال یعني ناحقه درواغ پر لار اچولي دي ددوی له خوا څخه یعني ابن ابیرق او امثاله له خوا. حتی چې موضوع د طعمه د جدال مو علیه الصلوة والسلام ته ورسول چې غواړي چې دی هم په حکم کې طعمه خطا باسي.

سوال: د "جادلتم" ضمیر خو د طعمه و قوم ته راجع دی، نو "عنهم" ضمیر وجاته راجع دی؟

ځواب: ضمیر د "عنهم" راجع دی و طعمه ته وامثاله المفروضة کما اشرنا الیه او یا ضمیر د "عنهم" هم راجع دی و قوم ته د طعمه باعتبار التغایر الاعتباري بین المجادلین، والمجادلین عنهم فتدبر غایة التدبر.

فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ فَمَن يُجَٰدِلُ ٱللَّهَ عَنْهُمْ

په دې دنیا کې یعني دفعه د سرقې له طعمه څخه او رسوایي ددې له قوم څخه. نو څوک به مجادله او بحث وکړي د خدای ﷻ سره په باره کې د طعمه او د قوم ددې والاستفهام للانکار یعني هیڅ څوک توان او طاقت نه لري چې طعمه او ددې قوم له عذاب څخه د خدای ﷻ خلاص کړي. ان اراد الله تعذیبهم.

يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ أَم مَّن يَكُونُ عَلَيْهِمْ وَكِيلًا ۝

په ورځ د قیامت، قال النحویون چې د "ام" وروسته چې بل حرف استفهام وي لکه "ام ماذا کنتم" یا "ام کیف ینفع" یا په دې "ام من" نه متصله دی نه منقطعه دی چې په معنا د بل ا دی بلکې صرف په معنی د بل دی، والمعنی بلکې څوک پر دوی یعني ددوی لپاره وکیل یعني ذمه کونکی د عذاب د خدای ﷻ یعني وکیل چې خپل موکل له عذابه څخه ساتي ددوی ساتونکي به څوک وي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَنْ يَّعْمَلْ سُوْٓءًا اَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهٗ

او که څوک عمل د بدو يعني بل چاته بد ورسوي، او يا ظلم وکړي پر ځان باندې يعني ګناه لازمي وکړي چې ضرر بل ته متجاوز نه سي، او بعض مفسرين وايي چې مراد له "سوء" څخه ماسوی د شرک ده او مراد له دې ظلم څخه شرک دی، او بعض علماء وايي چې مراد له "سوء" څخه صغيره ګناه ده او مراد له "ظلم" څخه کبيره ګناه ده.

ثُمَّ يَسْتَغْفِرِ اللّٰهَ

او بيا طلب د بخښې وکړي له خدای ﷻ څخه په توبه سره که لازمي ګناه او يا په عفوه د مظلوم او رد د مظالمو که متعدي وي ګناه وه يعني حق العبد پکښې و.

يَجِدِ اللّٰهَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۱۱۰﴾

خدای ﷻ به پيدا کړي بخښونکی د ګناه او مهربانه والمراد رحمة زائدة على المغفرة په دې آيت کې اشاره ودې ته ده چې ابن ابيرق او قوم دده توبه وکړې له ظلم څخه پر يهودي باتهامه بالسرقة کمامر تفصيله عنقريب اللهم اغفرلي ذنوبي کلها بحرمة اول يوم من شهر رمضان المبارک يوم السبت سنه ۱۴۲۷ هـ ق

وَمَنْ يَّكْسِبْ اِثْمًا فَاِنَّمَا يَكْسِبُهٗ عَلٰى نَفْسِهٖ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿۱۱۱﴾

که څوک کسب وکړي د ګناه که صغيره وي او که کبيره وي، دی کسب د ګناه پر ضرر د خپل ځان، او دی خدای ﷻ ښه خبر په اعمالو د بندګانو من الحسنات والسيئات او حکمت لري په مجازاتو کې يا په دنيا کې او يا په اخرت کې.

خَطِيْٓـَٔةً اَوْ اِثْمًا ثُمَّ يَرْمِ بِهٖ بَرِيْٓـًٔا

بعض علماء وايي چې مراد له "خطيئة" څخه صغيره ګناه ده او بعض وايي چې په قصد نه وي، يا ګناه کبيره يا په قصد سره، بيا متهم کړي په هغې ګناه يو څوک چې له هغې څخه پاک وي لکه په مانحن فيه کې چې طعمه بن ابيرق زيد بن السمين يهودي په غلا متهم کړي.

پوه سه: چې ضمير د "به" يې مفرد راوړی او مذکور په مرجع کې دوه شيان دي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یعني "خطیئة او اثماً" له دې سببه چې نحات وایي چې مذکور په "او" سره چې هر څو شیان وي ضمیر د مفرد ورته راجع کېږي لان المراد بکلمة او احد الاشیاء المذکورة.

فَقَدِ احْتَمَلَ بُهْتَانًا وَّإِثْمًا مُّبِينًا ﴿١١٢﴾

دده پر ځان واخستی بار د دروغو چې عقول ورته په حیرت کې دي والبهت الحیرة. دروېش وایي چې بهتان اشد دی اثماً تر غیبت، او ګناه ښکاره بسبب رمي البريئ.

فائدة في الاستغفار: په صحیح حدیث کې له حضرت علي ﷺ څخه روایت دی چې ماته ابوبکر ﷺ وویل وصدق ابوبکر ﷺ قال ما من عبد یذنب ذنباً ثم یتوضا ویصلي رکعتین ویستغفر الله الا غفر الله له. ثم تلا ابوبکر ﷺ هذه الآیة ومن یعمل سوء الآیة. قال الشاعر الفارسي.

ای بې حد گناه کردستی — می نه ترسی ازآن فعال شنیع
توبه کن تارضای خدا یابی — که به از توبه نیست هیچ شفیع

پوه سه: چې استغفار فرار العبد من الخلق الی الخالق جل شانه. وفي الحدیث القدسي الا من طلبني وجدني. قال موسی علیه السلام ایښ اجدک یاربي "زه به تا چېرې پیدا کوم ای زما خدایه "قال اذا قصدت الي فقد وصلت الي" چې قصد وکړې ماته په تحقیق ماته وصل سوې. وقال

سلطان بلا عدل کنهر بلا ماء — وعالم بلا عمل کبیت بلا سقف
وغنی بلا سخاء کسحاب بلا مطر — وشاب بلا توبة کشجر بلا ثمر
وفقیر بلا صبر کقندیل بلا ضوء — وامرئة بلا حیاء کطعام بلا ملح

قال السعدي الشیرازي قدس سره

ناگهان بانگ در سرای افتاد — که فلان را امحل وعده رسید
دوستان آمدند تا لب گور — قدمی چند باز پس گردید
وین کنزو دسترس نمید اری — مال وملک وقباله برده کلید
واین که پیوسته باتو خواهد بود — عمل تست ونفس پاک ویلید
نیک در یاب وید مکن زنهار — که نیک وید باز خواهد دید

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ وَرَحْمَتُهٗ لَهَمَّتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ اَنْ يُّضِلُّوْكَ ؕ

که نه وای فضل د خدای ﷻ پر تا باندي ایها النبي ﷺ او رحمت دهغه.

پوه سه: چې د فضل معنی عصمت ده او د رحمت معنی لطف او مهربانۍ ده چې ته یې په پټ حال د طعمه او قوم خبر کړې، نو هر آئینه قصد کړی و یوې طائفې د مسلمانانو ظاهراً چې بنو ظفر د طعمه قوم و. دوی چې تا خطاباسي په قضاء کې په باب کې د غلا د ابو قتاده د زغرې په چم بازی سره، حتی چې ته حکم د غلا پر ابن ابیرق طعمه باندي ونه کړی بلکې پر یهودي زید بن السمین باندي دي وکړی.

پوه سه: چې جمله د "لهمت" څواب د "لولاء" ده.

سوال: په نحوه کې وایي چې څواب د "لولاء" به منفي وي په سبب د وجود د شرط مثل لولاء زید لهلک عمرو، او په دې ځای کې خو مقصد د طائفې موجود و منفي نه و؟

ځواب: صحیح ده چې مقصد د طائفې موجود و لکن چونکه تاثیر یې ونه کړی یعني د علیه الصلوة والسلام په خطاء ایستولو کې فنزل وجود الهم منهم منزلة العدم فصح کون جملة لهمت آه، جواب لولاء علی القانون النحوي بناءً علی التنزیل المذکور فتامل.

وَمَا يُضِلُّوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ وَمَا يَضُرُّوْنَكَ مِنْ شَيْءٍ ؕ

ولې ضرر ددوی ودوی ته راجع سو، او تاته ایها النبي ﷺ ضرر نه سي رسولای په شي سره لعصمت الله ایاک من ضررهم.

پوه سه: چې "من شئ" محلاً منصوب دی مفعول مطلق د "یضرونک" دی ای شیئا من الضرر.

پوښتنه: عدم اضلال آه او عدم ضرر آه خو دواړه تر حکایت د قرآن دمخه واقع وه نو مقتضی د ظاهر خو دا وه "وما اضلوا الا انفسهم وما اضروک بشئ" نو د مضارع صیغه یې راوړه وجه یې څه ده؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: په نحوه کې دې ته احضار د حالت ماضیه وایي لکه عرب چې حال عجیب ماضي حاضر فرضوي لیتعجب منه المخاطبون فیعبرون بالمضارع الدال علی الحال.

وَاَنْزَلَ اللّٰهُ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ

او نازل کړی دی خدای ﷻ پر تا کتاب ای القرآن او حکمت ای العلوم الحقة کما ثبتت بالآحادیث لانه علیه الصلوة والسلام لا ینطق عن الهوی ان هو وحي یوحی نو دا سوال نه وارد ږدي چې علوم ثابته بالاحادیث النبویه، نو وحي نه او منزل من الله نه دي.

وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ ؕ

او تاته درښولي دي خدای ﷻ هغه شیان چې ته دمخه نه وې په خبر، یعني اسرار او غیبي شیان، قتاده رحمه الله وایي علمه الله تعالی علوم الدنیا والآخرة کالحلال والحرام وغیرهما من امور الدنیا والجنة والنار من امور الآخرة.

وَكَانَ فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ عَظِيْمًا ۝

او دی فضل د خدای ﷻ پر تاباندي لوی چې هغه نبوت دی او ختم النبوة پر تا، او سید المرسلین ګرځول ستا الی غیر ذالک.

ع ..... آنچه خوبان همه دارند تو تنها داری

لَا خَيْرَ فِيْ كَثِيْرٍ مِّنْ نَّجْوٰىهُمْ

هیڅ خیر نشته په پټو خبرو کې ددوی او په مشورو کې ددوی د شپې لکه قوم د ابن ابیرق چې به کولې په باره کې د خلاصون د طعمه له تهمته د سرقې، فالضمیر نجواهم راجع الی قوم ابن ابیرق کما مقتضیه سیاق الکلام، په قاموس کې وایي چې "نجوی" مصدر دی په معنا د سرناجیه ای ساریه.

دروښ وایي: چې "نجوی" تخصیص په شپه پورې نه لري، وان کان النجوی فیما نحن فیه ای قوم طعمه لیلاً.

بوه سه: چې که "نجواهم" راجع وقوم ته د ابن ابیرق سي، نو دا استثناء منقطع ده، ولي چې من امر بصدقة خو داخل په قوم کې د ابن ابیرق نه و، او مجاهد رحمه الله وایي چې "نجواهم" راجع دی ومطلق تاسو ته المفهوم من المقام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والمذکور حکماً، نو پر دې تقدیر استثناء متصله ده من الضمیر المذکور.

إِلَّا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ أَوْ إِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ ۚ

پوه سه: چې "معروف" هغه عمل ته وایي چې حسن یې شرعا معلوم وي کالصدقة النفلیة والزکوة المفروضة والقرض وغیر تلک من اعمال البر، یا په اصلاح کې د خلګو پټ مجلس سره کوي.

پوه سه: چې "او اصلاح آه" عطف دی پر "معروف" او دا تخصیص بعد التعمیم دی لان المعروف شامل للاصلاح المذکور.

پوښتنه: فائده د عطف یې څه ده؟

ځواب: مزید اهتمام په شان سره د اصلاح مذکور او یا دا چې اصلاح بین الناس ګاهي په غیر معروف سره وي لکه اصلاح په درواغو ویلو سره د مصلح، چناچه د ام کلثوم بنت عقبه رضی الله عنها څخه روایت دی چې علیه الصلوة والسلام وویل "لیس بالکذاب من اصلح بین الناس" نه دی درواغجن هغه څوک چې اصلاح په منځ کې د خلګو کوي په درواغو سره "فقال خیراً او نمی خیراً" نو ده خیر خبره وکړئ یا د خیر خبره چاته ورسوي یعنې چې درواغ وي متفق علیه.

د اسماء بنت یزید رضی الله عنها څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وویل "لا یحل الکذب الا في ثلاث کذب رجل امرئته لیرضیها" مثلاً د سړي ماینه ناراضه وي چې ماته ولي د اختر ښه کالي نه راکوې؟ دی شی نه لري ورته وایي چې زما پر فلاني سړي پیسې باندي دي چې هغه یې راکړې دستي به تاته کالي دروکړم، او دا خبري یې ټوله درواغ وي "والکذب في الحرب" او درواغ په جنګ کې د کافرانو "والکذب لیصلح بین الناس.

وَمَنْ يَفْعَلْ ذَٰلِكَ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا ۝

یعنې که څوک وکړي یو له دغو شیانو یعنې الامر بالصدقة او یا امر بمعروف یا اصلاح بین الناس، لپاره د طلب د رضاء د خدای ﷻ ژر دی چې موږ به ورکړو ثواب لوی چې جنت دی په ورځ د قیامت.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې ددې قيد فائده داده که چېرې يو سړی دغه کارونه وکړي لکن سمعةً ورياءً حق د اجر نه لري "انما الاعمال بالنيات وانما لامرئ مانوى"

پوه سه: چې بعض قاريان "نوّتيه" په نون د متکلم وايي او بعض يې په ياء د غيبت وايي چې ضمير يې راجع و خدای ﷻ ته دی.

وَمَنْ يُّشَاقِقِ الرَّسُوْلَ مِنْۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدٰى

او څوک چې مخالفت وکړي له رسول ﷺ څخه چې مراد څنې عليه الصلوة والسلام دی وروسته تر دې چې ښکاره سي و ده ته هدايت چې عبارت دی ماجاء به الرسول يعني ودغه مخالف ته ښکاره بدليل قطعي وهو القرآن المعجز، او معجزات اخر چې دا لار د رسول چې دين د اسلام دی حق دی يعني بيا يې هم مخالفت اختيار کړی بعدم الايمان به.

پوه سه: چې فايده د قيد "من بعد آه" داده چې هغه مخالفت الرسول څنې وباسي چې ده ته خبر د ماحکم به الرسول نه وي ور رسېدلی، او يا حکم د رسول ور رسېدلی وي لکن په داسې سند چې بعض راويان يې متهم وي او يا مجتهد وي په فهم کې د مراد د رسول من الحديث خطاوتلی وي فانهم کلهم معذورون.

پوه سه: چې مخالفت ته شقاق وايي لان کلا من المخالفين في شق من الآخر.

وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيْلِ الْمُؤْمِنِيْنَ نُوَلِّهٖ مَا تَوَلّٰى وَنُصْلِهٖ جَهَنَّمَ ۭ وَسَاۗءَتْ مَصِيْرًا ۝

او متابعت وکړی د ماسوی د لاري د مؤمنانو يعني په اعتقاداتو کې او په اعمال حسناتو کې، موږ به دې والي وګرځوو د هغه لاري چې د تولی او متابعت خوښ کړي د څان لپاره يعني الکفر والضلال، او موږ به د اخرت په ورځ دی داخل کړو وجنهم دوزخ ته د سوځولو لپاره او بد دی جهنم ځای د ورتلو.

پوه سه: چې بغوي رحمه الله وايي چې دا آيت په شان کې د طعمه بن ابيرق نازل سوی دی چې دی په غلا سره محکومه سو د عليه الصلوة والسلام له خوا څخه، نو د قطع اليد له بېرې او د رسوائي له بېرې مکې ته وتښتېدی او مرتد سو ومات کافرا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې علامه بغدادي الشيخ الالوسي رحمه الله عليه يخپل تفسير کې وايي چې محمد بن ادريس الشافعي رحمه الله عليه په دغه آيت سره دليل پر حجت د اجماع الامة المرحومة وايي، چناچه مزني چې د امام شافعي رحمه الله عليه شاگرد و وايي چې زه يوه ورځ د امام شافعي سره ناست وم چې يو سپين ږيرى خاوند د هيبت چې له وړيو څخه جوړ سوي ژړ کالي يې اغوستي وه او لکړه يې په لاس کې وه راغلى او شافعي رحمه الله عليه چې يوې ستنې ته د مسجد تکيه کړې وه د شيخ د هيبت له وجهې سم کښېنستى او کالي يې پر ځان سم کړه شيخ چې راغلى وروسته تر سلام يې امام شافعي رحمه الله عليه ته وويل ما الحجة في دين الله، قال الشافعي کتاب الله ﷻ شيخ ورته وويل وماذا يعني وروسته تر کتاب الله دليل څه شى دى سنت نبيه ﷺ، شيخ ورته وويل وروسته بيا حجت څه شى دى شافعي ورته وويل اجماع الامة، شيخ ورته وويل افي کتاب الله، آيا دا په قرآن کې سته يعني چې اجماع حجت قطعي، امام شافعي يو ګړى ساکت سو، شيخ ورته وويل چې زه درې ورځې درې شپې تاته مهلت درکوم که دې آيت په باب پيدا کړى خو فبها ونعمت او که دې نه کړى پيدا له خلګو څخه به ګوښه کېږي، مزني وايي چې درې شبانه روزه امام شافعي رحمه الله عليه له کوره نه راوتى، دريمه ورځ په منځ کې د ظهر او د عصر امام شافعي رحمه الله عليه مسجد ته راووتى په داسي حال کې چې رنګ يې ډېر تغير کړى و او شيخ هم راغلى سلام يې ووايه او کښېنستى او وه يې ويل "حاجتي" يعني زما حجت دې پوره کړى، شافعي رحمه الله عليه ورته وويل نعم اعوذ بالله من الشيطان الرجيم قال الله ﷻ ومن يشاقق الرسول" تر اخيره پورې د آيت، شيخ ورته وويل صدقت وقام وذهب، شافعي رحمه الله عليه وايي چې ما قرآن شريف په هر شبانه روز کې د مهلت د شيخ درې درې واره ختم کاوه حتى چې دا آيت مې پيدا کړى.

دروښ وايي: چې توجيه د استدلال په دغه آيت سره پر حجيت د اجماع داده چې خداى ﷻ په دې آيت کې د وعيد زېرى پر دوو ډلو وکړى مراد له وعيد څخه "ونصله جهنم آه" او مراد له دوو ډلو څخه يوه "من يشاقق الرسول آه" ده او بله "ويتبع غير آه" دى، او دا خو عقل نه مني چې مشاقه د رسول دي يوازې سبب د وعيد وي،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والا لغا الثاني يعني ويتبع آه. او دا هم له عقله لېرې خبره ده چې مجموع مشاقة او اتباع د غير د سبيل آه دي من حيث المجموع سبب د وعيد وي. ولې چې مشاقة الرسول يوازې مستقل دې په وعيد کې. فلاحاجة الى ضم الاخر. نو دا معلومه سوه چې هر يو مستقل دې په استحقاق کې د وعيد. نو نتيجه دا سوه چې اتباع د غير سبيل المؤمنين حرامه ده لکونه سبباً للوعيد استقلالاً. نو چې يو ضد حرام سي بل ضد يې واجب ګرځي. نو اتباع د سبيل المؤمنين واجبه ده. وهو المعنى من حجية الاجماع. وفي الحديث ايضاً مايدل عليه. چناچه روايت بيهقي او ترمذي ګړي دی له ابن عمر او ابن عباس رضي الله عنهم څخه چې دوی وويل لايجمع الله هذه الامة على الضلالة ابداً ويد الله على الجماعة ومن شذ شذ في النار.

دروښ وايي: چې مشاقت د رسول کريم ﷺ دونده درنه ګناه ده چې طعمه بن ابيرق چې دا د مخالفت لار خپله کړه د تاريخ په پاڼو کې دا خبره خو متفق عليه ده چې دې مکې ته ولاړې او مرتد سو. نور په تاريخ اسلامي کې اختلاف دی بعض وايي چې مړ سو او په فلاني سبب قتل سو يا مړ سو. او قبر يې چېرې دی. تقريباً درې روايته په دې باره کې راغلي دي. نعوذ بالله من غضبه وغضب رسوله.

إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ ۚ وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا بَعِيدًا ﴿١١٦﴾

په تحقيق خداى پاک نه بخښي شرک په ده سره. او خداى ﷻ بخښي هغه ګناه چې تر شرک کمه وي که که صغيره وي او که کبيره وي بالتوبة او بلا توبة هغه چاته چې د مغفرت مشيت يې ورته وسي. او څوک چې خداى ﷻ شريک ووايي خواه شريک په وجوب الوجود لکه مجوس چې وايي چې عالم لره دوه خدايه واجب الوجود سته يو خالق الخيرات دی چې هغه ته دوی يزدان وايي. او بل خالق الشرور چې هغه ته دوی اهرمن وايي يا شيطان او يا شريک في العبادة ورته وايي لکه مشرکين د مکې او يا مشرکين د هندوستان او يا د جاپان الى غير ذالک. نو هغه سړی ګمراه سو په ګمراهي بعيد من الحق جداً.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې کلمه "ان" مصدري ده يعني اذا مات على الشرک.

پوه سه: چې اعظم د جرائمو شرک دی له دې سببه قابل د عفو نه دی که څوک پر مړسي او اعظم د جزاء يې خلود في النار دی ابداً، او اعظم د حسنات صالحاتو توحيد دی له دې سببه موحد له ابدي دوزخه خلاص دی وان عمل کل سيئة اوجزاء يې خلود في الجنة ده اذادخلها فکما ان الشرک لايغفر فکذا التوحيد لايهمل بدون الاجر والثواب. اللهم توفنا مسلمين والحقنا بالصالحين في دار کرامتک يا ارحم الراحمين.

پوه سه: چې بغوي. روح البيان. مظهري او روح المعاني رحمهم الله وايي چې دا آيت په باره کې د يو سپين ږيري صحرايي نازل سوی دی چې هغه و عليه الصلوة والسلام ته راغلی او وه يې ويل يا نبي الله انا شيخ منهمک في الذنوب، سپين ږيري يم او ډوب يم په ګنهو کې "الا اني لم اشرک بالله شيئاً منذ عرفته وآمنت به" مګر دادی چې شريک مې خدای ﷻ ته هيڅ شی نه دی کړی له هغه وخته چې ما خدای پېژندلی او ايمان مې پر راوړی دی "ولم يتخذ من دونه ولياً" او ما ځان ته بېله خدايه متصرف نه دی پيدا کړی او زه په معاصيو کې نه يم واقع سوی له جهته د دلاوري پر خدای ﷻ باندې او زما هيڅ په وهم کې نه ده راګرځېدلې چې زه په خدای پاک عاجزه کړم له عذاب څخه ځپل په سبب د تېښتې "واني لنادم تائب مستغفر فما ذا حالي فنزلت هذه الآية المتلوة.

إِنْ يَدْعُونَ مِنْ دُونِهِ إِلَّا إِنَاثًا

دوی يعني کفار مکه عبادت نه کوي بېله خدايه مګر د بنځو ای الاصنام.

پوه سه: چې خدای پاک بتان د مشرکانو بنځې وبللې او سره ددې چې هغه خو جمادات ډبرې وه بنځې خو نه وه، دا له څو سببه.

(۱) مشرکانو به دا بتان د بنځو پر هيئت جوړول او داسې کالي او زېورات به يې په اغوستل او پر ځړول به يې لکه بنځې چې هغه کالي او زېور په وخت کې د تزيين اغوندي او يا يې په ځان پورې ځړوي.

(۲) غالب نومان د هغو بتانو مؤنث نومان وه، نو په اعتبار د نومانو يې بتانو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ته مؤنث ووایه مثل اللات، العزیٰ والمنات.

(۳) دا بتان خو جمادات وه لا ارواح فیها او جماداتو ته په عربي کي انثی وایي په دې سببه چې بنځه خو مفعوله ده فاعله د جماعو نه ده داغه رنګه بتان مصنوع او مفعول د خلګو وه فاعلان نه وه، نو په دې بیان د غایت جهل د مشرکانو چې معبود خو باید فاعل، خالق، رازق او صانع وي او مشرکینو پر منفعل او مصنوع باندې نوم د خدایانو ایښی دی او عبادت یې کوي، وهذا في الفعال والاقوال عجیب، او بعض مفسران وایي چې مراد له انثی ځخه ملکي دي لان بعض المشرکین یعبدون الملائکة ویقولون ان الملائکة بنات الله، والی هذا اشیر بقوله تعالی "ان الذین لا یؤمنون بالآخرة یسمون الملائکة تسمیة الانثی" او په دې یې اقرار کاوه چې انثی د هر شي اخسه وارزله ده.

وَإِنْ يَدْعُونَ إِلَّا شَيْطَانًا مَّرِيدًا ﴿١١٧﴾

او دوي یعني المشرکین په حقیقت د بتانو په عبادت کي عبادت نه کوي مګر نه د شیطان چې سرکښه دی د خدای ﷻ د امر حین امره بالسجود لآدم علیه السلام، فابی واستکبر آه. والوجه في ذالک چې شیطان خو دوی باعثه کړي پر عبادت د بتانو، نو دغه اطاعت د شیطان په باره کي د عبادت د بتانو عبادت د شیطان دی في الاصل والحقیقة، او بعض مفسران وایي چې د هر بته سره به شیطان ملګری وچې خادمانو ته د بتانو او نورو کاهنانو ته به یې ځان بنکاره کاوه او خبري به یې ورسره کولې او دوی ته به یې ویل چې عبادت د بتانو حق دی.

لَّعَنَهُ اللَّهُ ۘ وَقَالَ

پر ده د خدای ﷻ لعنت دی.

بوه سه: چې دا جمله صفت ثانیه د شیطان ده، او "مریداً" یې اول صفت دی، او جمله د "قال" عطف ده پر "لعنه الله" باندې، او حاصل دادی چې شیطان هم مرید یعني سرکښه دی او هم پر ده لعنت د خدای ﷻ دی او دا خبره یې هم کړې ده چې دا قول دده دلیل دی پر سخت عداوت دده د بني آدم سره.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: له توصیف څخه د شیطان په دې قال سره معلومه سوه چې مراد له شیطان څخه ابلیس دی لاذریته، ولې چې په حدیث صحیح کې راغلي دي چې ابلیس چې منعه وکړه له سجدې څخه و آدم ته او خدای ﷻ حکم د معلون پر وکړی، نو ده وویل چې زما قسم دی په عزت او جلال ستا چې زه به همېشه گمراه کوم بنې آدم تر هغو چې ددوی ارواح ددوی په بدنو کې وي، او دده هم دغه خبره مقصود ده له دې قول څخه د باري ﷻ.

لَأَتَّخِذَنَّ مِنْ عِبَادِكَ نَصِيبًا مَّفْرُوضًا ﴿١١٨﴾ وَلَأُضِلَّنَّهُمْ وَلَأُمَنِّيَنَّهُمْ

زه به اخلم ستا له بندګانو یعنې د ځان تابع به یې ګرځوم یوه برخه مفروضاً ای مقدراً، او زه به دوی ګمراه کوم چې په وسوسه سره به ددوی په زړو کې حب الشهوات ور اچوم او دا وسوسه به هم ور اچوم ان لا حساب ولا کتاب ولا الجنة والنار، او زه به بې ځایه او باطلې تمناوي په زړو کې ددوی ور اچوم منها ان لا بعث ولا حساب ومنها طول الحیوة ومنها ادراک نعیم الآخرة مع ارتکاب المعاصي الی غیرها من التمنیات الباطلة.

وَلَآمُرَنَّهُمْ فَلَيُبَتِّكُنَّ آذَانَ الْأَنْعَامِ

او هر آئینه زه په امر کوم دوی چې پرې کوي به او چاکوي به غوږونه د چارپایانو.

پوه سه: چې د تفعیل باب لپاره د تکثیر او د تکریر دی کما في خواص ابواب الشافیة.

پوه سه: چې انعام اوښ، غوایي او پسه ته وایي که نر وي او که ښځه.

پوه سه: چې په جاهلیت کې دا عادت و چې د یو چا اوښه به پنځه واره لنګه سوه اخیر به یې نر راوړی پر روایت مشهوره. او یا به اووه واره لنګه سوه چې شپږ به یې ښځي راوړې اووم به یې نر و په روایت د روح البیان، یا چې به لس واره لنګه سوه چې اخیر به یې نر راوړی په روایت د مظهري، په هر صورت دوی به یې غوږ ورچاک کړی یا به یې پرې کړی او څوک به نه پر سپرېدی او نه به یې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لوښله او نه به يې ذبحه کوله او چا به له اوبو او له وښو څخه نه ګرځوله او که به يخي وهر ستړی سړی پر پښې هم سو نه به پر سپرېدی، يعنې دا اوښه يې د خدايانو لپاره پرې ښوولې، او دا اوښه به يې بحيره بلله، او پخپله چې به مړه سوه غوښې يې وښځو ته حرامې وې او يوازې به نرانو خوړلې، او سائبه بيا هغه اوښه وه چې يو سړي به ويل که زه خدای جوړ کړم فناقتي سائبة، او يا به يې وويل که زما غائب له سفره راغلی او يا زما زوی وزو کېدی او نحو ذالک فناقتي سائبة او هغه کار چې به وسو نو اوښه به يې ايله کړه هر ځای چې به ګرځېدلای چا کار نه په درلودی او نور احوال يې ټوله د بحيرې وه، لکه بحيره نه څوک پر سپرېدی او نه يې شيدې خوړلې او نه چا له اوبو او وښوو څخه منعه کوله، دا قدر فرق يې وچې مړه به سوه نرو او ښځو دواړو به يې غوښې خوړلې، او حامي بيا هغه مينده اوښ وچې دده ولد الولد به د سپرتيا سو او بعض وايي چې پنځه کاله به يې مينډويي وکړه، نو دوی به ويل چې انه قد حمی ظهره دې اوښ خپله ملا له سپرتيا څخه وساتل، نو دا اوښ به هم ايله ګرځېدی هيڅ څوک به نه پر سپرېدل او له اوبو او وښو څخه چا نه منع کاوه او چې مړ به سو نرو او ښځو دواړو به يې غوښې خوړلې، او وصيله هغه مېږه وه چې دا به اووه واره لنګه سوه که به يې اووم عيال نر وايي د خدايانو پر نامه به يې ذبح کول او غوښې به يې نرو خوړلې او ښځو نه سوای خوړلای، او که به يې اووم عيال ښځه وای نو لکه نور پسونه چې مړه سي نرو او ښځو دواړو به يې غوښې خوړلې.

دروښ وايي: چې دا وه خرافات د جاهليت د وخت مالهم عليها ببرهان والله اعلم بالصواب. وَلَآمُرَنَّهُمْ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللَّهِ

او زه به دوی امر کوم چې تغيير د خلق الله ته ورکړي يا صورةً يا صفةً.

دروښ وايي: چې تر تغيير د خلق الله وهر شيان لاندې دي.

(۱) په سترګه رونديدل د حامي چې مور د مخې ذکر کړی د عربو د عادت سره سم چې به د يو چا اوښان زر ته ورسېدل، نو د هغې حامي چې د دوی سره به يې د هېره زمانه تېره کړې وه. نو په يوه نېزه به يې په سترګه کې ووهل او ړنده به يې کړه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(۲) د ږيري خريل او يا ډېره لنډول يعني تر قبضه ډېره.

(۳) خصي کول دي د مريانو يعني د کور د خدمت لپاره چې د ښځو په مثال سي، نو بيا په کور کې خيانت د زنا، نه سي کولای.

پوښتنه: د حيوان خصي کول هم بايد ممنوع وای، ولي دا خو هم تغير د خلق الله دی؟

ځواب: قياس خو داغه دی لکن فقهاؤ د خصي کولو رخصت کړی دی، ولي چې په حيواناتو کې ضرورت و خصاته سته، ولي چې د مينده حيوان تر غوښو د خصي حيوان غوښې خوندوري وي او بې ضرره هم وي.

مسئله: امام اعظم رحمه الله وايي چې رانيول د خصي مريي د کور د خدمت لپاره مکروه دی، ولي چې په شراء کې ددوی ترويج د خصاء د فعل مکروه دی.

اعجوبة: په نصاب الاحستاب کې وايي چې معاويه رضي الله عنه کور ته ورغلی او خصي مريی ورسره و، يوې ښځې ډېر بد ورته کتل او مخ يې څنې پټ کړی معاويه رضي الله عنه ورته وويل مخ دي ولي پټ کړی دی خو ستا غوندي دی، ښځې ورته وويل اتری المثلة فيه قد احلت ماحرم الله من النظر ای نظره الينا ونظرنا اليه، فتعجب معاويه رضي الله عنه من فطنتها وفقهها.

(۴) وشم: يعني خالونه وهل پر مخ يا د ښځې يا د نر او يا پر يو انداام. د وشم طريقه داده چې يو انداام په سترنو ووهي چې وينه يې وکړه، نو بيا رانجه راواخلي که يې تور خالونه جوړول يا نيل پر واچوي که يې شنه خالونه جوړول.

مسئله: ددغو خالونو ازاله که په طبي دواوو کېدله، نو واجبه ده چې ايسته کوي به يې او که په هغه نه کېدله، نو دي هغه د خالو د ځای پوست واړوي ان لم يخف فوت عضو او شنيه ای عيب جن والی، وهذا مذهب بعض الشوافع وعندنا لايجب الازالة.

(۵) وشر: چې د ښځې غاښونه يا سره تېروبېر وي او يا پنډ وي يا غټ وي، نو بد ـــې، نو ډاکټر يې په آلاتو چې په مثل د سوهان دی ورسم کړي او ډېر يې ی حتی ـــړی چې وايي د غاښو تر منځ يې رېنا وځي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(٦) نمص: چې د ښځې پر مخ وېښتان وي یا یې ورځې وېرې پنډوي، نو یې په نوسي یا په یوه بله آله دا وېښتان کاږي.

(٧) الوصل: هغه دادی چې د ښځې بعض وېښتان یا خلقةً کم وي او یا په عارض دیو مرض ټوی سوي وي، نو دانور د انسان وېښتان په خپلو وېښتانو کې جارباسي، دلیل د حرمت یې دادی چې نفع اخستل د انسان په جزء بسره د کرامت له جهته ناروادی، او د یو حیوان مثلاً اوښ وېښتان جار ایستل ګناه نه ده.

(٨) ښځه لکه نر چې وېښتان پرې کوي چې څونې یې بولي حرام دی.

(٩) سحق: سحق دادی چې یوه ښځه پرېوزي پر ټوګ وکاږي او پښې پورته کړي او بله ښځه ددې پر فرج خپل فرج موږي حتی چې دواړې انزال سي، په حدیث شریف کې راغلي دي "سحاق النساء زناء بینهن"

(١٠) لواطت: په دې کې تغیر د خلق الله په دې سبب دی چې لوطي ځای د فرث یعني د نجاست چې دُبره ده ځای د حرث یې وګرځوله، ولي چې تخم د نطفې یې پکښې توی کړی.

(١١) دېر بنائسته هلک ته کتل حرام دی په شهوت سره، ومجالسته حرام لانه کالمرئة عورة من القرن الی القدم.

(١٢) عبادت د لمر، د سپوږمئ، د ستورو او یا د بتانو تغیر د خلق الله دی ذات که یې نه بدلوي صفت خو یې وربدل کړی، ولي چې هیڅ شی له مخلوقه من دون الله حق د معبودیت نه لري.

(١٣) مثلة: مثلة چې د انسان په ژوند یا وروسته تر مړینې پرې، غوږونه یا ذکر ځنې پرې کړې وغیرها من اجزاء الانسان سوی قطع الید والرجل حداً کما مثل کفار مکة باصحاب احد رسول الله ﷺ.

دروښ وایي: چې دا مذکوره دیارلس شیان چې په مثال د تغیر د خلق الله دروښ راوړه بند قلیل بمقدار علم الفقیر.

وَمَنْ يَّتَّخِذِ الشَّيْطٰنَ وَلِيًّا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ فَقَدْ خَسِرَ خُسْرَانًا مُّبِيْنًا ﴿١١٩﴾

که څوک وګرځوي شیطان ولي یعني دوست او معبود ماسوی د له خدایه ځخه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یعني چې امر ته د شیطان ترجیح ورکړي تر امر د خدای ﷻ، ولې چې خدای له شرکه نهي کړي دي، او د شیطان په دعوت سړی شرک کوي یعني عبادت د خدای ﷻ د عبادت سره د غیر الله نه جمع کېږي. وفي الحدیث الذي رواه مسلم عن ابي هریرة ؓ داسې راغلي دي چې خدای ﷻ وایي "انا اغنی الشرکاء عن الشرک من عمل عملاً اشرک فیه معي غیري (ولو بالریاء والسمعة) ترکته وشرکه، وفي روایة انا منه بریئ، نو په تحقیق سره دې سړي ځان ته تاوان ورساوه ښکاره تاوان، ولې چې ده جنت په دوزخ بدل کړی او اطاعت د خالق السموات یې په اطاعت د اخبث المخلوقات بدل کړی واي خسارة اعظم من هذه الخسارة.

یَعِدُهُمْ وَیُمَنِّیهِمْ ؕ

شیطان ددوی سره وعدې یعني د درواغو د وسوسې له لارې او باطلي باطلي وعدې ورسره کوي، مثلاً دا خاطره په زړه کې ورواچوي چې قیامت نسته، او یا دا چې بتان به په ورځ د قیامت ستاسې شفاعت کوي الی غیر ذالک من الخرافات، بلکې ګاهې شیطان په صورت کې د انسان ځان وخلګو ته ښکاره کړي لکه په ورځ د بدر چې یې داغسې کار وکړی کما حکی الله تعالی "اذا زین لهم الشیطان اعمالهم وقال لاغالب الیوم من الناس واني جار لکم فلما تراءت الفئتان نکص علی عقبیه ؓ وقد مر تفسیر هذه الآیة في بیان غزوة بدر.

وَمَا یَعِدُهُمُ الشَّیْطٰنُ اِلَّا غُرُوْرًا ﴿۱۲۰﴾

او د دوی سره وعده نه کوي دی مګر باطل مثلاً د سړي په یو کار کې نفع وي شیطان یې په زړه کې ورواچوي چې په دې کار کې ستا تاوان او ضرر دي او یا کار په واقع کې د سړي ضرر وي شیطان ورته ووایي چې په دې کار کې ستا نفع ده الی غیر ذالک من خطراته وهمزاته ونفحاته، اللهم طرداً له عنا.

اُولٰٓئِكَ مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَلَا یَجِدُوْنَ عَنْهَا مَحِیْصًا ﴿۱۲۱﴾

دغه کسان دي چې ځان د ورتلو او اقامت په دوزخ دی او دوی نه سي پیدا کولای له دوزخ څخه ځای د تښتي که ظرف سي، او یا تښتنه که مصدر سي،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

او هغه کسان چې ایمان یې راوړی وي او عملونه کوي د صالحاتو خصلاتو.

پوه سه: چې اصحاب د حقیقت وایي صلاح العمل في اخلاصه فالعمل ما اريد به وجه الله سواء كان قولياً كتلاوة والتسبيح والتهليل والتحميد وغير ذالک، او عملياً كالصلوة باركانها او مالياً كالزكوة وصدقة الى غير ذالک او مركباً منها كالحج فان الثلثة مجمعة فيها.

سَنُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ وَعْدَ اللّٰهِ حَقًّا ؕ

ژر دی چې موږ به داخل کړو یعني په ورځ د قیامت وباغونو ته چې بهېږي لاندي تر درختو او قصورونو د جنتو څلور ولې عسل، شیدې، اوبه او شراب او سېږي به دوی په دغو جنتو کې همېشه، او وعده د خدای ﷻ حق ده.

پوه سه: چې "وعداً" مفعول مطلق د فعل محذوف دی ای وعد وعداً، او حقاً هم مفعول مطلق دی د محذوف دی ای حقه حقاً، نو اول په اصطلاح د نحو کې مصدر مؤکد لنفسه بولي له دې سببه چې مضمون د جمله سابقه اسمیه یعني والذین آمنوا آه، خو هم اخبار او وعده دد، او حقاً مصدر مؤکد لغیره بولي ولې نفس القول مع قطع النظر عن القائل يحتمل الصدق والكذب.

وَمَنْ اَصْدَقُ مِنَ اللّٰهِ قِيْلًا ۝

پوه سه: چې استفهام د "من" انکار دی ای لا احد اصدق من الله په خبرو کې.

فائده: پوه سه! چې ددې جملې فائده داده چې خلګو ته دا وښیي چې خبري د خدای ﷻ صادقې دي تخلف او درواغ نسته پکښې او وعدې د خدای ﷻ اطمنان بخښي دي احتمال د عدم وقوع نسته پکښې بخلاف مواعيد الشيطان لاوليائه واقربائه فانها كذب بحت عارية عن التحقق والوقوع.

لَيْسَ بِاَمَانِيِّكُمْ

نه دی کار د آخرت مربوط ستاسي په بې ځایه امیدونو پورې، یا اهل مکه لکه تاسي چې وایاست بعث بعد الموت نسته، او که وې نو "هؤلاء الاصنام شفعاؤنا عند الله" او یا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تاسي وایاست چې که حال دغسي وي لکه محمد چې وایي یعني چې آخرت او بعث بعد الموت سته، نو په ورځ د آخرت به مورِ احسن حالاً تر محمد او تر مسلمانانو یو.

وَلَآ اَمَانِيِّكُمْ وَلَآ اَمَانِيِّ اَهْلِ الْكِتٰبِ ؕ

او نه کار د آخرت مربوط دی په باطلو تمنی وو پوري د اهل کتابو یعني یهود او نصاری چې دوی وایي چې "نحن ابناء الله واحبائه" یا دوی وایي "لن یدخل الجنة الا من کان هوداً او نصاری" یا دوی وایي "لن تمسنا النار الا ایاماً معدودات" الی غیر ذالک من خرافاتهم الزائغة. بلکې ثواب او عقاب جنت او دوزخ په اسلام او کفر پوري مربوط دی لکه په دې وروسته آیتو کې چې به یې خدای ﷻ بیان کړي.

مَنْ يَّعْمَلْ سُوْٓءًا يُّجْزَ بِهٖ ۙ وَلَا يَجِدْ لَهٗ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ۝

او څوک چې عمل د بد کار وکړي که کفر وي که ګناه کبیره یا صغیره، جزاء به ورکړل سي هغه چاته په سبب د هغه سوء، او نه به کړي پیدا ماسوی له خدایه متصرف او نه کومک کونکی چې عذاب به ځنې دفع کړي.

پوه سه: چې کلمه د "من" عامه ده شامله ده مؤمن او کافر دواړو لره که څه هم نزول خاص دی یعني اماني د مشرکینو د مکې یا اماني د اهل کتابو لان اهل التفسیر اتفقوا ان العبرة لعموم اللفظ لالخصوص المورد وذهب الی العموم ابن عباس وسعید بن جبیر وغیرهما ﷺ.

پوښتنه: آیت خو پر دې دلالت کوي چې جزاء د سوء به حتمي وي؟

ځواب: تولـه آیات د وعید مقید په عدم مغفرت سره دي، یعني که خدای ﷻ بخښنه ورته وکړه، نو به جزاء ورکړل سي وهو مذهب اهل السنة والجماعة.

پوه سه: چې جزاء عامه ده که دنیاوي یې که اخروي، یعني که خدای ﷻ بخښه ورته ونه کړي، والدلیل علی ذالک ما روی چې دا آیت چې نازل سو ابوبکر صدیق ﷺ ورته وویل "فمن ینجو مع هذا" څوک به نجات پیدا کړي سره د عموم ددې آیت، علیه الصلوة والسلام ورته وویل "اما تحزن اما تمرض اما یصیبک الادواء" آیا ته نه غمجن کیږي ته نه ناروغه کیږي تاته مصیبت نه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رسېږي، ابوبکر رضي الله عنه ورته وویل بلی یا رسول الله ﷺ "قال علیه الصلوة والسلام هو ذالک" یعني د بدو عملو د مسلمان همدغه شیان په دنیا کي، او له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چي دا آیت یعني من عمل سوء یجزبه چي نازل سو موږ وژړل او ډېر غمجن سوو، او موږ و علیه الصلوة والسلام ته وویل "مابقت هذه الآیة من شئ" یعني دې آیت خو هیڅ ګناه نه پرې نبوله پېله جزاء؟ علیه الصلوة والسلام وویل چي کار خو داغسي دی الی اخیر الحدیث.

وَمَنْ يَعْمَلْ مِنَ الصّٰلِحٰتِ مِنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى

پوه سه: چي کلمه د "من" چي پر صالحات داخله ده لپاره د تبعیض ده ای بعض اعمال صالحه که څه هم لږ وي په عدد کي او کم وي په حیثیت کي لقوله تعالی "فمن یعمل مثقال ذرة خیراً یره ای یر ثوابه وجزائه، او بل دلیل د تبعیض دادی چي هر څوک بلکي هیڅ څوک خو ټوله اعمال صالحه نه سي کولای او نه هم هر څوک په اعمال صالحه وو سره مکلف دي، مثلاً بعض مسلمانان چي مسکینان وي په حج کولو او په زکوة ورکولو سره مکلف نه دي الی غیر ذالک من الاعمال.

وَهُوَ مُؤْمِنٌ

او دی مسلمان هم وي.

پوه سه: چي دا جمله حال ده او شرط ده د ثواب د اعمال صالحه وو په آخرت، ولي چي ایمان نه وي هیڅ عمل صالح نه اعتبار لري او نه ثواب لري.

فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُوْنَ نَقِيْرًا ۝

نو دغه کسان داخلېږي په فضل د خدای ﷻ وجنت ته او پر دوی ظلم د یوه نقیر نه کړل کېږي.

پوه سه: چي نقیر هغه کوچنی غار دی په سر کي د خورما د منډکي چي له هغه ځایه څخه خورما شنه کېږي دلته کنایه ده له کمال قلت څخه.

دروښ وایي: چي ظلم دوه قسمه دی یا کمول د حسناتو دی او یا زیادت په سیئات کي دی، او دا دواړه قسمه په دې سره نفي سوه، ولي مؤمن که هر څو صالحات عملونه کوي بیا هم په اعمالو کي دده له سیئاتو څخه چاره نسته لان باب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

السيئات واسع يشمل الصغائر ايضا. نو په هغو کي زيادت نه کېږي لانه من قبيل الظلم. په صحيح حديث کي راغلي دي چې خداى ﷻ وعده کړې ده د مؤمنانو سره چې حسنات يې يوه په لس ور حسابوي او سيئه يو په يو ور حسابوي، نو چې خداى ﷻ پر سئيه جزاء ورکړي يوه له حسنانو څخه يې ور کمه کړي نهه حسنات ورپاته سي، فويل لمن زاد وغلبت احاده على اعشاره، اى سيئاته چې يو په يو وي پر حسناتو چې يو په لس وي. نيشاپوري رحمه الله وايي چې حکمت د خداى ﷻ په تضعيف د حسناتو دا دى که مؤمن مدعيان ولري په ورځ د قيامت مثلاً چاته يې ښکنځل کړي وي، او يا يې څوک ناحقه وهلى وي او يا يې نور ورته کارونه کړي وي، نو هغو مدعيانو ته يوه يوه له حسنات مضاعفه څخه ورکول کېږي لا من اصل الحسنة لان التضعيف فضل من الله تعالى واصل الحسنة عدل منه تعالى واحدة بواحدة، نو خداى ﷻ له خپله فضله څخه د مدعيانو غاړه ورياسي وهذا بشارة عظيمة للمؤمن، نو داسي مؤمن لره افسوس دى چې دده مظالم يعني حقوق العباد يې له تضعيفاتو څخه متجاوز سي و اصل حسناتو ته کما جا. في الحديث چې داسي مؤمن چې لوى مظالم د حقوق العباد يې په ذمه کي وي سته حتى چې تضعيفات سره د اصل حسناتو په مظالم کي د عبادو ولاړسي حتى چې د مظلوم سيئات پرده باندي ورواچوي، فيجر الى النار. قال السعدي قدس سره.

نکو کارى از مردم نيک راى — يکى را بده مينو يسد خداى
جونا اثاره طاعت امروز گير — که فردا جوانى نيايد زپير
زه خير بازست وطاعت وليک — نه هرکس تواناست بر فعل نيک
همه برگ بودن همى ساختى — بتدبير رفتن نه پرداختى

بشارت: پوه سه! چې دا آيت "ومن يعمل من الصالحات" الى اخيرها شامل دى تولو مؤمنانو لره که صالحان وي او که فاسقان لان الفاسق ايضاً لا يخلو عن عمل صالح وادناه شهادة ان لا اله الا الله وهو اعلى شعب الايمان. نو په دې آيت کي زهرى دى دوارو دلو ته مؤمنين المطيعين والعاصين په دوارو شپانو سره اى عدم تنقيص الثواب وعدم زيادة العذاب، فتامل في شرف المؤمنين عند ارحم الراحمين.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَنْ أَحْسَنُ دِينًا مِّمَّنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لِلَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ

پوه سه: چې استفهام د انکاري ای لا احسن. وقوله دیناً تمیز دی نو ځکه منصوب دی او "دیناً" په اصل کې مبتداء وه، والتقدیر ومن دینه احسن من دین من اسلم آه" والمعنی څوک دی چې دین دده ښه وي تر دین د هغه چا چې سپارلی یې وي خپل ځان وخدای ﷻ ته ای جعل ذاته ونفسه خالصةً لپاره د خدای ﷻ چې بل چا ته یې حق ور نه کړي نه له جهته د خالقیت او نه د مالکیت نه د معبودیت او نه د تعظیم.

پوه سه: چې تفضیل په حقیقت کې جار بین الدینین لابین صاحبیها الا بالعرض قوله "وهو محسن" دا جمله حال ده له فاعل څخه د احسن، د احسان معنی بعض مفسرین په اتیان د حسناتو او په ترک د سیئاتو کوي، او په یوه طویل حدیث کې چې بخاري او مسلم یې روایت کړی دی علیه الصلوة والسلام د احسان داسې ترجمه کړې ده الاحسان ان تعبد الله کانک تراه فان لم تکن تراه فانه یراک، نو احسان غایت حضور د خدای ﷻ په عبادت کې او حقیقت د ایمان هم دغه احسان دی، والحاصل چې عبادت به خالصاً و مخلصاً لپاره د خدای ﷻ وي، ریاء او سمعه چې شرک خفي دي نه به وي پکښې.

بیت

بروی وریاء خرقه سهلست دوخت — وگرباخدا درفروشی نکوست

دروښ وایي: چې مظهري د محسن په معنی کې دا هم زیاته کړې ده چې نه به تعلق د محبت بېله خدایه د بل چا سره لري دا زیادت ظاهراً منافي دی د هغې دعاء ماثوري سره اللهم ارزقني حبک وحب حبیبک وحب من یحبک آه، الا ان یقال الحب الزائد علی حب الله ایضاً في الحقیقة راجع الی حب الله کما یدل علیه ضمیر الخطاب الیه تعالی في الحب الزائد فتدبر هداک الله.

وَاتَّبَعَ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ

او متابعت کوي د دین د ابراهیم علیه السلام.

پوښته: د انبیاء علیهم السلام دین خو په اصول کې د دین سره یو دی مثل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

التوحيد والايمان بالبعث بعد الموت والجنة والنار وامثالها. نو تخصص د ابراهيم عليه السلام يې ولې وکړی؟

ځواب: د ابراهيم عليه السلام دين په ټولو اديانو کې مقبول او حق دين دی حتی في اليهود والنصاری والاعجب ان المشرکين ايضاً يدعون دين ابراهيم. نو له دې جهته تخصص د متابعت د ابراهيم عليه السلام وکړی يعنې په دين کې. او بله ژبپا وجه د تخصيص دا هم ده چې د ابراهيم عليه السلام دين علاوه پر اشتراک په اصول په اکثره فرعياتو اعمالو کې د دين اسلام سره سمون لري لکه لمونځ وکعبې ته او طواف پر کعبه او مناسک د حج او ختنه (سنتي) او مهمان نوازي وغير ذالک فدين ابراهيم اقرب الاديان الى دين الاسلام دين محمد عليه السلام فلهذا خصه بالذکر.

حَنِيفًا

حال من ابراهيم او من الملة ومعنى الحنيف المائل والمجانب من الاديان الباطلة کلها مثل عبادة الاوثان وغيرها.

پوښتنه: د "ملت" حالیت ځو يې صحيح دی، ولې چې هغه ځو مفعول د "نتبع" دی له "ابراهيم" څخه به يې حالیت څرنګه صحيح وي، ولې ابراهيم ځو مضاف اليه دی، او په نحو کې وايي چې حال مايبين حال الفاعل او المفعول به؟

ځواب: په علم نحو کې دا هم وايي چې که مضاف فاعل يا مفعول و چې دې حذف سوی وايي مضاف اليه په ځای کې دربدلای سوای، نو د هغه مضاف اليه څخه هم روا دی و ه، کذالک که ملت حذف سي او داسي وويل سي "بل نتبع ابراهيم حنيفاً معنى يې صحيح ده فافهم.

وَاتَّخَذَ اللّٰهُ اِبْرٰهِيْمَ خَلِيْلًا ﴿۱۲۵﴾

او ګرځولی و خدای ﷻ ابراهيم خپل خليل يعني صديقاً صافي المحبة.

بوه سه: چې دا جمله معترضه ده محل د اعراب نه لري. او بعض مفسران وايي چې د "خلة" معنا فقر او احتياج ده، نو د خليل معنى فقير الى الله في کل الامور چناچه هغه وخت چې نمرود جبار ابراهيم د منجنيق په ذريعه لاس ترلی لغ و اورته ور وغورځوی جبرائيل عليه السلام ابراهيم عليه السلام په نهږ کې ونيوی او ورته وه يې ويل "هل لک من حاجة" ابراهيم عليه السلام ورته وويل "اما اليک فلا" جبرائيل عليه السلام ورته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وویل چې خدای ﷻ ته کوم عرض نه لري؟ ابراهیم علیه السلام ورته وویل "حسبي من سؤالي علمه بحالي" دروښ وایي چې هذا غایة الفقر والاحتیاج الی الله ﷻ.

پوه سه: چې عبدالرزاق، ابن جریر، ابن المنذر، او ابن ابي حاتم رحمهم الله پخپلو تفاسیرو کې وایي په روایت له زید بن اسلم رضي الله عنه څخه چې اول جبار په مځکه کې چې خلګ به یې امر کول پخپل عبادت سره یعني د خدایي دعوه یې کړې وه نمرود و، نو له اطرافو څخه به قافلې ورته را روانې وې چې ده به غنم ورکول، نو ابراهیم علیه السلام هم د یوې قافلې سره د غنمو لپاره روان سو، نو هر څوک چې به نمرود ته ودریدی د غنمو لپاره نمرود به ورته ویل خدای دي څوک دی هغه به ورته ویل ته مې خدای یې، نو به یې د غنمو امر ورکړی، نو چې د ابراهیم علیه السلام وار راغلی او نمرود ورته وویل خدای دي څوک دی؟ ابراهیم علیه السلام ورته وویل "ربي الذي یحي ویمیت، قال انا احي وامیت" نمرود ورته وویل چې دا کار خو زه هم کولای سم، نو یو سړی چې په وژلو سره به محکوم و هغه به یې ازاد کړی او بل سړی به یې په دار کړی، قال یعني ابراهیم فان الله یاتي بالشمس من المشرق فاءت بها من المغرب فبهت الذي کفر" نو ابراهیم علیه السلام ته یې غنم نه کړه ور، نو ابراهیم علیه السلام خالي جولونه پر اوښ باندې کړه د کور وخواته را روان سو په لاره کې پر یوه سپېره غونډۍ د ربګ ورغلی، نو یې د ځانه سره فکر وواهه چې دا جولونه به د دغو ربګو ډک کړم نو اول وار چې کور ته ورسم هغه به خوشحاله سي چې هغه دي غنم یې راوړه، کور ته چې راغلي بار یې له اوښه کښته کړی ستړی و بیده سو، ماینه یې راولاړه سوه چې وه یې ګوري چې څرنګه غنم یې راوړي دي چې وه یې کتل په جولو کې ډېر ښائسته وړه وه، نو یې چابک خیشته کړه او ډوډۍ یې پخه کړه، ابراهیم علیه السلام چې د نمرود وخواته تلی په کور کې یې وړه نه وه، نو ابراهیم علیه السلام چې راوښتی سو ماینې یې ډوډۍ ورته کښېښول، ابراهیم علیه السلام ورته وویل چې دا ډوډۍ دي له کومه کړه؟ ماینې یې ورته وویل چې دا تا چې وړه راوړي وه له هغو څخه مې پخه کړه، نو ابراهیم علیه السلام پوه سو چې دا د خدای ﷻ له خوا رزق دی فحمد الله.

دروښ وایي: چې کلبي رحمه الله علیه له ابي صالح رضي الله عنه څخه او هغه له ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چې د ابراهیم علیه السلام کنیت ابو الضیفان و، یعني د مېلمنو پلار او کور یې هم د لوی لارې پر غاړه و، نو هر څوک مسافر چې به پر دې لاره تېرېدل د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ابراهیم علیه السلام کوریې مېلمستون و، نو یو کال کاختي مسلطه سوه اود ابراهیم علیه السلام مېلمستون سو، او ابراهیم علیه السلام ته به د هر کال وړه او غټه ډډه د مصري مخلص له خوا راتله، نو ابراهیم علیه السلام مریان او اوښان و هغه خپل دوست مصري ته واستول، نو خلیل مصري د ابراهیم علیه السلام و غلمانو ته وویل چې سږ کال پر موږ هم کاختي مسلطه ده، نو ابراهیم علیه السلام که یو ازي د خپل کور لپاره اوړه غواړي نو یو بار به درکړم او که د مېلمنو غم ورسره دی، نو دونده طاقت په ماپوري هم نسته. القصة د ابراهیم علیه السلام مریان خالي جولونه پر اوښانو را روان سوه چې د ابراهیم علیه السلام کور ته راننوتي سوه نو پر یوه ریګینه شپله یې یو د ښکل سره وویل چې راځئ چې تولې جولونه له دې ریګې ډک کړو تاچه خلګ ونه وایي چې د ابراهیم علیه السلام مریان ناکامه راغله. نو ابراهیم علیه السلام ته چې را ورسېدل نو صورت حال یې تولې وړته ووایه په دغه وخت کې د ابراهیم علیه السلام کور داري بې بې ساره بیده وه په صورت حال نه سوه خبره، چې را وینبه سوه ډک ډک جولونه یې په سرای کې ولیدل د جولو خولې چې یې ورخلاصې کړې د ډېرو صفا اوړو ډک وه، او ابراهیم علیه السلام د ناامیدۍ په خوب کې ډوب بیده و، ماینې یې چابک مینځیانې ډوډۍ پخونکې وهځولې چې ژر کوئ مېلمنو ته ډوډۍ پخه کړئ، خیر مېلمنو ته یې ډوډۍ ورکړه، ابراهیم علیه السلام چې راویښ سو د ډوډۍ بوی پر اومښتی، نو ساره ته یې وویل "من این هذا قالت من خلیلک المصري، قال ابراهیم لا بل من عند خلیلي الله تعالی".

پوه سه: چې مقام د خلت و علیه الصلوة والسلام ته هم حاصل و، من حدیث ابي سعید الخدري رضي الله عنه قال علیه الصلوة والسلام الا وصاحبکم خلیل الله رواه الترمذي، او حاکم رحمه الله هم حدیث راوړی دی له جندب بن عبد الله رضي الله عنه څخه چې ما له علیه الصلوة والسلام څخه واورېدل "ان الله اتخذني خلیلا کما اتخذ ابراهیم خلیلاً" او طبراني له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چې علیه الصلوة والسلام وویل "ان الله اتخذ ابراهیم خلیلاً وان صاحبکم خلیل الله وآن محمداً سید بني آدم یوم القیامة" بیا علیه الصلوة والسلام دا آیت دلیل د اثبات د سادت ځپل ووایه "عسی ان یبعثک ربک مقاماً محموداً" چې مقام د شفاعت کبری دی چې تولې انبیاء علیهم السلام به نفسي نفسي وایي، او نبي علیه السلام به امتي یارب وایي،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ مُّحِيْطًا ﴿۱۲۶﴾

او خدای ﷻ لره دي خاص هغه شيان چې په اسمانو کې دي چې ملائکې دي او لمر، سپوږمۍ، ستوري، جنتونه و غير ذالک مما في علمه تعالى او هغه شيان چې په مځکه کې دي من الحيوانات والجن والنباتات والجواهر وغير ذالک مما يعلمها الله يعنې دا ټوله مخلوق د خدای ﷻ دی.

پوه سه: چې "مافي السموات آه" مبتداء، ده او جار ومجرور يعنې "لله" يې خبر دی او د خبر مذکور د تقديم دا فائده ده چې حصر راولي يعنې مخلوقيت د مذکوره شيانو او مملوکيت د هغو مخصوص او محصور په خدای ﷻ پورې دی او بل هيڅ شي لره د شرکت د خدای ﷻ سره لار نسته کما يدل عليه دلائل العقلية والنقلية. سعدي شيرازي رحمه الله وايي.

برگ درختان سبز در نظر هوشيار　　هرورقی دفتريست معرفت گردگار

فائده: دا جمله اتصال معنوي لري د هغې جملې سره "ومن احسن دينا آه" وجه الربط بينهما انه لما كان جميع الاشياء مخلوق الله ﷻ خاصةً لاشريک له تعالى في ذالک، نو پر هر انسان لازمه داده چې خپل عبادت چې په وجه تعبير ځندي وسو هم خاص په خدای ﷻ پورې وگرځوی، او دی خدای ﷻ احاطه کونکی پر هر شي ای بالعلم والقدرة وليس المراد الاحاطة الجسمانية لاستحالة الجسمية عليه تعالى.

پوه سه: چې حاکم په مستدرک کې وايي چې په جاهليت کې دا قانون و چې ولد که څه هم نر وای چې کوچنی وای ميراث به يې نه ورکاوه، او بنځه که لويه وای که کوچنۍ ميراث يې نه ورکاوه او دوی به ويل هغه څوک چې په ميدان کې د جنگ نه سي درېدلای هغه د ميراث حق نه لري، نو چې د اسلام دين منځ ته راغلی نو صحابه کرامو رضي الله عنهم په دې باب کې له عليه الصلوة والسلام څخه پوښتنه وکړه، فنزلت هذه الآية.

وَيَسْتَفْتُوْنَكَ فِي النِّسَآءِ ؕ

دوی طلب د فتوی کوي له تا څخه په باره کې د بنځو، په صحاح کې وايي چې فتی والجواب عما يشكل من الاحكام، نو چې باب ته د استفعال ولاړی نو معنی يې طلب د جواب دی په مشکله مسئله کې د ميراث د بنځو، وجه د اشکال ددې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئلې د میراث د ښځو داده چې دا ددوی د جاهلیت له اعتقاد څخه خلاف وه.

دروښ وایي: چې په خصوص کې د شان نزول ددې آیت مفسرین اختلاف لري بعض مفسرین وایي چې دا آیت په باره کې د میراث د ام کحة د لونږو له پلار څخه چې وفات سوی و او دا قصه مفصله په دې تفسیر کې تېره سوه، او بعض مفسرین وایي چې عیینه بن حصین نبي علیه السلام ته راغلی چې مونږ ته خبر راکړه سوی دی چې ته لور ته د میت نصف د مال د میت ورکوې او خور ته هم نصف ورکوې یعنې په بعض وختو کې وانما نورث من یشهد القتال ویجور الغنیمة، نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل هکذا امرت، او ابن المنذر د ابن جبیر رضي الله عنه څخه داسې روایت کړی دی چې څه وخت چې آیت المواریث په سورة النساء کې نازل سو یعنې په هغه آیت ښځو ته هم حق د میراث ورکړه سوی و، نو دا پر خلګو سخته پرېوته او دوی به سره ویل چې ښځه او کوچنی به هم دونه میراث ورې لکه نر بالغ، نو راغله د نبي علیه السلام څخه یې پوښتنه وکړه فنزلت هذه الآیة، او روح المعاني یو اوږد شان نزول راوړی دی چې نقل کول یې تضیع د وخت ده.

دروښ وایي: چې د "في النساء" لفظ که څه هم مجمل دی یعنې د ښځو په څه باره لکن د مذکوره شان نزولونو څخه دا معلومه سوه چې سوال او فتوی د میراث د ښځو په باره کې وه.

قُلِ اللّٰهُ يُفْتِيكُمْ فِيهِنَّ ۙ وَمَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتٰبِ

ته ورته ووایه چې خدای جل جلاله بیان د حکم ددوی درته کوي او دغه رنګه حکم درکوي هغه څه چې لوستل کېږي پر تاسي په کتاب کې یعنې په قرآن عزیز کې چې آیات د میراث دي.

پوه سه: چې "ما" موصوله معطوف ده پر کلمه د "الله" یعنې یوصیکم الله في اولادکم للذکر مثل حظ الانثیین الی اخیرها. چې په اول کې ددې سورت ذکر سوه او نور ځایونه د قرآن مبارک.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فِي يَتٰمَى النِّسَآءِ

ای في شان يتامی آه.

پوه سه: چي اضافت د "يتمی" و"نساء" ته په معنی د "من" ده لانه اضافة الی جنسه او حرف جر يعني في متعلق ده په "يتلی" پوري لکه جار سابق چي هم متعلق په يتلی پوري و.

الّٰتِيْ لَا تُؤْتُوْنَهُنَّ مَا كُتِبَ لَهُنَّ وَتَرْغَبُوْنَ اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ

هغه يتامی النساء چي تاسي نه ورکوئ دوی ته هغه څه چي خدای ﷻ ددوی لپاره فرض کړځولی دی يعني ميراث ولور او نور حقوق ددوی. او ستاسي رغبت او شوق کېږي ودوی ته چي تاسي په نکاح کړي دوی چي نکاح يې درته روا وي يعني دوی ښائسته وي وهذا من بلاغة القرآن.

دروښ وايي: چي دليل ددې چي دا آيت له بلاغت څخه د قرآن دی دادی چي د "ان" سره که لفظ د "في" مقدر سي. نو معنا يې هغه ده چي اولاً دروښ ذکر کړه په دې قول کي او ستاسي آه، او که له "ان" سره "عن" مقدر سي، نو دوهمه معنا يې مراد ده چي ما ذکر کړه چي ستاسي نه کېږي ددوی و نکاح آه، او سره ددې چي "ان تنکحوا هن يوه صيغه ده.

پوه سه: چي د "ان" سره که "في" مقدر وي نوځو معنی يې هغه ده چي مورږ ذکر کړه او که "عن" ورسره مقدر وي "ترغبون عن ان تنحوهن" نو يې معنا داده چي ستاسي شوق نه کېږي ددوی ونکاح ته په صورت کي ددې چي يتيمه بدرنګه وي.

پوه سه: چي ابن المنذر د حسن بصري رحمه الله څخه رايت کوي چي اوله معنی مراد ده او ابن سرين رحمه الله وايي چي دوهمه معنی مراد ده.

وَالْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الْوِلْدَانِ

دا عطف دی پر "يتامی النساء" باندي، ولي اهل جاهليت کوچنيان که څه هم نر وای ميراث يې ورکاوی کمامر بلکې مالونه د يتيمانو به يې خوړله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاَنْ تَقُوْمُوْا لِلْيَتٰمٰى بِالْقِسْطِ ؕ

دا عطف دی پر "یتامی النساء" باندي یعني مایتلی علیکم في الکتاب یعني قوله تعالی "وآتوا الیتامی اموالهم" په دې سره تاسي امر کوي چې تاسي به دربړئ و یتمیانو ته یعني تربیه به یې کوئ په عدل سره که په میراث کې وي او که د یتیم په مال کې وي "قسط" یې دا دی چې میراث به د میت چې قریب وي د یتیم وارث به یې ورکوي او مال د یتیم به نه خوري یعني الا بالمعروف کما في موضوع آخر من القرآن.

وَمَا تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِهٖ عَلِيْمًا ۝

او هغه چې تاسي یې فعل وکړئ د یو خیر د کار په باره کې د بنځو او یا د یتیمانو او غیر ذالک نور کارونه د خیر لکه لمونځ فرضي یا نفلي او صدقه فرضي یا نفلي او روژه فرضي یا نفلي، نو په تحقیق خدای ﷻ ستاسي د خیر په کار خبر دی یعني په اندازه د کار د خیر به ثوابونه درکړي یا په دې دنیا او یا په آخرت کې او کبدای سي چې په دواړو حیاتو کې دي ثواب درکړي لانه تعالی علی مایشاء قدیر.

دروښ وایي: چې په مناقبو کې د امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله داسي راغلي دي چې یوه ورځ یوه بوډی بنځه دوکان ته دده ورغله او ورته وه یې ویل چې یوه بیچاره بنځه یم چې خپله لور و میړه ته ورودوم، نو ته یو بنه او سنګین ټکر او جامه راکړه، امام اعظم رحمه الله یوه نوې او قیمتي جامه ورته راوا خسته چې قیمت یې څلور سوه درهمه و، نو بنځي ورته وویل چې زما سره بنه وکړه او دا جامه په هغه قیمت راکړه چې تاته پرته ده، نو امام اعظم رحمه الله یو ګړی فکر وواهه باره یې بنځي ته وویل چې په څلور روپۍ یې واخله، بنځي ورته وویل چې مسخري او پسخند ولي راباندي وهې، ابو حنیفه رحمه الله ورته وویل معاذ الله ان اکون من الساخرین. لکن خبره داده چې ما دوې دغه کپړې رانیولي وې نو یوه له هغو دوو څخه مي په تو له هغه مبلغ خرڅه کړه چې ما پر دواړو ورکړي وې من الدارهم په څلور درهمه کم، نو دا جامه ماته په څلور درهمه کې پرته ده، نو بنځي څلور درهمه و امام اعظم رحمه الله ته ورکړه او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خوشحاله د دوکان څخه را رهي سوه. سعدي شيرازي قدس سره وايي

بگير اى جوان دست درويش پير — نه خود را بيفگن كه دستم بگير
كسى نيك باشد به هر دو سراى — كى نيكى رساند بخلق خداى

يوه سه: چې بخاري او ابو داؤد رحمهما الله له عائشې رضي الله عنها او ترمذي مثل د هغه له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت كړى دى چې سوده بنت زمعة رضي الله عنها چې د امهات المؤمنين څخه وه او داسې سړي سوه او پر دې بهر ېده چې عليه الصلوة والسلام به طلاق راكړي. نو د عليه الصلوة والسلام يې خواست وكړى چې ما له خانه سره جلا كوه زه به خپل نوبت و عائشې رضي الله عنها ته ور وبخښم يعني زما صرف دغه په كار دى چې په ورځ د قيامت ستا د ازواجو په جمله كې حشر سم. نو دا آيت نازل سو.

وَإِنِ امْرَأَةٌ

يوه سه: چې دا كلمه مرفوع على شريطة التفسير ده يعني مرفوع په "خافت" محذوف سره چې خافت مذكور يې تفسير دى.

سوال: ولي په خافت مذكور سره مرفوع نه سې كېداى؟

ځواب: نه سې كېداى ولي چې د فاعل لشتباه د مبتدا سره راځي كما تقرر في النحو.

وَإِنِ امْرَأَةٌ خَافَتْ مِنْ بَعْلِهَا نُشُوزًا أَوْ إِعْرَاضًا

كه بهر ېده او داسې سودا ورپيدا سوه چې زما مهره ترفع كوي زما له صحبته په سبب د دې چې بد يې را څخه كېږي او داسې علامې هم موجودې وي چې د مايني دا خيال وكړي چې مهره به ما ته طلاق راكړي. او يا به يې منځ څخه اړاوه او چندانې د دې خبرې ته به يې غوږ هم نه نيوى او ناسته ولاړه به يې كمه ورسره كوله. او د مايني زړه نه غوښتى چې ما طلاقه كړي بسبب من الاسباب.

فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَنْ يُصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا

نو گناه نسته پر دواړو چې يو صلح تر منځ وكړي او زوجيت نه دوام وركړي لكه سودې رضي الله عنها چې د عليه الصلوة والسلام سره صلح وكړه چې خپل نوبت يې وعايشې رضي الله عنها ته وركړى او خپل زوجيت نه يې دوام وركړى.

يوه سه: چې اصل د "يصالحا" په تشديد د صاد "يتصالحا" و نو تاء يې په صاد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بدله کړه او په صاد کې یې مدغمه کړه او دا هم د اکثرو قراؤ قرائت دی او کوفیان یې "یصلحاً" وایي یعني له بابه د افعال. صلح هم داده چې ماینه هغه ولور څې پر مېړه یې باندې دی تر تولو او یا تر بعض ورتېره سي. او یا مېړه ته ووایي چې نفقه نه درځه غواړم یا د اقرباؤ د خوا او یا خپله مزدوري زه خپله نفقه برابروم او یا چې متعددي ماینې د مېړه وي. دا ورته ووایي چې زه نوبت نه غواړم، او یا ماینه یو شی خپل له مال څخه مېړه ته بخښش کړي تاچه د مېړه مینه او محبت ورسره پیدا سي او نحو ذالک.

پوه سه: چې "صلحاً" مفعول مطلق دی او مفعول به بینها دی.

وَالصُّلْحُ خَيْرٌ

اوصلح بای وجه کان افضل تر جلا والي د مېړه او ماینې تر منځ بالطلاق او تر هره ورځ جنګ وجدل او تر بد ژوند د مېړه او ماینې تر منځ.

پوه سه: چې دا آیت دفع د توهم ده چې له "لاجناح" څخه پیدا کېدی، توهم دادی چې په صلح کې خدای ﷻ ګناه نفي کړه نور به صلح ښه کار نه وي، ولې ماینه چې خپل تر یو حق وتېرېږي دا ګویا مېړه ته رشوت ورکوي. نو خدای پاک دفع ددغه توهم وکړه چې صلح بین الزوجین کار د خیر او ثواب دی.

فائده: دا آیت که څه هم په دفع کې د خصومت واقعه في حقوق النکاح نازل دی لکن حکم یې عام دی. یعني د دوو کسانو تر منځ چې خصومت وي چې مفضي وجنګ او قتال ته ګرځي اهل خیر دي صلح تر منځ د متخاصمینو وکړي او فتنه دي دفع کړي فذالک الصلح خیر من التخاصم الجاري.

پوه سه: چې صلح درې قسمه ده یوه صلح مع الاقرار ده مثلاً یو چا په بل چا دعوه د پور وکړه مدعي علیه په اقرار و لکن ویل یې چې نه یې ورکوم یا د دونه لوی پور د ورکړي طاقت نه لرم. نو ثالث بالخیر خلګو یې تر منځ یو دول صلح وکړه چې دواړه طرفه یې راضي کړه فهو خیر من استدامة الخصومة بینهما. او بل دول صلح د سره د سکوت د مدعي علیه یعني مدعي علیه نه اقرار کوي او نه انکار مدعي ورته ټینګ وي چې خواه مخواه زه خپل پور غواړم بیا یې خلګ تر منځ صلح

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وکړي. نو دا صلح خیر ده تر هغه چې مدعی یې نه پرېږدي او مدعی علیه هیڅ نه وای. او بل صلح د سره د انکار د مدعی علیه یعني چې د مدعی پر ما هیڅ پور نه دی باندې او شاهدان نه وي او مدعی ورته ټینګ وي چې زما پور درباندې دی او حتماً به یې راکوي بیا اهل الصلاح والخیر تر منځ یو دول صلح وروکړي. نو دا صلح خیر ده تر دوام الخصومة بنهما اذ الخصومة الدائمة قد یفضی الی القتال.

فائده: دا درې سره صلح روا دي په نېز د ابو حنیفه رحمه الله. او مالک. احمد او امام شافعي رحمهم الله وایي چې صلح سره د انکار یا سکوته نه ده روا. والدلائل والجوابات في کتب الفقه خصوصاً کتاب الفقه علی المذاهب الاربعة.

وَأُحْضِرَتِ الْأَنْفُسُ الشُّحَّ ۚ

او حاضر دي د انفس سره د انسانانو بخل سره د حرص یعني بخل د انسان طبعي کار دی یعني الشح نه غائبېږي له انسانه ځکه.

فائده: دا حکم بناء پر انفسو د اغلب انسانانو دی لان الصحابة رضي الله عنهم والاولیاء الکرام مبرئون عن الشح، یعني په مانحن فیه کې به نه ماینه اونه مېړه تر خپل حق تېر سي چې صلح ته غاړه کښېږدي في الاغلب په سبب د بخل او حرص.

بوه سه: چې "شح" بخل ته چې حرص هم ورسره وي وایي. دا دووه خویه چې یوازي یو وي د هر بد خوی دی. نو چې دواړه سره یو ځای سي نو به ځونه بد خوی ځني جوړ سي. عبد الله بن وهب له لیث ځخه روایت کړی دی چې ماته دا خبره رسېدلې ده چې شیطان په خپل صورت د نوح علیه السلام سره ملاقي سو. نو شیطان ورته وویل چې نوح له حسد ځخه ځان ژغوره. ولي چې ما د آدم سره حسد مختاره کړی خدای علیه السلام له جنتو ځخه وشړلم. او له حرصه ځان ساته ولي آدم چې د یوې درختي حرص وکړی چې خدای علیه السلام ځني منع کړی و له جنته یې وه ایستی.

وَإِنْ تُحْسِنُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ﴿١٢٨﴾

بوه سه: چې خطاب په دې آیت کې نر او ښځې دواړو ته دی، نو معنی د آیت داده چې اې نرانو او ښځو یعني الازواج والزوجات که تاسي معامله د حسن ازدواج چې نران په ادا. د حقوقو د زوجاتو به کوئ او ددوی سره به عدالت کوئ که مو ځخه هم بد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څنې کېږي یا له بدرنګۍ له سببه او یا د اخلاقو له سببه. او ښځې دي ښایا حقوق د ازواجو پر ځای کوي که څه هم پر خلاف ددوی د مشتهی وي. او دا معامله تاسي دواړه طرفه عملي کړئ. او تاسي دواړه طرفه له خدای ﷻ څخه وېرېږئ په سبب د نشوز او اعراض او په کمولو کې د حقوقو یو پر بل باندې. ځو په تحقیق خدای ﷻ دی په عملو ستاسي ښه خبر دی، نو به تاسي ته جزاء. په ورځ د قیامت درکړي که مو حسن معامله کړې وه جزاء د حسن به درکړي، او که مو بده معامله کړې وه د بدو جزاء به درکړي یعني دوزخ، د قدیم تاریخ په پانو کې راغلي دي چې یو سړی د هر ډول رنګه و او مایئه یې د هره ښائسته وه. نو دې مایني او مېړه یوه ورځ سره وکتل. نو یې وویل الحمدلله، مېړه ورته وویل چې حمد دي پر څه شي ووایه؟ مایني یې ورته وویل چې حمد مې پر دې ووایه چې زه او ته دواړه جنتیان یو. ولې چې ته خدای ﷻ داسي ښائسته مایئه درکړې ده لکه زه چې ته هر وخت د خدای ﷻ شکر وایې چې ماته دي څرنګه ښائسته مایئه راکړې ده، او ماته تا رنګه بد رنګه او بې خونده مېړه خدای ﷻ راکړی دی، نو ما خدای ﷻ ته صبر کړی دی، وقد وعدالله بالجنة للشاکرین والصابرین.

سعدي شېرازي رحمه‌الله وایي

چو مستوره باشد زن خوبروی	بد یدار او در بهشت شوی
اگر پارسا باشد وخوش سخن	نگه درنکویی وزشتی مکن

حاصل د دې دوو بیتو د سعدي رحمه‌الله دادی که ښځه ښائسته وي لکن مستوره نه وي کوڅه ګښته بازار ګښته وي، نو د مېړه لپاره دوزخ ده ولې چې دا له کوره وځي نو مېړه یې سودایي وي چې د چا سره به یې زنا کړي وي، او که مایئه عابده نه وي او خوش اخلاقه هم نه وي هغه د مېړه لپاره هم دوزخ ده.

وَلَنْ تَسْتَطِيعُوٓا اَنْ تَعْدِلُوا بَيْنَ النِّسَآءِ

او تاسي اې نرانو او د متعددو مایئو خاوندانو ستاسي په وس هیڅ نه ده پوره چې تاسي دي عدل وکړئ په متعددو مایئو کې یعني من کل الوجوه عدل حتی په محبت قلبي کې او په جماعو کې هم. ولې چې په مایئو کې د ډېرو لږو فرق

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سته من حيث الجمال وحسن الاخلاق والتدين وفي السن يعني يوه ځوانه ويښاو بله سپين سرې وي. نو هغه عدل چې شرعاً لازم دی اول په برابري کې د وارچې په عربي يې قسم بولي. او دوهم په نفقه کې. دريم په ملبوساتو او مفروشاتو کې. ځلورم دا چې پر يوه د يې پوښتنه کوې او د هري يوې سره د يې تېوکې ټکالي کوې چې په عربي يې ممالحة بولي. په حديث شريف کې راغلي دي چې رواية يې اصحاب السنن الاربعة کړی دی له ابو هريره رضي الله عنه ځخه داسې راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام به قسم کاوه په منځ کې د ازواجو مطهراتو او عدل به يې کاوه لکن دا دعاء به يې کوله هذا قسمي فيما املک فلاتواخذني بما تملک ولا املک، مراد له "لااملک" ځخه مجاهد او عبيده وايي چې محبت قلبي دی. او ابن مسعود رضي الله عنه وايي چې جماعي دي.

وَلَوْ حَرَصْتُمْ فَلَا تَمِيلُوا كُلَّ الْمَيْلِ فَتَذَرُوهَا كَالْمُعَلَّقَةِ ۚ

که څه هم تاسي لوی حرص او کوشش وکړئ په عدل کې من کل الوجوه، لکن تاسي کامل ميل او ظلم پر هغه ښځه مه کوئ چې ستاسي ناخوښه وي يعني په قسم او په نفقه کې ظلم مه پر کوئ، نو تاسي وګرځوئ دا ناخوښه ماينه چې نه طلاقه وي او نه مېړه والا وي، ابو هريره رضي الله عنه له آنحضرت صلى الله عليه وسلم ځخه روايت کړی دی که د يو سړي دوې ماينې وي او ميل يې د يوې وخواته وي يعني په کارو کې د عدل هغه سړی به په ميدان کې د قيامت حاضر سي دده يو طرف به مائل يعني کوږ وي رواه اصحاب السنن الاربعة.

وَإِنْ تُصْلِحُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَحِيمًا ﴿١٢٩﴾

او تاسي هغه ما مضى جور اصلاح کړئ يعني توبه وکاږئ او ماينه مو هم راضي کړه او په وروسته کې هم تاسي د تقوی لار خپله کړه، نو خداى جل جلاله بخښونکی دی چې هغه ما مضی جور يې دروبخښی او مهربانه دی.

وَإِنْ يَتَفَرَّقَا يُغْنِ اللَّهُ كُلًّا مِنْ سَعَتِهِ ۚ وَكَانَ اللَّهُ وَاسِعًا حَكِيمًا ﴿١٣٠﴾

او که مېړه او ماينه سره جلا سي بطلاق الزوج اياها خداى جل جلاله به مستغني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړي هر یو د مېړه او ماینې له هغه بل څخه له فراخیه د خدای ﷻ، مېړه به بې پرواه له ماینې څخه بله ماینه پیدا کړي او ماینې ته به خدای ﷻ بل مېړه ورکړي او دی خدای ﷻ قادر پر هر شي، او یا معنی داده چې فراخه دی فضل دده او رحم دده او په هر کار کې حکمت او مصلحت لري.

فائده: که یو سړي د یوې ماینې د قسم حق څو زمانه تلف کړی و دا خو ګناه کبیره ده، پر ده توبه لازمه ده او پس له توبې څخه د مظلومي ماینې له حقه په قضاء راوړي.

مسئله: که د سړي په نکاح کې یوه مینځه وه او بله حره ښځه وه نو د حرې سره به دوې شپې تېروي او د مینځې سره به یوه شپه تېروي.

مسئله: په سبب د مرض دې قسم نه پرېږدي مګر نه په رضا د ماینو، ولې چې بخاري روایت کړی دی چې سلسله دسند یې و عائشې رضی الله عنها رسولې ده چې علیه الصلوة والسلام به په مرض موت کې پوښتنه کول اینا غداً اینا غداً غرض یې د عائشې رضی الله عنها ورځ وه، ازواجو مطهرات چې پوه سوې نو ټولو علیه الصلوة والسلام ته اجازه ورکړه چې د مرض شپې او ورځې بلا قسم د عائشې رضی الله عنها سره تېرې کړه.

فائده: په قسم کې صرف شپه تېرول شرط ده جماع شرط نه ده، یعنې که د یوې ښځې په نوبت کې د هغې سره وطي وکړي، نو د هغې بلې په وار کې به هم وطي کوي، ولې چې وطي او جماع خو د زړه په شوق سره کېږي او هغه د سړي په طاقت نه ده پوره.

مسئله: که سړی په سفر یو خوا ته تلی بیا قسم د ماینو تر منځ پر مېړه واجب نه دی عند ابي حنیفه رحمه الله لکن اولی داده چې قرعه اندازي د ماینو تر منځ وکړي کما کان یفعل رسول الله ﷺ حال الخروج الی السفر.

وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ؕ

او خدای ﷻ لره دي هغه شیان چې په اسمانو یا په مځکه کې دي یعني ملکاً وخلقاً وعبیداً وفیه تنبیه علی کمال وسعة قدرته وملکه وخلقه وعلمه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَقَدْ وَصَّيْنَا الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَإِيَّاكُمْ أَنِ اتَّقُوا اللّٰهَ ۚ

او موږ په تحقیق وصیت کړی دی یعني امر مو کړی و هغو کسانو ته چې هغو ته کتاب ورکړه سوی و، تر تاسي دمخه یعني یهود او نصاری او چې تر دوی دمخه امتونه وه.

پوه سه: چې له کتاب څخه مراد جنس دی نو ټولو کتابو ته یې شمول صحیح دی، او تاسي مؤمنان د دین محمدي مي هم امر کړي یاست چې له خدایه وبیرېږئ، یعني شرک او کفر مه کوئ بقرینة مابعده.

پوه سه: چې "أن" په "اتقوا الله" کې مصدر دی په تقدیر د با ای بان اتقوا الله.

فائده: لام د لقد موطئة د قسم دی ای والله قد آه.

وَإِنْ تَكْفُرُوا فَإِنَّ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۚ وَكَانَ اللّٰهُ غَنِيًّا حَمِيدًا ۝

او که تاسي کفر وکړئ نو خدای ﷻ لره بادشاهي د اسمانو او د مځکې، والمعنی نو خدای ﷻ قادر دی پر عذاب ستاسي ځای د نجات د خدای ﷻ د عذاب نسته، او یا د آیت معنا داده چې خدای ﷻ چې دونه وسیع ملک لري، نو ستاسي وعبادت ته اړ هم نه دی نه ستاسي په عبادت کولو کې وخدای ﷻ ته نفع رسېږي. او په صورت کې د نه کولو یې خدای ﷻ ته ضرر نه راجع کېږي او نفع وضرر وتاسي ته راجع کېږي، دا هم د خدای ﷻ فضل او احسان دی چې موږ ته امر او نهي کوي او د نفع او د ضرر کارونه رابنیي په واسطه د راستولو د انبیاء علیهم السلام او په انزال سره د کتب سماویه وو، او خدای ﷻ غني دی یعني حاجت نه وچاته لري او نه د چا و عبادت ته اړ دی، او محمود یعني مستحق د حمد دی، ولي چې ټوله نعمتونه چې په هغو سره حمد پر سر ي لازمېږي د خدای له خوا دی که یې څه هم څوک حمد نه وایي.

وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۚ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيلًا ۝

او خدای ﷻ لره دي هغه شیان چې په اسمانو او مځکه کې دي یعني خلقاً وملکاً وعبیداً.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: دغه آیت دا یې دریم وار دی چې مکرر راځي. نو فائده د دې وار تکرار یې څه ده؟

ځواب: ددې وار د تکرار فائده دا ده چې خدای ﷻ اهل ددې دی چې سړی توکل او تفویض د خپلو کارو وده ته وکړي. نو دا تکرار یې تمهید لقوله "وکفی بالله وکیلاً" والحاصل ان تکرار قوله تعالی ولله ما في السموات وما في الارض د جدید فائدې لپاره دی مثلاً په اول وار کې تمهید و الی قوله ان اتقوا الله. او دوهم وار تمهید و الی قوله وکان الله غیناً، او دریم وار تمهید و الی قوله وکفی به وکیلاً فلا یتوهم الاستدارک في الآیات الکریمة.

اِنْ يَّشَاْ يُذْهِبْكُمْ اَيُّهَا النَّاسُ

که خدای ﷻ وغواړي یعنې اراده وکړي تاسې به فاني کړي یعنې مځکه به له تاسې خالي کړي اې خلګو ولې چې صرف اراده د خدای ﷻ ده په اعدام کې د خلګو.

پوه سه: چې مفعول د "یشاء" محذوف دی بدلالة الجواب علیه ای ان یشا. ذهابکم "ایها الناس" منادی ده په حذف د حرف نداء کما في قوله تعالی "یوسف اعرض عن هذا".

وَيَاْتِ بِاٰخَرِيْنَ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰي ذٰلِكَ قَدِيْرًا ۝

او پیدا به کړي نور خلګ ستاسې په ځای کې یعنې هغه خلګ به تر تاسې فرمان بردار ه خدای ﷻ وي، او یا معنی داده چې د انسان له نوع څخه به خارج حیوانان وي.

او دی خدای ﷻ پر دا اعدام او ایجاد باندې کامل القدرة اذ لا یعجزه شئ او دغسې خدای پاک هم کړي دي په دمخه زمانو کې مثلاً فرعون او قوم ددې له خپلو کورو او قصرو څخه وه ایستل او په دریاب کې یې غرق کړه او ددوی په بنګلو کې بني اسرائیلو واړول وامثال ذالک کثیرة.

پوه سه: چې دا آیت دلیل دی د کمال قدرت د خدای ﷻ او هم د کمال صورت د خدای ﷻ. ولې چې سره د لوی قدرت چې خدای پاک یې لري خلګ ودته شرکاء وایي لکه مشرکین د مکې وغیرهم او خدای ﷻ ته لونې وای لکه مجوسیان چې وایي ملائکة بنات الله، او خدای ته خلګ زامن وایي لکه نصاری

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې وايي عيسى ابن الله او مريمه د خداى ﷻ ماينه بولي، او يهودان وايي چې عزير ابن الله. بلكې بعض كافران له وجوده د خداى ﷻ منكر دي لكه دهريان تعالى الله عن كل ماقالوا علواً كبيراً. او سره ددې خداى ﷻ و تولو ته رزق وركوي او بنه بنه نعمتونه وركوي. سعدي شيرازي رحمه الله چه خوش گفته.

ادیم سفر زمین سفره عام اوست برین خوان یغما چه دشمن چه دوست

ای کریمیکه از خزانه غیب گبر وترسا و ظیفه خور داری
دوستان را کجا کنی محروم تو که با دشمنان نظر داری

دروېش وايي: چې د ابو هريره ﷺ په حديث كې چې په صحيح اسنادو ثابت دى راغلي دي چې دا آيت چې نازل سو عليه الصلوة والسلام خپل لاس د سلمان فارسي ﷺ پر شا كښېښو او دا يې وويل هم قوم هذا.

فائده: دروېش وايي چې د متعددو آيتو تفسير او مصداق عليه الصلوة والسلام قوم د سلمان فارسي ښوولى دى، مثلاً په بخاري او مسلم كې له ابو هريره ﷺ روايت دى. دى وايي چې موږ ناست وو د عليه الصلوة والسلام سره چې سورة الجمعة نازل سو. دې آيت ته چې ورسېدى "وآخرين منهم لما يلحقوبهم" قيل من هو يا رسول الله ﷺ نو عليه الصلوة والسلام لاس پر سلمان فارسي ﷺ كښېښو "وقال لو كان الايمان عند الثريا لنالله رجال من هؤلاء. اى قوم سلمان" او دغه رنگه ترمذي له ابو هريره ﷺ څخه روايت كړى دى چې عليه الصلوة والسلام دا آيت تلاوت كړى "وان تتولوا يستبدل قوماً غيركم ثم لايكونوا امثالكم" خلګو ورته وويل من هؤلاء. يارسول الله ﷺ نو عليه الصلوة والسلام سلمان ﷺ پر ورانه وواهه ثم قال هذا وقومه او زياته يې كړه "لو كان الدين عند الثرياء لتناوله رجال من الفرس" او نور ورته حديثونه هم سته لكن گفته اند كه مشت نمونه خروار است.

مَنْ كَانَ يُرِيْدُ ثَوَابَ الدُّنْيَا فَعِنْدَ اللّٰهِ ثَوَابُ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ؕ

كه څوك اراده د ثواب د دينا لري يعني فقط عوض دنياوي غواړي لكه رياء كار په اعمالو كې د خير او يا مجاهد لپاره د غنيمت نو په نېز د خداى ﷻ ثواب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ددنیا او آخرت دواړه ستله.

پوښتنه: نحات هم دا وایي او منطقیین هم دا وایي چې په منځ کې د شرط او د جزاء به علاقه د سببیت خامخواه وي یعني یا به شرط علت وي د جزاء نحو ان کانت الشمس طالعة فالنهار موجود، او بالعکس نحو ان کان زید ناهقاً کان حماراً. نو په دې ایت کې په منځ کې د شرط چې "من کان یرید الخ" دی او د جزاء چې "فعند الله آه" دی څه علاقه ستله؟

ځواب: اصل جزاء په آیت کې محذوفه ده او دلیل د جزاء په ځای کې د هغه جزاء درېدلی دی. والتقدیر من کان یرید ثواب الدنیا فقد خسر واخطاء في الطلب اذ عند الله ثواب الدنیا والآخرة فلیطلبهما جمیعاً والیقل ربنا آتنا في الدنیا حسنة وفي الآخرة حسنة، او یا طلب د اشرف وکړي چې ثواب د آخرت دی چې ثواب د دنیا په هغه کې نغښتی دی مثلاً څوک چې جهاد کوي نیت د ثواب الآخرة وکړي که غنیمت پیدا سو فذالک ربح زائد تابع للمنوی الاصفی، وعلی هذا فقس المرائي بالعمل فتدبر.

وَكَانَ اللَّهُ سَمِيعًا بَصِيرًا ﴿١٣٤﴾

او دی خدای عالم په مسمیاتو او په مبصراتو، نو د خلګو په اغراضو هم خدای ﷻ خبر دی فیجازی کل واحد مطابق دده د قصده اونیت سره کما ورد في الحدیث المتفق علیه الطویل من کانت هجرته الی دنیا یصیبها او امرئة ینکحها فهجرته الی ماهاجر الیه.

دروښ وایي: چې هر طاعت که قولي وي او که عملي وي او که مالي وي چې له ریاء څخه عاري وي ومحضاً لله وي که لږ وي او که ډېر وي هغه غنیمت دی، په حدیث صحیح کې راغلي دي چې په دوزخ کې یوه شپله سته چې له هغې شپلې څخه پناه غواړي جهنم څلور سوه واړه اعد للقراء المرائین دا شپله جوړه ده لپاره د ریاکارانو قاریانو، شیرازي قدس سره

نکو سیرتي بی تکلف برون — به از نیک نام خراب اندرون
عبادت باخلاص نیت نکوست — وگرنه چه آید زبیمغز پوست

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حکایت فارسي: آورده اند که جوان مرد یعنی سخي غلام خویش را گفت سخاوت آن نیست که صدقه بکسی دهد که اورا بشناسد، یعني چي دا مصدق وپېژني چي په دې کي د ریا، ګنجایش سته، ولي د مصدق چي دا یقین سي چي دا فقیر او مسکین ما پېژني نو داسي ریا، به یې په زړه کي ور وګرځي چي دا فقیر به زما تعریف دهر ځایونه وکړي، صد دینار بستان وبه بازار ببرو اول درویشی که بینی بوی ده غلام ببازار رفت پیری دید که حلاق سر اورا می تراشید زر بوی داد پیر گفت که من نیت کرده ام که هرچه مرا افتوح شود بوی دهم یعني حلاق ته به یې ورکوم وحلاق را گفت بستان حلاق گفت که من نیت کرده ام که سر اورا برای خدا می تراشم اجر خود از حق تعالی بصد دینار نمی فروشم غلام حسب فرمایش باد ار خود کسی نیافت باز گشت وزر را پس اورد.

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ بِالْقِسْطِ

اې هغه کسانو چي ایمان یې راوړی دی وسئ دهر کوشش او سعي کونکي په پر ځای راوړلو کي د عدل او همېشه توب وکړئ پر قیام د عدل.

دروښ وایي: چي چونکه مخاطب په دې آیت کي ټوله مؤمنان دي کما یدل علیه عنوان الآیة نو مراد هم ځني عدالت عامه دی په دې معنی که عدالت وي د زوج بین الزوجات او که عدالت وي د امیر د فوج په منځ کي د فوجیانو او که عدالت وي د رئیس المملکة په منځ د عمومي رعایاوو، او که عدالت وي د قاضي د محکمه شرعیه اسلامیه په منځ کي د خصوم، نو واجب ده پر قاضي باندي برابری بین المتخاصمین في الجلوس والاقبال علیهما.

له ام سلمة رضي الله عنها ځخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وویل "اذا ابتلی احدکم بالقضاء فلیسا وبینهم ای الخصوم في المجلس والاشارة والنظر ولا یرفع صوته علی احد الخصمین اکثر من الآخر رواه اسحاق بن راهویه في مسنده.

دروښ وایي: چي په لفظ کي د حدیث چي "ابتلی" یې په مجهوله صیغه وویل سوه ددې لپاره چي سړی دي پخپله طالب د قضاء نه ګرځي او که چا یعني حکومت اسلامي یو عالم مجبوره کړی پر قضاء. او په اخته یې کړی لکن حتی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الوسع دي ځان ځني ساتي خصوصاً في هذا الزمان. قيل

ابو حنیفه رحمه الله علیه قضاء نه کرده وبمرد تو بمیری اگر قضاء نه کنی

ومن بلاغات الزمخشري رحمه الله علیه

قضات زماننا صاروا لصوصاً عموما في القضايا لاخصوصاً

نخافوا منهمو لوصافحونا للصوا من خواتمنا فصوصا

شُهَدَآءَ لِلَّهِ وَلَوْ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمْ

پوه سه: چې "شهدا" خبر بعد الخبر دی د "کونوا" یعنې شاهدي اداء کوو خاصةً لپاره د خدای ﷻ که څه هم دا شاهدي پر خپل ځان وي، شاهدي پر خپل ځان اقرار بالدین دی.

أَوِ ٱلْوَٰلِدَيْنِ وَٱلْأَقْرَبِينَ ۚ

یا شاهدي پر مور او پلار او یا پر نورو قریبانو یعنې په حقه شاهدي اداء کول پر مور او پلار عقوق د والدینو دی وکذا سائر الاقارب.

إِن يَكُنْ غَنِيًّا أَوْ فَقِيرًا فَٱللَّهُ أَوْلَىٰ بِهِمَا ۖ

که وي دا مشهود علیه غنې چې له مقام څخه وفهمېدی. نو دده مراعات مه کوه. او که فقیر وي زړه مه پر سوځه بلکې شاهدي په ډک زړه لله پر اداء کړه. او خدای ﷻ اقرب دی وغنې او فقیر ته یعنې تر تاسي. نو که شاهدي پر غنې یا پر فقیر باندي صلاح نه وای نه به یې مشروع کولای.

پوښتنه: د نحو په کتابو کې وایي چې متعدد شیان چې په او سره ذکر سي ضمیر د مفرد به ورته راجع کېږي لان المراد واحد المتعدد. نو حق د ضمیر اولی به نه دی؟

ځواب: علامه تفتازاني رحمه الله علیه په حاشیه کې د کشاف داسي ځواب ورکړی دی چې ضمیر راجع دی و جنس ته د غنې او فقیر لا الی الغنی والفقیر المذکورین قبل بکلمة او حتی یرد ماقال في السوال او روح البیان هم دغه جواب ته اشاره کړې ده حیث قال ای جنسي الغني والفقیر. وهکذا اختار هذا الجواب علامة بغداد المحقق الآلوسي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروبش وايي: چې ددې ځواب حاصل دادی چې دمخه چې غني او فقير ذکر سوي وه هغه په عنوان د مشهود عليهما وه او دلته په ضمير کې د مثنی جنس د غني او فقير مراد دی که مشهود عليهما وي او که نه وي، د مظهري رحمه الله دا خيال دی چې د علامة تفتازاني غرض دادی چې که ضمير د "به" مفرد ويل سوی وای نو چا به توهم د اختصاص د مفرد ضمير په غني يا فقير پورې نه کولای، نو چې تثنيه يې روايه دا توهم دفع سو.

دروبش وايي: چې دا د مظهري يو صرف توهمي خيال دی د علامه تفتازاني غرض توجيه د قانون نحوي ده چې دمخ تېر سو چې متعدد شيان چې په کلمه د او ذکر سي وروسته چې ضمير راجع کېږي مفرد به وي ليدل علی ان المراد بالمذکورين احدهما. وحاصل التوجيه ان ضمير بهما ليس براجع الی المذکورين يعني الغني والفقير المذکورين لانهما هناک باعتبار کونهما مشهور عليهما والضمير راجع الی جنسهما فافهم.

دروبش وايي: چې مظهري هغه سوال چې مظهري پر تفتازاني کړی دی بقوله ويرد عليه ان الواحد من الغني والفقير فلا توهم للاختصاص انتهی مبني دی پر عدم فهم د مظهري مراد د تفتازاني کمامر عنقريب.

دروبش وايي: چې بل جواب د مثنی ضمير راوړی بقوله قلت ويمکن انيکون مرجع الضمير المشهود له والمشهود عليه الذين دل عليهما الکلام آه. دا جواب به هلته صحيح وای که د ماقبل کلام څخه مشهود له فهميدلای وليس کذالک لان المذکور فيما قبل کلمة علی فهي تدل علی المشهود عليه دون المشهود له وسياق الکلام السابق ايضاً علی ان الشاهد ينبغي ان لايراعي الغني لغناه فلا يشهد عليه ولايرحم علی الفقير لفقره فلا يشهد عليه. فالمشهود له ليس مذکوره فيما قبل صراحةً ولا مفهوماً هذا ماعند العاصي الفقير والعلم عند العالم الخبير.

فَلَا تَتَّبِعُوا الْهَوٰٓى اَنْ تَعْدِلُوْا

او تاسي متابعت مه کوئ د خواهشاتو نفسيه و، يعني په اداء کي د شاهدي.

يوسه: چې د "ان" سره لام جاره مقدر دی او مراد له "تعدلوا" څخه عن الحق

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی فالمعنی ولاتتبعوا الهوی لان تعدلوا عن الحق الصریح ویمکن ان یقدر المضاف ای کراهة ان تعدلوا عن الحق، نو پر دواړو تقدیرو تعدلوا په آیت کې مشتق دی له عدول څخه لا من العدل کما لایخفی فافهم.

وَإِنْ تَلْوٗا أَوْ تُعْرِضُوْا فَإِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ۝

او که تاسي کړې کړئ ژبې له شاهدي څخه د حق یعني شاهدي خو اداء کړئ لکن تحریف او تغیر ورکړئ کما في روح البیان لي الشیئ فتله وتحریفه ولي الشهادة تبدیلها وعدم ادائها علی ماشاهده بان یمیل فیها الی احد الخصمین انتهی. او یا اعراض او منع وکړي له اداء څخه د شهادة الحق. نو په تحقیق خدای ﷻ په ماتعملون سره دی یعني فیجازیکم.

پوه سه: چې کلمه د "ما" یا مصدریه ده ای بعملکم او یا موصوله فالعائد محذوف ای بما تعملونه. وهذا هو القانون في جمیع القرآن.

دروښ وایي: چې په اشتباه والنظائر کې چې د فقهي شریفي یو معتبر کتاب دی داسي راغلي دي که چا له تا څخه پوښتنه وکړه چې کوم شاهد ته روا ده چې شاهدي پټه کړي، نو ورته ووایه چې هغه شاهد ته شاهدي پټول روا ده چې شاهدان دې ورو وي او د هغو په شهادت سره کار کېږي. او یا شاهد پوهېږي چې قاضي فاسق زما شاهدي نه قبولوي بلکې د مدعی څخه رشوت غواړي.

فائده: فقهاء وایي چې پټول د شاهدي په حدود کې افضل دی تر اداء. کولو لقوله علیه الصلوة والسلام للذي شهد عنده بالحد یعني بموجب الحد لکه زناء سرقه، شرب الخمر وغیرها نو ستر ته بشوبک لکان خیراً لک وقوله علیه الصلوة والسلام من ستر علی مسلم عیباً ستر الله علیه في الدنیا والآخرة، که چا پټه کړی پر مسلمان باندې یو عیب خواه موجب د حد وي لکه سرقه وغیره یا موجب د حد نه وي لکه په پښتنو کې چې څوک گوز واچوي یا یو چا د بخې څخه مچه واخسته. خدای ﷻ به پرده واچوي پرده په دنیا او اخرت کې، وقال علیه الصلوة والسلام ادرؤا الحدر ما استطعتم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا آمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ

اې هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دی ایمان راوړئ پر خدای ﷻ او پر رسول ﷺ باندې دده، قیل المعنی "اثبتوا" وداوموا علی ذالک الایمان. وقیل افعلوا او اسمعوا مافیه طمانیة القلب، وقیل اسعوا غایة السعي حتی یبلغ ایمانکم الاجمالي الی الایمان التفصیلي. او بعض وایي چې دا خطاب منافقینو ته دی والمعنی یاایها الذین آمنوا بالسنتکم نفاقاً آمنوا بالقلوب وهذا قول مجاهد رحمه الله. او بعض وایي چې دا خطاب و یهودو او نصاری وو ته دی، والمعنی یا ایهاالذین بموسی وعیسی آمنوا بمحمد والقرآن وهو قول الضحاک او بعض وایي چې دا خطاب ومشرکینو ته دی والمعنی یا ایها الذین آمنوا باللات والعزی آمنوا بمحمد ﷺ لکن مخاطبة الله ﷻ مع المشرکین والیهود والنصاری ومخاطبته المنافقین بهذه المخاطبة الشریفة یا ایها الذین آمنوا بعید جداً. او په روح البیان کې وایي چې خطاب و مؤمنین ته د اهل کتاب دی ولي چې بغوي پخپل سند سره روایت کړی دی چې عبد الله بن سلام او ګڼ شمېر ملګري ددې راغله او علیه الصلوة والسلام ته یې وویل انا نؤمن بک وبکتابک وبموسی والتوراة وعزیر ونکفر بما سواه. نو دا آیت نازل سو، نو معنی د آیت داده آمنوا ایماناً عاماً شاملاً بجمیع الرسل والکتب ولي چې ایمان پر بعض لکه لا ایمان دی.

وَالْكِتَابِ الَّذِي نَزَّلَ عَلَىٰ رَسُولِهِ وَالْكِتَابِ الَّذِي أَنْزَلَ مِنْ قَبْلُ

او پر هغه کتاب ایمان راوړئ چې خدای ﷻ نازل کړی دی پر رسول خپل یعني محمد ﷺ او پر هغه کتاب چې خدای نازل کړی دی دمخه تر قرآن چې تورات، زبور، انجیل او نورې صحفې پر نورو انبیاء علیهم السلام والتسلیم یعني پر دې ټولو به ایمان راوړئ.

فائده: کتاب ثاني اسم جنس دی لتعدد الکتب المنزلة من قبل.

پوښتنه: چې د قرآن په نزول کې یې باب د تنعیل راوړی او د نورو کتابو په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نزول کې یې باب د افعال راوړی وجه یې څه ده؟

ځواب: په خواصو ابوابو کې د شافیه وایي چې غالبه خاصه د باب تفعیل د تدریج او مهلت دی په فعل مجرد چې دلته نزول او قرآن مبارک هم شورة سورةً آیةً آیةً په درویشت کاله کې بشپړ سوی دی بخلاف الکتب الاخر لانها نزلت دفعة واغلب خواص باب الافعال الدفعة ای عدم التدریج.

وَمَنْ يَّكْفُرْ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًۢا بَعِيْدًا ۝

او څوک چې کفر وکړي په خدای ﷻ سره یا له وجود څخه د خدای چې خالق العالم دی منکر سي لکه دهریان چې وایي چې عالم لره صانع نسته او یا وجود د واجب الوجود بولي، دوی وایي یو خدای خالق د خیراتو او د ښوښو مهوو او د خوراکې موادو لکه غنم ورجې وغیره او د حیواناتو نافعه وو لکه پسونه، اوښان وغیر ذالک دوی ودې ته یزدان وایي، او بل بیا صانع بولي د ضرري شیانو لکه ځوزان کروړي او زهر درلودونکي حیوانات لکه لږم، مار، غونډک وغیره ذالک او د درندګانو حیواناتو لکه لیوه، زمری وغیر ذالک ودې صانع ته دوی اهرمن وای یا شیطان وایي او دې ډلې ته ثنویه وایي ولې چې دوی دوه خدایه منې، او بل کفر په خدای دی چې خدای ﷻ ته شریک في العبادة نه په اولوهیت او وجوب الوجود وایي چې دې ته مشرکین او وثنیه وایي الی غیر ذالک من انواع الکفر بالله کاتخاذ الولد والزوجة الی غیر ذالک مما یمتنع علی الله ﷻ.

دروښ وایي: چې په کفر بالله کې نوري ډلې هم سته او کفر وکړي په ملکو د خدای چې دوی معصوم له ګناه څخه نه دي او یا ذکورت او انوثت لکه حیواناتو لري الی غیر ذالک او کفر وکړي په کتابو د خدای ﷻ د ټولو کتابو وې لکه مشرکین چې یو کتاب الله منې او یا د بعض کتابو د خدای لکه یهودان چې نه انجیل منې او نه قرآن او نصاری چې نه تورات منې او نه قرآن او په رسولانو د خدای ﷻ کفر وکړي یا په ټولو لکه مشرکان او یا په بعضو لکه یهود او نصاری نو په تحقیق سره هغه ګمراه سوه له حق څخه په ضلال بعیده سره چې بیا یې وحق ته د رجوع لار بنده سوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: پوسه! چې ددې معنا دا نه ده چې په ټوله مذکوره شیانو به صراحةً کفر کوي، ولې چې په فروق مذکوره وو کې بعضې په یوه شي سره صراحةً کفر کوي بعض په بل شي سره کفر کوي صراحةً بلکه مراد په مذکوره شیانو سره کفر دی یا صراحةً یا التزاماً.

پوه سه: چې کفر په یوه سره ددې مذکوره امورو مستلزم دی کفر لره په ټولو مذکوره امورو سره للتلازم بینها في الکفر. وبهذا علمت سر قوله تعالی "فقد ضل ضلالاً بعیداً لانه اجتمع علی من کفر بواحد منها انواع من الضلال فیکون ضلاله بعیداً من الحق بحیث لا یکاد ان یعود الی طریقة الصواب الا باتباع دین محمد ﷺ واتباع کتابه من اوله الی اخیره واتباع سنة نبیه ﷺ.

دروښ وایي: چې متکفل د خلاصون له دغو انواعو څخه د کفر اجمالاً زدکړه د امنت بالله وملائکة آه سره د لحاظ د معنی.

پوه سه: چې علامه مظهري رحمه الله په دې کفر کې بعض فرق د اهل الاهواء هم داخلي کړي دي کالمعتزلة فارجع الی ملاحظة تفسیره وتکفیره لهم بدلائل موجودة في تفسیره والله اعلم بالصواب والیه المرجع والمآب.

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا ثُمَّ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا ثُمَّ ازْدَادُوا كُفْرًا

دروښ وایي: چې اکثره مفسران پر دې خبره سره موافق دي چې دا آیت په شان کې د یهودو نازل سوی دی، نو یې ترجمه داسې ده "یهودانو چې ایمان راوړی پر موسی علیه السلام او بیا کافران سوه په سبب د عبادة العجل دا هغه وخت و چې موسی علیه السلام کوه طور ته تللی و لپاره د راوړلو د تورات، بیا چې وروسته موسی علیه السلام ورته راغلی بیا یې وروسته ایمان راوړی او له عبادت څخه د عجل یې توبه وکښل، او وروسته تر وفات د موسی علیه السلام بیرته کافران سوه په عیسی او په انجیل سره وروسته یې زیات کړی کفر خپل بکفرهم بمحمد ﷺ.

لَمْ يَكُنِ اللَّهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ سَبِيلًا ﴿١٣٧﴾

نه دی خدای ﷻ چې دوی ته دې بخښنه وکړي یعنې مادامو اکفرهم، او نه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای ﷻ ودوی ته هدایت کوي یعني توفیق د هدایت نه ورکوي مجازات علی کفرهم المکرر.

پوښتنه: اجماع د امت مرحومه خو پر دې ده چې ددغو یهودانو توبه قبلېږي بخښه د دوی د کفر ورته کېږي فما معنی قوله تعالی لم یکن الله آه. روح البیان ددې پوښتنې په جواب کې داسې ویلي دي ای ماداموا علی کفرهم لانه لامغفرة للکفر، او مجاهد رحمه الله علیه په ځواب کې د پوښتنې داسې ویلي دي ای اذا ماتوا علی الکفر او بعض مفسران وایي چې معنی د "لم یکن الله لیغفر لهم ولا لیهدهم سبیلاً" داده چې بعید دده ایمان راوړه ددوی وروسته تر متعدد وار کفر، ولي چې داسې کفر پر زړه باندې رین یعني زنګ او پرده او پرستر ګو غشاوه پیدا کوي فیستبعد المغفرة مع استحباب الکفر ویستبعد الهدایة لهم لوجود الرین علی قلوبهم.

فائده: لام ته د "لیغفر" او د لیهدیم لام حجود وایي او فائده تاکید د نفي ده کذا في کتب النحو.

پوښتنه: په نحوه کې وایي چې حرف جر پر فعل نه داخلېږي؟

ځواب: وروسته تر لام ان مصدري مقدر دی نو فعل په معنی د مصدر وګرځېدی فصح دخول حرف الجر علیه لان المصدر اسم ثم المصدر بمعنی الفاعل لیصح الحمل علی اسم یکن یعني الله، فالمعنی لم یکن الله غافراً لهم ولاهادیاً لهم فتدبر.

بَشِّرِ الْمُنٰفِقِيْنَ بِاَنَّ لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ۙ

او زېرې وکړه و منافقانو ته په دې سره چې دوی لره عذاب سته دردناکه.

پوه سه: چې بشارت که څه هم د خوشحالۍ خبري ته وایي او عذاب الیم خو د خوشحالۍ خبره نه ده بلکې ځای خو د انذر و لکن استعمال د بشارت دلته تحکما بهم دی او منافق هغه سړي ته وایي چې په ظاهره دوست او په باطن کې دښمن وي د سړي، والمنافقین في الشرع وفي زمانه ﷺ هغه کسان دي چې په اوائلو کې د سورة البقرة خدای پاک ښوولي دي حیث قال "ومن الناس من یقول آمنا بالله وبالیوم الآخر" الی ان قال "واذا لقوا الذین آمنوا قالوا آمنا واذا خلوا الی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شياطينهم قالوا انا معكم الى آخير الآيات.

الَّذِيْنَ يَتَّخِذُوْنَ الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۭ اَيَبْتَغُوْنَ عِنْدَهُمُ الْعِزَّةَ فَاِنَّ الْعِزَّةَ لِلّٰهِ جَمِيْعًا ۝

فائده: كه "الذين يتخذون آه" وامثاله في القرآن مرفوع على الذم واى يا منصوب على الذم واى فعلى تقدير الرفع الذين هم مبتداء ورسره محذوف ده وعلى التقدير الثاني اريد يا اعني ورسره محذوف ده چې "الذين" يې مفعول سي والتفصيل في كتب النحو ومعنى الآية منافقين هغه كسان دي گرځوي كافران يعني يهودان خپل دوستان باطني ماسوى د مسلمانانو، آيا دوى غواړي د كافرانو له خوا څخه عزت، نو په تحقيق ټوله عزت خداى ﷻ لره دي يعني معطي او وركونكى د عزت خو خداى دى "تعز من تشآء وتذل من تشآء بيدك الخير آه" او دا عزت خداى ﷻ د خپلو دوستانو او مسلمانانو په برخه كړى دى "ولله العزة ولرسوله وللمؤمنين الى االخير الآية"

دروښ وايي: چې نفاق قلبي شرعي مخصوص په زمانو پورې د عليه الصلوة والسلام نه دى بلكې په هره زمانه او په هر دور كې منافقان موجود وه، غاية الفرق چې منافقان د زمانې د عليه الصلوة والسلام په وخې سره منافق معلوميدى او وروسته چې وحي قطع سوې نو څوك حكم قطعي په نفاق د چا نه سي كولاى، او پاته منافقان عملي سوه وروسته تر خير القرون اكثر من ان تحصى.

وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتٰبِ اَنْ اِذَا سَمِعْتُمْ اٰيٰتِ اللّٰهِ يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَاُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُوْا مَعَهُمْ

او په تحقيق خداى ﷻ نازله كړې ده په قرآن كې دا خبره چې تاسي واورئ آيات د خداى ﷻ چې كفر په كړه كيږي، او پسخنډ په وهل كيږي، نو د هغو خلګو سره مه كښيني يعني كه يو مجلس د چې په هغه كې كافران هم ناست وه لكه په مكه مكرمه كې چې به داسي د هر پېښېدل چې كفارو د مكې به انكار كاوه له بعضې آياتو څخه د قرآن لكه آيات د بعث بعد الموت او نور او په آيتو د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قرآن مبارک به یې پسخند واهه. نو چونکه مسلمانانو د مکې چې په حال کې د ضعف وه دفع د هغو کافرانو یې له طاقته پوره نه وه چې منع یې کړې، نو خدای پاک امر ورته وکړی چې ورسره کښېنئ خو مه او دا انکار او پسخند مه اورئ بلکې له مجلسه ځني ولاړ سئ لیدل ذالک علی انکارکم القلبي.

فائده: قد نزل" عاصم رحمه الله په فتح د نون او د زا وایي علی صیغة المعلوم، چې معنی یې داده قد نزل الله علیکم او نور قاریان یې په ضمه د نون او په کسره د زاء وایي علی صیغة المجهول چې مفعول مالم یسم فاعله یې "ان" آه دی ان مخفف د مثقل دی ای انه والضمیر للشان.

فائده: یکفربها ویستهزء بها دواړه حال دي له آیاتو څخه او دا یې لپاره د تقیید د نهي د مجالست راوړه، او ضمیر د معهم راجع دی والذین یکفرون ویستهزئون ته دی، وجهي د نهي یې داده چې سماع د کفر بالقرآن والاستهزا، بالآیات دلالت پر رضا ستاسي ونه کړي.

حَتّٰى يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهٖٓ

تر هغه وخته چې کافران بحث شروع کوي په نورو خبرو کې، ددې معنا داده چې که کافرانو نوري خبري شروع کړې بیا نو ناسته ورسره روا ده که د ضرورت له سببه وي او که د غیر ضرورت له وجهي وي خو مطلقاً مجالست یې روا دی. او حسن بصري رحمه الله وایي چې مجالست یې نه دی روا وان خاضوا في حدیث غیره

دروښ وایي: چې دا خبره علی الاطلاق نه ده صحیح، ولي چې ګاهي د بیع او شراء د مسلمانانو او کافرانو تر منځ راځي نو بیا یې ولي مجالست نه دی روا.

مسئله: ضحاک رحمه الله له ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چې د هر مبتدع في الدین لکه معتزله. وهابیه او سلفیه ناسته نه ده روا چې پخپل ابتداع کې خبري کوي او خپل د ابتداعي مذهب تشریح او دلائل وای حتی یخوضوا في حدیث غیره وهذا جار الی یوم القیامة الا ان یکون المجالسة معهم للرد علیهم والجوابات عن دلائلهم الفاسدة کما في مجالس المناظرة معهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اِنَّكُمْ اِذًا مِّثْلُهُمْ

او تاسي مسلمانان په دغه وخت کي د کفر او استهزا. بالآيات ورسره ناست ياست مثل ددوی ياست. ولي دا رضا په کفر سره ده. او که سړی خبري د کفر نه ورسره کوي دا بيا منافقت دی.

اِنَّ اللّٰهَ جَامِعُ الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْكٰفِرِيْنَ فِيْ جَهَنَّمَ جَمِيْعًا ﴿۱۴۰﴾

په تحقيق خدای ﷻ جمع کوي منافقان او کافران په جهنم کي تولـه.

تنبيه: خدای پاک "وقد نزل" په صيغه د ماضي ووايه اشاره يې و هغه آيت ته ده چې هغه په سورت انعام کي دی چې هغه مکي دی دا آيت نازل کړی و "واذا رئيت الذين يخوضون في آياتنا فاعرض عنهم حتى يخوضوا في حديث غيره" د اهل مکه حال چې دورښې دمخه ذکر کړی چې اهل مکه مشرکينو به کفر او استهزاء بالايات کوله نو په سورت انعام کي خدای پاک مسلمانان ددوی له مجالسته منع کړه که څه هم په سورة انعام کي خدای پاک کفر بالآيات او استهزاء بها نه ده ذکر کړې لکن نهي له مجالست څخه د کفارو په مکه کي دلالت پر کوي. ولي که دا دوه سببه نه وای نو منع مجالست لره څه معنی وه.

بيا مسلمانان مدينې منورې ته راغله، نو احبارو د يهودانو يعني ملايانو ددوی په مدينه منوره کي هغه کارونه کول لکه کافرانو د مکې چې به کوله يعني کفر بآيات القرآن والاستهزاء بها، او منافقان چې ځانونه يې و عليه الصلوة والسلام ته مسلمانان معرفي کړي وه او په واقع کي کافران وه ددغو احبارو سره کښېناستل او ددوی پر کفرياتو به يې موافقه ورسره کوله. نو دا سورة النساء چې مدني دی په آيت کي خدای ﷻ د قدنزل آه يې صيغه د ماضي اشاره و هغه آيت مکي ته د سورة انعام وکړه. حاصل دادی چې سورة انعام چې مکي دی ممنوع ده له مجالست څخه د کافرانو چې کفار د مکې دي چې مسلمانانو ته د مکې قبل الهجرة دا وايي چې د مشرکينو سره د مکې مه کښېنئ چې دوی استهزاء او کفر کوي تر هغو په نورو کي خوض کوي. او په سورت نساء کي چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مدني د يوازي منع د منافقانو ده چې ځانونه يې مسلمانان بلل له مجالسته د کافرانو د احبارو د يهودانو چې کفر بالايات او استهزاء بها به يې کوله. والدليل على ان الممنوع في سورة النساء منافقان دي ولي چې احبارو د يهودانو خو دا نه سواى کولاى چې د مسلمانانو مخلصانو په منځ کې دي استهزاء په ښکاره توګه وکړي لان الاسلام كان غالباً في المدينة.

دروبش وايي: چې ددې مقام تحقيق پر مذکوره وجهې باندې له خواصو څخه ددوى تفسير دى البته اشارات د بعض مفسرينو موجود دي لکن تفسير او بسط او تضريعاتي يې په تفسير پورې د عاصي خاصي دى والله الموفق والمعين.

دروبش وايي: چې مجالست يعني ناسته ولاړه د هر ښه او د بر بد تاثيرات لري، په صحيح حديث کې راغلي دي چې د صالح بندګانو او د خداى د دوستانو سره د ناستې مثال داسې دى لکه سړى چې د عطر فروش په دوکان کې کښېني، نو عطر فروش به ده ته يو څه عطر يا مفت ورکړي او يا به يې دا سړى ځني رانسې که دا دواړه کاره ونه سي نو د عطر فروش دوکان طبعاً خوش بويه وي نو سړى چې ځني ووځي خامخا ښه معطر بوى يې ځي، سعدي رحمه الله عليه بطريق الكنايه وايي

گلی ناچيز در حمام روزی	رسيد زدست محبوبی بدستم
بدو گفتم که مشک يا عنبری	که از بوی دلاويزی تو مستم
بگفتا من گلی ناچيز بودم	و لکن مدتی با گل نشستم
جمال همنشين درمن اثر کرد	وگرنه من همان خاکم که بودم

عليه الصلوة والسلام وايي چې مثال د جليس سوء داسې دى لکه سړى چې د آهنګر (پښې) په دوکان کې ناسته ولاړه کوي، نو چونکه آهنګر خو په کُره کې اور تازه کوي او هغه بخري غورځوي، نو که د سړي په کالو کې بخرى ومنبلي کالي به يې ورسوځي او که هغه هم نه سي پېښه، نو د آهنګر دوکان طبعاً بدبويه وي، نو سړى چې ځني راووځي حتماً به دده د کالو بد بوى ځي، او كما قال رسول الله ﷺ:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الَّذِينَ يَتَرَبَّصُونَ بِكُمْ فَإِنْ كَانَ لَكُمْ فَتْحٌ مِّنَ اللَّهِ قَالُوا أَلَمْ نَكُنْ مَّعَكُمْ وَإِنْ كَانَ لِلْكَافِرِينَ نَصِيبٌ قَالُوا أَلَمْ نَسْتَحْوِذْ عَلَيْكُمْ وَنَمْنَعْكُمْ مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ

پوه سه: چې دا آیت صرف ایضاح د منافقانو د حال کوي مطلب دا چې قید نه دی.

فائده: الذین" یا بدل دی د "الذین یتخذون آه" څخه او یا مبتداء. ده خبر یې "فان لکم آه" دی او یا منصوب علی الذم دی یعني آذم الذین او یا مرفوع خبر د مبتداء محذوفي دی ای هم الذین آه.

ترجمة الآیة" منافقان هغه کسان دي چې تاسي ته انتظار باسي د خیر او د شر یعني فتح یا هزیمت. والفاء لتفصیل تربصهم" نو که وي تاسي لره فتح او برې پر دښمن یعني کافرانو او غنیمت یو څه پیدا سي، نو دوی درته وایي آیا مونږ ستاسي له جملې څخه نه یو یعني مسلمانان نه یو؟ او په جهاد کي نه وو درسره ملګري؟ مطلب یې دادی چې مونږ ته پوره ونډه په غنیمت کي راکړئ، او که چېرې کافرانو لره برخه پیدا سي یعني پر مسلمانانو غالب سوه نو دوی کافرانو ته وایي چې آیا چې مونږ د مسلمانانو سره ملګري و پر تاسي مو غلبه وکړه تر دې واقعي نو مونږ تاسي تر بغل وه یستلاست، او یا تاسي مو منع کړلاست له غلبې څخه د مؤمنانو پر تاسي چې تاسي ته به مو د مؤمنانو جاسوسي کوله او ددوی په حالاتو به مو خبرولاست او یا به مو د مسلمانانو له لښکره ځان وه ایستی لکه په غزاء کي د احد چې د عبدالله بن ابي په مشرۍ درې سوه کسه د احد له فوجه ووتل.

فَاللَّهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

نو خدای ﷻ به فیصله وکړي ستاسي تر منځ ایها المؤمنون او د منافقانو تر منځ د قیامت په ورځ بدخولکم الجنة ودخولهم النار دار البوار وبئس القرار.

وَلَنْ يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا ﴿١٤١﴾

نه ده ګرځولې خدای ﷻ پر مسلمانانو باندي لار.

دروښ وایي: چې ددې آیت مختلفي ترجمې کړه سوي دي حضرت علي او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ابن عباس رضي الله عنه وايي چي مراد څنې سبيل د آخرت ده قالوا وهو الظاهر والمراد بسبيل الآخرة هو الظهور والغلبة لکه په دنيا کي چي بعض وخت غلبه کفارو وکړه پر مسلمانانو لکه په احد کي ابتلاءً للمسلمين واستدراجاً للکافرين. والحاصل چي خدای جل جلاله بنکاره کوي اثر د مؤمن د ايمان په ورځ د قيامت په ورکړه سره د جنت ونعيمها الموعود لهم من الله جل جلاله او په دې نعمتو کي په هيڅ کافر نه وي ورسره شريک لکه په دنيا کي چي به سره شريکان وه بلکې کافران په نعمتو کي ددنيا غالباً تر مسلمانانو بالا وه. حتى چي د قيامت په ورځ به کافران پوه سي چي حق په جانب مؤمنان دي. او عکرمه رضي الله عنه وايي چي مراد له سبيل څخه ظهور او غلبه ده پر اصحابو د عليه الصلوة والسلام.

سوال: په احد کي خو غلبه کافرانو پر اصحابو د رسول الله ﷺ وکړه؟

ځواب: په احد کي هم اولاً صحابه وو رضي الله عنهم پر کافرانو غلبه وکړه حتى چي د کافرانو بښځي په غرو کي څغاستلې لکن چونکه بعض مسلمانانو له امر نبوي څخه مخالفت وکړی نو خدای پاک ودوی ته مجاذاتاً شکست ورکړی.

دروښ وايي: چي د احد د غزاء تفصيل په دې تفسير کي په اتم وجه تېر سو مطالعه يې کړه ان شئت. او بل جواب دادی چي ددغه مفسر مراد غلبه دانمه ده د کافرانو په اصحابو رضي الله عنهم باندي.

پوښتنه: چي په زمان حاضر کي يعني له سنه ۱۴۰۰ بيا تر ۱۴۲۷ هـ ق ولي امريکايانو په کومک ددوی د ناټو اندږيوالانو کافرانو پر بعض اسلامي مملکتو لکه افغانستان او عراق باندي غلبه پيدا کړه؟

ځواب: غلبه د کافرانو پر مسلمانانو هر ځای چي راغلې ده په سبب د ضعف ايمان د مسلمانانو او د کثرة العصيان ددوی. او يوه بله وجه هم سته چي په اوسنی زمانه کي د اکثرو خلګو تر دين د دنيا جاه او جلال خوښ دي حتى چي بعض علماء هم په دې آفت مبتلا، دي. او د امريکايانو والر او روپی په خرڅه دي. نو ټوله مسلمانان په والرو رانيسي. شورويانو چي په کومک د خلقيانو لويږ چميانو پر ټوله افغانستان قبضه وکړه لکن چونکه شورويان مسکينان وه چي د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسکنت له کبله به یې په افغانستان کې چونګښې او نور نجس شیان خوړل او خالص زور یې چلاوه، نو هغه وچې افغانستان خو لاڅه کوې خپل اتحاد شوروي چې یو ستر قدرت و او امریکایانو د اتحاد شوروي له بېرې و دنیا ته سترګې نه سوای ښکاره کولای، آخر دې وړې سو او یو ماسکو ور پاته سو، امریکایانو چې ولیدل چې د اتحاد شوروي اتحاد له منځه ولاړې، نو د مسلمانانو پر مملکتو یې حملې شروع کړې او بل د ډالرو ورقې یې هم وه اوروڼې.

او بعض مفسران وایي چې مراد له سبیل څخه سبیل د استیصال ده چې کافران دي یکلخته مسلمانان له دنیا څخه محو کړي او داسې کېدای نه سي، ولهذا قال رسول الله ﷺ "الجهاد ماض الی یوم القیامة"

فائده: امام شافعي رحمه الله په دغه آیت سره دلیل وایي چې د کافر شراء د عبد مسلم فاسده ده، او امام اعظم رحمه الله وایي چې شراء خو یې صحیح ده لصدور العقد من اهله في محله لکن اسلامي حکومت دي کافر مجبوره کړي چې دا مسلمان مریی پر یو مسلمان خرڅ کړه.

إِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ يُخٰدِعُوْنَ اللّٰهَ وَهُوَ خَادِعُهُمْ ۚ

دروښ وایي: چې ددې دواړو طرفو پوره تفصیل ددې تفسیر د سورة البقرة په تفسیر کې تېر سو فلانعیده خوفاً من الاطناب من شاء فلیطالع والله الموفق.

وَإِذَا قَامُوْٓا إِلَى الصَّلٰوةِ قَامُوْا كُسَالٰى ۙ

او چې دوی ولاړ ېږي د مسلمانانو له جماعت څخه د لمانځه لپاره، نو دوی ولاړ ېږي په سست او درانه بدن سره، لکه سړی چې په زړوه لمانځه ته بیایي ولي دوی خو په لمانځه کولو د ثواب عقیده نه لري او په ترک یې له عذابه نه ېږي لعدم عقیدتهم.

يُرَآءُوْنَ النَّاسَ وَلَا يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ إِلَّا قَلِيْلًا ۝

دوی صرف په خلګو یعني په مسلمانانو ځانونه وینې، یعني دا ښکاره کوي د مسلمانانو ته چې مونږ هم مسلمانان یو او ذکر د خدای جل جلاله نه کوي مګر لږ.

پوه سه: چې روح البیان وایي چې مراد له آیت څخه تسبیح او تهلیل دی وهو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الاظهر. او مظهري وايي چې مراد له ذکر څخه لمونځ دی تسمية الکل باسم الجزء. او توجيه د تقليل يې مظهري داسې کړې ده چې څوک چې لمونځ د چا د رؤيت لپاره کوي نو چې هغه نه وينې بيا خو يې نو نه کوي او دا احوال خو لږ دي.

پوه سه: چې "قليلاً" يا مفعول مطلق دی ای ذکراً قليلاً او يا ظرف دی ای زماناً قليلاً او جمله د "يراؤن" حال ده له فاعل څخه د "قاموا" ولا يذکرون" عطف دی پر "يراؤن" نو دغه درې کسه لکه کسانې "يراؤن ولا يذکرون" گرده احوال له فاعل څخه د قاموا.

مُّذَبْذَبِينَ بَيْنَ ذَٰلِكَ لَا إِلَىٰ هَٰؤُلَاءِ وَلَا إِلَىٰ هَٰؤُلَاءِ ۚ وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُ سَبِيلًا ﴿١٤٣﴾

پوه سه: چې "مذبذبين" حال دی له فاعل څخه د "لا يذکرون" او يا له فاعل څخه د "يراؤن" والمذبذب مشتق من الذبذبة وهو جعل الشئ مضطربا. والمعنى چې دغه منافقان مضطرب او متردد دي په منځ کې چې نه وه دلې ته د مؤمنانو منسوب دی ظاهراً او باطناً تاچې دوی ته په ورځ د آخرت هغه ثوابونه ورکړه سې لکه مؤمنانو مخلصينو ته چې ورکول کېږي لعدم کونهم مؤمنين باطنا. او نه ودلې ته د کافرانو منسوب دی من کل الوجوه حتى چې ددوی سره معامله د کفار وکړه سې من القتل والاسر. لان ايمانهم ظاهراً مانع من ذالک. او څوک چې خدای د حق له لارې څخه گمراه کړي لهؤلاء المنافقين وغيرهم من الکفار المعاهدين. نو ته اې مخاطبه نه سې پيدا کولای ددوی لپاره لار وحق او صواب ته کما قال الله تعالى ومن لم يجعل الله نوراً فماله من نور.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ ۚ

اې هغه کسانو چې ايمان يې راوړی دی تاسې مه گرځوئ کافران دوستان ماسوی له مسلمانانو څخه. يعنې ستاسې حقيقي دوستان فقط مسلمانان دي او کفار مو دښمنان دي نو تاسې و کافرانو ته د دوستۍ لاس مه غځوئ. ولې چې بيا به حال ستاسې حال د منافقانو وگرځي چې د دوستۍ لاس يې باطناً وکافرانو ته غځولی وو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَتُرِيدُونَ أَنْ تَجْعَلُوا لِلَّهِ عَلَيْكُمْ سُلْطَانًا مُبِينًا ﴿١٤٤﴾

آیا ستاسي اراده ده په موالاتو کي د کفارو چي تاسي وګرځوي په دغه موالاتو سره خدای ﷻ لره پر خپل ځانو دلیل او حجت خپل په تعذیب کي. یعني د خدای ﷻ به پر تاسي دلیل د تعذیب پر تاسي وي چي ته خو د کافرانو دوست وي، نو ددوی به دله کي به ته هم ملعون وګرځي.

إِنَّ الْمُنَافِقِينَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ وَلَنْ تَجِدَ لَهُمْ نَصِيرًا ﴿١٤٥﴾

په تحقیق چي منافقان په هغه ترټولو کښته طبقه کي د دوزخ دي په ورځ د قیامت چي تر ټولو طبقو سختر ینه طبقه د دوزخ ده.

پوښتنه: ولي منافقان ددوته سخت عذاب مستحق دي؟

ځواب: منافقان بد ترین د کافرانو دي ولي چي دوی به د کفر سره سره په خدای، رسول، اسلام او قرآن باندي پسخند واهه او د مسلمانانو پټ حالات به یې وکفارو ته بنکاره کول، نو په دې دنیا کي خو دوی په سبب ظاهري اسلام د مسلمانانو له لوري د استرقان او د نهب د اموالو خلاصه وه، نو په آخرت کي به خو په درک اسفل کي من النار وي او ته نه سې پیدا کولای اې مخاطبه ددوی لپاره کومک کونکی چي له عذاب الهي څخه دي دوی خلاص کړي.

بوه سه: چي درک اسفل هغه ډېره کښته طبقه د دوزخ ده چي نوم یې هاویه دی او اور یعني دوزخ اووه طبقې دی پرله پسې یو تر بل چي په منځ کي فصل نه لري والدرکات في النار مثل الدرجات في الجنة او هره درجه د جنت چي تر ټولو درجو لوړي وي ثواب د هغې درجې والا وو تر نورو درجو والا وو اعظم او افضل دی او په درکاتو کي د دوزخ چي هره درجه تر ټولو کښته وي عذاب د اهل د هغې درجې والا وو اعظم او اشد او اهیب وي.

فائده: له ابن مسعود ﷺ څخه چا پوښتنه وکړه د درک اسفل په باره کي ده ورته وویل چي تابوتان دي یعني صندوق مثل دی د وسپني چي قلف وي او دروازې هم نه لري په خود تابوتانو کي منافقین په کښې وي هم بل اور دی او لاندي تر تابوت او فوق التابوت او پر بغلو د تابوت هم اوربلېږي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروبش وایي: چي دا و حال د منافق شرعي چي په زړه کي کافر وي او په خوله مسلمان، او منافق عملي چي په عملو کي ومنافق شرعي ته ورته وي هغه په هغه حدیث چي بخاري وغیره یې روایت کړی دی قال علیه الصلوة والسلام "ثلاث من کن فیه فهو منافق" درې خویه چي په چا کي وي هغه منافق دی "وان صام وصل وزعم انه مسلم" که څه هم دوی روژې نسي او لمونځ کوي او دا وایي چي مسلمان یم "من اذا حدث کذب واذا وعد اخلف واذا اوتمن خان" هغه څوک چي خبري کوي درواغ وایي او چي له چا سره وعده وکړي د هغې خلاف کوي او چي څوک یې امین پرې یو شي وگرځوي مثلاً څوک امانت ورته کښېږدي دی خیانت پکښې کوي.

دروبش وایي: چي ته وله محدثین او ته وله مفسرین وایي چي دا حدیث پر طریقه د زجر او تهدید او تغلیظ لکه هغه حدیث چي "من ترک الصلوة متعمداً فقد کفر"

إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا وَأَصْلَحُوا وَاعْتَصَمُوا بِاللَّهِ وَأَخْلَصُوا دِينَهُمْ لِلَّهِ

مگر نه هغه کسان چي توبه وکاږي له نفاق څخه او ایمان باطني او قلبي هم پیدا کړي او بیا خپل ته وله عملونه صالح وگرځوي یعني د شریعت مطهره سره برابر، او اعتصام په خدای ﷻ سره یعني توثق د خدای ﷻ په دین هم وکړي یعني رسی د دین محکمه ونسي، او خالص وگرځوي خپل دین لپاره د خدای یعني ریاء نه وي پکښې والمراد بالدین العبادة، والحاصل لا یریدون بالایمان والاعمال الا وجه الله خالصاً.

پوه سه: چي ابن ادریس رحمه الله علیه وایي چي څوک و حقیقت ته د اخلاص نه سي رسېدلای حتی لا یحب ان یجده احد علی شئ من عمل عمله لله تعالیٰ.

دروبش وایي: چي دا رنگه اخلاص په هغه کسانو کي پیدا کېدای سي چي له خواهشاتو نفسیه وو څخه هیڅ اثر نه وي پکښې بلکې د دنیی زمانې د ملایانو دا خوښه ده ان یحمدوا بما لم یفعلوا هیهات للاخلاص فیهم اثر من الآثار، وهذا حاصل الخواص ای العلماء فما یکون حال العوام.

ع ..... چو کفر از کعبه برخیزد کجا ماند مسلمانی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او ابن ابي شيبه رحمه الله او احمد له ابي امامه رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چې حواريونو د عيسى و عيسى عليه السلام ته وويل يا روح الله من المخلص لله قال الذي يعمل لله لا يحب ان يحمده الناس عليه. او حکيم ترمذي په نوادر الاصول کې وايي قال قال رسول الله ﷺ من قال لا اله الا الله مخلصاً دخل الجنة قيل ما اخلاصها قال ان تجحزه من المحارم" ددې کلمې اخلاص څه شی دی علیه الصلوة والسلام ورته وويل چې اخلاص ددې کلمې دادی چې دغه کلمه دې منع کړي له ټولو محرماتو څخه د دين.

فَأُولَٰئِكَ مَعَ الْمُؤْمِنِينَ ۖ وَسَوْفَ يُؤْتِ اللَّهُ الْمُؤْمِنِينَ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿١٤٦﴾

نو دغه کسان چې موصوف په ماذکر من الاوصاف سره وي ملګري به وي د مؤمنانو مخلصانو سره په آخرت کې. او ژر دی چې خدای ﷻ به ورکړي مؤمنانو مخلصانو ته لوی ثوابونه من الجنة ورضوان ومراتب القرب.

مَا يَفْعَلُ اللَّهُ بِعَذَابِكُمْ إِن شَكَرْتُمْ وَآمَنتُمْ ۚ وَكَانَ اللَّهُ شَاكِرًا عَلِيمًا ﴿١٤٧﴾

پوه سه: چې کلمه د "ما" استفهام ده او په معنى د نفي ده ای ای شئ يفعل الله "والعذاب" په معنا د تعذيب دی يعني چې تاسي ته خدای ﷻ درکوي د خدای په دې څه کېږي، ولي چې تعذيب د عبادو د خدای ﷻ سلطنت ته نه زياتېږي او په ترک د تعذيب دده بادشاهي ته نقصان نه رسېږي او دغه تعذيب د خدای ﷻ وده ته جلب د نفع يا دفع د ضرر نه ځني کوي، نو که تاسي شاکر او مؤمن بندګان وګرځئ نو خدای ﷻ به ولي تعذيب درکوي البته په صورت کې د کفر او عصيان تعذيب درکوي بناءً على عادته تعالى چې مسبب عادي چې عذاب النار دی پر سبب عادي چې کفر او عصيان دی مرتبه وي.

پوه سه: چې نسبت د شکر چې خدای ﷻ ته وسي لکه په دې آيت کې نو معنا يې رضا ده په لږ شي له بنده څخه او ډېرول د ثواب په مقابل کې ديوه طاعت تر لسو پورې تر اووه سوه پورې الى ماشاء من الاضعاف، او نسبت د شکر چې بنده ته وسي معنى يې اقرار دی په نعمت واصله وده دا مورد د شکر چې ژبه ده. او بل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تعظیم د خدای ﷻ په زړه کي دی چي دې مورد ته قلب وایي. او بل عمل دی د طاعاتو عملیه وو په ارکانو سره لکه لمونځ او دې مورد ته ارکان وایي. وبالجملة مورد د شکر عام دی تعظیم دی په زړه او عمل بالارکان دی او ثنا باللسان ده لکن متعلق د شکر یوازی نعمت دی. والحمد بالعکس یعني مورد یې وازي ژبه ده او متعلق یې عام دی که نعمت وي او که نه فبینهما عموم وخصوص من وجه والمواد الثلث غیر عافیة.

له حضرت ﷺ څخه روایت دی چي تاسي ته اطراف د نعمتو ورسېدل نو تاسي یې پای ته رسېدل مه پرېږدئ په قلت شکر سره اشارةً الی قوله تعالی "لئن شکرتم لازیدنکم" یو محقق شاعر وایي.

چون بیابی تو نعمتی درجند — خرد باشد چو نقطه موهوم
شکر آن یافته فرو مگذار — که زنا یافته شوی محروم

دروېش وایي

په خوله حمد په زړه عجز کوم خدای ته
چي تفسیر د دې جزء و رسېدی پای ته
ورځ د یکشنبې د روژې و پنځلسمه
چي مشکلات ددې پارې ور سېدل پای ته

برادران عزیز خوندگان محترم از فراغ تفسیر این جزء والمحصنت چنان محسوس میکنم که بارگران از شانه دروېش پرداشته شد، و از خداوند متعال بصد نیاز تمنی دارم که تفسیر جزء لایحب الله رانیز بتوفیق رایگان خود باکمال صحت وعافیت کامل دماغی وقلبی وبدنی دروېش بپایان برساند وهکذا کاروان تفسیر الی اخیر القرآن با کاروان توفیق رحمانی مقرون باد.

الحمدلله والصلوة علی نبیه وآله اجمعین.

تفسیر ایوبي حنفي د نصیراحمد احمدي لخوا سکین او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner



الجزء السادس

لایحب الله

لسم لیس حق

حضرت مولانا محمد عبد الله الابوبی

الکندهاري الحنفي النقشبندي

مکتبة التراث والتجوید

کاسي روډ کوئٹه بلوچستان

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

رَبِّ يَسِّرْ وَلَاتُعَسِّرْ وَتَمِّمْ بِالْخَيْرِ هٰذَا الْجُزْءَ بِالْخَيْرِ وَالصِّحَّةِ وَالسَّلَامِ.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ وَعَلٰى آلِهٖ وَصَحْبِهٖ اَجْمَعِيْنَ.

اما بعد: دروښ وايي چې تفسير د "لا يحب الله" په اخير کې د شپې د چارشنبې د روژې مبارکې میاشت اتلسمه سنه ۱۴۲۷ هـ ق شروع سو، او زما دې سعي او کوشش حتی الوسع وي او د خدای ﷻ دې توفیق د اتمام وي آمین.

لَا يُحِبُّ اللّٰهُ الْجَهْرَ بِالسُّوْٓءِ مِنَ الْقَوْلِ اِلَّا مَنْ ظُلِمَ ؕ

نه دی خوښ د خدای ﷻ جهر او اعلان په بد سره د قول.

پوه سه: چې عدم محبت د خدای ﷻ کنایه ده له بغض او سخط څخه لعدم الواسطة في افعاله تعالى والباء متعلقة بالجهر وكلمة من متعلقة بمحذوف وقع حالا من السوء والتقدير لايحب الله الجهر من احد في حق غيره بالسوء كائناً من القول.

"الا من ظلم" اى الا جهراً من ظلم فالاستثناء متصل فان المظلوم يجوز له ان يجهر برفع صوته على من ظلمه يعني يا دوی وظالم ته یوه لویه ښېرا وکړي او یاد ظالم بد او دده ظلم او شر بیان کړي په حضور کې د قوم د رئیس او یا په حضور کې د قاضي د شرعي محکمې، لکه مظلوم چې ووایي چې فلانی زما کور ته را ولوېدی او زما د کور سامان یې غلا کړی او یا یې په غصب او زور راڅخه یووړی، او بعض مفسرین وایي چې یو سړی و مظلوم ته ښکنځل وکړي، نو دوی حق لري چې و ظالم شاتم ته په جهر جواب د شتم ورکړي لکن هغه قدر چې شاتم ورته ویلي وي بالا بود به نه کوي مثلاً یو سړی و بل ته ووایي ستا مور وغییم، نو دی هم ورته ویلای سي چې ستا مور وغییم دا حق نه لري چې ستا مور او پلار دواړه وغییم.

وَكَانَ اللّٰهُ سَمِيْعًا عَلِيْمًا ۝

او دی خدای ﷻ اوریدونکی د د کلام د مظلوم او عالم دی په حال د ظالم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: خدای ﷻ تخصیص د جهر بالسوء وکړی که څه هم اخفاء د قول بالسوء هم د خدای ﷻ نه ده خوښه لان الجهر فحش.

فائده: دوه کسه چې یو و بل ته بنکنځل کوي گناه تولـه پر هغـه سړي ده چې ابتداء یې په بنکنځلو سره کړې وي چې هغه بل سړی تجاوز په بنکنځلو کې ونه کړي کمامر مثاله وبهذا اجاء حدیث ابي هریره ﷺ کما رواه المسلم قال رسول الله ﷺ المستبان ماقالا فعلی المبادي مالم یعتد المظلوم یعني دوه کسه چې بنکنځل سره کوي هر څه چې وایي گناه یې تولـه پر هغـه چا ده چې اول یې شروع په بنکنځلو سره کړې وي ولي تر هغو چې مظلوم په بنکنځلو کې تجاوز ونه کړي. او بغوي رحمه الله وایي چې مجاهد رحمه الله ویلي دي چې دا آیت د مېلمانه په بارد کې دی چې پر یو قوم مېلمه سي او هغه یې حق د مېلمستیا نه کړي پر ځای. نو ده ته جهراً روا ده چې ددې د سپیتاني بیان دي وکړي، له عقبه بن عامر ﷺ څخه روایت دی چې موږ و علیه الصلوة والسلام ته وویل چې ته موږ پر یو خوا واستوې. نو موږ پر یو قوم ورسوو دوی موږ ته دوډی وغیره رانه کړي، نو ستا څرنگه رایـه ده چې موږ ددې ځلگو سره څرنگه برتاؤ وکړو، نو موږ ته علیه الصلوة والسلام ووېل کـه تاسي نـازل سواست پر یـو قـوم هغـو ستاسي حق د مهمانۍ پر ځای کړی نو هغه حق ځني قبول کړئ نور زائد شیان مه ځني غواړئ او که یې حق د مهمانۍ نه کړی پر ځای فخذومنهم حق الضیف یعني په زوره یې ځني واخلئ حق د مېلمنو رواه البخاري ومسلم.

دروښ وایي: چې هر شان نزول د "لایحب الله الجهر" چې مفسرانو بیان کړی دی علامـه آلوسـي بغـدادي پـه روح المعـاني کـي وایـي والعبرة لعمـوم اللفظ لا لخصوص السبب آه.

إِنْ تُبْدُوا خَيْرًا أَوْ تُخْفُوهُ أَوْ تَعْفُوا عَنْ سُوءٍ فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ عَفُوًّا قَدِيرًا ﴿١٤٩﴾

که تاسي بنکاره کړی د خیر کار چې عبارت دی د طاعت قولي یا فعلي څخه هر عبادت چې وي او که هغه د خیر کار په پټه وکړي او یا عفوه وکړي له بدو څخه یعني د ظالم، والمقصود ههنا ذالک یعني چې جهر بالسوء ونه کړي او ان تبدوا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خيراً او تخفوه و تعفوا ته تهميد دی په دليل د اخير د آيت يعني فان الله كان عفواً يعني چې خدای ﷻ سره د قدرت عظيمه پر هر نوع تعذيب د عاصي لرې بيا هم د گناه كارانو ته عفوه غوره كړې ده، نو په مقتضی ددې حديث تخلقوا باخلاق الله تاسي هم د ظلم د ظالم په باره كې د عفو لار خپله كړې تر دې چې جهر بالسوء كوئ فتمحوا السيئة بالحسنة، حاصل دادی چې جهر بالسوء د ظالم مكافاتاً لظلمه رخصت كما يدل عليه اول الآية يعني قوله تعالى "الا من ظلم" او عفوه يې ورته عزيمت دی كما يدل عليه اخير الآية يعني "فان الله كان عفواً قديراً" وفي الحديث الذي رواه ابو داؤد والترمذي عن ابن عمر ﷺ، ده وويل چې د رسول الله ﷺ څخه چا پوښتنه وكړه چې زه څو واره و خپل خادم مريي وغيره ته عفوه د گناه كوم؟ عليه الصلوة والسلام ورته وويل هره ورځ اووياوا واره

مسئله: اظهار د قبائحو او جناياتو د يو ظالم خو واجب نه دی البته رخصت دی لكن دداسي ظالم چې ضرر يې عمومي وي او مرض يې ساري وي لكه يو ملا چې برملا و خلگو ته نصيحت او تعليم د اعتزال كوي، او يا د سفليانو د عقائدو تعليم و خلگو ته كوي او يا معلم الوهابية وي وامثال ذالك، نو اظهار د عيبو د ورته ملايانو روا ده بلكې واجب دی تحذيراً للناس عن ضلالاتهم لان هؤلاء الفرق اشد ضررا للناس عن الخناس لانهم يحكمون بشرك جميع الامة المرحومة سوى فرقهم المنحوسة و قد بنوا هؤلاء في كل بلد من بلاد باكستان مدارس لتعليم ضلالاتهم، ومن عجائب حيل هؤلاء دادی چې دوی پخپلو مدرسو كې لوی طالب علمان نه داخلوي، ولې چې دوی وايي چې د لويو طالب علمانو عقيده پخه ده مونږ يې نه سو گمراه كولای بلكې دوی پخپلو مدرسو كې ساده لوح اطفال داخلوي چې پر ساده تخته هر ډول خط امكان پذير دی بلكې په عين حال كې دوی ودغو اطفالو ته بنه بنه ماكولات وركوي او په عيدينو كې بنه بنه ملبوسات وركوي.

پوښتنه: مشران ددغو مدرسو دا دونده ډېر امداد له كومه ځايه څخه تر لاسه كوي؟

ځواب: ددوی يعني د مشرانو ددغو مدارسو د كورو مصارف او د مدارسو تولې د لالا له كوره دی، په پښتو كې متل دی وايي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چته دي خوشحاله وي غم يې د لالا پر سر.

په صحیح حدیث کي راغلي دي "اذکروا الفاسق بما فیه لیحذره الناس" او په بل اثر کي راغلي دي "ثلاثة لیست لهم الغیبة الامام الجابر، والفاسق المعلن بفسقه" یعني ظالم بادشاه او هغه فاسق چي فسق يې رسوا کوي لکه شراب خوره چي شراب خانه يې په رسوا جوړه کړي وي الی غیر ذالک من دار الزنی مثلاً. او بل مبتدع چي خلګ و خپل بدعت ته رابولي کالفرق المذکوره.

تعجب دادی چي دغه اهل الفرق و ټولو مقلدانو ته د مذاهبو اربعه وو او و ټولو مشائخو د ځلورو طریقو د تصوفو مبتدعان وایي اعاذنا الله وجمیع احبائنا من امثال هذه الضلالات، پښتانه یو مثل کوي چي غلبیل و کوزې ته ویل څومره دې سوري لري، نو دغه فرق موږ ټولو مقلدانو ته د مذاهب اربعه وو او مقلدانو ته د مشائخو کرامو مبتدعان بلکي مشرکان وایي او خپلو خانو او خپلو اتباعو ته موحدان وایي، او د فقهي شریفي کتابونه داسي په اهانت او سپکاوي اخلي چي د سړي پر سر اور بلوي ثم ان اکثر السوء والبدعة یتعلق باللسان لان اللسان صغیر الجرم کبیر الجرم.

پوه سه: چي که د سړي پښه وښوهږي خو نهایت غم يې دادی چي ماته به سي کافر کهږي خو به نه او داغه رنګه د پښې د ښویدلو سره د مرګ بهره چندان نسته او د ژبي هغه نوره ګناه کبائر چي په دې سره کهږي لکه غیبت بهتان شیطانت درواغ ناحقه قسمونه پوچ او فحش د هغو سره ګاهي د ژبي خبره سړی و کفرته ورسوي لکه الفاظ د کفر علی فصل في جامع الفصولین مثلاً العیاذ بالله.

سب د قرآن سب د علیه الصلوة والسلام سب د شریعت مطهره سب د دین مقدس الی غیر ذالک ممایتعلق باللسان په تاریخ کي راغلي دي چي ابن السکیت اللغوي چي د متوکل علی الله خلیفه د زامنو چي معتز بالله او موید بالله يې نومان وه معلم او ښونکی و، یوه روځ د خلیفه دغه دوه زامن په دربار کي د پلار وه چي ابن السکیت ورغلی نو خلیفه المتوکل علی الله و ابن السکیت ته وویل زما دا دوه زامن پر تا ګران دي او که حسن او حسین رضي الله عنهما در باندي ګران دي ابن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

السكيت ورته وويل والله ان قنبراً خادم علي ﷺ خير منك ومن ابنيك خليفه حكم وكړی چې د ابن السكيت ژبه دي تر څټ ويستل سي فمات، ومن ابيات ابن السكيت التي علمها ابنى المتوكل الخليفة في اليوم السابق هذان البيتان.

يصاب الفتى من عثرة بلسانه ... وليس يصاب من عثرة الرجل
فعثرته بالقول تذهب راسه ... وعثرته في الرجل تبرء على مهل

ترجمه: سړي ته آفت رسېږي له ښويدلو څخه د ژبې او دونده آفت نه ورسېږي له ښويدلو څخه د پښې، ولې چې په ښويدلو کې د ژبې يې سر ځي، او ښويدل د پښې جوړېږي په مهلت سره.

إِنَّ الَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ

په تحقيق هغه کسان چې کفر کوي په خداى سره او په رسولانو د خداى ﷻ، بغوي رحمه الله وايي چې آيت په شان کې د يهودانو نازل سوى دى، ولې چې دوى خو عليه الصلوة والسلام او قرآن نه مني او عيسى عليه السلام او انجيل هم نه مني، نو دوى گويا ټوله رسولان او کتابونه د خداى ﷻ نه مني لان بعض الرسل مصدق بعض، وبعض الكتب ايضاً مصدق لبعض، نو که څه هم دوى وايي چې موسى او تورات منو او ايمان پر لرو لكن دې ايمان بالعض ته اعتبار نسته عند الله، او كفر ددوى په خداى سره ددې سببه دى چې دوى آيات د خداى ﷻ كه په انجيل كې دي او كه په قرآن كې دي دوى يې نه مني نو خداى هم نه مني.

وَيُرِيدُونَ أَنْ يُفَرِّقُوا بَيْنَ اللَّهِ وَرُسُلِهِ

او دوى اراده ددې لري چې د خداى ﷻ ايمان او د رسولانو ايمان سره جلا كړي يعنې يا وايي چې خداى منم رسولان يې نه منم لكه اهل شرك چې وايي يعنې ددوى زعم باطل ورته ايمان بالله او خداى ﷻ ته شريك ويل ممتنع الاجتماع لان الايمان بالله عبارة عن عدم الشريك له في الالوهية يعني في وجوب الوجود لكه مجوس چې وايي چې واجب الوجود دوه دي يو يزدان دى او يو اهرمن دى وعن عدم الشريك له في العبادة او مشرك كه اول شريك نه وايي دوهم شريك خو وايي كما يقولون اشارة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الی الاصنام هؤلاء آلهتنا فنظل لها عاکفین ای عابدین او یا لکه یهود چې دوی وایي خدای ﷻ خو منو او عیسی او محمد علیهما الصلوة والسلام نه منو.

وَيَقُولُونَ نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ وَّنَكْفُرُ بِبَعْضٍ ۙ وَّيُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّتَّخِذُوْا بَيْنَ ذٰلِكَ سَبِيْلًا ۝

او دوی وایي چې مونږ پر بعض نبیانو ایمان لکه موسی علیه السلام او مونږ کفر او انکار له بعض نبیانو څخه لکه عیسی او محمد ﷺ، او دوی اراده لري چې په منځ کې د کفر او ایمان لار پیدا کړي یعني دین

اُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ حَقًّا ۚ وَاَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابًا مُّهِيْنًا ۝

دغه کسان دي کافران په حقه سره، او مونږ اراسته کړی دي کافرانو لره که مشرکان وي او که یهودان وي او که نصاری وي وغیر هؤلاء من فرق الکفرة عذاب د اهانت یعني د سپکاوي.

پوه سه: چې خدای پاک عذاب د کفارو په دوزخ په "مهین" سره مقید کړی ددې لپاره که بعض مؤمنان په سبب د بعض عصیان دوزخ ته ورسي هغه عذاب د سپکاوي لپاره نه دی بلکې د ګناه له خیرو څخه د پاکی لپاره دی مثالهما الحطب علی النار والذهب علی النار فافهم.

سوال: هم خو ضمیر فصل دی په منځ کې د مبتداء او خبر او غالبه فائده د ضمیر فصل حصر د خبر دی پر مبتداء او سره ددې چې کافران خو بهله یهودانو نو هم سته؟

ځواب: حصر په اعتبار د کمال ددوی دی په کفر کې فالمعنی هم الکاملون في الکفر لانهم یثبتون الواسطة بین الکفر والایمان وفي الواقع لاواسطة بینهما. ولې چې ایمان بالله هلته اعتبار لري چې د ایمان سره د ټولو انبیاؤ او د ایمان سره د ټولو کتابو ملګري وي، او تصدیق د ټوله مابلغه الرسل به کوي اجمالاً في البعض لکه زمونږ مسلمانان ایمان پر تورات اوانجیل او تفصیلاً لکه زمونږ ایمان پر قرآن عظیم الشان باندې والحق واحد مشترک بین جمیع الرسل وجمیع الکتب وایمان هؤلاء الیهود ولیس کک فماذا بعد الحق الا الضلال.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ وَلَمْ يُفَرِّقُوْا بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ

او هغه کسان چې ایمان یې راوړی وي پر خدای ﷻ یعني بدون الشریک وبصفاته الکمالیة والجمالیة والجلالیة وبدون القول بالابوة لاحد وما یناسب بذاته الجلیلة من عدم المکان والجهة والجسمیة وغیر ذالک مما یمتنع علی ذاته الکاملة. او ایمان یې راوړی وي پر رسولانو د خدای ﷻ، یعني پر ټولو رسولانو لاکاالیهود یؤمنون بموسی علیه السلام فقط ولاکا النصاری یؤمنون بعیسی علیه السلام فقط. او فرق یې نه وي کړي په منځ کې د رسولانو بالایمان بالبعض والکفر ببعض ولیس المراد الفرق بینهم في الافضلیة والسیادة.

الاعراب موصول یعني الذین مبتداء ده والظاهر چې خبر یه جمله ده اولئک آه. او بعض مفسران وایي چې خبر د موصولو محذوف دی یعني اولئک هم المؤمنین حقاً. او پر دې تقدیر جمله د اولئک جمله مستانفه ده.

سوال: بین خو پر متعدد شیانو داخلېږي او دلته پر مفرد داخل دی چې لفظ د احد دی؟

ځواب: احد چونکه په سیاق کې د نفي دی نو عام او متعدد دی.

اُولٰٓئِكَ سَوْفَ يُؤْتِيْهِمْ اُجُوْرَهُمْ

دغو کسانو ته په پوره ورکول کېږي ثوابونه ددوی.

پوه سه: چې بعض قراء "سیؤتیهم په صیغه د غائب وایي یعني بالیاء. او بعض یې په صیغه د متکلم وایي یعني بالنون او دواړه قرائته متواتره دي. یعني هغه ثوابونه به خدای ﷻ ورکوي چې ددوی سره یې وعده کړې ده. او کلمه د "سوف" چې لپاره د استقبال بعید ده لالت کوي پر دې چې دغه پوره ثوابونه په ورځ د قیامت ورکول کېږي وان استوفی لهم بعض الاجور في الدنیا ایضاً.

وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا

او دی خدای ﷻ بخښونکی د بعض هغه خطایاوو چې ددوی څخه تفریط سوی او خدای ﷻ مهربان دی چې ددوی حسنات په ورمضاعف کوي من واحد الی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عشرة والى سبعمائة بل الى ماشاء الله ﷻ.

پوه سه: چې ایمان او توحید اصل الاصول دی او ایمان کښه څه هم زیادت او نقصان نه قبلوي په نېز د امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله، لکن نور د ایمان زیاتېدو په عباداتو سره او په سټیاتو سره یې نور کمېږي، جنید بغدادي سید طائفة الصوفیة رحمه الله وایي چې ادب دوه قسمه دی یو ادب د سر او د باطن دی چې زړه پاک وساتي له عقائدو زائغو څخه او بل ادب د ظاهر دی وهو حفظ الجوارح عن الشرور والسیئات واعمالها في اداء الاوامر والطاعات وفقنا الله الى کلا الادبین.

پوه سه: چې ابن جریر الطبري له محمد کعب القرظي څخه روایت کوي چې بعض یهودان چې بغوي رحمه الله وایي چې هغه یهودان کعب بن الاشرف او فحاص بن عاذورا و، نو یې علیه الصلوة والسلام ته وویل چې موسی علیه السلام خو موږ ته تورات پر تختو لیکلی راوړی دی، نو که ته نبي برحق یې ته هم موږ ته کتاب پر تختو نوشته راوړه، نو به موږ ستا تصدیق وکړو فنزل هذه الآیة.

يَسْئَلُكَ اَهْلُ الْكِتٰبِ اَنْ تُنَزِّلَ عَلَيْهِمْ كِتٰبًا مِّنَ السَّمَآءِ

ستا څخه خواست او سوال کوي. اهل کتاب چې مراد څنې یهودان دي چې ته نازل کړه پر دوی یو کتاب له اسمانه څخه.

دروښ وایي: چې سوال او غوښتنه له علیه الصلوة والسلام څخه دوه قسمه ده یو سوال لپاره د هدایت دی، یعني د ځان په دین خبرولو لپاره هغه سوال ته اجابت او قبلونه کېږي مثل ماسئال الصحابة رضي الله عنهم عن النبي ﷺ کما جاء في القرآن یسئلونک ماذا ینفقون، نو خدای پاک سمدلاسه ځواب ورکړی بقوله قل العفو وقوله یسئلونک عن المحیض. خدای ﷻ في الحاله ځواب ورکړی قل هو اذی الآیة، وقوله تعالى ویسئلونک عن الاهلة خدای ﷻ فوري ځواب ورکړی "قل هي مواقیت للناس والحج" وامثال ذالک. او یو سوال دی د تعنت یعني د ضدیت د لاري او سوال د اقتراح دی یعني بې ځایه لپاره اسکات د نبي ﷺ هغو سوالونو ته خدای ﷻ ځواب نه ورکوي. ولي چې د سائل غرض هدایت او ځان پوه کول غرض نه دی.

فائده: دا آیتونه دي ځایه "یسئلک اهل الکتاب الى قوله بهتاناً عظیما" چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نازل سوه او یهودان یې ډېر خوږ کړه او ددوی له قبائحو څخه یې پرده پورته کړه.
نو یو سړي د یهودانو د ډېره غضب څخه پر زنګنو سوه، نو داسي و علیه الصلوة والسلام ته وویل "ماانزل الله علیک ولا علی موسی ولا علی عیسی ولا علی احد شیئاً" نو ددغه قول حکایت خدای ﷻ بل ځای په قرآن کې کړی دی "وما قدروا الله حق قدره اذ قالوا ما انزل الله علی بشر من شئ"

فائده: دروېش وایي: چې دغه یهودان خو ددې لپاره علیه الصلوة والسلام ته راغلي وه چې ته مثل موسی علیه السلام قرآن په تختو کې موږ ته راوړه اخیر پای یې پر دې تمام سو چې پر تختو راوړه سوی کتاب و یعني التوارت باندې د انکار کمبل ور اچول.

فَقَدْ سَأَلُوا مُوسَىٰ أَكْبَرَ مِنْ ذَٰلِكَ

په تحقیق دوی سوال کړی دی له موسی علیه السلام څخه دا ستا تر سوال لوی او نامناسبه سوال کاوه، والمقصود من هذا التسلي لرسول الله ﷺ یعني په دغه سوال چې دوی له تا څخه وکړی غم جن کېږه مه. ولي چې ددوی اسلافو د موسی علیه السلام څخه ستاتر دا اوسني سوال ډېر شنیع او نامناسبه سوالونه کړي دي یعني هذه عادة لهم سلفاً وخلفاً کما عرفت في سوالک.

مصرع: شنشة اعرفها من حصه اخزم.

پوه سه: چې ضمیر د "سئلوا" خو اهل کتابو ته راجع دی لکن دا وروستنی سوال خو تولو اهل کتابو یهودانو د عصر موسوي نه دی کړی بلکې هغو اوویا کسو کړی دی چې موسی کوه طور ته ورسره بیولي وه. لکن اسناد یې وتولو ته کقولهم لبوفلان قلتوا مع ان القاتل واحد منهم یعني د فلاني زامنو مړی کړی دی سره ددې چې قاتل یې یو زوی وي.

فَقَالُوا أَرِنَا اللَّهَ جَهْرَةً

نو دوی وویل و موسی علیه السلام ته چې ته په موږ ووینه خدای ﷻ چې دا ته خبري ورسره کوې علانیةً چې موږ یې ووینو.

پوه سه: چې "جهرة" منصوب دی علی انه مفعول مطلق په حذف د مضاف ای ارائة جهرة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وایي: چې څه وخت چې د موسی علیه السلام سره اوویا کسه کوه طور ته ورغله او پر موسی علیه السلام نور الهي فیض سو چې نور د ملګرو څخه پټ سو او د خدای ﷻ او د موسی علیه السلام تر منځ خبري اتري جاري سوې چې دوی هم اورېدلې، نو موسی علیه السلام چې له مناجات الهي فارغه سو ملګرو یې ورته وویل چې دا څوک و چې ستاسره یې خبري کولې، موسی علیه السلام ورته وویل خدای پاک و، ملګرو یې ورته وویل چې موږ ستا دا دعوه نه منو که خدای و نو دی په موږ علانیةً او په ښکاره توګه ځان وویني.

فَأَخَذَتْهُمُ الصَّٰعِقَةُ بِظُلْمِهِمْ

نو دوی ونیوله اسماني تکي یعني اور چې توله پکښې هلاک سوه، په سبب د ظلم ددوی پر خپلو ځانو چې سوال د رویت الهي خلاف العادة والحکمة یې وکړي او ځان ته دونده لویه مرتبه ورکړه چې موږ دې په دنیا کې په دغو سترګو خدای ووینو، نو ځکه خدای ﷻ تکه پر رایله کړه.

پوه سه: چې دا آیت پر دې دلالت نه کوي چې روئیت د خدای مطلقاً یعني في الدنیا والآخرة ممتنع لقوله تعالی "وجوه یومئذ ناضرة الی ربها ناظرة" وغیر ذالک من الآیات والاحادیث المبارکة في رویة الله یوم القیامة یبلغ احادها الی حد التواتر المعنوي کما لایخفی، والمعتزلة ینکرون الرؤیة.

دروښ وایي: چې دا اوویا کسه چې په اسماني اور هلاک سوه نو موسی علیه السلام خدای پاک ته په زاریو سو چې خدایه دا کسان خو قوم پر ما تاوانوي وایي به چې روغ تیار دي بوتلله او مړه دي کړه، په بل ځای کې قرآن داسي راغلي دي چې موسی وخدای پاک ته وویل ان شئت اهلکتهم وایاي، هغو وچې د موسی علیه السلام عذر او عجز خدای ﷻ ومانه هغه اوویا نفره یې ورته راژوندي کړه.

ثُمَّ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَٰتُ

بیا دوی وګرځاوه ګلګی (سخندر) چې سامري ورته جوړ کړی یعني خدای ﷻ وګرځاوه او عبادت د هغه یې شروع کړی دا هغه وخت و چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

موسی عليه السلام طور ته تللی و د تورات د راوړلو لپاره او هارون عليه السلام يې ځای ناشین ګرځولی و سامري چې نوم د هغه هم موسی عليه السلام و بني اسرائیل چې شپږ لکه وه په هغو کې یوازې دوولس زره کسه د هارون عليه السلام سره سوه نورو ګردو پر ګاؤ پرستي شروع کړه الی مجئ موسی من الطور.

درویش وایي: چې دا دېره اوږده قصه ده چې د شپږسمي سپارې د سورت طحه په تفسیر کې به راسي ان شاء الله او دا اتخاذ العجل وروسته چې دوی واضح معجزې د موسی عليه السلام پر لاس ښکاره سوې یعني عذر د جهل يې دفع سو.

پوه سه: چې دا جنایت هم له قدماؤ څخه د بني اسرائیلو پېښ سوی دی.

فَعَفَوْنَا عَنْ ذٰلِكَ

• نو موږ هغو ته یعني ستاسي اوائلو ته عفوه وکړه یعني دوی توبه وکښل یعني د استیصال عذاب مو نه کړی پر نازل.

درویش وایي: چې په دې آیت کې په الطفه وجه سره دعوت دی و بني اسرائیلو ته د عصر نبوي چې تاسي هم له کفر څخه د علیه الصلوة والسلام توبه وکاږئ تاچې تاسي ته به هم عفوه وکړه سي لکه ستاسي و اسلافو ته بعد التوبة.

وَاٰتَيْنَا مُوْسٰى سُلْطٰنًا مُّبِيْنًا

او موږ ورکړې وه ښکاره پر بني اسرائیلو باندې ولې چې د ګلګې عبادت دوی شروع کړی که څه هم هارون دلې و او ده پر نصیحت يې ورته وکړی لکن د هغه په خوله يې نه وکړه موسی عليه السلام چې له طوره راغلی ګردو عبادة العجل پر ښو او توبه يې څنې وکښل. او موسی عليه السلام هغه ګلګې په اور وسو دوی هیڅ ډغ نه کاوه بیا وروسته موسی عليه السلام دوی امر کړه چې د توبې د تمام لپاره به دوی ځانونه تسلیموي په وجه د عبدة العجل چې هغه غیر عابدین دوی قتل کړي دوی ورته تیار سوه اوویا زره کسانو خپل ژوند له لاس ورکړی وروسته په شفاعت د موسی عليه السلام او هارون عليه السلام قتل متوقف سو او توبه نازله سوه، • تمام هذه القصة في تفسیر سورة البقرة نو هم دا وه غلبه د موسی عليه السلام پر بني اسرائیلو باندې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَرَفَعْنَا فَوْقَهُمُ الطُّوْرَ

او موږ پورته کړی یعني جبرائیل په امر د خدای ﷻ سر ببره یعني پر سرو ددوی یو قامت په قدر د یوه غره لپاره د اخذ د وعدې ددوی ځني په قبول کي د اوامر او نواهي د تورات، دروښ وایي چي دا واقعه هم د اسلافو د بني اسرائیلو ده.

پوه سه: چي مراد له طور ځخه طور معهود نه دی بلکې مراد یو غر دی. قصه دا وه چي تورات چ مجموعاً په یوه وار نازل سو چي په هغه کي زر سورته وه او په هر سورت کي لوی او کوچني زر آیته وه چي مجموع تورات لس زره آیته و او هغه حلال او حرام. روا او ناروا. اوامر او منهیات الی غیر ذالک من القصص والامثال موجود وه. نو په تورات کي داسي اوامر وه چي بني اسرائیلو د هغو سره هیڅ عادت نه درلودی او داسي منهیات موجود هم وه چي بني اسرائیل په هغو سره دوځته عادي وه، نو تورات چي موسی علیه السلام پر بني اسرائیلو تلاوت کړی هغو جواب ورکړی چي دا ټوله اوامر او منهیات زمونږ له طاقت ځخه خارج دي، نو جبرائیل علیه السلام ته خدای ﷻ امر ورکړی چي یو غر چي پر قدر د معسکر ددوی یعني چي شپږ لکهه کسان وه رواوکاږه ددوی پر سرو یې یو قامت لوړ وښیسه، او موسی علیه السلام ته یې امر وکړی چي ورته ووایه چي تورات قبلوئ که غر درباندې ایله کړم، نو دوی د غره له بهري پر سجده پرېوتل او تورات یې قبول کړی او په عین حال کي یې داسي بغلي سجده وکړه چي په یوه سترګه یې غره ته کتل چي را ایله یې نه کړي، چي تر اوسه بني اسرائیل هم هغسي بغلي سجده په لمونځو کي کوي. له دوی ځخه چي اوس ځوک پوښتنه وکړي چي ولي داسي بغلي سجدې کوئ؟ دوئ ورته وایي چي زمونږ اسلاف په داغسي سجدې کولو له عذابه خلاص سوي دي، نو چي دوی د تورات احکام قبول کړه نو غر بیرته ځني پورته سو.

تنبیه: قرآن کریم د درویشت کاله په زمانه کي د خیر البشر ﷺ آیةً آیةً سورةً سورةً په حسب د وقائعو او په اندازه د ضرورياتو پایه تکمیل ته ورسېدی او اوامر او منهیات په تدریج سره یو په بل پسي راالله، لهذا هیڅ چا له اصحابو کرامو رضی الله عنهم ځخه د هیڅ حکم ځخه د قرآن مجید علامه د نه قبلولو بنکاره نه کړه لکه یهودانو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې د تورات له قبلولو څخه ښکاره کړه، نو د مکې د کفارو دا سوال بېځایه ولولا انزل علیه القرآن جملةً واحدةً یعنې کتوراة موسی علیه السلام او د حکمت د تدریج د قرآن عظیم الشان څخه غافله وه.

وَقُلْنَا لَهُمُ ادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا

او موږ وویل وبنې اسرائیلو ته چې تاسې داخل سئ ودروازې ته ایلیا او دا هم پر ژبه د موسی علیه السلام په داسې حال کې چې طور یې له سرو ولاړې پر سجده باندې یعنې په وخت کې د داخلېدو د دروازې د ایلیا سرونه کښته کړئ، او په بل ځای کې د قرآن یې داسې هم ورته وویل سوه "وقولوا حطة" یعنې امرنا حطة چې مراد ځنې بخښنه د ګنهو وه، په بل ځای کې د قرآن مبارک راغلې دي "فتبدلوا الذین ظلموا قولاً غیر الذي قیل لهم" یعنې حطة ومع هذا دوی فعل د سجدې هم بدل کړی، نو چې دروازې ته د ایلیا راورسېدلې که څه هم دروازه د ایلیا لوړه وه لکن جبرائیل یې دروازه راکښته کړه چې دوی و سر تیټېدلو ته مجبوره سي لکن دوی د سر کښته کېدلو څخه انکار وکړی او پر کناتو ځکېدل په دروازه ننوتل او امر الهي د حطة یې هم بدل کړی یقولهم حنطة في شعرة.

دروېش وایي: چې دا بله موضوع وه له څخه د اسلافو د یهودانو چې په دې ځای کې خدای پاک مجملاً اشاره ورته وکړه، او په بل ځای کې یې د قرآن کریم دا تولې موضوع مفصله بیان کړه سوې ده.

وَقُلْنَا لَهُمْ لَا تَعْدُوا فِي السَّبْتِ وَأَخَذْنَا مِنْهُمْ مِيثَاقًا غَلِيظًا

دروېش وایي: چې دا قصه بله د قبائحو څخه د اسلافو د یهودانو چې معنی معنا د آیت داده چې موږ وویل وبنې اسرائیلو ته پر ژبه د داوٗد علیه السلام چې تاسې تجاوز مه کوئ په ورځ کې د شنبې چې ددوی لپاره خاص د عبادت ورځ وه دنیاوي کسب به یې نه کاوه. مراد د تجاوز في السبت کې دادی چې بنکار د ماهیانو به نه کوئ د شنبې په ورځ او موږ واخستی له دوی څخه په هغه زمانه کې تینګه وعده په دې باب کې تفصیل ددې قصې دادی چې د داوٗد علیه السلام په زمانه کې یو بنار و په نامه د ایله چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دریاب پر غاړه وه او عمومي خوراک ددوی د ماهیانو غوښي وې نو د شنبې په ورځ دوی د ماهیانو له ښکاره ځخه منع وه. امتحان د خدای ﷻ وچي د شنبې په ورځ به د دریاب په غاړه کي غټ غټ ماهیان ګرځېدله او چي د شنبې ورځ به تېره سوه ماهیان به ورک سوه چي یوه دانه به دوی په ډېر تکلیف ښکار کوله. اخیر شیطان دوی ته دا وسوسه ورانده کړه چي تاسي خو له نیولو ځخه د ماهیانو په ورځ د شنبې ممنوع یاست، نو تاسي داسي وکړئ چي له دریابه یو لښتی کش کړئ او د لښتي په پای کي لویه فراخه غاړه جوړه کړئ، نو په ورځ د شنبې ماهیانو ته لاس مه ورورئ بلکې هر سړی دی په یو لرګي ماهیان پر خپل لښتي برابروي چي دوی ولاړ سي او په هغه فراخه غاړه کي قرار ونسي تر مانښامه دا کار کوئ مانښام چي کورته ځئ د لښتي خوله د دریاب له خوا په خټو بنده کړئ چي ماهیان بیرته دریاب ته ولاړ نه سي د یکشنبې په ورځ چي راسئ په هغه ډب کي هر څو ماهیان چي تاسي د سبط په ورځ راپرې وهلي وه په آسانۍ سره به یې د هغې غاري ځخه ښکار کړئ. خیر دا کار خلګو په ډکه پیمانه شروع کړی. د ایله خلګ پر دې قسمه سوه لویه حصه داغه وه چي داد حیلې د شیطان ښکار یې کاوه، او بعض علماء او پوهان ددې وطن په وعظ او تبلیغ یې خوله پوري کړه چي دا حیلې پرېږدئ دا خو عین د ماهیانو ښکار دی، ولي چي ماهي ستا په لاس کي چي تر سبا پوري ستا په خوض کي بندی دی، او بله ډله چي محدود کسان وه هغو نه ښکار کاوه یعني په مذکوره حیله او نه یې چاته نصیحت کاوه اخیر الامر هغه واعظه ډله له وطنه بار سوه ګوښه یې په خپمو کي ګذاره کوله د ورځي به یو وار راغله وعظ به یې وکړی او یو مایتحاج الیه چي به یې رانیوی هغه به یې رانیوی بیرته به خپلو خپمو ته ولاړه.

فَبِمَا نَقْضِهِمْ مِّيثَاقَهُمْ

پوه سه: چي "ما" زائد دی لتاکید مضمون الکلام او کلمه د "با" متعلق ده په محذوف پوري د تقدیر نقضوا المیثاق ففعلنابهم مافعلنا ولعناهم.

دروښ وایي: چي لعن دا وچي واعظه ډله راغله که ګوري د ماهي ګیرانو د کورو دروازې د دننه له خوا بندي دي او هیڅ څوک په کلي کي نسته، اخیر دوی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سوه چې پر ماهي ګيرانو يوه بلا نازله سوې ده. ځو پر دې والو ور واوښتل کله ځه ګوري سر ايونه د سر کوزانو او د بيږوګانو ډک دي او هغه بيږوګانو به د دوی کالي بويوله او تر ستر ګو به يې اوښکي بهېدلي.

دروښ وايي: چې دادی لعنت پر اصحاب السبت لکه په بل ځای کې د قرآن کريم چې راغلي دي کما لعنا اصحب السبت.

پوه سه: چې واعظانو خو نجات پيدا کړی او ماهي ګيران خو په لعنت ککړ سوه، پاته د رېمه ډله سوه چې نه يې ښکار کاوه او نه يې په چا کار درلودی بعض تاريخ پوهان وايي چې هغو هم نجات پيدا کړی ولي چې سبب د لعن خو ښکارو هغه دوی نه کاوه، او بعض وايي چې ځوک چې د منکر کارو کولو په وطن کې اوسېږي او دوی منع نه ورته کوي نو د دنيا عذاب چې نازل سي نو پر دواړو ډلو نازلېږي. البته د آخرت په عذاب کې فرق سته فتدبر.

وَكُفْرِهِمْ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ

او په سبب د کفر ددوی يعنې يهودان په ايات د خدای ﷻ يا هغه آيات چې منزل ددوی په تورات کې وه چې نعوت د عليه الصلوة والسلام پکښې وه او يا آيات د قرآن کريم او د انجيل دي "وکفرهم" عطف دی پر "فبمانقضهم" باندې.

وَقَتْلِهِمُ الْاَنْۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ

او په سبب د وژلو ددوی انبياء بېله حقه لکه زکريا، او يحی او نور هم.

پوښتنه: مرګ د نبي خو وي ناحقه، ولي چې قتل بالحق خو درې قسمه دی يو قتل دی قصاصاً دوهم قتل دی په سبب د ارتداد او دريم قتل دی په سبب د زنا بعد الاحصان، له دې درو اسبابو ځخه يو په انبياؤ کې متصور نه دی فما فائدة التقدير بغير حق؟

خواب: مراد له غير حق ځخه دادی چې ددوی په زعم کې يعنې دوی هم سبب د قتل د انبياؤ نه سوای بيانولای.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَقَوْلِهِمْ قُلُوْبُنَا غُلْفٌ ؕ

او دوی به و علیه الصلوة والسلام ته ویل چې زمونږ زړه په غلاف کې دی یعنې په پرده کې دی مما تدعونا الیه، او یا زمونږ زړونه ظروف د علم دي ستاد ښوونې ضرورت نسته او یا دا معنی چې هر شی چې حق وي زمونږ زړونه یې قبلوي لانها ظروف العلوم الحقة او ستا تعلیم نه قبلوي. نو معلومه سوه چې ستا خبرې حق نه دي وقد کذبوا اعداء الله في التقادیر الثلثة.

بَلْ طَبَعَ اللّٰهُ عَلَيْهَا بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ۝

"بل" لپاره د اضراب دی ددوی له دعوو څخه ای لیس الامر کذالک بلکې مهر لګولی دی خدای ﷻ ددوی پر زړو په سبب د کفر ددوی. نو ځکه ددوی زړونه په پرده کې د کفر دي او فکر په آیاتو کې د خدای ﷻ نه سي وهلای نو دوی ایمان نه راوړی مګر لږ. یا معنا داده ایماناً قلیلاً چې هغه لره اعتبار نسته وهو الایمان ببعض الانبیاء وببعض الکتب. او یا معناداده چې لږ د لوی قوم څخه د یهودانو په ایمان مشرفه سوله لکه عبدالله بن سلام و اصحابه ﷺ.

پوه سه: چې نقض العهد سبب د غضب د رب دی کما قال الله تعالی فبما نقضهم آه او په صحیح حدیث کې راغلي دي چې حدیث ډیر اوږد دی چې که خلګو عهد د خدای او عهد د رسول د خدای مات کړي خدای ﷻ به مسلط کړي پر دوی باندې دښمن چې بېګانه به وي له دوی څخه.

پوه سه: چې عهد الله وعهد الرسول ماتول عبارت دی د عدم العمل څخه بماجاء به الله والرسول من المامورات والمنهیات، مثنوي معنوي

سوی لطف بې وفایان هین مرو کآن پل ویران بود نیکو شنو

وَّبِكُفْرِهِمْ وَقَوْلِهِمْ عَلٰى مَرْيَمَ بُهْتَانًا عَظِيْمًا ۝

او په کفر سره د یهودانو یعنې ثانیاً بعیسی علیه السلام او دوی وایي پر مریمې بهتان چې وایي دا زانیه ده او عیسی علیه السلام ولد الزنی دی.

بوه سه: چې غیبت هغه خبرو ته وایي چې په یو سړي کې یو بد خوی وي او بل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سړی د هغه د عیب بیان کوي، او بهتان هغه عیب د چا بیانول دي چې هغه عیب په هغه کې نه وي.

فائده: وبکفرهم" معطوف دی پر "بکفرهم" سابق باندي و حرف با یې راوګرځول للفصل بین المعطوف والمعطوف علیه.

سوال: دا عطف خو عطف د شي دی پر ځان باندي یعني کفر پر کفر؟

ځواب: اول کفر مطلق او عام دی او دوهم کفر مقید بعیسی علیه السلام دی، یا دا بکفرهم دي معطوف وي پر بما نقضهم باندي او دوه واره کفر ذکر کول لپاره د تنبیه دی پر دې چې کفر د یهودانو مکرر دی، فانهم کفروا بموسی ثم بعیسی وداوٗد وسلیمان ثم بمحمد صلی الله تعالی علیه وعلیهم اجمعین.

وَقَوْلِهِمْ إِنَّا قَتَلْنَا الْمَسِيحَ عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ رَسُولَ اللَّهِ

او بل په سبب ددې چې یهودانو به په ډېر فخر سره ویل چې موږ مړ کړی المسیح عیسی بن مریم چې رسول د خدای علیه السلام و.

پوښتنه: یهود خو عیسی علیه السلام رسول الله نه بولي بلکې ابن الزانیة یې باله، نو دلته یې ده ته ځرنګه نسبت د رسول الله وکړی؟

ځواب: مراد د یهودانو دادی چې رسول الله دی د ده په زعم او دا هم احتمال لري چې دوی دي رسول الله استهزاءً ورته ویلي وي، وفي روح المعاني ان الیهود وصفوه بوصف الذم فبدله الله بوصف المدح یعني رسول الله.

وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ وَلَٰكِن شُبِّهَ لَهُمْ

نه دوی یهودانو عیسی وژلی او نه یې په دار کړی دی لکن دوی ته اشتباه پېښه سوه، راوي وایي چې یو قوم د یهودانو عیسی علیه السلام او دده مورته ښکنځل وکړه عیسی علیه السلام و هغو ته ښېرا وکړه، نو هغه سرکوزان او بیزوګان سوه، نو یهودانو قصد وکړی دده د وژلو نو خدای پاک دی خبر کړی چې زه دي اسمان ته پورته کوم.

دروېش وایي: چې ددې ټوله قصه په سورت آل عمران کې تېره سوه، او په بعض روایاتو کې راغلي دي چې عیسی علیه السلام چې په یوه خونه کې و او چاته نه و معلوم، نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یهودي عیسی علیه السلام وروبنو او پر هغه شبه د عیسی واقع سوه عیسی علیه السلام خدای پاک اسمانو ته پورته کړی او هغه یهودي چې د عیسی شبه پر وه یهودانو قتل کړی او په دار یې کړی، او په یو روایت کې له ابن عباس رضی الله عنه څخه راغلي دي چې یهودا چې رئیس د یهودانو و په هغه وخت کې و یو نفر دده له ملګرو څخه چې طیطانوس یې نوم وو رته وه یې ویل چې ورسه په هغه خونه کې چې عیسی بندي دی مړ یې کړه، نو عیسی خدای پاک آسمانو ته پورته کړی و او شبه یې په طیطانوس واچول نو هغه چې راووتی وه یې ویل چې عیسی خو په خونه کې نه و، نو یهودا امر ورکړی چې دغه عیسی دی لرؤیة شبه عیسی علیه، نو قتل یې کړی، وروسته یهودانو تلاش وکړی چې هغه سړی یعني طیطانوس څه سو چې مړ په عیسی پسې استولی و، که دا مړی عیسی وي نو طیطانوس څه سو او که دا طیطانوس وي نو عیسی څه سو ولهذا قال الله تعالی "ولکن شبه لهم" دوی ته یعني یهودانو ته یې قتل د عیسی لویه اشتباه واقع سوه یعني دا چې مړ مړ کړی عیسی و او که ددوی استولی سړی طیطانوس و.

وَإِنَّ الَّذِينَ اخْتَلَفُوا فِيهِ لَفِي شَكٍّ مِّنْهُ

او په تحقیق هغه کسان چې اختلاف یې کاوه په قتل کې د عیسی علیه السلام په شک او تردد کې وه په قتل کې د عیسی، یهودان وایي چې مړ عیسی وژلی دی او یوه ډله د نصاری وو هم پر عقیده د یهودانو دی چې مقتول و او بله طائفه د نصاری وایي چې عیسی هیڅ چانه دی وژلی بل رفعه الله الی السماء ونحن ننتظروا الیه، بعض راویان وایي چې خدای پاک شبه د عیسی یو ازي پر مخ د طیطانوس اچولې وه او نور جسد یې د طیطانوس و نو بعض یهودانو وویل چې دغه مقتول عیسی و لان وجهه وجه عیسی، او بعضو به ویل چې دا مقتول طیطانوس و لان جسده جسد طیطانوس.

مَا لَهُمْ بِهِ مِنْ عِلْمٍ إِلَّا اتِّبَاعَ الظَّنِّ وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينًا ۞ بَل رَّفَعَهُ اللَّهُ إِلَيْهِ وَكَانَ اللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ۞

نسته دوی لره یعني یهودانو په قتل سره د عیسی یقین چې دوی دي یقین یا پر قتل ولري او یا پر عدم قتل مګر نه هري ډلي قناعت د ګمان کاوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې استثناء دلته منقطع ده ولې چې ظن خو له قسم څخه د علم او یقین نه دی یعنې دوی متابعت د ظن کاوه چې مونږ عیسی مړ کړی او دوی نه دی وژلی عیسی په یقین یعنې دعوه کونکي د قتل د عیسی هم پر قتل دده متیقن نه وه صرف د ګمان له لارې یې دا خبره کوله، خدای پاک ددوی د قول رد په دې خبره چې بلکې خدای پاک دی پورته کړی وخپل ځان ته ای الی موضع اختاره الله لعیسی وهو السماء. او دی خدای ﷻ غالب فیما اراد لامعقب لحکمه. او حکیماً یعنې خدای ﷻ عبث کار نه کوي بلکې په هر کار کې حکمت لري علمه الناس او لم یعلموا.

فائده: خدای ﷻ پر دغو یهودانو باندې چې اراده د قتل د عیسی یې درلوده که څه هم کامیابه نه سوه مسلط کړی صیطیونس بن استیانوس رومي چې په لوی جنګ کې ډیر یهودان قتل کړه.

فائده: جلال الدین السیوطي رحمه الله پخپل تفسیر درمنثور کې وایي په تفسیر کې د سورة کهف له ابن شاهین څخه یې روایت کړی دی چې څلور نبیان په حیوة دنیوي سره اوس هم ژوندي دي دوه په اسمان کې او دوه په مځکه کې، ادریس او عیسی علیهما السلام په اسمان کې، خضر او الیاس علیهما السلام په مځکه کې، خضر د دریاب په غاړه کې دی وعنده عین الحیوة. او الیاس په مځکه کې دی.

فائده: مریمه د خدای یوه ولې ښځه وه لکن ددې په اهانت او تر حد بالا تعظیم سره دوې ډلې کافرانې سوې، یهودان په اهانت سره کافران سوه چې دې ته زانیه وایي، او په غایت تعظیم سره یې نصاری کافران سوه چې ددې زوی عیسی ته ابن الله وایي ګویا مریمه زوجة الله بولي نعوذ بالله من ذالک کله. او زمونږ د مسلمانانو مذهب متوسط بین افراط النصاری وتفریط الیهود، او مونږ وایو چې عیسی عبد الله ورسوله وامه صدیقة.

وَإِنْ مِّنْ أَهْلِ الْكِتٰبِ إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهٖ قَبْلَ مَوْتِهٖ

پوه سه: چې "ان" نافیه دی او استثناء مفرغ ده والمعنی له اهل کتاب یعنې الیهود والنصاری هیڅ یو نسته مګر قسم په خدای دی چې هرو مرو به ایمان راوړي پر عیسی باندې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې "یؤمنن" جمله خبریه ده تاکید د جمله قسمیه انشائیه دمخه تر مرګ د عیسی علیه السلام.

دروښ وایي: چې اکثره مفسران او عام اهل علم پر دې دي چې ضمیر مجرور د "به" راجع دی و عیسی ته، او عکرمه رضی الله عنه وایي چې ضمیر "به" راجع دی و علیه الصلوة والسلام ته، او بعض وایي چې ضمیر راجع دی و خدای ﷻ ته، قال المظهري والمال واحد فان الایمان بالله لایعتد الا بالایمان بجمیع رسله والایمان بمحمد ﷺ الایمان بعیسی وبالعکس انتهی. او ضمیر د "موته" راجع دی واحد محذوف ته ای قبل موت ذالک الاحد عند معاینة ملائکة العذاب عند الموت حین لاینفعه الایمان.

پوه سه: چې ضمیر د "به" چې راجع سي و عیسی ته، نو ترجمه د آیت داسي ده، یهودي چې وخت یې د زکندن ورسېږي او مرګ ورته حاضر سي، نو ملکي یې پر مخ او کوناټو وهي چې تاته عیسی نبي درغلی و نو تا یې تکذیب وکړی، او له نبوت څخه دې انکار وکړی، دا یهودي ووایي چې اوس زه اقرار کوم چې عیسی عبدالله ورسولهه و ملکي ورته ووایي چې اوس دي نو ایمان فائده نه کوي، ولي چې حال د معاینة العذاب دی ومضی وقت التکلیف وهو الدنیا، بیا ملکي د زکندن په وخت کي نصراني ته ورسي چې تاته درغلی و عیسی عبدالله ورسوله او تا به ویل چې عیسی هو الله او ابن الله دی نصراني ووایي چې اوس زه منم چې عیسی عبدالله ورسوله و، ملکي ورته ووایي چې اوس ستا ایمان فائده نه کوي ولي چې دار التکلیف تېر سو اوس وخت د معاینة العذاب دی چې ایمان نه قبلېږي، او بعض مفسرین وایي چې ضمیر د "به" او د "موته" دواړه راجع دی و عیسی ته والمعنی ح ء مامن اهل الکتاب الموجودین عند نزول عیسی الی الارض الاالیؤمنن به ای بانه رسول الله وعبده لاساحر کما کان یقوله الیهود حین کون عیسی في الارض ولا ابن الله کماکان یقوله النصاری او د ایمان ددوی به دمخه تر مرګ د عیسی وي.

دروښ وایي: چې وعلی ماقلنا في حق عیسی وایمان الیهود والنصاری به فی حال ارجاع الضمیر الی الله تعالی او الی محمد ﷺ وحاصل الجمیع انه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لايموت كتابي اى النصارى واليهودي حتى يؤمن بالله وحده لاشريك له ولايخطر ببال اليهودي ان عزير ابن الله ولا في ذهن النصارى ان عيسى ابن الله بل يقولون ان محمداً ﷺ عبده ورسوله وان عيسى عبده ورسوله لكن كل من هذه الاعترافات في تلك الحالات اى حالة معاينة العذاب لاترفع ولا يدفع عنه عذاب الآخرة لان الدافع عنه الايمان في الدنيا حالة اختيار وهذه حالة الاضطرار.

فائده: په دې آيت کې باعثه کول دي د خلګو پر ايمان برسول الله حالة الاختيار لانه المفيد في الخلاص من عذاب النار والله اعلم وعلمه اعظم.

پوه سه: چې ابو هريره رضي الله عنه د نبي ﷺ څخه روايت کړی دی چې په وخت کې د نزول د عيسى نوله ملل او اديان هلاکېږي الا الاسلام، رواه ابن جرير والحاكم في المستدرک.

دروبش وايي: چې له هلاک څخه مراد د نولو اديانو عدم العمل بفروعها وانما قلنا بفروعها لان الاصول مشتركة بين الاديان كلها كما لايخفى.

وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَكُوْنُ عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا ۚ

او په ورځ د قيامت به وي عيسى يا محمد ﷺ او يا الله ﷻ پر اندازه، ارجاع د ضمير د لنؤمنن به، خداى پاک به پر خپلو بندګانو شاهدي اداء کوي كما قال وكفى بالله شهيداً والانبياء كلهم يشهدون على امتهم، او محمد ﷺ به شاهدي اداء کوي د انبياؤ لپاره چې دوی تبليغ د دين کړی دی حين ينكر اقوامهم من التبليغ.

فَبِظُلْمٍ مِّنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا

پوه سه: چې تنوين د "ظلم" لپاره د تعظيم دی، والباء للسببية اى بسبب ظلم عظيم د هغو کسانو له خوا چې په دين يهوديت کې دي من نقضهم الميثاق وكفرهم بآيات الله وقتلهم الانبياء بغير حق وبهتانهم على مريم وقولهم په فخر سره چې موږ عيسى قتل کړی كمامر تلك القبائح في الآيات السابقة.

حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ طَيِّبٰتٍ اُحِلَّتْ لَهُمْ

موږ حلال طيب شيان چې پخوا دوی ته حلال وه حرام وګرځول وهذا التحريم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

للحلال انما هو جزاء ظلمهم في الدنيا وفي الآخرة عذاب عظيم هغه شيان وه چې په سورت انعام کې ذکر سوه په دې آيت کې "وعلى الذين هادوا حرمنا كل ذي ظفر" په اخير کې د هغه آيت خداى پاک داسې هم وويل "ذالك جزيناهم ببغيهم وانا لصادقون" او دا احتمال هم سته چې مراد دې له "طيب" څخه جنت وي ويلايم قوله تعالى واعتدنا للكافرين آه. او يا معنا د آيت داده چې ارزاق طيبه حلال خو په دنيا کې ډير دي لکن خداى دوى محرومه گرځولي دي، نو دوى رزق خبيث حرام خوري لکه رشوتونه، د غلا مالونه وغير ذالك من الاموال المحرمة.

پوه سه: چې د خداى ﷻ د يهودانو سره دا عادت و چې دوى به يو جنايت او معصيت وکړى خداى ﷻ به دوى ته يو نوع د طيباتو يعنې چې دوى ته په دمخه حلال وه حرام به يې ورته وگرځول كلحوم الابل والبانها.

وَبِصَدِّهِمْ عَنْ سَبِيلِ اللّٰهِ كَثِيرًا ﴿١٦٠﴾

او په سبب د دې چې دوى منع کول له سبيل الله يعنې له متابعت څخه د دين د اسلام او ايمان راوړه پر عليه الصلوة والسلام ډير له خلگو څخه، نو كثيراً مفعول به او يا صداً كثيراً، نو كثيراً په اعتبار د موصوف محذوف مفعول مطلق دى.

وَأَخْذِهِمُ الرِّبٰوا وَقَدْ نُهُوْا عَنْهُ

يعنې خلگو ته به يې اموال ربويه په سود ورکول، په "وقد نهوا" کې واو حاليه دى يعنې چې دوى په تورات کې د سود د اخذ منع کړه سوې دي، له دې آيت څخه دا معلومه سوه چې نهي مطلق په تورات کې لپاره د تحريم دى كما في القرآن العظيم ايضاً.

وَأَكْلِهِمْ أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ ۚ

او دوى به خورل يعنې اختتال به يې مالونه د خلگو كه به ماكول وه او كه به غير ماكول په باطله طريقه سره كالرشوة والخيانة، واليمين الكاذب والغصب وغير ذالك من وجوه التحريم.

فائده: بصدهم" سره د ما عطف عليه معطوف دى على "بظلمهم" او هغه متعلق دى توله بقوله "حرمنا" او پر حرمنا باندې بيا دا عطف دى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ مِنْهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿۱۶۱﴾

او موږ اراسته کړی دی و کافرانو ته دردناکه عذاب.

پوښتنه: عذاب خو دردناکه نه دی دردناکه خو کافران او دوزخیان دي؟

ځواب: عذاب عظیم پر طریقه د مبالغې راغلی دی یعني گویا له دې عظمت څخه د عذاب گویا عذاب معذب دی کما في لیل لئیل وداهیة دهیا کما في العربیة ویحتمل ان یکون الیم بمعنی المولم یعني که څه هم الیم فعیل د مجرد له بابه دی لکن دلته دی مجازاً په معنی د اسم فاعل له بابه د افعال یعني مولم.

وقد جاء في قول الشاعر

امن ریحانة الداعي السمیع یورقني واصحابي هجوع

ریحانه د شعار خور وه چې یو چا په زوره ځنې بهولې وه او شاعر د یو څو کسو سره د خور د خلاصون لپاره ور روان وه چې شپه پر راغله، نو له اندیوالان یې بیده سوه او شاعر ته خوب نه ورتلی په سبب د خور د سودا، نو دا شعر یې ووایه آیا د ریحانه له خوا څخه په ما یو بلونکی په ما خبري اوري. نو دغه سمیع په معنی د مسمع دی لعدم صحة معنی الفعیل کما لایخفی، د شعر ترجمه داسي ده، چې ما بیدار ه کوي یعني دا داعي سمیع دی او سره ددې چې زما ملګري ټوله بیده دي.

لٰكِنِ الرّٰسِخُوْنَ فِي الْعِلْمِ مِنْهُمْ وَالْمُؤْمِنُوْنَ

لکن هغه کسان چې محکم علم لرونکي وي یعني بالتورات له دې یهودانو څخه لکه عبد الله بن السلام واصحابه وبني عمه ﷺ، او که مسلمانان له اصحابو ﷺ څخه که مهاجرین وي او که انصار وي.

پوه سه: چې "راسخون" مبتداء ده "والمؤمنون" پر عطف دی او خبر یې دادی.

يُؤْمِنُوْنَ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَمَآ اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ وَالْمُقِيْمِيْنَ الصَّلٰوةَ

دوی ایمان راوړی دی پر هغه کتاب چې پر تا نازل سوی دی چې قرآن عظیم الشان دی او پر هغو کتابو چې پر تا دمخه نازل سوي دي کالتوراة والانجیل والزبور وسائر الصحف المنزلة علی الانبیاء فیما مضی من الزمان من لدن آدم علیه السلام.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې بغوي رحمه الله عائشې رضي الله عنها او ابان بن عثمان رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چې لفظ "والمقیمین" غلط سوی دی له کاتب څخه وینبغي ان یکتب والمقیمون، ولي چې دا څو مرفوع دی او حالت د رفعي د جمع مذکر سالم څو په واو او نون دی او دغه په سورت مائده کې په دې آیت کې ان الذین امنوا والذین هادوا والصائبون هم سهوه د کاتب ده باید "والصائبین" وای. ولي چې دا څو په اعتبار د عطف پر الذین حال یې د نصب دی، او حالت نصبي د جمع مذکر سالم څو په یا او نون سره دی، او دغه رنګه دا قول د څدای ﷻ "ان هذان لساحران" سهوه د کاتب ده باید "ان هذین لساحران" وای لانه في مقام النصب والنصب في التثنیة والملحق بها بالیاء. وقال عثمان رضي الله عنه ان في لحننا خطاء یسقیمه العرب بالسنتهم ژر دی چې عرب به یې پخپلو ژبو صحیح وایي، نو چا و عثمان ته وویل الاتغیره یعني دغلطو الفاظو ته وصحیح دول ته تغیر نه ورکوي، عثمان رضي الله عنه ورته وویل دعوه فانه لا یحل حراماً ولا یحرم حلالاً. پرېږدئ چې دا غلطیا وي په داسي الفاظو کې دي چې هر ډول یې ووایي نه حرام په حلالېږي او نه حلال په حرامېږي یعني حل و حرمت تعلق نه پورې لري، لکن صحیح داده چې دا قول چې فلانی توری د قرآن او فلانی دا سهوه بیان ده له قائلو څخه عفی الله عنهم بلکې اجماع د امت پردې ده چې هر څه کلمات چې دوی یادي کړي دي چې حق د اداء یې داسي وه ټولي کلمات پر موجود في القرآن لفظ صحیح دی لکن هر ځای هغه لفظ چې دوی به غلط باله هغه پر ژبه د عربو برابرول د نحو پر قانون توجیه غواړي ددې ځای په توجیه کې اختلاف دی، بعض وایي چې په قانون منصوب علی المدح دی وتغییر الاعراب للتنبیه علی فضیلة الصلوة، والتقدیر امدح المقیمین الصلوة، او بعض وایي منصوب په تقدیر د اعني چې فعل متکلم واحد دی، نو مقیمین به یې مفعول سې او د وروسته سره مبتداء مقدره وي ای هم المؤتون الزکوة اوبعض مفسران وایي چې مقیمین په مقام د جر دی عطف دی پر ما انزل الیک باندي والتقدیر یؤمن بما انزل الیک وبالمقیمین الصلوة ای الانبیاء علیهم السلام.

دروښ وایي: چې د منصوب علی المدح توجیه دهره زیبا لیشوعه في امثاله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غاية الشيوع او بايد چې د مرفوع على المدح كما يقال الحمد لله اهل الحمد بالرفع على المدح والمنصوب على المدح كما في القول المذكور الحمد لله اهل الحمد بالنصب على المدح وهكذا المرفوع على الذم والمنصوب على الذم.

دروښ وايي: چې ددې اصطلاحاتو د تحقيق لپاره شرح جامي يا مطول په غور سره مطالعه کړئ، که دروښ دلته اصطلاحات په تفصيل سره بيانوي وخت به هم ضائع سي او کاغذ به هم او فائده به يې چندان تر سر ونه وځي.

وَالْمُؤْتُونَ الزَّكٰوةَ وَالْمُؤْمِنُونَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ

او هغه کسان چې د خپلو مالونو زکوة ورکوي، او ايمان لري پر خداى ﷻ او پر وحداين د خداى وغير ذالک او د قيامت پر ورځ.

پوه سه: چې مظهري وايي چې "والمؤتون الزكوة" عطف دى پر "والراسخون" باندې فالرفع يې على الظاهر او يا مبتداء د خبر يې جمله د اولئک آه دې "والمؤمنين آه" عطف دى پر "المؤتون الزكوة باندې.

دروښ وايي: چې مظهري صرف په مراعات د اعراب د رفع د المؤتون والمؤمنون دا عطف مختار کړى دى. ورنه دا عطف بعيد دى. ولې دا دوه لفظه په والمقيمين الصلوة پورې متصل راغلي دي بايد پر هغه عطف سي. فالعطف على البعيد مع امكان العطف على القريب بعيد والحق ماقال صاحب روح البيان چې والمؤتون الزكوة عطف دى على المقيمين الصلوة فرفعه ايضا على المدح وكذا رفع والمؤمنون بالله على المدح.

دروښ وايي: چې فينتظم الكلام القرآني على الوجه المناسب للانتظام، وعلى ماقال المظهري يكون الكلام القرآني كدرر منثورة والله اعلم بالصواب.

فائده: ايمان يې مقدم کړى في قوله تعالى والمؤمنون يؤمنون بما انزل آه لانه المقصود الاهم في الآية.

أُولٰٓئِكَ سَنُؤْتِيهِمْ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿١٦٢﴾

دغو کسانو ته چې موصوف په صفات مذکوره في الآيات السابقة سره وي زه دى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې موږ به ورکوو ودی ته لوی ثواب په اخرت کې چې جنت دی او نعیم د جنت دي.

پوه سه: چې کلمه د "سنؤتیهم" په نون د متکلم او په یا د غیبت دواړه قراآت متواتره دي.

پوه سه: چې ابن اسحاق له ابن عباس رضی الله عنه څخه داسې روایت کړی دی چې عدي بن زید الیهودي وویل چې موږ علم نه لرو چې خدای ﷻ دي وروسته تر موسی علیه السلام پر یو بشر کتاب نازل کړی وي او یا دې دین جدید ورته استولی وي فانزل الله.

إِنَّآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ كَمَآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ نُوحٖ

موږ وحي کړي دي وتاته یا محمد لکه چې موږ وحي کړي وې ونوح ته.

پوښتنه: د نوح د تخصیص وجه څه ده سره ددې چې دمخه تر نوح هم انبیا وه لکه آدم وغیره؟

ځواب: وجه د تخصیص یې داده چې دی ابو البشر الثاني دی د دنیاوالو لپاره، لکه آدم چې ابو البشر اول و، ولې چې نور ټوله کفار په طوفان نوح کې غرق سوه حتی چې دده یو زوی چې کافر و نوم یې کنعان و هم غرق سو، نو دده په کښتی کې نر او ښځي اتیا کسه وه چې په هغو کې درې دده زامن وه حام، سام او یافث او د هغو زوجاتي هغه نور بعض د نوح علیه السلام لمسیان وه او بعض چې بېګانه وه د هغو نسل نه سو پاته، نو پر مځکه هر نر او ښځي که مسلمانان دي که کافران دي که عرب دي که عجم دي که ترک دي که تاجک وغیرهم دده له اولاد څخه دي، کما قال الله تعالی "وجعلنا ذریته هم الباقین" ای ذریة نوح علیه السلام. او بل دا چې نوح علیه السلام اول نبي دی چې نوی شریعت او احکام یې من عند الله راوړي دي تر ده پورې شریعت د آدم علیه السلام باقي و، او نوح اول نبي دی چې د شرک د مقابلې سره مخامخ سو، او نوح اول نبي دی چې قوم چې دده دعوت په مقابل کې شرک رد کړی او ده ښېرا ورته وکړه "رب لاتذر علی الارض من الکافرین دیارا" او ټوله اهل الارض په ښېرا دده هلاک سوه په طوفان سره، او نوح علیه السلام اطول د انبیاؤ دی از روی عمر. قال الله ولبث فیهم الف سنة الا خمسین عاماً" او ده په دغه مدید او طویل عمر کې په سخت ازار د قوم صبر کړی و، قدرت الهي د نوح سره د طول

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عمر في الغاية نه يې يو غابن څتلی دی او نه يې وېښته سپين سوی دی او تر اخير پوري پر قوت د ځوانۍ باقي و، لکن چونکه دنيا دار الخلد نه ده که هر څو سړی ژوندی وي طوفان د دنيا پر راځي هغه دی چې نوح عليه السلام په زور کلونه کېږي چې په درياب کې د فناء پروت دی.

وَالنَّبِيّٖنَ مِنۢ بَعْدِهٖ ۚ وَاَوْحَيْنَآ اِلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ وَالْاَسْبَاطِ وَعِيْسٰى وَاَيُّوْبَ وَيُوْنُسَ وَهٰرُوْنَ وَسُلَيْمٰنَ ۚ وَاٰتَيْنَا دَاوٗدَ زَبُوْرًا ۝

او موږ وحي کړې دي نورو نبيانو ته تر نوح عليه السلام وروسته او لکه موږ چې وحي کړې دي و ابراهيم او ددې زامنو ته چې اسماعيل او اسحٰق وه، او يعقوب چې د اسحٰق زوی و، او ددوی و اولادو ته.

پوه سه: چې د "والنبيين" څخه مراد ادريس، هود، صالح، شعيب وغيرهم. او له "اسباط" څخه اولاد د يعقوب مراد دي يا ددې دوولس زامن يا انبياء د بني اسرائيلو ټوله چې ددوی له اولادو څخه دي.

پوښتنه: عيسى، ايوب، يونس، هارون او سليمان عليهم السلام خو هم له اسباط څخه د بني اسرائيلو وه، نو راوړلو ته يې څه ضرورت و؟

ځواب: راوړه ددغو نومورو نبيانو لپاره د تنبيه ده پر مزيد فضل باندې ددوی.

فائده: "وآتينا" عطف دی پر "اوحينا" باندې. زبور د داؤد عليه السلام د کتاب نوم دی. بغوي رحمه الله وايي چې په زبور کې صرف تحميد او تمجيد او ثناء وه على الله جل جلاله. داؤد عليه السلام به لوی دښت ته ووتی، نو به ودرېدی زبور به يې شروع کړی علماء د بني اسرائيلو به دده تر شا ودرېدل او نور عوام الناس به د ملايانو تر شا ودرېدل او پېرانان به د انسانانو شاته ودرېدل پر ترتيب الاعظم فالاعظم. او د غرد حيوانات لکه هوسی، چغالان وغيرها به دده ومخ ته ولاړ وه تعجباً لما يسمعن منه. او مرغان به پر سر ددوی ولاړ وه وزر به يې نښورولـه، له ابی موسی اشعري رضي الله عنه څخه روايت دی چې ماته عليه الصلوة والسلام وويل "لو رئيتني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

البارحة" او ما غوږ نیولی و ستا و قرائت ته "لقد اعطیت مزماراً من مزامیر آل داؤد" تاته درکړه سوی رباب یعني حسن الصوت د له مزامیرو څخه د آل داؤد.

پوه سه: چې له آل داؤد څخه نفس داؤد مراد دی، ابو موسی رضی الله عنه وایي چې ما ورته ویل چې که زه خبر وای چې تا خوږ راته نیولی دی "لحبرته تحبیراً" یعني ما به ډیر اواز ته ښائسته ورکړی وای، قال السعدي قدس سره السامي

به از روی زیبا است آواز خوش که آن حظ نفس است واین قوت روح
وعند هبوب الناشرات علی الحمی تمیل غصون البان لاالحجر الصلد

درویش وایي: چې د سعدي د قول دلیل دادی هر څو چې ښائسته مخ وي ولو کان وجه یوسف علیه السلام مرغان د هوا او حیوانات د غرونه راجمع کېږي، او پر حسن صوت د داؤد علیه السلام به ټوله شیان سره جمع کېدل که څه هم حیوانات وه، عجم په معنا د زبور څونه نوهیدل لکن نغمه او حسن صوت د داؤد چې د غوږونو له لارې به راجمع کېدل.

وَرُسُلًا قَدْ قَصَصْنٰهُمْ عَلَيْكَ مِنْ قَبْلُ وَرُسُلًا لَّمْ نَقْصُصْهُمْ عَلَيْكَ ؕ

او ما استولي دي داسي رسولان چې موږ یې تاته قصې او احوال بیان کړي دي مثل آدم ونوح و ادریس وشیث وموسی وعیسی علیهم السلام، او داسي رسولان مې هم استولي دي چې ما یې تاته قصې او احوال نه دي بیان کړي.

پوه سه: چې عامل د نصب د "رسلاً" ارسلنا دی چې له اوحینا السابق څخه وفهمېدی، له ابو ذر غفاري رضی الله عنه څخه روایت دی چې ما و علیه الصلوة والسلام ته وویل یا رسول الله "ای الانبیاء کان اول قام آدم" ما ورته وویل چې آدم نبي و، علیه الصلوة والسلام راته وویل هو! نبي و چې وحي ورته راتلې، بیا ما ورته وویل "یارسول الله کم المرسلون منهم قال ثلثمائة وبضعة عشر جماً غفیراً" وعن ابي امامة رضی الله عنه قال قلت یا رسول الله کم وفائدة الانبیاء" څو دی پوره حساب د انبیاؤ؟ علیه الصلوة والسلام وویل "مائة الف واربعة وعشرون الفاً الرسل من ذالک الجم ثلث مائة وخمسة عشر جما غفیراً" رواه احمد وابن ابي حاتم، وفي روایة ثلث مائة واربعة عشر، وفي روایة ثلث عشر وهو المشهور.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې ددې لپاره چې سړی پر انبیاء علیهم السلام ایمان راوړي پېژندل د نبي بعینه یعني باسمه وحاله شرط نه ده د ایمان د صحت لپاره. بلکې د ایمان د صحت شرط دادی ان یؤمن بهم جمعیاً من کانوا وکم کانوا حیث کانوا

مسئله: د ټولو علماؤ د عقائدو او د علوم عقلیه وو پر دې اتفاق دی چې د نبي او رسول تر منځ عموم و خصوص مطلق دی. او نبي هغه رجل دی چې خدای راستولی وي لپاره د تعلیم د اصولو او احکامو د دین که نوی کتاب یا شریعت ورسره وي او که نه. او رسول هغه څوک دی چې یا یې فقط کتاب متجدد وي یا یې دین متجدد وي. نو نبي عام او رسول خاص دی، او بعض علماء وایي چې رسول عام دی تر نبي یعني که انسان وي او که ملکه او نبي خاص دی په انسان پوري.

دروښ وایي: چې دا مذهب له احادیث مذکوره وو څخه مخالف دی کما لایخفی.

دروښ وایي: چې صاحب د روح البیان د نبي او د رسول تر منځ یو عجیب او غریب فرق کړی دی. دی وایي "الرسل هم الذین اوحی الیهم بجبرئیل والانبیاء هم الذین لم یوح الیهم بجبرئیل وانما اوحی الیهم بملک آخر او برویاء في المنام او بشئ آخر من الهام انتهی.

مسئله: په ایمان کې د انبیاء علیهم السلام کې دې څوک تعین د عدد نه کوي مثلاً داسي ووایي چې زما ایمان دی پر یو لک او څلورویشت زره انبیاؤ، بلکې داسي دي وایي چې زما ایمان دی پر ټولو انبیاؤ علیهم السلام هر څو چې دي. وذالک لاختلاف الروایات في عدد جمیع الانبیاء علیهم السلام، نو که څوک تعین د عدد وکړي. نو که د انبیاؤ تر عدد لوړ وایي نو غیر انبیاء یې په انبیاء کې شامل کړه. او که کښته عدد ذکر کړي نو بعض انبیاء یې له ایمان څخه خارج کړه. نو اسلم طریقه په ایمان د انبیاؤ کې دادی چې تفویض د عدد دي وخدای ﷻ ته وکړي او داسي دي ووایي چې زما ایمان دی پر ټولو انبیاؤ علیهم السلام باندي، فلا یلزم علیه شئ من الزیادة والنقصان في ایمان الانبیاء کما یتوهم ذالک عند تعیین العدد المخصوص فاحفظ هذه النکتة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَكَلَّمَ اللّٰهُ مُوْسٰى تَكْلِيْمًا ﴿۱۶۴﴾

بوه سه: چې اقصى و اعلى مراتب الوحي هو الكلام الالهي مع النبي بدون وساطة الملك، لكه د موسى عليه السلام سره چې خداى پاک خبرې وکړې بدون وساطة الملک پر کوه طور باندې وهذا هو المراد في هذه الآية او په لويه دله کې د انبياؤ عليهم السلام و محمد ﷺ ته خداى پاک د اشرافت ورکړى دى چې فوق سبع سموات خداى خبرې بدون وساطة الملک ورسره کړې دي، قال السعدي الشيرازي قدس سره، في بيان معراج النبي العربي ﷺ.

چنان گرم در تيه قربت براند — كه در سدره جبرئيل از و باز ماند
بدو گفت سالار بيت الحرام — كه اى حامل وحي بر تر خرام
بگفتا فراتر مجالم نماند — بماندم كه نيروى بالم نماند
اگر يک سرى موى برتر پرم — فروغ تجلى بسوزد پرم

دروښ وايي: چې په هغو آيتو کې چې په معراج کې د رسول ﷺ راغلي دي داسې مشافهةً او بلاواسطة الملک اشاره بلکې تصريح سوې ده، ثم دنى فتدلى، بيا عليه الصلوة والسلام نژدې و خداى ﷻ ته يعنې په قرب رتبې سره لابالقرب المكاني فتدل او د هر نژدې سو "فكان قاب قوسين اوادنى" نو سو عليه الصلوة والسلام يعنې قرب د عليه الصلوة والسلام د خداى ﷻ سره په اندازه د دوو کمانو بلکې تر هغه لاکم نژدې سو "فاوحى الى عبده ماوحى" نو خداى ﷻ وحي وکړې و خپل بنده محمد ﷺ ته هغه څه چې وحي ورته وکړې.

دروښ وايي: چې ما اوحى يې په ما ابهامي سره راوړى يعنې تعيين د ما اوحي يې ونه کړى له دې سببه چې عليه الصلوة والسلام ته په ليلة المعراج کې دري قسمه وحي وسوې يو داقسم وحي وې چې عليه الصلوة والسلام يې مامور کړى په تبليغ و ټول امت ته لکه پنځوس لمونځونه په شبانه روز کې او اووه واره غسل له جنابت څخه چې هغه بيا په کومک د موسى عليه السلام لمونځونه پر پنځه ودرېدل او غسل د جنابت پر يوه وار. او بل داقسم وحي وې چې ستا خوښه ده کې څوک اهل و نو ورښيه يې که يې نه ورښيه، چې اول قسم ظاهر د شريعت دى چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

علیه الصلوة والسلام یې وټولو ته تعلیم کړی دی. او دویم قسم وحي د دقائق د علم تصوف دي چې بعض افراد ذ صحابه کرامو ﷺ په مشرفه سوي لکه د علم طریقت د حقیقي راه نمایانو څلور طریقو په اذهانو کې محفوظ دي او نور ودې دوهم قسم ته ابو هریره ﷺ په داسي الفاظو اشاره کړې ده حفظت من رسول الله ﷺ وعائین من العلم اما احدهما فبثثته فیکم" یو وعا خو ما په تاسي کې نشر کړی دی یعني علم الحلال والحرام وعلم صلوة وغیرها. واما الآخر فلو بثثته لقطع هذا البلعوم" او هغه بل که زه نشر کړم زما سره غاړه به را پرې کړل سي.

دروښ وایي: چې شاید په دوهم وعاء کې علیه الصلوة والسلام وده ته نومان د امراء الجور او احوال ددوی ورښولي وه لکه یزید بن معاویه، عبدالملک بن مروان حجاج بن یوسف وغیرهم چې بعض له هغو څخه چې ابو هریره ﷺ داخبره کول پر سر قدرت وه. لکن ابو هریره ﷺ اشارةً داسي ویل اغوذ بالله من راس ثلثین سنة ومن امارة الغلمان.

دروښ وایي: چې هذا حاصل ما في البخاري وغیره من المواضع المتفرقة. او دریم قسم یې داسي وحي ورته کړي چې هیڅ چاته به یې نه ورښیه، ولي چې قابلیت د زدکړي په هیڅ چا کې په دنیا کې نسته البته په ورځ د قیامت به هغه علوم کشف سي. حاصل د کلام دادی چې علیه الصلوة والسلام ټولې فضائل د ټولو انبیاؤ علیهم السلام ورکړه سوي وه مع مزید فضل علیه الصلوة والسلام.

آنچه خوبان همه دارند تو تنها داری

رُسُلًا مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى اللَّهِ حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ

رسولان وه چې زېري کونکي وه و اهل الایمان والعمل الصالح ته په جنت او زلفی الی الله او ببرونکي وه اهل الکفر والعصیان په دوزخ سره، تاچې نه سي پیدا خلګو لره یعني په ورځ د قیامت عند تعذیبهم پر خدای ﷻ باندې یو حجت یعني عذر تر ارسال د رسولانو وروسته یعني عذر به یې قطع سي.

پوه سه: چې "رسلاً" یا منصوب دی علی المدح کمامر او یا ارسلنا ورسره مقدر دی.

پوه سه: چې "لئلا" متعلق دی په ارسلنا محذوف پورې او یا په مبشرین او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

منذرین پورې، او دا علت دی د ارسال او د بشارت او انذار لپاره.

پوه سه: چې "حجة" د کان اسم دی او خبر یې یا "للناس" دی او "علی الله" یې یا حال او یا خبر دی، او "للناس" یې حال دی هغه حجت ددوی به دا وای که بې ارسال د رسول ودوی ته په سبب د علم ازلي د خدای عذاب ورکړه کهدای ربنا لولاّ ارسلت الینا رسولاً فنتبعه.

سوال: دا د دوی خبره څو عذر دی، نو حجت یې ولي وبالله او سره ددې چې پر خدای ﷻ حجت ویل محال دی هیڅ چا لره په هیڅ فعل کې په افعالو کې د خدای ﷻ لانه یفعل مایشاء؟

ځواب: هو! خدای پاک چې معذرت ته حجت ووایه تنبیه یې پر دې وکړه چې معذرت په قبول کې په نېز د کریم ورحیم باندار لکه حجت قاطعه دی چې رد یې نه کوي په مقتضی د کرم خپل، بغوي رحمه الله وایي چې په دې آیت کې دلیل قاطع پر دې دی چې الله تعالی خلګو ته عذاب دمخه تر بعثت د رسولانو نه ورکوي کما قال الله وماکنا معذبین حتی نبعث رسولاً، او حنیفیان وایي چې خدای ﷻ عذاب نه ورکوي پر ترک د مامورانو او نه پر فعل د منهیاتو الا بعد بعثة الرسل او هرچه وجود د صانع العالم او د توحید د هغه پر ارسال الرسل موقوف نه دی للدلائل القطعیة العقلیة في الانفس والافاق علی ذالک. او عقل د هغه په معرفت کې کافي دی، نو بناءً علیه که یو سړی په شواهقو د بعض جبالو وي چې هیڅ په ارسال الرسول خبر نه وي او عقیده د عدم وجود الصانع وکړي یا عقیده د شرک وکړي هغه په ورځ د قیامت معذب في النار ابداً، ولهذا قیل در تحفه نصائح

گر انبیاء هم نه آمدي نی شرع بودی درجهان
واجب شدی بر مؤمنان ایمان بخالق مقتدر

دروښ وایي: چې یو حدیث طویل چې یوه جمله یې ددې مقام سره برابره ده مظهري د مغیره بن شعبه رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چې یو وخت سعد بن عبادة رضي الله عنه وویل که زه ووینم د مایني سره یو سړی یعني په زنا سره زه به یې په توره ووهم غیر مصفح یعني په پڅه خوا نه بلکې په تېره خوا، نو دا خبره و علیه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الصلوة والسلام ته چا ورروسول، نو علیه الصلوة والسلام وویل چې تاسې تعجب کوئ و غیرت ته د سعد والله لانا اغیر منه والله اغیر مني" او له جهته د غیرت د خدای خدای ﷻ حرام کړ خولی دی فواحش یعني زناوي ماظهر منها وما بطن ولا احد احب الیه العذر من الله، ومن اجل ذالک بعث المنذرین والمبشرین.

دروښ وایي: چې دغه ټوټه د حدیث د مانحن فیه سره برابره ده ولا احد احب الیه المدحة من الله تعالی ومن اجل ذالک حمد الله نفسه في القرآن یعني في عدة مواضع' او خدای ﷻ وعده د جنت کړې ده د خپل حامد سره، رواه البخاري وغیره.

وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴿١٥٨﴾

او دی خدای ﷻ غالبه پر هر شي چې اراده ورته وکړي لا یمنعه شئ ولا معقب لحکمه" او حکمت لري چې و هر نبي ته یې د حال د مبعوث الیهم معجزه ورکړې ده مثلاً په زمانه کې د فرعون ساحران او جادو گران ډېر وه، نو موسی علیه السلام ته یې ورته معجزه ورکړه چې عصاه وه او دی یې په هغه ماهرانه کار کې د فرعونیانو چې سحر و غالب وگرځاوه کما مر تفصیله. او په زمانه کې د حضرت عیسی علیه السلام د طبابت او د قسم قسم مرضو د علاجو چرچه وه، خدای ﷻ وعیسی علیه السلام ته معجزه د ابراء الاکمه یعني مور زاده روند والابرص او احیاء الموتی معجزه ورکړه چې دا کارونه د طبابت د وسیع دائرې د طبابت چې په هغه زمانه کې وه غیر ممکن ثابت سوه. او د علیه الصلوة والسلام په زمانه کې فخر د عربو او یو پر بل بالا دستي په فصاحت او بلاغت سره وه کما یشهد علیه حال المعلقات السبع علی جدار الکعبة نو خدای د فصاحت او بلاغت څخه مالامال قرآن معجز ورکړی چې فصحاء د عدنان بلغاء د قحطان له دې کوچني سورت له مقابلې څخه پاته راغله او اظهار د عجز خو یې نه کاوه ولي چې ددوی لپاره د لېرې کولو د خجالت. او بل دا چې باید ایمان راوړي، نو د عجز د شرم دفع یې په دې وکړه، انهم سحروا تسحیراً. او په عین حال کې معجزه د رسول مقبول ﷺ چې قرآن کریم و پر معجزات عالیاتو د نورو انبیاؤ علیهم السلام عالي سوه، ولي چې دا معجزه قرآنیه کر الازمان ومر الدهور پاته ده الی یوم القیامة او اعلان د قرآن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عظیم اوس هم پر ځای پاته دی اعني ان کنتم في ریب مما نزلنا آه. او معجزات د نورو انبیاؤ محصور پر زمانه د حیوة ددوی وې اوس یې صرف حکایت پاته دی چې د منکر مقابله په کښې کله څه هم څه مؤمنان یې منې په سبب د حکایت د قرآن عظیم الشان له هغو معجزاتو څخه. وبالجملة عنایات د خدای ﷻ پر علیه الصلوة والسلام تر حد د حساب وړ دي. منها سلسه د انبیاء علیهم السلام پر ده خدای ختمه کړه او نوی نبوت یې تر ابده پورې بند کړی. ومنها جعله خیر البشر آدم ومن دونه. ومنها جعل امت الاجابة او امة دعوته اکثر من جمیع امم سائر الانبیاء علیهم السلام. ومنها جنتیان د امت د علیه الصلوة والسلام دوه ثلث د امتیانو جنتیانو د تولو امتو دی کما جاء في الاحادیث المبارکة حتی په ورځ د قیامت به یو سل وشل صف د جنیانو وي ولا یعلم تعداد اشخاص الصف الواحد الا الله. په دې کې به اتیا صفه امت محمدي وي او څلوېښت صفه به د نورو تولو امتو جنیان وي. ومنها مقام محمود شفاعت کبری به د علیه الصلوة والسلام او هغه وخت چې هر نبي به د نفسي نفسي آواز بلندوي آنحضرت ﷺ به د امتي امتي ناري وهي. ومنها شرف المعراج کمامر آنفاً.

دروېش وایي: چې لایمکن الثناء کما کان حقه،،،، بعد از خدا بزرگ توی قصه مختصر، وایضا قیل بطریق الکنایة

آفاگردیده ام مهر تابان وزیده ام — بسیار خوبان دیده ام اماتو چیزی دیگری

په اخیر کې مناجات دي د دروېش وایي اقتباساً من مناجات حسن رحمه الله.

الهي یا الهي یا الهي — ندارم جز امیدت تکیه گاهی
زکن موجود کردی کل عالم — مرا از زنب خود کن عذر خواهی
ندارم توشه راه قیامت — بجز شرمنده گی وروه سیاهی
ندارم طاعت مقبول درگاه — بجز اشک ندامت آه آهی

وقت ظهر ۲۵ رمضان المبارک سنه ۱۴۲۷ هـ ق.

پوه سه: چې محمد بن اسحاق او ابن جریر له ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چې یو جماعت د یهودانو و علیه الصلوة والسلام ته راغله، نو علیه الصلوة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والسلام ودوی ته وویل چي قسم په خدای دی چي تاسي پوهیږئ چي زه رسول د خدای ﷻ یم؟ دوی ورته وویل مانعلم ذالک موږ ستا پر نبوت هیڅ علم نه لرو. او بغوي رحمه الله وایي چي رئیسان د کفارو د مکې و علیه الصلوة والسلام ته راغله نو دوی وویل چي موږ ستا پر نبوت هیڅ علم نه لرو، او بغوي رحمه الله وایي چي رئیسان د کفارو د مکې و علیه الصلوة والسلام ته راغله نو دوی وویل چي موږ ستا په باره کي له یهودانو څخه د مدیني پوښتنه کړې ده او ستا د نعت او بیان پوښتنه مو کړې ده چي ستاسي په تورات کي سته او که نه؟ هغو موږ ته وویل چي موږ دی هیڅ نه پیژنو او نه زموږ په کتاب تورات کي سته فانزل الله تعالی.

لٰكِنِ اللّٰهُ يَشْهَدُ بِمَآ اَنْزَلَ اِلَيْكَ اَنْزَلَهٗ بِعِلْمِهٖ ۚ

یعني یهودان که شاهدي نه ورکوي ستا په نبوت سره لکن خدای شاهدي ورکوي ستا په نبوت سره د ما انزل الیک، یعني هغه ستا په نبوت سره شاهدي یعني القرآن المعجز بالنظم والمعنی، چي نازل کړی دی متلبساً بعلمه الخاص. وهو العلم بالمغیبات الماضیة والمستقبلة والعلم بتالیف القرآن بحیث یعجز عن الاتیان بمثل اقصر سورة الثقلان ای الانس والجن، او یا مراد علم د خدای په هغه چا سره چي هغه اهل د نبوت وي او اهل د نزول د کتاب معجز او په هغه کي استعداد د تحمل د مشاق د نبوت وي او علم د خدای ﷻ دی په هغه شیانو سره خلګ حاجت ورته لري په اصلاح کي د معاش دنیوي او د معاد اخروي.

وَالْمَلٰٓئِكَةُ يَشْهَدُوْنَ ۭ

او ملکي هم شاهدي اداء کوي په صحت سره د نبوت ستا، ولي چي ملائکه ستا سره کومک کوي په جنګو کي د کفارو سره کما حضروا في غزوة بدر، نو که ته صادق په دعوی کي د نبوت نه وای نو ملکو ستاسره په جنګو کي کومک نه کاوی، ومسلمه کذاب چي مدعي د نبوت و بالکذب او یا اسود عنسي چي هغه هم مدعي د نبوت و بالکذب ولي یې کومک نه کاوه، ولي ملکي هر کار چي کوي په امر د خدای ﷻ یې کوي قال الله تعالی في شانهم وهم بامره یعلمون.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا ﴿۷۹﴾

او کافي دی خدای ﷻ من حیث الشهادة له شهادت څخه د غیره ولي چې خدای ستاد صحت نبوت لپاره حجج قائم کړی دی. او معجزات باهره یې تاته درکړي دي.

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ قَدْ ضَلُّوْا ضَلٰلًا بَعِيْدًا ﴿۸۰﴾

په تحقیق هغه کسان چې کافران دي هم منع کوي له لاري څخه د خدای ﷻ چې دین د اسلام دی او اتباع د علیه الصلوة والسلام ده چې په اوله مرتبه کې کفار د مکې وه چې دوی به وخلګو ته ویل اتاتون السحر وانتم تبصرون. او په دوهمه مرتبه یهودان د مدینې وه چې نعوت د علیه الصلوة والسلام چې په تورات کې وه دوی پټ کړه او د علیه الصلوة والسلام له متابعت او ایمان څخه به یې خپل اتباع منعه کوله چې دا یعني علیه الصلوة والسلام هغه نبي موعود في التورات نه دی، نو دا کسان ګمراهان دي له لاري څخه د حق په لویه ګمراهي سره چې هم په خپله ګمراهان وه او هم بې نور خلق ګمراه کوله.

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَظَلَمُوْا

یعني هغه کسان چې په خدای سره کفر وکړي او په رسولانو د خدای چې خدای ته شریک ووایي یا ولد او ابن ورته وایي لکه نصاری چې وایي عیسی ابن الله دی او یا یهود وایي چې عزیر ابن الله دی. یا مجوس وایي چې ملائکه بنات الله دي، او رسولان سحرګران بولي الی غیر ذالک. او دوی ظلم وکړی پر محمد ﷺ بانکار نبوته بعد العلم بمعجزاته وبعد العلم بنبوته في التوراة، او یا مراد دادی چې ظلم کوي پر خلګو چې د حق له لاري یې منع کوي لکه مشرکین د مکې او یهودان د مدینې او د شاوخوا.

لَمْ يَكُنِ اللّٰهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ طَرِيْقًا ﴿۸۱﴾

نه دی خدای ﷻ چې بخښنه دي وکړي ودوی ته مادامو اعلی ذالک الحال، او نه دوی ته لار ښیي په آخرت.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِلَّا طَرِيقَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ۚ

مګر نه لار د دوزخ ورښيي، همېشه به وي دوی په دوزخ کي.

سوال: په وخت کي د دخول د جهنم خلود نسته ولي چي خلود مکث دی په دوزخ کي تر دهرو زمانو پوري؟

ځواب: په علم نحو کي داسي حال ته حال مقدره وايي، والمعنى مقدرين الخلود فيها وقت الدخول.

وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرًا ﴿١٦٩﴾

او دی ادخال و جنهم ته پر خدای ﷻ اسانه. ولي خدای چي يو کار کوي هيڅ مشکل په مخه نه ورځي.

پوښتنه: دروازه د توبې خو هر کافر ته خلاصه وه او د ایمان راوړلو لاره ډېره فراخه ده، نو څرنګه خدای عظمت رحمت، د مغفرت او د جنت لار پر دوی بنده کړه؟

ځواب: دا آیت په حق کي د هغو کسانو دی چي په علم ازلي خدای ﷻ ته دا معلومه وه چي دا کسان پر کفر باندي مري والله اعلم بمراده في کتابه.

پوه سه: چي په حدیث شریف کي راغلي دي "یخرج من النار من کان في قلبه ذرة من الایمان.

فائده: شقیق بلخي قدس سره چي به وعظ ختم کړی، نو به يې داسي ویل چي زما له مجلس څخه د وعظ دري قسمه خلګ ولاړ ږي (۱) کافر محض (۲) ومنافق خالص (۳) ومؤمن محض، ولي چي زه خو تفسیر د قرآن پاک کوم او زه خبري کوم د خدای ﷻ او د هغه د رسول ﷺ له خوا نو که څوک زما تصدیق ونه کړي هغه کافر محض دی، او که يې په زړه کي شبه ورپیدا سي زما په خبرو کي هغه منافق محض دی، او يو سړي ته چي ګناه کاره وي په زړه کي پښېمانې پر ګناه وروګرځي او د آئینده لپاره ټینګ قصد وکړي چي زه بیا دا کار نه کوم نو هغه مؤمن مخلص دی.

وعظ: پوه سه! چي اول علم ته ضرورت دی او دوهم و عمل ته. ولي چي عمل د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

علم میوه ده ځکه ویل سوي دي چي عالم بي عمله لکه درخته بي میوې. په صحیح حدیث کي راغلي دي چي یو چا د علیه الصلوة والسلام څخه پوښتنه وکړه چي علم څه شی دی علیه الصلوة والسلام ورته وویل دلیل العمل. بیا چا پوښتنه ځني وکړه فما العقل. قال ﷺ قائد الخیر. بیا چا پوښتنه ځني وکړه فما الهوی قال مرکب المعاصي. بیا چا ورته وویل فما المال قال رداء المتکبرین. بیا چا ورته وویل فما الحیوة الدنیا. قال سوق الآخرة د آخرت یو بازار دی څوک ګټي په دې بازار کي د آخرت لپاره کوي او څوک تاوانونه د آخرت پکښي کوي کما هو شان الاسواق. بیت

ومن مذهبي حب العمر الطویل لاجل الاجر الجزیل في الآخرة. وللناس فیما یعشقون مذاهب.

دروښ وایي: چي ما پر ځان لازم ګڼلی دی ختم تفسیر د قرآن، دا تمنا به مي باقي وي تر تفسیر د اخیر د قرآن عزیز.

یٰۤاَیُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ الرَّسُوْلُ بِالْحَقِّ مِنْ رَّبِّكُمْ فَاٰمِنُوْا خَیْرًا لَّكُمْ ؕ

اې خلګو خطاب عام دی للعرب والعجم په تحقیق تاسي ته راغلی رسول محمد ﷺ متلبس په حق سره ای بالقرآن ودین الاسلام له جنابه څخه د خدای ﷻ نو ایمان راوړئ پر ده باندي.

بوه سه: چي بعض مفسرین وایي چي "خیرالکم" مفعول مطلق دی د "آمنوا" په حذف د موصوف ای ایماناً خیرلکم. او بعض وایي چي مفعول به د فعل محذوف دی ای ایتوا امراً خیراً لکم مما انتم علیه من الکفر. او بغوي رحمه الله وایي چي تقدیر یې داسي دی کان الایمان خیراً لکم، او بصریون له دې تقدیر څخه انکار کوي، دوی وایي چي "کان" سره له اسمه نه سي حذف کېدای الا فیما لابد منه، عظهري رحمه الله چي ددې سوال جواب ورکړی دی چي حذف د کان سره د اسمه روا دی کمافي قولهم الناس مجزیون باعمالهم ان خیراً فخیراً ای ان کان عمله خیراً کان جزائه خیراً ففي الشرط والجزاء حذف کان مع اسمه.

دروښ وایي: چي دا ځواب صحیح نه دی ولي چي دا محاوره خو ځای د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ضرورت ده. او بصریانو ځای د ضرورت مستثنی کړی دی بقولهم الا فیما لابد منه فافهم.

وَإِنْ تَكْفُرُوا فَإِنَّ لِلَّهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿١٣٠﴾

او که تاسي کفر وکړئ پس خدای ﷻ لره دي ملکاً وخلقاً تولـه هغـه شیان چې په اسمانو کي دي من الملائکة والکواکب والشمس والقمر وغیر ذالک او هغـه څه چې په مځکه کي دي من الانس والجن والحیوانات والنباتات والخزائن وغیر ذالک او دی خدای خبر په هر شي چې یو له هغو څخه ایمان دی د من یؤمن او کفر دی د من یکفر، حکیم دی چې مؤمن او کافر یې په جزاء کي نه دي سره برابر کړي لانـه خلاف مقتضی حکمته تعالی.

پوه سه: چې "وان تکفروا" ددې شرط جزاء محذوفـه ده او هغـه وروسته دلیل د جزاء په منځ کي ولاړ دی والتقدیر وان تکفروا فاالله غني عنکم یعني لا یتضرر بکفرکم کما لاینتفع بایمانکم. ولي چې نفع د ایمان او ضرر د کفر راجع وتاسي ته.

يَا أَهْلَ الْكِتٰبِ لَا تَغْلُوا فِي دِينِكُمْ

پوه سه: چې "غلو" تجاوز دی تر وسط حال تر منځ د افراط او تفریط خواه افراط خواه تفریط ته وي، نو مخاطب په دې آیت کي یهود او نصاری دواړه دي. ولي چې یهودانو په شان کي د عیسی علیه السلام د تفریط لار ځپل مذهب وګرځاوه چې یوې خوا ته خو یې دده تکذیب په نبوت سره وکړی او لـه بلې خوا یې دده مور مریمـه مهتمـه پـه زنـاء کړه او نصاری وو افراط پـه حق کي د عیسی علیه السلام ځپل مذهب وګرځاوه علی اختلاف آرائهم، چې یعقوبیـه وایيچې عیسی هو الله او نسطوریه وایي چې عیسی ابن الله دی. او مرقومیه وایي چې ثالث ثلثه دی یعني یو اصل خدای دی او بل عیسی دی او بله دده مور مریمـه ده. والحال المتوسط وهو الحق ان عیسی عبدالله ورسوله کما هو عقیدة المؤمنین.

وَلَا تَقُولُوا عَلَى اللَّهِ إِلَّا الْحَقَّ ۚ إِنَّمَا الْمَسِيحُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ رَسُولُ اللَّهِ وَكَلِمَتُهُ

او تاسي مه وایاست پر خدای ﷻ مګر نه حق چې خدای لـه شریک څخه او لـه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ماینې څخه او له ولد څخه او له جسد څخه له ټولو څخه پاک دی.

پوه سه: چې المسیح مبتداء ده او عیسی بن مریم عطف بیان دی او رسول الله خبر د مبتداء دی، یعنې داسې نه ده لکه نصاریٰ چې وایي چې دی د خدای زوی دی او نه داسې ده لکه یهود چې وایي چې عیسی کذاب دی په دعوه کې د رسالت بل هو رسول الله "وکلمته" عطف دی پر "علی رسول الله" باندې والمعنی هو اثر کلمة الله وهي کن فالمضاف محذوف.

پوښتنه: چې ټوله انسانان خو اثر د کلمه کن دی علی ماجرت به العادة الالهیة نو د عیسی علیه السلام د تخصیص به څه وجه وي؟

ځواب: چونکه تکوین د نورو انسانانو په کلمه د کن وسائطو سره دی من الاب والجد وان علا والام وام الام ان علت لکن تکوین د عیسی علیه السلام چونکه بلا واسطة الاب دی نو ځکه یې عیسی کلمه وبلی فافهم.

اَلْقٰىهَآ اِلٰى مَرْيَمَ وَرُوْحٌ مِّنْهُ

چې وه یې رسول دا کلمه ومریمې ته او عیسی علیه السلام روح له خدای جل جلاله څخه دی.

پوه سه: چې "روح منه" عطف دی پر خبر چې رسول الله دی. والمعنی ذو روح بحذف المضاف صادر منه تعالی بخلقه کسائر الحیوانات فلا یمکن انیکون الهاً او خدای جل جلاله یې اسناد وځان ته وکړی تشریفاً. وقیل سمی روحاً لانه کان یحیي الموتی بالدعاء. او بعض وایي چې عیسی یې روح وباله له دې سببه چې روح نفخ ته وایي چې جبرائیل په قمیصه کې د مریمې پوه کړه او دې حمل واخستی سمی النفخ روحاً لانه خرج من فم الروح وهو جبرئیل او اضافت یې وخدای ته وکړی لانه کان بامره تعالی من غیر مادة او بعض وایي چې د روح معنی رحمت دی ای رحمة منه لمن اتبعه وامن به.

راویان د تاریخ د بادشاهان قدیم د اسلام وایي چې هارون رشید یو طبیب درلودی چې په مذهب نصاری و او ځوان و حسن الوجه جداً. او هارون رشید دهر حریص و پر ایمان دده او هر وخت به هارون دعوت د اسلام و هغه ته کاوه او هغه طبیب به منع ورته کول او هارون رشید دهر غټ غټ امیدونه ده ته ورکول که دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ایمان راوړي. او هغه به منع کوله. یوه ورځ هارون و هغه ته وویل چي څه سبب دی چي څه سبب دی چي ایمان نه راوړي. طبیب نصراني ورته وویل چي ستا سي پر کتاب ما لره دلیل پر دې سته چي عیسی جزء د خدای یعني ابن الله دی رشید ورته کوم آیت دی په قرآن کي هغه ورته وویل دا قول د خدای "وکلمته القیها الی مریم وروح منه" نو دا مطلب چي عیسی جزء د خدای دی ولي چي کلمه د من لپاره د تبعیضده. نو رشید دپر زړه تنګ سو او علماء یې را جمع کړه نو داسي یو غلام نه سو پیدا چي نصراني قانع کړي. حتی چي هارون الرشید ته یو چا وویل چي یوه ډله د حاجانو د خراسان را راوانده چي په هغو کي عالم سته چي نوم یې علي بن الحسین واقدي دی او د مرو باشنده دی او هغه په علم القرآن لوی امام دی. نو هارون هغه عالم راوغوښتی او نصراني طبیب سره یې یو ځای کړی، نو غلام نصراني خپل سوال پر وکړی لکن و علامه مذکور ته في الفور جواب په ذهن کي نه ورغلی. نو یې هارون رشید ته وویل چي یا امیر المؤمنین چي خدای ﷻ په ازلي علم کي خبر و چي دا خبیث زما څخه سوال کوي ستا په مجلس کي او زه په دې پوهیږم چي قرآن چي یو جامع کتاب دی حتماً دده غه سوال جواب پکښې دی. نو یې هارون رشید ته وویل چي في الحال قناعت بخش جواب ددې خبیث زما په ذهن کي نسته لکن خدای ﷻ پر ما نذر لري چي زه به هیڅ شی ونه خورم او نه به شی وڅښم چي ددې سوال ځواب مي نه وي پیدا کړی ان شاء الله تعالی فدخل بیتاً مظلماً واغلق علیه الباب. او قرآن مبارک یې شروع کړی حتی چي دې آیت ته ورسیدی "وسخر لکم مافي السموات ومافي الارض جمیعا منه" فصاح باعلی صوته افتحوا الباب فقد وجدت الجواب. نو خلګو دروازه ورخلاصه کړه نو هغه طبیب نصراني و حضور ته د هارون رشید راوغوښتی او هغه آیت یې ورته تلاوت کړی او ورته وه یې ویل که من تبعیضي جزئیت لره مستلزم وي، نو باید مافي السموات ومافي الارض هم جزء او بعض د خدای ﷻ سي. نو طبیب نصراني قانع سو او اسلام یې راوړی او هارون رشید دپر خوشحاله سو. ولي چي هارون رشید له دپره وخته په انتظار و د خپل طبیب نصراني و اسلام ته، جامي رحمه الله وایي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چه خوش باشد که بعد از انتظاری بامید رسد امیداوری

او هارون رشید علي بن الحسين په نبه نبه انعاماتو وناز اوه، او علي بن الحسين چي مرو يعني خپل وطن ته ولاړی، نو يو کتاب يې تصنيف کړی په نامه د النظائر في القرآن چي هغه داسي کتاب دی چي مثل نه لري، دروېش وايي که دا گټور کتاب د چا سره وي چاپ دې کړي ليعم نفعه.

فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ ۚ وَلَا تَقُوْلُوْا ثَلٰثَةٌ ۭ اِنْتَهُوْا خَيْرًا لَّكُمْ ۭ

تاسي ايمان راوړئ پر خدای باندي بانه واحد لاشريک ولاولد، او ايمان راوړئ پر ټولو رسولانو د خدای ﷻ ومنهم عيسى، او تاسي مه وايائ چي الهه درې دي ای الله و عيسى ومريم. نهي سئ له تثليث څخه د خدايانو.

پوه سه: چي "ثلثة" د مبتدا، محذوفي خبر دی ای الالهة ثلثة "خيراً لكم" منصوب ی په فعل مقدر سره ای اقصدوا و انتواشئ چي ستاسي لپاره خير دی تر دې ترتثليث الآلهه وهو التوحيد، او دا هم ممكنه ده چي خيراً دي مفعول مطلق د انتهوا په حذف د موصوف ای انتهوا انتهاءً خيراً لكم.

اِنَّمَا اللّٰهُ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۭ

انما كلمه د حصر ده او لفظ الله مبتداء دی او "اله" يې خبر دی او "واحد" يې صفت دی، د "واحد" معنا داده چي په خدای کي هيڅ نوع د تعدد نسته لاباعتبار الشركا، في وجوب الوجود وهي الاولهية ولا باعتبار المعبودية ولا باعتبار الاجزاء، ولا باعتبار الولادة كما يقول المشركون والمجوس ان الملائكة بنات الله وامهاتهم بنات سرواة الجن نحكها الله فولدت منهن الملائكة، تعالى الله تعالى عن ذالك علواً كبيراً.

سُبْحٰنَهٗٓ اَنْ يَّكُوْنَ لَهٗ وَلَدٌ ۘ

والتقدير اسبحه سبحانا چي ده لره وي ولد اعم من انيكون عيسى كما يقوله طائفة من النصارى ان عيسى ابن الله اوالملائكة كما يقوله المجوس وبعض المشركين، ولي چي توالد تماثل غواړي بين الوالد المولود وهو تعالى لامثل له،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او بل ولد ددې لپاره دی چې والد فلاني سې ولد به د هغه په ځای کې قائم وې وهو تعالی ازلي ابدي لافنا. له ولازوال. له هم دې سببه ولد خدای لره د خپل ځان شتم بللی دی. عن ابي هريره ﷺ قال قال رسول الله ﷺ قال الله تعالى كذبني ابن آدم ولم يكن له ذالک وشتمني ولم يكن له ذالک اما تكذيبه اياى فقوله لن يعيدني كما بدئني وليس اول الخق باهون علي من اعادته واما شتمه اياى فقوله اتخذ الله ولدا وانا الاحد الصمد الذي لم الد ولم اولد ولم يكن لي كفوا احد. رواه البخاري.

ترجمة الحديث المذكور: له ابو هريره ﷺ څخه روايت دی دی وايي چې رسول الله ﷺ وويل چې خدای ﷻ ويلي دي چې زه درواغجن وبللم بنې آدم يعنې بعض بنې آدم چې د بعث بعد الموت څخه منكر وي او نه ولائق د بنې آدم سره تكذيب زما. او ماته يې بنكنځل وكړه بنې آدم او ده لره بنايده ماته بنكنځل كول او هرڅه چې تكذيب د بنې آدم دی ما لره هغه دادی چې ما بيرته نه سې ژوندی كولای يعنې خدای لكه اول چې يې پيدا كړی يم، او اول خلق د بنې آدم ماته اسانه و تر اعاده دده. او هرڅه چې بنكنځل د بنې آدم و ماته هغه دا خبره دده ده يعنې د بعض بنې آدمانو مثلاً چې عيسى د خدای زوی بولي او يا ملكي د خدای لونې بولي، نو دده بنكنځل دادي و ماته چې دوی وايي اتخذ الله ولداً خدای ځان لره ولد ګرځولی دی كمامر. او زه احد يم شريک نه لرم او صمد يم چاته حاجت هم نه لرم هغه ذات يم زه چې نه ماڅوک زېږولی دی او نه زه له چا څخه زېږېدلی يم او نسته مالره مثل هيڅ څوک. يعني نه په ذات كې او نه په صفاتو كې صدق الله وصدق رسوله.

لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ۝

او خدای ﷻ لره دي تولې هغه شيان چې په اسمانو كې دي من الملائكة او چې په مځكه كې دي من الاناسي وغيرهم يعني تولې زما مخلوق او مملوك دي ولامناسبة بين الخالق والمخلوق والمالک والمملوک حتى يتصور الولاد بيني وبينهم، نو دا جمله د ماقبل تعليل غوندې ده. او كافي دی خدای ﷻ حافظ او مدبر لكل من سواه، نو چې داسې دی چې "من سواه" نو خدای له دې څخه مستثنى دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې بغوي رحمه الله وايي چې وفد نجران چې نصاری وه علیه الصلوة والسلام ته يې وويل چې ته ولې زمونږ پر صاحب يعني عیسی علیه السلام عیب وايې؟ علیه الصلوة والسلام ورته وويل ما کوم عیب ستاسي د صاحب ویلی دی. دوی ورته وويل چې ته نه وايې چې عیسی عبدالله ورسوله دی؟ علیه الصلوة والسلام ورته وويل چې داځو د عیسی پېغور نه دی چې دی عبدالله سي. يعني بلکې عبودیت شرف دی د عیسی هغه تاسي چې وایاست چې عیسی ابن الله دی هغه د عیسی سپکاوی دی او یا يې خدای بولي یا يې ثالث ثلثه بولئ فنزل هذه الآیة.

لَنْ يَّسْتَنْكِفَ الْمَسِيْحُ اَنْ يَّكُوْنَ عَبْدًا لِّلّٰهِ

استنکاف یعني تکبر نه کوي عیسی له دې څخه چې دی دي بنده د خدای وي ولې چې عبودیت د خدای ﷻ خو شرف او کمال او فخر او عزت دی بلکې بندګان د خدای په بندګی فخر کوي. ولې چې اصل د ټولو کمالاتو د خدای تعالی بندګي ده. البته استنکاف او ذلت او بې شرفي په عبودیت کې د غیر د خدای ده چې هغه تاغونه دی ممکن دی ع زندګی بی بندګی شرمندګی.

دروښ وايي: چې حقیقي بندګان د خدای ﷻ دونه په دریاب کې د خدای ﷻ غرق دي چې خلګ ګمان د مړه پرې کوي. د ولي الله په باره کې چې د سکرې بابا په نامه یادېږي داسي تاریخي صحیح قصه راغلې ده چې ده ته به په بعضې اوقاتو کې دونه دوام داره استغراق ورپېښې دی چې خلګو به د مړه خیال پر کاوه. حتی چې پر خوله بې یو ټوکر ورواچوی لکه د پښتنو په رواج کې چې د مړې زنې ور ترې چې خوله يې خلاصه پاته نه سي. نو یوه ورځ چې خلګو يې پر خوله ټوکر ور اچولی دی دی بیدار ه سو یعني له بندګي بېهوشی څخه پر هوش سو. نو سکرې بابا خپل دوستان او قریبان را وبلل او ورته وه يې ویل چې زه مایني ته طلاق ورکوم او اولادونه هم پرېږدم هرڅه چې په کېږي. نو خلګو علت وپوښتی چې ولې داسي کوې سکرې بابا ورته وویل چې زه په عالم ملکوت کې سره د نورو روحانو په مجلس کې د علیه الصلوة والسلام حاضروم او علیه الصلوة والسلام پر یوه زېبا کرسی ناست و. او ددې آیت تفصیل او تفصیل يې کاوه "والهکم اله واحد"

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نو علیه الصلوة والسلام امر وکړی چې سکري بابا ته اجازه ورکړئ چې ماینه او اولاد به پسې ژاړي، نو له دې سببه زه له ماینې او اولادو څخه ځان بېغمه کوم چې بیا د داسې نوراني روحاني مجلسو په سبب د دوی را ونه وځم. وروسته یې ماینې او اولادو ډېرې زاړې ورته وکړې چې بیا نه ژاړو.

پوسه: چې دا ولي الله ولي سکري بابا بولي؟ راوي وایي چې هر ځای چې په له ده څخه چا ګوره یا قند یا بل خوږ شی غوښتی وای ده په هغه ځای کې ورکوله حتی چې دی په حمام کې و خلګو د امتحان لپاره وږغ کړه چې سکري باب قند راکړه ده د حمام هغه سپینه ډبره په پښه ووهله هغه قند سوه.

دروېش وایي: چې حکایات د اوس لا مذهبه ملایان پوچ او درواغ او پسخند په وهي، ولي په دوی کې په سبب د سوء عقائدو داسې وای چې خدای پاک ولي نه دی پیدا کړی لان مبني الولایة صحة العقیدة، یو لامذهب ملا ته په یو مجلس کې د مناظره زمونږ د اهل السنة او و دوی ته ما دا بیت د مثنوي ووایه.

اولیاء راهست قدرت ازاله　　تیر برجسته بګرداند زراه

له پخسنده یې ډېر وخندل.

وَلَا الْمَلٰٓئِكَةُ الْمُقَرَّبُوْنَ ؕ

پوه سه: چې دا عطف دی پر مسیح باندې، یعنې نه استنکاف کوي ملائکه مقربون چې دوی دي عبید الله سي.

دروېش وایي: چې دا عطف د ملائکة المقربون پر مسیح باندې ټولو مفسرینو تر بحث لاندې نیولی دی لویه برخه چې په بیان کې ددې اخستې ده علامه بغداد مصنف د روح المعاني په ډېرو ورقو بحث پکښې کړی دی لکن په مختصره توګه حاصل ده بحث دادی چې په دغه آیت سره دلیل ویلی دی هغه کسانو چې ملائکه تر بشر افضل بولي دوی وایي چې ولا الملائکة المقربون لپاره د ترقي دي مسیح و ملائکه وو ته او د ترقي قانون دادی چې له ادنی څخه و اعلی ته وي، نو مسیح ادنی دی تر ملائکة المقربون نو دی ووایي چې پر مسیح باندې قیاس دي ټوله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خواص البشر چې انبياء عليهم السلام دي، دوی وجه او دليل داوايې چې دا عطف د ترقي لپاره دی چې په عرف کې داسې ويل کېږي چې فلان لايستنکف من هذا ولا من هو اعلى منه، او داسې څوک نه وای لايستنکف منه زيد ولاعبده.

والجواب: خدای پاک دا عطف د ترقي لپاره نه دی کړی من الادنى الى اعلى يعنې لپاره د رفع د منزلت د ملائكة المقربون پر مسيح بلکې شايد دا به ځني وفهمېږي چې معبود د نصارى وو چې عيسى عليه السلام و افضل دی. ولې دده پر عابدينو يې اول رد وکړی او پر عابدينو د ملائكه وو يې وروسته رد وکړی. او بل ځواب دادی چې ترقي د ملائكه وو په اعتبار د ډېر والي تر مسيح نه په اعتبار د رتبې عند الله لکه په دې محاوره کې اصبح الامير لايخالفه الوزراء ولا الرعية. محقق بيضاوي وايي چې که مورږ ومنو چې عطف لپاره د ترقي او افضليت د ملکو دی پر عيسى عليه السلام باندې فغايته فضل المقربين من الملائكة وهم الكربيون الذين حول العرش او من هو اعلى منهم من الملائكة على المسيح من الانبياء وذالک لايستلزم فضل احد الجنسين على الاخر مطلقاً والنزاع فيه. او بعض افاضل وايي چې اظهره داده په دفع کې د دليل چې ترقي په نفي د استنكاف لانهم اولى بالاستنكاف لالفضلهم بمعنى كثرة الثواب لانهم لايرون فيما بينهم عباداً بخلاف البشر فان في نبي نوعهم كثرة العبودية وشيوع الرقية.

وَمَنْ يَّسْتَنْكِفْ عَنْ عِبَادَتِهٖ وَيَسْتَكْبِرْ فَسَيَحْشُرُهُمْ اِلَيْهِ جَمِيْعًا ﴿۱۷۲﴾

او که څوک استنكاف وکړي له عبادت څخه د خدای ﷻ او طلب د کبر وکړي نو ژر دی چې خدای ﷻ به يې حشر کې په ورځ د قيامت وځان ته يعنې جزاء به ورکړي، استكبار تر استنكاف کم دی والله اعلم.

فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَيُوَفِّيْهِمْ اُجُوْرَهُمْ وَيَزِيْدُهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ ۚ

او هر چه هغه کسان دي چې ايمان يې راوړی دی يعنې پر خدای په توحيد سره د جميع ماينا سب وجوب وجوده تعالى او پر ټولو رسولانو د خدای ﷻ بلا تفريط وافراط في حقهم كالمسيح عليه السلام والملائكة والمؤمنين، خدای پاک به حسب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الموعود پوزه ورکوي ثوابونه ددوی په دار الابرار په جنت کي حسب تفاوت درجاتهم او زیاتوي به دوی ته فضله نچل من تضعیفات اعمالهم اضعافاً مضاعفة، والدرجات في مقام القرب الیه تعالی واعطاء رؤیته تعالی او داسي نعمتونه چي نه د چا ستر ګو لیدلي دي او نه د چا غوږو اورېدلي دي بالتفصیل اونه د چا پر زړو ورګرځېدلي دي کما ثبت في الاحادیث النبویة ﷺ.

وَاَمَّا الَّذِيْنَ اسْتَنْكَفُوْا وَاسْتَكْبَرُوْا فَيُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ۙ

او هرچه هغه کسان دي چي استنکاف او استکبار یې کړی دی له حق او ایمانه څخه لکه کفار د مکې او یهودان د مدینې وغیره من الکفرة الطاغین. هغه به خدای ﷻ په عذابوي په درناکه عذاب سره په دار البوار جهنم کي.

وَلَا يَجِدُوْنَ لَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ۝

او دوی نه سي پیدا کولای ماسوی له خدایه دوست او کومک کونکی کما زعمت قریش مکة من ان الاصنام یشفعونا او الیهود ان ابائنا واجدادنا من الانبیاء یخلصونا علی ای عمل عملناه من الکفر والمعاصي.

پوه سه: چي د ولي او د نصیر تر منځ عموم وخصوص من وجه ګاهي د سړي قریب وي او کومک وسره وکړي او ګاهي د سړي دوست او قریب وي مګر کومک یې له طاقته نه وي پوره او ګاهي اجنبي سړی وي او د سړي سره په یو مصیبت کي کومک وکړي، خدای پاک دا تولي ذرائع پر مستنکرینو بندي کړې.

حکایت عن حال الاستکبار: راوي وایي چي یو قاضي یوه ورځ وایي یزید بسطامي قدس سره ته راغلی او ورته وه یې ویل چي زه هغه عمل لکه ته چي یې کوې او هغه علم لرم لکه ته چي یې لرې لکن په تاثیر یې نه پوهېږم، بایزید بسطامي رحمة الله علیه ورته وویل چي ته یوه اندازه جوز واخله په یوه کڅوړه کي یې په غاړه وځړوه اوبیا په بازار کي ناري وهه چي هر چا چي زه پر مخ ووهلم یوه دانه جوز ورکوم تر هغو چي جوز خلاص شي فاذا فعلت ذالک تجد التاثیر، قاضي وویل استغفرالله، ابو یزید ورته وویل قد اذنبت ذنباً آخر لاتني اذکرلک مایخلصک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

من كبر نفسك وانت تستغفر منه. قال السعدي شيرازي رحمه الله

کسی را که پندار درسر بود مپندار هرگز کی حق بشنود
زعلمش ملال آید از وعظ تنگ شقائق بباران نروید زسنگ

دروښ وايي: چې چونکه نصارٰی پر ډېرو ملکو د مسلمانانو قابض دي او انجيل يې هم هغه ملکو کې چې دوی پر قابض دي ترجمه کړی دی. ددې مطلب دادی چې مسلمانان و مسيحت ته دعوت کړي ومع هذا د ډالرو دعوت هم وسره ملګری دی، نو زه غواړم چې ددوی اصل مذهب بيان کړم تاچې هر عاقل مسلمان په وپوهېږي نو دا بيان په طور دجمله معترضې دروښ راوړی دی. علامه آلوسي بغدادي غفرله الباري ډېر محققانه مفصل جوابونه ددوی و اوصول ته ورکړي چې دوی په هغه سره و عيسی عليه السلام ته ابن الله ثابتوي او يا عين خدای ﷻ يې بولي د آلوسي رحمه الله د تفصيل نقل خو ډېر طويل دی چې په دې مختصر تفسير کې يې د راوړلو امکانات ډېر کم دي لکن دا محاوره مالا يدرک کله لا يترک کله. او په پارسي ژبه کې مثل دی مشت نمونه خروار لهذا يو ډېر مختصر بيان چې علامه بغدادي په روح المعاني کې کړی دی دروښ به يې ونقل ته وسپاري دی د خپل تفسير په جزء السادس کې وايي چې د فقير تفسير اوس هم سادس دی په صفحه (۲۷) کې چې تاريخ پوهان او اصحاب النقل وايي چې اريوس چې يو ستر عالم له نصاری وو څخه و دده او د تابعينو عقيده داوه چې خدای يو دی شريک نه لري. او د مسيح عيسی عليه السلام هغه عقيده نه وه لکه د نورو نصاری و چې وه چې مسيح ابن الله دی بلکې دده عقيده دا وه چې دی رسول د خدای و او دا يې عقيده وه چې عيسی مخلوق دی هم په جسم او هم په روح سره، نو دا دده عقيده او مقاله چې نورو نصاری وو ته ورسيده نو علماؤ د نصاری وو ته يې خطونه نوشته کړه چې راسئ د اريوس سره خبری او مناظره وکړئ چې ده د نصاری وو د مذهب تخريب کړی دی، نو اريوس او نور ملايان سخت دريځه په ښار کې د بنقيه سره جمع سوه په ټهز د هغه ملک د سلطان چې نوم يې قسطنطين و. نو مناظره شروع سوه په حضور کې د سلطان، نو اريوس د خپل مذهب په باره کې د مسيح پوره تشريح

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وکړه، نو پر هغه باندې یو بل ملا رد وکړی د نصاری وو چې نوم یې اکصیدروس وچې د اسکندریه د ملایانو مشر و. او ده د اریوس عقیده د پېره غلطه وګڼل د سلطان مذکور په وړاندې، خیر د مناظرې او بحث اور د پېرې لوړې لمبې پورته کړې بادشاه په تعجب کې ورته پاته سو له انتشار څخه د سوال او جواب او اختلاف ددوی. نو بادشاه امر وکړی و بطریق ته د اسکندریه چې تاسي پر یوه قول مرضی اتفاق سره وکړئ، نو یولو ملایانو طوعاً وکرهاً پر دې اتفاق سره وکړی نو هغه یې نوشته کړی او د امانت نوم یې پرکښېښو چې نن اکثره نصاری د هغه امانت په نامه عقیده باندې دي، او تورې و عبارت د امانت داوه. نؤمن بالله الواحد الاب صانع کل شئ ومالک کل شئ صانع مایری ومالایری. وبالرب الواحد المسیح ابن الله تعالی الواحد بکر الخلائق کلها الذي ولد من ابیه قبل العوالم کلها ولیس بمصنوع اله حق من اله حق من جوهر ابیه الذي بیده اتقنت العوالم کلها وخلق کل شئ الذي من اجلنا معاشر الناس ومن خلاصنا نزل من السماء وتجسد من روح القدس ومریم وصار انساناً وحبل به وولد من مریم البتول وصلب ایام فیلاطیس ودفن وقام في الیوم الثالث کما هو وصد الی السماء وجلس علی یمین ابیه وهو مستعد للمجئ تارة اخری للقضاء بین الاحیاء والاموات ونؤمن بروح القدس الواحد روح الحق الذي خرج من ابیه انتهی الفاظ الامانة.

دروښ وایي: چې ادنی عاقل چې په عربي پوهېږي ددې امانت عبارات ملاحظه کړئ دومره تناقضونه به پکښې وویني تر اندازه تېر او خدای ﷻ دي پر خاتمة المحققین مرجع اهل العراق و مفتي بغداد العلامة ابي الفضل شهاب الدین السید محمود الالوسي چې په سنه ۱۲۷۰ هـ ق وفات سوی دی ډېر تر حده تېر رحم وکړی چې ده پخپل تفسیر په اوراقو ددې امانت نامه کړی دی او نور هم د نصاری وو د مذهب د نصاری وو لپاره یې تحقیق کړی دی فجزاه الله تعالی عنا وعن سائر المؤمنین خیر الجزاء وطیب الله ثراه.

يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَكُمْ بُرْهَانٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَأَنزَلْنَا إِلَيْكُمْ نُورًا مُّبِينًا ﴿١٧٤﴾

اې خلګو په تحقیق تاسي ته راغلی دی حجت او دلیل له جانبه څخه د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای ﷻ ستاسي چي هغه معجزات دلته دي پر صدق د نبي ﷺ په دعوه کي د نبوت، او یا مراد له برهان څخه خود ذات انور د علیه الصلوة والسلام دی چي د خدای ﷻ له خوا پر تاسي دلیل او شاهد دی پر تصدیق او تکذیب ستاسي. او موږ پر تاسي بنکاره کړی دی نور بنکاره چي مراد څنې قرآن کریم دی چي د ټولو امورو دینیه وو او د امور دنیویه د هدایت او لار ښود دی.

پوه سه: چي اطلاق د نور پر قرآن تشبیهاً دی یعني لکه په نور چي اشیاو محسوسه تمیز کېږي دغه رنګه په قرآن کریم د حق او د باطل تمییز کېږي.

فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَاعْتَصَمُوا بِهِ فَسَيُدْخِلُهُمْ فِي رَحْمَةٍ مِنْهُ وَفَضْلٍ

پوه سه: چي "فا" لپاره د تفصیل د احوالو د خلګو او د جزاګانو ددوی وه هرچه هغه کسان دي ایمان یې راوړی دی پر خدای یعني پر وجود او وحدانیت د خدای او ځان یې ساتلی دی په خدای سره له متابعت څخه د نفس اماره او له خطاایستلو د شیطان، نو ژر دی چي خدای به یې داخل کړي په رحمت د خدای له خوا چي مراد څنې جنت دی چي ځای د رحمت دی.

پوه سه: چي تعبیر له جنت څخه یې په رحمت وکړی اشاره ودې ته ده چي دخول د جنت په فضل او رحم د خدای دی لا استحقاقاً ووجوباً علیه تعالی خلافاً للمعتزله دوی وایي چي ثواب د مطیع او عقاب د عاصي پر خدای واجب دی "وفضل" او احسان زائد پر هغه څه چي خدای ﷻ ددوی سره وعده کړې ده چي رؤیت او درجات د قرب دي.

وَيَهْدِيهِمْ إِلَيْهِ صِرَاطًا مُسْتَقِيمًا ۝ يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ اللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلَالَةِ

او دوی ته به خدای ﷻ لار ووښيي ووصل ته خپل لار سمه، دوی یعني صحابه کرام طلب د فتوی کوي په میراث کي د کلاله، ته ورته ووایې چي خدای ﷻ فتوی درکوي تاسي ته په حق کي د کلاله.

پوه سه: چي "صراطا" مفعول ثاني دی د "یهدیهم" او "الیه" حال مقدم دی له "صراطاً" څخه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې کلاله مصدر دی په معنی د کلال وهو الضعف او چې له ستړیا څخه قوت ولاړ سي بیا نو کلاله استعاره سوه د هغه قرابت لپاره چې د والد او ولد نه وي ولي چې هغه قرابت نظر د قرابت د والد او ولد ضعیف دی وتطلق علی من لم یخلف ولداً ولا والداً والمراد هٰ المعنی الثانی. یعنی هغه سړی چې مړسي او میراث ورونکی یې یو له والدینو څخه نه وي او نه یې څوک له اولاد څخه میراث خوره وي. ددې آیت په شان نزول کې وایي چې جابر بن عبدالله ﷺ ناجوړی و نو علیه الصلوة والسلام پوښتنې ته ورغلی، نو جابر ﷺ ورته وویل انې کلالة ای لایخلفني ولد ولا والدة فنزلت هذه الآیة.

إِنِ امْرُؤٌا هَلَكَ لَيْسَ لَهُ وَلَدٌ وَّلَهُ أُخْتٌ

که چېرې څوک مړ سي هغه ولد نه درلودی او ده څوک درلوده د مور او پلار دواړو څخه، او لاب فقط مطلب دا چې یوازې لام به نه وي، ولي د هغې میراث خو سدس دی فقط.

پوه سه: چې "امرء" مرفوع دی په فعل محذوف سره چې تفسیر د وروسته "هلک" دی او "لیس له ولد" صفت دی د "امرء" او ولد عام دی که نر وي او که ښځه.

فَلَهَا نِصْفُ مَا تَرَكَ

نو خور لرې نیمی د ماترک المیت او باقي نیمی که مړې عصبه درلوده لکه اکا. د اکا زوی وغیره له عصبه وو څخه، او که یې عصبه نه درلوده نو هغه نیمی هم خور دی بالرد کما تقرر في علم المیراث.

وَهُوَ يَرِثُهَا إِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّهَا وَلَدٌ

او نر او یعني وروړ د خور میراث وړي چې دا مړه سي لکن تولې مال که یې ورته سکنی له مور او پلاره و یا یې فقط له پلاره و که چېرې خور لره نر یا ښځه ولد نه و.

پوه سه: چې اشتراط د عدم ولد خور لره ددې لپاره دی چې خور تولې میراث د وروړ نه وړي.

فائده: علماؤ اجماع پر دې کړې ده چې دا آیت په باره کې د میراث د اخوة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والاخوات لاب وام او پر دغو اعياني ورونو په اجماع سره قياس دی. علاتي ورونه يعني يوازي په پلار شريکان يعني که اعياني ورونه نه و. ولي چې اعياني ورونه وي بيا علاتي ته شی د ميراث نه رسېږي.

فَإِنْ كَانَتَا اثْنَتَيْنِ فَلَهُمَا الثُّلُثٰنِ مِمَّا تَرَكَ

او که وي دا ميراث خوري په خور ګلوي دوې، نو دوی دواړو ته دوه ثلثه د ميراث د ورور دي.

پوه سه: چې د امت اجماع پر دې ده چې بالا تر دوو خوندو هر څو چې وي په دغه دوه ثلثه سره شريکاني دي.

وَإِنْ كَانُوٓا إِخْوَةً رِّجَالًا وَّنِسَآءً

که وه دوی ای من يرثون بالاخوة "اخوة" ای جماعة، يعني ټر او ښځي چې ورونه او خويندي وي وادنی الاختلاط بينهم اخ واخت، د دوو حکم د جماعت حکم دی بالاجماع.

پوه سه: چې نرو ته يې غلبه ورکړه پر ښځو باندي، نو يې ځکه "کانوا" مذکر لفظ ووايه والا فحق العبارة ان يقال وان كانوا اخوة واخوات رجالاً ونساءً.

فَلِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ

ای فالواجب الذکر منهم مثل د دوو ښځو من الميراث مثلاً که چېرې يو ورور او يوه خور وه، نو ترکه يې درې ځايه کېږي، دوې حصې د نر او يوه د خور، او که چېرې د دوو خوندو سره يا بالا تر دوو خوندو يو ورور بالا يا بالا تر يوه ورور، نو يوه ورور ته دي حصه د دوو خويندو ورکوي. او که يو نر و يعني ورور يا بالا تر يوه او خور يوه وه، نو خور ته دي نيمی د برخي د ورور ورکوي له ميراث څخه د ميت وعلى هذا القياس في صورة تعدد كل منها.

دروښ وايي: چې په کتابو کې د علم الميراث لکه سراجي وغيره وايي لکه عدم ولد الميت شرط دی په دې کې چې برخه د يوې خور نصف الترکة ده او دوو خويندو لره يا بالا تر دوو له ميراث څخه دوه ثلث دی، دغه رنګه دا هم شرط ده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې ولد الابن به هم نه وي وان سفل يعني ولد ابن الابن. او نر عيال د ميت وې او يا د ابن الميت نر عيال وي بيا اخوت او اخواتو ته د ميت هيڅ شی نسته بالاجماع. او که چېرې د ميت لونې يوه يا دوې يا بالا تر هغو، او دغه رنګه که ابن الميت ښځينه عيال وي که يوه او که ډېرې وي. نو په دې صورت کې يوه د ميت وه او يا يوه لور د ابن الميت وه هغې لور ته به نصف الترکة ورکول کېږي. او که د ميت دوې لونې وې يا بالا تر دوو. او يا د ابن الميت دوې لونې يا بالا وي هغو ته به دوه ثلثه ورکول کېږي، او مابقی چې يو نصف دی په اول صورت کې يا يو ثلث دی. په دوهم صورت کې د هغه د ورونو او د خويندو دی که يوه او که ډېرې وي هم هغه باقي دی او که ورور ورسره و فللذکر مثل حظ الانثيين کمامر.

مسئله: که د ميت يوه لور وه يا ډېرې او خويندې که يوه وه او که ډېرې، نو د ميت مال ددوی تر منځ وېشل کېږي، يعنې د بنت واحدة تر حصې وروسته چې نصف او يا د دوو لونو يا بالا تر دوو چې دوه ثلثه يې حق و پاته د خويندو دی لقوله عليه الصلوة والسلام "اجعلوا الاخوات مع البنات عصبة"

پوه سه: چې علماء ټولو په اتفاق سره وايي چې الف لام په لفظ کې د "الاخوات" او "البنات" لپاره د جنس دی، فالاخت الواحدة مع البنت الواحدة عصبة.

پوه سه: چې په حديث کې هذيل له شرجيل څخه داسې روايت کړی دی چې يو سړی ابو موسی اشعري او سليمان بن ربيعه ﷺ ته ورغلی چې يو سړی مړ سو يوه يې خپله لور پاته سوه او يوه يې د زوی لور او يوه خور يې لاب وام پاته سوه نو مېراث يې څرنګه وېشل کېږي، نو دوی دواړو ورته وويل چې نيمی مال يې د لور دی او نيمی مال يې د خور يعنې بنت الابن له ميراثه محرومه ده، او دوی سائل ته وويل چې ته ابن مسعود ﷺ ته هم ورسه که چېرې هغه هم زمونږ متابعت وکړی، او هغه سائل چې ابن مسعود ﷺ ته ورغلی او د هغو دوو صحابه وو ټوله بيان يې ورته وکړی، نو ابن مسعود ﷺ ورته وويل چې زه به گمراه يم که زه ددوی متابعت وکړم بلکې زما قضاء هغه ده چې رسول الله ﷺ کړېده چې هغه داده "للبنت النصف ولابنة الابن السدس تکملة للثلثين" يعنې چې حصه د بناتو ده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والباقي للاخت رواه البخاري.

پوه سه: چې مظهري رحمه الله په منهیه کې د خپل تفسیر داسې لیکلي دي چې د ابن عباس رضي الله عنه مذهب دا و چې د میت لور وي خور لره هیڅ شی نسته، او باقي مال د عصباتو دی، او ده به ویل لاتجدونه في کتاب الله ولافي قضاء رسول الله ﷺ او خدای پاک هم داسې ویلي دي "ان امرء هلک لیس له ولد وله اخت فلها نصف ماترک" دده مطلب دا و چې لفظ د ولد خو لور ته هم شامل دی، نو په میراث کې د خور عدم د لور هم شرط دی او زمونږ دلیل هغه دمخه حدیث دی یعني "اجعلوا الاخواة مع البنات عصبة" وقد انعقد علی هذا اجماع الامة.

يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اَنْ تَضِلُّوْا ؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِیْمٌ ﴿۱۷۶﴾

پوه سه: چې په ټوله قرآن کې چې داسې لفظ راسې "ان تضلوا" مفسرین یې داسې ترجمه کوي چې یبین الله لکم الحق والصواب کراهة ان تضلوا کما في روح البیان وروح المعاني، نو هغه ترجمه چې مظهري او اوله ترجمه هم بللی ده ای یبین الله لکم ضلالکم الذي من شانکم اذا ضلیتم وطباعکم لتحرضوا عنه وتتخیروا خلافه آه" روح المعاني په اجمال سره اشاره ورته کړې ده، او خدای پاک په هر شي سره خبر دی، نو په ټولو مصالحو او مضارو د عبادو خبر هم خبر دی فعلی العباد ان یقتدوا بالقرآن العظیم الذي هو کلام الله المتین.

تفسیر ایوبي حنفي د نصیراحمد احمدي لخوا
سکین او pdf سو. د دعا محتاج احمدي!
واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُوْرَةُ الْمَآئِدَةِ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ مِائَةٌ وَعِشْرُوْنَ اٰيَةً وَّاَرْبَعُ عَشَرَةَ رُكُوْعًا

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اَوْفُوْا بِالْعُقُوْدِ ؕ

اې هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دی تاسي وفا کوئ په عهد سره خپل.

پوه سه: چې "وفا" پر ځای کول دي د وعدې او مقابل د وفا غدر دی، او د ایفاء هم معنی ده، نو نقل و باب ته د افعال صرف لپاره د مبالغې دی، او "عقود" جمع د عقد ده چې په پښتو یې غوټه بولي او په عربي ژبې کې کلکې وعدې ته وایي تشبیهاً بعقد الحبل، او مراد له عقود څخه په دې آیت کې عام دی چې شامل ټولو هغو اوامرو او منهیاتو ته دی چې خدای ﷻ پر خپلو بندګانو لازم کړی دی له تکالیف شرعیه و څخه او له احکام دینیه و څخه.

پوښتنه: بندګانو کله دا وعدې له خدای ﷻ سره کړي دي؟

ځواب: لا اله الا الله متضمن ټولو وعدو لره ده د بندګانو له خوا، ولې بندګانو چې اقرار په الوهیت د خدای ﷻ وکړی، نو دا ددوی له خوا وعده ده چې مونږ به ستا ټوله احکام پر ځای کوو، او عقود و هغه وعدو ته هم شامل دی چې د بندګانو تر منځ وي من عقود الامانات والدیون وغیرها ممایجب الوفابه او یا یې واجب نه وي لکن ښه کار وي، که امر د "اوفوا" عام سي واجب او مندوب دواړو ته شامل سي.

مسئله: امام اعظم رحمه الله علیه په دغه آیت سره دلیل وایي که چا پر ځان باندې روژه نذر کړه د اختر د ورځې او یا یې پر ځان نذر کړی د زوی د ذبح، نو چونکه ده د صوم عقد د خدای ﷻ سره وکړی عقد خو یې صحیح دی لکن چونکه د اختر د ورځې روژه حرامه ده، نو دی به بله ورځ روژه ونسي، او دغه رنګه عقد د ولد د ذبح خو یې صحیح لازم دی لکن چونکه زمونږ په دین کې ذبح د ولد که نر وي او که ښځه حرام دی، نو په داسي شي سره دي تقرب وخدای ﷻ ته وکړي چې د هغه ذبح روا وي لکه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اوښ، غويى يا پسه لانه عهد و الزم على نفسه شئ چي صوم يوم العيد يا ذبح د زوى ده فوجب عليه الوفاء بما صح الوفاء به وهو صوم يوم آخر او ذبح البقر مثلاً، وفي الحديث الصحيح ماظهر الغلول في قوم اى الخيانة الا القى الله في قلوبهم الرعب، يعني من العدو وغيره و لافشا الزنى في قوم الاكثر فيهم الموت اى من الوباء وغيره ولانقص قوم المكيال والميزان الاقطع الله عنهم الرزق اى بالقحط وغيره ولاحكم قوم بغير حق الافشافيهم الدم اى القتل ولاخطر قوم بالعهد اى نقض العهد الاسلط الله عليهم العدو. او په دغه حديث شريف سره حنيفيانو دليل ويلى دى چي بيع چي تامه سي په ايجاب او قبول سره نسته يوه ته د بائع او مشتري خيار د فسخ مگر نه په خيار شرط او يا خيار عيب او يا خيار رؤية سره يعني خيار مجلس نسته، وبه قال مالک وقال الشافعي رحمهما الله تعالى المتبايعان بالخيار مالم يتفرقا او يكون البيع خياراً، موږ له دې تفرق څخه چي په حديث کي د بخاري راغلى دى تفرق بالاقوال مراد اخلو يعني الايجاب والقبول، او شافعي رحمه الله وايي چي مراد په حديث کي تفرق بالابدان دى، والتفصيل في كتب الفقه:

دروښ وايي: چي د مظهري رحمه الله له عبارت څخه صراحةً معلوميږي چي ترجيح يې و مذهب ته د شافعي رحمه الله ورکړې ده.

پوه سه: چي مظهري له حضرت عايشې رضي الله عنها څخه حديث روايې دى چي نسائي او احمد يې مخرج بللي دي، حضرت عائشه وايي چي سورت مائده اخير د قرآن دى نزلاً فما وجدتم فيها من حلال فاستحلوه يعني معامله د حلال ورسره کوئ وماوجدتم من حرام فحرموه انتهى" له دې حديث څخه دا معلوميږي چي په سورة مائده کي منسوخ نسته، وروسته مظهري ضد ونقيض حديثونه راوړي دي فارجع الى تفسيره، او داغه رنگه په عقود واجب الوفاء کي داخل دي هغه عهود چي خداى پاک له اهل کتابو سره خصوصاً يهود چي تاسي به ايمان راوړئ پر محمد ﷺ او هغه نعوت چي په باره کي د نبي اخير الزمان په تورات کي راغلي دي نه به يې پټوئ او نه به يې بدلوئ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أُحِلَّتْ لَكُمْ بَهِيمَةُ الْأَنْعَامِ

روا کړه سوې ده یعني له جانبه ځخه د خدای ﷻ.

پوه سه: چې "بهيمة" په قول د روح البيان هر هغه حيوان ته وايي چې پر ځلورو پښو ځي، او "انعام" اوښ، غوبي، پسه او بوزه کله نر وي او کله ښځه نو هر یو ددوې ځلورو نوع ځخه چې د خپل نوع د خپل انثى سره چې یې ضم کړي زوج ځني جوړېږي، خو جميع اته کېږي كما ورد من الضان اثنين ومن المعز اثنين ومن الابل اثنين ومن البقر اثنين كماذكر في سورة الانعام، نو چونکه "بهيمة" په معنا مذکوره سره سباع درندګانو ته هم شامله وه لکه زمری، لېوه، خنزير وغيرها او د هغو غوښې خو مرداري دي، نو ځکه یې "بهيمة" و انعام ته مضاف کړه ومعنى الآية حلال کړه سوی دی تاسي ته خوراک د غوښو د انعامو.

فائده: مورږ داسي وويل چې خوراک د غوښو لان الحرمة والحل انما يتعلق بافعال العباد لا بالاعيان الا بالعرض كماهو المقرر في كتب الفقه واصوله.

پوه سه: چې اضافت د بهيمة و انعام ته اضافت دی د عام بالعموم المطلق و خاص ته، نو روح البيان صراحةً وايي چې دا اضافت بيانه دی په معنى د "من"، او بيضاوي او کشاف هم وايي چې دا اضافت په معنى د "من" دی، او روح المعاني هم وايي وقال غير واحد چې اضافت د عام وخاص ته په معنى د لام ده او حواله یې ونحويون ته کړې ده، او دی وايي چې اضافت په معنى د من هلته جوړېږي چې په منځ کې د مضاف او مضاف اليه عموم وخصوص من وجه وي کخاتم فضة.

دروښ وايي: چې اشتراط د عموم او خصوص من وجه په اضافت بياني کې اکثري قاعده ده لاکلية كما يشعر به عبارة هؤلاء الاعلام، او هم دا قول د مظهري چې اضافت د عام مطلق وخاص مطلق ته په معنى د لام ده عند النحويين ممنوع، ولي چې دغه صاحب کشاف چې د علم نحو لوی امام دی ولي په بهيمة الانعام چې د عام وخاص ته هم ده ولي بيانيه په معنى د من بولي او دغه رنګه صاحب د روح المعاني ولي وايي وقال غير واحد الخ. او دغه رنګه بيضاوي چې په علم نحو کې مهارت لري، ولي وايي چې دا اضافت په معنا د من بيانيه دی. آيا دغو علامه وو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دومره معلومات په نحو کي نه درلودی لکه مظهري چي درلودی. او د دروښ په نښه داده چي اضافت دعام وخاص ته لامیه بلل په نحو کي هم قانون اکثري دی لاکلي.

فائده: د "بهيمة الانعام" په حکم کي بقر الوحش والظباء هم داخل دي.

اِلَّا مَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ غَيْرَ مُحِلِّي الصَّيْدِ وَاَنْتُمْ حُرُمٌ ؕ

مګر نه هغه شيان چي تلاوت به يې وکړه سي پر تاسي يعني په وروسته آيت.

پوه سه: چي دا استثناء ده له "بهيمة الانعام" څخه په تقدير د مضاف ای الامحرم مايتلى عليكم في قوله تعالى بعد هذه الآية حرمت عليكم الميتة الآية.

پوه سه: چي لفظ د "غير" منصوب دی على الحالية من ضمير لكم، والصيد مصدر دی په معنا د ښکاره کولو او معنی عدم احلال الاصياد لهم حرمت د اصطياد دی عملاً واعتقاداً.

پوه سه: چي "حرم" جمع د حرام ده په معنی د محرم وقوله "وانتم حرم" حال دی له ضمير څخه في محلي حاصل دا چي په وخت کي د احرام به ښکار نه کوئ.

اِنَّ اللّٰهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيْدُ ۝١

او خدای ﷻ حکم کوي د هغه چي اراده يې ورته وسي من تحليل شئ وتحريمه.

پوښتنه: له "مايتلى عليكم" څخه خو مراد هغه آيت دی حرمت عليكم الميتة الآية. نو استناد د تلاوت "عليكم" څرنګه و "حرمت عليكم" ته صحيح دی؟

ځواب: استناد د تلاوت وهغه آيت ته مجاز دی، ولي چي تلاوت خو د تالي فعل دی د آيت فعل خو نه دی، او يا مضاف مقدر دی ای يتلى عليكم في آية تحريم المذكوراة فيها. او دا احتمال هم سته چي د ما موصوله څخه دي مراد آيت التحريم وي او مضاف به مقدر وي ای الا محرم مايتلى عليكم هكذا قال المظهري.

دروښ وايي: چي په مذکور آيت کي ډير لوی تخفيفات سته چي د هغو لويه حصه يې علامه بغداد په تفسير روح المعاني کي بيان کړې ده مع النقض والابرام چونکه هغه تحقيقات د مطالعه کونکو ددې ډير لوړ وه، نو ځکه دروښ صرف

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نظر کړه او مظهري یو مشت نمونه خروار رانقل کړي لکن لافائدة في ایرادها للمتعلمین لهذا صرفنا النظر عنها ایضاً لماورد کلم الناس علی قدر عقولهم او زما خبري عموماً د مبتدیانو سره دي.

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحِلُّوا شَعَائِرَ اللَّهِ

پوه سه: چي شعائر جمع د شعیر ده او معنا یې علامه ده او مراد له "تحلیل" څخه د شعائر سپکاوی د هغو دی او یحال بینها وبین المتناسکین بها.

پوه سه: چي ابن عباس او مجاهد وایي چي مراد له شعائر څخه مناسک د حج دي او ځایونه د حج د افعالو من المطاف ځای د طواف حول الکعبة والسعی ځای د سعي بین الصفا والمروة. والموقف بعرفة او ځای د درېدلو پر عرفات والمزدلفة. والرمي الجمار والافعال التي تعرف بها الحاج من الاحرام والطواف والحلق والنحر غیرها. والحاصل چي شعائر د ځایو ته هم ویل کېږي او افعالو ته د حج هم ویل کېږي کما في الامثلة المذکورة ایضاً.

دروښ وایي: چي دا آیت په باره کي د حطم یا حطیم چي نوم یې شریح بن ضبیعه و او د بني بکر د قبیلې و نازل سوی دی. چي دغه حطم البکري د یمامي له لارې مدینې ته راغلی او خپل فوج یې خارج المدینة پرې اینښی و او دی یوازي علیه الصلوة والسلام ته راغلی او علیه الصلوة والسلام ته یې وویل چي ته خلګ وڅه شي ته رابولې علیه الصلوة والسلام ورته ووویل الی شهادة "ان لا اله الا الله وان محمداً رسول الله، واقام الصلوة وایتاء الزکوة" نو حطم ورته ووویل چي داخو ښې خبرې دي لکن په فوج کي امیران لرم چي د هغو بې مشورې زه یو کار نه شم کولای زه به د هغو سره مشوره وکړم شاید چي زه اسلام راوړم او ملګري به هم درته راولم د اسلام لپاره. او علیه الصلوة والسلام دمخه تر راتلو د حطم اصحابو ته ویلي وه "یدخلکم علیکم رجل من ربیعة یتکلم بلسان شیطان ثم خرج شریح" نو علیه الصلوة والسلام و اصحابو ﷺ ته ووویل "لقد دخل بوجه کافر وخرج بقفا، غادر والمرء لس بمسلم" نو شریح چي خپلو ملګرو ته ورسېدی خارج المدینة د مسلمانانو او اوښانو او نور مواشي ګرځېده هغه یې ټوله ورسره بوتله، چارچي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مدینې ته راورسېدی او علیه الصلوة والسلام اصحاب پسې واستول پیدا یې نه کړی یعني ځان یې خپل ربیعه ته رسولی و. نو راتلونکی د شریح په حاجیانو د بکر بن وائل له ایمان څخه حج ته راغلی و. او ډېر غټ تجارتي اموال ورسره وه او هدیه د مکې هم ورسره وه چې په غاړه یې غارګی د هدیه وه. نو مسلمانان و علیه الصلوة والسلام ته وویل چې دادی حطم حج ته راغلی دی او ډېر تجارتي مالونه ورسره دي نو موږ او دی سره پرېږده چې سر یې ورغوڅ کړو او مالونه یې غنیمت کړو. نو علیه الصلوة والسلام و مسلمانانو ته وویل انه قد قلد الهدی مسلمانانو ورته وویل یارسول الله چې دا تقلید الهدی څو موږ په جاهلیت کې هم کوله نو موږ ته به اجازه راکوې علیه الصلوة والسلام منعه وکړه فانزل الله ذه الآیة.

فائده: پوه سه! چې د شعائر معنا څو ذکر سوله د هغه مناسب یو لفظ چې اشعار یې بولي. اشعار خاص په اوښانو سره دی معنی یې داده چې ودي وهي اوښ یا اوښه د بوک په یو بغل کې په چاړه ترڅو چې څه وینې راووزي. نو په هغو ویشو د بوک دي هغه طرف ورو کړي چې علامه پر دې ده چې هدي د مکې مکرمې ده نو بیا څوک کار نه په لري.

بوه سه: چې اشعار سنت دی د امام شافعي. امام مالک. امام احمد. امام ابو یوسف او د امام محمد رحمهم الله په نېز. او امام ابو حنیفه رحمه الله وایي چې اشعار مکروه دی. د جمهورو دلیل دادی چې په بخاري او مسلم کې حدیث مروی دی له عائشې رضي الله عنها څخه دا وایي "فتلت بدن النبي ﷺ بیدي ثم قلدها" ماولېدلې غارګی د وښانو د علیه الصلوة والسلام په خپلو لاسو او بیا یې ورپه غاړه کړې "واشعرها واهدیها الی اخیر الحدیث.

دروېش وایي: چې دښمنان د ابو حنیفه رحمه الله یعني لامذهبه کسان پر امام اعظم رحمه الله یې خولې د طعن خلاصې کړي دي چې وفعل ته د رسول الله ﷺ مکروه وایي، او دا فکر نه کوي چې دومره لوی امام او په احادیثو تر تولو ښه خبر څرنګه داسې خبره کوي فقیه ابو جعفر الطحاوي رحمه الله چې اعلم الناس بمذهب ابي حنیفه علماوو منلی دی هغه وایي چې ابو حنیفه رحمه الله پر وجه مشروع في

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

زمانه ﷺ وفي ازمنة الصحابة ﷺ كمامر كيفيته مكروه نه بولي لكن پسه پسه تبرپدلو د زماني جاهلانو خلگو به اشعار داسي كاوه چي يو خنجر وغيره پسه يې راواخستي او تر بيخه پورې به يې د اوښ پهبغل چې كړي نو تولهبغل د اوښ به په وينو گڼې سو انيږ به يې چنجيان ږكړه او داځاى به بدبوى سو، نو داسي اشعار ته نه امام ابو حنيفه رحمه الله مكروه وايي په قرينه د دليل د امام محترم چې دا تعذيب ممتدد حيوان بلا فائده دى او شك نسته چې اشعار پر وجه مشروع صرف يو گړى به اوښ ته تكليف وي بيا يې ژر تپ جوړيږي، مطلب د اشعار خو صرف هغه دى چې د اوښ د بوك پر وېښتانو باقي پاتيږي او علامه ددې ده چې هديه د مكې ده ..... ع

چشم بد انديش كه بركنده باد عيب نمايش هنرش در نظر

لامذهبه خلگ دي دا گمان نه كوي چې امام اعظم رحمه الله بې يار ومددگار دى.

سوال: امام ابو يوسف او امام محمد خو به له جاهلانو څخه نه وه، نو دوى ولې د اشعار په سنيت كې د امام اعظم رحمه الله مخالفت وكړى؟

ځواب: ممكنه ده چې د هغو اجتهاد به داوي چې جهل د جاهل په ترك كې د سنت عذر نه سي كېداى.

وَلَا الشَّهْرَ الْحَرَامَ

او تاسي به قتل او غارت وځان ته روا گڼئ په شهر حرام كې وهو شهر الحج.

دروېش وايي: چې اشهر الحرم الاربعة د ميانې مياشت. د لسوى اختر. محرم او د رجب مياشت ده چې په پښتو يې د خداى تعالى مياشت بولي چې ابتداء د قتال د كفارو سره په ابتداء كې د اسلام روا نه وه.

وَلَا الْهَدْيَ وَلَا الْقَلَآئِدَ

او نه به تعرض كوي د هدي ته بالغضب او بنوعه الى محله وهو الحرم.

پوه سه: چې هدي هغه اوښ يا غوبى يا پسه دى چې مكې مكرمې ته تقرباً الى الله خلگ استوي جمع د هديه ده.

پوه سه: چې قلائد جمع د قلاده ده چې غارگى ته وايي او د اوښانو وغيرهما په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غاړه کي يې وراچوي چې څوک يې مکې مکرمې ته استوي. لکن عبارت په حذف د مضاف دی ای ذوات القلائد يعني ذوات القلائد ته به هم تعرض نه کوي.

سوال: ذوات القلائد خو هم هدي ته وايي، نو عطف يې پر هدي عطف د شي پر ځان نه دی؟

ځواب: هوا مصداق خو يې يو دی لکن ذوات القلائد اشرف دی تر مطلق هدي نو دا عطف د خاص پر عام دی لمزيد الشرف.

پوه سه: چې قلادة يوازې متعارف غاړګی ته نه وايي کما مر في حديث امنا عائشة رضي الله عنها کنت قتلت قلائد آه. بلکې که څوتي په غاړې د هدي وځړوي يا بل شی صرف مقصد دادی چې خلګو ته دا معلومه سي چې دا هدي د مکې ده بيا څوک تعرض نه ورته کوي بالسرقة والغصب والمنع في الجاهلية والاسلام.

وَلَآ آٰمِّينَ ٱلْبَيْتَ ٱلْحَرَامَ يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِّن رَّبِّهِمْ وَرِضْوَٰنًا

او نه به هغه کسان چې قاصدين د بيت الحرام چې کعبه مبارکه ده هغو د منع روا والی به وځان ته واياست باى وجه کان المنع.

پوه سه: چې "يبتغون فضلاً من ربهم ورضوانا" حال دی له ضمير مستکن څخه په "آمين" کي والمعنى قاصدين زيارة البيت الحرام لپاره د طلب د رزق بالتجارة او د رضا د خداى ﷻ يعني ددوی پر زعم باطل. ولي چې کافر لره هيڅ برخه نسته په رضا الهي کي تر هغو چې مسلمانان نه سي. په ارشاد کي وايي چې مشرکانو دا ګمان فاسد درلودی چې مونږ پر حقه لاره يو په خپل دين شرک کي او ددوی دا ګمان هم و چې حج د بيت الله شريفي مونږ و خداى ته نژدې کوي نو خداى ﷻ ددوی پر زعم دوی په طالبانو سره د رضى الهي ذکر کړه. لکن دغه ظن فاسد ددوی که څه هم نتيجه د رضى الهي خو نه ورکوي لکن بعض مقاصد دنيويه ددوی لکه تجارت او منع د مسلمانانو ددوی له ضرر څخه فائده کوي.

دروښ وايي: چې په روح البيان کي وايي چې دا آيت الى ههنا منسوخ دی په دې آيت مبارک سره "فاقتلوا المشرکين حيث وجدتموهم" او پل په دې آيت کريمه "ولا تقربوا المسجد الحرام بعد عامهم هذا" فلا يجوز ان يحج المشرک ولا يامن الکافر بالهدي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِذَا حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوا

چې تاسي خلاص سئ له احرام څخه نو ښکار کوئ، دا اذن دی په ښکار کې پس له تحریمه څخه چې په دې قول کې د خدای سوی و "لاتحلوا شعائر الله فان الصيد في الاحرام تحليل الشعائر.

پوه سه: چې دا امر د اصطیاد لپاره د اباحت دی بالاجماع کما في قوله تعالى في صلوة الجمعة فاذا قضيت الصلوة فانتشروا، او څوک چې دا دلیل وایي چې امر وروسته تر نهي وي لپاره د اباحت دی نه دی صحیح مطلقاً فان الامر المطلق عن القرائن اى الخال عن القرائن هو الايجاب كما برهن عليه في الاصول. روایت کړی دی ابن ابي حاتم له زید بن اسلم څخه چې مسلمانان د علیه الصلوة والسلام سره وه په حدیبیه کې هغه وخت چې د مکې مشرکانو دوی له عمرې څخه د بیت الله شریفي منع کړي وه والقصة مشهورة نو د بلې خوا بعض خلګ له مشرکانو څخه د اهل مشرق پر حدیبیه تیرېدله، نو اصحابو د رسول الله ﷺ وده ته وویل چې دا مشرکان په مورږ منع کړو له مکې څخه کماصدوا اصحابنا فانزل الله هذه الآية.

وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ أَنْ صَدُّوكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ

تاسي دی باعثه نه کړي بغض او شدت عداوت د یو قوم چې اهل مکه وه چې تاسي یې عمرې ته نه پرې ښولاست، چې تاسي یې منع کړلاست یعني په کال د حدیبیه چې تاسي د عمرې لپاره راغلي واست.

پوه سه: چې "شنان" مصدر دی مضاف و مفعول ته دی. د "ان صدكم" سره لام مقدر دی ای لان صدكم.

فائده: شنآن" مصدر دی وزن یې فعلان دی او پر دې وزن مصادر نورهم راغلي دي لکه ضربان والسيلان والنسلان، او په سکون د عین په صفاتو کې دا وزن دې پر دی مثل السكران والندمان والرحمن.

أَنْ تَعْتَدُوا وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَىٰ

چې تاسي به تجاوز کوئ پر دوئ بالقتال واخذ الاموال كما قال اصحاب رسول

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الله ﷻ کمامر. او تاسي کومک سره کوئ پر هغو ښو کارو چي امتثال د امر الله دی او پر تقوی چي ځانونه منع کړئ له هغو کارو څخه چي خدای ﷻ ځني منع کړي یاست چي په دې سره به تاسي ځانونه له عذابه څخه د خدای وساتئ.

وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ ۖ

او کومک مه سره کوئ پر ګناه باندې یعني په ارتکاب کي د منهیاتو او نه پر ظلم باندې د انتقام او د زړو د سرېدو. د نواس بن سمعان انصاري ﷺ روایت دی چي د علیه الصلوة والسلام څخه چا پوښتنه وکړه د بر او د اثم نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل "البر حسن الخلق والاثم ماحاک في صدرک وکرهت ان یطلع علیه الناس" یعني بر ښوو اخلاقو ته وایي او اثم هغه کار دی چي ستا په زړه کي تردد پیدا کړي او تاته مکروه معلومېده چي خلګ را خبرسي رواه مسلم في صحیحه والبخاري في الادب والترمذي.

وَاتَّقُوا اللَّهَ ۖ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿٢﴾

او له خدایه وبېرېږئ او د خدای ﷻ عذابونه سخت دي، نو انتقام د خدای اشد او اخوف دی. خواجه عبدالله انصاري هروي قدس سره چه خوش گفته است

حبذا قومی که داد بندگی را داده اند
ترک دنیا گفته اند وزهمه ازاده اند
روزها باروزها درگوشها بنشسته اند
نفس خودرا قهر کرده روح کرده پرفتوح
زاد تقوی برگرفته بهر مرگ آماده اند
طرفة العین نبوده فاغل نبوده از حضرت ولي
سیلها بااین همه ازدیدها بکشاده اند
یکزمان از نوحه همچنون نوح فارغ نیستند
همچو یحی گوئیا از بهر زاری زاده اند
زآب تاب تب الی الله غسل کرده آن کسان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

روی خود برخاکپای سجدوا بنهاده اند
ربناگویند ازان لبیک عبدی پشنوند
جمله سرمست الست از جرعه این باده اند
راحتی دیدند وذوقی یافتند از انس وجان
روز وشب درکنج خلوت برسر سجاده اند
تابدنیا آمدند از کلبه کتم عدم
سوی حضرت جز نیاز ونالهٔ نفرستاده اند
پیر انصاری تو میدانی که ایشان کیستند
فرقه بی کرد پروز مردهٔ دل ساده اند

حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ

حرامه کړه سوې یعني له جانبه څخه د خدای ﷻ مرداره.

پوه سه: چې میتة هغه حیوان بولي چې روح یې څني جلا سي بېله ذبح.

فائده: بیان دی د مایتلی علیکم چې په دمخه آیت کې تېره سوه والمعنی اکل لحم المیتة. ولې چې دمخه مور ووېل چې حل او حرمت له صفاتو څخه د افعالو د مکلف دي او صفت د اعیانو بالعرض دی.

پوه سه: چې مظهري په نقل سره د کتاب لباب النقول في اسباب النزول یو حدیث راوړی دی چې سند یې هم ورسره ذکر کړی دی له ابن ابجر ﷺ څخه چې هغه وایي چې مور د رسول الله ﷺ سره و او ما تر دېګ لاندي اور بلاوه چې په هغه کې غوښې د میته وې. فانزل الله هذه الآیة فاکفئت القدر، وروسته پر پښېمانه سوی دی او دا عذر یې کړی دی چې دا حدیث ماتبعاً للکتاب الفلاني روایې دی والصحیح هکذا.

دروښ وایي: چې په دې کې شک نسته چې دغه حدیث چې د سند ذکر یې هم کړی دی موضوعي دی، نو موضوعي حدیث چې سړی یې په وضعه خبر هم وي روایت یې نه دی روا بیا په دومره غټ میدان کې د تفسیر الا مقروناً ببیان وضعه، او ولې په موضوعي حدیث کې سړی د چا متابعت وکړي والی الله المشتکی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَالدَّمُ وَ لَحْمُ الْخِنْزِيْرِ

او وينه او غوښي د سرکوزي.

پوه سه: چې مراد له وينو څخه هغه ډرګو بهانده وينه ده چې په وخت کې د ذبح له حيوانه راوځي چې اهل جاهليت به دې وينې ته يو لوښی ښوی او بيا به يې پخوله او خوړل به يې او هغه وينه چې د مثلاً د پسه په غوښه کې وي او يا جامده وينه وي لکه کبد او طحال يعني اينه او پېرۍ هغه پاکي دي کما جاء في الحديث الصحيح احل لنا ميتتان السمک والجراد والدملن الکبد والطحال او کما قال عليه السلام.

پوښتنه: سرکوزي خو نجس دي بجميع اجزائه په نص قرآني سره، نو تخصيص د لحم يې ولې وکړی؟

ځواب: له دې کبله يې وکړی چې لوی مقصد په حيوان کې غوښه ده،

پوښتنه: لحم الکلب يا لحم الاسد وغيرهما نه سو ذکر او سره ددې چې د هغو غوښې هم حرامې دي وجه يې څه ده؟

ځواب: وجه يې داده چې ډېر کافران د خنزير د خوښو سره ډېر الفت لري او خوري يې بخلاف الکلب وسائر السباع فانها لم يالفوا الاکل لحمها احد من الکفار. او فرق د خنزير او د نورو سباعو تر منځ دادی چې نور حيوانات چې د غوښو خوړل يې حرام دی اذا ذبحت کان لحمها طاهر لايفسد الماء اذا وقع فيها وان لم يحل اکله بخلاف الخنزير، ولې خنزير که څوک ذبح هم کړي غوښې يې نجسې دي که په اوبو کې ولوېږي اوبه په مرداربږي.

فائده: بعض علماء وايي چې سپی هم نجس العين دي، لکن په تنوير کې چې د فقهي يو معتبر کتاب دی وايي چې کلب نجس العين نه دی.

پوه سه: چې علماء وايي چې هره غذاء چې انسان خوري هغه دده جزء کړځي نو هغه احوال او اوصاف چې په غذاء کې وي په خوړونکي کې يې هم پيدا کېږي، د سرکوزي خاصيت دادی چې عظيم حرص لري او رغبت شديد لري په مشتهياتو کې فحم اکله علی الانسان لئلا يتکيف قلبه بتلک الکفيات، او له جملې څخه خبيث خويو د خنزير دده چې ډېر بې غيرته دی حتی چې د يو خنزير سره چې خپله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

انثی ورسره وي که بل خنزیر پر هغه انثی خپړي هغه نر یې بد نه په وړي لهذا هغه کافران چې د سرکوزي غوښې خوري که دده ماینه د بل چا سره په وطي رازي وي مېړه یې بد نه په وړي، ځکه دغه کافران خنزیر خواړه یو د بل د ماینې سره په وطي کې بد نه وړي چې ماینه یې رازي وي، نو ځکه د خنزیر د غوښو خوراک خدای ﷻ حرام وګرځاوه تاچه دغه خبیث طبعیت پکښې پیدا نه سي.

شکایت: په بعضو مسلمانانو کې هم دغه د دوسی طبعیت پیدا سوی دی چې خپلې ماینې په مقابل کې د دالرو امریکایانو ته ورولي، تاسي فکر وکړئ چې دا سر مسته شرابخوره امریکایان چې پر بعضي بلادو د مسلمانانو یې غلبه کړې ده او د اکثرو دغو امریکایانو سره خپلې ماینې هم نه وي ورسره، نو دا مستي د شرابو د شهوت دوی چېرې استعمالوي، دغه دوسان مسلمانان دي چې خپلې ماینې ورولي او امریکایان خپله شهوت پرستي پر کوي او مېړه دوس ته یې دالر ورکوي، حمدالله غزنوي وایي

چو بینم دین احمد درغریبی　　دلم سوزان زچشم خون جاری

او بعض مسلمانان د امریکایانو په تسلط د مسلمانانو پر مملکت خوشاله وي تاچه د شریعت په چوکاټ کې کومه پابندي پر دوی وه هغه پورته سي او حسب الخواهش ازادي ددوی ته پیدا سي. اللهم نصراً وفتحاً ودماراً علی هؤلاء الامریکین.

وَمَآ أُهِلَّ لِغَيْرِ ٱللَّهِ بِهِۦ

بوه سه: چې "اهلال" رفع د صوت ده، رؤیة الهلال نو معنا د آیت داده چې د هغه حیوان غوښې هم حرامي دي چې په وخت کې د ذبح د غیر الله نوم پر واخلل سي، لکه اهل جاهلیت چې به اوښ یا پسه وغیره حلالوی نو داسي اواز به یې پورته کړی باسم اللات او باسم العزی وغیرهما من اصنامهم.

دروښ وایي: چې په دې آیت لامذهبه معلوم الحال طوائف وایي که چا په ذې نیت د ثواب د رسېدلو د فلاني پیر حتی د علیه الصلوة والسلام د ثواب رسېدلو په نیت شی حلال کړی هغه سړی مشرک دی ذبیحه یې مردار ده، وهذه جهالة عظیمة علی الاطلاق، په روح المعاني کې وایي قال الفقهاء. که چا داسي وویل چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ذبح يې کوله بسم الله ومحمد حرمت الذبيحة لانه احل لغير الله به، وفي الحديث لعن الله من لعن والديه ولعن الله من ذبح لغير الله. قال النووي رحمه الله المراد الذبح باسم غير الله كمن ذبح للصنم بذكر اسمه عند الذبح او لموسى او لغيرهما يعني ذكر اسم موسى عند الذبح و امرار السكين سواء ذكر معه اسم الله او لم يذكر.

دروېش وايي: مسلمانان چې د علیه الصلوة والسلام لپاره یا د یو شیخ مړي یا ژوندي په نامه یو حیوان ذبح کوي هغه قبلاً دا نیت یا دا قول کوي لکن عند الذبح وامرار السکین فقط دا وایي بسم الله الله اکبر ولا یذکر اسم احد غیر الله معه. نو لامذهبان ولي دی مشرک بولي او ذبیحه یې مرداره بولي، او مظهري وایي یکره ان یذکر مع اسم الله عند الذبح شیئاً غیره موصولاً مثل یقول عند الذبح بسم الله اللهم وتقبل من فلان لکن لا یحرم الذبیحه.

دروېش وایي: مسلمانان چې د چا په نامه حیوان ذبح کوي داغسي هم نه وایي بلکې دمخه تر غوځارولو د پسه مثلاً داسي وایي چې ددې پسه د حلالېو ثوابونه دي فلاني ته ورسېږي وروسته پسه غوځار کړي، او چې وخت د ذبح یې راسي فقط وایي بسم الله الله اکبر فلا کراهة في مثل ذالک ایضاً، البته که یې متصل پر وجه د عطف او شرکت وویل بسم الله و اسم فلان او یا یې داسي وویل باسم الله ومحمد رسول الله په جرد محمد د لفظ یحرم الذبیحة لانه اهل لغیر الله به.

دروېش وایي: چې داسي هم د هیڅ مسلمان څخه اوربدل سوې نه ده، قال المظهري ولاباس بان یقول قبل التسمیة قبل ان یضجع الذبیحة.

دروېش وایي: چې مسلمانان د علیه الصلوة والسلام پر نامه او یا د یو شیخ پر نامه خیرات کوي طرز عمل یې دغسي دی فلاباس به، او که یې په وخت کې د ذبح خو یې بسم الله الله اکبر ووایه، چې پسه ذبح سو بیا یې د بل چا نوم ورسره واخستی فلاباس به ایضاً لان النبي ﷺ قال بعد الذبح اللهم تقبل هذا من امة محمد علیه السلام لمن شهد لک بالوحدانیة ولي بالبلاغ انتهی.

وَالْمُنْخَنِقَةُ

او داغه رنګه حرام دی پر تاسي خوراک د غوښو د حیوان چې په خپه مړ سي که د لاس خپه وي او که د مراندي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَالْمَوْقُوذَةُ

او داغه رنګه حرام دی خوراک د غوښو د هغه حیوان چې ضرب شدید یاد دبرې یا د لرګي لکه په جاهلیت کې چې دا قانون و چې پسه وغیره به یې نه ذبح کاوه بلکې په دبره یا په یو لرګي به یې وواهه مړ به یې کړی.

وَالْمُتَرَدِّيَةُ

او داغه رنګه حرامي دي غوښې د هغه حیوان چې یا له بامه را شوه سي، او یا څاه ته ولوېږي او ذبح ته نه ورسېږي او مړ سي.

پوښتنه: که دا مذکوره حیوانات په داسي حال کې وه چې که یې سړی یو ګړی پرېږدي په پخله مري لکن سړي چالاکي پرو کړه ذبح یې کړی نو هغه حلال دی که څرنګه؟

ځواب: هو! حلال دی ولي چې د ذبح لپاره جوړوالی د حیوان نه دی شرط.

وَالنَّطِيحَةُ

چې یو حیوان بل په ښکر ووهي او مړ یې کړي ددې غوښې هم حرامي دي،

سوال: نطیح خو فعیل دی په معنی د مفعول او په فعیل کې په معنی د مفعول مذکر او مؤنث برابر دی نو د تاء التانیث د کلمې څه ضرورت و؟

ځواب: دا تاء التانیث نه ده بلکې لپاره د نقل ده له وصفیت څخه و اسمیت ته کما في الذبیحة.

وَمَآ أَكَلَ السَّبُعُ

او یا د درنده په خوړلو مړ سي یعني درنده چې بعض د حیوان وخوري او هغه حیوان مړ سو ذبح ته نه ورسېدی ددې حیوان غوښې هم حرامي دي.

مسئله: له دې آیته دا هم وفهمېده که معلم ښکاري سپی و یا باز ښکاري یا ښکاري یږ یا څرخک مرغه ده مرغه ښکار کړی خو څه غوښې یې خوړلي وې هغه هم مرداري دي خوراک یې حرام دی.

إِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ

استثناء راجع ده و تولو دغو مذکوره شیانو ته ومعنی "ذکیتم ادرکتم رکوته"

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې اصل ټرکیه اتمام ته وایي نحو ذکیت النار اذا تمت اشتعالها او مراد دلته ذبح ده. ولي چې ذبح خو اتمام د حیوة دی، او په صحاح کې وایي ذکیت الشاة ای ذبحتها.

پوه سه: چې ذبح د پسه حلالول دي او حلق او نحر د اونښ حلالول دي په ګروي کې والتزکیة یعمهما.

مسئله: که یو درنده له حیوان څخه څه غوښه خوړلې وه او تر وخت رسېدلو پورې هغه حیوان ژوندی و، نو ذبح دې کړی خوراک یې حلال دی. او که دا حیوان په جرح د سبع داسې حالت ته رسېدلی و لکه مذبوح یعنې لکه مذبوح صرف یې لغتي وهلې نر هغه په حکم کې د میتة دی یعنې غوښې یې مرداري دي که څه هم ته یې ذبح کړې وي. ﴿ن علی هذا المتردیة والنطیحة والموقوذة.

پوه سه: چې استثناء چې وروسته تر امور متعاطفه وو راسې راجع و اخیر ته وي هغه نورې قیاسېږي لکن قیاس د ټولو نه پر کېږي یعنې د منخنقه قیاس نه پر کېږي. ولي منخنقه خو هغه دی چې په خفه مړ سي. نو څرنګه به ماذکیتم ودوی ته شامل سي.

پوه سه: چې د ذبح شیان څلور دي یو حلقوم دی چې ساه پکښې ځي او راځي، او بله مری ده چې وابنه او اوبه پکښې ځي. او دوه رګونه ودجان بولي چې وینه پکښې ځي. د امام مالک رحمه الله په نېز په ذبح او په نحر کې د څلورو سرو قطع غواړي. امام شافعي او امام احمد وایي چې په حلالېدلو کې قطع د حلقوم او مری کافي ده. امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله وایي هر درې چې پرې سي کافي دي یعنې قطع د اکثر ضروري ده.

دروښ وایي: چې مسائل خلافیه یا اتفاقیه د فقهي شریفي په کتابو کې او یا په تفسیر مظهري کې چې هغه هم یوه ټوله فقه ده وګورئ. لکن دروښ بقدر ضرورت احکام د فقهي بیان او استیعاب نه کوي چې زما تفسیر د عامه طالبانو او یا خوانانو عوامو وروڼو او خویندو لپاره دی. نو استیعاب پر دوی بوج کېږي.

وَ مَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ

پوه سه: چې بعض مفسران وایي چې "نصب" جمع دا او مفرد یې نصاب دی لکه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کتب او کتاب. او بعض وایي نصب مفرد دی جمع یې انصاب دی لکه عنق او اعناق.

دروښ وایي: چې اول قول و حق ته نژدې دی، ولي چې مجاهد او قتاده وایي چې د بیت الله شریفي پر شا وخوا درې سوه شپېته ډبري کفارو درولي وې چې اهل جاهلیت به یې تعظیم کاوه او پوسنه وغیره به یې پر ذبح کول. او دا ډبري له اصنامو څخه غیر وې یعني ساده ډبري وې، او اصنام خو صور منقوشه وه. امام رازي رحمه الله په تفسیر کبیر کي وایي چې بعض علماء وایي چې نصب هي الاوثان وهذا بعید لان هذا معطوف علی قوله وما اهل لغیر الله به وذالک هو الذبح علی اسم الاوثان ومن حق المعطوف ان یغایر المعطوف علیه، او ابن جریج رحمه الله وایي چې نصب اوثان نه دي فان الاصنام مصورة منقوشة وهذه الاحجار نصبوها حول البیت وکانوا یذبحون حولها وعندها او دوی به دغه ډبري په هغه ویښو سره ککنولې او غوښې به یې پر هغو ډبرو کښېښولې هر محتاج چې په ورلای.

دروښ وایي: چې قطرب چې لوی لغوي سړی د ی وایي چې "علی" په معناد لام دی والمعنی ماذبح لاجل النصب ای الاصنام. ویرد علیه ان العطف یقتضي التغایر بین المعطوفین یعني په منځ کي د ما اهل لغیر الله به چې معطوف علیه دی او د ما ذبح علی النصب چې معطوف دی پر توجیه د قطرب یې څه فرق دی.

وَأَنْ تَسْتَقْسِمُوا بِالْأَزْلَامِ

او داغه رنګه حرام دی چې تاسي طلب د خپل قسمت او کار کوئ په ذریعه د غشو، بعض مفسرین وایي چې کفارو د یو کار د کولو اراده وکړه نو دوی درې غشي درلوده پر یوه غشي به نوشته وه امرني ربي، او پر بل باندې نوشته وه نهاني ربي، او پر درېم به نوشته وه غفل، ای خال عن الکتابة، نو که به امرني ربي غښتی راووتی هغه کار به یې کاوه او که به د نهي غشی را ووتی هغه به یې نه کاوه او که به هغه غشی راووتی چې غفل به پر نوشته وه بیا به یې غشي په کڅوړه کي واچول او دا کار به سادن الکعبة کاوه، او بعض مفسران وایي چې ازلام جمع د زلم ده په زور د زاء یا په پېښ د زاء معنا یې غشی دی، او عربو د جاهلیت په وخت کي اووه غشي سره برابروه یو دبله سره او د شوحط له درختي څخه جوړ وه: او دا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غشي به د خادم الكعبة سره وه يعني متولي د كعبې شريفي چې خلاصېدل او بند پدل د كعبې شريفي د خوني دده په تصرف كي وه او په عربي يې ودغه سړي ته سادن الكعبة وايه. نو پر يوه غشي به نوشته وه "نعم" او پر بل به نوشته وه "لا" او پر بل به نوشته وه "منكم" او "من غيركم" او "ملصق" او "العقل يعني الدية" او يو يې "غفل" باله چې هيڅ نه وه پر نوشته. نو جاهليت والو چې به اراده د يو كار وكړه لكه سفر يا نكاح يا سنتي يا نور ورته كارونه او يا به يې د چا په نسب كي اختلاف و او يا په تحمل كي د ديت. نو دوی به ورغله هبل بت ته او حبل ددوی يو ډېر معتبر بت و. نو دوی به سل درهمه و سادن الكعبة ته ورکړه چې ته دا غشي را وګرځوه په توبره يعني په نامه د كڅوني او هبل بت ته به مخاطب وه يا الهنا مورې اراده د فلاني كار لرو لكه سفر يا نكاح يا تجارت الى غير ذالك. نو كه به هغه غشی را ووتی چې "نعم" به پر نوشته و هغه كار يې كاوه او كه به "لا" والا غشی را ووتی هغه كار يې نه كاوه تر يوه كاله پورې وروسته تر كال به يې قداح بيا سره وښوروله كه به نعم راووتی هغه كار به يې كاوه او كه به لا و بيا تر كاله پورې به يې هغه كار نه كاوه ثم وثم. او كه به يې د چا په نسب كي اختلاف و نو كه هغه غشی راوتلی وای چې "منكم" به پر ليكلی و نو ددوی قبيلوي سړی ګڼل كېدی او كه به هغه غشی راوتلی وای "من غيركم" نو ددې معنا دا وه چې ستاسي له نسبه نه دی حليف مو دی. او كه به هغه غشی راوتلی وای چې "ملصق" پر نوشته وای. نو ددې مطلب دا و چې سړي صرف په تاسي پورې ځان ترلی دی نه حليف دی او نه د قبيلې دی. او كه به يې د چا په ديت كي اختلاف وای نو كه هغه غشی را وتلی وای چې "عقل" به پر ليكلی و. هغه ته يې ديت ورکاوه. او كه هغه غشی وای چې "عقل" به و بيا به يې غشي سره وښورول حتی يخرج المكتوب، نو خدای ﷻ له دې كاره خلګ نهي كړه، وقال الله ﷻ.

ذٰلِكُمْ فِسْقٌ ؕ

دا خروج دی له امر الهي څخه.

دروښ وايي: چې په هر شي سره چې علم الغيب غوښتل كېږي هغه تر دې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ایت لاندې دی حتی چې مظهري فالنامه هم له دې جملې څخه ګڼلې ده. او هر شی چې قمار پر کېږي هغه تر دغه آیت لاندې دی بدلالة النص انتهی.

دروښ وایي: چې د قمار په حرمت کې خو نص صریح موجود دی انما الخمر والمیسر الآیة نو اثبات د حرمت یې دلالة النص څه ضرورت دی، بغوي رحمه الله له ابي درداء رضي الله عنه څخه روایت کړی دی قال قال رسول الله ﷺ (من تکهن) که چا غیب ګوبي وکړه،

دروښ وایي: چې لکه بعض جاهل ملایان او ګوډ ګران چې د یو سړي مثلاً د اعصابو ضعف لري یا یې سر همېشه درد کوي یا نور ورته مرضونه لري، نو ګوډ ګر ملا ورته ووایي چې په تا چا کوډي کړي دي او فلاني ځای کې ښخي کړي دي زه به پېرانان پښتي واستوم راوه به یې کاږي ته سبا راسه، او د سائل نوم او د پلار نوم یې هم زده کړي سبا چې هغه سړی راسي ملا صاحب دمخه لا پر پیو ژاړه کاغذ نوشته کړي وي بیا د هغه سړي نوم او د پلار نوم یې په یو ځای خط نوشته کړي، سبا چې هغه سړی راسي ګوډ ګر هغه تعویذ په زړو وړستو ځامنو کې پېچلی په لاس ورکړي وایي دغه دي هغه کوډي چې په تا سوي دي پېرانانو مانبام راوړي، نو جوړي روپۍ ځني واخلي، نو دې کوډ ګر هم خپل ځان ته علم غیب ثابت کړی او هم یې پېرانانو ته، نو ګویا ده د دنیا لپاره په دې آیت کې فکر نه وهی "قل لایعلم الغیب الا الله" (او استقسم) یعني بالازلام کمامر (او تطیر طیرة تردده من سفره) او یا بد فالي په یو شي سره وکړي چې له سفره یې منع کړي لم ینظر الی الدرجات العلی من الجنة یوم القیامة" نه ګوري هغه لوړو درجو ته د جنت په ورځ د قیامت.

اَلْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ دِيْنِكُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ ؕ

نن ورځ یعني په ورځ د نزول ددې آیت وفیما بعده، او بعض وایي چې مراد له یوم څخه معینه ورځ نه ده بلکې مراد زمان حاضر او چې په زمان حاضر پورې متصل از منه آتیه وي، نا امیده سوي هغه کسان چې کافران دي ستاسي له دین څخه یعني چې ستاسي دین باطل او یا تغیر او تبدیل پکښې وکړي لکه یهودانو چې پخپل دین یهودیت کې وکړي، او یا دي پر اهل ددې دین غالبه سي عموماً، او یا دي د دین علم برداران و یهودیت او نصرانیت ته جلب کړي لکه په اوسنی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

زمانه کي يعني سنه ۱۴۲۷ هـ ق وماقبله چي امريکايان په دې کوشش کي دي چي د اسلام د دين په عوض کي نصرانيت په دوی کي رواج کړي. يعني بعض افراد ناحسابه دي عموماً نه سي کولای چي امريکايان دي پر عمومي مسلمانانو د نصرانيت پرده وغورۍ، نو تاسي مسلمانان له دوی څخه مه ډارېږئ چي پر تاسي دي غالبه سي او ستاسي دين اسلام درباطل کړي. بلکې له ما څخه وډارېږئ يعني په امتثال کي د اوامرو زما او په پرهېز کي د منهياتو.

پوه سه: چي دا راتلونکی آيت د مازديگر وروسته د جمعې په ورځ د عرفات پر ميدان په حجة الوداع کي نازل سوی دی چي عليه الصلوة والسلام پر خپل اوښه عضباء باندې سپور و پر عرفات ولاړ و. د عضبا پښې په ډېر ډېر سوې له ثقل څخه د وحي د دې آيت اخير چوکه سوه.

اعراب: اليوم" منصوب دی په يئس الذين سره.

اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ

نن ورځ ما کامل کړی دی تاسي ته دين ستاسي. يعني عقائد حقه مي درته بيان کړه، او په اصول د شرائع او احکامو مي خبر کړلاست من الفرائض والواجبات والسنن والاداب بالوحي الجلي او الخفي والحلال والحرام والمکروه التحريمي والتنزيهي بالوحي الجلي او الخفي. او مفسدات د هغو کارو چي وجود شرعي لکه لمونځ، روژه، بيع او شراء. او دا هم يو احتمال بعيده دی له عبارت څخه د قرآن، مظهري راوړی دی "يعني که څه هم مقصود خو يې صحيح دی لکن له عبارت څخه د دينکم لېري دی" چي مراد دي له اکمال څخه د دين بلوغ النبي ﷺ في مدارج القرب الى الله الى مرتبة يغبط بها الاولون والآخرون حتى غفرله لکمال محبوبيته له تعالى جميع ذنوب امته حتى الدماء والمظالم، يعني په ورځ د عرفات او په شپه کي د مزدلفې، وتفصيله في الاحاديث النبوية.

پوه سه: چي بخاري او مسلم روايت کړی دی له عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه چي يو يهودي وده ته وويل چي يو آيت ستاسي په کتاب کي چي تاسي يې واياست که پر موږ يهودانو نازل سوی وای، نو موږ به هغه ورځ اختر گرځولې وای. عمر رضي الله عنه ورته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وویل کوم آیت دی؟ یهودي ورته وویل "الیوم اکملت لکم دینکم" عمر رضی الله عنه ورته وویل زمونږ هغه ورځ هم پیاد ده او هغه ځای مو هم پیاد دی چې دا آیت پر نبي علیه السلام نازل سو چې علیه الصلوة والسلام پر عرفات ولاړ و او ورځ د جمعې وه. عمر رضی الله عنه اشاره ودې ته وکړه چې هغه ورځ زمونږ دوه اخترہ وه یوم الجمعة ویوم الوقوف علی العرفة. له ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چې ددې آیت د نزول په ورځ یوه داسې اتفاقیه واقعه پېښه سوه چې نه په دمخه تواریخو کې پېښه سوې ده او نه به وروسته پېښه سي چې په دغه ورځ پنځه اخترہ وه یوم الجمعة ویوم العرفة وعید الیهود وعید النصاری وعید المجوس. قاله صاحب روح البیان.

فائده: بغوي رحمه الله یو حدیث راوړی دی چې دا آیت چې نازل سو عمر رضی الله عنه وژړل علیه الصلوة والسلام ورته وویل پر څه شي ژاړې؟ عمر رضی الله عنه ورته وویل مادا ژړوي چې مونږ تر اوسه په زیادت کې د دین و، اوس چې خدای پاک وایي چې دین مو کامل سو، نو هر شی چې کامل سي وروسته نقصان په پسې وي، د عمر رضی الله عنه غرض دا و چې له دې څخه زما دا خیال پیدا سو چې تاسي لکه چې زمونږ له منځه ځئ؟ علیه الصلوة والسلام ورته وویل صدقت یاعمر دا زما د مرګ پېش خبره ده. نو تاریخ اسلامي وایي چې ددې آیت تر نزول وروسته علیه الصلوة والسلام یو اتیا (۸۱) ورځې ژوندی و، او د دوشنبې په ورځ وروسته تر زوال د لمر پر دوولس تاریخ د ربیع الاول علی الروایة المشهورة په کال یوولس (۱۱) هجري وفات سو. انا لله وانا الیه راجعون.

پوه سه: چې په تفسیر عزیزي کې وایي چې علیه الصلوة والسلام د دوشنبې په ورځ زوکړی دی او د دوشنبې په ورځ نبي سوی دی، او د دوشنبې په ورځ یې له مکې څخه هجرت کړی دی، او د دوشنبې په ورځ مدینې منورې ته داخل سوی دی، او د دشنبې په ورځ یې له دار الفناء څخه و دار البقاء ته رحلت کړی دی، شاه عبد العزیز رحمه الله په دې کې اشاره ودې ته کړې ده.

بعد از خدا بزرگ توئی قصه مختصر

فصلوات الله تعالی وتسلیماته وتکریماته علیه وعلی آله وصحبه اجمعین.

انا لله وانا الیه راجعون.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ

يعني ما خپل هغه نعمت موعوده پر ځای کړی چې ماویلي وه "واتممت نعمتي عليكم" چې د هغو هدایت دی و صراط مستقیم ته. او بل توفیق مي تاسي ته درکړی د ټولو عباداتو او ترک د منهیاتو. او بل اکمال د دین دی. او بل فتح د مکې ده، او منارې د جاهلیت مي له تاسي محوه کړې. او مشرکین مي له حجه منع کړه وغیر ذالک من الفتوحات علی اراضي الیهود حتی چې اوس مو سفرونه په اراضي و کې د عربو بې خوف او بې خطره دي.

وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا

او ما مختاره کړی دی تاسي لره اسلام، الذي هو الدین الصحیح عند الله لاغیره من الادیان، نو خدایه مورږ تالره حمد وایو پر دې نعمت عظمی د دین اسلام. او له تاځخه توفیق غواړو د ټولو حسنه عملو، او له تاځخه ساتنه غواړو د منهیاتو فانه لاحول ای عن المعاصي ولاقوة الابک ای بعصمتک عن المعاصي وتوفیقک علی الطاعات برحمتک یا ارحم الراحمین، آمین آمین آمین.

موعظت: سعدي شیرازي قدس سره مېګوید

جهان ای برادر نماند بکس	دل اندر جهان افرین بندویس
جهان ای پسر ملک جاوید نیست	زدنیا وفاداری امید نیست
منه دل برین سال خورده مکان	که گنبد نباید برو گردگان

فَمَنِ اضْطُرَّ

که څوک مجبور سي وخوراک ته د شي له محرماتو مذکوره وو.

پوه سه: چې دا آیت متصل دی په ذکر سره د محرماتو. او درمیاني جملې ټولې معترضه دي، د جمله معترضه وو فائده داده چې مړی باید تجنب له محرماتو څخه وکړي من تعظیم الدین وذکر المنة علی المؤمنین باکمال الدین المبین، ولي چې حرمت د هغو له جملې څخه د دین کامل دی او د نعمت تامه او د اسلام مرضی ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فِي مَخْمَصَةٍ غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِّإِثْمٍ

په غایت لوږه کي وخلود البطن من الغذاء چې سړی ببر ښړي پر مرګ او یا پر اسبابو د مرګ من الامراض الهالکة "غیر متجانف لاثم" ای مائل به نه وي و ګناه ته چې یا یې تلذذاً خوري دغه محرمات او یا یې بالا تر حد د رخصت خوري، او یا یې د بل مضطر له لاسه حمله کړي، لقوله تعالی في موضع آخر غیر باغ ولاعاد. نو د باغي معنا داده چې له بل مضطره یې حمله کړي، او د "عادٍ" معنا داده چې تجاوز وکړي تر حد د رخصت.

پوه سه: چې "غیر متجانف" حال دی له فاعل څخه د ځواب محذوف ای فلیاکل مماحرم الله حال کونه غیر متجانف.

فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ۝

نو په تحقیق خدای ﷻ غفور او رحیم دی.

پوه سه: چې دا جمله تعلیل ده د جواب مقدر کمامر.

مسئله: که چاله خوراک څخه د محرم په حال کې د مخمصې ډډه وکړه او یا یې فرضي روژه وه او دومره نهایت وږی سو لکن روژه یې نه کړه ماته، نو مخمصه والا او صائم له لوږې مړه سوه ګناه کاره دي.

مسئله: که چا په حال کې د ناجوړۍ چې روژه یې وه منع وکړه له دوا څخه نه دی ګناه کاره، ولي چې دا خو یقین نه دی چې په دغه دوا به زه جوړ یږم ولي چې بنایي بې علاجه دی جوړ سي.

پوه سه: چې بعض مفسران وایي چې خدای ﷻ غفور رحیم ووایه، یوه فائده خو یې داده چې خدای پاک عفوه د خوړلو د محرم ورته کوي، او بله فائده یې داده چې هغه سړی چې د مخمصې په لوږه مبتلا، وي بنایي چې تجاوز په څنې وسي تر حده د رخصت بلا اختیار، نو خدای ﷻ هغه هم بخښي.

مسئله: خوراک د محرماتو هلته روا دی په حال کې د مخمصې چې دفعه د غایت لوږې په نباتاتو د مخکې یعني نباتات ماکوله لکه سبزي چې پالک یې هم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بولي، يا بشكي يا جانبو وغيرها پر مځكه نه وه موجود لكه د ژمي په وخت كي. او كه هغه وه او د لوړي دفع په هغه سره كېداى سواى. بيا نو د محرماتو خوراک روانه دى فافهم هذه الدقيقة هداک الله تعالى.

تائيد: په صحيح حديث كي راغلي دي چي بعض صحابه كرام ﷺ وايي چي مونږ د عليه الصلوة والسلام سره په بعضې سفرو كي ملگري وو، وما لنا طعام الا ورق الحبلة چي د يوې درختي نوم دى حتى ليضع احدنا كما يضع الشاة حتى تر دې اندازې پورې چي يوه ژمونږ يعني هر يوه چي به چكر وواهه له نسه به يې داسي چكر راوتى لكه د پسه يعني پوچي مالها خلط هيڅ خلط به نه و ورسره يعني فقط پوچي وارو چكر و.

دروښ وايي: چي ددې حديث په رښا كي دا معلومه سوه چي په نباتاتو او د درختو په بلگو هم ژوند كېږي، نو دا د هغې مسئلې تائيد سو چي كه چېرې دا نباتات يا بلگونه د درختو پيدا كړي، نو د محرماتو خوراک نه دى روا، ولي چي مقصود له رخصت څخه د اكل المحرمات خو بقاء د حيوٰة ده وقد حصل بقاء الحيوٰة بغير المحرمات.

پوه سه: چي په حديث كي د ابي رافع چي روايت يې بيهقي او طبراني او حاكم كړى دى چي يو وخت جبرائيل عليه السلام اجازه د دخول له عليه الصلوة والسلام څخه وغوښتل، نو عليه الصلوة والسلام اجازه وركړه لكن جبرائيل عليه السلام داخل نه سو او ځنډ يې وكړى، عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي ما خو اجازه دركړه ته ولي نه راغلې؟ جبرائيل عليه السلام ورته وويل هوا ته خو اجازه راكړه لكن مونږ نه ورځو هغه خوني ته چي په هغې كي يا صورت وي يعني بت وي او يا سپى وي. عليه الصلوة والسلام چي وكتل د سر مبارک سره يې د سپي كوچنى كوتری پروت و هغه يې وه ايستى، نو جبرائيل عليه السلام ور داخل سو. نو عليه الصلوة والسلام ابو رافع امر كړى چي په مدينه منوره كي هيڅ سپى مه پرېږده مگ قتل كوه يې. نو عليه الصلوة والسلام ته بعض خلگ راغله فقالوا يا رسول الله ﷺ ماذا يحل من هذه الامة يعني سپى التي امرت بقتلها منزلت.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يَسْـَٔلُونَكَ مَاذَآ أُحِلَّ لَهُمْ ۖ قُلْ أُحِلَّ لَكُمُ ٱلطَّيِّبَٰتُ ۙ

دوی سوال کوي له تا څخه چې موږ ته څه شی حلال کړه سوی دی؟ ته ورته ووایه چې تاسي ته حلال کړه سوي دي طیبات.

پوه سه: چې مراد له طیباتو څخه هغه دي چې طباع سلیمه یې خوښ لري او نفرت نه ځني کوي، والطیب في اللغة المستلذ المشتهي قال الامام الرازي والعبرة في الاستلذاذ باهل المروة والاخلاق الحمیدة الجلیلة فان اهل البادیة یستطیبون اکل جمیع الحیوانات انتهی.

پوه سه: چې لفظ د "طیبات" چې ضد دی د خبائثو مجمل دی. احادیث نبویه وو بیان د طیباتو او د خبائثو کړی دی. بیا علماؤ د مذاهبو پر هغو نور قیاس کړي دي چې د مواردو سره د مشابه وي.

قانون کلي: هغه حیوان یا بل شی چې نص پکښې راغلی وي چې حلال دی هغه طیب دی، او چې نص پکښې راغلی وي چې دا حرام دی هغه خبیث دی. او هغه حیوانات چې په هغو کې نص راغلی وي او خبیث فاسق یې بللی وي فهو خبیث حرام مثلاً. روی البخاري ومسلم عن ابن عمر رضي الله عنه عن النبي ﷺ پنځه شیان یعني له حیواناتو څخه گناه نسته پر هغه چاچې په حرم کې یې مړه کړي او په احرام کې وي (۱) مورک (۲) کارگه "کاغی" (۳) تپوس (۴) لړم (۵) خروړی سپی.

وعن عائشة رضي الله عنها عن النبي ﷺ قال خمس فواسق یقتلن في الحل والحرم الحیة (مار) والغراب (کارگه) والفارة (مورک) والکلب العقور (خروړی سپی) وفي روایة الحدیاة بدل الغراب. او له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی "اقتلوا الحیات کلهن فمن خاف تارهن" وژنئ تاسي ماران ټوله اقسام، که څوک وبیریږي له کسات څخه ددوی یعني چې دا به بیا ما مړ کړي "فلیس مني" هغه زما له ډلي څخه نه دی رواه ابو داؤد والنسائي، او هغه شیان چې نص نه وي پکښې راغلی هغه پر نورو قیاسوي، یا پر طیباتو باستطابة الطبائع السلمیة من العرب، واما علی الخبائث بسبب استقذاره الطبائع السلیمة من العرب.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تفریع: اصحاب کرامو رضی الله عنهم د هغه حیوان خوراک ډیر بد ګڼی چې مرداري خوري کما اخرجه ابن شیبة من طریق الســن. نو ددې حدیث په رڼا کې جمهور علماء وایي لایؤکل من الدواب والطیور ماياکل الجیف" نه دی روا خوراک د هغو حیواناتو او مرغانو چې مرداري خوري، نو نه دي حرامي د ملاچرګک او د طاؤس غوښې په نیز د ائمه ثلاثه خلافاً للشافعي رحمه الله.

فائده: هر حیوان له درندګانو چې ذا ناب وي یعنې په دارو حیوان څیرې لکه زمری، لېوه، پرانګ، یږ، سپی، پشې او یا ذی مخلب وي له مرغانو څخه یعنې په نوکانو شی څیرې لکه څرخک، باز تېوس او یا مثل ددوی، نو خوراک یې حرام دی په نیز د ائمه ثلاثه وو. امام مالک رحمه الله وایي چې خوراک یې مکروه دی حرام نه دی.

پوه سه: چې حرمت د غیر مذکوره شیانو چې په قرآن مجید کې نه دی ثابت سوی، نو د هغو حرمت په احادیثو شریفه وو سره ثابت دی چې امت دا احادیث قبول کړي دي، عن ابن عباس رضی الله عنه قال نهی رسول الله ﷺ عن کل ذی ناب من السبع وذی مخلب من الطیر. رواه مسلم. وعن جابر رضی الله عنه عن النبي ﷺ نهی عن اکل الهرة واکل ثمنها" رواه ابو داؤد والترمذي.

مسئله: د کاږه، ګیدړي او چغال غوښې حرامې دي په نیز د ابي حنیفه رحمه الله، او امام مالک رحمه الله وایي چې دا حرامې نه دي خلافاً للشافعي واحمد. صاحب هدایه وایي هما ای الضبع والثعلب وفي الکفایة لهما نابان یقاتلان بانیابها. دوی داړي لرې او په دارو جنګ کوي. فلا یؤکل کالذئب نو ددوی غوښې نه خوړل کېږي لکه د لېوه.

بوه سه: چې احادیث په باره کې د خوراک د کاږه د غوښو متعارض راغلي دي لکن په قانون د اصول الفقه چې ترجیح محرم لره ده پر مبیح احتیاطاً.

مسئله: د حشرات الارض لکه موږک، کربوړی وغیرهما حرام دی په نیز د ائمه ثلاثه وو، او امام وایي مکروه دی حرام نه دی.

مسئله: د شکانې غوښې حلالې دي په نیز د امام مالک او شافعي، او امام اعظم رحمه الله یې حرامې بولي، له بو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې د شکانه ذکر وسو په نیز د علیه الصلوة والسلام فقال خبیثة من الخبائث.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: د سمساري او کربورې غوښې حرامې دي په نېز د ابو حنيفه رحمه الله وعند مالک والشافعي هما حلالان.

دروښ وايي: چې په باره کې د اکل لحم الضب چې امام شافعي او امام مالک حلال بولي، مظهري هغه حديث د ابن عمر رضي الله عنه راوړی قال قال رسول الله ﷺ الضب لست اکله ولا احرمه، د ضب غوښې نه زه خورم او نه يې حرامې بولم، متفق عليه، وعن ابن عباس رضي الله عنه ان خالداً بن وليد اخبره چې زه داخل سوم سره د رسول الله ﷺ على ميمونة رضي الله عنها، او دا زما خاله ده او د ابن عباس رضي الله عنه هم خاله ده فوجدها ضباً محنوذاً، نو نه ؤ ليدلی عليه الصلوة والسلام ضب چې پوخ کړی يې و، نو ميموني رضي الله عنها ضب و عليه الصلوة والسلام ته پېش کړی، نو عليه الصلوة والسلام چې لاس ور وغځاوه ده چې ويل غوښې دي، نو يو چا وويل چې عليه الصلوة والسلام خبر کړئ چې دا څه شی دی، فقيل هي ضب فرفع رسول الله ﷺ يده عن الضب، نو عليه الصلوة والسلام پيرته له ضبه څخه لاس پورته کړی، نو خالد رضي الله عنه وويل "احرام الضب؟" آيا حرام دی د ضب د غوښو خوراک؟ عليه الصلوة والسلام ورته وويل "لا ولكن لم يكن بارض قومي فاجدني اعافه" يا حرام خو نه دی لکن زما د قوم په مځکه کې نه و، نو له دې کبله زما بد ځني کېږي، خالد رضي الله عنه وايي چې ما ضب راکش کړی او خوړی مې عليه الصلوة والسلام راته کتل، نقل المظهري هذا الحديث ناقصاً بيا مظهري ويلي دي وقال ابو حنيفه رحمه الله هو من الحشرات يعني حرام دی، مظهري وايي وهذا استدلال بمقابلة النص الصريح الصحيح يعني لا اعتبار لقول ابي حنيفة رحمه الله، وروسته مظهري ويلي دي وذكر في الهداية ان النبي ﷺ نهى عائشة رضي الله عنها حين سالته عن اكل الضب، مظهري وايي چې دا حديث زه نه پېژنم اشارة الى ضعفه.

دروښ وايي: چې وروسته يو چا د مظهري رحمه الله چې رد د قول د هدايې بلکې د مذهب د امام اعظم سراج الامة ابو حنيفه رحمه الله يې کړی دی او حديث د عائشې رضي الله عنها يې هم ضعيف ګڼلی و، داسې ليکلي دي حديث عائشة رضي الله عنها اورده صاحب المشكوة في باب يحل اكله وما لا يحل اكله من حديث عبد الرحمن بن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شبل رضی الله عنه نهی رسول الله ﷺ عن اکل لحوم الضب رواه ابو داوٗد، وروسته هغه سړي د مظهري د کامی له کبله داسي لیکلي دي هکذا وجدت في اصل النسخة.

ع،،، لن یصلح العطار ماافسده الدهر" والله اعلم بحقیقة الحال.

مسئله: د ملخ خوراک روا دی که پخپله مړ سي او که یې څوک مړ کړي، او مالک رحمه الله وایي که په خپله مړ سو خوراک یې نه دی روا، والدلیل علی قولنا قوله علیه الصلوة والسلام "احل لنا میتتان" یعني دوه شیان چې پخپله مړه سي "ودمان" او دوه قسمه ویني "اما المیتتان فالجراد والحوت" ملخ او ماهی.

یوه سه: چې مراد له ماهي څخه خلاف الطافي دی یعني په اوبو کې مړ وي او اوبو پر سر را اخستی وي "واما الدمان فالکبد والطحالي" رواه الشافعي واحمد وابن ماجه.

مسئله: د اهلي خره د غوښو خوراک حرام دی، په دې سره احتراز دی له ګوره خره څخه چې پر شکل د خره دی او غرنی پسه دی، او حرام دی خوراک د غاتري د غوښو عند الائمة الثلاثة. امام مالک رحمه الله وایي چې خوراک یې مکروه دی حرام نه دی، زمونږ دلیل دادی چې په حدیث کې د ثعلبه رضی الله عنه راغلي دي "حرم رسول الله ﷺ یوم خیبر لحوم الحمر الانسیة ولحوم البغال وکل ذی ناب من السباع وکل ذی مخلب من الطیور" رواه الترمذي، وعن جابر رضی الله عنه انه ﷺ نهی عن لحوم الاهلیة واذن في الخیل، متفق علیه. وعن جابر رضی الله عنه اطعمنا رسول الله ﷺ لحوم الخیل ونهانا عن لحوم الحمر" رواه الترمذي والنسائي.

مسئله: د آسانو د غوښو خوراک حلال دی په نهږ د جمهورو، وبه قال ابو یوسف ومحمد. وقال ابو حنیفة ومالک رحمهم الله چې د آسانو د غوښو خوراک مکروه دی، او د امام اعظم رحمه الله په مذهب کې اختلاف دی، بعض وایي خوراک یې مکروه تحریمي دی، او بعض وایي مکروه تنزیهي دی، صاحب الهدایة وایي چې اول یعني کراهة التحریم اصح دی، د جمهورو دلیل خو هغه دی چې تهر سو من حدیث جابر رضی الله عنه انه علیه الصلوة والسلام اذن في لحوم الخیل، او بل په حدیث کې د اسماء رضی الله عنها راغلي دي چې مونږ ذبح کړی په وخت کې د رسول الله ﷺ آس "فاکلنا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

منه ونحن بالمدينة" متفق عليه، امام اعظم رحمه الله وايي چې خداى جل جلاله په قرآن كريم كې وايي "والخيل والبغال والحمير لتركبوها وزينة" امام اعظم رحمه الله وايي چې دا خو په ځاى كې د امتنان پر مور خداى پاك ويلى، نو كه يې غوښې حلالې واى، نو اكل د غوښو خو لوى امتنان ؤ تر ركوب او زينت، نو حكيم خداى خو داسې نه كوي چې امتنان بالاعلى يعني اكل دې پرېږدي او امتنان بالادنى دې وكړي.

دروېش وايي: چې امام مظهري رحمه الله په دې ځاى كې هم له مذهبه د امام اعظم رحمه الله يعني مختاره يې مذهب د جمهورو دى يعني حل اكل لحوم الخيل لكه چې ياران او شاگردان د امام اعظم رحمه الله يعني ابو يوسف او امام محمد هم دې دوى لحل الخيل د حل قائله دي.

مسئله: پوه سه! چې "جلالة" هغه چرگه يا چرگ يا اوښ يا غوا يا پسه كه جنس نر وي او كه ښځه چې وخپل سر ته ايله وي، او مرداري يعني خپل غول يا د بل غول خوري، نو په نېږد ابو حنيفه، امام شافعي او د امام مالك ددغو شيانو د هگيو او د شيدو خوړل مكروه تحريمي دى كه يې بد بويي د غولو په شيدو يا په غوښو يا په هگيو كې محسوسه كېدل، او هغه دې بندي كړي په داسي ځاى كې چې مردار يو ته يې خوله نه رسېږي وعلى هذا فقس جنس البقر والغنم والابل تر هغه وخته چې د نجاست بوى يې له شيدو يا د غوښو يا له هگيو څخه محوه كېږي، يعني ائمه وو د بند مده نه ده ورته تاكلې، او د امام احمد په نېږد حبس مده كه د مرغه له جنسه و، لكه چرگ درې ورځې ده، او كه د اوښ له جنسه و څلو ښپې ورځې ده، او كه د بقر له جنسه و د پرش ورځې ده، كه د پسه له جنسه و اووه ورځې ده، او په يوه روايت كې د احمد رحمه الله تولو اجناسو دې درې ورځې بندي كړي.

والدليل على الحبس على اختلاف المذاهب هغه حديث دى چې مروي دى له ابن عباس رضي الله عنه څخه "نهى رسول الله عن لبن الشاة الجلالة" رواه احمد، وعن ابن عمر رضي الله عنه قال نهى رسول الله ﷺ عن اكل الجلالة اى اكل لحمها والبانها" رواه ابو داؤد والترمذي وابن ماجه، وعن عبد الله بن عمرو رضي الله عنه قال نهى رسول الله ﷺ عن الابل الجلالة ان يؤكل لحمها ولا يشرب لبنها ولا يركبها الناس حتى يعلفها

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اربعين" يعني د مردار يو له خوراک څخه دي يې په وښو سره څلو ېښت ورځي منع کوي، رواه البيقهي والدار قطني لکن هذا الحديث ضعيف ضعفه ابن الجوزي لان في روايته اسماعيل وابوه وهما ضعيفان. لکن په ځای کې د هغه حديث ضعيف حديث قوي سته، رواه احمد وابو داؤد والنسائي والحاکم عن عمر بن شعيب عن ابيه عن جده ولفظه نهى رسول الله ﷺ عن اکل الجلالة وعن رکوبها.

مسئله: له حيوانانو څخه د درياب ټولـه حرام دي الا السمک په نېږد ابو حنيفه رحمه الله، او د امام مالک رحمه الله په نېږد ټولو خوراک حلال دی حتی چونګانبن او چونګوښه او د ابو سپی او چې حيوان بحري پر شکل د څنزېر وي، امام مالک توقف کړی دی.

دروښ وايي: چې په حيوانات البحر کې اختلاف ډېر دی لکن دا خبره د اورېدلو وړ ده چې په حديث شريف کې راغلې دي چې بخاري او مسلم يې روايت کړی دی له جابر بن عبد الله ﷺ "غزوت جيش الخبط وامر علينا ابو عبيدة ﷺ" نو مورږ وږي سو "وجوعاً شديداً فالقى البحر حوتاً لم نر مثله يقال العنبر" نو مورږ پنځلس ورځې د هغه عنبر غوښې ټوله لښکر خوړلې تر مړ تيا پورې. نو امير الفوج ابو عبيدة ﷺ يوه پوښتنې له پښتيو څخه د عنبر و ودرول پر اوښ سپور سړی لاندې تر تېر سو، مورږ چې بېرته مدينې منورې ته راغلو عليه الصلوة والسلام ته مو دا قصه وکړه، نو عليه الصلوة والسلام راته وويل "خورئ دا يو رزق له درياب څخه خدای پاک درکړی دی، او که د هغه ماهي غوښې درسره وي مورږ ته يې هم راکړئ چې وه يې خورو، نو زمورږ سره څه غوښې وې هغه مو عليه الصلوة والسلام ته ورکړې او ده مبارک هم وخوړلې.

سوال: حنيفيان خو وايي چې د درياب له حيوانانو پرته له ماهي بل شی نه دی حلال؟

ځواب: دا خو هم ماهی و، کما يدل عليه لفظ الحديث حيث قال الروای فالقى البحر حوتا صرف دا قدر دی چې دومره غټ ماهي نه دوی عنبر ووايه ولا اعتبار للاسم بل المعتبر هو المسمى.

پوښتنه: د چونګوښې، چونګانبن، خو تکښ او يا مثل د هغو چې طبع سليم نفرت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څنې کوي د غوښو خوراک يې حلال دی که حرام. او که حرام وي دليل يې څه دی؟

خواب: دليل يې دادی قوله تعالی "ويحرم عليهم الخبائث" او بل دليل د حرمت يې حديث د عبدالرحمن ﷺ دی چې يو طبيب له عليه الصلوة والسلام څخه پوښتنه وکړه د هغې دوا په باره کې چې يو جزء يې چونګوښه وي. عليه الصلوة والسلام نهي وکړه له قتل څخه د چونګوښې رواه احمد وابو داؤد والنسائي بيهقي رحمه الله وايي چې دا يو قوي دليل دی پر حرمت د چونګوښې د غوښو.

مسئله: د سوي غوښې چې په عربي يې ارنب بولي حلالي دي اجماعاً لحديث انس ﷺ دی وايي چې موږ ولاړ کړی له خپله ځايه سوي په مر الظهران کې چې د يو ځای نوم دی، انس ﷺ وايي چې ما سوي ونيوی ابو طلحة ته مې راوړی هغه حلال کړی، او د هغه سوي يو ورون مو عليه الصلوة والسلام ته وړاستاوه. او عليه الصلوة والسلام هم قبول کړی متفق عليه. نو که حرام وای نو عليه الصلوة والسلام به نه قبولولای.

دروښ وايي: چې موږ قبلاً وويل چې طافي يعنې چې په اوبو کې د مخه مړ وي او اوبو پر سر را اخستی وي په نېږ د امام ابو حنيفه رحمه الله مردار دی خوراک يې حرام دی، او جمهور علماء وايي چې طافي حلال دی، او دليل يې حديث د جابر ﷺ وايي چې دمخه تېر سو په عنبر کې. او بل په دې قول د عليه الصلوة والسلام د درياب په باره کې هو الحل ميته.

والجواب: ان معنی حديث جابر ﷺ ان البحر القت حوتاً ميتاً ان البحر القی حوتاً فماتت بالقائه وذالک حلال بالاتفاق. ومعنی الحديث المذکور هو الحل ميتة هغه ماهی حلال دی چې درياب يې راوغورځوي حتی موت يې ودرياب ته مضاف سي وهو حلال اجماعاً لانه ليس من الطافي، دليل د امام اعظم رحمه الله په باره کې د طافي چې مردار دی هغه حديث دی د جابر ﷺ اذا طفا فلا تاکله که اوبو پر سر را اخستی و ماهی نو يې مه خوره. واذا جزر عنه المار فکله. يعنې که ماهی په اوبو کې د درياب غاړې ته راغلی او بيا اوبه ځنې ولاړې او دی مړ سو هغه خوره. وماکان علی حافية فکله او که د درياب پر غاړه ژوندی و او بيا مړ سي هغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خوړه، رواه الدار قطني.

فائده: علیه الصلوة والسلام د چرګ غوښې خوړلي دي متفق علیه عن ابي موسی رضی الله عنه.

فائده: سفینه رضی الله عنه چې د علیه الصلوة والسلام مریی و، وایي چې ما د علیه الصلوة والسلام د څارې غوښې خوړلي دي چې یو مرغه دی او په عربي یې حباري بولي.

مسئله: د رغم د غوښو خوراک مکروه دی، دا یو مردار خور مرغه دی چې په فارسي کې هغه ته کرګس وایي او په پښتو یې شیین بولي، ولي چې دی مرداري خوري، او هغه کمر (ابلک) کارګه چې هغه هم مرداري خوري خوراک یې مکروه دی، او داغه رنګه تور کارګه او بابنه ولي چې دوی هم مرداري خوري وکذا کل مایؤکل الجیف، او د کښت د کارګه غوښې پاکي دي، ولي چې دوی خو د کښت دانې خوري مردار شیان نه خوري او د درندګانو څخه د مرغانو هم نه دي، او د عقعق غوښې چې په پښتو یې ګیږ که بولي حلالي دي. ولي چې دا هم دانې خوري او هم مرداري نو په مثال د چرګ ده، او امام ابو یوسف رحمه الله یې مکروه بولي، ولي چې غالب خوراک ددوی مرداري ده.

مسئله: د بغات د غوښو خوراک هم مکروه دی، دا یو مرغه دی سپېره رنګ یې دی کذا في المنتخب، او مرداري خوري.

تمهید: دروېش وایي چې قبلاً په شان نزول کې د هغه "ویسئلونک" تېره سوه چې جبرائیل علیه السلام د رسول الله ﷺ څخه اجازه وغوښتل او علیه الصلوة والسلام اجازه هم ورکړه، لکن جبرائیل علیه السلام کورته نه ورغلی، نو علیه الصلوة والسلام پسې راووتی چې ما اجازه درکړه ته ولي نه راځي؟ جبرائیل علیه السلام وویل چې موږ هغه کورته نه ورځو چې په هغه کې سپی یا صورت یعني بت وي الی اخیر المبحث المذکور، نو ددې په رنا کې موږ غواړو چې مسائل د سپو د ساتنې او د بتانو اینسوولو په کورو کې چې مانع له دخول څخه د ملکو ګرځي وڅېړو.

مسئله: بعض خلګ خصوصاً پښتانه بعضې سپي ساتي او نه لذیذ خوراک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورکوي لپاره د جنګ د ورته سپي سره. یا د قمار پر شکل او یا د نامه لپاره. نو دداسي سپو ساتنه خو په کورو کي قطعاً حرامه ده او مانع ده له دخول څخه د ملکو د رحمت، په حدیث شریف کي روایت یې بخاي کړی دی چي علیه الصلوة والسلام چي د سپو د قتل امر وکړی صرف د درو قسمو سپو اجازه یې وکړه (۱)کلب الصید" چي شکار په کوي لکه تازیان یا نور ورته سپیان د شکار کما سیجئ في القرآن الکریم (۲) هغه سپی چي د کښت د ساتني لپاره وي له غلو یا له نورو درند ګانو څخه (۳) الکلب لماشیة" یعني هغه سپی چي څوک مالداري پسونه بزی وغیره لري نو له لهوانو څخه یې په سپي ساتي، او علماؤ پر دې قیاس کړی دی چي یو سړی غنمي وي سره او سپین زر د هر لري او بې کسبه وي، نو له غلو څخه بهر هڅي سپی په کور کي ودروي.

مسئله: بعض خلګ په کور کي خروڅی سپی ساتي د کور د ساتني لپاره نه بلکې د خلګو د ازارولو لپاره، نو د هغه سپي ساتنه هم حرامه ده چي په حدیث کي تېره سوه والکلب العقور، او په بعضو کورو کي لوی لکي سپیان وي چي هیڅ فائده نه وي پکښې هغه مانع د د خول د ملائکه وو د رحمت دي. باید داسې هم مسلمانان قتل کړي لانه قد مر قبل ذالک ان رسول الله ﷺ امر بقتل الکلاب.

دروښ وایي: چي دا و یو لږ بیان په باره کي د سپو د ساتني اوس د بتانو پر لور، په اوسني دور کي خلګو له مسالو څخه مجسمه بتان جوړ کړي دي حتی چي مکمل بت سترګي، لاسونه، پښې او په بعضو یې کالي لاهم اغوستي وي. نو خلګ ورځي دا قسم قسم بتان رانیسي او په کورو کي یې پر یو لوړ ځای اینبي وي لپاره د زینت یا د کوچنیانو د ساتېري لپاره. نو داسي بتان هم مانع دي له دخول څخه د ملکو د رحمت دداسي بتانو جوړول حرام دی او د داسي بتانو رانیول حرام دی، او ثمن یې حرام دی بالاجماع، او بعض پېړۍ الان له دېرو څخه د زمری یا بل حیوان مجسمه جوړه کړي او په کور یا په سرای چه کي یې د زینت او د تکبر لپاره اینبي وي وهذا حرام.

دروښ وایي: چي زما غرض موعظت و مسلمانانو وروښو ته که څوک عمل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په وکړي دده لپاره به خیر وي.

وَمَا عَلَّمْتُمْ مِّنَ الْجَوَارِحِ

او هغه تاسي ته روا دی چي تاسي تعلیم د ښکار ورته کړی وي له ښکاري درنده ګانو څخه.

پوه سه: چي جمله د "احل لکم الطیبات" چي دمخه ذکر سوه زائده ده پر مسئول عنه، ولي اصل سوال خو له علیه الصلوة والسلام څخه په باره کي د سپو و، نو خدای ﷻ امتناناً علی العباد جمله د "احل لکم الطیبات" ذکر کړه او اصل مقصود دا اوسنی جمله ده.

اعراب: "ماعلمتم" عطف دی پر "طیبات" باندي. ولي چي ما موصوله وي والعائد محذوف، والتقدیر "احل لکم صید ما علتموه" او من الجوارح" بیان دی د ما موصوله.

پوه سه: چي "جوارح" جمع د جارحة ده په معنی د کاسبة کما یقال فلان جارحة اهله ای کاسبهم، ولهذا ایضاً یقال لاعضاء الانسان جوارح لانها کاسبة وهذه السباع علی ماسنذکرها ایضاً کاسبة ځپل مالکانو ته د ښکار.

فائده: مراد له جوارحو څخه سباع البهائم والطیر دي فمن السباع چي تعلیم د ښکار زدکولای سي سپی، یږ، پرانګ وغیرها، او له مرغانو څخه باز، څرخک، شیین وغیرها، او "جارحة" مشتق دی له جراحت څخه، ولي چي دغه ښکاري حیوانات ښکار تپي کوي، او پر دې تاویل بناء ابو حنیفه، احمد او اکثره علماء مجتهدین رحمهم الله وایي چي په صید کي جرح او تپي کول ضروري دی، نو که کلب وغیره ښکار ونیسي بیله جرح یعني یا یې ووهي مړ یې کړي او یا یې تر ستونې ونیسي مړ یې کړي نو خوراک یې نه دی روا، او امام شافعي رحمه الله وایي چي جرح یې نه ده شرط بیله جرح هم حلال دی، نظراً الی التاویل الاول ای التاویل بکاسبة، صاحب هدایه وایي چي ددې دوو تاویلاتو منافات نسته ووجه الجمع بینهما الاخذ بالیقین ده وهو الجرح، او په کفایه شرح هدایه کي وایي که په نهي کي اختلاف د معاني و، نو که یې منافات و، نو په یوه تاویل به اخستل کوي،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بدلیل موجب لترجیحه، او که یې منافات نه و، یثبت ماهو متیقن کالجرح د قاله فخر الاسلام د ابو حنیفه رحمه الله پر اشتراط د جرح دا دلیل دی چې په حیوان کې چاره نسته له حلالهبدلو څخه. وفي الصید وان لم یمکن الزکوٰة الاختیاري فالادنی وهو الزکوٰة الاضطراري لابد منه وهو یحصل بالجرح لیخرج الدم.

مسئله: که ښکاري سپي ښکار وواهه او پوښنه یې ور ماته کړه دنته مثلاً، په یوه روایت کې د امام اعظم رحمه الله راغلي دي چې خوراک یې روا دی لانه جراحة باطنة فکانت کالجراحة الظاهرة لکن صحیح مذهب د امام رحمه الله دادی چې دا مردار دی نه خوړل کېږي، ولي چې اعتبار هغه جرح لره دی چې سبب د وتلو د وینې وګرځي او په کسر العضو سره خو وینې نه راوځي. نو دا داسې دی لکه چې خفه یې کړي، قال رسول الله ﷺ "ماانهر الدم وذکر اسم الله فکل" هغه زخم د سپي مثلاً چې وینه وه بیوي او نوم د خدای ﷻ یعنې په وخت کې د ایله کېدلو د سپي پر ویل سوی وي هغه خوره.

مسئله: چې په غشي ښکار وولي جرح یې شرط ده اجماعاً لحدیث عدي بن حاتم رضي الله عنه چې ما د علیه الصلوة والسلام څخه پوښتنه وکړه "انا نرمی بالمعراض" یعنې چې سر یې تېره وي او ټوړ پسور وي یعنې تېره نه وي، نو علیه الصلوة والسلام راته وویل "ماخرق" یعنې ښکار یې څېرې کړی، یعنې د هغه تېره سر پر ومښتی چې په ننوتی هغه خوره او که په پساره په صید کې ومښتی او ښکار یې مړ کړی هغه مردار دی فلا تاکل متفق علیه.

دروښ وایي: چې سبب د عدم اکل د شق ثاني چې ښکار یې په ثقل وژلی دی لکه سړی چې ښکار په ډبره وولي مړ یې کړي هغه مردار دی.

مسئله: ښکار کول په هر جارح د سباعو او د مرغانو روا دی او امام ابو یوسف زمری او لېوه ځنې مستثنی کړی دی، ولي چې دوه سباع د بل لپاره ګار نه کوي زمری په سبب د لوړ همت د بل لپاره کار نه کوي، او لېوه د خساسة الطبع له سببه د بل لپاره کار نه کوي، والحق بهما بعض الفقهاء، تپوس لخساسة الطبع او سرکوزی مستثنی دی اجماعاً لانه نجس العین لایجوز الانتفاع به بوجه من الوجوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: عن جابر ﷺ چې مور خو اولاً علیه الصلوة والسلام امر کړو په قتل سره د سپو ثم نهی عن قتلها رواه مسلم. یعني که څه هم ملکي د رحمت خو هغه کور ته نه ورځي چې سپي پکښې وي کمامر.

مُكَلِّبِيْنَ

"مکلبین" حال دی له ضمیر مرفوع څخه في علمتم"

پوښتنه: د مکلبین معنی خو هم تعلیم دی د سپي. نو وروسته تر علمتم و مکلبین ته څه ضرورت و؟

ځواب: مقصود له "مکلبین" څخه مبالغه ده په تعلیم کي او په شکارلو کي وښکار ته.

پوه سه: چې مکلب هغه سړي ته وایي چې سپی شکاري وښکار ته او تعلیم او ادب ورکوي، دا مشتق دی له کلب څخه.

سوال: دمخه تېره سوه چې ښکار د صید حصر په سپي نه دی بلکې یږ وغیره هم په ښکار ځلګ اموخته کوي، نو تخصیص د کلب یې ولي وکړی؟

ځواب: عموماً او اکثره تعلیم د سپو دی پر ښکار باندي بخلاف سائر السبع ممامر او په سپي کي تادیب او تعلیم ډېر دی تر نورو حیواناتو او آسان دی. او بل ځواب دادی چې مراد له کلبه یوازي سپی نه دی بلکې هر درنده ته کلب وایي. في القاموس الکلب، کل سبع عقور "نو کلب هغه نورو درندګانو ښکاریانو ته هم شامل دی. یؤید ذالک ماورد في الحدیث چې عتبه بن ابي لهب به همېشه و علیه الصلوة والسلام ته ښکنځل کول نو علیه الصلوة والسلام ښېرا ورته وکړه په دغو الفاظو "اللهم صلط علیه کلباً من کلابک" نو عتبه مذکوره په یوې قافلې کي د قریشو د شام پر خوا روان و، نو پر یو ځای یې وارول، نو عتبه ځپلو ملګرو ته وویل چې زه ډېر ډېرم له ښېرا څخه د محمد. نو دده ملګرو به پر ده باندي شاوخوا د قافلې جولونه راګرځول او پر هغو جولو به دوی کښېنستل دده د حفاظت لپاره. نو په شپه کي یو زمری راغلی عتبه یې ددوی له منځه پورته کړی یو یې وړی. اخرج هذا الحدیث الحاکم في المستدرک وقال صحیح الاسناد.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وایي: چې تعجب دی د کفارو د قریشو وزړونو ته چې عتبه مذکور د سره د دومرې بېرې له بنېرا څخه د علیه الصلوة والسلام ایمان یې نه پر راوړی، او د عتبه ملګرې هم د علیه الصلوة والسلام له بنېرا څخه دومره بېرې بدل چې پر عتبه به یې پېژېره کوله، او بیا یې هم علیه الصلوة والسلام په نبوت نه پېژندی، نو بیا چې زمری راغلی او عتبه یې ددوی له منځه پورته کړی، نو دې معجزې د علیه الصلوة والسلام پر دغو ملګرو د عتبه باید دا تاثیر کړی وای چې ایمان یې راوړی وای. فحقق القول من یضلل الله فلا هادي اللهم اهدني بهدایتک الی صراط مستقیم من المعتقدات والعملیات بحرمة صاحب المعجزات محمد المصطفی ﷺ آمین. في لیلة الخمیس قریب وقت الصبح ۱۲ شوال سنه ۱۴۲۷ هـ.

تُعَلِّمُونَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَكُمُ اللَّهُ

چې تاسي به تعلیم کوئ ودغو جوارحو ته یعني بنکاري حیواناتو ته له هغه علم څخه چې وتاسي ته خدای ﷻ دربنوولی دی یعني علم تادیب الکلب للصید.

پوه سه: چې نسبت ددې تعلیم خدای پاک وځان ته وکړی لان الاجماع منعقد علی ان العلوم کلها تصوریة کانت او تصدیقیة، بدهیة او نظریة الهام او بنوونه یې د خدای له خوا ده او عقل وفکر صرف اسباب عادیه دي بلکې علم پر نتیجه وروسته ترتیب د مقدماتو د قیاس پر صحیح وجه هم له جانبه څخه د خدای ﷻ دی علی مقتضی جری عادته تعالی بذالک.

علامات: سپی یا بل سبع هلته تعلیم یافته ګڼل کېږي چې په خپله په بنکار پسي نه ځغلي بلکې په شکارلو سره د مالک ځغلي، او که یې مالک وروسته تر شکارلو را وبولي راګرځي. او بله علامه یې داده چې بنکار چې وکړي خوراک نه ځني کوي. البته که یې له بنکار څخه څخېدلې وینه څتلې وي پروا نه لري، او سپی وغیره هلته معلم ګڼل کېږي چې دې واره دا موضوع پر تکرار سي.

دروښ وایي: چې عجیبه ځو داده چې حیوان فرمانبرداره ګرځي او کفار د مکې په مکرر و تعلیماتو سره د علیه الصلوة والسلام تعلیم یافته نه سوه چې ایمان یې راوړی وای.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَكُلُوا مِمَّآ أَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ

نو تاسي خوراک کوئ له هغو ښکارو څخه چي دې جوارحو ساتلی وي ستاسي لپاره يعني خوراک يې نه وي ځني کړی، او ددې تفسير دليل حديث د عدي بن حاتم رضي الله عنه دی چي دی وايي چي ماته عليه الصلوة والسلام وويل چي ته سپی په ښکار پسي ايله کوې نو د خدای ﷻ نوم ذکر کړه والمتعارف بسم الله الله اکبر، يعن په وخت کي د ارسال، نو که سپي ښکار وهلی و چي ته ور رسېدلې ښکار ژوندی و، نو يې ذبح کړه او که سپي وژلی و او خوراک يې نه و ځني کړی نو هغه ښکار خوره، او که سپي خوراک ځني کړی و، نو يې مه خوره، ولي چي سپي د ځان لپاره دا ښکار کړی دی ستا لپاره يې نه دی کړی تر پايه د حديث چي اوږد دی متفق عليه، او په يو روايت کي داسي راغلي دي ماعلمت من کلب او باز ثم ذکرت اسم الله عليه فکل الی اخير الحديث مثل مامر.

فائده: دا آيت په دغه تفسير چي له حديث څخه د عدي رضي الله عنه وفهمېدی دليل دی د ابو حنيفه، احمد او شافعي رحمهم الله تعالی وهو ان الکلب اذا اکل من الصيد لايباح اکله، بغوي رحمه الله وايي چي همدغه مذهب دی د ابن عباس رضي الله عنه وهو قول عطاء والشوري وابن المبارک رحمهم الله، او امام مالک رحمه الله وايي لاباس باکل الکلب من صيد ويحل اکله" او يو ضيف قول د امام شافعي رحمه الله هم دی، بغوي وايي وهو المروي عن ابن عمر وسلمان الفارسي وسعد بن ابي وقاص رضي الله عنهم.

مسئله: شرط والی د عدم الاکل لکه په سباع کي چي دی په سباع الطيور کي هم عدم الاکل شرط دی، او امام اعظم رحمه الله وايي چي په سباع الطيور کي عدم الاکل شرط نه دی، ولي چي د طيور بدن برداشت نه سي کولای د ضرب پر اکل باندي بخلاف بدن الکلب لانه يحتمل الضرب علی الاکل.

فائده: د لفظ د "من" په مما کي چي اصل يې من ما و بيا نون په ميم کي مدغم سو په قانون د زرادي وغيره، "من" تبعيضي دی، ولي تولې اعضاء د ښکار خو نه خوړل کېږي له هډو کی، پوستو کی، ښکي او کلمې، او "ما" موصوله ده او عائد يې محذوف دی او کلمه د علی متعلق ده په "امسکن" پوري، فالتقدير فکلوا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بعض ما امسكنه عليكم.

وَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهِ

او ذکر کوئ د خدای ﷻ.

پوه سه: چې ضمیر د "علیه" راجع دی و "ماعلمتم" ته ای سموا علیه عند ارساله او یا ضمیر و "ما امسکن" ته راجع دی ای سموا علیه اذا اذکرتم ذکوته.

فائده: په بعض حدیثو کې ذکر د اسم الله داسې ښول سوی دی بسم الله والله اکبر، والمستحب ان یقول بسم الله الله اکبر بدون الواو لان ذکر الواو یقطع نور التسمیة کما في شرح مختصر الوقایة.

فائده: په وخت کې د ذبح که د ښکار وي او که د پوسه وي ترک د توجه و قبلې ته یې مکروه دی لکن ذبیحه حلاله ده کذا في الذخیرة.

مسئله: متروک التسمیة عمداً مردار دی بخلاف متروک التسمیة نسیاناً فانه حلال فان النسیان عذر من الاعذار کما في الصوم.

مسئله: في الاشباه والنظائر. الصید مباح مگر نه د صرف ساتېري لپاره. کذا في البزازیة.

وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ۝

او له خدای ﷻ څخه وېرېږئ په تحقیق خدای پاک ژر دی حساب یې، تاسې ته حلال کړه سوي دي طیبات.

پوه سه: چې روح البیان او مظهري د "تقوی" معنا دلته په ترک د محرماتو کړې ده.

دروښ وایي: چې دا تفسیر په مقتضی د مقام دی لان الکلام في المحرمات والا فالتقوی یعم الاتیان بالفرائض والواجبات بل السنن والمستحبات وترک المنهیات ومعنی سریع الحساب انه تعالی سریع اتیان حسابه یعني في یوم القیامة لان ما یستقبل قریب وما مضی بعید.

اَلْيَوْمَ اُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبٰتُ ۭ

پوه سه: چې د "طیبات" بیان او تفسیر سره د تفصیله ورانده تېر سو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: طیبات" چې دمخه هم تېر سوه په قرآن کریم کې نو په بیا راګرځېدو کې بې څه حکمت دی؟

ځواب: ټوله مفسران وایي چې حکمت د د تکرار بې تاکید دی.

پوه سه: چې څه وخت چې آیت د کلب معلم نازل سو. نو علیه الصلوة والسلام اجازه وکړه د سپي د ساتني لکن هغه سپی چې فائده په اخستل کېږي. او نهي یې وکړه له ساتني څخه د داسي سپي چې فائده نه پر اخستل کېږي. او په حدیث شریف کې راغلي دي من اتخذ کلباً الا کلب ماشیة او صید او زرع انتقص من اجره کل یوم قراط" په بل حدیث کې راغلي دي "لاتدخل الملائکة بیتاً فیه صورة ولا کلب"

پوه سه: چې مراد له ملکو څخه ملکي د رحمت او د استغفار دي چې مسلمانانو ته طلب د بخښنې کوي او د برکت ملکي دي چې د مسلمانانو په کورو کې د زیارت او د ذکر او قرآن د اوریدلو لپاره د مسلمانانو کورو ته ورځي. او هرچه کرام کاتبین دي هغه خو له مکلف څخه نه جلا کېږي یو چشم زدن.

دروښ وایي: چې پوره تفصیل د سپو په باره کې او د پتانو په باره کې چې په شکل د ذي روح وي دمخه موږ وکړی. نو هغه تفصیل ته دي رجوع وکړه سي.

وَطَعَامُ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ حِلٌّ لَّكُمْ

او طعام د هغو کسانو چې دوی ته کتاب ورکړه سوی و. یعني الیهود والنصاری عام تر دې که ذبائح ددوی وي او که یې نور د کور خواړه وي حلال دي وتاسي ته.

له ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چې د علیه الصلوة والسلام څخه سوال وسو د عربو د نصاری وو د ذبائح په باره کې فقال لاباس به وهو قول عامة التابعین وبه اخذ ابو حنیفه واصحابه وحکم الصائبین حکم د نصاری وو دی په نېز د امام اعظم او یاران وایي چې صائبین دوه قسمه دي یو قسم هغه دي چې کتاب یې زبور دی ویعبدون الملائکة. او بل قسم یې هیڅ کتاب نه وایي او عبادت د ستورو کوي نو دا دوهم قسم یې اهل کتاب نه دي. نو ذبیحه یې مرداره ده.

مسئله: مجوسیان یعني آتش پرستان ددوی طریقه د اهل کتابو په اخذ د جزیه دون اکل ذبائحهم ونکاح نسائهم لقوله علیه الصلوة والسلام "سنوا بهم سنة اهل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الكتاب يعني في اخذ الجزية منهم غير ناكحي نسائهم ولا آكلي ذبائحهم مظهري رحمه الله وايي چي مراد له طعام څخه ددوی ذبائح دي.

دروښ وايي: والتعميم اولى كمامر ولعل المظهري خص بالذبائح لان الكلام في الذبائح دون سائر الاطعمة. والاول مختار صاحب روح البيان.

پوه سه: چي د ابن عباس رضي الله عنه قول روح البيان داسي نقل کړی دی چي ذبائح د نصاری وو د عربو "لاباس به" او مظهري د ابن جوزي چي د ابن عباس رضي الله عنه حديث يې راوړی دی وايي چي عليه الصلوة والسلام نهي وکړې له ذبائحو څخه د نصاری وو د عربو.

دروښ وايي: چي دواړه يعني حل د ذبيحه د نصاری وو د عربو لکه روح البيان چي وايي او د نهي او حرمت د ذبائحو د نصاری العرب لکه مظهري چي له ابن جوزي څخه نقل يې پر ابن عباس رضي الله عنه دی. نو والله واعلم بالصواب چي کوم يو به صحيح وي.

مسئله: صاحب الهداية وايي "لايؤكل ذبيحة المرتد يعني من كان مسلماً ثم ارتد والعياذ بالله فصار يهودياً او نصرانياً او مجوسياً او وثنياً لانه لاملة له لانه لايقر على ما انتقل اليه يعني بل يقتل بخلاف الكتابي اذا انتقل الى غير دينه لانه يقر عليه عندنا يعني لايقتل فيعتبر ماهو عليه عند الذبح يعني ان انتقل اليهودي الى النصرانية او بالعكس اكل ذبيحته وصيده" او كه يهودي يا نصراني مجوسي وګرځي نه ده روا يعني حلاله ده ذبيحه او صيد دده. والحاصل انه يعتبر حاله عند الذبح والصيد لاماقبله لانه يقر على ما اعتقد عندنا يعني لايقتل، كذا في الكفاية شرح الهداية.

مسئله: كه يهودي پر نامه د عزير عليه السلام شی ذبح کړی، او يا نصراني پر نامه د عيسى عليه السلام حيوان ذبح کړی زمونږ په نيز مردار دی، په كفايه كي وايي چي ذبيحه د كتابي ملته حلاله ده چي په وخت كي د ذبيح نوم د غير الله نه کړي ذكر مثل عزير او عيسى. او كه يې ذكر کړي بيا ذبيحه نه ده حلاله لكه مسلمانان چي په وخت كي د ذبح نوم د غير الله ذكر کړي بنبيا كان او وليا لقوله تعالى، وما اهل لغير الله كمامر. نو د كتابي حال تر مسلمان بالا نه سي كېداى يعني كه كتابي عزير يا عيسى ذكر کړی ذبيحه دې حلاله وي او كه مسلمان ذكر د غير الله وكړی ذبيحه دې مردار ه وي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې په حلال والي د ذبيحه د يهودي او يا نصراني چې نوم د عزير يا د عيسى په وخت کې د ذبح واخلي يا حرام والى د علماؤ د تابعينو خلاف دى، څوک يې حلاله بولي څوک يې مرداره بولي چې بغوي رحمه الله دا اختلاف ځپرلى دى، والفتوى عند الحنيفية پر دې ده چې که اهل کتاب يعنې يهودي يا نصراني حيوان ذبح کړي او په وخت کې د ذبح يې قصداً ذکر الله پرېښو او يا د عزير يا د عيسى نوم يې واخستى هغه ذبيحه موږ ته نه ده حلاله، لکن هلته چې موږ ته يقيناً او يا په غالب الظن سره حال د کتابي معلوم وي چې ده تسميه عمداً پرېښوله يا د عزير يا د عيسى عليهما السلام نوم يې واخستى عند الذبح. او يا غالب حال ددوى دغسې وي.

دروښ وايي: چې په اوسنى زمانه کې د يهودو او نصارى وو حال هيڅ نه دى معلوم چې دوى څرنګه ذبح کوي. او هر چا به اوربدلي وي چې په اوسنى زمانه کې يهود او نصارى بلکې د نړۍ ټوله کافران په ذريعه د مشين د هر پسونه مثلاً يا چرګان په يوه وار ذبح کوي، نو ذکر د اسم الله چېرې دى، او بعض خلګ واى چې پر آله د ذبح د مشين اسم الله نوشته وي، نو په اسم الله حلال سول.

دروښ وايي: چې ددې مثال داسې دى لکه يو مسلمان چې پر چاړه اسم الله نوشته کړى وي، او په وخت کې د ذبح په خوله بسم الله نه وايي. ئو دا ذبيحه حلاله ده؟ کلا. حاصل د کلام دادى چې د دروښ په عقيده په اوسنى زمانه کې له ذبائحو څخه د اهل کتابو احتراز کول اولى دى، البته که مسلمان ولاړ وي او يو يهودي يا نصراني په لاس يو حيوان ذبح کوي او په وخت کې د ذبح فقط الله اکبر ووايي د هغه خوراک و مسلمان ته حلال دى.

وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ لَّهُمْ

او ستاسې طعام يعنې ذبيحه ودوى ته حلاله ده.

پوښته: ددې آيت څه مطلب دى چې ستاسې د مسلمانانو ذبائح ودوى ته حلالي دي؟

ځواب: زجاج رحمه الله په اجمالي عبارت او بيضاوي رحمه الله په مفصل عبارت ويلي دي چې ددې آيت معنا داده چې پر مسلمان ګناه نسته چې خپله ذبيحه په اهل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کتابو خوري او یا یې پر خرڅوي او که د اهل کتابو ته زمونږ ذبیحه نه وای حلاله. نو خورل یا خرڅول یې پر دوی باید نه وای روا. او بعض مفسران ددې آیت ترجمه داسې کوي چې که اهل کتاب ذبائح د مسلمانانو وخوري ودوی ته ددغه خورلو عذاب نسته. البته د کفر عذاب ورته سته والله اعلم.

وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ الْمُؤْمِنٰتِ

پوه سه: چې "والمحصنٰت" مبتداء. ده خبر یې محذوف دی لدلالة ماتقدم علیه ای حل لکم ایضاً. او بعض مفسران وایي چې عطف دی پر "طیبات" باندې، والتقدیر "احل لکم المحصنٰت" د محصنات ترجمه بعض مفسران په حرائرو عفائفو سره کوي، یعني حره به وي زانیه به نه وي. لکن ددې دوو قیدو مطلب دادی چې مسلمانان باعشه وگرځي پر ماهو الاولی والاحری. او دا یې نه ده معنا چې ماسوا له دوی څخه نه دی روا. ولي چې د مینځیانو مسلمانانو نکاح خو هم روا ده بالاتفاق، او د زانیاتو نکاح هم روا ده. او مینځیاني چې کتابیاتي وي د هغو نکاح هم روا ده په نهږ د ابي حنیفه خلافاً للشافعي. او بغوي رحمه الله وایي چې اکثره علماء پر دې دي چې مراد له "محصنٰت" څخه فقط حرائر دي، نو د آیت معنا داده چې نکاح د هري حرې ښځې که مسلمه وي او که کتابیه وي که فاجره وي او که عفیفه وي نکاح یې روا ده. وهذا قول مجاهد رحمه الله، اودغه کسان روا نه بولي نکاح د کتابیه مینځي، ولي خدای پاک داسې ویلي دي "من فتیاتکم المؤمنات" نو له دې آیت څخه دا معلومیږي چې نکاح د مینځي مقیده ده ددې په ایمان سره؟

الجواب من جانب الحنیفیة چې دوی روا بولي نکاح د کتابیه مینځي ان قول البغوي مبني علی اعتبار المفهوم المخالف، ولي چې مفهوم مخالف لقوله تعالی "من فتیاتکم المؤمنات" چې کتابیه به نه وي، والمفهوم المخالف غیر معتبر عند الحنیفیة.

سوال: حنیفیان په څه شي سره دلیل وایي پرجواز د نکاح د کتابیه مینځي حتی ولو کانت غیر عفیفه؟

خواب: حنیفیه په هغه آیت سره دلیل وایي چې خدای پاک چې محرماتي ښځي ذکر کړي دي وروسته یې داسې ویلي دي "واحل لکم ما وراء ذالکم" نو دا آیت په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عموم سره امت کتابیه ته هم شامل دی حتی ولو کانت غیر عفیفة، او د آیت مذکوره عموم ددې تقاضاء کوي چې نکاح د کتابیه حربیه هم روا ده، وعلیه انعقد الاجماع که څه هم ابن عباس رضی الله عنه وایي چې نکاح د حربې سره نه ده روا، والله اعلم بالصواب والیه المرجع والمآب.

وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ

او روا دي وتاسي ته محصنات ښځي د هغه کسانو چې دوی ته ورکړه سوی دی کتاب دمخه تر تاسي یعني الیهود والنصاری.

پوښتنه: له محصناتو څخه د "الذین اوتوا الکتاب" څه شی مراد دی؟

ځواب: مراد څنې ددوی حري ښځي دي چې عفائف هم وي.

سوال: نو ددې آیت دا معنا ده چې د مینځې کتابیه سره نکاح نه ده روا او چې غیر عفیفه وي د هغې سره نه ده روا، او سره ددې چې آنفاً تېره سوه چې د مینځې کتابیه سره نکاح روا ده او د غیر عفیفې سره هم نکاح روا ده که حره وي او که مینځه کمامر ایضاً؟

ځواب: ماذکرت یې معنی نه ده حتی یرد علیه السوال المذکور بلکې ذکر د محصنات په دې آیت کې لپاره د منت او احسان ښکاره کولو د خدای ﷻ دی پر مسلمانانو والمنة والاحسان في الحرائر العفائف اعظم و اتم دی، حاصل د جواب دادی چې مراد له محصناتو څخه په دې آیت کې حرائر عفیفه د اهل کتابو دي، وتخصیصه بالذکر الامتنان لا لتقیید بهن لما عرفت من جواز نکاح الامة من اهل الکتاب وجواز نکاح غیر العفیفة منهم فافهم.

مسئله: افضله خو داده چې سړی د مسلمانې ښځې سره چې حُره وي نکاح وکړي، ولي موافقة في الدین خو لوی سبب دی د محبت بین الزوجین وفي نکاح المسلم الکتابیة لوی لوی خطرې سته کما لا یخفی، او چې سړی قدرت پر نکاح د مسلماتو حراتو نه لري، نو بیا ددې حرائرو کتابیاتو په نکاح کړي مع القدرة علیهن، ولي چې نکاح د مینځې مفضي گرځي د رقیت ته د اولادو دده، ولي چې ولد تابع د مور دی په حریت او رق کې، نو لکه د سړي چې خپله مریتوب نه دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خوښ، نو باید پر اولاد باندې هم رقیت خوښ نه ولري، پښتانه وایي!
بنده راسه د خدای خپل سه،، لکه پر ځان داسې پر خپل سه

دروښ وایي: چې ابن عمر رضي الله عنه خلګ او مسلمانان منع کول له نکاح څخه د کتابیه مطلقاً که حره وي او که مینځه، او که ذمیه، او که حربیه وي، او ویلي یې دي چې کتابیات په مشرکاتو کې داخل دي، قال ابن عمر رضي الله عنه قال الله تعالی "قالت الیهود عزیر ابن الله وقالت النصاری المسیح ابن الله، وای شرک اعظم من ذالک، وقد قال الله تعالی "ولا تنکحوا المشرکات حتی یؤمن" نو ځکه ددوی نکاح مسلمان ته نه ده روا، او ابن عمر رضي الله عنه تفسیر د محصناتو په آیت کې په مسلماتو سره کړی دی، او مظهري په دې هره دلاوری داسې عبارت په شان کې د ابن عمر رضي الله عنه استعمال کړی دی، وهذا التفسیر لیس بصحیح فان تفسیر المحصنات بالمسلمات لیس من اللغة، ددې معنا ګویا داده چې مظهري ځان خبر بولي په لغت عربي تر ابن عمر رضي الله عنه، ثم قال وقد انعقد الاجماع علی حل نکاح الحرة الکتابیة آه، یعني ابن عمر رضي الله عنه له اجماع څخه مخالف دی.

پوه سه: چې دروښ له مراد څخه د مظهري مخالف نه دی لکن صرف د سخت عبارت استعمالول په شان کې د صحابي بن الصحابي یعني عبدالله بن عمر رضي الله عنهما مخالف دی یعني څه نرمي باید مظهري استعمال کړې وای مراعاتاً للادب،، ع،،، وللناس فیما یعشقون مذاهب.

مسئله: د مسلمان نکاح د کتابیه سره مطلقاً مکروه ده اجماعاً، ولي چې د مېړه او ماینې تر منځ طبعاً محبت او عشق وي، نو په دې نکاح کې محبت دی د مسلمان په ذات کافر سره ولا ینبغي ذالک للمؤمن، او بل دلیل د کراهت دادی چې اولاد تر پلار د مور سره ډېر محبت او الفت لري، نو په دې نکاح کې به غالباً اولاد د مور و دین ته مائل سي وهذا مجرب، ابن همام په فتح القدیر کې وایي چې حذیفه، طلحة او کعب بن مالک رضي الله عنهم کتابیه ښځې په نکاح کړې وې فغضب امیر المؤمنین عمر رضي الله عنه، فقالوا آیا مو پرې طلاق ورکړو ودغو کتابیاتو ته؟ قال نعم له دې قصې څخه دا معلومېږي چې نکاح خو یې صحیح ده، ولي چې طلاق فرع د نکاح دی ویدل علی کراهة ذالک النکاح جداً.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تنبیه: د امام اعظم رحمه الله او د صاحبینو په منځ کې اختلاف دی چې په نامه د صابئین یوه ډله د کافرانو ده، نو نکاح ددوی د ښځو د مسلمانانو سره روا ده که نه، ذبیحه یې حلاله ده او که مردار ده وهکذا صیدهم، ابو حنیفه رحمه الله یې دا ټوله شیان حلال او روا بولي. ولي د امام اعظم خیال دادی چې دوی پر زبور د داؤد علیه السلام ایمان لري، نو دوی له اهل کتابو څخه دي وما وقع في بعض المواضع انهم مع ذالک یعبدون الملائکة فغلط لان عبادة الملائکة شرک لایجتمع مع الایمان بالزبور، وکذا من آمن بصحف ابراهیم وشیث علیهما السلام من اهل الکتاب، او یارارن ددوی د ښځو نکاح روا نه بولي ذبیحه او صید یې مردار بولي. ددوی دا خیال دی چې صابئین د ستورو عبادت کوي، نو مشرکان دي، ولهذا قال صاحب الهدایة چې دا اختلاف د امام اعظم رحمه الله او صاحبینو مبني دی پر اشتباه د مذهب ددوی فکل اجاب علی ما وقع عنده ولاخلاف في الحقیقة.

دروښ وایي: چې د فقهي یو مشهور کتاب دی چې مستصفی یې بولي په هغه کې وایي چې روا والی د نکاح د نصرانیه ښځي هلته دی چې مسیح علیه السلام آله نه بولي. او که ددوی عقیده د الوهیت وه عیسی علیه السلام ته بیا ددوی د ښځو نکاح نه ده روا، او په مبسوط کې د شیخ الاسلام راغلي دي یجب ان یؤکل ذبائح اهل الکتاب اذا اعتقدوا ان المسیح آله او ان عزیر آله، ولا یتزوجوا نسائهم قیل علیه الفتوی، ولکن بالنظر الی الدلائل القرآنیة و الآیات الفرقانیة ان یحل الاکل والتزوج انتهی قال ابن الهمام وهو موافق لما في باب رضاع مبسوط شیخ الاسلام في ذبیحة النصراني انه حلال مطلقاً سواء قال بثالث ثلثه في حق عیسی اولا، لاطلاق الکتاب ه یعني قوله تعالی "وطعام الذین اوتوا الکتاب حل لکم" مظهري رحمه الله وایي چې ظاهره داده چې دا حکم ددوی په موحدینو سره مخصوص دی په دلیل ددې قول د خدای ﷻ "ولا تنکحوا المشرکات حتی یؤمن" او چا چې ویلي دي چې حکم د حرمت د مشرکاتو د نکاح منسوخ دی په حق کې د اهل کتابو بهذه الآیة یعني "والمحصنات من الذین اوتوا الکتاب من قبلکم" دا قول بعید جداً لعدم الفرق بین شرک فرقة ومشرک فرقة اخری واما قوله تعالی قالت الیهود عزیر ابن الله وقالت النصاری المسیح ابن الله هغه قائلین په دوی کې اوس نسته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بلکې هغه دور اوس په دوی کې ختم دی، قال ابن همام رحمه الله چې زمونږ د وطنو یهودان له قول څخه د بنوت د عزیر بېزاره دي او په توحید او تنزیه قائل دي، دی وایي هر څه چې نصاری دي مونږ هیڅ نه دي لیدلي ددوی په کتابو کې مګر تصریح په زوی والي د عیسی علیه السلام کوي لعنهم الله.

دروېش وایي: چې په بعضو کتابو کې ددوی چې په اردو ژبه ترجمه سوي دي داسې عبارت موجود دی "مسیح زنده خدا ہے" او په بعض کتابو کې بیا ددوی داسې عبارت سته "مسیح اپنی باپ کی ساتھ ہے" نو له دې عبارتو څخه دا معلومېږي چې نصاری وه حکم ته د الوهیت د عیسی او یا حکم ته د نبوت د عیسی اوس هم په ډډه ولاړ دي. دا و تحریر ددې مقام حسب طاقة العبد الضعیف والعلم عند الله العزیز العلام.

إِذَآ ءَاتَيْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ

چې تاسي ورکړي وي ودوی ته مهرونه ددوی.

پوه سه: چې ورکړه د مهر د نکاح د صحت شرط نه دی بلکې دا شرط یې لپاره د تاکید د وجوب المهر روایه او لپاره د باعثه کولو پرورکړي د ولور، او بعض مفسران وایي چې مراد له ایتان څخه التزام د ولور دی، او التزام خو په نکاح سره دی.

مُحْصِنِينَ غَيْرَ مُسَٰفِحِينَ

چې تاسي ساتونکي د فرج یاست په نکاح سره له زنی څخه، چې ورکړه د اجور لپاره د زنا، نه وي یعني خپلي اوبه یعني نطفه ضائع کوي له حلاله څخه په حرام کې چې مزنیه ده هر څوک چې وي.

فائده: اذا" ظرفیه ده، عامل یې "احل" دی چې محذوف دی او "محصنین" حال دی له فاعل څخه د "آتیتموهن" او د "مسافحین" معنا مجاهرین بالزنی فیصح مقابلته بمابعده.

وَلَا مُتَّخِذِيٓ أَخْدَانٍ

پوه سه: چې "اخدان" جمع د خدن ده چې معنی یې یار او اشنای دی، نو معنا یې داده چې په پټه به هم زنی نه کوي، امام شعبي رحمه الله وایي چې زنی دوه قسمه ده، یو سفاح چې زنی بالاعلان ده او بل اتخاذ الخدن ده چې په پټه سره زنی ته وایي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَنْ يَكْفُرْ بِالْإِيمَانِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ ۝

او چې څوک کفر وکړي په ایمان سره یعني په شرائعو سره د اسلام نو توله خیر دده لکه صدقه وصلة الرحم مثلاً لغوه دی یعني په ورځ د قیامت ثواب نه لري لان الایمان شرط لاعمال البر.

مسئله: امریکایان چې هرڅوڼه کومک د مسلمانانو سره کوي هغه هیڅ ثواب په اخرت کې نه لري لان کفرهم مانع من ذالکم وکذا المؤسسات الخیریة للکافرین لاخیر لهم فیها یوم القیامة لعدم الشرط وهو الایمان، قال الشیرازي

برفتند وهرکس دردود انکه کشت نماند بجز نام نیکو وزشت

پوه سه: چې کفر اقبح د قبائحو دی لکه ایمان چې احسن د محاسنو دی، کعب احبار وایي چې نوح علیه السلام چې وفات کېدی، نو خپل په زامنو کې یې سام را وغوښتی او ورته وه یې ویل چې زه تا په دوو شیانو سره امر کوم او له دوو شیانو څخه دې منع کوم. اول د مامور به شهادة ان لا اله الا الله، ولي چې دا هغه کلمه ده چې اووه اسمانونه یې حجاب نه سي کېدای بلکې دا سیده تر خدای پاک پورې رسېږي. او دا هغه کلمه ده چې اووه اسمانونه او مځکې په یوه پله کې د ترازو د قیامت په ورځ کښېښول سي او دا کلمه په بله پله کې د میزان کښېښول سي دا کلمه به درنه وي.

سوال: هر مسلمان چې پر توحید مړ سي، نو دا کلمه مبارکه خو ورسره ده، نو باید هیڅ مسلمان که هرڅو ګناه کار وي او بې توبې مړ هم سي و دوزخ ته داخل نه کړل سي وهذا خلاف عقائد اهل السنة والجماعة؟

ځواب: د څلورو سره مذهبو علماء وایي چې کلمه طیبه د هر مؤمن نه تلل کېږي الا من شاء مغفرته، ومن هذا قالوا "به بهانه می بخشد"، وبیهانه می بخشد" او دوهم مامور به ویل دي د سبحان الله والحمد لله، فانها جامعة للمثوبات، او اول منهي عنه شرک دی، او دوهم تکیه کول پر غیر د خدای ﷻ، ولهذا ورد "ومن یتوکل علی الله فهو حسبه" له دې سببه اولیاء الله الکرام وایي چې څوک چې "حسبنا الله ونعم الوکیل" روزانه پنځه سوه (۵۰۰) واره وایي په اول او اخیر کې یې لس (۱۰) واره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درود وايي خدای پاک به ټوه مايحتاج اليه ورکړي من حيث لا يحتسب.

دروښ وايي: چې د مؤمن ايمان په بعضي قولي خبرو او په بعضي عملي کارو له منځه ځي. نو بايد مسلمان قول يا عمل ونه کړي چې ايمان يې له منځه ولاړ سي. د مثال په توګه په قولي شيانو کې سب (بنکنځل) دي و عليه الصلوة والسلام ته، او په عملي کارو کې قرآن پاک په قاذوراتو کې غورځول دي.

پوه سه: چې په نصاب الاحتساب کې وايي چې هغه قول يا عمل چې کفر وي بلا خلاف کالمثالين المذکورين، هغه ټوله اعمال د خير او عبادات چې سړي کړي وي ټوله لغوه او باطل ګرځي. او که يې حج کړی وي پس له توبې به بيا حج کوي او د مايښې سره جماع حرامي دي او که په دغه دوران کې دده عيال پيدا سي هغه اولاد الزنی دی، او که دغه سړی د شهادت کلمه پر طريقه د عادت وايي او د هغه قول يا عمل څخه يې توبه نه وي کښلې په هغه شهادت نه مسلمانېږي لان الاتيان بکلمة الشهادة على طريق العادة لا يرفع الكفر المحقق بلا ريبة. او که چېرې د هغه قول يا عمل په کفر کې د علماؤ اختلاف و، نو ويونکی دې امر سي په تجديد د نکاح او عمل و عبادت يې نه لغوه کېږي او په توبه سره دي امر سي. كل ذالك احتياطاً. او بل حج کول هم نه دی پر لازم الا لوجه الاحتياط. او که چېرې هغه قول غلط قول و، او کفر يې نه اتفاقاً نه اختلافاً لازموی لکن البته ګناه وي، نو قائل يې پر خپل ايمان دی په تجديد د نکاح نه امر کېږي. او علماء دي دی امر کړي په توبه او استغفار سره. انتهى كلام نصاب الاحتساب مع زيادة والرجل والمرئة في ذالك سواء.

دروښ وايي: چې ټوله الفاظ د کفر اتفاقاً او اختلافاً په پښتو او فارسي کې بېخي ډير دي چې د ټولو راوړل به ډېر وړقي وغواړي، که څوک تفصيل د ټولو وغواړي جامع الفصولين دي مطالعه کړي چې د هغه کتاب مصنف ډېر کوشش کړی دی په جمع کولو کې د هغو الفاظو شكر الله سعيه لکن په اوسنۍ زمانه کې داسي ده چې خلګ په الفاظو کې د کفر پوښتنه د يو عالم پرځنه او تقوی داره څخه نه کوي او که يې ذکر يې بيا هم عمل نه په کوي، يا ورځې يو امام ته يا خدای نه ترسه ملا ته جاهل هغه ورته وايي چې په دې خبرو کې هيڅ ډول د کفر نشته.

شان نزول: بخاري له عائشې رضي الله عنها څخه په سند متصل روايت کړی دی، د اوايي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې مونږ په یو سفر کې و. له هغې خوا څخه چې به راستانه سوو که عذر نه وای مونږ مدینې منورې ته رسېدلای سوای اتفاقاً زما غاړکی د بیداء په مقام کې له غاړې څخه لوېدلې وه. نو ما چې علیه الصلوة والسلام ته وویل ده مبارک لښکر مؤجل کړی، نو خلګ زما پلار ابوبکر ﷺ ته ورغله چې ستا لور وګوره علیه الصلوة والسلام یې سره د خلګو له تلو څخه بند کړی. او حال دادی چې نه دلته اوبه ستە او نه د خلګو سره ستە. نو ابوبکر ﷺ راغلی او علیه الصلوة والسلام زما پر ورانه باندې سر اینبسی دی بیده دی، نو زه ابوبکر ﷺ تینګه لغته ووهلم لکن زه ونه ښورېدم ولې چې د علیه الصلوة والسلام سر زما پر ورانه و. ابوبکر ﷺ راته وویل خلګ دي له سفره بند کړه په یوه غاړکی. ولیسوا علی ماء. ولیس معهم ماء. وروسته علیه الصلوة والسلام راوښې سو او سپېدې سوې اوبه یې طلب کړې اوبه نه وې فنزلت هذه الآیة.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَوٰةِ

یعنې چې په پای کې ددغه آیت تیمم نازل سو. نو په سبب د آیة التیمم اسید بن حضیر ﷺ وویل لقد بارک الله للناس فیکم برکة یا آل ابي بکر والله چې خدای برکت اینبسی دی په تاسې کې یا اولاد د عائشې ﷺ وروسته چې مونږ اوښې ولاړې کړی غاړکی. تر اوښې لاندې وه. ګویا په دغه وخت کې ددې غاړکی. ختلې وه چې له اوښه راکښته کېده. مظهري وایي چې له دې حدیثه د بخاري داسې صراحةً وفهمېده چې په نازل قصه کې د غاړکی د عائشې ﷺ دا آیت دی چې په سورت مائده کې دی نه دغه آیت چې په سورة النساء کې دی، او له دې قصې څخه دا هم معلومه سوه چې دا آیت دمخه دی په نزول تر آیت د سورة النساء والا لما عاتب عائشة بقوله حبست الناس لا علی ماء ولا ماء معهم وما شکر اسید بن حضیر الی ابی بکر ﷺ. ولې چې په قصه کې د سورة النساء چې هم غاړکی د عائشې ﷺ ورکه ده او لغته د ابوبکر عائشې ﷺ ته. او شکر د اسید ﷺ نسته.

دروښ وایي: چې نه روح المعاني او نه روح البیان هیڅ تعرض ودې شان نزول ته نه دی کړی صرف مظهري دا شان نزول راوړی دی والله اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: ددې آیت ظاهراً معنا څو داده چې داسې پر لمانځه ودریږئ بیا اودس تازه کړئ، او سره ددې چې اودس خو تر قیام الصلوة دمخه دی؟

ځواب: ددې پوښتنې ځواب څو اکثره مفسرینو او شراح د هدایې داسې ورکړی دی اذا اردتم قیام الصلوة، نو د ارادې ځخه د فعل چې سبب دی په فعل سره یې تعبیر وکړی چې مسبب دی لپاره د ایجاز او تنبیه پر دې باندې چې ځوک اراده د یو عبادت وکړي، نو تلوار دې کوي، ګویا دا عبادت په زمانه کې د ارادې پیدا سو، او زید بن اسلم ددې پوښتنې ځواب داسې ورکړی دی چې معنی د آیت داده "اذا قمتم الی الصلوة من النوم"

دروښ وایي: چې دا ځواب بعید دی اذ لا دلیل علی قید النوم.

پوښتنه: له دې آیته خو داسې فهمیږي چې هر ځوک اراده د لمانځه وکړي که څه هم اودس لري اودس به تازه کوي وهو خلاف الاجماع، عامه مفسرین ټوله شراح د هدایې دا قید ورځخه محذوف بولي وانتم محدثون، او په صحیح حدیث کې چې روایت یې ابو داؤد، ابن ماجه، ترمذي او نسائي کړی دی چې علیه الصلوة والسلام په کال کې د فتح مکې ډېر لمونځونه په یوه اوداسه وکړه، او مسح یې پر موزو وکړه، او سره ددې چې د علیه الصلوة والسلام عادت دا وچې هر لمانځه ته به یې اودس تازه کاوه، نو ځکه عمر ﷺ پوښتنه ځنې وکړه چې تا ټول یو داسې کار وکړی یعني ډېر لمونځونه په یوه اوداسه چې په خوا دي نه کاوه یعني په خوا خو دي هر لمانځه ته اودس تازه کاوه، علیه الصلوة والسلام ورته وویل عمداً صنعته یا عمر، په قصد مې دا کار وکړی یعني لپاره د بیان د جواز تاچې پر امت حرج رانه سي بظن ان الوضوء واجب لکل صلوة، نو ددې آیت په تاویل بعض علماء وایي چې امر د اوداسه د هر لمانځه لپاره ندب دی، او امت پر دې اجماع کړې ده چې اودس مندوب دی د هر لمانځه لپاره وان کان المصلی طاهراً ویدل علیه حدیث ابن عمر ﷺ ان النبي ﷺ من توضاء علی طهر کتب له عشر حسنات، رواه النسائي، وایضاً یدل علی کون الوضوء مسنوناً مندوباً، چې له حضرت انس ﷺ حدیث دی قال کان النبي ﷺ یتوضوء عند کل صلوة الی اخیر الحدیث.

فائده: د اوداسه فرضیت د لمانځه د فرضیت سره راغلی دی په وحي غیر متلو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سره، او په دې آیت کې فرضیت په وحي متلو سره د بیان د کیفیت ثابت سو، قاله اصحاب المذهب کلهم کما روی ابن عبدالبر عنهم، او مظهري رحمه الله وایي چې اودس اول الامر واجب و پر علیه الصلوة والسلام لپاره د هر لمانځه، نو چې پر ده مبارک دا کار سخت سو، بیا نو امر په مسواک سو د هر لمانځه لپاره، او مظهري دلیل په حدیث د حنظله بن عامر غسیل الملائکة ویلي دی چې هغه وایي ان النبي ﷺ امر بالوضوء عند کل صلوة طاهراً کان او غیر طاهر ثم نسخ الوضوء وامر بالسواک الی اخیر ماقال المظهري رحمه الله.

دروښ وایي: چې صحت د حدیث د حنظله رضي الله عنه مسلم دی لکن ددې آیت سره څه کار لري، ولي چې په آیت کې صیغه د جمعې راغلې ده "اذا قمتم" او خطاب و تولو مسلمانانو ته دی "یاایها الذین آمنوا" او داسې نه دي ویل سوي "یاایها النبي اذا قمت آه" نو وجوب د اوداسه پر علیه الصلوة والسلام په قرار د حدیث د حنظله رضي الله عنه لپاره د هر لمانځه طاهراً کان او غیر طاهر په وحي غیر متلو سره و، نو ددې وجوب ربط ددې آیت سره ورکول کما فعله مظهري رحمه الله بې ځایه دی.

فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ

تاسې منځې خپل مخان،

دروښ وایي: چې مفسرین تولې په اتفاق او کتابونه تولې د فقهاؤ په یوه خوله وایي چې غَسل بهیول د ابو دي پر عضو باندې که دلک یعني منبوول ورسره وي که نه، او وجه نوم دی د عضو مخصوص من المواجهة، ولي چې مخ سره مخامخ کیده د انسانانو تر منځ کیږي، او اندازه د مخ په طول کې له شنه کیدو ځخه د وینښتانو د سر دی یعني حسب العادة په اکثرو خلګو کې فلا یرد الاصلع چې سر یې تر منځه پورې د وینښتانو ځخه خالي وي لکه د سپین ږیرو خلګو دا. او داغه رنګه سوال نه وارد ږیرې په اغم سره چې وینښتان یې تر منځه پورې د تندي شنه وي "الی اسفل الذقن" تر زنه لاندې پورې، او اندازه د عرض د یوه غوږ له نرمي ځخه د بل غوږ تر نرمي پورې، نو ددې تولې مخ یو وار پرېولې فرض دی او دریم واره پرېولې یې سنت دی.

مسئله: که ورځې ډېرې ږیرې وي، اوبه رسول و ماتحت ته د هغو فرض دی داغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

زنګه د بانو ګانو د ستر ګو او ماتحت ته د برېتو او د وېښې بڼ ګر چې عنفقه يې بولي که ګڼ وي.

پوه سه: چې عدم اشتراط د دلک مذهب دی د ائمة ثلاثه خلافاً لمالک هغه وايي چې دلک فرض دی.

مسئله: پرېښول د هغه خالي ځای چې په منځ کې د وېښې او د غوږ وي فرض دی.

مسئله: زېره که سپکه وه چې په پښتو يې ځوکړ بولي چې لاندې تر وېښتانو يې معلومېدی نو پرېښوله د پوست يې فرض دی، او که کثيف وه يعنې ګڼه زېره وه چې پوست يې نه معلومېدی، نو د پوست پرېښوله يې فرض نه دی البته تخليل يې سنت دی چې اوبه پوست ته ورسېږي. کما يسقط مسح د پوستکي د سر بالشعر الثابت عليه، او دليل پر دې دی چې د ګڼې زېرې لپاره اوبه باطن ته د زېرې رسېدل نه غواړي، اول خو اجماع د امت مرحومه ده، او دويم دليل په فعل د عليه الصلوة والسلام دی چې دده مبارک زېره هم ګڼه وه چې بخاري له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت کړی دی انه ﷺ كان يغسل وجهه بغرفة" چې عليه الصلوة والسلام پرېښولی مخ مبارک په يوه غبرګه اوبو سره، وفي مسلم من حديث جابر رضي الله عنه كان رسول الله ﷺ كثير شعر اللحية. او دا بدهي او ښکاره خبره ده چې يوه غرفه اوبه وباطن ته د وېښتانو د کث اللحية نه سي رسېدای.

مسئله: واجب دی پرېښوله د ظاهر د زېرې تولې عوضاً عن البشرة عند الجمهور وبه قال ابو حنيفة رحمه الله في رواية قال في الفتاوى الظهرية وعليه الفتوى وفي البدائع ان ماعدا هذه الرواية مرجوع عنه يعني امام اعظم رحمه الله رجوع څخې کړې ده، وفي رواية يجب مسح ربع اللحية وفي رواية ثلث اللحية، وفي رواية لايجب مسح اللحية ولاغسلها.

دروېش وايي: چې مراد په دې روايت کې هغه ستر سل د زېرې دی لا مايلاقي البشرة والله اعلم، مظهري دروېش وغيرهما.

فائده: له فرضيت څخه د غسل الوجه دا وفهميده چې مضمضه او استنشاق نه دی فرض په اوداسه کې، لان اسم الوجه يتناول الظاهر دون الباطن. البته په خوله او په پزه اوبه لغړول سنت دی بفعله عليه الصلوة والسلام.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې امام مظهري رحمه الله داسې عبارت ويلی دی والحجة على وجوب غسل ظاهر اللحية كلها آه. له دې عبادت څخه به بعض کسان دا توهم وکړي چې مايطلق عليه اللحية د ټولې پرېوله فرض دی لکن د مظهري دا مراد نه دی، ولې چې لفظ د لحيه خو ايله څرېدلو وېښتانو ته هم شامل دی، او د مسترسل وېښتانو پرېوله په اتفاق د علماء نه دی فرض بلکې مراد دده هغه وېښتان دي چې ملحق په بشره پورې وي. وكلامه في بيان الحجة على ذالک يدل على ماقلنا كما لايخفى على من طالع كلامه في سوق الحجة على تلك الفرضية. ولقد احسن صاحب روح البيان حيث قال ففرض اللحية غسل مايلاق الوجه دون مايسترسل من الذقن لان فرضية الغسل ماتحت اللحية لما سقطت انتقلت الى خلف و الخلف وهو الملصق بالبشرة دون المسترسل فافهم.

وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ

او داغه رنګه پرېولئ لاسونه خپل تر څنګلو پورې.

پوه سه: چې "يد" نوم دی د عضو معلوم عند الكل د ګوتو له سرو څخه تر ترخر ګو پورې.

پوه سه: چې جماهير د علماؤ او ائمه اربعه پر دې دي چې مرفق په وظيفه کې د غسل داخل دی يعني غسل يې واجب دی لذالک قيل ان الى ههنا بمعنى اى مع المرافق كما في قوله تعالى "ولاتاكلوا اموالهم الى اموالكم" اى مع اموالكم چې حق د يتيمانو وارد دی. او شعبي او محمد بن جرير او زفر رحمهم الله تعالى وايي چې غسل د مرفق نه دی واجب. دوی دادليل وايي چې كلمه د "الى" خو لپاره د انتهاء د غايت دی او غايت خو ګاهي له مغيا څخه خارج وي په حكم کې لكه اتم الصيام الى الليل. او بل دليل دا وايي چې كلمه د الى لپاره د مطلق غايت دی عند المحققين من علماء العربية. واما دخول الغاية وخروجها فلا يفهم من كلمة الى بل يعلم من دليل خارج ولا دليل ههنا فلا يدخل بالشك واجاب عنه المظهري چې دلته دليل سته پر دې چې غاية چې مرفق دی داخله ده په حكم کې د مغيا چې غسل اليد دی وهو الاجماع. ولې چې امام شافعي رحمه الله وايي چې زه نه يم خبر چې په يو چا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې مخالف دوی په واجب والي د دخول د مرفقینو په حکم کې لاس چې غسل دی.

سوال: دمخه مو ووېل چې ددې سند څه شی دی، شعبي او محمد بن جریر او زفر په دې حکم کې مخالف دي فکیف الاجماع؟

ځواب: سند یې فعل د علیه الصلوة والسلام دی المبین لمجمل الکتاب، په حدیث کې د بزار او طبراني راغلي دي مرفوعاً وغسل یعني علیه الصلوة والسلام ذراعیه حتی جاوز المرفقین. حاصل دا چې نه نبي علیه السلام او نه له یوه صحابي څخه دا ثابته سوې ده چې دوی غسل د مرفقینو پرې ایښی وي او یا د بجلکو د پښو په اوداسه کې، په مستخلص کې وایي که مغیا دمخه تر ذکر د غایت شامل و مابعد ته د غایت، نو هغه غایت لپاره د اسقاط د ماوراء الغایة دی له حکم څخه د مغیا او خودې غایت په حکم کې د مغیا داخل دی کالید فانه اسم للعضو المخصوص الی الابط. فکلمة الی ههنا لاسقاط ماوراء المرفق عن حکم المغیا وهو الغسل والغایة اعني المرفق داخلة في الحکم. وان کان المغیا بحیث لم یدخل في حکمه ماوراء الغایة فالی هناک لمد الحکم الی الغایة فقط نحو قوله تعالی "ثم اتموا الصیام الی اللیل" فاللیل لما لم یکن محل الصوم شرعاً فکلمة في هذه الآیة لمد حکم الصوم الی اللیل فاللیل خارج عن الصوم.

دروېش وایي: چې وقد اصاب في هذا القانون صاحب المستخلص رحمه الله علیه.

وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ

او مسح کوئ پر سرو ستاسي.

پوه سه: چې قدر واجب په مسح کې د سر ربع د سر ده په نېږ د ابي حنیفه رحمه الله لانه علیه الصلوة والسلام کما روی في الحدیث الصحیح مسح علی ناصیة یعني پر نزله وهو قریب من الربع. ولي چې سر څلور حصې دی دمخ ربع ته ناصیه وایي او د څټ د خوا ربع ته قذال وایي او د غوږو پر برابر ربع قرنان بولي یعني تیکونه.

دروېش وایي: چې په مقدار کې د ممسوح د سر اختلاف د مذاهبو دی امام مالک او امام احمد وایي چې د ټولې سر مسح فرض ده. ولي چې دوی وایي کلمه د باء زائده ده، نو تقدیر یې داسي دی وامسحوا رؤسکم او راس نوم دی د یو خاص اندام چې سر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یې بولي، نو د تولـه سر مسح فرض ده لکه "فاغسلوا وجوهکم" چې د تولـه مخ استیعاب په غسل کې سره او یا لکه استیعاب د تولـه مخ چې په مسح د تیمم فرض دی. او بل دلیل دادی چې فعل د علیه الصلوة والسلام هم پر استیعاب د سر دلالت کوي، لکه روایت چې کړی دی عبدالله بن زید ﷺ چې علیه الصلوة والسلام د سر مسح داسې کوله چې دواړه لاسونه یې پر سر تېر کړه فاقبل بهما وادبر بدء بمقدم راسه ثم ذهب بهما الی تغاه ثم ردهما الی المکان الذي بدء منه.

پوه سه: چې د اقبل بهما و ادبر تفسیر دا وروسته توري دي یعني بدء آه، چې معنا یې داده چې شروع یې وکړه دمخ له خوا څخه او لاسونه یې ورسول تر څټ پورې، او بیا یې بیرته راوګرځول و هغه ځای ته چې شروع یې ځنې کړې وه، د حنیفیانو په نېز دا استیعاب محمول پر استحباب دی په دلیل د هغه حدیث چې تېر سو چې روایت یې په سند متصل سره مسلم کړی دی له مغیره بن شعبه ﷺ څخه چې ان رسول الله ﷺ توضاء فمسح بناصیة الی اخیر الحدیث، ومن العجب ان صاحب روح البیان اختار ان الباء زائدة ثم قال المفروض مسح ربع الراس.

پوه سه: چې ابن عمر ﷺ وایي چې په مسح کې د سر مسح د بعض سر مروي ده او چا له صحابه وو څخه انکار نه دی پر کړی کما قال الحافظ ابن حجر رحمه الله نو چې د تولـه سر مسح فرض نه سي او احادیث د استیعاب محمول پر استحباب سي، نو محمد بن ادریس الشافعي رحمه الله وایي چې معنی د آیت نو داده وامسحوا بعض رؤسکم، نو آیت مطلق دی فیکفی من الراس مسح شعره في روایة عنه وثلث شعرات في روایة اخری، او امام اعظم رحمه الله وایي چې آیت مطلق نه دی بلکې مجمل دی، ولي تولـه سر خو مراد نه دی بقرینة الباء او په قرینه د احادیثو د مسح د رسول الله ﷺ پر مقدم د سر فقط او مطلق بعض د سر خو هم نه دی یعني بلکې امام شافعي رحمه الله چې وایي چې د درو ویښتانو مسح هم کافي ده، ولي چې د درو ویښتانو بلکې بالا په پرېښولو کې د مخ راځي، ولي چې استیعاب د غسل الوجه خو اتفاقي دی نو د آیت د وامسحوا برؤسکم څه فائده ده بلکې آیت چې مجمل سو، نو حدیث د مغیرة بن شعبه ﷺ وامثاله بیان دی د آیت ولهذا قلنا بوجوب مسح ربع الراس.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: کلمه د باء خو امام احمد او امام مالک زائده بولي، او دليل ددوی دادی چي کلمه د باء خو لپاره د الصاق ده وهو المعنی الحقيقي للباء باجماع اهل العربية، او موږ وايو چي زيادت د حرف هلته اوږدل کږي چي بېله زيادته بله چاره نه وي نحو کفی بالله. لان حرف الجر لايدخل علی الفاعل، دلته په برؤسکم کي معنی حقيقي د باء چي الصاق دی امکان پذير ده. نو پوه سه چي باء الالصاق غالباً پر وسائطو داخلږي نحو طينت الحائط باليد. نو د "يد" استيعاب خو نه غواړي، ولي يد خو تر اوږې او تخرګ پورې دی، نو که دغه باء الالصاق يو وخت پر محل داخله سي کما في قوله تعالی "برؤسکم" نو هم استيعاب د تولې محل نه غواړي فتدبر.

وَاَرْجُلَكُمْ اِلَى الْكَعْبَيْنِ ؕ

او تاسي پښې مينځئ تر بجلکو پورې.

پوه سه: چي اکثره قاريان د قراء سبعه پر دې دي چي "ارجلکم" منصوب دی او په زور د لام يې وايي، چي عطف پر مغسول سي او وظيفه د پښو غسل سي، او ددې تائيد سنت شائعه د عليه الصلوة والسلام چي هغه په اوداسه کي پښې پرېوله دي، او عمل د صحابه کرامو هم غسل د پښو وو. او قول د اکثر الائمة هم دادی چي وظيفه د پښو غسل دی، او بل په قرينه د تحديه په الی الکعبين کي، ولي چي غايت په مغسولاتو کي راځي په مسح کي غايه نسته کالراس واعضاء التيمم. وقر، بعض القراء په جر د لام. روافضو قرئت د جر تينګ کړی او وظيفه د پښو مسحه بولي، او په عين حال کي مسح د موزو روا نه بولي، نو داضرب المثل گرځېدلی دی چي يو شی د بر فراخه وي لکه سدری مثلاً بل سړی ورته وايي چي څوندۍ فراخه سدری دي ده لکه د رافضي موزه، ولي رافضيان چي په سفر کي او موزو ته يې ضرورت وي، نو موزې دومره فراخه جوړوي چي لاس ور ننوځي چي دننه په موزه کي پر پښو مسح وکړي، ولي چي دوی مسح د موزې روا نه بولي. له امام اعظم رحمه الله روايت دی چي ما مسح د موزې روا نه ده بللې تر هغو چي ماته مثل ضوء الصبح احاديث قوليه او فعليه د عليه الصلوة والسلام نه دي رسېدلي، او دغه رنګه اثار قوليه او فعليه د صحابه کرامو رضي الله عنهم نه دي رارسېدلي،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او داغه رنګه د امام اعظم رحمه الله څخه روایت دی چې اخاف الکفر علی من لم یر المسح علی الخفین لان الاحادیث الواردة فیه شهیرة قریبة من حد التواتر، کما روی عن ابن المغیرة عن ابیه، مغیره رضي الله عنه وایي چې زه د علیه الصلوة والسلام سره ملګری وم په یو سفر کې ذات لیلة نو ده مبارک راته وویل "امعک ماء" ما ورته وویل هو اوبه زاسره دي، نو دی مبارک له اوښه راکښته سو او رهي سو "حتی تواري عني في ظلمة اللیل" یعني د چکر لپاره، وروسته راغلی او ما اوبه ورتویولې یعني استنجاء یې په دبرو سره وهلې وه، نو یې مخ پرېولی او لاسونه یې پرېوله او بیا یې مسح پر سر وکړه مایه یې موزو ته قصد وکړی یعني چې له پښو یې ځني وکاږم، ده راته وویل دعهما فاني ادخلتهما طاهرتین فمسح علیها.

دروښ وایي: چې په دې حدیث کې ما لږ اختصار وکړی او د حاجت ځای مې نقل کړی، او نور صحیح حدیثونه په غسل کې د پښو او په مسح کې د خفینو موجود دي چې د تولو راوړل به ونهایت اطناب ته مفضي سي.

پوښتنه: قرائت د جر خو هم له قرآت متواتره وو ځخه دی، نو چې مسح د پښو نه سي روا، نو د جر د قرائت به څه توجیه وي؟

ځواب: علماء د اهل سنت دا جر جوار بولي یعني چونکه پښې وروسته تر مجرور راغلی چې برؤسکم دی، نو ارجلکم ته یې هم جر ورکړی په سبب د همسایه والي، لکه په دې آیت کې "اني اخاف علیکم عذاب یوم الیم" په جر د الیم او سره ددې چې الیم صفت دی د عذاب او هغه منصوب دی لکه بعض قراؤ چې الیم په جر ویلی دی په سبب د جوار د یوم چې هغه مجرور دی مضاف الیه د عذاب دی وکما في قوله العرب "جحر ضب خرب" په جر د خرب او سره ددې چې خرب خو خبر دی د جحر باید مرفوع وایي لکن چونکه لفظ د خرب په جوار د ضب راغلی، نو یې خرب علی الجوار مجرور کړی وله امثلة کثیرة في لسان العرب.

سوال: اکثره نحات جر جوار نه منې او ځوک چې یې روا بولي هلته یې روا بولي چې په منځ کې یې حرف عطف نه وي او په "ارجلکم" کې حرف عطف سته، او بل په دې شرط چې التباس د حکم نه راځي، یعني وظیفه د پښو غسل دی او که مسح؟

ځواب: امن د التباس خو مرفوع دی په غایت د الی الکعبین چې دمخه تېره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوه چې ممسوح غايت نه لري بلکې مغسول ته غايت راوړه کېږي واعني بالغاية لفظ الى الكعبين، او انکار د اکثر النحاة ممنوع دی وانکاره مکابرة لوقوعه كثيراً في القرآن وكلام البلغاء وذكر الامثلة لجر الجوار يفضي الى التطويل لايليق بحال التفسير والله اعلم.

دروېش وايي: چې په بعضي کتابو کې د فقهي چې راغلي دي چې نصف د ارجلکم محمول دی پر حال د دې چې موزه يې نه وي په پښو، نو وظيفه د پښو غسل دی او حال د جر يې محمول پر حال د تخفف دی يعني موزه يې په پښو وي، نو وظيفه د پښو مسح ده پر خف باندې غلطه توجيه ده، ولې چې په آيت الوضوء کې خف له کومه ځايه فهمېږي.

مصرع .... نه هر که سر بتراشد قلندری داند.

تتمة لجر الجوار مع العطف. قال ابن مالک وخالد الازهري الواو يختص من بين سائر حروف العطف باحد وعشرين حكماً منها جواز جر الجوار مع العطف بها، والسر فيه ان العاطف موضوع لتوكيد الوصل دون القطع.

معذرة: امام مظهري رحمه الله د هرې مسئلې د فقهي شريفي چې محل د بيان يې کتابونه د فقهي دي سره د قيل وقال، او د جرح او تعديل په حديثو په تفسير مظهري کې جمع کړي دي او دروېش له هغو مسائلو څخه په دومره کثرت لکه چې مظهري کړی دی ډډه وکړه، ددې سبب دادی چې مظهري رحمه الله چونکه په فقهي شريفي کې علحده کتاب نه و تصنيف کړی، نو يې ايراد د مسائلو فقهيه وو په تفسير کې نهايت د پر ور ګډ کړی، لکن دروېش چونکه په فقه شريفه کې په پښتو ژبه تصنيفات درلوده تر دې تفسير دمخه لکه شروط الصلوة پښتو، د نور الايضاح شرح درې جلده پښتو، د صلوة قدوري پښتو شرح، د نکاح قدوري دوه جلده پښتو، نو بيان د مسئلو د فقهي مې هغو کتابو ته وسپاری، دلته په تفسير کې په دې مبحث د اوداسه کې مې اکتفا وکړه په ماقلنا سره او له جنجال څخه د اختلافاتو د مذهبو او د هغو دلائلو او جرح و تعديل څخه مې ځان بېغمه کړی.

وَإِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوا

او که چېرې واست تاسې په وخت کې د ارادة الصلوة جنبان، که د وينې په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حالت کې وي لکه د ماینې سره چې جماع وکړي او که د خوب په حالت کې وي، نو ځانونه بنه پاک کړئ.

پوه سه: چې صیغه د "فاطهروا" چې له باب ځخه د تفعیل ده او دلته د مبالغې په طهارت کې د جنابت دی، قال علیه الصلوة والسلام تحت کل شعرة جنابة الی اخیر الحدیث، نو باید سړی د جنابت په غسل کې ډېر کوشش وکړي چې تولـه بدن سر ترنوکه پرېمنځي، ځکه فقهاء وایي چې مضمضه او استنشاق په غسل کې واجب دی لپاره د امتثال د مبالغې في التطهیر، ولې چې باطن د خولې یا د سړو چې سړی خلاص ونیسي حکم د ظاهر البدن لري او چې پټه یې ونیسي حکم د باطن لري، نو د غسل په باب کې چونکه مبالغه راغلې ده، نو ځکه فقهاء حکم د ظاهر ورکوي او پرېوله یې واجب بولي، او په اوداسه کې چونکه صیغه د مبالغې نه ده راغلې، نو فقهاء حکم د باطن ورکوي، او پرېولـه په اوداسه کې واجب نه ګڼي بلکې سنت یې بولي، داخو مذهب و د امام ابو حنیفه او احمد، او امام شافعي وایي چې مضمضه او استنشاق لکه په اوداسه کې چې سنت دی په غسل کې هم سنت دی.

فائده: پر بنځه باندې غوړېده د کوڅیو نسته او نه یې لندېده سته که چېرې اوبه د وېښتانو وبېخ ته رسېدلې لان کون الشعر من البدن باعتبار اصوله فیکتفی غسل اصوله فیمافیه حرج، او که یې وېښتان کوڅې نه وې لکه په اوسنۍ زمانه کې د اکثرو بنځو، نو بیا د تولو وېښتانو پرېولـه واجب دی لعدم الحرج، والرجل یعني چې څونې لري د اوبو رسول وېښتانو ته واجب دی، وجه الفرق د بنځې د سر خریل مثلة یعني بې آبې ده او د نر لپاره څو مثلث نه دی.

پوه سه: چې کمترینه اندازه د اوبو د غسل لپاره یوه صاع ده، او صاع اته رطله دی او ادنی اندازه د اوداسه د ابو یو مد دی او مد دوه رطله دی، لما روی في الحدیث الصحیح ان رسول الله ﷺ کان یغتسل بالصاع ویتوضاء بالمد.

فائده: په غسل کې دینې او بدنې فائدې سته، بعض له فائدو ځخه مخالفت دی د کافرانو چې هغه غسل الجنابة نه کوي، بلکه فائده یې له بدنه ځخه خیرې زائلول دي چې له دې خیرو ځخه بعض امراض پیدا کېږي، او بلکه فائده یې آرامول

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دي د حرارت د شهواتو طبعيه وو.

ښهانه فائده: امام ثعلبي رحمه الله په تفسير کي ددې ايت وايي چې علي رضي الله عنه وايي چې لس کسه د ملا يانو د يهودانو و عليه الصلوة والسلام ته راغله فقالوا يا محمد لما ذا امر الله بالغسل من الجنابة ولم يامر في البول والغائط وهما اقذر من النطفة. فقال رسول الله ﷺ ان آدم لما اكل من الشجرة يعني المنهية عنها تحول في عروقه وشعره فاذا جامع الرجل والمرئة نزل يعني المني من اصل كل شعرة فافترضه الله يعني الغسل علي وعلى امتي تطهيراً وتكفيراً يعني لما صدر عن ابينا آدم عليه السلام وشكراً لما انعم الله عليهم من اللذة التي يصيبونها يعني في الجماع. وقال صاحب البدائع في احكام الشرائع في بيان تشريع الغسل من الجماع ماحاصله، چې غسل چې واجبږي په خروج د مني او په خروج د بولو او غائط فقط د اعضاء مخصوصه پرېښولو او مسح د سر لازمږي، د څو وجهو له کبله، يوه وجه داده چې قضاء د شهوت پسه وتلو د مني يو داسي نعمت دی چې اکثره يې په تولو بدن کي پيدا کږي چې هغه لذت او خوند دی، نو موږ خدای امر کړو په غسل سره شکراً لهذه النعمة العظيمة او په بولو او غائطو کي خو دا لذت نسته، نو ځکه يې غسل نه کړی راباندي واجب، او بله وجه يې داده چې جنابت د تولو که ظاهر وي او که باطن يوه برخه اخلي ولي چې جماع چې سبب د جنابت ده نه کږي مګر په سبب د تمام قوة بدني حتى چې څوک چې وطي ډېري انسان ضعيفه کوي او که وطي ډېري نه کوي انسان قوي وي ولا کذالک البول والغائط، نو وطي چې سبب د جنابت دي د تولو بدن د قوی ظاهره او باطنه څخه برخه ودرلوده، نو ددې سببه موږ په کامل طهارت چې غسل دی مامور سوو. تاچې د طهارت کامل چې غسل دی اثر وظاهر او باطن ته ورسېږي انتهى كلام البدائع بحذف بعض الوجوه.

دروښ وايي: چې دا غو غسل د ژوندي و. او هر چې غسل د مړي دي هغه شريعت قديمه دی، په حديث مبارک کي راغلي دي چې آدم عليه الصلوة والسلام چې وفات سو، نو جبرائيل عليه السلام سره د څو ملکو يعني په صورت بشري راغلې او آدم عليه السلام ته يې غسل ورکړی، او جبرائيل او ملکو اولاد ته د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ادم عليه السلام وويل هذا سنة موتاكم. او په صحيح حديث کي راغلي دي چي يو مسلمان پر بل مسلمان شپږ حقه لري ومن جملتها ان يغسله بعد موته.

پوه سه: چي غسل د ميت لکه لمونځ د جنازې واجب کفايي دی چي بعض کسانو پر ځای کړی د ټولو غاړې خلاصي دي.

وَإِنْ كُنْتُمْ مَرْضَىٰ أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوْ جَاءَ أَحَدٌ مِّنْكُمْ مِّنَ الْغَائِطِ أَوْ لَامَسْتُمُ النِّسَاءَ فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوا بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُمْ مِّنْهُ

او که تاسي واست مريضان يعني په داسي مرض چي د اوبو په استعمال خوف د مرض وا او يا د زياتوب د مرض، او يا پر سفر واست چي اوبه نه وي او يا راغلی يو ستاسي له چکره يعني اودس ماته، او يا مو جماع وکړه د ښځو سره يعني د مانيو سره او اوبه مو نه کړې پيدا. نو تيمم ووهئ پر مځکه پاکه باندي. نو مسح وکړئ پر مخانو ستاسو او پر لاسونو ستاسو له هغې پاکې خاورې څخه "مرضى" جمع د مريض ده.

دروښ وايي: چي يو د مريض تيمم په نيستي پوري د اوبو اړه نه لري بلکې په وخت کي د وجدان د اوبو هم تيمم ورته روا دی بالشرط المذکور، او نور ټوله اقسام مذکوره په فقدان سره د اوبو په جواز د تيمم مقيد دی.

فائده: کلمه د "علی" په علی سفر" کي متعلق ده په محذوف پوري ای مستقرين علی سفر.

فائده: غائط" په اصل کي کښته ځای ته وايي دلته کنايه ده له اودس ماته څخه، ولي هغه څوک چي اودس مات کوي په مکان منخفض کي لئلا يراه الناس مراعاةً للمروة.

فائده: د "لمستم النسآء" مراد جماع دي ومثل هذه الكناية من الآداب القرآنية لذا التصريح باسم الجماع مستحجن.

فائده: مراد د عدم وجدان د اوبو عدم قدرت پر استعمال د ابو دی مثلاً اوبه په ځاد کي وي لکن سولاغه او مرانده نه وي تيمم ورته روا دی.

فائده: د تيمم اصلي معنا قصد دی ای فاقصدوا له دې څخه دا معلومه سوه چي په تيمم کي نيت شرط دی که څه هم په اوداسه کي نيت نه دی شرط. والسر فيه ان الماء مطهراً ومزيل بنفسه بخلاف التراب.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: له "صعید" څخه د مځکي مخ مراد دی که شی شین کوي او که نه، او له "طیب" څخه مراد طاهر دی. او د امام شافعي رحمه الله په نبز طیب په معنا د منبت دی، نو پر ترخه یا تروه مځکه تیمم نه دی روا.

مسئله: که یې پر داسي ښویي دبري چې خاوري نه وي باندي تیمم وواهه تیمم یې روا دی په نبز د ابو حنیفه رحمه الله خلافاً لابي یوسف رحمه الله، او که له جنس څخه د مځکي نه و لکه یو پاک کالی په هغه کي ادنی گرز شرط دی.

فائده: په مسح کي د لاسو تر مرفقینو رسول شرط دی لانه بدل من الوضو. فیشترط فیه مایشترط في الوضوء ولانه ﷺ تیمم فمسح یدیه الی المرفقین.

فائده: کلمه د "باء" په "بوجوهکم" کي زائده ده، ولي چې مسح متعدي بنفسه ده،

دروښ وایي: چې امام بغوي رحمه الله له لفظ څخه د "منه" په آیت کي دا فهمولې ده چې په تیمم کي تراب یعني خاوري شرط دي حیث قال فیه دلیل انه یجب مسح الوجه والیدین بالصعید وهو التراب انتهی، امام مظهري رحمه الله کله څه هم لوی ناقل دی د تفسیر بغوي کما یدل علیه التفسیر المظهري لکن په دې ځای کي یې پر بغوي رد کړی دی، دی وایي چې کلام د بغوي مبني دی پر دې چې کلمه لپاره د تبعیض ده، نو له دې کبله امام ابو یوسف او نور امامان هم وایي چې انه لایجوز التیمم علی شئ من جنس الارض بلا نقع یعني بېله گرزه یعني د خاورو اجزاء، مظهري د بغوي د قول په رد کي وایي چې محققین د اهل عربیت پر دې دي چې اصل معنی د من ابتداء الغایة ده، او معنی د من په تعبیض سره کول یا من بیانیه گرځول وقرینې ته احتیاج لري، نو حاصل د رد د مظهري دادی چې ابتداء د تیمم دي له صعید څخه وي که خاوري وي که نه وي، علامه تفتازاني په حاشیه کي د کشاف چې تفتازاني رحمه الله خپله هم شافعي المذهب دی داسي وایي ذهب بعض الفقهاء یعني من الشافعیة ان کلمة من اصلها للتبعیض وهذا لیس بسدید لاطباق هل اللغة العربیة علی انها لاتبداء الغایة انتهی کلام التفتازاني، علاوه داده چې معنا د تبعیض په دې آیت کي نه صحیح کېږي، ولي چې د من تبعیضي قاونون دادی چې د من په ځای کي به لفظ د بعض روا ول صحیح وي، او په دې آیت کي ددې تصور هم نه سي کېدای، ولي که په ځای کي د من لفظ د بعض

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راسي او د مسح معنی خو امرار الید دی، نو معنی د آیت داسي ده امروا ایدیکم ملصقاً بوجوهکم وایدیکم دا خو بلا ریب کلام تام دی مفعول به نه غواړي چي سړی ووایي بعض الارض، دا وه پښتو ژباړه د مظهري د کلام.

مَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُمْ مِنْ حَرَجٍ وَلَكِنْ يُرِيدُ لِيُطَهِّرَكُمْ

اراده نه لري خدای ﷻ چي تاسي په اوداسه امر کوي او ګاهي په غسل، چي وګرځوي پر تاسي تنګي یعني په باب کي د طهارت، بلکې اراده د فراخی لري وتاسي ته، لکن اراده ددې لري چي تاسي پاک کړي له احداث خفیفه او غلیظه څخه په مذکوره درې نوع د طهارت، او یا معناد آیت داده چي تاسي پاک کړي له ګهنو څخه، چناچه بغوي د حضرت عثمان ﷺ په روایت متصل روایت کړی دی چي عثمان ﷺ اودس تازه کړی دی درې درې واره، او بیا ده وویل چي ما له رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي "من توضاء وضوئي هذا خرجت خطایاء وجهه ویدیه ورجلیه" او نور حدیثونه هم په دې باره کي ډېر سته، ومن ذالک الحدیث الصحیح المروي عن رسول الله ﷺ "ایما رجل قام الی وضوئه" هر یو له خلګو څخه چي ولاړ سي و اوداسه ته "یرید الصلوة" او اراده یې وي و لمانځه ته "ثم غسل کفیه" بیا پر هینځي لاسونه یعني تر بندو پوري او بیا خوله پر هینځي "نزلت خطیئة لسانه" ځني توی به سي ګناه د ژبې او د شونډو نو "مع اول قطرة" سره د اول څاڅکي "واذا غسل وجهه ویدیه الی المرفقین ورجلیه الی الکعبین" بیا پر هینځي مخ او لاسونه تر ځنګلونو پوري او پښې پر ښولي تر بجلکو پوري "سلم من کل ذنب هو علیه وکان کیوم ولدته امه" سالم او خلاص به سي له هري ګناه څخه چي هغه پر ده وي وه به ګرځي په داسي شان لکه هغه ورځ چي مور دی ځېرولی وه یعني په وخت کي د ځېرېدلو خو پر ده هیڅ ګناه نه وه، اوس به هم پر ده هیڅ ګناه نه سي پاته، رواه اصحاب السنن والبخاري.

دروښ وایي: چي ددې حدیث عمل ډېر آسانه دی او ثواب یې تر اندازه بالا دی د نر او ښځي دواړو لپاره. فلیعمل به الشائقون لمغفرة الذنوب عملاً سهلاً واجراً عظیماً.

وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ۝

او خدای ﷻ نه ددې اراده لري وتاسي مؤمنانو ته چي پوره کړي خپل نعمت پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تاسي باندي چي په دې ځای کي اتمام د نعمت بیان دی د درو مطهراتو لکه اودس غسل او تیمم چي پاکونکي دي د ابدانو له حدث اصغر او اکبر څخه او مکفر د ګنهو دي کمامر او مفتاح د لمانځه دي چي معراج المؤمنین دی، ددې لپاره چي تاسي شکر ددې نعمت د خدای ﷻ ووایاست. له معاذ بن جبل ﷺ څخه احمد او ترمذي په سند متصل سره روایت کړی دی، قال قال رسول الله ﷺ تمام النعمة دخول الجنة دی، او پناه له دوزخ څخه ده، بخاري په سند متصل سره له ابي هریره ﷺ څخه روایت کړی دی "قال اني سمعت رسول الله ﷺ یقول ان امتي یدعون یوم القیامة" زما امت به بلل کیږي په ورځ د قیامت "غراً محجلین من اثار الوضوء" سپین مخان او سپین لاسونه او سپیني پښې له اثارو څخه د اوداسه الی اخیر الحدیث.

پوه سه: چي کلمه د لام په درې سرو ځایو کي زائده ده، او وروسته تر لام ان مصدري مقدر دی، ولي چي حرف جر خو پر فعل نه داخلیږي او دا مصدر مفعول به دی د "یرید" والتقدیر ما یرید الله جعل الحرج علیکم ولکن یرید تطهیرکم ویرید تمام النعمة علیکم، او بیضاوي دا تقدیر ضعیف ګڼلی دی او یو تاویل بعید ته تللی دی وهذا التاویل المذکور هو الاظهر والاقرب الی الفهم من تاویل البیضاوي.

پوه سه: چي مقصود له طهارت الثوب څخه پاکول د قشر خارج بعید دی ومن طهارة البدن بالوضوء والغسل والتیمم چي قشر خارج قریب دی طهارت د زړه دی، او زړه مغز د باطن دی وطهارة القلب من نجاسات الاعمال کالحسد والکبر والریاء اهم د ټولو طهاراتو دی. لکن د خدای ﷻ له عظیم کرمه بعیده نه ده چي طهارت د قشرینو البعید والقریب دي په طهارت کي د قلب لوی رول لوبوي، نو باید په طهارت کي د قشرینو دي هر مسلمان کوشش او سعي پر کار اچوي.

وَاذْكُرُوا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ

او تاسي پیاد کړئ نعمت د خدای ﷻ پر تاسي.

پوه سه: چي نعمتو د خدای پاک پر مسلمانانو بېخي ډېر دي خصوصاً د عصر نبوي پر مسلمانانو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(۱) را استول دي د اشرف الانبیاء محمد المصطفی ﷺ چي دا د ټولو مسلمانانو د فخر لوی نعمت دی.

(۲) انزال یعني نازلول د قرآن عظیم الشان چي تر قیامته پوري معجزه باقیه ده او پر خیر اتو د دنیا او آخرت مشتمل دی.

(۳) توفیق دی د اسلام چي خیر الادیان دی.

(۴) غلبه پر کافرانو ده د عصر نبوي من المشرکین یوم فتح مکه والیهود في المدینة واطرافها.

(۵) والغنائم من الکفار خصوصاً یوم بدر الی غیر ذالک من النعم التي لاتحصی.

پوه سه: چي مقصود له ذکر څخه د نعمتو شکر دی د منعم حقیقي ولئن شکرتم لازیدنکم ع،،، شکر نعمت نعمتت افزون کند.

وَمِيثَاقَهُ الَّذِي وَاثَقَكُم بِهِ

او د رپیاد کړئ هغه وعده چي له تاسي څخه خدای ﷻ واخسته.

پوه سه: چي ددې میثاق له پیادولو څخه مراد وفاء بالمیثاق المذکور ده، بعض مفسرین وایي چي له میثاق څخه مراد هغه وعده ده چي علیه الصلوة والسلام به په وخت کي د بیعت له مسلمانانو اخسته چي تاسي به زما خبري اوري او د هغو به فرمانبرداري کوي په "عسر او یسر" او که خوشاله یاست او که خوابدي، رواه البخاري ومسلم من حدیث عبادة بن صامت ﷺ. او یا هغه میثاق دی چي علیه الصلوة والسلام په مکه مکرمه کي په لیلة العقبة کي له انصارو څخه اخستی و عند بعض المفسرین کما رواه البخاري وغیره. او په نهږد بعضو مفسرینو میثاق د بیعة الرضوان دی په حدیبیه کي لکه چي په قرآن مبارک کي راغلي دي. او مجاهد او مقاتل وایي چي هغه میثاق مراد دی چي انسانان ټوله له صلب څخه د آدم علیه السلام خدای ﷻ راوه ایستل او خطاب یي ورته وکړی "الست بربکم قالوا بلی" وهذا الاحتمال بعید من مقام الامتنان علی المسلمین. اذ هذا المیثاق شامل للکفار ایضاً. او بل داده چي ددې توجیه سره منافي ده دا وروسته "اذ قلتم آه" ولي چي مخاطب په دې آیت کي هغه کسان دي چي بیعت یي د رسول الله ﷺ سره کړی و او آیة بیعة کانت کما لا یخفی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِذْ قُلْتُمْ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ۝

چې تاسي به په بیعت کې ویل ستا خبرې مو واورېدلې او مونږ ستا اطاعت کوو.

پوه سه: چې دا آیت بیان دی د میثاق الماخوذ علیهم.

او له خدای ﷻ څخه وبېرېږئ چې رحمت عامه د خدای ﷻ مه هېروئ او نقض د میثاق مه کوئ، په تحقیق خدای پاک په هغه شیانو چې ستاسي په سینو کې دي علم لري یعني په زړو کې من ذکر المحل وارادة الحال چې هغه د زړه وسوسې دي فضلاً عن ظواهر اعمالکم من الخیر والشر، نو په دې آیت کې هم وعد او هم وعید دی فافهم.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ لِلَّهِ شُهَدَاءَ بِالْقِسْطِ

اې هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دی، اوسئ مقیمین ثابتین لاوامر الله او تمسک او تعظیم د اوامرو د خدای ﷻ او تعظیم یې کوئ او کسالت او سستي مه پکښې کوئ فضلاً عن الترک، او شاهدي اداء کوئ په عدالت سره پر خپلو ځانو بالاقرار بحقوق الناس علیکم او پر خپلو قریبانو حتی پر پلار که د چا پور پر باندې و.

وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَىٰ أَلَّا تَعْدِلُوا

او تاسي دې باعثه نه کړي سخت عداوت او دښمني د یو قوم لکه مشرکین یا یهودان پر دې باندې چې تاسي په سبب د شدت بغض به ددوی سره عدالت نه کوئ، یعني داسي کار ددوی سره چې خدای پاک تاسي ته نه وي روا کړی لکه پرې، غوږونه او مذاکیر پرېکول چې دې کار ته مثلث وایي، یا قتل د نحو ددوی یا د صبیانو ددوی، او یا نقض العهد ورسره کوئ لپاه ددې چې خپل بغض او حرارت په سړوئ.

پوه سه: چې دا حال د کفارو دی نو د مسلمانانو سره ترک د عدالت به څونه ګناه وي.

اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ۝

او عدل کوئ چې عدل د هر نژدې دی و تقوی ته چې تاسي مسلمانان په امر سوي یاست، او له خدایه ببرېږئ چې تقوی زاد الآخرة ده، او په تحقیق خدای ﷻ په عملو ستاسي. که ما مصدریه سي او یا په هغه چې تاسي عمل کوئ د هغه که ما موصوله سي: والعائد محذوف یعني تولې عملونه ستاسي د خدای ﷻ په علم کامل کې دي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سواء كانت خيراً او شراً ففيه ايضاً وعد لاهل الخير ووعيد لاهل الشر.

پوه سه: چې خدای ﷻ اول نهي وکړه د عدل د ترک او بيا يې په عدل سره امر وکړی تاکيداً لدفع نائرة الجور الذي هو ضد العدل.

وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ مَغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ عَظِيمٌ ۝

وعده کړې ده د خدای ﷻ د هغو کسانو سره چې ايمان يې راوړی وي يعني پر خدای ﷻ بالتوحيد او پر رسول د خدای بانه مبعوث منه تعالى الى كافة الناس او په قرآن سره چې دا کتاب من عند الله دی، او برسېره پر ايمان صالح عملونه هم کوي من الفرائض والواجبات چې دوی لره مغفرت دی يعني د ګټهو چې له دوی څخه صادر سوي وي، او د اجر عظيم چې جنت ومافيها من النعيم المقيم دی.

پوه سه: چې د اعراب له لاري الذين امنوا مفعول اول د وعد والمفعول الثاني لوعد محذوف وهو الجنة كما صرح به في مواضع، او جمله د "لهم مغفرة آه" تفسير ده د محذوف مفعول تفسير السبب للمسبب فان الجنة مسببة عن المغفرة وحصول الاجر فلا محل لها من الاعراب، او مظهري رحمه الله وايي چې جمله د "لهم مغفرة" په ځای کې د مفعول ثاني ده وعد ولاړه.

سوال: جمله چې مفعول واقع کېږي چې قول وي، دلته خو وعد راغلی دی، نو جمله يې څرنګه مفعول ثاني واقع کېږي؟

ځواب: هو الكن وعده يو قسم دی د قول، فتدبر هداك الله تعالى.

وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ ۝

او هغه کسان چې کفر يې کړی وي هر کفر چې وي، که شرک وي او که يهوديت او نصرانيت، او تکذيب يې زمونږ د آيات قرآنيه وو کړی وي، نو دغه کسان اصحاب دي يعني ملابس او ملګري د دوزخ په ملابست ابدي سره.

پوه سه: چې په دې آيت کې چې د کفارو په شان کې دی مزيد وعد د مؤمنانو لپاره دی، ولې هغه عذاب چې د دښمنانو ته د مسلمانانو ورکول کېږي د مسلمانانو زړونه په سېږي، او هغه ازار چې کفارو به په دنيا کې ودوی ته ورکاوه هغه ازار د مسلمانانو له زړو څخه باسي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې اسانه اعراب ددې آیت دادې چې والذین سره د خپلې صلې دې مبتدا. وي او جمله د "النک آه" دې خبر وي. او عین ممکنه ده پر تقدیر ددې چې لهم مغفرة آه په محل کې نصب سې پر مفعولیت چې په دې آیت کې دې عطف د معمولي د وعد دې پر معمولین سابقینو د وعد وي. یعنې وعد الله المؤمنین بالقول السابق و وعد الکافرین بهذا القول. یو حدیث چې روایت یې بغوي رحمه الله کړی دی چې حدیث طویل دی له ځایه څخه د حاجت فقیر نقل کوي چې علیه الصلوة والسلام او ابو بکر او عمر او عثمان او علي او طلحه او عبد الرحمن بن عوف رضي الله تعالی اجمعین پر کعب بن الاشرف الیهودي او پر بني النضیر چې کومک ځني وغوښتی په یو دیت کې د قتل د دوو کسانو د بني سلیم چې ددوی او د علیه الصلوة والسلام تر منځ موادعت و. او هغه دوه کسان چې عمر بن امیه الغمري په خطاء کې وژلي وه. او ددغه کعب بن الاشرف او د بني النضیر تر منځ او د علیه الصلوة والسلام تر منځ قرار داد سوی و پر ترک د قتال او پر دې باندې چې په دیاتو کې په یو د بل کومک سره کوو. نو کعب بن الاشرف او بني نضیر ورته وویل نعم یا ابا القاسم اجلس حتی نطعمک. کښېنه موږ به دوډی درکړو او د دیت کومک به هم درسره وکړو. نو علیه الصلوة والسلام او اصحاب کښېنستل دوی یو و بل ته په پټه سره وویل انکم لم تجدوا محمداً اقرب منه الآن. یعنې تاسې نه سئ پیدا کولای محمد ﷺ نژدې تر دې اوس حالت فمن یظهر البیت فیطرح علیه صخرة فیریحنا" نو څوک به وخېژي بام (د خونې سر) ته پر علیه الصلوة والسلام به یوه لویه ډبره را ایله کړي. باره به موږ په استراحت سو له ده څخه یعنې مړ به سي. نو عمرو بن جحش ورته وویل چې زه به ډبره پر ایله کړم. نو د ژرتدي یو پل یې په دوو درو وبام ته ورپورته کړی چې دوی به را ایله کاوه لاسونه یې له حرکت څخه وچ سوه. او جبرائیل راغلی او علیه الصلوة والسلام یې له موضوع څخه خبر کړی علیه الصلوة والسلام د مدینې پر خوا ولاړی او علي یې راوغوښتی چې دلته ودریږئ هرڅوک د اصحابو چې راتله او زما پوښتنه یې کوله ورته وایاست چې هغه مدینې ته ولاړی خیر خو صحابه کرام رضي الله عنهم چې د علیه الصلوة والسلام ملګري وه ټوله را ووتل او دا آیت نازل سو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ

اې هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دی په یاد کړئ نعمت د خدای ﷻ پر تاسي.

پوه سه: چې مظهري رحمه الله دا شان نزول په حواله د ابن اسحاق صاحب المغازي او په حواله د ابن سعد په طبقات کې بیان کړی دی. او روح البیان شان نزول د آیت داسي بیان کړی دی چې مشرکانو علیه الصلوة والسلام او اصحاب دده په غزاء کې د ذات الرقاع چې غزاء د بني الانمار یې هم بولي چې اوومه غزء د علیه الصلوة والسلام وه، نو علیه الصلوة والسلام سره د اصحابو کرامو رضي الله عنهم د ماښښین پر لمانځه په جماعت سره ودریدل لمونځ چې یې اداء کړی کفار چې په مقابل کې ولاړ وه پښېمانه سول چې کاشکې مو د لمانځه په وخت کې حمله پر کړې وای. بیا دوی سره وویل چې پروا نه لري چې مسلمانان وروسته بل لمونځ لري چې هغه لمونځ ودوی ته محبوب دی تر اباء او ابناء. یعني د مازدیګر لمونځ، پر هغه لمانځه چې دوی ودریږي حمله به پر وکړو. نو خدای پاک صلوة الخوف نازل کړی او د مشرکانو له کید او حملې څخه خدای پاک دوی وساتل، نو دا آیت نازل سو.

دروښ وایي: چې ددې آیت لپاره مختلف نورشان نزوله په روح المعاني روح البیان مظهري کې راغلي دي چې د ټولو راوړل به ودږ اطناب ته مفضي سي، او د متعلمینو به سبب د ملال وګرځي، نو مذکوره شیان نزول کافي دی والله اعلم بالصواب.

اِذْ هَمَّ قَوْمٌ اَنْ يَّبْسُطُوْٓا اِلَيْكُمْ اَيْدِيَهُمْ فَكَفَّ اَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۭ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ۝

هغه وخت چې قصد وکړي یو قوم چې په شان نزول کې ذکر سول.

پوه سه: چې کلمه د اذ ظرف دی د "نعمة" لپاره او مفعول د "هم ان یبسطوا" دی چې دوئ خپل لاسونه وغځوي یعني بالقتل والاهلاک وتاسي ته.

دروښ وایي: چې عربي محاوره د بسط الیه یده یعني للقتل وبسط الیه لسانه یعني شتمه، نو خدای پاک بند کړه لاسونه ددوی ستاسي څخه یعني ستاسي له ضرر رسولو څخه او د خدایه بېرېږئ او خاص پر خدای ﷻ توکل او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اعتماد کوي مؤمنان، ولي چې د خیر رسول او د شر دفع کول د خدای ﷻ په قدرت کې دي وبس.

پوه سه: چې "واتقوا الله" عطف دی پر دمخه "اذکروا" باندي، او د نحو د قانون سره سم تقدیم ماحقه التاخیر د حصر فائده کوي، نو "علی الله" چې پر خپل عامل فلیتوکل دمخه سو. حصر یې فائده کړې یعني خاص پر خدای ﷻ دي توکل کوي مؤمنان، یعني نه پر غیر د خدای ﷻ نه انفراداً او نه اشتراکاً دي تکیه کوي.

فائده: د توکل محل زړه دی یعني په زړه کې د بنده به داوي او دا به یې یقین وي چې هر خیر یا شر چې ماته رسیږي په تقدیر سره د خدای ﷻ دی. شاعر افغاني وایي

ټول خیر وشر بوله له خدای څخه کله،،، پېښېږي نېک وبد له خپلې رایې څخه

لکن کسب د ظاهر په طلب کې د رزق په تجارت سره یا د طلب د شفاء د مرض په ادویه طبیه سره منافي د توکل قلبي سره نه دی.

مصرع..... کسب کن پس تکیه برجبار کن

صوفیه کرام وایي چې اعلی مرتبه د توکل داده چې مؤمن به خپل ځان په حضور کې د قدرت د خدای داسې لکه مړی چې غاسل یې مینځي او پر یوه خوا او بله خوا یې اړوي، ابراهیم علیه السلام چې نمرود علیه اللعنة و اورته ورغورځاوه په هوا کې جبرائیل علیه السلام ورته راغلی او ورته وه یې ویل هل لک من حاجة ابراهیم ورته وویل اما الیک فلا، جبرائیل علیه السلام ورته وویل وخدای ﷻ ته عرض نه لرې، ابراهیم علیه السلام ورته وویل حسبي من سوائي علمه بحالي، زما کافي له سوال څخه د خدای ﷻ علم دده زما په حال سره، نو هغه و غیرت الهي هم پرجوش راغلی، وقلنا یا نار کوني برداً وسلاماً علی ابراهیم انا کذالک نجزي المحسنین ای المتوکلین علي"

حکایت: یو حکیم یعني عالم د علم باطن پر یوه سرمایه داره سړي چې له هنر او علم څخه بې برخې و داخل سو، او دې سرمایه داره سړي یو نوی قصر جوړ کړی او مفروشات غالیة القیمة یې پکښې اوار کړي وه، حکیم چې ورننوتی سرمایه دار یو ازې پرچوکی ناست و، نو حکیم وتوخل او ناري یې د سرمایه داره پر مخ توه کړې، نو سرمایه داره ورته وویل چې دادي څه بې عقلي وکړه ایها الحکیم،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حکیم ورته وویل چې دا عین حکمت دی، ولې چې ناړې خو خلګ پر یو ښې کاره ځای نو کې زه چې ستا کور ته راغلم ستا په کور کې مې ښې کاره ځای نه ولیدی. نو ځکه مې ستا پر مخ در نو کړه لخلوک عن الفضائل العلمیة والعملیة، نو سرمایه داره پوه سو چې حکیم رشتیا وایي، زمونږ د زمانې حکیمان یعنې د درواغو پیران یا غوړه مال ملایان چې د سرمایه داره چې په پښه ټولی خر هم وي نژدې ودې ته وي چې د سرمایه داره لاس دي ورمچ کړي، ولې چې دده طمع د دنیا وي، له ابي عثمان رضي الله عنه ځخه روایت دی چې عیسی علیه السلام پر یوه غره ناست و چې شیطان په لباس کې د سړي ورغلی او ورته وه یې ویل چې رشتیا تا ویلي دي چې هر کار په تقدیر د خدای ﷻ دی؟ عیسی علیه السلام ورته وویل هوا نو ابلیس ورته وویل چې ته له دې غره ځان وغورځوه، نو ته وایي چې مرګ او ژوند په تقدیر د خدای دی، نو یا به په تقدیر د خدای ﷻ مړ سې او یا به ژوندی پاته سې، عیسی په پوه سو چې شیطان دی، نو عیسی علیه السلام ورته وویل چې خدای علیه السلام له بندګانو ځخه امتحان اخلي بندګان حق نه لري چې له خدایه امتحان واخلي.

وَلَقَدْ اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۚ

خدای ﷻ وعده محکمه واخسته له بني اسرائیلو ځخه یعني په هغه وخت کې چې فرعون او جنود دده په دریاب کې غرق سوه او بني اسرائیل فارغ القلب سوه له فرعون ځخه او تورات نازل سو.

دروښ وایي: چې ددې اخذ المیثاق پوره بیان په دې تفسیر کې د سورة البقرة په تفسیر کې تېر سو عند قوله تعالی "واذ اخذنا میثاقکم ورفعنا فوقکم الطور" فارجع الیه ولاتعیده لحال تطویل التفسیر بما لایحتاج الیه کما لایخفی.

وَبَعَثْنَا مِنْهُمُ اثْنَیْ عَشَرَ نَقِيْبًا ۭ

او مونږ مقرر کړه دوی ته دوولس رئیسان او مشران چې دوی دوولس سبطه وه. پر سبط یو رئیس خدای ﷻ ودوی ته وټاکی چې هغه ددوی حالات وښې ته رسوي او د امر او نهي به ودوی ته رسوي او هر نقیب به د خپل سبط ضامن وي چې دده سبط به وفاء په امر او نهي د خدای ﷻ کوي، او د نقیب به دوی ته یعني هر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نقیب و خپل سبط ته نصیحت هم کوي، او دا ټوله قصه په زمانه کي د موسی وه، او په هم دې اساس په صحیح حدیث کي راغلي دي علیه الصلوة والسلام چې په مکه مکرمه کي و او یو وفد د انصارو د مدینې ورته راغلي وه نو علیه الصلوة والسلام ودوی ته دوولس نقیبه ور وټاکل.

وَقَالَ اللّٰهُ اِنِّیْ مَعَكُمْ

او خدای ﷻ ودوی ته وویل چې زه ستاسي سره ملګری یم یعني په عون او کومک سره یا په معیت بلا کیف سره یعني تر هغو چې تاسي پر میثاق ثابت او محکم یاست چې په دې معیت سره به خدای ﷻ توفیق درکړي د پر ځای کولو د او امرو د خدای ﷻ او منع له منهیاتو څخه او اطمنان د زړه هم.

لَئِنْ اَقَمْتُمُ الصَّلٰوةَ وَاٰتَیْتُمُ الزَّكٰوةَ وَاٰمَنْتُمْ بِرُسُلِیْ

که تاسي اداء کوئ لمونځ او ورکاوه مو زکوة، یعني هغه لمونځ او زکوة چې په دین کي د موسی علیه السلام فرض سوی و، او تاسي ایمان ولرئ پر رسولانو ددې.

دروښ وایي: چې جمع یې په دې سبب راوړه چې یوازي ایمان پر موسی علیه السلام نه دی کافي بلکې پر ټولو رسولانو ایمان لازم دی که دمخه تر موسی وه او که وروسته وه لکه عیسی علیه السلام په وروسته رسولانو کي علیه الصلوة والسلام هم داخل دی، ولي چې ایمان پر موسی علیه السلام او دده پر کتاب تورات عصباندي لازموي ایمان پر علیه الصلوة والسلام، نو پر دوی لازمه ده چې وایي به "لانفرق بین رسله" لانه حکم التوراة.

وَعَزَّرْتُمُوْهُمْ

او تاسي تعظیم د ټولو رسولانو وکړئ او کومک ورسره وکړئ یعني اذا ادرکتم زمانهم.

بوه سه: چې لام د "لئن" موطئه د قسم محذوف دی، په صحاح کي وایي چې د جوهري د لغتو کتاب دی، چې تعزیر کومک دی سره د تعظیم.

وَاَقْرَضْتُمُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا

او تاسي به قرض ورکوئ و خدای ﷻ ته قرض حسن، څوک وایي چې قرض د خدای ﷻ دادی چې په لاره کي د خیر به انفاق کوئ کالزکوة والصدقات النفلیة، او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یعنی وایي چې هر عمل حسن قرض دی و خدای ﷻ ته لاړنه باق عند الله کالقرض عند المستقرض او یا مضاف محذوف دی ای اقرضتم عباد الله.

پوه سه: چې "قرضاً حسناً" یا مفعول مطلق دی که په اقرضتم کې معنی مصدري مراد وي، او یا مفعول به که په معنی د مال مقروض وي.

فائده: قرض حسن د انسانانو په منځ کې دادی چې احسان پر مدیون نه اچوي، او قرض حسن و خدای ﷻ ته دادی چې عجب او ریا نه وي پکښې.

لَأُكَفِّرَنَّ عَنكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَلَأُدْخِلَنَّكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ﴿١٢﴾

زه په هر آئینه وبخښم وتاسي ته ګنهونه ستاسي، او زه به خامخواه داخل کړم تاسي و باغونه چې د جنت په نامه یادیږي، داسي جنتونه چې بهیږي لاندې تر هغو یعنې لاندې تر درختو د هغو څلور ولې شیدې، عسل، اوبه او شراب.

پوه سه: چې "لاکفرن آه" جواب ده له لئن او قائم مقام د جزاء هم ده.

فَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ مِنكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَاءَ السَّبِيلِ ﴿١٢﴾

که څوک کفر وکړي وروسته تر میثاق مؤکد ستاسي څخه، نو ورکه یې کړه سمه لاره.

پوه سه: چې اضافت د "سواء السبیل" دی د صفت و موصوف ته ای السبیل المستوي الموصل الی رضاء الله والی النعیم المقیم في الجنة. والمراد "ضل" ضلالاً بعیداً عن الحق.

فَبِمَا نَقْضِهِم مِّيثَاقَهُمْ لَعَنَّاهُمْ

پس په سبب ددې چې دوی نقض وکړی یعنې د وعدې خلاف ورزي یې وکړه، ولې چې نصاری وو د علیه الصلوة والسلام تکذیب وکړی او له ایمان راوړلو څخه یې ډډه وکړه. او یهودانو د علیه الصلوة والسلام او د عیسی ﷺ له نبوت څخه انکار وکړې، او د نورو انبیاؤ څخه یې هم انکار وکړی ونبذوا کتاب الله التوراة وراء ظهورهم.

پوه سه: "لعناهم" عطاء رحمه الله وایي موږ دوی لهیري کړه له خپل رحمت عامه څخه، او حسن بصري او مقاتل وایي چې موږ دوی مسخه کړه، او یو قول ضعیف دا هم دی چې پر دوی موږ جزیه واچول.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَجَعَلْنَا قُلُوبَهُمْ قٰسِيَةً

او موږ وګرځول زړونه ددوی سخت جزاً لاستمرارهم علی الکفر ونقض المیثاق.

پوه سه: چې د قاسیه معنی غلیظ او سخت دی چې په ذکر د خدای ﷻ نه لرم کېږي او په آیتو او معجزاتو سره قبول د حق نه کوي. او ابن عباس ﷺ د قاسیه تفسیر په وچ سره کړی دی ولعله مناسب لقول الصحاح حجر قاس، یعني وچه او کلکه ډبره.

پوه سه: چې حمزه او کسائي رحمهما الله دا لفظه "قَسِيَّةً" په تشدید د یا وایي، بغوي رحمه الله وایي چې دا دوه لغته دي او معنا یې یوه ده لکه ذَاكِيَةً وذَكِيَّةً، او قاضي بیضاوي وایي چې یا مبالغه د قَاسِيَةٌ ده او یا یې معنا ردیة ده.

يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ عَنْ مَّوَاضِعِهٖ

دوی یعني د یهودانو ملایان تغییر ورکوي کلماتو ته د خدای ﷻ په تورات کي له خپلو ځایو ځخه، یعني هغه څوک چې مراد دي په آیتو کي د تورات چې نعوت د علیه الصلوة والسلام پر حال د دجال ملعون یې برابروي او بعض علماء وایي چې مراد له تحریف ځخه غلط تاویل دی د آیاتو د تورات.

پوه سه: چې "یحرفون" جمله مستانفه بیانیه د قسوة د زړو ددوی ده، ولي چې اعلی د قسوة مرتبه تغییر د آیاتو د کتاب الله دی لکه یوه فرقه معلومة الاسم والحال چې هغه آیات د قرآن عزیز چې په باره کي د مشرکانو د مکې راغلي وه پر ټولو مسلمانانو د ټرې سوې د خپلې منحوسې دلې یې تطبیق کوي او دده دله وباني ته ددوی گروپ مجدد الدین وایي رشتیا ده چې دې شخص هغه دین چې علیه الصلوة والسلام پر هغه وه بدل یې کړی او نوی دین یې خلګو ته راوړی.

وَنَسُوْا حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوْا بِهٖ

پوه سه: چې مراد له هېرې ځخه ترک دی ای ترکوا او تنکیر د "حظاً" لپاره د تعظیم دی یعني حظاً عظیماً له هغه څه ځخه چې ودوی ته پند ورکړه سوی و یعني په تورات کي د تعلیم د انبیاء و، د بني اسرائیلو چې یو له هغه ځخه ایمان پر محمد ﷺ او آیة الرجم و.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې که بعض علماء زمونږ لپاره د خوشحالۍ د يو رئيس جمهور او لپاره د اخذ د نقودو له يو سرمايه داره څخه د قرآن مبارک د بعض آيتو تاويل او ترجمه غلطه وکړي هغه عالم هم په تحريف کونکي کې حساب دی. بيت

سخن عشق به بی خرد گفتن بر رگ مرده نشتر زدن است

وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلَىٰ خَائِنَةٍ مِّنْهُمْ

او همېشه ستا علم رائي پر يو خيانت ددوی يعني يهودانو، نو پر دې ترجمه "خائنة" مصدر دی لکه کاذبة په معنا د کذب او لاعنة په معنا د لعنت ويولو، او يا خائنة پر خپله معنا د فاعلة دی په تقدير د موصوف مؤنث يعني نفس خائنة او فرقه خائنة. او يا لفظ د خائنة صيغه د نسبت ده لکه لابن او تامر والتاء للمبالغة ای فعلة ذات خيانة عظيمة.

پوه سه: چې ضمير د "منهم" راجع دی وتولو بني اسرائيلو ته چې په عصر نبوي کې موجود وه او اطلاع د عليه الصلوة والسلام پر خيانت ددوی يا بالمشاهده دی او يا په وحي الهي سره، والحاصل ان خيانة اليهود كانت عادة لهم حفظوها من اسلافهم، ولي چې اسلافو ددوی د تېر سوو انبياؤ سره يې خيانت کاوه، او ستا د زمانې يهودان بيا ستاسره خيانت او غدر کوي، حتی ستا د قتل پروګرام يې بسته کړی و کمامر قصته، او تاته يې د يوې ښځې په ذريعه زهر درکړه، او دوی ستا سره وعده کړې وه چې نه ستا کومک کوو په جنګ کې د مشرکانو د مکې او نه د هغو سره مرسته کوو، او سره د هغه به ددوی وفد مکې ته ولاړه او مشرکان د مکې بې هڅول پر جنګ ستا سره.

إِلَّا قَلِيلًا مِّنْهُمْ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاصْفَحْ

مګر نه يو لږ کسان د يهودانو چې صالحان کسان وه له امت څخه د موسی عليه السلام چې بيا يې پر عيسی عليه السلام هم ايمان راوړی، او يا صالحان کسان ددوی ستا په عصر کې چې پر تا يې ايمان راوړی لکه عبدالله بن سلام او دده د اکا زامن او ملګري يې رضي الله عنهم، نو ته عفوه کوه ودوی ته او تعرض مه کوه ودوی ته يا په عذاب او په عتاب پر هغو کارو چې دوی ته زهير کړی يې، بعض مفسرين وايي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې که دوی توبه وکاږي او او ایمان راوړي، ولې په توبه او ایمان سره د کفر د وخت ټوله عملونه عفوه کېږي او که پر کفر پاته وي، نو به جزیه درکوي او معاهده به در سره کوي، او بعض مفسران وایي چې دا آیت مطلق دی او منسوخ په آیة القتال دی، یعني قوله تعالی "قاتلوا الذین لا یؤمنون بالله".

إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ ﴿١٣﴾

په تحقیق د خدای ﷻ خوښ دي احسان کونکي.

پوه سه: چې دا آیت علت دی د امر بالسفح والاعراض، او تنبیه ده پر دې عفوه و کافر خائن ته احسان دی، نو مسلمان ته به څرنګه احسان نه وي، سعدي رحمه الله علیه

عدو را با لطاف گردن به بند — که نتوان برید ن به تیغ و کمند
چو دشمن کرم بیند و لطفا وجود — نیاید دیگر خبث باطن ازو در وجود
وگر خواجه با دشمنان نیک خوست — بسی بر نیاید که گردند دوست

وَمِنَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّا نَصَارَىٰ أَخَذْنَا مِيثَاقَهُمْ

او د هغو کسانو څخه چې دوی وایي چې موږ نصاری یو موږ اخستی دی میثاق د دوی.

پوه سه: چې جار و مجرور یعني "من الذین" متعلق دی په "اخذنا" پورې او دا جمله معطوف ده پر هغه قول د خدای ﷻ "ولقد اخذ الله میثاق بني اسرائیل" او ضمیر د "میثاقهم" راجع دی و موصول ته یعني "الذي قالوا" نو معنا د آیت داده چې موږ اخستې وه له نصاری وو څخه په انجیل کې او پر ژبه د عیسی علیه السلام میثاق د نصاری وو چې هغه میثاق دا و چې تاسي به امتثال کوئ د ما امرفي الانجیل چې هغه مصدق دی تر هغه د مخه کتاب چې تورات دی؛ او انجیل مبشر دی بنبي یاتي من بعدي اسمه احمد.

دروښ وایي: چې هغه دویمه توجیه د آیت چې مظهري کړې ده ضمیر د "میثاقهم" راجع و بني اسرائیلو ته دی ډېره بعیده ده، ولې آیت چې پر ظاهر جوړېږي یعنې چې ضمیر راجع و "الذین قالوا" ته سي، نو حذف ته مضاف یعني لفظ د مثل ته او مرجع بعید ته چې بني اسرائیل دي څه ضرورت سته.

پوښتنه: څه حکمت الهي دی چې داسي وویل سوه "ومن الذین قالوا آه" او تر دې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اخصر لفظ يعني "ومن النصارى" نه وويل سو؟

ځواب: ددې وجه صاحب د روح البيان په متابعت د حسن بصري رحمة الله عليه داسي ويلې ده چې په موجوده عبارت کې تنبيه پر دې ده چې دا تسميه په نصارى سره اسماني تسميه يعني له طرفه د خداى پاک نه ده، بلکې خداى پاک ددوى د قول حکايت وکړى يعني هغه وخت چې عيسى عليه السلام پر خپلو ايمان والو برغ وکړى "من انصاري الى الله، قال الحواريون نحن انصار الله" او امام مظهري خو د حسن بصري رحمة الله عليه توجيه راوړې ده لکن وروسته يې ويلي دي. والاولى ان يقال انه تعالى لم يقل ومن النصارى اخذنا ميثاقهم آه" ليدل على انهم يسمون انفسهم ادعاء" لنصرة الله وليسوا كذالك آه" بيا چونکه دى په دې پوه سو چې هغه څوک چې دا نوم يې پر ځان ايښى دى يعني الحواريون هغه په رشتيا انصار وه د دين الله، نو يې ولي وليسوا كذالك ووايه؟ نو يې جواب داسي ورکړى دى وفيه تعريض على الموجودين في زمن النبي ﷺ لانهم ليسوا كذالك يعني لو كانوا كذالك لآمنوا بالنبي عليه السلام لان نصرة دين الله بعد بعثة النبي ﷺ محصور من جانب الله في متابعة النبي العربي ﷺ، او په اخير کې مظهري ويلي دي لا على اسلافهم يعني تعريض پر اسلافو دوى نه دى فان منهم يعني له اسلافو څخه ددوى من كانوا انصار الله على الحقيقة انتهى قول المظهري مع ترجمة القندهاري لبعض عبارته.

فَنَسُوا حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوا بِهِ

نو هېر کړى يعني اكثر الموجودين في زمنه ﷺ او بعض من قبلهم هغه برخه كافياً څپله له هغه شي څخه چې دوى ته نصيحت کړاه سوى و په هغه سره يعني په انجيل کې چې ايمان راوړل وه پر عليه الصلوة والسلام باندې يعني تر بشارت پنه دې الفاظو د انجيل چې ترجمه يې داوه "ومبشرک بنبي ياتي من بعدي اسمه احمد" او خپل مذاهب او خواهشات نفسانيه په مخه واخسته او درې دلې سوله په باره کې د عيسى عليه السلام ملكانية، نسطورية او يعقوبية حتى چې بعضو به ويل چې عيسى عليه السلام خداى دى او مور يې هم خداى ده والله ثالث ثلثة، او بعضو به ويل چې عيسى عليه السلام ابن الله دى، او بعضو به ويل چې عيسى عليه السلام پخپله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای دی، او سره ددې په انجیل کې خو یوه له دغو دروغجنو نه وه بل ذالک قولهم بافواههم واهوائهم.

فَأَغْرَيْنَا بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ

نو موږ لازم او ملصق اوجوت کړی په منځ کې ددوی یعنې دده غو دروډلو عداوت او دښمنې، او بغض یو له بله سره یعنې دا مذکوره اختلاف ددوی په باره کې د عیسی علیه السلام د قیامت تر ورځې پورې.

پوه سه: چې خدای پاک "الی یوم القیامة" وویل، ولې چې په ورځ د قیامت به دا ښکاره سي چې دا درې سره ډلې پر باطل وې انما المسیح هو عبدالله ورسوله ویس.

وَسَوْفَ يُنَبِّئُهُمُ اللَّهُ بِمَا كَانُوا يَصْنَعُونَ ﴿٦٤﴾

او ژر دی چې خدای علیه السلام به دوی خبر کړي یعنې په جزاء او عذاب في الآخرة په سبب د هغه شي چې دوی کاوه په دنیا کې من الکفر في شان عیسی والمعاصي او عدم الاقتداء بالکتب ومنها الانجیل والقرآن الکریم.

دروښ وایي: چې دا آیت وعید شدید دی ددوی لپاره لکه یو سړي ته چې د بد عذاب اراده وي نو داسي ورته ووایي چې ژر دی چې زه به تا خبر کړم په هغه کار چې ما اراده کړې ده وتاته چې ستاسره هغه کار وکړم.

يَا أَهْلَ الْكِتَابِ قَدْ جَاءَكُمْ رَسُولُنَا

اې اهل کتابو په تحقیق تاسي ته راغلی دی رسول زموږ یعنې محمد ﷺ.

پوه سه: چې له اهل کتابو یهود او نصاری دواړه مراد دي.

سوال: د یهود کتاب خو تورات و او د نصاری وو کتاب خو انجیل و، نو دا خو دوه کتابه دي، نو کتاب یې ولې مفرد راوړی؟

ځواب: الف لام لپاره د جنس دی.

يُبَيِّنُ لَكُمْ كَثِيرًا مِمَّا كُنْتُمْ تُخْفُونَ مِنَ الْكِتَابِ وَيَعْفُوا عَنْ كَثِيرٍ

چې تاسي ته بیانوي د هر هغه شیان چې تاسي پټ کړي وه له کتاب څخه یعنې په تورات او انجیل کې لکه نعت د نبي علیه السلام او آیة الرجم په تورات کې او زبری د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

علیه الصلوة والسلام په نبوت سره دده په انجیل کې او عفو او اعراض کوئ د دېرو متاسو پټ کړو کارو څخه، ولې چې په هغو کارو پورې امر د نبي تعلق نه لري، نو رسوا کول به کومه فائده لري.

قَدْ جَآءَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ نُوْرٌ وَّكِتٰبٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۵﴾

عطف دی پر "رسلنا" یعنې تاسې ته راغلی دی کتاب چې بیانونکی دی د احکام الهیه وو، او یا معنا داده چې اعجاز یې ظاهر دی، نو "مبین" یا اسم فاعل متعدي دی یا لازمي.

پوه سه: چې قرآن کریم هم نور دی چې خلګ له ظلمات څخه د کفر ونور ته د ایمان رابولي او هم کتاب مبین دی. او بعض مفسران وایي چې مراد له نور څخه علیه الصلوة والسلام دی لکونه هادي الی طریق الحق والاسلام.

يَّهْدِيْ بِهِ اللّٰهُ مَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَهٗ سُبُلَ السَّلٰمِ

پوه سه: چې که نور او کتاب یو سې نو خو مفرد روا ړل د ضمیر به پرې رانه لري، او که له نور څخه علیه الصلوة والسلام او له کتاب څخه قرآن عظیم الشان سې، نو د توحید د ضمیر توجیه داده چې علیه الصلوة والسلام او قرآن حکماً سره یو دي چې دواړه هادي الی الحق والاسلام دي، او یا په اعتبار ددې چې علیه الصلوة والسلام مبعوث الهي دی او قرآن منزل الیه دی معجزة له.

ترجمه: لاربنوونه په هغه خدای ﷻ و هغه چاته چې متابعت کوي د خدای د رضا. چې په ایمان راوړلو کې نغښتې ده ولاري ته د سلامتیا له عذاب څخه د آخرت بلکې له عذابه د دنیا هم له دې سببه چې څوک چې عمل بالقرآن وکړي او غلا نه کوي، نو په دنیا کې به له عذابه د لاس پرې کېدو خلاص وي، او څوک چې عملاً بالقرآن عمداً مړي نه کوي نو د قصاص في الدنیا به خلاص وي، او څوک چې په مراعات د حکم د قرآن زنا نه کوي، نو له عذابه د درو وهلو یا رجم به په دنیا کې خلاص وي وعلی هذا قس شرب الخمر، والافطار عمداً الصوم رمضان وغیرهما نو پر بیان مذکور لفظ د سلام مصدر دی چې معنی یې سلامتي له عذاب څخه. او دا احتمال هم ستنه چې لفظ د سلام دي نوم د خدای ﷻ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وي، يعني ولاړو ته د خدای ﷻ شرائع د اسلام دي.

وَيُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ إِلَى النُّوْرِ بِإِذْنِهٖ

او خلګ باسي له تاریکیو څخه د کفر ورښا ته د ایمان په اراده د خدای ﷻ.

پوښتنه: "ظلمات" خدای پاک په لفظ د جمع راوړی، او "نور" یې په صیغه د مفرد وجه یې څه ده؟

ځواب: مراد له "ظلمات" څخه انواع د کفر دي، او انواع د کفر ډېري دي لکه شرک، مجوسیت، دهریت، یهودیت او نصرانیت. او مراد له "نور" څخه ایمان او اسلام دی چې هغه یو دی.

پوه سه: چې د "ظلمت" اطلاق پر کفر او د "نور" اطلاق پر ایمان مجاز تشبیهي دی کما لا یخفی فافهم.

وَيَهْدِيْهِمْ إِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿١٦﴾

او هدایت کوي علیه الصلوة والسلام او قرآن عزیز د خلګو ولاړي سمي ته، چې سړی د هغې لاړي په تلو سره به خدای ﷻ ورسېږي او په آخرت کي وجنت النعیم ته واصل سي.

فائده: هدایت و طریق مستقیم ته عین هدایت دی و سبل السلام ته.

سوال: عطف خو تغایر غواړي په منځ کي د معطوفینو فکیف الاتحاد بینهما کما قلت؟

ځواب: نحات وایي چې تغایر وصفي لکه په دې ځای کي چې سته پر ځای د تغایر ذاتي درول کېږي.

لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا إِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ

په تحقیق سره کافران سوي دي هغه کسان چې ویلي یې وه چې په تحقیق خدای چې دی مسیح یعني عیسی بن مریم دی.

پوه سه: چې قائلین ددې قول یعقوبیه دي د نصاری وو قائلون بالاتحاد بین الله والمسیح.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروېش وايي: چې تعجب دی ددې خلګو عقلو ته، اخیر عاقلان که نه وه انسانان خو به وه عیسی بن مریم خو په اتفاق سره د دوی د مریم له رحمه څخه پر طریقه د نورو ښځو د تولد پر دول پیدا سوی دی، نو که عیسی علیه السلام خدای وای، نو د مریمې د لنګېدو دمخه چې عیسی علیه السلام څنې پیدا سو د اسمانو او مځکې بلکې د ټولې مخلوقات نظام د چا په قدرت چلېدی، او د مریمې مور او پلار اجداد او امهات نو چا پیدا کړي وه.

سوال: هیڅ چا خو په اتحاد د خدای او عیسی قول نه دی کړی له نصاری وو څخه نو څرنګه یې نسبت د اتحاد ودوی ته صحیح دی؟

ځواب: هوا دوی خو تصریح په اتحاد نه ده کړې لکن ددوی له دې قول څخه چې دوی به ویل ان فیه ای في عیسی لاهوتاً خدای سته او دا به یې هم ویل لا اله الا واحد، نو له دې قول څخه ددوی دا لازمه سوه چې مسیح خدای دی، نو خدای پاک په دې آیت کې لازم د قول د دوی و دوی ته منسوب کړی چې اتحاد دی لان القول باللازم قول بالملزوم لپاره د بیان د جهل ددوی او لپاره د رسوا والي ددوی.

پوه سه: چې نصاری د نجران چې لپاره د بحث و مدینې منورې ته راغلي وه علیه الصلوة والسلام ته یې وویل چې خدای ګاهي په بدن کې د انسان یا په روح کې د یو انسان حلول کوي، نو هغه انسان باره خدای سي، قالوا ومن جملة ذالک عیسی فیکون اذا الهاً لعن الله بکفرهم، نودا آیت نازل سو.

قُلْ فَمَنْ يَمْلِكُ مِنَ اللّٰهِ شَيْئًا إِنْ أَرَادَ أَنْ يُهْلِكَ الْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَأُمَّهُ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا

ته دوی ته ووایه چې څوک دی قادر پر دې چې له خدای ﷻ څخه دې منع کړي یو شی، که خدای ﷻ اراده وکړي چې مسیح بن مریم دې هلاک کړي او دده مور دې هم هلاک کړي، او هغه څوک چې په مځکه کې ټولو دې هلاک کې، والاستفهام للانکار ای لا مانع لقدرته تعالی یعني عیسی علیه السلام او مور دده خو یو مخلوق دی لکه نور مخلوقات لکه هغه چې قابل د هلاکت دي، نو عیسی او دده مور هم په سبب د حدوث او امکان قابل د هلاکت دي، او خدای ﷻ خو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چونکه واجب الوجود دی قابل د هلاک نه دی، نو عیسی او مور دده لکه نور مخلوقات خدایان نه دي فبطل قول اليعقوبية بالطريق البرهاني.

دروښ وايي: چې که مطالعه کونکي زما د تفسیر په قیاساتو عقلیه وو پوهېدای ما به په عربي یو قیاس مرتب کړی د شکل اول له قسمه څخه سالبة الکبری لینتج السلب الکلي وهو ان لا شئ من المخلوق بآله فافهم، علی نهج قولهم کل انسان حیوان ولا شئ من الحیوان بحجر ینتج لاشئ من الانسان بحجر.

وَلِلَّهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ

او خدای پاک لره ده بادشاهي یعني الملک والتصرف د اسمانو یعني ما مع فیها من الملائکة والکواکب وغیر ذالک او د محکي یعني مافیها من الخزائن وما علیها من الحیوانات والنباتات، او د مابین د اسمانو او محکو من کائنات الجو التي لا یعلمها الا الله ﷻ او خدای پاک پیدا کوي هغه شی چې ورته اراده یې سي.

بوه سه: چې بعض خلګ بهله مادې او نقشې پیدا کوي لکه اسمانونه او محکه، او بعض مخلوق له داسي مادې څخه پیدا کوي چې د جنس د هغه مخلوق نه وي لکه آدم من تراب، او یا له یوازي نر څخه لکه حواء من ضلع آدم او بعض له یوازي ښځي څخه لکه عیسی علیه السلام من مریم بنت عمران، او بعض مخلوق د نر او له ښځي څخه لکه عمومي انسانان او نور حیوانان.

وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ ۝

او خدای پاک پر هر شي قادر دی من الاحیاء والاماتة وغیر ذالک ولا یعلم جنود ربک الا هو.

نتیجه: نو څرنګه په یو وي هغه څوک چې شان د هغه امکان او حدوث او احتیاج وي لکه عیسی علیه السلام د هغه ذات مقدس سره چې مذکوره شیان د هغه مخلوق دی لکه نصاری چې ددې اتحاد دعوه کوي.

یوه سه: چې ابن اسحاق رحمه الله له ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چې ګڼ شمیر یهودان او ددوی احبار و علیه الصلوة والسلام ته راغله نو دوی د علیه الصلوة والسلام سره خبرې وکړې، او علیه الصلوة والسلام په وعظ او تبلیغ د بهرې له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عذاب څخه د خدای ﷻ که ایمان را نه وړي شروع ورته وکړه، نو دوی ورته وویل چې ته موږ ولې بېروې له عذاب څخه او حال دا دی چې موږ زامن د خدای یو او دوستان د خدای ﷻ یو لکه عیسی، فانزل الله تعالی هذه الآیة الآتي، وفي المثنوي

د امن او گیر ای یار دلیر — کو منزه باشد از بالا وزیر
نی چو عیسی سوی گردون برشود — نی چو قارون درزمین اندر شود

له عبادة بن الصامت ﷺ څخه روایت دی عن النبي ﷺ قال من شهد ان لا اله الا الله وحده لاشریک له وان محمداً عبده ورسوله وان عیسی عبدالله ورسوله وکلمته القاها الی مریم وروح منه والجنة حق والنار حق ادخله الله الجنة علی ماکان من عمل.

دروښ وایي: چې موږ ټوله مسلمانان دا ټولي خبري وایو او حق یې بولو، فادخلنا الجنة مع الابرار والنجاة من النار علی ای عمل کنا علیه من المعاصي وانا نرجوا ذالک من فضلک العمیم تصدیقا لنبیک الکریم.

وَقَالَتِ الْيَهُودُ وَالنَّصٰرٰى نَحْنُ اَبْنٰٓؤُا اللّٰهِ وَاَحِبَّآؤُهٗ ؕ

پوه سه: چې بعض مفسران ددوی ددغه قول داسي ترجمه کوي چې خدای پاک موږ لره لکه پلار داسي دی په مهربانی او لطف کي، او موږ لکه زامن داسي یو په قرب او منزلت کي، او ابراهیم نخعي رحمه الله وایي چې یهودانو په تورات کي دا آیت پیدا کړی "یاابناء احباري" ای زامنو د علماؤ د تورات، نو یې په دې بدل کړی یاابناء ابکاري، نو ځکه یې وویل نحن ابناء الله، او بعض مفسران یې په حذف د مضاف ترجمه کوي یعني نحن ابناء رسول الله، او بعض مفسران وایي چې د یهودانو مراد دا و، چې موږ اتباع د خدای د زوی عزیر علیه السلام یو، او د نصاری وو مراد دا و چې موږ اتباع د خدای د زوی یعني عیسی یو.

دروښ وایي: چې دعوې د یهودانو او د نصاری وو چې موږ احباء د خدای ﷻ یو خو کذب بحت و، او په حقیقت کي احباء د خدای ﷻ اولیاء الله دي علی اختلاف درجاتهم بعض عوام احباء دي او بعض خواص احباء دي، او بعض یې اخص الخواص احباء دي، اللهم اسلک بنا مسالک کراماتهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قُلْ فَلِمَ يُعَذِّبُكُمْ بِذُنُوبِكُمْ

ته ورته ووایه اې محمده ﷺ، نو ولې خدای پاک تاسې په عذابوي په سبب د ګناهو ستاسې.

پوه سه: چې کلمه د فاء جواب د شرط محذوف ده ای ان صح ماقلتم فلم آه، ولې چې مهربانه پلار خو زوی نه په عذابوي، او قادر حبیب خو هم خپل حبیب نه په عذابوي، او سره ددې چې خدای ﷻ تاسې ته په دنیا عذاب د قتل او بندي کولو په لاس د مسلمانانو یا د نورو دښمنانو تاسې ته درکوي، او مسخ په قردۀ او خنازیرو سره ستاسې په برخه کړې وه او دا وعید یې هم درکړی دی چې په ورځ د قیامت په دوزخ کې یاست فدعوا کم اذاً باطلة.

بَلْ أَنتُم بَشَرٌ مِّمَّنْ خَلَقَ ۚ يَغْفِرُ لِمَن يَشَاءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَاءُ ۚ

بلکې تاسې یو بشر یاست د هغو خلګو چې خدای ﷻ پیدا کړي دي، نو لکه نورو لره چې جزاء د بنه کار او بد کار سته تاسې لره هم ورته جزاء سته، او خدای بخښي یعني ماسوی له کفر څخه و هغه چاته چې اراده د بخښې ولري فضلاً منه تعالی او لاوجوب علیه تعالی او عذاب ورکوي هغه چاته چې مشیت یې وي عدلاً منه.

وَلِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۖ وَإِلَيْهِ الْمَصِيرُ ﴿١٨﴾

او خدای ﷻ لره دی تصرف او سلطنت د اسمانو او مځکې او د منځ د اسمانو او مځکې او خدای ته ستاسې ورتګ دی، یعني په ورځ کې د قیامت، نو ټوله چې مملوک د خدای دی او په مملوکیت سره برابر، نو عیسی علیه السلام هم یو مخلوق او مملوک دی نه ابن الله دی او نه خدای دی او نه هم ثالث ثلثه دی، کما یدل علیه الفرق الثالثة من النصاری کمامر.

پوه سه: چې په "الیه المصیر" کې وعد للمؤمنین و وعید للکافرین دي.

شان نزول: محمد بن اسحاق له ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چې علیه الصلوة والسلام یهودانو ته دعوت د اسلام ورکړی، نو معاذ بن جبل او سعد بن عبادة رضي الله عنهما ورته وویل یا معشر الیهود اتقوا الله، له خدایه وبیرېږئ قسم په خدای دی چې تاسې بنه پوهېږئ چې علیه الصلوة والسلام رسول د خدای ﷻ دی، او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قسم په خدای دی چې تاسي به دمخه تر بعثت دده مورِ ته به مو ذکر د نبي اخیر الزمان کاوه، او واقعي نعوت چې په تورات کې د نبي اخیر الزمان وه مورِ ته به مو بیانوله، نو رافع بن حرملة او وهب بن یهودا وویل چې مورِ تاسي ته هیڅ بیان نه دی کړی او تر موسی علیه السلام وروسته هیڅ نبي نسته، او تر تورات وروسته هیڅ کتاب نسته فانزل الله تعالی.

يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ قَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمۡ عَلَىٰ فَتۡرَةٖ مِّنَ ٱلرُّسُلِ

ای اهل کتابو یعني الیهود والنصاری،

دروښ وایي: چې که څه هم مخاصمین د علیه الصلوة والسلام او د سعد بن عبادة او معاذ بن جبل رضي الله عنهم سره یهودان وه کما مر في شان النزول لکن عبرت او اعتبار عموم لره د لفظ دی خصوص لره د مورد نه دی ولهذا شملت الآیة النصاری ایضاً لعموم لفظ اهل الکتاب، په تحقیق سره تاسي ته راغلی دی رسول زمورِ یعني محمد ﷺ چې تاسي ته بیانوي شرائع د دین اسلام من العقائد والعلمیات حذف هذا المفعول لظهوره لان حال الرسول یدل علی ذالک، او یبین لکم ماکنتم یې حذف کړی لتقدم ذکره، او جمله "یبین" حال ده له "رسولنا" څخه والمعنی جائکم رسولنا مبینا لکم، په وخت کې د فتور او د انقطاع د وحي وروسته تر عیسی علیه السلام وحي قطع سوي وې تقریباً شپږ کاله.

أَن تَقُولُواْ مَا جَآءَنَا مِنۢ بَشِيرٖ وَلَا نَذِيرٖۖ فَقَدۡ جَآءَكُم بَشِيرٞ وَنَذِيرٞۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ١٩

ښوه سه: چې د "ان" دمخه مضاف محذوف دی ای کراهة، والمعنی له جهته د کراهت ددې عذر ستاسي چې تاسي به وایاست چې مورِ ته نه زېرې کونکي د جنت راغلی و، او نه بېرونکی د دوزخ راغلی و نو مورِ معذوره یو، نو په تحقیق هغه راغلی و تاسي ته زېر کونکی او بېرونکی، یعني محمداً ﷺ، او خدای پاک پر هر شي قادر دی قدرةً تامةً، نو ګاهي وحي پرله پسې را استوي لکه په منځ کې د موسی او عیسی علیهما السلام چې ددغو نبیانو تر منځ یو زر اووه سوه کاله، او یا یو زر او پنځه سوه کاله فاصله وه، او په دې دوران کې خدای پاک یو زر انبیاء علیهم السلام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

را استولي وه، او ګاهي خداى پاک په را ستولو کي د نبي ځنډ ورکړى لکه په منځ کي د عيسى او محمد على نبينا وعليه والسلام چې په منځ کي د دوى بعض راويان وايي چې شپږ سوه کاله، او بعض راوايان وايي پنځه سوه او شپېته کاله فاصله وه.

پوه سه: چې اکثره رواة الحديث پر دې متفق دي چې تر عيسى عليه السلام وروسته بل نبي نه دى راغلى بېله محمد ﷺ، مظهري وايي چې په دې آيت احسان اچول دي د خداى ﷻ له خوا پر موجودينو د عصر نبوي ﷺ چې په داسي وخت کي يې عليه الصلوة والسلام وتاسي ته را واستوى چې د وحي اثار قطع سوي وه، او خلګ د هر وحي ته لالهانه وه، او په حديث صحيح کي راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام وويل "انا اولى الناس بعيسى بن مريم فانه ليس بيني وبينه نبي".

پوښتنه: بعض خلګ وايي چې خالد بن سنان رحمه الله عليه په منځ کي د عيسى او د عليه الصلوة والسلام نبي و؟

ځواب: خالد بن سنان اخبار د برزخ بعد الموت بيانول او اظهار د نبوت يې په دنيا کي نه دى کړى، او نه يې هم دعوه د نبوت کړې ده، وقصته على ما في روح البيان. چې خالد بن سنان په بلادو کي د عدن اوسېدى چې ناګاه يو اور د يو نژدې غره له غاري څخه را ووتى چې د هغه ځاى کښتونه او مواشي يې تولې له منځه يوړه، نو د هغه ځاى خلګ تولې خالد بن سنان ته ورغله چې دې اور چاره يا په دعاء له خدايه يا په يو بل شي سره را وکړه، نو خالد لکړه پسي ورواخسته دا اور يې په لکړه ووا هه، نو اور چې له کومي غاري څخه را وتلى و بيرته په هغه غار ننوتى، نو خالد وخلو زامنو ته وويل چې زه په اور پسي په دې غاري ننوځم او دا اور هلته وژنم چې وروسته بيا دا واقعه پېښ نه سي، او دوى ته يې وويل چې پوره دري ورځې دري شپې وروسته ماته را ناري کړئ، ولي که تر دري ورځې دمخه تاسي ماته را ناري کړې زه به را ووځم لکن مرمه، او که پوره دري ورځې وروسته مو را ناري کړې زه به سالم را ووځم، دى چې ننوتى او دوې ورځې تېرې سوې شيطان يې د زامنو په زړه کي دا وسوسه وروا چوله چې څه فرق لري پسې ناري کړئ که ژوندى و را وه به وځي، نو زامنو يې صبر ونه کړى په دې ګمان چې اوس به په غار کي اور سوځلى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وي. باره يې ور نارې کړې. نو خالد له غاره را ووتی او پر سر يې ډېر درد و. زامنو ته يې وويل چې زه مو ضائع کړم او زما وصيت مو نه کړی پر ځای. او زامنو ته يې د خپل موت خبر ورکړی او ورته وه يې ويل چې ما به قبر ته وسپارئ. حاصل د حکايت د سنان دادی چې دی داسې شخصيت و چې مجاب الدعواة و.

دروښ وايي: چې بيانول د خالد بن سنان احوال البرزخ دا بيان روح البيان په ډېره اوږده قصه بيان کړی دی ان شئت فرجع اليه.

وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ يَا قَوْمِ اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ جَعَلَ فِيكُمْ أَنْبِيَاءَ

او ذکر کړه يا محمد ﷺ هغه وخت چې وويل موسی عليه السلام د خپل قوم ته يعني بني اسرائيلو ته ای زما قومه په ياد کړئ نعمت د خدای ﷻ پر تاسي چې پيدا کړي يې دي په تاسي کې انبياء چې تاسي ته لار د خدای ﷻ دروښيي. او احکام د خدای پاک دروښيي. ولي هر نبي نعمت دی د خدای ﷻ د هغه د امت لپاره. فالانبيا. الکثيرون نعم کثيرة.

فائده: په هيڅ امت کې دونه ډېر نبيان خدای ﷻ نه دي را استولي لکه په بني اسرائيلو کې.

وَجَعَلَكُمْ مُلُوكًا

ای جعل بعضکم ملوکاً بحذف المضاف اذ الکل لا يمکن انيکون ملوکاً او هو من قبيل قولهم بنو فلان قتلوا. مع ان القائل منهم واحداً. يعني نسبت د فعل د بعض يې وکل ته وکړی. او دا هم لکه نبوت چې په دوی کې ډېر وو. داغه رنګه وروسته تر هلاک د فرعون بادشاهان يو په بل پسې ډېر وه حتی چې په غرور د سلطنت بعض ملوک ددوی بغاوت مختار کړی له امر څخه د خدای ﷻ حتی چې يحيی عليه السلام يې په قتل ورساوه او اراده د قتل د عيسی عليه السلام يې هم کړې وه لکن هغه خدای پاک اسمانو ته ځني بوتلی. او ابن عباس رضی الله عنه وايي چې مراد له ملکو څخه اصطلاحي ملوک نه دي بلکې مراد خاوندان د خادمانو او نوکرانو او ددبدبې دي ولم يکن لمن قبلهم خدم يعني بتلک الکثرة کمالهم. په حديث کې د عبد الله بن عمرو بن العاص راغلي دي چې يو سړي له ده څخه پوښتنه وکړه السنا من

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فقراء المهاجرين فقال له عبدالله بن عمرو بن العاص ﷺ ته ماينه لرې په کور کې هغه ورته وويل هو! عبدالله ﷺ ورته وويل چې سرای لهرې د اوسېدو لپاره، هغه ورته وويل هو! نو عبدالله ﷺ ورته وويل چې ته خو نو له اغنياؤ څخه يې هغه ورته وويل چې خادم هم لرم، عبدالله ﷺ ورته وويل تو خو له ملوکو څخه يې، او نور هم تفسيرونه د مملکاتو رواتو کړي دي.

وَاٰتٰىكُمْ مَّا لَمْ يُؤْتِ اَحَدًا مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ۝

او خدای ﷻ درکړي دي تاسي ته هغه شيان چې هيڅ چا ته نه دي ورکړه سوي د عالمیانو ستاسي په زمانه کې، ولې چې د انبياء عليهم السلام په مجلس به مشرف واست، او نور مراتب د قرب الی الله تعالی، او په دنيا کې به مو هم شان وشوکت لوړ و، او د موسی عليه السلام غلبه پر لوی دښمن د خدای او د رسول د فرعون په غرقېدو سره معاينه کړه الی غير ذالک من الکرامات والمکرمات.

يٰقَوْمِ ادْخُلُوا الْاَرْضَ الْمُقَدَّسَةَ الَّتِيْ كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ

اې قومه داخل سئ و محکې مقدسې ته چې فرض کړی دخول د هغې ارض مقدس پر تاسي باندې لکه لمونځ، روژه وغيرهما من الفرائض، دا هم مقوله ده د موسی عليه السلام ودوی ته.

دروبش وايي: چې راويان په ارض مقدسه کې اختلاف لري چې کومه محکه ځنې مراد ده، مجاهد رحمه الله وايي چې کوه طور و ماحوله ځنې مراد دی، ضحاک وايي چې ايليا، او بيت المقدس ځنې مراد دی، عکرمه او سدي وايي چې اريحا، ځنې مراد دي، او کلبي رحمه الله وايي چې دمشق، فلسطين او بعض اردن ځنې مراد دي، قتاده وايي چې ټوله شام ځنې مراد دی، کعب احبار ددې اخيري ارادې په تائيد کې وايي چې ما په کتاب منزل کې ليدلې ده چې شام خزانه د خدای ﷻ ده په محکه کې او په شام کې خزانې د بنو و بندګانو د خدای ﷻ سته او مقر د انبياء کرامو دی او مسکن د مؤمنانو دی قديماً وحديثاً، نو ځکه يې ارض مقدسه وبلل.

وَلَا تَرْتَدُّوْا عَلٰٓى اَدْبَارِكُمْ فَتَنْقَلِبُوْا خٰسِرِيْنَ ۝

او تاسي مه ځئ د شا پر خوا يعنې مصر ته، نو که تر شا راسئ تاسي به وګرځئ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تاوانیان یعني له ثواب څخه د دنیا او اخرت به محرومه یاست.

پوه سه: چې بعض مفسرینو لکه صاحب د روح البیان وغیره د کتب الله لکم ترجمه داسې کړیده چې کتب الله في اللوح المحفوظ چې دا ارض مقدسه به ستاسې د قرار ځای وي.

پوه سه: چې پر دې تقدیر یو شرط مقدر غواړي یعني ان آمنتم واطعمتم الله في قوله تعالی یاقوم ادخلوا" لقوله تعالی فیما سیئاتي وروسته تر دې چې دوی عصیان وکړي له امر څخه د خدای ﷻ فانها محرمة علیهم اربعین سنة، او عین ممکنه ده چې ضمیر د لکم دي و بنې اسرائیلو ته راجع وي په اعتبار د بعضي افرادو چې مطیعین د امر الله وي. او ضمیر د "محرمة علیهم آه" نسبت و بعض اخر ته وي چې عاصین د امر الله وي. نو معنا داده چې په لوح محفوظ کې دغه دوارې قسمه نوشته دي یعني کتب الله لکم ای للمطیعین المحرمة علیکم آه ای علی العاصین، او یا داسې ووایه چې "محرمة" خو مقید دی په "اربعین سنة" سره، نو وروسته به تر څلوېښت کاله ارض مقدسه د تولو مسکن وګرځي وکان کذالک.

دروښ وایي: پر دې دوارې تقدیره هغه سوال دفع سو چې په منځ کې د "کتب لکم في اللوح المحفوظ" او د هغه آیت "محرمة علیکم اربعین سنة" تعارض دی.

پوه سه: چې بغوي او روح البیان دوارو داسې قصه راوړې ده چې خدای ﷻ د موسی علیه السلام سره وعده وکړه چې زه ارض مقدسه یعني شام تا او ستا قوم ته په تصرف درکوم یعني د جهاد په سبب، او ارض مقدسه د کنعانیانو په تصرف کې وه چې په شام کې زر قریې دې او په هره قریه کې زر باغه وه. نو خدای پاک و موسی علیه السلام ته وویل "یاموسی اني کتبتها لکم داراً وقراراً فاخرج وجاهد من فیها من الجبابرة الذین هم عداء الله" او موسی علیه السلام ته خدای ﷻ وویل چې له بني اسرائیلو څخه چې دوولس قومه وه په هر قوم کې یو نقیب یعني رئیس او مشر وروټاکه چې هر نقیب به د خپل سبط ضمانت د وفاء کوي بما امر الله به، موسی علیه السلام هم دغسې وکړه، نو موسی خپل قوم رارهي کړی لکن صحیح تعداد چا نه دی بیان کړی دا قدر په تفاسیرو راغلي دي چې د موسی علیه السلام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عسکر فرسخ مضروب في الفرسخ مځکه کي به يې اړول، نو چې موسی علیه السلام او قوم دده و اریحاء ته نژدې سول، نو موسی علیه السلام هغه دوولس نقیبان لپاره د تجسس او د معلومات د جبابره واستول، نو دوی چې هغه وطن ته ورغله یو نفر د جبابره وو چې عوج بن عنق یې نوم و ددوی سره ملاقي سو چې ددې عوج بن عنق (۳۳۳۳) درې زره درې سوه درې د هرش ګزه او یو ثلث زراع یې قد و، او وریځ به دده د پرتګانې تر ځایه وه او ده به د وریځي اوبه څیښلې او ماهی به یې له دریاب د بهخه راوکښې او اسمان ته به یې پورته کړې په لمر به یې پوخ کړې او خوړې به یې، او راوي وایي چې د طوفان نوح اوبه د عوج تر زنګنو پورې وې او درې زره کاله یې عمر و حتی چې دده پر لاس ووژل سوه تعداد یې نه دی معلوم. نو عوج مذکور چې دا دوولس نقیبان ولیدل او د بټو غوزی یې هم پر سر و، نو دا دوولس سره یې په ګنډه چخ کړه او ټوله یې د ماینې و مخ ته وغورځول، او ماینې ته یې وویل چې دا کسان وایي چې موږ ستا سره جنګ کوو، نو ماینې ته یې وویل چې دا دوولس سره تر یوه پښه لاندې چوختان کړم؟ هغې ورته وویل یا مه یې ورته چې دوی خپل وروسته لښکر ته دا حال ورکړي، او په هم دغه قصه کې دا راغلي دي چې عوج یو لوی غر په قدر د عسکر د موسی راپوته کړی چې پر هغو یې ور ایله کړي او ټوله تر لاندې کړي، نو خدای علیه السلام ملا چرګک پیدا کړی او په منښو که یې هغه سوری کړی او د عوج په غاړه کې ولوېدی عوج غځار سو او موسی علیه السلام ور ولاړ سو او مړ یې کړی.

دروښ وایي: چې قصه خلاصه سوه، خو زه وایم چې د عوج قصه او د قدد عنق قصه او د ملاچرګک قصه دا ټوله درواغ دي نه په یو حدیث صحیح یا ضعیف کې راغلي دي او نه یې عقل او نه یې نقل منې، او محدثین ټوله له دې قصې څخه انکار کوي. او تعجب ودې ته دی چې بغوي چې څان محدث بولي او په هر حدیثونه په سند سره ذکر کوي دا قصه څرنګه رانقل کوي، او مظهري چې له بغوي څخه اکثره ځایونه په خپل تفسیر کې نقل کوي هغه هم دا قصه د بغوي په سخت رد سره کړې ده لکن عبارت یې داسي ویلی دی فیه مبالغات آه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې داسې قصه يا مثل ددې قصې د اسلام د سپېڅلي دين رنګ په بدېږي، د دين اسلام منکرين به وايي چې ستاسې په اسلامي تفاسيرو کې داسې له عقله لېرې قصې ستە. البته دا قدر صحيح ده چې جبابره اعظم جثه وه تر نورو عادي خلګو او په قوت او زور کې هم ډېر قوي وه او زرآور وه.

خير نقباء دوولس نفره چې راغله او موسی عليه السلام ته يې د جبابره ووصورت حال ووايه، نو موسی عليه السلام ورته وويل چې دا د جبابرو حال پټ وساتئ او عسکر د بني اسرائيلو مه په خبرولئ چې بيا ببزاره کېږي او جنګ ته نه ځي، نو دغو دوولسو نقباؤ هره يوه صورت حال د جبابره وو خپل سبط ته بيان کړی، مګر دوو کسانو حال مطابق د امر سره د موسی عليه السلام حال پټ وساتی، يو يوشع بن نون بن افرايم بن يوسف او بل کالب بن يوحنا چې د موسی عليه السلام زوم و يعنې د خور مېړه يې و مريم بنت عمران، چې له سبط څخه د يهودا و، خير دا خبره د جبابره وو چې په بني اسرائيلو کې شائع سوه، ټولو په لوړ آواز بغاړي او نارې کړې، او داسې يې وويل ياليتنا متنا بمصر، کاشکې مورږ په مصر کې مړه واى. وليتنا نموت ولا ندخل ارض الجبابرة، او کاشکې مورږ مړه سو او د جبابره و محکو ته داخل نه سو فتکون نسائنا و اولادنا واثقالنا غنيمة لهم، نو زمورږ ښځې او اولادونه او سامانونه به ټوله غنيمت سي و جبابره وو ته.

دروښ وايي: چې اخيري نتيجه د حال د نشر او اشاعت کولو دا سوه چې قوم د موسی عليه السلام يعنې بني اسرائيلو په کلکه سره منع وکړه له جبابره وو له جنګ څخه، او موسی عليه السلام ته يې داسې وويل.

قَالُوا يٰمُوسٰٓى اِنَّ فِيْهَا قَوْمًا جَبَّارِيْنَ ۖ

دوی وويل اې موسی عليه السلام په تحقيق سره په دې ارض مقدسه کې يو قوم ستە چې ډېر جابران دي.

پوه سه: چې جبارين جمع د جبار ده چې صيغه د مبالغې ده مشتق دی له جبر څخه، نو د جبار معنا هو العالي چې خلګ مجبوره کوي پر مايريد باندې، بغوي وايي چې جبار هغه څوک دی چې وسر ته يې د چالاس نه رسېږي لکه په دې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

محاوره کي نخلة جبارة اذا کانت طویلة ممتنعة عن وصول الایدي الی راسها. نو جبابره چې په دې نامه مسمی سول په سبب د دې هر جګوالي د قامت ددوی تر عادي ځلګو او په سبب د قوت په اجسامو کي ددوی او یا په سبب د دې هر والي ددوی د لښکرو او د اموالو او د حربي آلاتو، او دوی په قول د بغوي د عمالقه وو او د بقایا وو څخه د قوم عاد وه، نو قوم د موسی علیه السلام وده ته دا خبره هم وکړه.

وَإِنَّا لَنْ نَّدْخُلَهَا حَتّٰى يَخْرُجُوْا مِنْهَا فَإِنْ يَّخْرُجُوْا مِنْهَا فَإِنَّا دٰخِلُوْنَ ۝

او موږ هر ګز نه داخلیږو مګکي ته د جبابره وو تر هغه وخته چې دوی ووځي، نو که دوی ووځي له ارض مقدسه څخه نو موږ بیا داخلیږو، نو حاصل ددوی ددې ځواب دادی چې موږ ددوی د جنګ طاقت نه لرو، راوي وایي چې بني اسرائیلو چې دا خبره وکړه او وه یې ویل چې موږ بیرته مصر ته ستانه کیږو، نو موسی او هارون چې پر سجده خدای ﷻ ته پراته وه، نو ددې دوو کسانو حال خدای پاک په دې آیت کي بیان کړی.

قَالَ رَجُلٰنِ مِنَ الَّذِيْنَ يَخَافُوْنَ أَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمَا ادْخُلُوْا عَلَيْهِمُ الْبَابَ

وویل دوو کسانو له هغې ډلي څخه چې د خدای ﷻ له عذاب ببر ډدل چې کالب او یوشع نومیدل علی الروایة المشهورة، چې خدای ﷻ احسان کړی و پر دوی په ایمان او تینګ والي سره پر ایمان چې داخل سي پر جبابره وو باندې پر دروازه د قریه ددوی، یعني دروازه محکمه ورته ونه سئ په زور او ازدحام سره یعني چې دوی صحرا ته در څخه ونه وځي.

فَإِذَا دَخَلْتُمُوْهُ فَإِنَّكُمْ غٰلِبُوْنَ ۝

چې تاسي پر دروازه ور داخل سئ، نو په تحقیق تاسي به پر دوی غالبه وګرځئ.

پوه سه: چې انعم الله علیهما دوهم صفت دی د رجلانو. او دا خبره چې دوی وکړه "فاذا دخلتموه الخ" دا د غایت محکم والي د ایمان وه، او بل په دې سبب چې خدای ﷻ خپله وعده پوره کوي یعني کتب الله لکم، او دې دوو کسانو و نورو بني اسرائیلو ته وویل چې موږ خو جبابره ولیدل په بدن ګټ ګټ وه لکن زړونه یې ضعیفه وه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَعَلَى اللّٰهِ فَتَوَكَّلُوْٓا اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۲۳﴾

او دې دوو کسانو وویل و نورو بنې اسرائیلو ته چې د خدای ﷻ توکل واخلئ یعنې پر خدای ﷻ تکیه او اعتماد وکړئ په دې جنګ د جبابره وو که تاسې په کامل ایمان سره موصوف یاست، ولې چې خدای ﷻ ناصر دی د خپلو اولیاؤ پر اعداؤ خپل، نو بنو اسرائیلو غوښته چې دغه دوه کسان په ډبرو وولئ، ولې چې دوی ته پېغور د "ان کنتم مؤمنین" ورکړی لکن موسی علیه السلام دوی له دې رجم څخه منع کړه.

قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى اِنَّا لَنْ نَّدْخُلَهَآ اَبَدًا مَّا دَامُوْا فِيْهَا فَاذْهَبْ اَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَآ اِنَّا هٰهُنَا قٰعِدُوْنَ ﴿۲۴﴾

او وویل بنې اسرائیلو و موسی علیه السلام ته یعنې په ډېره سپېن سترګې او بې حیایې سره، چې ای موسی موږ نه داخلېږو و وطن ته ډ جبابره وو ابداً، تر هغو پورې چې جبابره پکښې موجو وي په دې قریه کې نو ولاړ سه ته او ستا خدای او رب جنګ وکړئ د جبابره وو سره موږ دلته درته ناست یو، یعنې تا او ستا خدای چې د جبابره وو وطن فتح کړی پر موږ ډغ وکړئ نو موږ به هم در داخل سو.

فائده: دا خبره چې دوی وکړه فاذهب آه، دا پر حقیقت نه ده محمول بلکې دا خبره بې استهزاء په خدای او په رسول د خدای چې موسی و وکړه وعدم المبالات بهما، نو په دې خبره ټوله کافران سوه، ولې چې استهزاء په خدای او په رسول سره کفر دی په ادیانو کې بالاجماع، او مظهري وایي چې دا خبره یعنې چې دوی استهزاءً دا خبره وکړه مستبعد جداً، ولې چې په دې خبره خو دوی کافران وګرځېدل، نو بیا مصاحبت ددوی سره څرنګه کېدای سوای، او سره ددې چې د موسی علیه السلام سره مصاحب وه، او پر دی باندې په تیه کې من او سلوی نازېدل، او وریځ به یې پر سر و سایوان وه له ګرمی څخه د لمر، او لپاره د شرب د دوی انفجار د عیون کېدی آه.

دروښ وایي: چې اولاً د کفارو مصاحبت او ددوی لپاره خواست د نعمت خو د علیه الصلوة والسلام له خوا هم واقع سوی چې په بخاري وغیره کې راغلې دي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې علیه الصلوة والسلام چې تمرد ده کفار د قریش او دوام پر کفر او قسم قسم استهزاء د دوی یې ولیده داسې ښېرا یې وکړه، اللهم اعني علیهم بسبع کسبع یوسف، یعني ماته کومک پر دوی راکړی په اووه کاله قحط لکه اووه کاله قحط چې یوسف په زمانه کې و، نو پر اهل مکه قحط مسلط سو تر دې حده چې جیف به یې خوړی او تازه هډوکي به یې په اوبو کې ایشول او هغه به یې څېښل الی غیر ذالک من اثار القحط، نو ابو سفیان و علیه الصلوة والسلام ته خواست وکړی او خدای ﷻ بارانونه وکړه، واما ثانیاً د اسرائیلو کفر او ایمان ګړی په ګړی بدلېدله، ولي چې موسی علیه السلام طور ته ولاړی د تورات د راوړلو لپاره دوی په عبادة العجل سره کافران سوه کمامر قصته، موسی علیه السلام راغلی دوی بیرته توبه وکښل له عبادة العجل څخه حتی په قتل الانفس سره راضي سوه په توبې کې کمامر ذالک ایضاً مفصلاً، نو په موجوده واقعه کې که څه هم دوی په استهزاء بالله ورسوله کافران سوه لکن وروسته د موسی علیه السلام له وعظ او هیبت څخه یې بیرته توبه وکښل پر استهزاء، او په تیه کې دوی د خدای ﷻ په عذاب اخته وه، لکن چونکه دا عذاب موقت و په اربعین سنة سره، او په دونه ممتد وخت کې خو د خوړو او اوبو څخه چاره او د لمر د ګرمی وساتني ته ضرورت و، نو ځکه خدای ﷻ په عین عذاب تر وخت د میعاد مقرر دوی ته هم من او سلوی د خوراک لپاره ور مقرر کړه، او د شرب لپاره یې له ډبرې څخه په ضرب د موسی بالعصاء انفجار العیون ورکړې، او له ګرمی څخه یې په سایه سره د وریځې نجات ورکړی.

سوال: که دوی توبه د استهزاء بالله ورسوله څخه کښلې وای، نو دوی ته عذاب په تیه کې ولې ورکول کېدی؟

ځواب: تیه خو په سبب د امتناع ددوی وه د جنګ سره د جبابره وو او ارض مقدسه ته د نه داخلېدو په سبب، نه په سبب د استهزاء.

دروښ وایي: چې دروسته مظهري ددوی خبره د استهزاء وصحیح خبرې ته داسې را اړولې ده بقوله، فالمعنی اذهب انت وربک یعینک.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي قرآن کلام الهي دی پر خپله رایه باید توجیه څوک ونه کړي او قرآن له دومره عبارت "وربک یعینک" له حذف څخه څرنګه متحمل کېدای سي، او بل ددې حذف سره هغه قول د خدای پاک حکایةً عن بني اسرائیل فقاتلا په صیغه د تثنیه منافي دی صراحةً نه پوهېږم چي مظهري به قاتلاً د خپلي توجیه سره اذهب وربک یعینک سره څرنګه برابر کړی، او بل دادی چي بني اسرائیل په دغه قول چي فقاتلا ضرب المثل ګرځېلی حتی چي په هغو مثالو د مظهري توجیه ګنجائش نه لري.

درویش وایي: چي علامه بغداد الآلوسي رحمه الله علیه په روح المعاني کي وایي وقالوا ذالک استهانة واستهزاء به سبحانه وتعالی وبرسوله موسی علیه السلام وعدم مبالات لغایة جهلهم وقسوة قلوبهم، وروسته روح المعاني توجیه د مظهري له بلخي څخه رانقل کړی بقوله فاذهب انت وربک یعینک، ثم قال الآلوسي وهو خلاف الظاهر وقال ولا یساعده قوله تعالی فقاتلا بصیغة التثنیة، ولي چي پر تقدیر د بلخي او د مظهري مناسب دا وه فقاتل کما لا یخفی.

درویش وایي: چي پر رد د مظهري رحمه الله علیه خو فاذهب کلام تام دی او "ربک" مبتداء ده "یعینک" يې خبر دی، نو د "اذهب" د ضمیر متصل په "انت" سره تاکید ته څه ضرورت و، ولي چي نحات وایي چي تاکید ته د ضمیر متصل په انت سره هلته ضرورت سته چي بل منفعل لفظ پر عطف کېږي پر تقدیر د مظهري خو "ربک" جلا مبتدأ ده عطف پر ضمیر متصل د "اذهب" نه دی تاچي تاکید په منفصل سره وغواړي، نو له تاکید څخه هم دا معلومه سوه چي "وربک" عطف دی پر ضمیر متصل د "اذهب"

درویش وایي: چي که په دې آیت کي چي محمول پر استهزاء او عدم المبالات باندي سي دغه اشکال موجود والی لکه مظهري چي ذکر کړی چي دوی په دې استهزاء سره کافران سوه، نو په تیه کي ولي موسی علیه السلام ملګري کوله الی اخیر ماقال المظهري، نو یو چا د صحابه کرامو رضي الله عنهم څخه ددې مشکل د حل لپاره به یې د علیه الصلوة والسلام څخه پوښتنه کړې وای چي علیه الصلوة والسلام به یې حل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورته بیان کړی وای، نو له صحابه کرامو رضی الله عنهم څخه چا د علیه الصلوة والسلام څخه پوښتنه ونه کړه، نو دا معلومه ده چې ددوی په نهږ دا آیت محمول دی پر استهزاء کفر دی که هر څه، ولي اصحابو ته د بني اسرائیلو قدیماً وحدیثاً عادت معلوم و چې دوی په داسي خبرو باک نه کوي، دلیل ددې خبري دادی چې موسی علیه السلام چې اوویا مخور کسان کوه طور ته بوتله لپاره د معذرت د عبادة العجل، او د خدای پاک او د موسی علیه السلام تر منځ خبرې جاري وې او دې اوویا کسانو هم اوربدلې، نو دوی و موسی علیه السلام ته داسي وویل "لن نؤمن لک حتی نری الله جهرة" ای علانیة، فاخذتهم الصاعقة الی اخیر الآیة" نو ددوی مثال داسي دی لکه یو شاعر چې وایي

ان بني زملوني بالدم شننشنة اعرفها من اخزم

ولهذا اشعر قصة مذکورة في حواشي المطول

معذرت: بیان د هږ راځخه طویل سو لان الآیة معرکة الآراء، نو دروېش په مطالعه د دې هږو تفاسیرو کوشش وکړی چې هغه څه چې زما په عقل ناقص صحیح وه هغه مې رانقل کړه، وما علینا الا البلاغ والعلم الحقیقي عند منزل الکتاب، قال الله تعالی "لا یکلف الله نفساً الا وسعها" او داغه رنګه دروېش چې د تنقید او اعتراض دروازه خلاصه ده لکن علی وجه الانصاف لا علی وجه الحسد والاعتساف، ولي چې خدای ﷻ د قرآن په نبوونه علیه الصلوة والسلام ته دا خواست ور نبسولی دی چې "قل اعوذ برب الفلق، من شر ماخلق، ومن شر غاسق اذا وقب، ومن الشر النفثت في العقد، ومن شر حاسد اذا حسد ط" حاسدین دي هم دومره دلاوري نه کوي چې یو څوک چې خدای ﷻ ته پناه وروړي دی یې له نه پسي پرېږدي، شعر ....

هم یحسدونني وشرناس کلهم من عاش في الناس یوماً غیر محسود

قَالَ رَبِّ إِنِّي لَا أَمْلِكُ إِلَّا نَفْسِي وَأَخِي

موسی علیه السلام وویل اې خدایه زما اطاعت نه کوي مګر زما نفس او زما ورور یعني هارون علیه السلام.

سوال: دا حصر به څرنګه وي او سره ددې چې یوشع او کالب خو هم د موسی اطاعت کاوه؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: دا حصر اضافي دی نسبةً وعاصیانو ته د موسی علیه السلام د شکایت عنهم فلا یلزم ما الزمه السائل.

فَافْرُقْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ۝

پس جلا والی وکړې زموږ او د قوم فاسقین تر منځ، یعني هر یوه ته زموږ او ددوی جزاء موافق بالعمل ورکړې.

پوه سه: چې د فسق معنا خروج دی له اطاعت څخه د مولی حق ورسول ماخوذ من قولهم فسقت الرطبة عن قشرها ای خرجت.

فائده: له "بیننا" څخه مراد د موسی علیه السلام خپل ځان او ورور هارون علیه السلام دی او یوشع او کالب خو ددوی له تابعانو څخه دي، نو هغه دوه هم طبعاً داخل دي په دعاء کې د موسی علیه السلام فلا یرد مایتوهم.

قَالَ فَاِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ عَلَيْهِمْ اَرْبَعِيْنَ سَنَةً

خدای پاک وویل چې دغه ارض مقدسه حرامه ده پر دوی یعني پر بني اسرائیلو باندې په سبب د عصیان د دوی له امر څخه د خدای پاک چې قتال د جبابره وو سره و، څلویښت کاله.

پوه سه: چې دا تحریم نه دی چې په شرع شریفه کې یې تحریم بولي مثلاً شراب خورې حرامه ده فعل د زناء حرام دی وغیر ذالک، ولي چې تحریم شرعي خو صفت دی د افعالو د مکلف بلکې تهوله احکام شرعیه او ارض مقدسه خو عین او ذات دی بلکې دا تحریم په معنا دمنع دی ای ممنوعة منهم لایدخلون او نه پکښې اوسېدای سي.

پوه سه: چې "اربعین سنة" دا ظرف متعلق دی په محرمة پورې، نو دا تحریم موقت دی ابدي نه دی، نو دا سوال نه پیدا کېږي پر هغه تقدیر چې د کتب الله لکم ترجمه یې په لوح محفوظ سره وکړه سي، نو دا تحریم به د هغه منافي وي، وجه د عدم منافات داده چې منافات به هلته وای چې دا تحریم ابدي وای دا په څلویښت کاله سره موقت دی، نو وروسته تر څلویښتو کلو به دوی ورسي ارض مقدسه ته علی میعاد اللوح المحفوظ، او ددې خبر تائید هغه روایت کوي چې موسی علیه السلام اریحا فتح کړه په هغو بني اسرائیلو سره چې له تیه څخه ژوندي پاته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوي وه، او يوشع بن بنون پر مقدمة الجيش مقرر کړي وه او له جبابره سره يې جنګ وکړی او هغو ته يې شکست ورکړی، له هغو څخه يې بعض ووژل او بعض فراره سول، او بعضو اسلام قبول کړی، او موسی عليه السلام په هغه ارض مقدسه کې څه زمانه وه اوسېدی او بيا وفات سو.

دروښ وايي: چې مظهري وايي لايعلم قبره احد انتهى دا سلب کلي منافي دی د حديث سره د بخاري چې عليه الصلوة والسلام وايي چې کله زه هلته وای ما به قبر د موسی عليه السلام خلګو ته ښوولی وای الی جانب الطريق عند الکثيب الاحمر الا ان يقال ان مراد المظهري ليس السلب الکلي عن جميع افراد النوع الانساني بل السلب الکلي عن صنف بني اسرائيل لقوله تعالى "واذا قلتم ياموسى لن نصبر على طعام واحد ی المن والسلوى. فادع لنا يخرج لنا مما تنبت الارض الى اخير الآية، حيث قال الله تعالى في جوابهم اهبطوا مصراً فان لکم ماسئلتم" ولي چې دا آيت دلالت پر دې کوي چې موسی عليه السلام ژوندی و، اهبطوا مصراً بعد الخروج من التيه وذالک بعد اربعين سنة.

دروښ وايي: چې په دې خبره کې چې موسی عليه السلام ژوندی و او د جبابره وو سره جنګ هم ده وکړی، او و مصر ته د ورتلو په وخت کې هم موسی عليه السلام ژوندی و، لوی اختلاف د مفسرينو او د تاريخ پوهانو لکه تفصيل چې به يې راسي ان شاء الله تعالى، دا مذکوره قول چې تېر سو دا قول د بغوي و، او دی وايي چې دا اصح الاقاويل دی او مظهري يې هم تائيد کړی دی په آيت مذکوره سره يعنی واذ قلتم يموسی کمامر آنفاً.

يَتِيهُونَ فِي الْأَرْضِ ۖ فَلَا تَأْسَ عَلَى الْقَوْمِ الْفَاسِقِينَ ۝

چې دوی سرګردان وه په مخکه کې، نو ته غم مه کوه پر هغه قوم چې فاسقان وه يعنې هغه کسان چې له جنګ څخه د جبابره وو انکار وکړي، او دوی هم په دغه سبب فاسقان وبلل سول.

پوه سه: چې مخاطب په دې کې موسی عليه السلام دی، ولې چې دی پر هغه ښيرا چې بنې اسرائيلو ته يې وکړه بقوله "فافرق بيننا وبين القوم الفاسقين" پښېمانه وه چې تا ولې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شپږ اورته وکړه چې دوی په سرګردانۍ د تیه مبتلا سوه، نو خدای ﷻ و موسی علیه السلام ته وایي چې ته یې غم مه کوه، ولې چې دوی مستحق ددغه عذاب التیه دي په سبب د فسق ددوی یعني اعراض د امر الهي څخه چې جنګ د جبابره سره و.

پوه سه: چې معنی د "یتیهون یتحیرون في الارض ای ارض التیة" چې د یو لوی بیابان نوم دی چې بني اسرائیل څلوېښت کاله په دغه بیابان کې ګرځېدی چې دا بیابان شپږ فرسخه و، او دوی شپږ لکه مقاتل کسان وه او دوی به پر ورځ په ډېر کوشش سفر کاوه چې له دې بیابانه ووځي. مابنام چې په سو بیر ته به هغه ځای ته راغله چې تېره شپه دوی په کوم ځای کې وه او په دې بیابان کې د ګرمۍ په موسم کې به وریځ ددوی پر سر و سایه کوله. او د شپې به یوه تنبه (لکړه) د نور پیدا کېدله چې دوی ته یې تولې محکمه روښانه کول او د خوراک لپاره "من" خواږه شیان وه او د سپېدو څخه تر لمر ختو پورې په مثل د واورې اورېدله او دوی به تولول، او "سلوی" وه چې پاخه تاروګان وه چې هر چا د خپل ضرورت مطابق جمع کوله. او کالي داغه یو جوت نه څیریدل او نه خیر نهدل او وېښتان د ږېرې، بریتو، سر او د نورو ځایو یې نه اوږدېدل چې غچي یا د سر چړې ته محتاجه سي، او اوبه یې د هغې ډبرې څخه وې چې د موسی علیه السلام سره ورسره وه کما في سورة البقرة "فاضرب بعصاک الحجر" روح البیان وایي چې اصح د اقوالو دادی چې موسی او هارون علیهما السلام د تیه په توله سفر کې د بني اسرائیلو سره هم سفر وه او دا سفر که څه هم د بني اسرائیلو لپاره عقوبة التادیب و. لکن د موسی او هارون علیهما السلام لپاره خوشحالي او سلامتي وه ولې چې امتثال د امر الهي و او عبادت و. نه دې سببه چې په دوی دوو کې د تادیب سبب عقوبت نه و. لکه د نمرود اور د ابراهیم علیه السلام لپاره.

دروېش وایي: چې اختلاف د رواتو او مفسرینو په څلور ځایه کې دی.

(۱) موسی علیه السلام د ارض مقدسه فاتح له جبابره وو څخه و لکه مور چې دمخه وویل (۲) موسی علیه السلام بعد الخروج من التیة وفتح الجبابرة ژوندی و چې مصر ته ورغلی (۳) موسی او هارون علیهما السلام په تیه کې وفات سوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(۴) فاتح د جبابره وو یوشع بن نون علیه السلام و، چې د موسی او هارون علیهما السلام وروسته خدای ﷻ ده ته نبوت ورکړی، والی کل من هذه الاقوال ذهب ذاهب.

دروبش وایي: چې ددې ټولو اقوالو د دلائلو راوړلو به ډېرې ورځې ونیسي او کتاب به ویونکو ته درد سر سي، ولهذا اعرضنا عن دلائل الکل.

قصه وفات هارون علیه السلام: سدي رحمه الله وایي چې موسی علیه السلام ته جبرائیل راغلی او پېغام الهي یې راوړی چې د هارون اجل نژدې دی ته دی فلاني غره ته بوزه، نو موسی هارون علیهما السلام له ځانه سره ملګری کړی او د هغه غره وجانب ته ولاړل، او په هغه غره کې یوه ښائسته درخته ولاړه وه چې مثل یې چا نه ولیدلی، او تر هغې درختي لاندې یوه خونه وه او په خونه کې یو پلنګ پروت و او پر هغه یو فرش اوارو، او ډېره ښه خوشبوئي پر پاشل سوې وه، هارون علیه السلام چې ورته وکتل ډېر ښه خوند یې ورکړی، نو موسی علیه السلام ته یې وویل چې زه به یو ګړی پر دغه پلنګ بیده سم! موسی علیه السلام ورته وویل بیده سه، هارون علیه السلام ورته وویل چې بېرېږم که صاحب البیت راغلی ماته به په غضب سي، موسی علیه السلام ورته وویل چې بېغه بیده سه که صاحب البیت راغلی زه دې د هغه له غضبه خلاصوم، نو هارون علیه السلام چې بیده سو ملک الموت ورته راغلی، نو هارون و موسی علیهما السلام ته وویل "خدعتني یاموسی" زما سره دې چم وکړی ای موسی، نو هارون علیه السلام وفات سو، هغه خونه هم پورته سوه هغه درخته هم ورکه سوه او پلنګ د آسمان پر خوا ولاړی، نو موسی علیه السلام یوازې وبني اسرائیلو ته راغلی هغو ورته وویل چې هارون څه سو؟ موسی علیه السلام چې د هارون علیه السلام د مرګ قصه ورته وکړه، بني اسرائیلو ورته وویل چې هارون تاوژلی دی او یو ځای به دې ښخ کړی وي، او بني اسرائیلو د قتل سبب دا ورته ووایه چې تر تا پر موږ باندې هارون ګران و، نو ستا حسد ورسره پیدا سو او مرد کړی، موسی علیه السلام ورته وویل ویحکم هارون خو زما ورور و، نو ما به څرنګه وژی، خو بني اسرائیلو موسی علیه السلام ډېر تنګ کړی چې هارون هرو مرو تاوژلی دی، نو موسی علیه السلام ولاړ سو دوه رکعته لمونځ یې وکړی او خدای ﷻ ته یې وخواست وکړی چې دغو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بني اسرائیلو ته د هارون د مرګ قناعت ورکړي، نو سریر د هارون علیه السلام په منځ کي د اسمان او محکي راکښته سو چي بني اسرائیلو ولیدی، نو یې قناعت وسو چي هارون موسی علیه السلام نه دی وژلی بلکې په خدایي مرګ مړ دی.

قصه موت موسی علیه السلام: ابن اسحاق رحمه الله وایي چي د موسی علیه السلام اجل نژدې سو، نو خدای جل جلاله یوشع نبي کړی چي د موسی علیه السلام صاحب و، له دې سببه چي موسی علیه السلام له مرګه ډېر بد وړه، نو خدای جل جلاله غوښتل چي د موسی علیه السلام په زړه کي د مرګ محبت پیدا کړي، نو د موسی علیه السلام په زړه کي شک پیدا سو چي زه ژوندی یم نو ولي خدای جل جلاله یوشع بن نون نبي کړی، په زړه کي یې دا وروګرځېدل چي ستا لکه چي اجل الموت نژدې سوی دی، نو له هم دې سببه هره ورځ چي به یوشع د موسی علیه السلام ته ورغلی موسی به پوښتنه څني کوله یانبي الله ما احدث الله الیک؟ یعني خدای جل جلاله څه نوي خبري تاته استولي دي، یوشع به ورته وویل چي ما څو کاله ستا شاګردي وکړه ما کله ستا څخه پوښتنه کړي وه چي خدای جل جلاله تاته څه نوي خبره راستولې ده چي تا به نه وای ویلي چي خدای فلانی خبره ماته وحي کړې ده، یعني ته ولي زما څخه پوښتنه کوې د نوي خبري، نو موسی علیه السلام په ځان پوه سو چي مرګ دي نژدې سوی دی، چي یوشع وتاته حال نه وایي، نو باره د موسی علیه السلام موت خوښ سو او له ژونده یې بد راغله قمات.

دروښ وایي: چي د موسی علیه السلام د موت په باره کي یو صحیح حدیث چي بخاري هم روایت کړی دی له ابو هریره رضي الله عنه څخه لکن دروښ نه کړی رانقل چي عوام الناس به د هغه حدیث له کبله په زړو کي څه وګرځوي، او توجیه به یې هم نه سي کولای، او وهب بن منبه رحمه الله وایي چي موسی علیه السلام یوه ورځ د یو کار لپاره صحرا ته ووتی که څه ګوري چي ملکي یو خای قبر جوړوي موسی علیه السلام چي ورته وکتل ډېر خوند آور قبر و او ډېر خوشبویه او ښه فرش هم پکښي هوار و، موسی علیه السلام و ملکو ته وویل چي دا قبر مو د چا لپاره جوړ کړی دی؟ ملکو ورته وویل لعبد کریم علی الله، موسی علیه السلام ورته وویل چي رشتیا دا بنده پر خدای ډېر قدر لري چي تاسي یې د هغه لپاره په داسي زیبا قبر جوړولو مامور کړي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یاست، ملکو ورته وویل یاصفي الله ستا خوښه ده چي دا قبر ستا وای؟ موسی ورته وویل چي بېخي مي خوښه ده، ملکو ورته وویل ورشوه سه پکښې پرېږده او توجه و خدای ﷻ ته وکړه، موسی علیه السلام هم ورغلی پکښې پرېوتی او توجیه یې وخدای ﷻ ته وکړه او یوه لنډه ساه یې وکښل او وفات سو، ملکو خاوري پر سمي کړې، راویان وایي چي د موسی علیه السلام عمر یو سل اوشل (۱۲۰) کاله و.

پوښتنه: دا څه سبب دی چي د موسی علیه السلام د ژوندانه په کارنامو او د هارون علیه السلام د وفات په باره کي دومره ډېر اختلاف موجود دی؟

ځواب: یو خو دا سبب دی چي دا واقعاتي په زړو کلونه دمخه پېښې سوي، او بل اصلي سبب دادی چي دا حکایات اکثره مبني دي د یهودانو پر تاریخ چي بعض به یې صحیح وي او بعض به یې موضوعي وي، والله اعلم بالصواب والیه المرجع والمآب.

وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ ابْنَيْ آدَمَ بِالْحَقِّ

او ته اې محمده ﷺ ووایه پر دوی یعني پر اهل کتابو خبر او قصه د دوو زامنو د ابو البشر آدم علیه السلام چي هغه دوه زامن یې هابیل او قابیل وه په حق سره، یعني چي موافق د تاریخ سره د اهل کتابو وي.

پوه سه: چي "بالحق" باعتبار الموصوف المحذوف مفعول مطلق دی "اتل" یعني تلاوت متلبسة بالحق او یا حال دی له ضمیر څخه د "اتل" چي علیه الصلوة والسلام ته راجع دی ای متلبساً بالصدق.

پوه سه: چي اهل علم د تاریخ اسلامي او د اهل کتابو وایي چي د تمامو انسانانو جده چي حوا ﷺ یې نوم و له آدم علیه السلام څخه یې په یوه حمل یو نر او یوه ښځه زېږول، او ټوله اولاد د حواء نر او ښځي څلوېښت ته ورسېدې په شل حمله کي، اول نر چي قابیل یې نوم و دده غبرګولی اقلیما نومېده، او د دوهم حمل نر د هابیل په نامه و او دده غبرګولی لبودا نومېده، او د اخیري حمل د نر نوم یې ابو المغیث و، او د غبرګولی نوم یې ام المغیث و، او له ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي آدم علیه السلام تر هغه وخت ژوندی و چي زامن، لونې، لمسیان، کړوسیان وغیرهم یې څلوېښت زره ته ورسېدل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِذْ قَرَّبَا قُرْبَانًا

پوه سه: چې کلمه د "اذ" ظرف ده د "نبأ" او یا حال ده له "نبأ" څخه ای کائنا ذالک انباء ابنی آدم.

پوه سه: چې قربان نوم دی د ما یتقرب بها الی الله تعالی که یوه ذبیحه وي یا غنم اوږه وي وغیرهما.

پوښتنه: قربان هر یوه د قابیل او هابیل وکړی کما یدل علیه لفظ قربا بضمیر التثنیة ولم اورد لفظ قرباناً مفرداً؟

ځواب: یو خو لفظ د قربان مصدر دی تثنیه او جمع پکښې برابر دي، او بعض علما. تقدیر ورسره کوي ای قرب کلواحد منهما قرباناً.

فَتُقُبِّلَ مِنْ أَحَدِهِمَا وَلَمْ يُتَقَبَّلْ مِنَ الْآخَرِ ۚ قَالَ لَأَقْتُلَنَّكَ ۖ

نو د یوه قربان قبول سو چې هابیل و او د هغه بل دا نه سو قبول چې قابیل و، نو یې ورته وویل چې زه تا وژنم.

تفصیل المقام: په وخت کې د آدم علیه السلام قانون الهي دا و چې د یوه حمل د غبرګو یانو نر او ښځې نکاح نه وه سره روا، او د یوه بطن د نر نکاح د بل بطن د ښځې سره روا وه، نو آدم علیه السلام به داسې کول چې نر به یې بالغ سو د هغه بل بطن ښځه به یې په نکاح ورکوله، نو څه وخت چې قابیل او هابیل ځوانان سوه، نو خدای جل جلاله آدم علیه السلام امر کړی چې د قابیل خور چې اقلیما یې نوم و وده هابیل ته په نکاح ورکړه، او د هابیل خور چې لبودا نومیده وه قابیل ته په نکاح ورکړه، لکن د قابیل غبرګولی دې ښائسته وه او د هابیل خور بدرنګه وه، نو قابیل وویل چې زه خپله غبرګولی خور په خپله په نکاح کوم هابیل ته یې نه ورکوم، دده دا خیال و چې د یوه بطن نر او د بل بطن ښځه په نکاح ورکول حکم الهي نه دی بلکې د آدم له خوا دی. نو قابیل و آدم علیه السلام ته انکار وکړی چې زه خپله خور هابیل ته نه ورکوم بلکې انا احق بها. او د قابیل د هابیله سره لوی حسد په زړه کې پیدا سو، نو آدم و قابیل ته وویل چې پر قربان به فیصله سره وکړو چې په دوی کې دا رواج و چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سره اختلاف به يې سو، نو به يې يو خيرات خدای وهست وکړی، نو کوم سړی چې به پر حق و، نو له اسمانه به سپين اور راغلی او د هغه صدقه به يې اسمان ته يوړه او چې پر ناحقه به و د هغه صدقه به خپل پر ځای پاته سوه، که به غوښې وې لهويانو به وخوړلې او که به دانې وې مرغانو به وخوړلې، او بعض علماء وايي چې هغه پاته قربان پر فقيرانو وېشل کېدی، نو هابيل چونکه مواشي درلودې، نو يو ښه غټ پوسه څه شيدې او يو څه پېروی يې په قربان کې کښېښوی، او قابيل يو اندازه لږ او بې کاره غنم په قربان کې کښېښول، له اسمانه چې اور راغلی د هابيل پوسه يې اسمان ته پورته کړی او د قابيل غنم ځای پر ځای پاته سوه، نو د قابيل په زړه کې نور غضب، بغض او حسد د هابيله سره پيدا سو، سعيد بن جبير رضي الله عنه وايي چې دغه پوسه د هابيل په جنت کې روزل کېدی تاچه په وخت کې د ذبح د اسماعيل تر چاره لاندې د ابراهيم عليه السلام کښېښول سو او ذبح سو، نو د قابيل په زړه کې حسد مضمر و حتی چې آدم عليه السلام د بيت الله شريفې زيارت ته ولاړی او ميدان خالي سو، نو قابيل و هابيل ته وويل زه تا وژنم، هابيل ورته وويل ولې؟ قابيل ورته وويل له دې سببه چې خدای جل جلاله ستا قربان قبول کړی او زما دا يې نه کړی قبول، او بل دا چې ته زما ښائسته خور په نکاح کوې او ستا بدرنګه خور ماته په نکاح راکوې، نو هابيل ورته وويل چې په دې کې زما څه ګناه ده.

قَالَ إِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللَّهُ مِنَ الْمُتَّقِينَ ﴿٢٧﴾

خدای جل جلاله خو قربان د هغه چا قبلوي چې له متقينو څخه وي، يعنې له خدايه ويرېږي يعنې حکم الهي ته غاړه ايږدي او د چا سره حسد نه کوي. اشاره يې ودې ته وکړه چې حاسد بايد په خپل ګرېبان کې وګوري او ګناه کبيره د حسد له ځانه لېرې کړي.

پوښتنه: آيا قابيل په دغه حسد او قتل د ورو کافر سو که څرنګه؟

ځواب: ابن ابي شيبه له ضحاک څخه روايت کړی دی په تفسير کې د دې آيت "انما يتقبل الله عن المتقين، قال الذين يتقون الشرک" له دې تفسير څخه خو داسې معلومېږي چې قابيل کافر سو لکن صحيح داده چې قابيل په حسد سره د هابيل او په قتل سره کافر نه دی بلکې مرتکب د دوو کبيره ګنهو دی، والله اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او هابیل و قابیل تهووویل.

لَئِنْ بَسَطْتَّ إِلَيَّ يَدَكَ لِتَقْتُلَنِيْ مَآ أَنَا بِبَاسِطٍ يَّدِيَ إِلَيْكَ لِأَقْتُلَكَ ۚ إِنِّيْٓ أَخَافُ اللّٰهَ رَبَّ الْعٰلَمِيْنَ ۝

پوه سه: چې لام موطئه د قسم محذوف دی. والمعنی قسم په خدای ﷻ دی که ته ماته وغځوې لاس چې ته ما وژنې. زه نه یم غځونکی د لاس وتاته ددې لپاره چې زه تا مړ کړم، په سبب ددې چې زه له خدایه ببرببږم چې تا وژنم له هغه خدای څخه چې خدای دی د عالمیانو.

پوه سه: چې عبدالله بن عمرو ﷺ وایي قسم په خدای دی چې مقتول یعني هابیل قوي و تر قابیل، لکن د خدای ﷻ له خوفه یې مقابله نه ورسره وکړه، بلکې د تسلیم لاره یې غوره کړه للاثابة یوم القیامة. مجاهد رحمه الله وایي چې د آدم علیه السلام په دین کې حکم دا و چې که یو سړي د بل سړي قتل کوی منع به نه ورته کوي بلکې صبر به کوي. او یا له دې سببه چې دا قتل افضل و تر منعي او مقابلې قال علیه الصلوة والسلام کن عبدالله المقتول ولاتکن عبدالله القاتل.

پوه سه: چې ابن سعد رحمه الله په طبقات حدیث کې له عبدالله ﷺ څخه روایت کړی دی چې زمونږ په شریعت کې که څه هم مقابله د مرید القتل سره روا ده لکن بیا هم تسلیم او صبر افضل دی. لکه امیر المؤمنین عثمان ﷺ چې دغه لاره غوره کړه په هغه وخت کې چې باغیانو د مصر دی په خپل سرای کې تر محاصره لاندې نیولی و، حتی چې ابوهریره ﷺ وایي چې زه په دغه وخت کې د محاصرې د عثمان ﷺ کورته ورغلم او ما ورته وویل چې زه ستا سره کومک کوم. عثمان راته وویل ایسرک ان تقتل الناس جمیعاً وایای معهم" آیا تاته ای ابو هریره دا خوند درکوي او داسي دي خوښه ده چې تو له خلګ ووژل سي اوزه هم ورسره ووژل سم. ابو هریره ﷺ وایي ما ورته وویل یا داسي کار خوند نه راکوي، نو عثمان ﷺ راته وویل که زه قتل کړم یو مسلمان گویا ما تولو مسلمانان قتل کړه هغه وچې حضرت عثمان ﷺ د تهجد لمونځ په کور کې کړی و او د قرآن وظیفه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یې کول چې باغیان و کور ته ور واوښتل او سر یې په توره ځندې پرې کړی، او د حضرت عثمان ﷺ وینې پر دې آیت باندې ولګېدی "فسیکفیکهم الله وهو السمیع العلیم" دروښ وایي چې د حضرت عثمان ﷺ د قتل قصه ډېره اوږده ده په بل ځای کې به راسي ان شاء الله العزیز، او هاېبل ورته زیاته کړه.

إِنِّيٓ أُرِيدُ أَن تَبُوٓأَ بِإِثۡمِي وَإِثۡمِكَ

زما دا اراده ده چې تا نه قتل کوم چې رجوع وکړې یعني وخدای ﷻ ته په ورځ د قیامت زما په ګناه سره، او خپل په ګناه یعني که ته ماقتل کړې ای ترجع متلبساً بالاثمین، یوه ګناه زما ده چې ما یې عمل کړی وي، او یو ستا ګنهونه دي چې تا زما سره د حسد او د بغض له لاري خپل کړي او په اخیر کې مي مرهم کړې.

فَتَكُونَ مِنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلنَّارِۚ وَذَٰلِكَ جَزَٰٓؤُاْ ٱلظَّٰلِمِينَ ٢٩

نو ته به وسې له اصحابو ځخه د اور یعني دوزخ. او همداغه اور دوزخ جزاء ده د ټولو ظالمانو یعني وانت منهم.

پوه سه: چې "باثمي واثمک" دواړه حال دي له ضمیر ځخه د "تبوء" ای تبو، متلبساً باثمي ومتلبساً باثمک، ولي چې مظلوم ته له حسناتو ځخه د ظالم ورکول کېږي په ورځ د قیامت جزاءً لظلمه، او که چېرې ظالم حسناتې نه درلودې، او یا یې درلودې لکن حسنات یې دمخه تر اداء د حقوق الناس خلاصي سوي وي. نو پر ظالم ګنهونه د مظلوم طرح کوي او دوزخ ته یې اچوي. لکه څنګه چې په صحیح حدیث کې راغلي دي چې روایت یې ابو هریره ﷺ کړی دی چې سره د اختصاره یې حاصل دادی چې رسول الله ﷺ وفرمایل "المفلس من امتي من یاتي یوم القیامة بصلوة، وصیام و زکوة" مسکین یعني حقیقي هغه څوک دی چې راسي په ورځ د قیامت د لمونځو. روژو او زکواتو سره یعني دا افعال یې کړي وي "وياتي قد شتم هذا واکل ما هذا وسفک دم هذا وضرب هذا" او داسي راسي چې بعضې خلګو ته یې بنکنځل کړي وي، او د بعضو خلګو مال یې خوړلی وي، او د بعضو خلګو وینه یې توی کړې وي. او بعض کسان یې وهلي وي. نو یوه مظلوم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ته دده حسنات ورکړه سي او بل مظلوم ته دده حسنات ورکړه سي. يعني وهكذا الى اخير المظلومين، نو كه يې حسنات تمامي سوې دمخه تر اداء د حقوق د مظلومينو، نو د هغو ګنهونه راواخلي پرده يې طرح کړي، بيا يې نو دوزخ ته واچوي، رواه مسلم بطوله.

فَطَوَّعَتْ لَهُ نَفْسُهُ قَتْلَ أَخِيهِ

نو خوښه کړه نفس دده يعني د قابيل د ورور وژل يعني د هابيل.

پوه سه: چې کلمه د "له" يې لپاره د زيادت ربط ده يعني اصل يې دا و فطوعت نفسه يعني نفس دی دعوت کړی وقتل ته د ورور او ده يې په خوله وکړه، ابن جريج وايي چې ابليس وده ته په رنګ د سړي سو يو مرغه يې را واخستی سر يې پر ډبره ورکښېښود او په بله ډبره سره يې سر ور وکوتی او مړ يې کړی، او قابل ورته کتل، نو د خپل ورور هابيل د قتل چم يې زده کړی، نو قابيل د هابيل سر د دوو ډبرو تر منځ کړی او مړ يې کړی، بعض علماء. وايي چې هابيل و خداى ﷻ ته صبر وکړی يعني قابيل په ښکاره مړ کړی. او بعض علماء. وايي چې هابيل بيده و قابيل په لو ډبره پر سر وواهه هغه مړ سو.

دروښ وايي: چې په اولاد کې د آدم عليه السلام هابيل اول سړی و چې ظلماً ووژل سو، او قابل اول ظالم دی چې قتل يې وکړی، په صحيح حديث کې راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام ويلي دي چې هرڅو ناحقه قتلونه چې کېږي د قيامت تر ورځې پورې، نو قابيل په ګناه کې ورسره شريک دی لانه اول من سن القتل بغير حق.

فَقَتَلَهُ فَأَصْبَحَ مِنَ الْخَاسِرِينَ ۝

نو قابيل خپل ورور هابيل مړ کړی، نو وګرځېدی قابيل له خسران کونکو خلګو څخه هم په دنيا کې، ولې چې ټوله باقي مانده عمر يې په غم کې و، او په اخرت کې هم ولې جنت يې په دوزخ بدل سو، او تاريخ وايي چې هابيل د شلو کلو په عمر کې ووژل سو، تاريخ وايي قابيل چې هابيل مړ کړی نو حيران و چې اوس نو څه په وکړم، او درندګان شاوخوا د هابيل د غوښو خوړلو لپاره په انتظار وه، نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قابیل هابیل په یوه توبره یا ګونی کي واچاوه او په شا یې کړی ټر څلویښت ورځې پوري. او ابن عباس رضي الله عنه وایي چې یو کال یې په شا وګرځاوه. حتی بدن یې تغیر وخوړی. او مرغان و درندګان به په پسې وه چې کله به یې وغوښې خوي چې وه یې خورو. اخیر خدای ﷻ دوه کارګان پیدا کړه چې سره جنګ یې کړی یو کارګه یل وواهه مړ یې کړی. نو وروسته ژوندي کارګه په موښکه او پښو سره خاوري وشنلې او مړ کارګه یې پکښې ښخ کړی قابیل ورته کتل کما قال الله تعالی.

فَبَعَثَ اللَّهُ غُرَابًا يَبْحَثُ فِي الْأَرْضِ لِيُرِيَهُ كَيْفَ يُوَارِي سَوْءَةَ أَخِيهِ قَالَ يَا وَيْلَتَىٰ أَعَجَزْتُ أَنْ أَكُونَ مِثْلَ هَٰذَا الْغُرَابِ فَأُوَارِيَ سَوْءَةَ أَخِي فَأَصْبَحَ مِنَ النَّادِمِينَ ﴿٣١﴾

نو خدای ﷻ راواستاوه کارګه چې کیندله یې محکه تاچې ووینې خدای پاک یا کارګه چې څرنګه سړی پټوي جسد میت د خپل ورور.

فائده: ضمیر مرفوع د "یریه" څلوک وایي راجع دی و خدای ﷻ ته. او بعض علماء وایي چې کارګه ته راجع دی. او ضمیر منصوب وقابیل ته راجع دی. او مراد له "سوءة" څخه د مړي جسد دی که څه هم په اصل کي خو سوءة عورت ته وایي چې کشف یې سړی په غم کي اچوي پر جسد د میت اطلاق له دې سبب وشو چې د میت و جسد ته کتل هم بد ښکاري.

پوښتنه: کارګان خو دوه وه، نو څرنګه یې "غراباً" په لفظ د مفرد راوړی؟

ځواب: غراب اسم جنس دی، او بل دا چې په قابیل لیدل ښځول د مړي خو د یوه کارګه کار و، مړی کارګه خو په دې لیدلو کي کار نه لري.

فائده: رؤیة دلته علمي دی د ستر ګو نه دی، ولي چې په ستر ګو خو قابیل موارات الغراب لیدی لا موارات سوءة الاخ.

پوښتنه: خدای پاک الهام د موارات المیت وکارګه نه وکړی قابیل نه یې نه وکړی لپاره د تحقیر د قابیل، او تنبیه یې پر دې وکړه چې قابیله نه اهون یې پر خدای ﷻ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تر کارګه، راوي وایي قابیل چې هابیل قتل کړی بدن یې تولې تک تور سو، آدم علیه السلام چې له بیت الله څخه راغلی. نو له قابیل څخه یې پوښتنه وکړه چې درور هابیل دي چېرې دي؟ قابیل ورته وویل چې زه نه یم په خبر زه خو د هابیل وکیل نه وم. آدم علیه السلام ورته وویل چې تا وژلی دی، نو څکه دي بدن تور سوی دی. آدم علیه السلام له قابیل څخه بېزاري اختیاره کړه ومکث بعد ذالک مائة سنة لا یضحک.

پوه سه: چې مقاتل له ضحاک رحمه الله څخه او هغه له ابن عباس رضي الله عنه څخه داسې یو روایت راوړی دی چې قابیل چې هابیل قتل کړی آدم علیه السلام په مکه مکرمه کې و، د تولو درختو بلګونه ورژېدل او خوراکي شیانو هم تغیر پیدا کړی، او مېوې تولې تورې سوې اوبه د آدم علیه السلام پر خوله بې خونده وې، او مځکه توله سپېره معلومېده. نو آدم علیه السلام وویل چې په مځکه کې یوځوی بد کار پېښ سوی دی، نو هند ته راغلی هغه وچې قابیل هابیل وژلی و. نو دا دوه بیته یې وویل.

تغیرت البلاد ومن علیها — فوجه الارض مغبر قبیح
تغیر کل ذی طعم ولون — وقل بشاشة الوجه الملیح

لکن ابن عباس رضي الله عنه وایي چې هغه څوک چې ووایي چې آدم علیه السلام شعر ووایه. نو درواغ یې وویل پر خدای او پر رسول د خدای صلی الله علیه وسلم، ولې چې محمد صلی الله علیه وسلم او توله انبیاء په نفي کې د شعر سره برابر دي، او قرآن کریم خو له شاعریت د علیه الصلوة والسلام نفي کړې ده، او په حدیث کې هم راغلي دي "ما انا بشاعر" لکن خبره داده چې آدم علیه السلام د هابیل په وژلو کې په سریاني ژبه یوه مرثیه وویل لکن په نثر سره نه په نظم سره. نو آدم علیه السلام وشیث علیه السلام ته وویل یا بني ته زما وصي یې دغه زما مرثیه د هابیل په باره کې په یاد لره تاچې په مرور د زمانې تر ډېره پاته سي، نو خلګو ته به رقت او د زړه نرمي ورپیدا کوي. نو دا مرثیه پاته وه چې یعرب بن قحطان ته ورسېده او یعرب په عربي او سریاني دواړو ژبو خبرې کولې او شاعر هم و. نو هغه مرثیه د آدم علیه السلام په باره کې د هابیل چې په سریاني ژبه وه وعربي ته یې را نقل کړه او پر وزن شعري یې جوړه کړه او پر هغه دوو مقدمو بیتو یې دوه بیته نور ورزیات کړه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ومالي لا اجود بسكب دمع وها بيل تضمنه الفريح
ارى طول الحياة علي غماً فهل انا من حياتي مستريح

تاريخ انبياء وايي چي د آدم عليه السلام عمر چي يو سل او دېرش كاله و د هابيل تر قتل پنځه كاله وروسته خداى پاک وده ته له حواء څخه زوى ورکړى چي شيث يې نوم و معناه هبة الله، يعني په عوض كي د هابيل، او شيث عليه السلام لوى عابد سړى و، په ساعاتو كي د ورځي او د شپې، او پنځوس صحيفې يې پر ده نازل كړي دي، نو شيث عليه السلام د آدم عليه السلام وصي او ولي عهد وګرځېدى، او آدم عليه السلام وقابيل ته وويل څه ولاړ سه "طريداً شريداً فزعاً" ترتلې، سرکښته او بهرونکى، نو قابيل خپله خور تر لاس ونيول او له آدم عليه السلام څخه وتښتېدى د يمن عدن ښار ته ولاړى او هلته چي بعض اولاد الاولاد د آدم عليه السلام موجود وه د هغو سره يو ځاى سو، او بليس لعين د سړي په رنګ كي ورته راغلى او ورته وه يې ويل چي د هابيل قربان چي اور وخوړلى هغه په پټه د اور عبادت كاوه، نو ته هم بيت النار جوړ كړه او د اور عبادت شروع كړه چي ستا او د پسمانده ګانو به فائده وي، نو قابيل بيت النار جوړ كړى، اول د اور عبادت چي په دنيا كي شروع سوى دى هم دغه قابيل ميراث دى، او د قابيل اولاد په لهوه ولعب د سورنا او طنبور او دولک ريابو اخته وه او شراب يې څيښل، او زنا او نور فواحش يې كوله حتى غرقهم الله بطوفان نوح عليه السلام، او د شيث عليه السلام نسل باقي پاته سو الى اليوم القيامة.

پوښتنه: عبيد الله تا دمخه وويل چي قابيل كافر نه دى، اوس وايي چي هغه آتش پرست كافر دى؟

ځواب: ما چي وړاندي وويل ما داسي وويل چي په قتل د هابيل او دده سره په حسد نه دى كافر، ولي چي په ګناه كبيره سړى كافر كېږي نه، او اوس چي ما دى كافر وبالله په سبب ددې چي د اور عبادت يې شروع كړى، او عبادت د غير الله شرک دى.

دروېش وايي: چي دا خبره دېره صحيحه ده چي پر صغيره ګنهو همېشه توب كول يعني پښېماني نه پر كول په كبيره ګناه سړى اخته كوي، او همېشه توب پر كبيره ګناه اخير سړى كفر ته رسوي فتفكر في حال قابيل مع ابيه آدم عليه السلام و مع اخيه هابيل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مِنْ أَجْلِ ذٰلِكَ ۚ كَتَبْنَا عَلٰى بَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ أَنَّهُۥ مَن قَتَلَ نَفْسًۢا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِى ٱلْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ ٱلنَّاسَ جَمِيعًا ۚ

پوه سه: چې کلمه د "من" ابتدائیه ده او متعلق په "کتبنا" پورې ده.

والمعنی په سبب د وقوع د جنایت عظیمه من ابن آدم یعنې قابیل چې هابیل یې ناحقه قتل کړی. او لپاره د بندولو له دې کار څخه یعنې ناحقه قتل په اینده کې نه کېږي مور لیکلي وه پر بني اسرائیلو یعنې په تورات کې که وواژه یو سړي بېله قصاصه د بل نفس، او بېله فساد د قطاع الطریق غلو، یا زناء بعد الاحصان چې په رجم یې مرګ روا دی، نو بېله دغو اسبابو که څوک بل څوک قتل کړي، نو ګویا ټوله انسانان یې قتل کړه، ددې آیت تاویل حسن بصري رحمه الله دا ډول کوي چې د یوه نفس په قتل سره قاتل قصاصېږي لکه ټوله خلګ چې مړه کړي او پر قصاصېږي، او که څوک یو نفس ژوندی کړي یعنې ولي د مقتول و قاتل ته عفوه وکړي او قصاص یې نه کړي لکه ټوله خلګ چې ژوندي کړي یعنې په ثواب کې، حسن بصري رحمه الله وایي چې مقصود ددې آیت تعظیم د قتل النفس دی او احیاء د نفس دی په عفوه سره من القصاص لپاره د بېرولو د خلګو عن قتل النفس. یعنې بغیر حق او ترغیب دی د خلګو في العفو عن القصاص، او ابن عباس رضي الله عنه په روایت د عکرمه وایي من قتل نبیاً او یا سلطان عادل فکانما قتل الناس جمیعاً في الوذر یعنې په ګناه کې، او که چا د یو نبي مرسته وکړه یعنې له مرګه یې خلاص کړی، او یا یې د امام عادل سره کومک وکړی او له قتل څخه یې وساتی فکانما احیاء الناس جمیعاً، او مجاهد رحمه الله وایي چې څوک یو نفس محرمه قتل کړي ځای یې دوزخ دی لکه ټول خلګ چې مړه کړي هم ځای یې دوزخ دی من التاویلات.

وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَآ أَحْيَا ٱلنَّاسَ جَمِيعًا ۚ

دروښ وایي: چې ددې آیت ژباړه او تاویل دمخه آنفاً تېر سوه.

وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُنَا بِٱلْبَيِّنَٰتِ ۚ

په تحقیق سره راغلي دي ودوی ته رسولان زمور یعنې یو په بل پسې په معجزاتو واضحاتو سره.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې لام د "لقد" موطئه د قسم محذوف دی او د "جائتهم" ضمیر د جمع راجع دی وبني اسرائیلو ته لان الکلام معهم، که څه هم روح البیان و اهل کتابو ته مطلقاً راجع کړی دی.

پوه سه: چې له "رسول" څخه مراد هغه اصطلاحي معنی نه ده چې متجدد دین به لري، ولي چې انبیاء د بني اسرائیلو ټوله پر دین د موسی علیه السلام وه او کتاب یې تورات و، بلکې رسول دلته په معنی د نبي دی الا ان یقال انه مبني علی مذهب من قال ان النبي والرسول بمعنی واحد.

ثُمَّ إِنَّ كَثِيرًا مِّنْهُم بَعْدَ ذَٰلِكَ فِي الْأَرْضِ لَمُسْرِفُونَ ﴿٣٢﴾

وروسته بیا نو د هر ددوی یعني بني اسرائیلو وروسته تر ارسال د رسولانو او د تاکید د امر په نه کولو سره د امثالو د جنایت د قابیل اسراف کونکی دی په قتل او باک هم نه په کوي.

پوه سه: چې اسراف تجاوز دی له حدود و څخه د اعتدال چې خدای جل جلاله امر په کړی وي من غیر مبالات یعني باک نه په کوي.

فائدة في الآيات السابقة: په حدیث کې د براء بن عازب رضي الله عنه چې ابن ماجه یې روایت کړی دی راغلي دي! چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل "لزوال الدنیا اهون علی الله من قتل مؤمن بغیر حق" یعني خرابول د دنیا سپک دی پر خدای جل جلاله باندي تر قتل د مؤمن ببله حقه د قتل. وقد ذکرنا موجبات القتل عن قریب.

پوه سه: چې سلیمان بن علي و حسن بصري رحمهما الله ته وویل په باره کې د دغه آیت وویل "وکتبنا علی بني اسرائیل الی اخیرها" چې دا احکام زمونږ لپاره هم دي لکه د بني اسرائیلو لپاره چې دي؟ حسن رحمه الله ورته وویل ای یعني هو والذي لا اله غیره ماکان دمانا بني اسرائیل اکرم علی الله من دمائنا. هو! زمونږ لپاره هم دی، ولي چې دیني د بني اسرائیلو عزت مندي نه دي پر خدای جل جلاله زمونږ تر ویښو.

إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ

نه ده جزا، او عذاب د هغو کسانو چې جنګ کوي د خدای او د رسول سره د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای ﷻ مکر دا وروسته چې رائي.

پوه سه: چې مراد له جنګ څخه د خدای او د رسول، جنګ دی د دوستانو سره د خدای او د رسول وهم المسلمون، خدای ﷻ خپل د دوستانو جنګ خپل او خپل د رسول جنګ وګرځاوه لپاره د تعظیم د دوستانو د خدای او د رسول.

پوه سه: چې مراد له دغې محاربې څخه په قول د روح البیان قطع الطریق دي چې یو قوم وي ذی شوکة او سلاح وي په صحراء کې سره جمع سي، او د مسلمانانو پر اموالو تعرض کوي او د مسلمانانو پر وینه او ازواجو تعرض کوي.

وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا

او کوشش کوي په محکه کې د فساد چې دا مذکوره شیان او اعمال وه.

پوه سه: چې "فساداً" حال دی له ضمیر څخه د "یسعون" ای حال کونهم مفسدین اصل نزول ددې آیتو په قوم د هلال بن عویر اسلمي دی چې هغه د علیه الصلوة والسلام سره قرار داد او معاهده کړې وه، چې زه او زما قوم نه ستا سره کرمک په جنګ کې کوو، او نه د نورو کفارو مرسته کوو ستا سره په جنګ کې. و هغه څوک مسلمانان چې تاته درځي زمونږ پر لار هغه زمونږ له خوا څخه په امن کې دي، او هغه څوک چې په قصد د اسلام و مدینې ته ځي زمونږ پر لار هغه هم زمونږ له خوا څخه په امن کې دي، نو یو قوم د بني کنانه وو د علیه الصلوة والسلام وخواته روان وه د اسلام راوړلو اراده یې وه، د هلال د قوم پر لار تېرېدل او هلال په خپله په دغه وړځ حاضر نه و، نو د هلال قوم د هغو بني کنانه وو لار ونیول نو هغه یې مړه کړه او مالونه یې ځني لوټ کړه.

سوال: څوک خو په نفس ارادي د اسلام له حربي توبه نه وځي او حد خو په قطع الطریق کې د حربي نسته که څه هم مسامن حربي وي، نو دې قوم ته د هلال ولي حد وتاکل سو کما سیئاتي؟

ځواب: معنی د یریدون الاسلام یریدون تعلم احکام الاسلام ده، یعني مسلمانان خو دمخه لا وه.

فائده محاربه او فساد چونکه پر مختلفو اقسامو دی لکه (۱) قتل بدون اخذ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

المال (۲) او بل قتل دی سره د اخذ المال (۳) اخذ المال بدون القتل (۴) صرف بهرېول بدون القتل واخذ المال. نو په دې راتلونکو آیتو کې یې د هرې مرتبې لپاره جزاء وتاکل.

اَنْ يُّقَتَّلُوْٓا

یعني حداً او پر صلب دې نه اچوي دا په هغه صورت کې چې دوی یوازې قتل کړی وي که څه هم اولیاء د مقتول عفو ورته وکړي لکن ددوی عفو ته اعتبار نسته، ولي چې دا حق د شرعي شریفي دی حق العبد نه دی. او په دې کې هم فرق نسته که یې په آله جارحه لکه توره وغیره قتل کړی، او که یې په ډبره وژلی وي او که یې په لرګي وهلی وي مثلاً الی غیر ذالک.

اَوْ يُصَلَّبُوْٓا

یا دي یې په دار کړي که یې قتل او اخذ المال دواړه کړي وي.

فائده: صلب دا بولي لکه د لاندي پسه چې پر یو لرګي واچوي او په نس او نورو ځایو کې یې په نېزو او چړو ووهي تر څو چې مري، او که یې پر مځکه مړ کړي بیا دې پر دار نه اچوي لانه لا فائدة فیه. یعني زجر د ورته کار څخه.

اَوْ تُقَطَّعَ اَيْدِيْهِمْ وَاَرْجُلُهُمْ مِّنْ خِلَافٍ

او یا دي ور پرې کړه سې لاسونه او پښې ددوی، یعني رسته لاسونه ور پرې سې له اول بنده څخه. او چپه پښې دي ورپرې کړل سې د بجلکي سره که یې وازې مالونه اخستي وه یا له مسلمان څخه او یا له اهل ذمه څخه لکن دومره مقدار روپی وي چې پر دغو قطاع الطریقو وښل سوي وای هر یوه ته لس درهمه ور رسېدل. او یا برابر د لس درهمه که نقدي روپی نه وي بلکې ټور عرض وه.

فائده: قطع د رسته لاس خو یې په سبب د مال د ورلو ده، او قطع د چپه پښې یې په سبب ددې ده چې دوی امنیت د لاري ګډوډ کړی و.

اَوْ يُنْفَوْا مِنَ الْاَرْضِ

او یا له مخه څخه د مځکې ورک کړل سي یعني په محبس کې دې بندیان کړي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او بعض اهل مذهب وايي چې له وطنه دې فراره کړي. والاول هو مذهب الحنيفية نو چې بنديان يې کړه شر ددوی به دفع سي او څه ناڅه تعزير دي هم ورکړي دا پر دې تقدير چې قطاع الطريق صرف خوف زده کړي وه تهرونکي پر دوی نه يې وژلي وه او نه يې مال ځني اخستی و. نو دا سبب ددوی په سبب د امنيت د لاري چې دوی ګډوډ کړی و.

ذَٰلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٣٣﴾

دغه مذکوره جزاګاني دوی لره رسوايي ده په دې دنيا کې، او دوی لره په اخرت کې لوی عذاب دی.

إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِن قَبْلِ أَن تَقْدِرُوا عَلَيْهِمْ ۖ فَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣٤﴾

مګر نه هغه قطاع الطريق چې توبه وکاږي له قطع الطريق څخه دمخه تر دې چې تاسي قادره کېدای پر دوی. نو چې دمخه يې توبه وکښل، نو تاسي په دې پوه سئ چې خدای ﷻ غفور دی يعنې ګناه بخښونکی دی او علاوه پر هغه مهربان دی پر ګناه کارانو توبه کونکو باندې.

فائده: استثناء د مخصوص په هغه څه پورې چې له حقوق څخه د خدای ﷻ وي، او هر چې حقوق د انسانانو دي هغه په دې توبې سره نه ساقطېږي مثلاً که قاطع الطريق يو سړی وژلی و. او بيا قبل القدرة عليه توبه وکښل نو په دې توبه وژل دده حد آخو ساقط سو، ولې دا حق الله و، او ولې د مقتول پر ځپل حق پاتې دی من القصاص او العفو، ولې چې دا حق العبد دی، او که قطاع الطريق له چا څخه ډېر مال اخستی و او بيا قبل القدرة عليه توبه وکښل نو لاس او پښه يې نه پرې کېږي ولې چې دا حق الله دی په توبه ساقط سو. مګر د صاحب المال حق باقي دی په مال کې د قطاع الطريق پر قاطع يې رد واجب دی، او که قاطع الطريق بعد القدرة عليه توبه وکښل، روح البيان وايي چې له ظاهر څخه د آيت خو داسي فهمېږي چې دا توبه وده ته فائده نه کوي د هر حد چې مستحق و هغه حد پر جاري کېږي کما يضمن حقوق العباد. البته ددې توبه فائده داده چې عذاب عظيم په اخرت کې نسته وده لره.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې دا ټوله بیان چې تهر سو په باره کې د قطاع الطریق د مسلمانانو دی.

مسئله: که قطاع الطریق کافران وه او له کفره یې توبه وکښل او ایمان یې راوړی، نو له ده څخه ټوله عقوبات ساقط دي قبل القدرة وبعدها. او که یې څوک وژلی وي او یا یې مال د چا اخستی وي په حال کې د کفر پر هغه کافر مؤمن باندې د هیڅ شي مطالبه نسته که څه هم ایمان یې بعد القدرة وي کما لو آمن قبل القدرة علیه.

مسئله: مسلمانان که محاربان وه نو که دوی توبه وکښل قبل القدرة علیهم ای قبل ان یظفر امام المسلمین علیهم، نو له دوی څخه هغه عقوبت چې حق الله وي ساقط دی او حقوق العباد نه ځنې ساقطېږي، نو که دوی یو مسلمان په وخت کې د قطع وژلی و، نو له دوی څخه ساقط دی په توبه سره قبل القدرة یعني خواه مخواه وژل ولي چې حتماً وژل حق الله دی مګر د ولي المقتول حق چې قصاص دی پر پاته دی نو د ولي المقتول خوښه ده که یې قصاصوي او که عفوه ورته کوي، او که یې له یو مسلمان څخه په وخت کې د قطع الطریق مال اخستی و او بیا یې توبه وکښل نو قطع الید ځنې ساقط دی ویجب علیه رد المال، وان جمع بینهما ای القتل واخذ المال، نو له ده څخه خامخواه وجوب القتل او صلب ساقط دی او ضمان المال پر پاته دی، او دغه رنګه د ولي المقتول د قصاص حق ان شاء عفی عنه وان شاء اقتص منه.

دروښ وایي: چې له دې ټوله تفصیل څخه دا معلومه سوه چې قطع الطریق او بېرول د مسلمانانو من اقبح السیئات، او هم دا و شان نزول د دې آیتو په نېږد اکثرو مفسرینو. او مظهري رحمه الله په روایت د بخاري له انس رضي الله عنه څخه داسي روایت کړی دی چې یو څو نفره د عکل له قبیلې څخه علیه الصلوة والسلام ته راغله او اسلام یې راوړی، نو د مدینې هواء بده پر ولګېده یعني مرض د نفخ البطن ورپېښ سو غالباً له دوا څخه داسي معلومېږي چې د استسقاء مرض به ورپېښ سوی وی، ولي البان د اوښانو د استسقاء د مرض دوا ده، او بل په روایت کې د ابن عباس رضي الله عنه راغلي دي چې راغلي خلګ د عرنیه د قبیلې وه.

دروښ وایي: چې جمع یې ممکنه ده بعض راغلي کسان څوک د عکل له قبیلې وه او بعض د عرنیه له قبیلې وه، نو علیه الصلوة والسلام دوی امر کړه چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ولاړ سئ و اوښانو ته د صدقې او تاسي څيښئ شيدې او بولي د اوښانو، نو دوی چې دا کار وکړی دوی جوړ سوه او په بدن چاغ سوه، نو دوی مرتد سوه العياذ بالله او دوی مړه کړه رعات "ساروانان" د اوښانو د صدقې او اوښان يې بوتلله ولاړه، نو عليه الصلوة والسلام ته خبر راغلی خلګ يعني اصحاب کرام رضي الله عنهم يې پسې واستول، نو صحابه کرامو هغه کسان سره د اوښانو ونيول او عليه الصلوة والسلام ته يې راوستل، عليه الصلوة والسلام امر وکړی لاسونه او پښې ور پرې کړئ او مېخونه يې تاوده کړه سترګې يې په ورتوري کړې، او د ډبرو په شپله کې يې وغورځول، دوی به د اوبو ناري وهلې اوبه به چا نه ورکولې تر څو چې په داغه حالت کې مړه سوه، ابو قلابة رضي الله عنه وايي سبب د تشديد د عليه الصلوة والسلام ددې خلګو سره په دې وجه و چې دې خلګو رعات الابل وژلي وه او اوښان يې غلا کړي وه، او حاربوا الله ورسوله هم وه او په مُحکه کې يې فساد هم وکړی، نو دا و سبب د تغليظ د عذاب ددوی سره.

پوښتنه: په شريعت محمدي کې مثلت يعني پنړه يا غوږونه پرېکول يا په سترګو تاوده مېخونه ورچخل خو ممنوع وه؟

ځواب: محدثين وايي چې دا فعل عليه الصلوة والسلام قصاصاً وکړی ولي چې دوی د رعات الابل سره دا ټوله کارونه کړي وه، او قتاده له ابن سرين رحمه الله څخه داسي روايت کړی دی چې دا فعل د عليه الصلوة والسلام دمخه و تر انزال د حدود الشرعية وو، او ابو الزياد وايي چې دا فعل چې عليه الصلوة والسلام وکړی خدای حدود نازل کړه او عليه الصلوة والسلام يې له مثلت څخه منع کړی، ولهذا روى عن قتادة رضي الله عنه بلغنا ان النبي ﷺ بعد ذالک يحث على الصدقة وينهى عن المثلة او نوري توجيهات د فعل د عليه الصلوة والسلام علماؤ د صحابه وو او تابعينو نقل کړي دي.

دروښ وايي: چې زما په نېز اصلي توجيه د مثلت ددوی قصاص د رعاتو الابل ده کما اوردناه من قبل لکه سليمان التميمي چې له انس رضي الله عنه څخه روايت کړی دی قال انما سمل النبي ﷺ اعينهم لانهم سملوا اعين الرعات.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې مظهري ګډود روایتونه نقل کړي دي حتی چې په بعضي روایاتو کې یې راوړي دي چې دغه آیتونه یعني "انما جزاء الذین الخ" سرزنش و د علیه الصلوة والسلام پر فعل د مثلت والله اعلم زه خو داسي نه سم ویلای که څه هم ټوله خلګ داغسي ووایي، اوس خو به لا مظهري ولیث بن سعد ته حواله کړې وي

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَابْتَغُوا إِلَيْهِ الْوَسِيلَةَ

اې هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دی له خدایه وبېرېږئ یعني له عذاب او عصیانه د خدای ﷻ، او طلب کړئ یعني د خپلو ځانو لپاره و خدای پاک ته یعني و ثواب ته د خدای او قرب ته د خدای په واسطه سره د اعمال صالحه وو.

پوه سه: چې "الیه" متعلق دی په "وسیلة" پورې لکن مقدم یې کړی پر وسیله لپاره د اهتمام.

سوال: نحات وایي چې د مصدر معمول پر مصدر نه دمخه کېږي لضعف عمله؟

ځواب: وسیله خو مصدر نه ده بلکې په معنا د مایتوسل به الی الله تعالی ده، ویتقرب به الیه تعالی والجمع وسائل، او عطاء رحمه الله وایي چې وسیله افضله د درجو د جنت ده، نو ځکه په حدیث نبوي کې راغلي دي "سئلوا الله لي الوسیلة فانها درجة في الجنة لا ینالها الا عبد واحد وارجوا من الله ان اکون هو انا" یعني تاسي سوال کوئ له خدای ﷻ څخه زما لپاره د وسیلې، ولي چې هغه یوه درجه ده په جنت کې یعني درجه عظیمه چې هغه نه رسېږي مګر و یوه بنده ته او زما امید دی چې هغه بنده زه یم او د هغه چې ماته طلب د وسیلې وکړي زما شفاعت به په ورځ د قیامت د هغه نصیب سي.

وَجَاهِدُوا فِي سَبِيلِهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ۝

او تاسي جهاد کوئ په لاره کې د خدای ﷻ یعني لپاره د اعلاء د کلمة الله له دښمنانانو ظاهره او باطنه وو سره شاید بلکې په تحقیق تاسي به ورسېږي و قرب الهي ته او سعادت اخروي ته.

پوه سه: چې بعض مشائخ ددې زمانې ترجمه د "وسیلة" په شیخ مرشد سره کوي.

دروبش وایي: چې شیخ کامل چې اوصاف د ارشاد پکښې وي کما بین في

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کتب التصوف که څوک پیدا کړي خو هغه کبریت احمر دی او مسک اذفر دی، لکن توفیق الوصول الیه من الله الاکبر، لکن زما غرض دادی چې د لفظ "وسیلة" ترجمه شیخ مرشد نه ده کما زعموا.

پوه سه: چې صحبت او هم نشیني د صالح سړي هر څوک چې وي د هر ښه کار دی په صحیح حدیث نبوي کې راغلي دي چې د صالح سړي ناسته داسې مثال لري لکه سړی چې د مشک خرڅونکي په دکان کې کښیني، نو یا به دی مشک څخه رانیسي او یا به دکاندار ده ته څه مشک مفت درکړي، او که له دغو دواړو څخه یوه نه سي پېښه دکان خو یې خوشبویه دی، دی چې را وځي دده د کالو به خوشبویي ولاړ وي، او د جلیس سوء مثال یعني د بد سړي مثال داسې دی لکه سړی چې د آهنګر په دکان کې کښیني، نو یا به د آهنګر د اور کوره دده کالي در وسوځي او یا به دده په دود لړلی دکان دده مخ او کالي در تور کړي، او که دا یو نه وي چونکه د آهنګر د دکان هوا بدبویه ده دی چې راوزي دده به هم بد بوی څي او کما قال رسول الله ﷺ.

دروېش وایي: چې داوسنۍ زمانې یعني سنه ۱۴۲۷ هـ ق بلکې تر دې سنې هم د هر دمخه په نامه پیرانو او خلیفه ګانو پیري او مریدي تجارت ګرځولي دي، پایځې یې پورته کړي وي نن ددې مرید پر کور بهله دعوته مهلمه کېږي په خپلو ورجو غوښو ځان مور کړي، سبا د بل مرید پر کور، مګر خدایې کسان خامخواه په امت محمدیه ﷺ کې سته لکن اوس به د هر کم وي وهم من عصمهم الله من تلک الاعمال اللهم صبراً.

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْ أَنَّ لَهُمْ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا وَمِثْلَهُ مَعَهُ

په تحقیق هغه کسان چې کفر یې مختاره کړي وي که فرضاً دوی لره یعني هر یوه لره مافي الارض وي من خزائنها وجواهرها وذخائرها.

پوه سه: چې مافي الارض اسم دی د "ان" او "لهم" یې خبر دی "جمیعا" یې تاکید دی د "ما" چې موصوله ده، او یا حال دی "ومثله" یعني مثل د مافي الارض عطف دی علی مافي الارض معه سره د مافي الارض "معه" ظرف دی حال دی له معطوف څخه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لِيَفْتَدُوا بِهِۦ مِنْ عَذَابِ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ مَا تُقُبِّلَ مِنْهُمْ ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ۝

چي دوی يې فديه وګرځي له عذاب څخه د ورځي د قيامت چي دوزخ دا ټوله مافي الارض ومثله له دوی څخه به نه سي قبول يعني له عذابه به نه سي خلاص، او دوی لره عذاب درد ناک سته چي دوزخ دی يعني په ورځ کي د قيامت.

پوه سه: چي لام جاره متعلق دی په هغه فعل سره چي خبر دی د "ان" چي "لهم" پورې متعلق و چي فعل د استقروا و چي "لهم" پورې متعلق و، او حرف د "به" متعلق دی په "يفتدوا" پورې او ضمير د "به" راجع دی و موصول "ومثله" ته.

سوال: ضمير د "به" خو مفرد دی نو څرنګه دوو شيانو ته راجع کېږي؟

ځواب: ضمير ته يې حکم د اسم الاشارة ورکړی دی کانه بدل به بذالک فافهم.

يُرِيدُونَ أَن يَخْرُجُوا مِنَ ٱلنَّارِ وَمَا هُم بِخَٰرِجِينَ مِنْهَا ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيمٌ ۝

پوه سه: چي دا جمله مستانفه ده، او استيناف يې بياني دی چي ځواب د سوال مقدر دی کانه قيل کيف حالهم فيها او ما ذا يصنعون فاجيب يريدون الخ، والمعنی دوی اراده لري دډې چي ووزي له اور څخه د هغه وخت چي لمبې د اور دوی راپورته کړي، نو دوی هڅه وکړي چي له اوره ګوندي ووزو "ولات حين مناص" اوس نسته وخت د خلاصون. او بعض مفسرين وايي چي مراد له "يريدون" څخه تمنای قلبي ددوی ده له دوزخ څخه، او دوی نه سي کېدای خارجين له اور څخه لانهم کلما ارادوا ان يخرجوا منها اعيدوا فيها او دوی لره دی عذاب مقيم يعني دائم چي هيڅ نه قطع کېږي، په حديث شريف کي راغلي دي چي جنتيان چي جنت ته ورسي او دوزخيان دوزخ ته ورسي، نو د خدای ﷻ له خوا اعلان ذکر سي يا اهل الجنة خلود بلا موت يعني فيزدادون فرحاً على فرحهم، او دوزخيانو ته به هم وويل سي خلود بلا موت فيزدادون غما على غمهم.

دروښ وايي: چي په حديث شريف کي راغلي دي چي "يؤتي بانعم اهل الدنيا من اهل النار يوم القيامة فيصبغ في النار صبغة" راتګ به وکړل سي په لوی نعمت داره سړه په دنيا چي له اهل النار څخه وي يعني کافر وي په ورځ د قيامت، نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غوټه به يې کړي په اور کې يوه غوټه يعني يوه نفخه د اور به ورورسېږي "ثم يقال يا ابن آدم هل رئيت خيراً قط فيقول لا والله يارب" بيا به وروته وويل سي اې د آدم زويه آيا تا په دنيا کې يو خير ليدلی او يا تا په دنيا کې يو نعمت ليدلی و؟ دی به ورته ووايي "لا يا رب" نو معنا داده چې سختي د عذاب له ده څخه هېره کړي هغه چې پر ده تېر سوي وه له نعمتو څخه د دنيا، او بيا به راتګ وکړل سي په هغه سړي سره چې سخت ترين د خلګو وي په دنيا کې از روی فقر او له اهل جنت څخه به وي، نو يوه غوټه به په جنت کې ورکړي يعني بوی د جنت به يې تر پزه سي، بيا به وهغه ته وويل سي اې ابن آدم پر تا يو وخت فقر درغلی و او تا په دنيا کې يوه سختي ليدلې وه، فيقول لا والله يارب، يعني د دنيا تولې سختي په يوه بوی د جنت ځني هېرې سي، كذا في شرح المشارق لابن مالک رحمه الله.

وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوْٓا اَيْدِيَهُمَا

نر غل او ښځه غله يعني چې غلا وکړي پرې دي کړل سي لاسونه ددوی.

پوه سه: چې "والسارق آه" مبتدا، ده خبر يې محذوف دی ای حکم السارق والسارقة ثابت فيما يتلى عليكم، نو "فاقطعوا" بيان دی د حکم مقدر.

پوښتنه: څه ضرورت سته و تقدير ته د خبر؟

ځواب: له دې سببه ضرورت سته چې "فاقطعوا" امر دی او امر انشاء ده نو خبر نه سي واقع کېدای ببله تاويله.

پوه سه: چې مراد "له ايدي" څخه بنې (راسته) لاسونه دي.

سوال: ايدي" خو جمع ده او د غله يا د غلې خو دوه لاسونه دي؟

ځواب: په نحو کې وايي چې دوه لفظ د تثنيې مثوالي مستکره دي يعني يداها. نو ځکه يې جمع کړه او پر دوه والي باندې ضمير د "هما" دلالت کوي کما في قوله تعالى فقد صغت قلوبكما موضع قلبا كما فافهم هداک الله.

جَزَآءًۢ بِمَا كَسَبَا نَكَالًا مِّنَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ۝

دا جزاء ده د هغه فعل چې دوی کړی دی يعني غلا، او دا عقوبت دی د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای ﷻ له خوا چي دوی به هم بیا غلا نه کوي او د نورو غلو چي دوی ووینې عبرت به یې سي، او خدای ﷻ غالب دی پر خپلو کارو. یعني هرڅه اراده چي یې وسي هغه کولای سي، نه یې د مراد څوک مانع کېدای سي، ولي چي خدای لره ضد اوند نسته، او په هر حکم کي که د امر وي او که د نهي وي حکمت لري وهي اخلاء العالم من فساد النظام لکه په موجوده آیت کي چي یې حکم وکړی پر سارق او سارقه په قطع الید سره.

پوښتنه: په آیت کي د سرقې خدای پاک ټر دمخه کړی او په آیت کي د زناء یې ښځه دمخه کړه الزانیة والزاني فاجلدوا کل واحد نخ" حکمت یې څه دی؟

ځواب: په سرقه کي شجاعت لوی کار فرما دی، او په شجاعت کي ټر تر ښځي بالا دی علی الاکثر، او په زنی کي باعث شهوت دی او په شهوت کي ښځه تر ټر بالا ده غالباً.

فَمَنْ تَابَ مِنْ بَعْدِ ظُلْمِهٖ وَاَصْلَحَ فَاِنَّ اللّٰهَ يَتُوْبُ عَلَيْهِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝

نو که چا که ټر وي او که ښځه وي توبه وکښل له سرقې څخه پسله ظلمه څخه یعني اخذ المال غیره بالسرقة، او خپل ځان یې اصلاح کړی په رد د ماسرق او بالعفو من المسروق منه، نو خدای ﷻ یې توبه قبولوي ولا یعذبه في الآخرة، په تحقیق سره خدای پاک بخښونکی د ګناه دی او مهربان دی.

پوه سه: چي قطع الید نه ځني ساقطېږي په توبه لان فیه حق المسروق منه، زمونږ د حنیفیانو په مذهب کي.

مسئله: حدادي رحمه الله وایي که سارق مال مسروقه رد کړی ومسروق منه ته قبل المرافعة الی الحاکم لاتقطع یده، واما بعد المرافعة الی الحاکم فیجب القطع.

سوال: چي د غله لاس پرې سي او مال هم رد کړي، نو غله ته څه ګټه ورسېده؟

ځواب: که یې توبه د زړه له کومي وه، نو خدای پاک به وده ته اجر عظیم ورکړي پر قطع الید باندي، لکه انبیاء علیهم السلام او صلحاء دامت چي خدای پاک یې په امراض او بلایاو ګوناګون مبتلاء کوي لپاره د رفع د درجاتو ددوی في الجنة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ

پوه سه: چې مخاطب په آیت کې خو علیه الصلوة والسلام دی لکن مراد ټوله مؤمنان دي ولي ټوله خو په دې خبر دي "ان الله له آه" او استفهام لپاره د انکار دی او نفي د نفي اثبات دی یعنې ته په دې خبر یې او مقصود په اثبات کې د علم ددوی شاهدان دي، ولي پر قدرت الهي پر مضمون د آیت آتي.

يُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ وَيَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ ۝

خدای ﷻ په عذابوي هغه څوک چې اراده د عذاب یې لري او بخښنه کوي و هغه چاته چې اراده د بخښنې یې ورته وسي. او خدای ﷻ پر هر شي قادر دی فیدخل في عموم الشئ المغفرة والتعذیب.

پوه سه: مفعول د "یشآء" په دواړو ځایو کې محذوف دی یعنې التعذیب والمغفرة کما اشرنا الیه في ترجمة الآیة.

فائدة في بیان السرقة وهي اخذ المکلف، نو که نابالغ یا لیونی غلا وکړي قطع الید نسته باندې "خفیة" یعنې په پټه.

پوه سه: چې "خفیة" چې رکن د سرقې دی احتراز دی له غصب څخه چې د غاصب لاس نه پرې کېږي که څه هم غصب لویه ګناه ده، په قدر د لس درهمه چې سکه پر وهل سوې وي. نو که عین دراهم وه خو خیر او که بل مال و، نو قیمت ته د هغه مال اعتبار دی. نو که لس درهمه ته رسېدی قطع الید پکښې واجبه ده: له خوندي ځایه څخه چې ده لره ملک نه وي پکښې، د "حرز" څخه مراد دادی چې ممنوع ځای وي که مانع په بناء وي لکه خونه او که پیره دار وي، بغوي رحمه الله وایي که یو چا شی غلا کړی بېله حرزه لکه میوه د چا له باغه چې پیره دار نه لري، یا یو پسه یا بل حیوان چې په صحراء کې وي او محافظ نه وي ورسره، او یا یې مال غلا کړی له داسې خوني څخه چې جلا وه له نورو خونو څخه د سرای په دې ټولو کې قطع نسته، او په دې قول سره من حرز لا ملک له فیه چې معنا یې داده چې داسې ممنوع ځای و چې سارق لره ملک نه و په دې حرز کې. احتراز یې وکړی چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مال مسروق په داسي څونه کي وي چي د سارق ملک وي لکه څوک چي د بل چا په څونه کي مال کښېږدي او څوني والا يې غلا کړي پر دغه سارق قطع اليد نسته، ولي چي حرز د سارق ملک و.

مسئله: د سارق رسته لاس دې ورپرې کوي له اول بنده څخه چي زنده يې بولي، او وروسته تر پرې کېدلو دې په تودو تېلو چغ کړي تاچي وينه يې ودرېږي، ولي که يې داغ نه کړي نو يې وينه بهېږي خو سارق مري، او حد خو لپاره د زجر دی نه لپاره د قتل.

مسئله: که سارق چي لاس يې پرې سو دوهمه پلا بيا غلا وکړه نو چپه پښه دې د اول بنده سره ورپرې کړي، او که يې دريم يمه پلا غلا وکړه بل لاس يا پښه دي نه څنې پرې کوي بلکې بندي دې کړي تر هغو پورې چي توبه کاږي، او علامه د تائبين پر معلومېږي لقوله علي ﷺ په باره کي د داسي چا چي دريم وار يې غلا کړې وه چي زه له خدايه شرمېږم چي زه داسي لاس وسارق ته نه پرېږدم چي دی خوراک په کوي، يعني دا بل لاس هم ورپرې کړم، او زه شرمېږم که يې داسي پښه ورپرې کړم چي ده به تگ پرې کولای يعني که يې راسته پښه ور پرې کړم.

مسئله: اثبات د سرقې په هغه شي سره کېږي چي اثبات د شراب خمر په هغه سره کېږي يعني يا اقرار د سارق يا دوه شاهدان لکن د ښځو شاهدي په حدودو کي نه قبولېږي بشبهة البدلية منه . والحدود يندر بالشبهات.

مسئله: طلب د مسروق منه شرط د قطع دی ولي چي خيانت پر ملک د غير لکه سرقه لاتظهر الا بخصومة ذالک الغير.

فائده: په قطع کي د لاس په سبب د سرقې فرق نسته د امير او د فقير. بخاري له عائشې ﷺ څخه روايت کړی دی چي يوه ښځه د بني مخزوم د قبيلې غلا يې کړي وه، عليه الصلوة والسلام ته چي موضوع پېش سوه عليه الصلوة والسلام حکم د قطع اليد پر وکړی، نو يې اقرباء د ښځي وغوښتل چي سارقه ښځه د قطع اليد څخه خلاصه کړي، نو اسامه بن زيد ﷺ چي پر عليه الصلوة والسلام ډېر گران و لکه پلار دده چي زيد و پر عليه الصلوة والسلام گران و، نو د ښځي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قربیانو اسامه بن زید ﷺ و علیه الصلوة والسلام ته ورواستاوه چې ددې ښځې شفاعت دي و علیه الصلوة والسلام ته وکړي چې لاس دې نه ورپرې کوي، هغه چې ورغلی علیه الصلوة والسلام د اسامه خبره ونه منله او داسې یې ورته وویل "اتشفع یا اسامة في حد من حدود الله انما اهلک الذین قبلکم انهم کانوا اذا سرق فیهم الشریف ترکوه واما اذا سرق فیهم الوضیع والضعیف اقاموا علیه الحد.

ترجمه: آیا ته شفاعت کوې اې اسامه په یو حد کې د حدودو د خدای ﷻ، استفهام انکاري دی یعني مه یې کوه. او ورته زیاته یې کړه چې ترتاسې دمخه خلګ یعني الیهود غالباً چې خدای ﷻ هلاک کړه په دې سره چې د لوړ خاندان سړي به غلا وکړه هغه به یې پرېښوی یعني حد به یې نه پر جاري کاوه او چې یو ضیف سړي به غلا وکړه حد به یې پر جاري کاوه، او علیه الصلوة والسلام اسامه ته داهم وویل "لو ان فاطمة بنت محمد سرقت لقطعت یدها"

مسئله: په حدیث شریف کې راغلي دي چې علیه الصلوة والسلام نهي وکړه له شفاعت څخه په حدود کې بعد بلوغ الامام، له دې سببه ده مبارک د اسامه ﷺ شفاعت رد کړی، واما الشفاعة قبل البلوغ الی الامام، نو شفاعت کول و مجني علیه ته روا دی او پر جاني که سارق وي او که بل پرده اچول یعني شاهدي نه پر اداء کول چې مجني علیه طلب نه وي کړی مستحب کار دی، سعدي شیرازي وایي.

پس پرده بیند عملهای بد — هم اوپرده پوشد بآلای خود

یعني خدای ﷻ پس پرده وینې یعني علم پر لري عملونه بد د بندګانو او هم په خپله خدای پاک پرده اچوي پر عملو بدو د بندګانو په خپل احسان سره،

دروښ وایي: چې امام ابو منصور ماتریدي ﷺ چې امام دی د حنیفیانو په عقائدو کې وایي که څوک وایي څه حکمت الهي دی په قطع کې د ید چې په زرو بلکې په لکو روپۍ یې قیمت دی په سرقه د لس درهمه کېږي، وکیف یکون قطع الید جزاء د فعل د سارق یعني سرقة عشرة دراهم، او سره ددې چې خدای پاک وایي "من جاء بالسیئة فلا یجزی الا مثلها" واین مماثلة بین قطع الید وبین سرقة عشرة دراهم؟

ځواب: قطع الید خو د عشرة دارهم عوض نه دی بلکې قطع الید جزاء ده د هتک او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بې حرمتی د حقوق د خدای ﷻ چې سارق وکړه ولهذا قال الله ههنا جزاء بما کسبا. یعني دا قطع الید جزاء ددوی د کسب او فعل ده نه جزاء د لس درهمه، او د خدای پاک په نېز دي هتک د حرمت د سرقې دغه قطع الید جزاء ده لان مقادیر العقوبات انما یعلمها من یعلم الجنایات فالحق التسلیم والانقیاد انتهی بزیادة یسیرة.

دروېش وایي: چې کافران ټوله په سرکې انګریزان او امریکایان په خپلو بیانو کې وایي چې قطع الید په جرم کې د لس درهمه ظلم دی، او دوی دا ظلم نه بولي چې د مسلمانانو د وطنو د قبضه کولو لکه عراق او افغانستان آتش باره بمباري کوي نر او ښځي حتی د زانګو ماشومان ددوی له بمبار څخه هره ورځ په زرهاوو وژل کېږي دا ظلم نه بولي او قطع الید ظلم بولي، ع... بدین عقل ودانش باید گریخت، غلبېل کوزې ته ویل څومره دېر سوري لري؟ کوزې ورته وویل زما دا خو دوه دي ستا د خو په سلهاوو دي، بیت.....

چو بینم دین احمد درغریبی　　دلم سوزان زچشم خون جاری

پوه سه: چې لکه غلا چې د اموالو سته داغه رنګه غلا په عباداتو کې د خدای هم سته ځکه چې په صحیح حدیث کې راغلي دي علیه الصلوة والسلام فرمایلي دي "اسوء الناس سرقة الذي یسرق من صلاته، قالوا یا رسول الله کیف یسرق عن صلوته قال لایتم رکوعها ولاسجودها.

دروېش وایي: چې تعدیل الارکان پر صحیح مذهب د حنیفیانو واجب دی کما صرح به الطحاوي، ویدل علیه ما رواه البخاري وغیره چې علیه الصلوة والسلام په مسجد نبوي کې تشریف فرما و چې یو سړی چې د جماعت لمونځ ځني تېر سوی و پر لمانځه ودرېدی، لمونځ چې یې وکړی تېرېدی او علیه الصلوة والسلام ته یې سلام علیکم ووایه، نو علیه الصلوة والسلام وروسته تر ځواب د سلام ورته وویل "صل فانک لم تصل" ورسه دوهم لمونځ وکړی ولې چې تا لمونځ نه دی کړی یعني کامل لمونځ، هغه سړی ورغلی بیا یې لکه دمخه لمونځ داسې لمونځ وکړی، خو بیا علیه الصلوة والسلام ورته وویل "صل فانک لم تصل" تر دري ځلور واړه پورې، نو په اخیر هغه سړي ورته ووېل چې یا رسول الله ﷺ ته یې راوښیې زه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څرنګه لمونځ وکړم، علیه الصلوة والسلام په بیان کي د صحرائي د لمانځه دا جزء ورزیات کړی، نور خو د صحرائي لمونځ سم و مګر دغه شی کم و، نو علیه الصلوة والسلام د هغه په بیان کي ورته وویل "اذا رکعت فاطمئن راکعاً واذا رفعت فاطمئن قائماً و اذا سجدت فاطمئن ساجدا" یعني هر رکن ښه په اطمنان سره کوه، ژر ژر پورته کښته مه کوه "واذا رفعت فاطمئن قاعداً" او تعدیل الارکان یې ور وښوول چې د صحرائي په لمانځه کي کم وه.

يَاأَيُّهَا الرَّسُولُ لَا يَحْزُنْكَ الَّذِينَ يُسَارِعُونَ فِي الْكُفْرِ

اې رسوله تا دي په غم کي وانه چوي هغه کسان چې په ډېر تلوار سره په کفر کي واقع او داخلېږي.

پوه سه: چې خطاب یې و علیه الصلوة والسلام ته په عنوان د رسالت وکړی لپاره د تشریف دده، والمقصود چې ته غم مه کوه زه دي ناصر یم.

مِنَ الَّذِينَ قَالُوا آمَنَّا بِأَفْوَاهِهِمْ وَلَمْ تُؤْمِن قُلُوبُهُمْ

هغه کسان چې دوی وایي چې موږ ایمان راوړی دی په خولو وایي، او ایمان یې نه دی راوړو زړو ددوی، چې دا د منافقینو ډله وه.

پوښتنه: قول خو وي په ژبه او په خوله، نو د "بافواههم" څه فائده ده.

ځواب: اشاره ودې ته ده چې ژبې او خولې ددوی ترجمان د زړه نه دي ولا عبرة لقول لایکون معبراً و ترجماناً للقلب.

وَمِنَ الَّذِينَ هَادُوا

او د هغو کسانو چې په دین کي د یهودانو دي.

پوه سه: چې دا موصول عطف دی پر موصول سابق او په دې دوو ډلو یعني المنافقین والهیود سره مسارعین في الکفر ختم سوه.

سَمَّاعُونَ لِلْكَذِبِ سَمَّاعُونَ لِقَوْمٍ آخَرِينَ

پوه سه: چې "سماعون" خبر د مبتدا، محذوفي دی والتقدیر "هم" ای المنافقون والیهود ښه اورېدونکي دي د درواغو او سماع د مبالغې صیغه ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: سمع" څو متعدي بنفسه ده، نو لام ته د للكذب څه ضرورت و؟

ځواب: لام لپاره د تقويه د عمل دی ومثله كثير في العربية، او يا سماع متضمن معنا لره د قبول ده، والقبول يتعدى باللام.

پوه سه: مراد له كذب څخه هغه اخبار دي چي احبارو يعني ملايانو د يهودانو به پر خداى ﷻ ويل په تحريف كتابهم التوراة كما في نعوت رسول الله ﷺ وكتمان آية الرجم وغير ذالك.

پوه سه: چي اكثره منافقين چونكه يهودان وه نو ځكه يې سماعون للكذب و دوارو ته شامل كړی فتدبر.

پوه سه: چي دوهم "سماعون" هم خبر د مبتدإ مقدر دی د اول "سماعون" د تقرير لپاره دی والمعنى مبالغون في سماع قوم آخرين يعني بسمع القبول.

لَمْ يَأْتُوكَ

ای لم يحضروا مجلسک، يعني ځانونه له تا څخه گوښه ساتي د تكبر او د غايت بغض او عناد له سببه.

پوه سه: چي "لم ياتوک" بل صفت دی د "قوم" بعض مفسرين وايي چي مراد له "لم ياتوک" يهودان د خيبر دي، او له "سماعون" مراد بني قريضه دي د يهودانو.

يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ مِنْ بَعْدِ مَوَاضِعِهِ

صفت اخری دی "لقوم" معنا داده چي دوی تغييير او ميل وركوي و كلمو الهيه وو ته له خپلو ځايو څخه، وروسته تر دې چي خداى پاک دغه كلم په خپلو ځايو كي اينبي وه يعني په تورات كي، يا د سره هغه كلم مهمل پريږدي او يا يې پر غير مراد الهي حمل كوي.

يَقُولُونَ إِنْ أُوتِيتُمْ هَٰذَا فَخُذُوهُ

دوی وايي و خپلو اتباعو ته چي ددوی خبره اوريځ په وخت چي دوی و اتباعو ته خپل باطل او له ځانه جوړ كړي خبرونه بيانوي، كه چيري تاسي ته دركړه سو يعني له جانبه د رسول دغه "هذا" اشاره ده و هغه قول محرف ته ددوی، نو قبول يې كړئ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او عمل په وکړئ فانه الحق.

دروښ وايي: چې دوی خپښان خو په دې پوهېدل چې علیه الصلوة والسلام خو دا محرف او از خود ساخته خبری ددوی او خلګو ته نه کوي. نو له دې جهته دوی و خپلو اتباعو ته وویل چې نو یې قبولي کړئ.

وَإِنْ لَّمْ تُؤْتَوْهُ فَاحْذَرُوا۟

او که دغه خبري چې موږ تاسي ته وکړئ ګڼئ رسول وتاسي ته ونه کړي. نو له هغو خبرو څخه وبېرېږئ یعني مه یې قبلوئ. او یا له علیه الصلوة والسلام څخه بېرېږئ ددوی په قول چې نبي نه دی لعنهم کیف یحولون الباطل المحرف فخذوه وللحق المنزل فاحذروا.

دروښ وايي: چې شان نزول د فوق التلاوة آیتو مفسرینو قریباً په اتفاق سره داسي ذکر کړی دی چې عربي عبارت سره سره به یې په پښتو هم واوړئ ان شاء الله ﷻ ان شریفاً من خیبر زنی بشریفة وکانا محصنین وحدهما الرجم في التورات (چې یو شریف سړی یعني په دوی کې نسبه نسب والا او مالدار و، زنا یې وکړه د یوې شریفې ښځې سره او دوئ دواړه محصن وه یعني نر ماینه درلوده او ښځې میړه درلودی او حد ددوی رجم و په تورات کې) فکرهوا رجمهما لشرفهما (نو دوی یعني علماؤ ددوی رجم د ددوی نه و خوښ په سبب د شرافت ددوی) فارسلهما مع رهیط منهم الی بني قریضة وبني نضیر (نو دوی راواستول زاني او زانیه سره د یو جماعت ددوی و بني نضیر او بني قریضه وو ته چې د مدینې منورې یهودان وه) حتی نزلوا علی قریضة ونضیر فقالوا لهم انکم خبیر بهذا الرجل ومعنه في بلده (حتی چې هغه جماعت راغلی او پر قریضه او نضیر یې واړول، او هغه جماعت و نضیر او قریضه ته وویل چې تاسي خو په حالاتو د دغه سړي یعني رسول الله ﷺ نه خبر یاست او ده سره په ښار کې یاست یعني مدینه) وقد حدث فینا حدث فلان وفلانة قد فجرا وقد احصنا فنحب ان تسئالوا النا محمداً عن قضائه (په موږ کې یعني په خیبر کې یوه نوې خبره پېښه سوې ده فلاني نر او فلانی ښځې فجور یعني زنا کړې ده او دواړه هم محصن دي، نو زموږ دا خوښه ده چې تاسي پوښتنه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وکړئ زموږ لپاره د محمد ﷺ څخه ددې قضیې د حکم) فقالت لهم قریضه والنضیر اذا والله یامرکم بما تکرهون (نو قریضه او نضیر ورته وویل دی به امر کوي په هغه چې تاسي یې مکروه بولئ یعني رجم) ثم انطلق قوم منهم کعب بن الاشرف وکعب بن الاسد وکنانة بن ابي الحقیق وغیرهم الی رسول الله ﷺ، فقالوا یا محمد اخبرنا عن الزاني والزانیة اذا احصنا ماحدهما في کتابک (بیا ولاړی یو قوم د خبیریانو چې په هغو کې کعب بن الاشرف او کعب بن الاسد او بل کنابه بن الحقیق و، او نور هم و رسول الله ﷺ ته، او دوی وویل اې محمده خبر راکړه یعني د حکم د زاني او زانیه چې دواړه محصن وي څه دی حد د هغو ستا په کتاب کې) فقال هل ترضون بقضائي؟ قالوا نعم (نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې تاسي زما په قضاء او حکم سره راضي یاست دوی وویل هو!) فنزل جبرئیل بالرجم فاخبرهم بذالک فابوا ان یاء خذوا بذالک (نو جبرائیل علیه السلام راغلی چې حکم یې رجم دی، علیه الصلوة والسلام ودوی ته وویل چې حکم یې رجم دی، نو دوی منع وکړه چې مونږ به عمل په رجم سره) فقال له جبرئیل اجعل بینک وبینهم ابن صوریا ووصفه له (جبرائیل و علیه الصلوة والسلام ته وویل چې ته محکم وگرځوه په منځ کې خپل او ددوی ابن صوریا، او جبرائیل علیه السلام د ابن صوریا صورت او هیئت و علیه الصلوة والسلام ته بیان کړی) فقال علیه الصلوة والسلام هل تعرفون ابن صوریا؟ قالوا نعم قال فاي رجل فیکم؟ قالوا هو اعلم یهودي بقي علی وجه الارض بما انزل الله علی موسی علیه السلام في التوراة (نو علیه الصلوة والسلام ودوی ته وویل آیا تاسي پېژنئ ابن صوریا؟ دوی ورته وویل هو! علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې څرنگه سړی دی ابن صوریا په تاسي یهودو کې؟ دوی ورته وویل چې ابن صوریا هغه ښه خبر سړی یهودي دی چې پاته دی پر مخ د مځکې په هغه کتاب چې خدای پر موسی علیه السلام نازل کړی دی یعني تورات) قال فارسلوا الیه ففعلوا فاتاهم وهو ابیض اعور یسکن فدک فقال له علیه الصلوة والسلام انت ابن صوریا قال نعم قال وانت اعلم یهودي قال کذالک یزعمون، قال علیه الصلوة والسلام اتجعلونه بیني وبینکم قالوا نعم (نو علیه الصلوة والسلام ودوی ته وویل چې ابن صوریا ته سړی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورواستوئ چې راسي، نو دوی هم داغسي وکړه، نو ابن صوریا راغلی چې په رنګ سپین مخ یې و او په یوه سترګه ړوند و او ځوان و، نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې ته ابن صوریا یې؟ هغه ورته وویل هو! علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې خبرداره یهودي یې، ابن صوریا ورته وویل چې یهودان داغسي ظن پر ما لري، نو علیه الصلوة والسلام د خیبر ویهودانو ته وویل چې تاسي ابن صوریا محکم ګرځوئ زما او ستاسي تر منځ؟ هغو ورته وویل هو!) قال له رسول الله ﷺ انشدک بالله الذي لا اله الاهو انزل التوراة على موسى واخرجم من مصر وفلق لكم البحر وانجاكم واغرق آل فرعون والذي ظل عليكم الغمام، وانزل عليكم المن والسلوى وانزل عليكم كتابه فيه حلاله وحرامه هل تجد في كتابكم الرجم يعني على المحصن والمحصنة، قال ابن صوريا نعم والذي ذكرتني به لو لا خشيت ان تحرقني التوراة ان كذبت او غيرت ما اعترفت لک (نو علیه الصلوة والسلام و ابن صوریا ته وویل چې زه تاته قسم درکوم په هغه چې لا اله الا هو چې نازل کړی یې دی تورات پر موسی علیه السلام او نازل کړی یې دی کتاب خپل یعني تورات چې په هغه کې خدای ﷻ حلال او حرام ټوله بیان کړي دي، او تاسي یې را ایستلي یاست له مصر څخه او دریاب وتاسي ته کوڅې کوڅې و، او تاسي ته یې نجات درکړی و، او آل فرعون یې غرق کړي وه، او په هغه خدای قسم درکوم چې پر تاسي یې سایوان ګرځولې وه وریځ، او پر تاسي یې نازل کړل من او سلوی، آیا تاسي رجم د محصن او محصنې په تورات کې نه دی لیدلی؟ ابن صوریا ورته وویل هو! لیدلی مو دی او زما قسم په هغه خدای دی چې تا ماته ذکر کړی که نه وای بهره ددې چې تورات په ما وسوځي که زه درواغ ووایم، او یا تورات ته تغییر ورکړم ما به تاته دغه اقرار یعني د رجم في التوراة نه وای کړی) لكن كيف في كتابك يا محمد قال اذا شهد اربعة رهبط عدول انه قد ادخله فيها كما يدخل الميل في المكحلة وجب عليه الرجم (نو ابن صوریا وروسته تر اقرار په رجم سره د تورات په حکم و علیه الصلوة والسلام ته، لکن حکم څرنګه دی ستا په کتاب کې یا محمد؟ نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې شاهدي اداء کړي څلور عادلان چې دې نر خپل ذکر داخل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړی و په دې کې یعني په فرج کې د ښځې، او داسې یې داخل کړی و لکه سلایې چې سړی په رنجونوني چیخي، نو رجم واجب دی یعني که محصن او محصنه وه) فقال ابن صوریا والذي انزل التوراة علی موسی هکذا انزل الله علی موسی علیه السلام في التوراة (نو ابن صوریا ورته وویل چې قسم دی په هغه خدای چې تورات یې پر موسی علیه السلام نازل کړی دی دغه شان یعني لکه تا چې وویل خدای نازل کړی یعني حکم د زنا د محصن او محصنې په تورات کې پر موسی علیه السلام) فقال له النبي ﷺ فما ذا کان اول ترخستم به في امر الله تعالی (نو علیه الصلوة والسلام و ابن صوریا ته وویل څه شی اول سبب د آسانۍ ستاسې په امر کې د خدای یعني في التوراة یعني حکم د تورات ته مو تغییر ورکړی) قال کنا اذا ذنی الشریف ترکناه واذا اخذنا الضعیف اقمنا علیه الحد یعني الرجم کما هو حکم التوراة (ابن صوریا ورته وویل چې موږ به داسې کوله چې شریف سړي به زنا وکړه هغه به مو پرېښو یعني حد د رجم مو نه پر جاري کاوه، او چې ضیعف به مو پر زنا ونیوی موږ به حد د زنی یعني رجم پر جاري کاوه) فکثر الزنی في اشرافنا حتی زنی ابن عم ملکنا فلم یرجم (نو له دې سببه چې پر شریف به رجم نه جاري کېدی په اشرافو کې زمونږ زنا ډېره سوه حتی چې زمونږ د یوه بادشاه د اکا زوی زنا وکړه نه سو په رجم) ثم زنی رجل آخر في اسوة من الناس فاراد ذالک الملک رجمه فقام دونه قومه وقالوا لا والله لاترجمه حتی ترجم فلاناً ابن عمک (او بیا زنا وکړه یو بل سړي په عمومي خلګو کې یعني چې شریف نه و، نو بادشاه اراده د رجم وکړه، نو د بادشاه و مخ ته خلګ له قوم څخه د هغه ضعیف ودرېدل، او قوم د ضیعف وویل چې قسم په خدای که یې رجم کړې تر هغو چې فلانی ستا د اکا زوی دې په رجم کړی نه وي، یعني هغه ضعیف زاني بیا څپل قوم له رجم څخه خلاص کړی) فقلنا تعالوا نجتمع فلنضع شیئاً دون الرجم یکون علی الشریف والوضع فوضعنا الجلد والتحمیم وهو ان یجلد یعني الزاني والزانیة اذا کانا محصنین لاغیرهما اربعین جلدة بحبل مطلی بالقار ثم تسود وجوهما ثم یحملان علی حمارین وجوههما من قبل دبر الحمار یطاف بهما فجعلوا هذا مکان الرجم (ابن صوریا وویل چې موږ ملا یانو د یهودو سره وویل چې تاسې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راسئ موږ سره کښېنو او په اتفاق سره یو شی وضع کړو په ځای کي د رجم چي هغه حکم پر شریف او پر ضعیف باندي برابر وي چي هغه ځلو ېښت دري وهل او مخ ور تورول دي د زاني او د زانیې چي محصنین وي نه غیر محصنین. نو ځلو ېښت دري وهل دي او بیا د دواړو مخان ورتورول دي. او بیا زاني پر یوه خره او زانیه پر بل خره سپرول چي مخان یې د خره د کوني وخواته وي.

وَمَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ فِتْنَتَهٗ فَلَنْ تَمْلِكَ لَهٗ مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا ؕ

و چاته چي د خدای ﷻ اراده وسي د ضلالت او رسوایي، نو ته هرګز مالک نه یې د هغه لپاره یعني ستا په طاقت نه ده پوره په دفع کي د عذاب له خدایه هیڅ شی.

پوه سه: چي کلمه د "من" شرطیه ده وروسته یې ځواب دی.

اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَمْ يُرِدِ اللّٰهُ اَنْ يُّطَهِّرَ قُلُوْبَهُمْ ؕ

او دغه منافقان او یهودان هغه کسان دي چي اراده نه لري ددې چي ددوی زړونه دي پاک کړي له نجاست ځخه د کفر او ضلال، ولي چي دوی منهمک دي په کفر کي او دوی تینګ دي پر ځپل کفر او ضلال او دوی روی ګردانې کوي چي اسباب د هدایت دَي تر لاسه کړي.

لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَّلَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ۝

دوی لره په دنیا کي رسوایي ده او دوی لره په آخرت کي عذاب دی لوی، د منافقانو خزی خو دا وه چي خدای ﷻ ددوی نفاق رسوا کړی و مسلمانانو ته او ددوی له نفاق ځخه یې پرده پورته کړه او خزی د یهودانو ذلت او جزیه یې پر دوی اچول دي او ددوی د درواغو بښکاره کول دي چي پر تورات یې ویل لکه په قصه کي د ابن سوریا چي تېره سوه او دوی لره عذاب د دوزخ دی ابد الآبدین لا یخفف عنهم العذاب ولاهم ینصرون.

سَمّٰعُوْنَ لِلْكَذِبِ

او دوی اورېدونکي دي د درواغو.

پوه سه: چي دا تکرار دی د لوی فعل قبیح ددوی تاکیداً و تقریراً في قلوب المؤمنین.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَكَّٰلُونَ لِلسُّحْتِ

دوی د پر خوړونکي دي د حرام لکه رشوتونه وغیرها.

فَإِن جَآءُوكَ فَٱحْكُم بَيْنَهُمْ أَوْ أَعْرِضْ عَنْهُمْ

نو که دوی راسي و تاته لپاره د حکم په یوه موضوع چي ددوی پکښي اختلاف وي، نو ته حکم وکړه په منځ کي ددوی لکه دوی چي په موضوع کي د خیبریانو د زنی تاته راغله او تا حکم د رجم پر وکړی او زاني او زانیه دواړو ته رجم ورکړه سو کمامر عنقریب، او یا ته اعراض څني وکړه یعني خصومت ته ددوی غوږ مه نیسه.

پوه سه: چي کلمه د "فا" فصیحیه ده یعني جزاء د شرط محذوف ده ای اذا کان حالهم کما شرحنالک فان جاؤک آه.

وَإِن تُعْرِضْ عَنْهُمْ فَلَن يَضُرُّوكَ شَيْـًٔا

او که ته اعراض څني وکړې نو تاته ضرر نه سي رسولای په هیڅ شي سره یعني چي دوی به ستا سره عداوت کوي په سبب د اعراض ولي چي خدای ﷻ تا ددوی له ضرره ساتي.

وَإِنْ حَكَمْتَ فَٱحْكُم بَيْنَهُم بِٱلْقِسْطِ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُقْسِطِينَ ﴿٤٢﴾

او که تا حکم کاوه نو حکم کوه په منځ کي ددوی په عدل سره کما حکمت بینهم بالرجم فیمامر، په تحقیق د خدای ﷻ خوښ دي عادل کسان نو دوی په سبب د محبت د خدای ﷻ له هر ضرره څخه په محفوظ وي یعني حاکم بالعدالة دي له چا څخه نه بېرېږي ولي چي خدای ﷻ یې ساتلو یه دی، په حدیث شریف کي راغلي دي "المقسطون علی منابر من نور.

وَكَيْفَ يُحَكِّمُونَكَ وَعِندَهُمُ ٱلتَّوْرَىٰةُ فِيهَا حُكْمُ ٱللَّهِ

او څرنګه دوی یهودان تا محکموي او سره ددې چي ددوی سره تورات موجود دی چي په هغه کي حکم د خدای ﷻ ستنه لکه په موجوده مسئله کي حکم د تورات چي رجم و موجود و.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي دا استفهام لپاره د تعجب دی يعني چي خلګ په تعجب کي واچوي، ولي چي يهودانو نه عليه الصلوة والسلام منی نه يې قرآن منی او حال هم دادی چي حکم مذکور يعني رجم منصوص دی په تورات کي چي دوی يې دعوه د ايمان کوي، نو په آيت کي اشاره ودې ته ده چي ددوی په تحکيم سره ستا معرفت د حق نه دی او اقامة الشرع بلکې غرض ددوی په تحکيم کي ستا اسانې پر زاني او زانيه ده وان لم يكن حكم الله ددوی پر زعم، ولي چي دوی خو نه تا منې او نه دي کتاب منې.

پوه سه: چي "فيها حكم الله" حال دی له تورات څخه.

ثُمَّ يَتَوَلَّوْنَ مِنْ بَعْدِ ذٰلِكَ ۭ وَمَآ اُولٰۗىِٕكَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ ۝

وروسته بيا دوی روی ګرداني کوي ستا له حکم څخه وروسته تر تحکيم ستا که څه ستا حکم برابر د دوی د کتاب دی، ولي که ابن صوريا نه وايي نورو يهودانو د عليه الصلوة والسلام حکم نه منی، دا آيت عطف دی پر "يحكمونك" داخل دی لاندي تر تعجب او لفظ د "ثم" لپاره د تراخي رتبې دی ولي تراخي زماني خو د "من ذالك" څخه مراد ده، او نه دي دغه موصوفين په دغو صفاتو بالمؤمنين د ايمان راوړونکو څخه پر کتاب خپل چي تورات دی.

اِنَّآ اَنْزَلْنَا التَّوْرٰىةَ فِيْهَا هُدًى وَّنُوْرٌ

موږ نازل کړی دی تورات چي په هغه کي هدايت دی د شرائعو د دين حق او بيان دی د احکامو د دين چي وخلګو ته عموماً او بني اسرائيلو ته خصوصاً بنوونه کوي و دين حق ته او تورات يو نور الهي دی چي پرده پورته کوي د هغو احکامو الهيه وو څخه چي تر تاريکيو د جهل لاندي وه لکه شرک او روښان کوي احکام.

يَحْكُمُ بِهَا النَّبِيُّوْنَ الَّذِيْنَ اَسْلَمُوْا

چي حکم کوي په تورات سره هغه انبياء د اسرائيلو يعني په احکامو سره د تورات او خلګو ته دعوت ورکوي او باعثه کوي يې پر هغو احکامو باندي هغه انبياء چي دوی اسلام راوړی و.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: نبوت خو تر نفس اسلام لوړ دی په درجه کي نو څرنګه مدح په اسلام سره د نبي کول کېږي بان يقال ان النبي رجل مسلم وما الوصف بالاسلام بعد الوصف بالنبوة دا خو داسي مثال لري چي د لوړي مرتبې څخه وروسته په کښته مرتبې د چا مدح کوي؟

ځواب: دا کېداسي چي ګاهي يو وصف ذکر کړه سي صرف ددې لپاره چي دا وصف ښه وصف دی يعني اسلام ښه وصف دی، نو په داسي راوړو تعظيم د شان د وصف دی او تنبيه ده پر دې چي دا وصف عظيم القدر دی خيث وصف به عظيم القدر وهو النبي لکه توصيف د انبياء عليهم السلام په صلاح سره يا ملکي په ايمان سره لکه دا چي ويل سوي دي اوصاف الاشراف اشراف الاوصاف كما قال الشاعر المحقق.

ما ان مدحت محمداً بمقالتي ولكن مدحت مقالتي بمحمد

لِلَّذِينَ هَادُوا

پوه سه: چي دا موصول متعلق دی په "يحكم" پورې ای يحكمون فيما بينهم واللام للاختصاص بهم اعم من ان يكون لهم او عليهم ګويا داسي يې وويل چي انبياء د بني اسرائيلو لاجل الذين هادوا ای دخلوا في دين اليهودية حكم کوي يعني په دين د موسی عليه السلام او په کتاب د تورات. نو حاصل د کلام دادی چي له نبوت څخه مراد هغه انبياء دي چي وروسته په بني اسرائيلو کي مبعوث سوي دي د مخه تر عيسی عليه السلام چي بعضو علماؤ ويلي دي چي پر دين د موسی عليه السلام او پر کتاب د تورات په بني اسرائيلو کي څلور زره انبياء راغلي دي.

پوه سه: چي معنی د "هادوا" رجعوا من الكفر وتابوا منه ده. بعض علماء وايي چي دا نوم يهودانو ته هغه وخت ورکړه سو چي دوی د عبادة العجل څخه توبه وکښل يعني په زمانه کي د موسی عليه السلام کما مر قصته في سورة البقرة. او بعض علماء وايي يهود چي يې بولي په نامه د مشر اولاد د يعقوب عليه السلام چي يهودا يې نوم و مسمی سوي دي والله اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَالرَّبَّانِيُّونَ وَالْأَحْبَارُ

پوه سه: چې دا عطف دی پر "نبیون" باندې. "الربانیون" جمع د رباني ده الف او نون له زوائدو څخه د استعمال دي، ولي چې نسبت و رب ته خو "ربی" راځي نو رباني داسې لفظ دی لکه روحاني في النسبة الی الروح، او احبار جمع د حبر ده په معنی د عالم کبیر، نو مراد له "ربانیون" څخه زاهدان او صوفیان د بني اسرائیلو دي، او مراد له احبارو څخه علماء. ددوی دي چې ټوله له اولاد څخه د هارون علیه السلام دي چې طریقه د انبیاؤ یې ټینګه کړې وه او له عصري خود ساخته یهودیت څخه منکر وه، مثال یې په دین کې د اسلام علماء، زاهدان او صوفیان د اهل سنت والجماعة دي چې له خود ساخته اسلام څخه لکه اسلام د معتزله وو، کرامیه وو، شعیه وسائر فرق اهل الاهواء څخه منکر دي.

بِمَا اسْتُحْفِظُوا مِنْ كِتَابِ اللَّهِ

پوه سه: چې با سببیه ده او کلمه د "ما" موصوله ده او عائد یې محذوف دی او ضمیر مرفوع په قول د روح البیان او روح المعاني راجع دی و ربانیون او احبار ته او په قول د مظهري و انبیاء او احبار او ربانیون ټولو ته راجع دی، اوکلمة د با متعلقة ده په "یحکم، نو د روح البیان په نېز ترجمه داده چې په سبب د هغه شي چې ربانیون او احبارو هغه شی ساتلی و په وصیت د موسی علیه السلام چې هغه شی کتاب الله و یعني تورات له تحریف او تغیر څخه. او د مظهري پر رایه یې ترجمه داسې ده چې انبیا او ربانیون او احبارو هغه شی ساتلی چې کتاب الله و یعني عمل یې کاوه او له هېري څخه یې ساتلی و.

دروښ وایي: چې پر دې تقدیر هم له انبیاؤ څخه د بني اسرائیلو انبیاء مراد دي او له کتاب څخه مراد تورات دی.

وَكَانُوا عَلَيْهِ شُهَدَاءَ فَلَا تَخْشَوُا النَّاسَ وَاخْشَوْنِ

او دوی وه پر استحفاظ باندې یا پر کتاب الله باندې رقیبان او محافظان وه چې خلګو ته به یې تعلیم کاوه او خلګ به یې په عمل د مافي کتاب الله امر کول، او د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تحریف لاره یې بنده کړې وه، نو مه ښپړئ ای امراوو او ای احبارواو ای ربانینو له خلګو څخه بلکې اقتداء وکړي په اجراء او بیان کې د احکامو د کتاب الله په من کان قبلکم من الانبیاء چې انبیاء علیهم السلام یې بیان د احکام الکتاب له خلګو څخه نه بېرېدل او ازار د خلګو پر ځان وړئ مګر اظهار الحق یې نه پرېښو تاسي هم باید هغه سي وکړئ، او زما څخه وبېرېږئ چې په ترک د عمل بما في الکتاب به زه تاسي ته عذاب درکړم یعني په اجراء کې د احکامو د کتاب الله مه د چا مراعات کوئ چې دا شریف یا سرمایه دار دی یا جابر دی یا زما قریب دی لکه اهل خیبر چې د شریف زانې او شریفې زانیې مراعات وکړی او په تورات کې موجود حکم چې رجم و پر وه یې نه کړی حتی چې قضاوت یې و آنحضرت ﷺ ته ورساوه او علیه الصلوة والسلام بې له مراعات د چا حکم د رجم پر وکړی او رجم یې کړه کمامر.

پوه سه: چې دا حکم و مسلمانانو ته هم شامل دی یعني امیرانو ته او قضاتو ته د مسلمانانو لکن هیهات ذالک في الزمان الحاضر بل في الازمنة قبلها، ومن بلاغات الزمخشري رحمه الله

قضاة زماننا صاروا لصوصاً — عموماً في القضایا لاخصوصاً
نخافوا منهمو الوصافحونا — للصوا من خواتمنا فصوصاً

دروښ وایي: چې په اوسنۍ زمانه کې ملایان، قاضیان او امراء څو مراعات په نظر کې لري مراعت د قومیت، مراعات د سرمایه دار سړي وغیرها.

حکایت: یو زاهد سړی د فقیر په لباس کې یو مسجد ته ورغلی چې د مسجد ملا په مسجد کې ناست و، زاهد السلام علیکم ورته ووایه، ملا صاحب د خولې په کنج یو ضعیفه وعلیکم ورته ووایه، زاهد کښېنستی وروسته بل پیدا ل سرمایه داره سړی مسجد ته داخل سو او ملا صاحب ته یې سلام ووایه ملا صاحب په ډکه خوله او لوړ آواز وعلیکم ورته ووایه، زاهد وروږغ کړه چې ملا صاحب رد د سلام څو قسمه دی؟ ملا صاحب ورته وویل یو قسم دی، زاهد ورته وویل چې زما په عقیده ستا په نېز پر دوه قسمه دی، ملا صاحب خجالت سو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَا تَشْتَرُوا بِآيَاتِي ثَمَنًا قَلِيلًا ۚ

او تاسي مه بدلوئ آيات زما چي په تورات کي وه چي يا يې ځني وباسئ لکه آيت د رجم کمامر تفصيله او يا عمل نه په کوئ، او تاسي د خپلي ګټي لپاره د هغه عوض واخلئ لکه ملايانو د عصر نبوي ﷺ چي له عوامو څخه به يې روپۍ تر لاسه کولې د زکوة وغيره، نو په نعوت د عليه الصلوة والسلام به يې چي په تورات کي وه عمل نه کاوه، او مراد له "ثمن قليل" څخه رشوت دی او خپل جاه و جلال ساتل دي او نوري د دنيا ګټي.

سوال: ملايانو د يهودانو له خلګو او عوامو څخه ډېر بدي او رشوتونه تر لاسه کول، نو ولي ثمن قليل وويل سو؟

ځواب: نعمتونه د دنيا که څه هم جليل وي لکن نظر ونعمتو ته د اخرت قليل او رزيل دي خصوصاً هغه نعمتونه د اخرت چي ملايانو ددوی په رشوت کي له لاسه ورکړه کما لايخفى على من له عقل سليم، يو محقق شاعر وايي يعني المولوي المعنوي جلال الدين الرومي رحمه الله عليه

اين جهان جيفه است ومردار ورخيص — برچنين مردار چون باشم حريص
پس حيات ماست موقوف فطام — اندک اندک جهد کن تم الکلام

فائده: اخستل او لاس ته راوړل د يو مال لکه غوا و غويي او خر او غالي يا بل شي په ورکولو سره د ثمن، وروسته بيا مجازاً مستعمل سو لپاره د اخستو د شي په بدل کي د ماکان له عيناً کان والمعنى لکن چي په اخستو کي به سړی راغب وي او معرض به وي د هغه شي چي دی په عوض کي ورکوي، د سورة بقره په اوائلو کي ددې اشتراء مزيد تفصيل ملاحظه کړه.

وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ أَنْزَلَ اللّٰهُ فَأُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۴۴﴾

او څوک چي حکم ونه کړي په هغه آيت چي خداى ﷻ نازل کړي وي، نو هغه کسان کفاران دي.

پوښتنه: د ډېر حکام او قضات د مسلمانانو د رشوت وغيره په خاطر حکم په ما

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

انزل الله في القرآن العزيز نه کوي، نو دوی به هم کافران وي او که څرنګه؟

ځواب: مراد په دې نه حکم کول دي په ما انزل الله سره د انکار او سپکاوي په دول هغه هر څوک چې وي کافر دی اجماعاً قطعياً.

وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَا أَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ

او موږ لیکلی دی یعني حکم مو کړی دی پر دوی یهودانو باندې په تورات کې چې یو سړی پر بل قصاصېږي چې ناحقه یې قتل کړي، او سترګه د یو سړي چې ناحقه د بل سترګه ور ړنده کړي نو د هغه سترګه چې جاني دی هم ور ړنده کېږي چې په عربي تقفاء ورته وایي.

وَالْأَنْفَ بِالْأَنْفِ وَالْأُذُنَ بِالْأُذُنِ وَالسِّنَّ بِالسِّنِّ

او د پزې د پرې کېدلو په عوض کې د جاني پزه پرې کول کېږي چې دې ته په عربي جذم وایي، او د غوږ په پرې کېدلو کې ناحقه د جاني غوږ پرې کېږي چې دې ته په عربي صلم وایي، او که یو سړی د بل غاښ ورو کښې د هغه جاني غاښ به هم ور کښل کېږي چې دې ته په عربي قلع وایي.

وَالْجُرُوحَ قِصَاصٌ

او ټپونه قصاص دی په حذف د مضاف یعني ذات قصاص.

پوه سه: چې مراد هغه ټپونه دي چې اندازه یې معلومېږي او مساوات یې ممکن وي لکه ماتول د هډوکو د یو چا یا جائفه ټپ وغیرها مما ذکر في کتب الفقه، د هغو ټپو تاوان به جاني ورکوي او یا به یو عادل سړی محکم ګرځوي.

دروښ وایي: چې که تفصیل د جروح غواړئ نو کتابو ته د فقهي شریفي رجوع وکړئ چې په تفسیر کې دا امکان کم دی.

فَمَنْ تَصَدَّقَ بِهِ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَّهُ

که د مستحقینو څخه ددغو قصاصاو څوک عفوه وکړي وجاني ته.

پوه سه: چې تعبیر په تصدق سره لپاره د مبالغې في الترغیب دی نو دغه تصدق کفاره د متصدق ده یعني خدای ﷻ یې ګنهونه رژوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: کافر که چېري عفوه د قصاص لازم وجاني ته وکړي هغه کفاره دده نه سي کېدای مادام باقیاً علی الکفر، وفي الحدیث النبوي ﷺ من اصیب بشئ من جسده فترکه لله کان کفارة له. او په یو بل حدیث مبارک کي راغلي دي "ثلاث من جاء بهن یوم القیامة مع الایمان دخل الجنة من ای ابواب الجنة شاء" درې شیان دي که چا راتګ په وکړی په ورځ د قیامت دی به داخل سي و جنت ته له هرې دروازې د جنت چې دده خوښه وي "وتزوج من الحور العین حیث شاء من عفی عن قاتله" او دی به په نکاح کړي یعني خدای پاک به یې په نکاح ورکړي له حور عین څخه هر ځای چې غواړي، که چا عفوه وکړه و خپل قاتل ته.

سوال: د عفوه و خپل قاتل ته صورت څرنګه دی، ولي چې سړی قتل کړه سي بیا نو عفوه و قاتل ته څرنګه کولای سي؟

ځواب: والله اعلم بالصواب، مراد دادی چې په ورځ د قیامت عفوه ورته وکړي او یا دا معنی ده چې یو سړی په آله قاتله سړی وواهه او سړی وتښتېدی او مجروح لاړ ژوندی و ورثه وو ته یې وویل چې زما قاتل ما بخښلی دی ثم مات من ذالک "ومن قرء دبر کل صلوة قل هو الله احد عشر مرات ومن ادی دینا خفیاً" او که څوک ووایي همېشه وروسته تر هر لمانځه یوولس واره قل الله شریفه او اداء کړي یو پټ پور.

دروېش وایي: چې اکثره مفسران خو پر دې خبره دي چې د "من تصدق" ضمیر راجع دی و مظلوم ته چې په عربي یې مجني علیه بولي، نو له کفارو څخه مراد عفوه د ګنهو د مجني علیه ده، او بعض مفسران وایي چې ضمیر د "له" وجاني ته راجع دی، والمعنی که چا عفوه وکړه و جاني ته نو عفوه د مجني علیه وجاني ته کفاره ده د جاني لپاره، یعني جنایت او ګناه یې ختمه سوله یعني په ورځ د قیامت خدای ﷻ جاني ته عذاب نه ورکوي لانه حق العبد وقد عفی العبد له.

وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۴۵﴾

او که څوک حکم ونه کړي په هغه شرائع او احکامو سره چې خدای ﷻ نازل کړي دي، نو دغه کسان ظالمان دي په غټه پېمانه، ولي حدود او احکام د خدای پر خپل ځان نه کړه برابر کما هو معنی الظلم ای وضع الشئ في غیر محله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې خدای پاک ددغو کسانو چې د "من یحکم آه" څخه فهمیږي درې الفاظ راوړه "الکافرون، والظالمون، والفاسقون" نو کفر یې په سبب د تمرد او انکار دی له حکم څخه د خدای ﷻ کمامر قریباً او ظلم یې په سبب ددې دی چې دوی ظلم وکړی پر خلاف د حکم د خدای ﷻ او فسق یې په سبب د خروج د امر الهي څخه کما هو معنی الفسق ولي فسق په لغت کې خروج ته وایي کما في قولهم فسقت الرطبة عن قشرها ای خرجت.

وَقَفَّيْنَا عَلَىٰٓ اٰثَارِهِمْ بِعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ

پوه سه: چې دا جمله عطف ده پر "علی انزلنا التوراة" باندې یعني موږ وروسته راواستاوه پر اثار د انبیاء المذکورین السابقین عیسی چې د مریم د عمران د لور زوی وه، نسبت یې ومور ته وکړی، ولي چې عیسی علیه السلام بې پلاره په قدرت عظیمه د خدای ﷻ عالم الوجود ته راغلی دی.

پوه سه: چې "قفینا" چې له بابه د تفعیل دی د تعدیه لپاره نه دی چې باب د تفعیل ګاهي په معنی د مجرد رائي کما في الشافیة نحو قدر بالتشدید وقدر بالتخفیف او اول مفعول یې محذوف دی ای اتبعنا النبیین الذین ذکرناهم بعیسی بن مریم، نو مفعول ثاني ته په باد جار متعدي سو.

مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرٰىةِ

دا حال دی من "عیسی" یعني په داسي حال کې چې عیسی تصدیق کونکی و د هغه کتاب چې تر ده دمخه و یعني بلاواسطة چې کتاب تورات و.

وَاٰتَيْنٰهُ الْاِنْجِيْلَ فِيْهِ هُدًى وَّنُوْرٌ

موږ ورکړی ودته انجیل یعني نوی کتاب، چې په هغه کې هدایت او لار ښوونه ده و خلګو ته او نور و یعني څراغ و د خلګو لپاره چې د حق لاره یې ورته روښانه کول یعني لکه په تورات کې.

پوه سه: چې "فیه هدی ونور" محلاً منصوب دی حال دی له انجیل څخه ای کائنا فیه ذالک.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرٰىةِ

او تصديق كونكى د انجيل د هغه كتاب چې تر ده دمخه و يعني التوراة.

پوه سه: چې اول "مصدقا" حال د له عيسى څخه او دوهم "مصدقا" حال دى له انجيل څخه، او تكرير د من التوراة لپاره د زيادت تقرير دى.

وَهُدًى وَّمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ ۝

دا عطف دى پر "مصدقا" لكه هغه چې حال و دا هم حال دى.

پوه سه: چې تخصيص د متقين كه څه هم انجيل د ټولو بنې اسرائيلو لارښود و له دې جهته چې متقينو په هدايت د انجيل لار پيدا كړه او نفع يې پر واخسته بخلاف المنكرين له فانهم بمعزل من النفع بالانجيل بل بسائر الكتب الالهيه.

وَلْيَحْكُمْ اَهْلُ الْاِنْجِيْلِ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فِيْهِ ؕ

او حكم دې كوي اهل د انجيل چې عيسى عليه السلام او علماء د امت دده دي په هغه شي سره چې خداى ﷻ نازل كړي دي يعني په انجيل كې.

پوه سه: چې كلمه د "ما" موصوله ده والعائد اليه محذوف لكه چې فقير په ترجمه لفظي كې وعائد ته اشاره وكړه په دغه هغه شي.

فائده: چونكه لفظ "وليحكم" امر بالام او انشاء ده د ماقبل سره تعلق نه لري، نو ځكه مفسرين په اتفاق وايي وقلنا ليحكم نو به قلنا سره د مقولې عطف سي پر آتيناه الانجيل باندې دا خبره دقيقه ده صحيح فكر پكښې وكړئ.

وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ۝

او څوك چې حكم نه كوي يعني په ما انزل في الانجيل لكن پر وجه د انكار او د سپكاوي په انجيل سره نو هغه كسان فاسقان دي يعني له حكم څخه د خداى ﷻ وتلي دي.

دروښ وايي: چې ددې الفاظو تفصيلي بيان ما دمخه درته وكړى فتذكر هداك الله.

فائده: له دې آيت څخه دا معلومه سوه چې په انجيل شريف كې احكام وه او عيسى عليه السلام مستقل شريعت درلودى يعني تابع د تورات موسى عليه السلام نه و.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: په دې آیت کې شدید تهدید دی و حکاه و او قضاتو ته د اسلام چې دوی به هم حکم کوي په ما انزل في القرآن الکریم او ک حکم په هغه ونه کړي دوی به هم په ډله کې د فاسقانو حساب سي، البته دا قدر به یې فرق وي چې حکام او قضات چې د قرآن عزیز په حکم یې ونه کړه پر وجه د انکار او د استهانت نه دی، نو له دې سببه کافران نه بلل کېږي بلکې دوی خو یا رشوت راخلي او یا یې مرعات قومي وکړی او یا یې د پېه ال مراعات وکړی، نو یې حکم په قرآن سره ونه کړی، لکن له مطلق فسق څخه خو نه خلاصېږي په صحیح حدیث کې راغلي دي "یؤتي بالقاضي العدل یوم القیامة فیلقی من شدة العذاب مایتمنی انه لم یفصل بین احد في تمرتین" فاذا کان هذا حال القاضي العدل فما حال القاضي الجابر، بیت

بوحنیفه قضا نه کرد وبمرد تو بمیری اگر قضا نه کنی

دروښ وایي: چې بیان او ترجمه د هغه حدیث صحیح داده چې یو قاضي عادل به راوستل سي په ورځ د قیامت نو دی به ملاقي سي له سخت عذاب سره، مراد له عذاب څخه دلته سختي د حساب ده یعني د هر وخت د قضاوت به بازخواست څنې کېږي لاعذاب النار لانه قضی بین الخصوم بالعدل والانصاف بدون الرشوة والاعتساف، نو دی دا سخت عذاب وویني دا به یې تمنی سي چې کاشکي ده قضاوت نه وای کړی په منځ کې د هیڅ چا حتی د دوو خورما وو په حکم سره.

پوه سه: چې امام سخاوي رحمه الله علیه په مقاصد حسنه کې چې دده تصنیف دی داسي حدیث رانقل کړی دی چې قاضیان درې قسمه دي، دوه یې په دوزخ کې دي یو یې په جنت کې دی اول هغه قاضي دی چې حکم وکړي په ناحقه سره یعني د رشوت وغیرها له سببه او دی پوهېږي چې دا ناحقه دی فهو في النار، دوهم هغه قاضي دی چې جاهل وي یعني پر احکام شرعیه وو علم نه لري او د خپلي خپتې حکمونه کوي او حقوق د خلګو تلفوي فهو في النار، دریم قاضي قضی بالحق ای بعد العلم به فهو في الجنة.

وَأَنْزَلْنَآ إِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتٰبِ

او موږ نازل کړی وتاته یا محمد کتاب چې قرآن عزیز دی چې تصدیق کونکی دی د هغه جنس کتاب چې ستا تر کتاب د مخه نازل سوي دي یعني د جمیع کتب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الهیه وو، او څوک چې تخصیص کوي په تورات او انجیل سره هغه بلا فائده دي وعلى هذا فاللام في الكتاب للجنس.

وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ

یعني رقیب دی قرآن او شاهد دی پر ټولو کتابو چې دمخه نازل سوي وه لکن چې هغه محفوظ د تغیر او تبدیل څخه وي، یعني قرآن کریم د ټولو لپاره شاهدي ورکوي په صدق او صحت سره.

فائده: په اصولو کې د شرائع یعني العقائد کالتوحید والرسالة ویوم القیامة والجنة والنار وامثالها خو قرآن کریم د هغو هم شاهد دی او قرآن مبارک بیان د هغو فروعو چې په نورو ادیانو کې وه او په دین محمدي کې منسوخ دي د هغو هم بیان او تفصیل کوي.

فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَآ أَنْزَلَ اللّٰهُ

الفاء لترتیب مابعدها علی ما قبلها ای اذا کان حال القرآن کما ذکر. نو ته حکم کوه په منځ کې د اهل کتابو په هغه کتاب سره چې خدای نازل کړی یعني القرآن الکریم چې رجم و کمامر چې دوی تاته مرافعه وکړي لکه په موضوع کې د زنی د شریف او د شریفي د اهل خیبر چې تاته راغله کمامر تفصیله، ولي چې قرآن مبارک معلومه کړې ده چې دا حکم د تورات او د قرآن سره شریک حکم دی او منسوخ نه دی.

وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَهُمْ عَمَّا جَآءَكَ مِنَ الْحَقِّ ط

نو ته متابعت مه کوه د خواهشاتو د اهل کتابو.

پوه سه: چې اهواء هغه د زړه خوښتنه ده چې له شرع شریفي څخه مخالف وي د هغه څه چې تاته راغلی و چې هغه حق حکم دی.

پوه سه: چې کلمه د "عن" په عما کې متعلق ده په "لاتتبع" پورې.

سوال: صله د "تتبع" خو کلمه د "عن" نه راځي؟

ځواب: تتبع متضمن دی معنی لره د اعراض فالمعنی لاتتبع اهوائهم معرضاً

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عما جائک من الحق.

لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا

هر یوه ته ستاسي ګرځولي دی موږ یعني لکل امة منکم ایها الناس قدیماً وحدیثاً شرعة ای شریعة.

پوه سه: چي شرعه په اصل لغت کي ګودر ته وایي چي سړی اوبو ته پر رسېږي، نو شریعت ته د انبیاء علیهم السلام یې شریعت وویل تشبیهاً چي په شریعت سره سړی و هغه شي ته رسېږي چي سبب د حیوة ابدي دی وهي الاحکام الالهیه الموصلة الی الجنة دار النعیم ابداً "ومنهاجاً معنا لار ښکاره په دین کي.

وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَجَعَلَكُمْ أُمَّةً وَّاحِدَةً

او که د خدای ﷻ مشیت او اراده وای تاسي به یې ټوله یو امت ګرځولي وای، معنی داچي یو جماعت به وای پر یوه دین او شریعت یعني په ټولو زمانو کي، نو ستاسي په منځ کي به اختلاف دیني نه وای.

وَلٰكِن لِّيَبْلُوَكُمْ فِي مَآ اٰتٰىكُمْ

یعني خدای ﷻ دا اراده نه وکړه بلکې تاسي نوع انساني یې افراد او قومونه پر شرائع مختلفه وو وګرځولاست، چي په علم کي د خدای ﷻ چي هر شریعت چي د هغې زمانې سره موافق و راوایې ستاوه تاچي ستاسي امتحان وکړي په هغه شریعت کي چي تاسي ته یې درکړي، نو د امتحان معنی داده چي تاسي څه کوئ د نوي شریعت متابعت به کوئ او که د پلرو او نیکه ګانو دین د هغه شریعت جدیده چي په معجزاتو سره تائید سوی هم وي انکار کوئ، مثلاً دین د یهودانو شریعت د موسی علیه السلام او د تورات و، چي خدای ﷻ نوی شریعت د اسلام پر محمد علیه السلام باندې نازل کړی او په ډېرو معجزاتو یې تائید کړی، نو په دې د یهودانو امتحان کېږي چي دوی به اسلام ته غاړه کښېږدي او لا اله الا الله محمد رسول الله به وایي او خپل د دین موسوي او د تورات منسوخیت به ومني او که له نسخ څخه به انکار وکړي او پر منسوخ دین د آباء په متابعت کلک پاته سي اکثرو یهودانو خو دغسي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وکړه چې پر خپل آبائي دين باندې ټينګ سوه او له اسلام څخه يې انکار مختاره کړې، البته په دوی کې بعض صاحبان د صحيح نظر او د عقل سليم لکه عبدالله بن سلام او دده ملګري رضي الله عنهم اسلام ته په لبيک ويلو سره په اسلام کې داخل سوه.

دروښ وايي: چې دغه وه معناد امتحان الهي او د امتحان دمخه تر اسلام په عيسى او انجيل سره هم اخسته سوی و چې په هغه امتحان کې هم يهودان ناکامه سوي وه حتى رفع الله عيسى من بينهم الى السموات العلى كما مرت هذه القصة في هذا التفسير في موضعه فتذكرها.

فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرٰتِ

نو تاسي وړاندې والى وکړئ د خير و کارو ته يعني الاعمال الصالحة دا خطاب عام دی، چې نور خلګ هم په تاسي پسې اقتداء وکړي او د هغو د خير په کارو کې به خداى جل جلاله تاسي ته هم ثوابونه درکړي كما ورد في الحديث الصحيح من سن سنة حسنة فله اجرها واجر من عمل بها الى يوم القيامة من غير ان ينقص من اجورهم شئ.

اِلَى اللّٰهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيْعًا

پوه سه: چې دا جمله استينافيه ده، علت ده و استباق الى الخيرات ته، او هم وعد په جنت او ثواب سره و هغه کسانو ته مبادرت او استباق د خير و کارو ته وکړي او وعيد دی د دوزخ و هغو کسانو ته چې تقصير وکړي، والمعنى خداى جل جلاله ته ده خاص ستاسي رجوع د ټولو، نو مرجع مصدر ميمي دی.

فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ۝

بيا به خداى جل جلاله تاسي خبر کړي په هغه شي چې ستاسي پکښې اختلاف و چې يهودانو به ويل زمونږ دين حق دی باقي اديان او د اسلام دين حق نه دی، يعني په ورځ د قيامت به محق او مبطل سره جلا کړي چې محق به جنت ته واستوي او مبطل به دوزخ ته رهي کړي.

شان نزول د وروسته آيت ابن اسحاق وايي له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې کعب بن اسد او عبدالله بن صوريا او شاس بن قيس سره وويل چې درځئ چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

محمد ته ورسو شاید چې دی به موږ په فتنه کې واچوو له خپله دینه څخه یعنې غلط حکم به په وکړو چې رسوا سې، نو علیه الصلوة والسلام ته ورغله او ورته وه یې ویل چې ته موږ پېژنې چې موږ احبار او اشراف د یهودانو یو، او سرداران ددوی یو، که موږ ستا متابعت وکړو ټوله یهودان به ستا متابعت وکړي او ستا په دین کې به داخل سي، او زموږ و د قوم تر منځ یو خصومت موجود دی موږ به تاته دواړه طرفه راسو ته دوی په موږ ملامت کړه نو موږ به پر تا ایمان راوړو، نو علیه الصلوة والسلام په خپل نور وجداني سره ددوئ ددې مطالبې څخه منع وکړه، نو خدای ﷻ دا آیت نازل کړی.

وَاَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ

بوه سه: چې دا آیت عطف دی پر کتاب باندې والمعنی انزلنا علیک الکتاب وانزلنا الیک ان یحکم آه، او داسې هم روا ده چې دا دې جمله وې په تقدیر د وامرنا ان احکم آه او ته حکم کوه په منځ کې د راغلو یهودانو په هغه کتاب سره چې خدای ﷻ تاته نازل کړی نه داسې حکم چې دوی درته وایي کمامر.

وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَهُمْ وَاحْذَرْهُمْ اَنْ يَّفْتِنُوْكَ

او ته متابعت مه کوه د خواهشات باطله وو ددوی، عطف دی پر احکم عطف النهي الانشائي علی الامر الانشائي، او ته له دوی څخه بېرېږه چې د حق حکم څخه دې په فتنه کې وانه چوي چې خلاف ما انزل الله حکم په تا ونه کړي لاضلالک.

عَنْ بَعْضِ مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ اِلَيْكَ ؕ

د بعض هغه حکم چې خدای ﷻ پر تا نزل کړی دی یعنې په خلاف د هغه په تا حکم وکړي د فتنې له لارې وتاته.

فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاعْلَمْ اَنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ اَنْ يُّصِيْبَهُمْ بِبَعْضِ ذُنُوْبِهِمْ ؕ

که دوی یعنې یهودان وغیرهم اعراض او روی ګردانې وکړي له حکم منزل الیک څخه او بل حکم غواړي نو پوه سه په دې چې اراده کړي خدای ﷻ چې ودوی ته ورسوي عقوبت او عذاب د بعض ګنهو د دوی یعنې په دې دنیا کې بعض عقوبات

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پر دوی مسلط کړي، نو حاصل د معنی دادی چې په دغه ټولی سره چې یوه عظیمه ګناه ده.

پوه سه: چې لفظ د بعض یې تنبیه پر دې ده چې دوی ګنهونه ډېر کوي چې یو له هغو څخه ټولی ده یعني انکار کول.

وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ لَفَاسِقُونَ ﴿٤٩﴾

او په تحقیق سره ډېره حصه د خلګو یعني د یهودانو هر آئینه فاسقان دي.

دروښ وایي: چې د "کثیراً" لفظ یې له دې جهته وویله چې بعض د یهودانو خو فاسقان نه دي لکه عبدالله بن سلام واضرابه ﷺ.

پوه سه: چې مراد له "فاسقون" څخه دلته کاملون في الفسق المتمردون في الفسق دي وهم الکافرون منهم لانهم خرجوا عن امر الله بالکلیة.

أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ ۚ

آیا حکم د جاهلیت د وخت چې هغه متابعت الهوی دوی غواړي.

پوه سه: چې همزه لپاره د استفهام انکاري ده یعني حکم د جاهلیت چې د اسلام دین و منځ ته راغلی بیا پوښتنه نسته. قانون نحوي همزه خو لپاره د استفهام دی چې هغه صدارت د کلام غواړي او وروسته تر همزه که فا عاطفه راسي لکه مانحن فیه او یا واو عاطفه راسي کما في مواضع اخر من القرآن العزیز نو عطف خو یې پر ماقبل د همزه نه سي کېدای ولي چې صدارت د همزه له منځه ځي، نو په هر ځای کې د قرآن کریم چې دغسې عبارت راسي نو معطوف علیه د واو یا د فا محذوف دی په منځ کې د همزه او فا لکن مناسب د هر مقام سره لکه په دې ځای کې تقدیر داسي دی ایتولون فحکم آه.

دروښ وایي: چې دا قانون په یاد ساتئ چې په ډېرو ځایو کې د قرآن عزیز به په ښه درسي.

وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ ﴿٥٠﴾

او څوک دی ښه تر خدای از روی حکم و هغه قوم ته چې یقین لري پر خدای ای

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لا احد احسن حكماً منه تعالى، نو استفهام انكاري دی.

پوه سه: چي تخصيص د قوم يوقنون يې وکړی له دې سببه چي دا قوم په دې پوهېږي او ايمان يې دی چي خدای عالم الغيب والشهادة دی او د بندګانو په خير او شر عالم دی، نو دوی پر دې يقين لري چي احسن تر خدای ﷻ هيڅ څوک نسته

فائده: حكماً منصوب دی چي تميز دی له احسن څخه او په اصل کي مبتدا، وه او اصل يې داسي و من حكمه احسن من حكم الله.

فائده: په "لقوم" کي لام لپاره د بيان دی ای هذا الاستفهام الانكاري لقوم يوقنون.

له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي د عبدالله بن ابي رئيس المنافقين او د بني قريظه او د بني النضير چي د يهودانو دوه قومه وه حلف و چي مور به يو د بل نصرت کوو او د عبدالله بن الصامت او د قريضه او نضير تر منځ هم حلف و، نو عبدالله بن ابي چي مسلمان سو يعني صادقانه وروسته يې وويل چي زه خو حليف د نضير او قريظه يم او زه ببربږم چي د زماني حوادث پر ما راسي او قريظه و نضير به مرسته نه راسره کوي، نو بيرته مرتد سو کافراً، او عبدالله بن صامت وويل چي زه بېزاري بىكاره کوم و خدای ﷻ ته له حلف څخه د قريظه او نضير، او زه دوستي کوم د خدای ﷻ او دده له رسول ﷺ سره او د مؤمنانو سره نو دی پر ايمان ثابت پاته سو، نو په عبدالله بن الصامت رضي الله عنه او عبدالله بن أبی بن سلول کي دا آيتونه نازل سوه.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَتَّخِذُوا۟ ٱلْيَهُودَ وَٱلنَّصَٰرَىٰٓ أَوْلِيَآءَ ۘ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُۥ مِنْهُمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥١﴾

اې هغه کسانو چي ايمان يې راوړی دی تاسي مه ګرځوئ يهود او نصاری خپل دوستان يعني د دوی پر قول او پر اظهار د محبت ستاسي سره اعتماد مه کوئ او داسي ژوند د دوی سره مه کوئ لکه دوست چي يې د دوست سره کوي، او دا جمله "بعضهم آه" علت دی د نهي يعني دغه دوې ډلي سره دوستاني دي په مقابل کي ستاسي او تاسي مسلمانانو ته په ضرر رسولو کي سره متحدي دي يعني که څه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هم یهود او نصاری په خپل منځ کي دېر سخت اختلافات سره لري لکن ستاسي په مخالفت او اضرار کي سره متحد او متفق دي، پښتانه متل کوي چې "سپي یو دبله سره یو دي و فقیر ته" او که څوک ددوی سره دوستي غوره کړي لکه عبدالله بن ابی، نو ددوی له ډلي دی یعني کافر دی مثلهم، په تحقیق خدای ﷻ هدایت نه ورکوي و هغه قوم ته چې ظالمان وي یعني پر خپلو ځانو په دوستۍ او موالات سره د کافرانو او ظالمانو پر مؤمنانو په موالات سره د دښمنانو د مسلمانانو.

پوه سه: چې "یاایها الذین آه" عام خطاب دی ټولو مسلمانانو ته شامل دی مخلصان وي او که غیر مخلصان که څه هم سبب د نزول یې خاص دی یعني عبدالله بن ابي او عبادة الصامت.

فائده: حکم د "انهم منهم" په هغه صورت کي دی چې تولی او دوستي له جهته د دین وي او که تولی له جهته د بیع او شراء وي او یا عمل یعني یو کار مزدوري ددوی کوي مع المخالفة في الاعتقاد والامور الدینیة فلیس فیه هذا الوعید یعني فانه منهم لکن سره د هغه المولی ابو سعود رحمه الله وایي وفیه زجر شدید للمؤمنین عن اظهار صورة الموالاة لهم وان لم یکن موالاة في الحقیقة لهم انتهی، یعني د یهودانو او نصاری وغیرهم من الکفرة که څه هم حقیقت موالات نه دي چې سړی په کافر سي لکن صورت د موالات که امکان وي مؤمن لره نه ده په کار چې ددوی سره یې وکړي.

فَتَرَى الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ يُسَارِعُونَ فِيهِمْ

ته وینې اې محمد علیه السلام هغه کسان چې په زړو کي یې مرض وي یعني کفر لکه عبدالله بن أبي واصحابه من المنافقین دوی مبادرت کوي په موالات او دوستۍ کي د یهودانو.

فائده: که له رؤیت څخه مراد رؤیت بصري وي، نو جمله "یسارعون" حال ده له فاعل څخه د "تری" چې الذین دی، او که رؤیت علمي مراد وي نو یسارعون په ځای کي د مفعول ثاني د "تری" دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يَقُولُونَ نَخْشَىٰٓ أَن تُصِيبَنَا دَآئِرَةٌ

او دوی یعني ابن اُبی و اصحابه وایي په عذر کي د موالاتو د یهودانو چي موږ ببر ږو چي موږ ته ورسېږي یوه دائره یعني حادثه من حوادث الزمان چي دولت او غلبه به بیرته د یهودانو سي، او دین د محمد ﷺ سریع الزوال دی، نو دغه یهودان موږ ته شی نه راکوي او مرسته به نه راسره کوي او وایي به چي تاسي خو اتباع د محمد واست، قاله ابن عباس رضي الله عنه، او بعض مفسرین وایي چي ددوی مراد دادی چي زمانه سره وگرځي او پر موږ قحط او لوږه راسي نو موږ به د یهودانو و کومک ته محتاج سو او دوی به له کومک څخه منع وکړي، نو له دې سببه موږ ددوی موالات نه قطع کوو. او خوراکي مواد چي عموماً د یهودانو په قبضه کي دي موږ ته به یې نه راکوي الی غیر ذالک من موجبات موالات الیهود.

فَعَسَى اللَّهُ أَن يَأْتِيَ بِالْفَتْحِ

نو خدای پاک د ابن اُبی او اصحاب دده د غدر په موالات کي د یهودانو په دې آیت سره رد وکړی چي شاید خدای پاک به راتگ وکړي په فتح سره، قتاده او مقاتل وایي چي مراد له فتح څخه فیصله د خدای ده چي د علیه الصلوة والسلام ته به غلبه ورکړي پر یهودانو او پر تولو مخالفینو باندې او دین د محمد ﷺ دي غالب وگرځوي، سدي او کلبي وایي چي مراد له فتح څخه فتح د مکې ده، او ضحاک وایي چي مراد له فتح څخه فتح د قریه وو د یهودانو ده چي خیبر، فدک، وادي القری وغیرها دي، نو بیا به تاسي اصحاب د ابن اُبی څه کوئ او له کومک څخه د یهودانو به مو څه لاس ته درسي.

أَوْ أَمْرٍ مِّنْ عِندِهِ

او یا به یو کار رونما سي له کارو څخه د خدای ﷻ، چي د منافقانو اسرار او اغراض به خدای ﷻ رسوا کړي، او یا قتل د بني قریضه و دی چي یو قوم د یهودنو و، او اجلا د بني نضیرو ده یعني فرار کول ددوی د خپلو اوطانو چي دابل قوم د یهودانو و او له بېخه ورکېدل د یهودانو له جزیرة العرب څخه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروېش وايي: چې څه هم خدای پاک لفظ د عسی ووایه چې لپاره د اطماع دی لکن دا ټوله کارونه خدای پاک وکړه ولې چې اطماع د قادر مطلق ﷻ لکه د بل چا وعد محتوم ده.

فَيُصْبِحُوا عَلَىٰ مَا أَسَرُّوا فِي أَنفُسِهِمْ نَادِمِينَ ﴿٥٢﴾

نو به وګرځي داغه منافقان پر هغه شي چې دوی يې په زړو کې پټ ساتي پښېمانه هغه پټ شی ددوی په زړو کې کفر او شک وو په دې کې چې دین د علیه الصلوة والسلام به بقا ولري او که به له منځه ولاړسي.

پوه سه: چې "یصبحوا" منصوب دی په "ان" مقدر سره وروسته تر فا او علامه د نصب يې اسقاط د نون ده او وجه د تقدیر د ان دا ده چې نحات وایي چې وروسته تر فای سببیه چې واقع سي وروسته تر "عسی" ان مقدر وي.

وَيَقُولُ الَّذِينَ آمَنُوا أَهَٰؤُلَاءِ الَّذِينَ أَقْسَمُوا بِاللَّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ ۙ إِنَّهُمْ لَمَعَكُمْ ۚ

او وایي به هغه کسان چې ایمان يې راوړی و یعني په وخت کې د ظهور د ندامت د منافقانو مؤمنانو دا خبره کوي نو دا کلام مستانف دی یعني عطف پر شي نه دی نو داسي واو استینافي وایي وهو کثیر في الهدایة کما لا یخفی علی من طالع الهدایة.

پوه سه: چې مراد له "الذین آمنوا" یهودان دي.

پوه سه: چې "هؤلاء" اشاره و منافقانو ته ده والمعنی آیا دغه منافقان وه چې دوی به قسمونه اخستل.

فائده: جهد الایمان و اغلظ قسم ته وایي او د اعراب له لاري جهد ایمانهم صدر دی قائم مقام د جملې دی چې هغه جمله حال ده له ضمیر څخه د اقسموا والتقدیر اقسموا باللّٰه یجتهدون جهد ایمانهم "انهم لمعکم" یعني منافقانو به یهودانو ته ویل چې موږ ستاسي ملګري یو په جنګ کې د مسلمانانو کما حکی الله تعالی عنهم "ان اخرجتم لنخرجن معکم ان قوتلتم لننصرنکم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فَاَصْبَحُوْا خٰسِرِيْنَ ۝

لغوه او بې فائدې سوه عملونه د منافقانو چې لپاره د جلب د زړو د يهودانو به يې کول من اظهار الموالات لهم کمامر تفصيلاً نو وګرځېدل دوی يعني منافقان تاوانيان يعني في الدنيا والآخرة ددې دنيا فائدې چې دوی په موالاتو کې د يهودانو طمع درلوده هغه يې هم په لاس ورنه غله، ولې چې يهودان پخپله د مسلمانانو له خوا يا ووژل سوه او يا له وطنو څخه وشړل سوه او خسران د اخرت يې ابدي دوزخ دی په سبب د پټ کفر.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَنْ يَّرْتَدَّ مِنْكُمْ عَنْ دِيْنِهٖ

اې هغه کسانو چې ايمان يې راوړی دی که څوک مرتد سي له تاسي له خپله دينه څخه او خپل دين پرېږدي نو که د يهودانو په دين سي او که د نصاری وو په دين وهكذا المجوس والمشركين وغيرهم.

پوه سه: چې دا اخبار قرآني قبل الوقوع له ارتداد د بعضو مسلمانانو له دين څخه نازل سوی دی وقد كان كذالك، تفصيل يې دادی چې يووڼس فرقې مرتدي سولې درې په زمانه کې د حيوة د عليه الصلوة والسلام چې په هغو کې يو قوم بنو مدلج وه چې رئيس يې ذو الخمار اسود عنسي و چې کاهن و او دعوه د نبوت يې په يمن کې کړې وه، او ټوله د يمن بشارونه، قريې او مځکې يې قبضه کړې او معاذ بن جبل ﷺ چې د عليه الصلوة والسلام له خوا پر يمن والي و او نور سادات د يمن چې مؤمنان وه هم يې وشړل يعني له يمن څخه يې ويستل، نو عليه الصلوة والسلام و معاذ بن جبل او دده همراه مسلمانانو ﷺ ته نوشته کړه چې خپل اسلامي مبارک دين له لاسه ورنه کړئ او معاذ ﷺ ته يې نوشته کړه چې مسلمانان وهڅوه چې د اسود مذکور سره جنګ او جهاد وکړي، نو فيروز ديلمي اسود پر خپل ځای پروت قتل کړی، ابن عمر ﷺ وايي چې په هغه شپه کې اسماني خبري د اسود د قتل په لاس د فيروز ديلمي و عليه الصلوة والسلام ته ورسېدې، نو سهار عليه الصلوة والسلام خبر د اسود د قتل و مسلمانانو ته ورکړی او داسي يې وويل قتل الاسود

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

البارحة قتله رجل مبارک قیل ومن هو قال فیروز، او علیه الصلوة والسلام په سبا ورځ کي وفات سو "انا لله وانا الیه راجعون"

پوه سه: چي علیه الصلوة والسلام وروسته تر اخبار د اسود د قتل و مسلمانانو ته په وحي اسماني پر دوولسم تاریخ د ربیع الاول وفات سو او د مجاهدینو لښکري د اسود له جنګه په اخیر کي د شهر ربیع الاول چي ابوبکر صدیق رضي الله عنه خلیفه و راورسېدې او دا اول خبر و د فتح چي ابوبکر رضي الله عنه راورسېدی.

دوهمه ډله د مرتدانو چي په زمانه کي د حیوٰة نبوي پیدا سوې وه بنو خیفه وه دا یو قوم و چي رئیس یې مسیلمة کذاب و چي د نبوت دعوه یې کړې وه او بنو حنیفه تولو ایمان پر راوړی و، او دده د نبوت دعوه په سنه لس کي د هجرت وه، او ده به ویل چي زه خدای پاک د محمد ﷺ سره په نبوت کي شریک کړی یم، او علیه الصلوة والسلام ته یې دا خط نوشته کړی و من مسیلمه رسول الله الی محمد رسول الله، اما بعد فان الارض نصفهالي ونصفها لک او دا خط مسیلمه دوو کسانو ته د خپلو اتباعو ورکړی و، خط چي علیه الصلوة والسلام ته راورسېدی نو علیه الصلوة والسلام و هغو دوو کسانو ته وویل لو لا ان الرسل لاتقتل لضربت عنقکما، نو په ځواب کي علیه الصلوة والسلام ورته وویل یعني په خط کي من محمد رسول الله الی مسیلمة الکذاب اما بعد فان الارض لله یورث من یشاء من عباده والعاقبة للمتقین، نو علیه الصلوة والسلام وفات سو بیا ابوبکر صدیق رضي الله عنه د خالد بن ولید رضي الله عنه په مشرۍ مسیلمه کذاب ته ډېر لوی فوج وروانستوی نو وحشي نامی چي مربی و د مطعم بن عدي چي سید الشهداء حمزه بن عبد المطلب یې شهید کړی و هغه مسیلمة الکذاب مردار کړی، نو دغه وحشي به ویل چي قتلت خیر الناس في الجاهلیة یعني بذالک حمزه رضي الله عنه وقتلت شر الناس بعد الاسلام یعني ما د خپل جاهلیت په وخت کي غوره د انسانانو یعني حمزه رضي الله عنه قتل کړی او د خپل اسلام په وخت کي مي ترټلی د خلګو قتل کړی یعني مسلمة الکذاب.

او دریمه ډله چي مرتده سوې وه بنو اسد وه چي مشري یې د طلیحه بن خویلد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پر غاړه وه او ده هم د نبوت دعوه کړې وه په ژوند کې د علیه الصلوة والسلام او دغه طلیحه اول سړی و چې په جنګ کې یې شکست وخوړی وروسته تر وفات د علیه الصلوة والسلام من اهل الردة. نو ابوبکر صدیق ﷺ د خالد بن ولید ﷺ په مشرۍ ډېر درند فوج وروستاوه چې وروسته تر ډېر سخت جنګ د طلیحه فوج شکست وخوړ او طلیحه پخله وتښتېدی او شام ته ولاړی ثم بعد مدة اسلم وحسن اسلامه والله اعلم.

تاریخ اسلامي وایي چې وروسته تر وفات د علیه الصلوة والسلام اکثره عرب مرتد سوه په انکار د فرضیت د زکوة الا اهل مکة والمدینة واهل بحرین من قبیلة عبد القیس، او دوی و ابوبکر ﷺ ته وویل چې لمونځونه خو کوو واما الزکوة فلاتغصب اموالنا، نو ابوبکر ﷺ دوی ته وویل والله لا افرق بین ماجمع الله تعالی في قوله "اقیموا الصلوة واتوا الزکوة" یعني في کثیر من آیات القرآن العزیز. او ابوبکر ﷺ وویل چې قسم په خدای دی که دوی زما څخه یو سپرلی منع کړي چې علیه الصلوة والسلام ته یې ورکاوه یعني پر وجه د انکار یې منع کړي زه د هغو سره جنګ کوم، نو خدای پاک اقوام را وپاڅول چې د ابوبکر ﷺ سره ودریدل او د مانعینو سره د زکوة یې په جنګ شروع وکړه حتی چې منکرین د زکوة یې ټوله د زکوة په فرضیت اقرار کړه، حضرت انس ﷺ وایي چې صحابه کرامو ﷺ جنګ کول د مانعینو سره د زکوة نه وه خوښ دوی به ویل چې منکران د زکوة خو اهل قبله دي نو څرنګه به جنګ کول ورسره روا وي، نو ابوبکر ﷺ خپل توره غاړې ته واچول او یوازې جنګ ته رهي سو، نو صحابه کرامو ﷺ بله چاره ونه لیدل بېله متابعته د خلیفة المسلمین ابوبکر ﷺ نو نور صحابه کرام ﷺ پسې ووتل و جنګ ته، عبد الله بن مسعود ﷺ وایي چې موږ دا جنګ په ابتداء کې بد باله او په وروسته کې مو دا جنګ خوښ سو چې منکرین د زکوة اخیر الامر په فرضیت د زکوة قانع سوه او امر الهي "اقیموا الصلوة وآتوا الزکوة" دواړې مفروضه خبرې ټولو منکرانو ومنلې او تفرقه په امت محمدي کې نه سوه پیدا.

دروښ وایي: چې د ابوبکر ﷺ ددې فعل پر موږ ټولو مسلمانانو حمد لازم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی الحمد لله الذي نجا امة محمد ﷺ من التفرقة، وقيل ماولد بعد النبيين مولود افضل من ابی بکر رضی الله عنه لقد قام مقام النبي ﷺ في قتال اهل الردة.

دروښ وايي: چې شيخ عطار رحمه الله په مدح کې د ابوبکر رضی الله عنه داسې دوه خوارې شعرونه ويلي دي

هرچه بود از بارگاه کبریا — ریخت در صدر شریف مصطفی
آن همه در سینه صدیق ریخت — لاجرم ثابود ازو تحقیق ریخت

حسن بصري رحمه الله وايي که کارنامه د ابوبکر رضی الله عنه نه وای، نو جاري به وای الحاد د زکوة په باره کې الی یوم القیامة.

پوښته: که یو څوک د زکوة له فرضیت څخه منکر نه وي لکن زکوة نه ورکوي نو د مسلمانانو امیر به د هغه سره څه چار چلند کوي آیا جبراً به يې څني اخلي او که څرنګه؟

ځواب: په اشباه والنظائر کې وايي چې معتمد مذهب دادی چې په زوره دې نه څني اخلي، او په محیط کې وايي که یو چا منع وکړه له ورکړې څخه د زکوة نو عامل د حکومت اسلامي دي زکوة جبراً نه څني اخلي، او که يې فرضاً په جبر والاکراه سره څني واخستی د هغه سړي د زکوة غاړې نه په خلاصېږي، ولې چې زکوة څو عبادت دی او په عبادت کې اختیار شرط دی لکن یجبره بالحبس لیؤدیه بنفسه انتهی.

فَسَوْفَ يَأْتِي اللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ

نو ژر دی چې خدای ﷻ به راتګ وکړي په داسې قوم سره چې د خدای به دوی خوښ وي او ددوی به د خدای سره محبت وي یعني په څای کې د هغو مرتدینو بعد اهلاکهم.

پوه شه: چې محبت د خدای ﷻ د یو چا سره اراده ده د خیر د دنیا او آخرت و هغه ته. او محبت د بندګانو د خدای سره اراده د طاعت د خدای ﷻ دی او پرهیز له معاصیو څخه.

دروښ وايي: چې په مراد کې ددې قوم څخه یعني چې دا قوم څوک دي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اختلاف دی علی بن ابي طالب، حسن بصري، ضحاک او قتاده ﷺ وایي چي دا قوم ابوبکر او اصحاب دده دي ﷺ چې دوی د اهل ردت او د منکرینو سره د فرضیت د زکوة غزاء وکړه وقد مر تمام تفصیله عن قریب.

دروښ وایي: چي دا قول انسب د اقوالو دی د ماقبل آیاتو سره چي د مرتدینو په باره کي وه او بعض مفسرین وایي چي مراد له دې قوم څخه انصار دي وهذا القول مرجوع، او بعض وایي اهل فارس دي، په صحیح حدیث کي راغلي دي "لوکان الایمان معلقاً بالثریا لناله اهل فارس"

دروښ وایي: چي بعّض اهل تحقیق وایي چي دا اشاره و ابو حنیفه واصحابه ته ده، ولي چي د فارس په قبیله کي د دین نبوي حامیان او د شریعت غراء بیانونکي او د امت تشریح کونکي په مثل د ابو حنیفه واصحابه رحمهم الله بل څوک نسته او نه به پیدا سي، او بعض وایي چي دا قوم اهل الحجاز دي اي الحرمین الشریفین ومن حولهما او بعض وایي اهل یمن یعني د هغې زمانې لقوله علیه الصلوة والسلام الایمان یمان ای اهل د ایمان کامل اهل د یمن دي، والحکمة بمانیة او علم الشریعة د یمنیانو دی انتهی.

اَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ اَعِزَّةٍ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ يُجَاهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَلَا يَخَافُوْنَ لَوْمَةَ لَآئِمٍ

چي دوی به اذله وي او متواضعین به وي یعني زړه سوی به لري او نرمي د زړه به لري او تواضع به لري د مؤمنانو په مقابل کي.

پوه سه: چي "اذلة" جمع د ذلیل ده هغه عرفي معنا نه ده څني مراد بلکې په معنا د ارقاء او رحماء دی.

سوال: صله د "ذلة" خو "علی" نه راځي بلکې لام راځي او دلته "علی" راغلی دی؟

ځواب: د ذلت په معنی کي یې عطف معتبر کړی دی، او د عطف لفظ په علی سره متعدي کېږي چي داسي قول ته په عربي کي تضمین وایي یعني یو لفظ د بل لفظ په ضمن کي راوړل او اعزة جمع د عزیز ده چي معنی یې شدت او سختي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او غلبه ده يعني دا قوم به په مقابل کي د کافرانو شدت پسنده عليه جويان وي يعني زړه سوی پر کافر نه لري په جنګ او په هر قيمت چي وي ځانونه پر غالب ګرځوي، او دوی جهاد کونکي في سبيل الله يعني لپاره د طلب د رضی د الله تعالی او لپاره د اعلاء د کلمة الله لا للغنيمة ولا لاظهار شجاعته ولا للعصبية وغير ذالک او نه په بېرېدي له ملامت ويلو څخه د يو ملامت ويونکي.

پوه سه: چي دا جمله عطف ده پر "يجاهدون" باندي، په دې بيانولو کي د صفاتو د قوم اخرين تعريض دی پر منافقانو، ولي دوی چي به په يو لښکر کي د مسلمانانو ووتل دوی به بېرېدل له حلفاؤ څخه چي يهودان وه چي هغه به پر موږ ملامتيا ووايي چي په لښکر کي د مسلمانانو شامل سوي ياست، نو دوی به شدت او تصلب درلودی پر کافرانو، او نه يې زړه سوی درلودی پر مسلمانانو بلکې معامله د منافقانو بالعکس وه او نه يې وتل و جنګ ته في سبيل الله وه بلکې رواجول د خپل خبث باطل چي کفر و پر مسلمانانو باندي الی غير ذالک من اغراضهم الخبيثة.

ذَٰلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَاءُ ۚ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٥٤﴾

پوه سه: چي "ذالک" په تاويل د مذکور اشاره ده د هغه قوم آخر و صفاتو ته چي دمخه تېر سوه من المحبة والذلة للمؤمنين والعزة د کفارو په مقابل کي د الجهاد في سبيل الله وعدم خوف اللوم من احد فضل د خدای دی يعني لطف او احسان د خدای دی چي دده په زړه کې پيدا کړی دی يعني دا اوصاف جميله دده په طاقت بشري نه دي پيدا سوي په دوی کي، او خدای پاک ورکوي خپل فضل وچاته چي اراده يې ورته وسي، او د خدای ﷻ عطايا او احسانونه فراخه دي، او خدای ﷻ د هر چا په حال ښه خبر دی ففيه وعد ووعيد.

دروښ وايي: چي رسېدل و قرب الهي ته بعض سالکانو ته په اوويا کاله کي حاصل سي او بعضو ته په شل کاله کي، او بعضو ته په يوه کال کي حتی چي بعضو ته په يوه ګړي او لحظه کي حاصل سي، آيا ستاسي نه ده په ياد قصه د ساحرانو د فرعون چي په دا ببښي لږ وخت کي چي دوی معجزه د موسی عليه السلام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ولیدل قالوا امنا برب العالمین حتی چې د کاملانو عارفانو څخه وګرځېدل حتی چې فرعون دوی ته پېښ رو وکړی چې "لاقطعن ایدیکم وارجلکم من خلاف ولاصلبنکم في جزوع النخل، دوی په مقابل کې څرنګه عارفانه ځواب ورکړی "لاضیر انا الی ربنا لمنقلبون" آیا تاسي نه ده اورېدلې قصه د رابعه بصریه چې دا یو کلاڼ ساله مینځه وه د یو چا چې په بازار کې د بصرې یې ګرځول او د هیڅ چا یې و رانیولو ته زړه نه کېدی یو تاجر ترحماً علیها رانیول او في الحاله یې ازاده کړه، او دې د یو غره په یو غار کې په ډېر صدق او اخلاص سره د خدای پاک عبادت پیل کړی یو کال نه و پوره سوی چې، عالمان، قاریان، تاجران وغیرهم به ددې زیارت او ملاقات ته ورتله.

إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَالَّذِينَ آمَنُوا

نه دی ولي ستاسي ایها المؤمنون مګر خدای ﷻ او رسول دده یعني حضرت محمد ﷺ او ټوله مؤمنان، نو تاسي یهود او نصاری اولیاء خپل مه ښولئ بلکې هغه پخپل منځ کې یوله بله اولیاء دي ستاسي مؤمنانو په مقابل کې که څه هم یهود او نصاری خپل په منځ کې شدید اختلافات سره لري حتی چې یو بل ته کافران سره وایي.

الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُمْ رَاكِعُونَ ﴿٥٥﴾

دا موصول بدل دی دمخه موصول څخه یعني هغه مؤمنان چې دوی اقامت د لمانځه کوي او ورکوي زکواتونه د خپلو مالو او دوی راکعون یعني دوی سره ددې چې اقامة الصلوة کوي او تیاء الزکوة کوي بیاهم خاشعون او متذللین و خدای ته دي یعني خپل په عبادت فخر او کبر نه کوي. نو جمله د وهم راکعون حال ده له فاعل څخه د دواړو یعني یقیمون ویؤتون.

فائده: پوه سه! چې یو اقامت د لمانځه دی او یو هیئت د لمانځه دی، نو ټوله قرآن د مؤمنانو له لمانځه څخه تعبیر په اقامت الصلوة خدای کوي نو د اقامت الصلوة معنا داده چې لمونځ سره د فرائضو او واجباتو لکه قیامه، رکوع، سجده اخیر او د تحریمې تکبیر او جماعت او تعدیل الارکان وغیر ذالک وکړي او هیئت الصلوة هغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی چې د لمانځه سره په هیئت مشابه وي نو ځکه خدای پاک د منافقانو د لمونځو په باره کې داسې فرمایلي دي "فویل للمصلین آه" او له دې سببه علماء وایي چې مقیمین د لمانځه لږ دي او مصلین ډېر دي.

وَمَنْ يَتَوَلَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فَاِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ هُمُ الْغٰلِبُوْنَ ۝

او څوک چې دوستي مختاره کړي د خدای او د هغه د رسول او د مؤمنانو، نو په تحقیق ډله د خدای ﷻ غالبه ده پر مخالفانو کافرانو او منافقانو.

پوه سه: چې ابن عباس رضي الله عنه وایي چې له "الذین آمنوا" څخه مهاجرین او انصار مراد دي رضي الله عنهم.

فائده: څوک به پوښتنه کوي چې من خو مبتداء وه او موصول د یتولی یې صله ده او د یتولی ضمیر راجع دی ومن ته په اعتبار د لفظ او لفظ الله مفعول دی د یتولی و ورسوله والذین آمنوا پر عطف دی، نو دا کافي نه وه فان هم الغالبون یعني د حزب الله لفظ یې ولي زیات کړی؟

ځواب: ددې په زیاتولو کې اشاره وي یو دلیل ته ده د شکل اول، والتقدیر من تولی لهؤلاء المذکورین فهو حزب الله و حزب الله هم الغالبون فهؤلاء هم الغالبون.

پوه سه: چې اضافت د حزب الله د استغراق لپاره ده ای کل حزب الله هم الغالبون ولي چې د شکل د انتاج شرط ایجاب د صغری دی او کلیه کبری دی کما تقرر في المنطق، په حدیث شریف کې راغلي دي چې رفاعه بن زید او سوید بن الحارث ایمان راوړی وروسته یې نفاق شروع کړی، او بعضي مخلصو مؤمنانو ددوی سره موالات او محبت کاوه فانزل الله هذه الآیة.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا دِيْنَكُمْ هُزُوًا وَّ لَعِبًا

اې هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دی تاسي مه ګرځوئ هغه کسان چې ستاسي دین یې د مسخرو او د ساتهري محور ګرځولی دی.

پوه سه: چې "الذین اتخذوا" مفعول اول دی لقوله "لاتتخذوا" او مفعول ثاني یې اولیاء دی، هز، سخریه، استهزاء او لعب متحد المعنی دي بالفارسیة بازي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَالْكُفَّارَ أَوْلِيَآءَ

له هغو کسانو څخه چې دوی ته کتاب ورکړی سوی دی تر تاسي دمخه چې یهود او نصاری دي، نو دا بیان دی د "مستهزئین" او من قبلکم متعلق دی په "اوتوا" پورې، منصوب دی معطوف دی پر موصول اول ای الذین اتخذوا او مراد له کفارو څخه مشرکین دي "اولیاء" دوستان بلکې له دوی تولو څخه دوري او قطع المواصلة لازغوره کړئ.

وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿٥٧﴾

او له خدایه وبیرېږئ په موالاتو کې ددغو کسانو که تاسي په حق سره مؤمنان یاست، ولې چې مؤمن بالحق خو د خدای دوست وي او داغه مذکوره کسان خو د د خدای دښمنان دي نو مؤمن بالحق یې هم خپل دښمنان وګڼل لان عدو المحبوب عدو للمحب.

وَإِذَا نَادَيْتُمْ إِلَى الصَّلٰوةِ اتَّخَذُوهَا هُزُوًا وَلَعِبًا

او چې تاسي ناره وکړئ ولمانځه ته یعني الآذان دوی وګرځوي دا نداء په تاویل د مندات یاد صلوة مسخره "هزوا ولعبا" وقد مر تفسیرهما آنفاً.

پوه سه: چې څه وخت چې به مؤذن د مسجد نبوي او یاد نورو مسجدو چې په مدینه منوره کې د مسلمانانو وه اذان شروع کړه سو، نو یهودانو به سره خندل او یو وبل ته به یې سترګې سره وهلې لپاره د استهزاء په اذان او لمانځه سره لپاره د سپکاوي او لپاره د نفرت د خپلو هم مذهبانو د لمانځه او له اهل څخه د لمانځه او له دعوت څخه د مؤذنانو.

ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُونَ ﴿٥٨﴾

دا پسخنډ ددوی په دې سبب دی چې دوی داسي قوم دی چې عقل نه لري،

فائده: پوه سه! چې علماء په اتفاق وایي چې د اذان ثبوت یوازې په خوب د عبدالله بن زید نه دی لکه قصه چې مشهوره ده بلکې اذان په قرآن مبارک کې په دغه مذکوره آیت سره یعني "واذا نادیتم آه" هم ثابت دی لان معنی الآیة المذکورة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

داده چې تاسي بلنه ورکړئ خلګو ته د لمانځه لپاره د اذان په ذریعه. ولي چې د انداء معنا ده د یو چا بلنه په لوړ آواز سره.

حکمة الأذان: (۱) اظهار دی د شرائع د اسلام (۲) کلمة التوحید التي هي افضل واطیب الاذکار (۳) خبرول دي د مسلمانانو په دخول د وخت د لمانځه (۵) د لمانځه د ځای ښوونه ده (۵) بلنه ده د خلګو د جماعت و لمانځه ته الی غیر ذالک کطرد الشیطان اذا سمع الاذان کما في البخاري وغیره.

مسئله: که یو مؤذن داسي وچې حسن الصوت یې و لکن پر آذان کولو یې مزدوري غوښتل او بل مؤذن قبیح الصوت وچې آذان یې مفت کاوه، نو کوم مؤذن اولی دی؟

ځواب: په دې مسئله کې خو قدیماً وحدیثاً اختلاف ستة لکن صحیح مذهب دادی چې حسن الصوت ته دي اجرت ورکوي لان لحسن الصوت تاثیراً وترغیباً للناس کما ان لقبح الصوت تنفیراً.

فضائل الاذان، في الحدیث الصحیح اول الناس دخولاً الجنة الانبیاء ثم الشهداء وروسته بلال حبشي مؤذن المسجد النبوي سره د مؤمنانو د کعبې مبارکي وروسته بیا مؤذنان دي د بیت المقدس وروسته بیا نور مؤذنان د مسجد نبوي ﷺ وروسته بیا نور مؤذنان دي بقدر اعمالهم، وفي حدیث صحیح آخر چې درې قسمه خلګ یعني مسلمانان پاک نه کوي له حساب څخه د ورځې د قیامت او دوی لویه ببره د قیامت د ورځې په ببره کې نه اچوي، یو حافظ د قرآن مجید چې عمل یې هم په کړی وي یقدم علی الله یعني یوم القیامة سید آشریفاً، او بل هغه مؤذن چې اوو، کاله آذان وکړي بېله اجرته او بېله د طمع د اجرت، او دریم هغه مربی چې حقوق د خدای پر ځای کوي او د بادار حق هم پر ځای کوي.

مسئله: که یو سړی چې هم قابل د آذان و په سبب د حسن صوت او هم قابل د امامت و په سبب د حسن قرائت او د علم د احکامو د لمانځه نو دې سړي ته کومه وظیفه اجراء کول اولی او افضل دي؟

ځواب: امامت افضل دی ولې چې رسول الله ﷺ پر امامت همیشه توب کړی دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: علیه الصلوة والسلام ولي یو وخت هم اذان نه دی کړی سبب یې څه دی؟

ځواب: اولاً که علیه الصلوة والسلام اذان کړی وای نو که چا دده له جماعته تخلف کړی وای هغه به کافر وای، وثانیاً که دی مؤذن وای نو د ځان لپاره شاهدي په رسالت سره نازیبا معلومیده، وثالثاً آذان څو اولاً بل چا په خوب لیدلی و، نو علیه الصلوة والسلام د ابد لپاره اذان وغیر ته وسپاری، او بل سبب دادی چې علیه الصلوة والسلام که اذان وکړي نو یا به د اذان کلمات بدلوي یعني داسي به وایي اشهد اني رسول الله او یا به هغه کلمات وایي لکه نور مؤمنان چې یې وایي یعني اشهد ان محمد رسول الله، له دې څخه بیا دا توهم کېږي چې محمد نامی یو بل سړی دی د هغه لپاره شاهدي د رسول والي ورکوي لکه نور مؤذنان چې اشهد ان محمد رسول الله وایي د علیه الصلوة والسلام لپاره شاهدي د رسالت ورکوي، او بل سبب دادی چې عمل د رسول الله ﷺ دیمه و یعني دوام داره کما ورد في الحدیث ان رسول الله ﷺ اذا عمل عملاً اثبته یعني همېشه به یې کاوه او دوام ته د اذان علیه الصلوة والسلام خلاص نه وځکه چې د علیه الصلوة والسلام لپاره مصروفیت په تبلیغ د رسالت و لکه "امیر المؤمنین عمر رضي الله عنه چې ویل لولا الخلیفي لاذنت" که نه وای اشتغال زما په امورو سره د خلافت ما به اذان کولای.

مسئله: لحن یعني لپاره د خوش آوازۍ یا د اوږد والي د اذان کلماتو ته تغیر ورکوي تغیر ورکول ناجائز دی، مثلاً آالله اکبر په مد د الف وای، ولي داخود خدای ﷻ د خدای والي استفهام او شک دی په کبریا کي د خدای ﷻ حقیقت شک کفر دی لکن چونکه مؤذن خو شکي نه دی نو ادنی مرتبه یې داده چې داسي ویل ناجائز دی، او ان یقول اکبار بمد الباء لانه آسم الشیطان وغیر ذالک من التغیرات کما هو المتعارف في بعض مؤذني العصر الحاضر، په یوه روایت کي راغلي دي چې ابن عمر رضي الله عنه ته یو سړی راغلی او ورته وه یې ویل اني احبک زه ستا سره محبت لرم ابن عمر ورته وویل اني ابغضک زما ستا څخه بد راځي، هغه ورته وویل ولي؟ ابن عمر رضي الله عنه ورته وویل چې زه خبر سوی یم چې ته په اذان کي لحن کوې. قیل ان اجابة الاذان واجبة که څه هم سړی جنب وي یا بنځه حائضه وي، یو په بیت الخلاء

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کي اجابت نسته او بل په وخت کي د جماع اجابت نسته. او تاج الشريعة وايي ان اجابة المؤذن سنة، وهذا هو المذهب الاعدل او امام نووي رحمه الله وايي چي اجابت د اذان مستحب دی وهذا هو المذهب الاسهل على السامعين الآذان.

فائده: مسافر که په سفر رهي و او بل سړي اذان پسي وکړی خدای جل جلاله به يې له سفره په خيرت او عافيت راولي. که د مولود په رسته غوږ کي اذان وکړه سي او په چپه غوږ کي يې اقامت وکړه سي د ام الصبيان چي کومه ناجوړي ده د اطفالو نو خدای جل جلاله به يې په امن او امان کي وساتي.

فائده: که يو ځای اور واخلي آذان وکړه سي هغه اور به خدای جل جلاله ساکن کړي او هغه ځای به له ضرره د اور خلاص کړي.

فائده: که هولناکه سېل راسي او څوک اذان وکړي د سيل له ضرره به يې خدای وساتي. که يو سخت يخ او يا خوف پيدا سي څوک اذان وکړي د يخ او د خوف له ضرره به په امن کي سي کذا في الانوار والاسرار المحمدية.

قُلْ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ

ته ووايه اې محمد ﷺ اې اهل کتابو يعني اليهود والنصارى.

شان نزول: څنې نفر د يهودانو و عليه الصلوة والسلام ته راغله او ورته وه يې ويل مونږ ته خبر راکړه ستا د دين. عليه الصلوة والسلام ورته وويل "آمن بالله واما انزل الينا وما انزل الى ابراهيم و اسماعيل واسحٰق ويعقوب والاسباط وما اوتي موسى وعيسى وما اوتي النبيون لانفرق بين احد منهم ونحن مسلمون" نو يهودانو چي د عيسى نوم واورېدی چي ددوی په عقيده عيسى نبي نه و بلکې بد نسبت يې ورته کوی يعني ولد الزنى نعوذ بالله من ذالک، نو دوی ورته وويل چي مونږ سپک دين نه وينو په دنيا کي ستا ترديں فانزل الله تعالى هذه الآية.

هَلْ تَنْقِمُوْنَ مِنَّآ اِلَّآ اَنْ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ

آيا تاسي معيوب او مکروه نه بولئ زمونږ دين لعلة من العلل، مگر دا چي مونږ ايمان راوړی پر خدای جل جلاله په توحيد سره فهو مفعول له لتنقمون و مفعول به لتنقمون محذوف ای دیناً.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْنَا وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلُ وَأَنَّ أَكْثَرَكُمْ فَٰسِقُونَ ﴿٥٩﴾

او زمونږ ایمان دی پر هغه کتاب چې نازل سوی دی مونږ ته یعني القرآن العزیز، او پر هغو کتابو مو ایمان دی چې تر قرآن کریم مخکې نازل سوي دي من التوراة والانجیل او نور کتب الهیه، او په تحقیق اکثره ستاسي فاسقان دي.

پوه سه: چې "وان اکثرکم آه" عطف دی پر "ان امنا" باندې یعني زمونږ پر دې هم ایمان دی چې اکثره ستاسي فاسقان دي یعني سرکښه خارج له حدود څخه د ایمان دي.

پوه سه: چې اسناد د فسق یې و اکثر ته وکړی، ولي چې عبد الله بن سلام او نور دده ملګري خو فاسقان نه وه "فسق" په آیت کې په معنی د فرد کامل دی د فسق وهو الکفر.

قُلْ هَلْ أُنَبِّئُكُم بِشَرٍّ مِّن ذَٰلِكَ مَثُوبَةً عِندَ اللَّهِ ۚ

ته ورته ووایه یا محمد ﷺ ویهودانو ته آیا زه خبر درکړم وتاسي ته په شر او بد سره من ذالک. اشاره په "ذالک" کې هغه ته ده چې منقوم او بد یې باله یعني الایمان والاسلام او منقوم علیهم ستاسي وه یعني مؤمنان، والمعنی چې زه به خبر درکړم پر بد سره تر هغه چې تاسي بد باله او هغه دین په واقع کې خیر محض و او مؤمنان اخیار الناس وه از روی جزاء.

پوښتنه: "مثوبة" خو په اصطلاح کې د شریعت خاص په خیر پورې دی لکه عقوبت چې خاص په شر سره دی، نو څرنګه یهودانو ته "مثوبة" لفظ مستعمل سو؟

ځواب: "مثوبة" یې ددې لپاره په ځای کې د عقوبت راوړی استهزاءً بهم کما في قوله تعالی "بشرهم بعذاب الیم"

پوه سه: چې لفظ د "مثوبة" منصوب دی علی التمیز، او "عندالله" په "شر" پورې متعلق دی.

مَن لَّعَنَهُ اللَّهُ وَغَضِبَ عَلَيْهِ

پوه سه: چې "من لعنه الله" بدل دی له "شر" څخه په حذف د مضاف تقدیره بشر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

من ذالک دین من لعنه الله چې خدای پاک له خپل رحمت څخه لېرې کړې دې او پر هغو یې خپل غضب نازل کړی دی وهم الیهود والنصاری لانهما في الکفر واصرارهم علی الکفر والمعاصي بعد وضوح دلائل حقیقة دین الاسلام کلک ولاړ دي.

وَجَعَلَ مِنْهُمُ الْقِرَدَةَ وَالْخَنَازِيرَ وَعَبَدَ الطَّاغُوتَ

او په دوی کې یې بیزوګان او سرکوزان پیدا کړي دي وهم الیهود ایضا، یعني خدای ﷻ مسخ کړه بعض له دوی څخه په زمانه کې د داوود علیه السلام چې دوی د شنبې د ورځې د ماهیانو بنکار نه پرېښو چې دوی څخې منع وه، نو داوود علیه السلام ښهرا ورته وکړه.

پوه سه: چې "عبد" فعل ماضي ده پر قرائت د جمهورو او ضمیر مستکن یې راجع دی و من ای اطاع الطاغوت وهو الشیطان في اختیار الکفر.

دروښ وایي: چې دا قصه په تفصیل سره تېره سوې ده. او خنزیران هغه وخت وګرځېدل چې دوی د عیسی علیه السلام معجزات ظاهرات ولیدل او له اسمانه څخه سترخان هم ورته راکښته سو چې مائده یې بالله په طلب د یهودانو له عیسی علیه السلام څخه او پر هغه مائده یې خوراک هم وکړی بیا یې هم ایمان نه راوړی، نو په بد دعاء د عیسی علیه السلام دوی سرکوزان سول.

أُولَٰئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَأَضَلُّ عَن سَوَاءِ السَّبِيلِ

دغه کسان شر دي از روی مکان، او هم دوی د هر ګمراهان دي تر هر ګمراه له لاري حقي څخه.

پوه سه: چې ځای یې د دوی بد او شر وباله لیدل علی شرارتهم علی ابلغ وجه لان شرارة المکان بشرارة المکین، د "سواء السبیل" اضافت دی د صفت و موصوف ته ای السبیل السوی ای المستوي وهو دین الاسلام.

وَإِذَا جَاءُوكُمْ قَالُوا آمَنَّا

او چې راسي یعني منافقان وتاسي ته دوی وایي ظاهراً چې موږ ایمان راوړی و پر تا اې محمد ﷺ او خپل کفر پټ د څخه ساتي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې دا اظهار د ايمان او پټ والی د کفر دوی ددې لپاره کاوه چې خپل ځانونه او عیالونه او مالونه له مسلمانانو څخه وساتي.

وَقَدْ دَّخَلُوْا بِالْكُفْرِ وَهُمْ قَدْ خَرَجُوْا بِهٖ ؕ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا كَانُوْا يَكْتُمُوْنَ ﴿۶۱﴾

او په تحقیق سره داخل سوه دوی یعني منافقان متلبسین بالکفر او دوی ووتل په هغه کفر سره یعني ستا وعظ او تبلیغ په دوی کې تاثیر نه وکړی.

پوه سه: چې دا دواړې جملې حال دی له فاعل څخه د "قالوا" او لفظ د "به" او د "بالکفر" دواړه حال دي یو له فاعل څخه د "دخلوا" او بل له فاعل څخه د "خرجوا" یعني قالوا امنا بک والحال انهم کاذبون في هذا القول او دوی حاضر سوه په نېز ستا چې متلبسین په کفر سره وه یعني الکفر المبطن او دوی ووتل ستا څخه په هغه کفر مبطن سره متلبسین وه. او خدای ﷻ ښه خبر دی په هغه شي چې دوی پټ ساتی یعني کفر قلبي، په دې جمله کې وعید دی دوی نه په رسوایي سره په دنیا او اخرت کې.

وَتَرٰى كَثِيْرًا مِّنْهُمْ يُسَارِعُوْنَ فِى الْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ

او ته وینې یعني علم لرې د هر ددوی یعني من الیهود او المنافقین چې دوی تلوار کوي په ګناه او په ظلم کې، او بعض مفسرین وایي چې ګناه ددوی یعني د یهودو دا وه چې دوی پټ کړی و له توراته نعوت د علیه الصلوة والسلام او آیت الرجم، او له "عدوان" څخه مراد زیادت دی ددوی په تورات کې.

وَاَكْلِهِمُ السُّحْتَ ؕ لَبِئْسَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۶۲﴾

چې دوی خوري حرام (دا عطف دی پر "اثم" باندې) حرام هغه بلې چې دوی یې په په رشوت کې اخستې چې خلګ به یې منع کول له ایمان څخه د علیه الصلوة والسلام او دوی په تحریف کې د تورات لکه آیت الرجم هم رشوت اخستی کمامر او پر خدای ﷻ به یې درواغ ویل، هر آئینه بد دی هغه شی چې دوی عمل کاوه کالامور المذکورة من قبائحهم، اللهم احفظ علماء الاسلام عن نحو مافعلوا ای علماء الیهود.

دروښ وایي: چې د بنې اسرائیلو کار د دین او د تورات چې خراب سو ددوی د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ملايانو له لاسه. لكن په اوسنۍ زمانه كي په اسلام كي هم بعض ورته ملايان ته چي په بدو، حرامو، رشوتو او ورته حرامو زكاتو په سبب د غنى ددوى اخته سوي دي لهذا د حق ويلو څخه عاجزه پاته دي الله صبرا. زمونږ د اسلام پخوانيي علماء رحمهم الله ډير د زړه ډكه او په حق ويلو كي بې خوفه وه.

حكايت: د تابعينو د زمانې يو زاهد عالم چي په هغه وخت كي مروان بن الحكم خليفة المسلمين و. نو دې زاهد عالم دده ملاهي ورمات كړه يعني رباب او باجه وغيره. مروان چي خبر سو امر يې وكړى چي دا عالم زاهد د زمريانو چي مروان ساتلي وه تعذيباً د مسلمانانو لپاره په خونه ور ننباسئ چي زمريان يې وخوري، زاهد چي يې ور دننه كړى زاهد پر لمانځه ودرېدى. زمريان راغله د زاهد پر پښو به يې ژبې تېرولې زاهد خپل لمونځ كاوه په زمريانو يې باك نه كاوه، سبا چي سو مروان خپلو عسكروته وويل چي تاسي وگورئ چي هغه ملا زمريانو خوړلى دى كه نه، عكسر چي ورغله زمريان په ډېر الفت وزاهد ته ناست وه نو دوى تعجب ورته وكړى، او مروان ته يې صورت حال ورساوه مروان ورته وويل چي زاهد راوباسئ، زاهد چي يې مروان ته راوستى مروان ورته وويل چي ته ددې زمريانو څخه نه بېرېدلې؟ زاهد ورته وويل يا نه بېرېدم زه مشغول او متفكر وم توله شپه، ددوى وېرې ته نه وم فارغه، مروان ورته وويل په څه شي كي دې فكر واهه؟ زاهد ورته وويل چي په دې كي مي فكر واهه چي دې زمريانو چي زما پښې راختلې نو ددوى ناړې به پاكي وې كه مرادري، نو مروان وده ته په تعجب كي غرق سو او زاهد يې رخصت كړى ومن يتوكل على الله فهو حسبه" آية كريمه.

لَوْلَا يَنْهٰهُمُ الرَّبّٰنِيُّوْنَ وَالْاَحْبَارُ عَنْ قَوْلِهِمُ الْاِثْمَ وَاَكْلِهِمُ السُّحْتَ ؕ لَبِئْسَ مَا كَانُوْا يَصْنَعُوْنَ ﴿۶۳﴾

پوه سه: چي "لولا" حرف تحضيض دى يعني ولي نه نهي كوله دغو علماؤ ددوى.

پوه سه: چي بعض ربانيون او احبار دواړه په علماء سره تفسير كوي لكن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ربانیون یې صوفیان دي او احبار یې علم د ظاهر ملایانو دی، او بعض مفسرین وایي چې "ربانیون" د نصاری وو ملایان دي او احبار د یهودانو ملایان دي. له څه شي څخه یې نه نهي کول له قول څخه د ګناه یعني الکذب پر خدای ﷻ او رسول باندې، او له خوراک څخه د حرام مال لکه ورځندي چې تهره سوه او ډېر بد دی هغه شی چې دوی صنع کول یعني ملایانو ددوی چې دوی یې نه نهي کول. مظهري وایي چې "یصنعون" ابلغ دی تر "یعلمون" ولي چې صنع هغه فعل ته وایي چې انسان پکښې ماهر او تجربه کار وي. او عمل مطلق فعل ته وایي. نو ځکه یې ذم د خواصو د یهودانو چې ملایان ددوی وه په "یصنعون" سره وکړی او د عوامو دا یې په "یعملون" سره وکړی، په تفسیر مدارک کې وایي له ابن عباس رضی الله عنه څخه چې دا آیت تر ټولو سخت آیت دی په باره کې د علماؤ چې نهي عن المنکر نه کوي ولي چې تارک د نهي عن المنکر یې لکه فاعل د منکر وبالله سره د مبالغې په شان د تارک د نهي عن المنکر چې "یصنعون" یې ذکر کړی او د مرتکبین د منکر په باره کې یې یعملون ووایه.

دروښ وایي: چې په اوسنۍ زمانه کې چې د یو امام په مسجد کې یو پېدا مقتدی وي چې هغه زکوة وغیره ورکوي، نو هغه امام فضائل د اعمالو لکه اودس وغیره مماجاء في الاحادیث النبویة بیانوي. او چې پېدا یې د هرڅه کبائرو ګنهو مرتکب وي په هغو کبائرو کې بیان نه کوي؛ ولي ببرېږي چې له امامته به مې وباسي، او بعض داسې ملایان هم ستا چې حج پر فرض وي لکن حج نه کوي، ولي ببرېږي چې مقتدیان به مې له امامته وباسي. ولي چې وایي به چې ته خو غني وې حج ته ولاړې، فیا اسفی علی حال هؤلاء.

ع .....چو کفر از کعبه برخیزد کجاماند مسلمانی

وَقَالَتِ الْيَهُودُ يَدُ اللّٰهِ مَغْلُولَةٌ

او وویل یهودو چې لاسونه د خدای ﷻ موټ سوه، یعني عن الرزق، ابن عباس رضی الله عنه او عکرمه، قتاده او ضحاک رحمهم الله وایي چې خدای پر یهودانو ډېره فراخي چوړه کړې وه حتی چې دوی د زمانې د خلګو اکثره وه د اموالو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ګوناګون، او محکمي يې ډېري حاصل خېزي وي، نو چونکه دوی د علیه الصلوة والسلام عصیان مختاره کړی او دوی د علیه الصلوة والسلام تکذیب وکړی، نو خدای ﷻ له دوی څخه د رزق فراخي بنده کړه فعند ذالک سبوه بالبخل لان قبض الید کنایة عن البخل، او فحاص بن عازورا چې د بني قینقاع د قوم رئیس و ویل به يې يد الله مغلولة ی مقبوضة محبوسة عن الرزق، او طبراني له ابن عباس ﷺ څخه روایت راوړی دی چې یو سړی له یهودانو څخه چې نوم يې نباش بن قیس و، و ابن عباس ﷺ ته يې وویل ان ربک لبخیل نعوذ بالله.

پوښتنه: دا خبره خو یا د فحاص بن عازورا وه او یا د نباش وه، نو ټولو یهودو ته يې نسبت څرنګه وسو؟

ځواب: لکه څنګه چې یهودو او نورو ملایانو ددوی دغه دوه کسان له دې خبرې نه منع کول او ددوی په دغه وینا راضي وه، نو ځکه يې ټولو ته نسبت وکړی نحو "بنو فلان قتلوا" او قتل یوه کړی وي او نور زامن د فلان په راضي وي.

فائده: بسط الید مجاز عن الجود وغل الید مجاز عن البخل.

غُلَّتْ أَيْدِيهِمْ وَلُعِنُوا بِمَا قَالُوا

مړ ټ دي لاسونه ددوی او دوی مستحق د لعنت الهي وګرځېدل په سبب ددې خبرې چې نسبت د بخل يې و خدای ﷻ ته وکړی.

پوه سه: چې "غلت ایدیهم" ددوی ته ښېرا ده یا په بخل او یا په فقر او مسکنت، او یا ښېرا ده بغل ایدیهم بالاسر في الدنیا وبالسلاسل في نار جهنم.

سوال: خدای ﷻ څرنګه ښېرا وچاته کولای سي او ښېرا کول خو د عاجزو خلګو کار دی؟

ځواب: دا ښېرا تعلیم دی د خدای ﷻ له خوا و مسلمانانو ته یعني تاسي دوی ته دغه ښېرا وي کوئ زه به يې قبلوم په حق کي ددوی.

بَلْ يَدَاهُ مَبْسُوطَتَانِ

پوه سه: چې "بل" لپاره د اضراب ددوی له قول څخه چې يد الله مغلولة یعني دغسي نه ده لکه تاسي چې وایاست بلکې خدای ﷻ موصوف دی په غایت جود

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او نهایت فضل او احسان سره چې دا معنا له تثنیه راوړلو څخه د یداه فهمیږي، ولې چې په انسانانو کې نهایت سخي او غایت جواد هغه سړی شمیرل کیږي چې په دواړو لاسو نقود وغیرها وخلګو ته ورکوي.

فائده: ید الله له متشابهاتو څخه د قرآن دی لکه سمیع، بصیر یا "کل شئ هالک الا وجهه" وغیر ذالک. د اهل قرآن د قدماؤ یعني مفسرانو مذهب دادی چې د متشابهاتو علم وخدای ﷻ ته موکول دی بناءً علی الوقف اللازم في قوله تعالی "ولا یعلم تاویله الا الله" ای المتشابه، نو پر "الله" باندې قدماء وقف لازم وایي او وروسته عبارت "والراسخون في العلم" پر لفظ الله باندې عطف نه بولي بلکې جلا مبتداء یې بولي او "یقولون" یې خبر بولي، نو پر مورږ مسلمانانو یې تسلیم او انقیاد لازم دی بان نقول ما اراد الله به حق وهو مذهب السلف من اهل السنة والجماعة وهذا المذهب اسلم من الخطاء فیما اراد الله، او متاخرین یې تاویل کوي مثلاً وایي چې له ید څخه صفات جلالیه او جمالیه مراد دي، او ید چې مفرد راسي په معنی د قدرت دی او سمع په معنا د علم بالمسموعات دی او بصر په معنی د علم بالمبصرات دی الی غیره من التاویلات وهذا المذهب ادفع لشغب یعني اعتراض اعداء الدین چې دوی وایي چې علم د متشابهاتو چې مختص په خدای ﷻ پورې و، نو فائده د انزال یې په قرآن کریم کې څه ده لان القرآن نزل لهدایة ونفع العباد والهدایة والنفع موقوفان العلم بمعناه.

يُنفِقُ كَيْفَ يَشَآءُ

یعني انفاق کوي خدای ﷻ څرنګه چې یې اراده وي، حاصل دا چې فاعل مختار دی ګاهي پر چا توسیع کوي د رزق إمتحاناً لشکره لکه چې پر یهودانو یې قبل بعثت النبي ﷺ وهره فراخي د رزق او د مال جوړه کړې وه امتحاناً لشکرهم بالایمان بالنبي ﷺ، او ګاهي پر مسلمانانو تنګي د رزق راولي امتحاناً لصبرهم او ګاهي پر عاصي تنګي د رزق راولي جزاءً لعصیانه کما ضیق الرزق علی الیهود حین کفروا وانکروا نبوت علیه الصلوة والسلام، ولهذا قالوا "ید الله مغلولة" نو خدای ﷻ پر مقتضی د حکمت خپل توسیع او تضییق کوي "لا یسئل عما یفعل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وهم يسئلون" آية كريمه. قال المولوي المعنوي في مثنويه

چونکه بد کردی بترس ایمن مباش — زانکه تخم بد بروياند خداش
چند گاهی او بپوشاند که تا — آیدت زان بد پشیمان وحیا
بارها پوشد پی اظهار فضل — بازگیرد پی اظهار عدل
تا که این هر دو صفت ظاهر شود — آن مبشر گردد واین منذر بود

دروېش وايي: لله دره ما ادق قطره دا رښتيا ده چې جلال الرومي مولوي معنوي دی.

وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرًا مِّنْهُم مَّا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ طُغْيَانًا وَكُفْرًا

او هر آئينه زياتوي وډېرو ته ددوی يعني يهودانو ته هغه کتاب چې نازل سوی دی وتاته له جانبه څخه د رب ستا سرکشي او کفر، يعني هر وخت چې تاته يو آيت يا سورت نازل سي دوی په هغه سره کفر کوي، فلهذا فازدادوا کفراً وطغيانا. او بعض مفسران وايي چې قرآن مبارک لکه صحيح عذا. داسي دی چې څوک په صورت او باطن کې مرض نه لري هغه ته قوت ورکوي، او چې په باطن کې مرض لري هغه ته نور مرض ورزياتوي، دغه قرآن چې د يهودانو په زړو کې مرض د کفر و، نو قرآن ودوی ته زيات کړی طغيان او کفر.

وَأَلْقَيْنَا بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ

او موږ اچولی دی په منځ کې ددوی يعني د يهود او نصاری وو عداوت او بغض تر ورځې پورې د قيامت، حسن بصري او مجاهد وايي چې ضمير د "بينهم" راجع دی و ډلو ته د يهودانو چې دوی يو له بل سره اختلاف لري په دين کې. نو ددوی زړونه سره موافق کهږي تر ورځې د قيامت، په صحيح حديث کې راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام وفرمايل چې د موسی عليه السلام امت يو اوويا ډلي سوی دی چې ټوله به يې په اور کې وي، مګر نه يوه ډله به يې په جنت کې وي. او د عيسی عليه السلام امت دوه اوويا ډلي سوی دی چې ټوله به په دوزخ کې وي مګر نه يوه ډله چې هغه به په جنت کې وي، او زړ دی چې زما امت به درې اوويا ډلي وګرځي چې کلهم في النار الا الناجية، اصحابو رضي الله عنهم ورته وويل چې ناجيه کومه ډله ده؟ عليه الصلوة والسلام ورته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وویل چي ناجیه هغه ډله ده چي د دین پر هغه لار روان وي چي زه او زما اصحاب پر هغه روان یو. اللهم اجعلنا منهم. قالوا هم اهل السنة والجماعة.

كُلَّمَآ أَوْقَدُوا۟ نَارًا لِّلْحَرْبِ أَطْفَأَهَا ٱللَّهُ

هر وخت چي یهودان بل کي اور د جنګ لپاره د علیه الصلوة والسلام او مسلمانانو، خدای ﷻ به هغه اور مړ کړي، نو "للحرب" یا صفت دی د "ناراً" نو ظرف مستقر دی ای کائنة للحرب، او یا ظرف لغوه دی متعلق په "اوقدوا" سره دی.

پوه سه: چي حسن بصري رحمه الله علیه وایي چي ددې معنا داده چي هر وخت به یهودانو د جنګ اراده وکړه د علیه الصلوة والسلام سره، نو خدای ﷻ به دوی په خپل منځ کي په جنګ سره اخته کړه او علیه الصلوة والسلام او مسلمانان به یې ددوی له شره وساتل او په عین حال کي به یې علیه الصلوة والسلام پر دوی غالبه کړی او دوی ته به یې ماته ورکړه، او قتاده رحمه الله علیه وایي چي دا مغلوبیت د یهودانو په جنګ کي عام دی چي یهودانو به یې طلب کوی دښمن به خدای پر غالبه کړی او دوی به یې ذریه دره کړه، حتی چي څه وخت چي یهودانو د دین او د تورات مخالفت کړی دی خدای ﷻ لوی دښمن پر مسلط کړی دی په اول وار کي یې طیطانوس رومي پر مسلط کړی چي ددوی ځوانان او ښځي یې په غلامي ځني بوتلې، بیا دوی توبه وکښله، خدای ﷻ کومک وسره وکړی بندیان یې ور ایله کړه، څه وخت او کلونه وروسته بیا دوی فساد او مخالفت د تورات شروع کړی خدای پاک مجوسیان پر مسلط کړه او دوی یې سره دربه دره کړه، څو کلونه وروسته یې بیا فساد في الارض او مخالفت د تورات د حکم اختیار کړی، خدای پاک مسلمانان پر مسلط کړه چي څوک یې ووژل او څوک یې له خپلو وطنو څخه فرار کړل.

وَيَسْعَوْنَ فِى ٱلْأَرْضِ فَسَادًا ۚ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿٦٤﴾

پوه سه: چي مضارع لپاره د استمرار تجددي ده یعني یهودان همېشه په مځکه کي نوی نوی فساد لټوي او د خدای ﷻ محبت نسته د مفسدینو سره یعني یبغضهم "فساداً" مفعول به دی "یسعون" یعني دوی همېشه د فساد لپاره کوشش

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کوي، او یا "فساداً" مفعول به دی، نو "یسعون" په معنی د یطلبون دی.

پوه سه: چې فساد الیهود داو چې د خلګو تر منځ جنګو او فتنو ته به یې لمن وهله.

وَلَوْ اَنَّ اَهْلَ الْكِتٰبِ اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا لَكَفَّرْنَا عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ

او که چېرې اهل کتابو ایمان راوړی وای پر علیه الصلوة والسلام باندې، او له معاصیو څخه یې توبه کښلې وای هم په قول او هم په فعل، خدای ﷻ عفوه کړې وای او بخښلې به یې وای ودوی ته هغه سیئات ماضیه ددوی که څه هم لوی لوی سیئات وي لان الاسلام یجب ماقبله. عمرو بن العاص ﷺ وایي چې زه علیه الصلوة والسلام ته ورغلم ماورته وویل چې رسته لاس دي خلاص کړه چې زه بیعت درسره کوم، علیه الصلوة والسلام چې لاس خلاص کړی ما لاس ټول کړی علیه الصلوة والسلام راته وویل مالک یاعمرو یعني لاس دي ولي ټول کړی، ما ورته وویل چې یو شرط لرم، علیه الصلوة والسلام راته وویل څه شرط لګوې؟ ما ورته وویل چې زه دا شرط لګوم چې خدای ﷻ زما ګناهونه رابخښي په سبب د اسلام؟ علیه الصلوة والسلام وویل اما علمت یاعمرو ان الاسلام یهدم ماکان قبله وان الهجرة تهدم ماکان قبلها وان الحج یهدم ماکان قبله رواه مسلم، یعني بشرط التوبة في الحج والله اعلم.

وَلَاَدْخَلْنٰهُمْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ۝

او هر آئینه زه دوی داخلوم وجنتو ته د نعمتو. یعني مالاعین رئت ولا اذن سمعت ولاخطر علی قلب بشر.

پوه سه: چې دخول وروسته تر بعثت د علیه الصلوة والسلام الی یوم القیامة مشروط دی په ایمان سره پر علیه الصلوة والسلام.

وَلَوْ اَنَّهُمْ اَقَامُوا التَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِمْ مِّنْ رَّبِّهِمْ

او که چېرې اهل کتابو یعني یهود او نصاری وو اقامت وکړی د تورات او انجیل یعني ټوله احکام یې پر ځای کړي وای او عمل یې په کړی وای او تغییر د کتاب الله یې نه وای کړی او د دغو دوو کتابو آیات یې نه وای پټ کړي چې یو له اقامت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څخه د تورات ایمان دی پر علیه الصلوة والسلام او بیان د اوصافو د علیه الصلوة والسلام یې کړی وای چې په تورات کې خدای پاک نازل کړي وه، او داغه رنګه دوی اقامت کړی وای د هغه کتاب چې دوی ته نازل سوی دی له جانبه څخه د رب ددوی چې قرآن پاک دی. او زبور د داؤد علیه السلام بلکې ایمان پر ټولو اسماني کتابو راوړی وای. ولې چې دوی لکه سوچې په قرآن کې مکلف یو په تورات کې مکلف وه په ایمان د ټولو کتب الهیه وو.

لَاَكَلُوْا مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ اَرْجُلِهِمْ ؕ

دوی به خوراک کولای له لوړې خوا څخه ددوی او له لاندې خوا څخه د پښو ددوی.

پوه سه: چې فراء نحوي وایي چې مراد په آیت کې فراخي د رزق ده په کامله فراخي سره لکه په دې محاوره کې چې فلانی په خیر کې دی سر تر نوکه پورې.

او ابن عباس رضي الله عنه یې داسې تفسیر کوي چې له لوړې خوا به باران ونه پر کښدای او نباتات په شمول د ارتزاقي شیان وو لکه غنم، ورجې او د درختو میوې تر پښو لاندې ددوی، یعنې پر مځکه ددې مثال داسې دی لکه بل ځای چې خدای پاک په قرآن عزیز کې وایي "ولو ان اهل القری امنوا واتقوا لفتحنا علیهم برکات من السماء والارض، مطلب دا چې رزق چې پر دوی کم سوی دی په سبب د دوی د کفر او ګنهو لا لبخل به تعالی الله عن ذالک علواً کبیراً.

مِنْهُمْ اُمَّةٌ مُّقْتَصِدَةٌ ؕ وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ سَآءَ مَا يَعْمَلُوْنَ ۝٦٦

بعض له اهل کتابو یا بعض له یهودانو څخه یوه ډله میانه رو ده نه غلو په دین کې کوي یعنې تر حد تجاوز، او نه کوتاهي په دین کې کوي لکه عبدالله بن سلام واشباهه رضي الله عنهم من مؤمني اهل الکتاب، او ډېر ددوی بد دي هغه چې دوی یې عمل کوي، نو "ما" موصوله دی یا "ساء عملهم" نو "ما" مصدریه دی، هغه عمل ددوی معانده ده د رسول الله ﷺ سره او تحریف دی د کتاب الله التورات وامثال ذالک.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يَاأَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ

اې رسوله رسوه هغه احکام دینیه والشرعیه که له قسمه څخه د عقائدو دي او که له قسمه څخه د عملي شیانو.

پوه سه: چې مراد له "ما انزل الیک" څخه هغه احکام دي چې په مصالحو د عبادو تعلق لري، نو دا سوال نه وارد ېږي چې بعض اسرار الهیه دی چې افشاء یې في الناس عموماً نه ده روا، تحقیق دادی چې هغه شیان چې تعلق په شریعت پورې لري د هغه افشاء عامه ده او چې په حقیقت پورې تعلق لري لکه بعض اسرار تصوفیه هغه خاص ده مثال یې د امانت دی، امانت هغه چاته څوک ورکوي چې حفاظت یې کولای سي.

وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ

او که ته وله هغه شیان چې نازل سوي دي وتاته ونه رسوې یعني له سببه د خوف د یو مکروه، نو تا نه دی رسولی رسالت د خدای ﷻ لان کتمان البعض ککتمان الکل في الوعید.

بوه سه: رسول د رسالت د ژبې سره تعلق لري، نو خدای ﷻ و علیه الصلوة والسلام ته رخصت ورنه کړی په ترک کې د تبلیغ که څه هم له مکروه څخه بېرېږي.

وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ

او خدای پاک تا ساتي د خلګو له ضرره یعني بالقتل، په حدیث صحیح کې راغلي دي چې علیه الصلوة والسلام چې مدینې منورې ته راغلی یهودانو ورته ویل یا محمد ﷺ موږ د نفوسو په اعتبار نهایته ډېر یو او د جنګ په لحاظ ډېر ځښتلي یو تر څو چې ترجع عن دینک قتلناک، او که له خپل دینه رجوع وکړې اکر مناک وژو دناک، نو علیه الصلوة والسلام پر ځان پهېره کوله سلو کسو د انصارو او مهاجرینو د شپې به هم دا سل ځله پهېره وه او د ورځې به دا سل کسه ورسره وه خوفاً من الیهود. نو چې دا آیت نازل سو "والله یعصمک من الناس" علیه الصلوة والسلام په دې پوه سو چې د یهودانو له قید او تسل څخه ما خدای ﷻ ساتي، نو علیه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الصلوة والسلام د شپې راووتې او انصارو او مهاجرينو پهېره دارانو ته يې وويل "انصرفوا الى رحالكم" ولاړسئ و خپلو کورو ته "فان الله قد عصمنى من اليهود" وروسته ددې آيت تر نزول به عليه الصلوة والسلام يوازي ګرځېدى هم د شپې په اول کي هم د تهجد په وخت کي حتى بعض شپلو ته د مدينې منورې په يوازي روان و مع كثرة اعدائه وقلة اعوانه اعتماداً على عصمة الله تعالى.

له سيدتنا عائشة رضي الله عنها څخه روايت دى چې که تاته چا وويل ان محمداً كتم شيئاً چې عليه الصلوة والسلام يو شى پټ کړى دى مما انزل الله فقد كذب هغه درواغ وايي، ولي خداى ﷻ ده ته ويلي دي "يا ايها الرسول بلغ ما انزل اليک الى خير الآية"

پوه سه: امام مظهري رحمه الله عليه په شان نزول کي ددې آيت "يا ايها الرسول آه" دومره مختلف رطب او يابس راوړي دي چې له سړي څخه دا ورکه سي چې دا آيت به خداى خبر په څه شي کي نازل سوى وي.

إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ ﴿٦٧﴾

پوه سه: چې دا آيت دليل دى د "والله آه" يعني خداى پاک ودوى ته ستاد اضرار لار نه وربښيي او نه تا قتل کولاى سي نه ستادين محوه کولاى سي.

پوه سه: چې سنت الهي په دې سره جاري دى چې خپل انبياء عليهم السلام بلکې نور دوستان له دښمنانو څخه ساتي لکه چې خداى ﷻ وساتله عليه الصلوة والسلام او ابوبکر رضي الله عنه د جبل ثور په غار کي سره ددې چې د مکې کافران قريش په ډلييزه توګه د غاري تر خولې ورغله لکن خداى پاک دوى څنې وساتل حتى چې ابوبکر رضي الله عنه کرار و عليه الصلوة والسلام ته وويل که دغه کافران کښېنستل او د غاري خولې ته يې وکتل ما او تا به وويني عليه الصلوة والسلام ورته وويل ماظنک باثنين الله ثالثهما، خو کافران ومکې ته بېرته ناکامه ولاړه، داغه رنګه په حديث کي د جابر رضي الله عنه چې روايت يې بخاري کړى دى راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام په بعض غزواتو کي سره د اصحابو کرامو رضي الله عنهم يوه ورځ د ډېري سختي ګرمۍ له سببه غرمه يوې شپلې ته ورسېدل چې په هغې کي د عضاه درختي وې او هورې يې د استراحت لپاره واړول او خلګ سره متفرق سوه هر سړي د يوې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درختي تر سايې لاندې پرېښوتی او علیه الصلوة والسلام هم د یوې درختي تر سايې لاندې پرېښوتی او توره یې د درختي په یو ښاخ پورې وځړول یو ګړی چې وسو علیه الصلوة والسلام مونږ ته ناري وهلې مونږ چې ورغلو یو صحرائي سړی د علیه الصلوة والسلام ته ناست و، نو علیه الصلوة والسلام وویل چې دغه سړی چې زه بیده وم زما توره یې را اخستې وه او له تېکي څخه یې کښلې وه زه راوپښ سوم توره ده په لاس کې له تېکي کښلې ورځخه وه او ماته یې وویل من یمنعک مني یعني تا به څوک له ما څخه خلاص کړي؟ ما ورته وویل "الله" نو د دې ډېرې وارخطایي څخه یې په اوږدلو سره د لفظ الله توره له لاسه ولوېده ما راواخستل او ده ته مي وویل من یمنعک مني؟ ده راته وویل کن خیر آخذ" یعني ته ښه اخیستونکی سه غرض یې دا و چې ما مه په وهه لکه ما چې ستا د وژولو قصد کړی و، را وې وایي چې علیه الصلوة والسلام و هغه سړي ته وویل اتشهد ان لا اله الا الله واني رسول الله؟ هغه سړي ورته وویل یا، لکن دومره وعده درسره کوم چې نه زه ستا سره جنګ کوم او نه د هغه ملګرې کېږم چې ستا سره جنګ کوي، نو علیه الصلوة والسلام یې لاره ایله کړه یعني هیڅ یې نه ورته وویل.

سعدي رحمه الله په بوستان کې وایي

یکی دیدم از عرصه رودبار — که پیش آمدم بر پلنګی سوار
چنان هول ازان حال برمن نشست — که ترسیدنم پای رفتن ببست
تبسم کنان دست بر لب گرفت — که سعدی مدار آنچه دیدی شګفت
توهم گردن از حکم داور مپیچ — که گردن نپیچد ز حکم تو هیچ
محالست چون دوست دارد ترا — که در دست دشمن ګذارد ترا

یوه سه: چې ابن جریر رحمه الله له ابن عباس رضي الله عنه څخه داسي روایت کړی دی چې رافع او سلام بن مشکم او مالک بن صیف یعني چې یهودان وه علیه الصلوة والسلام ته راغله او داسي یې ورته وویل "یامحمد الست تزعم انک علی ملة ابراهیم ودینه" آیا ته دا نه وایي چې زه پر ملت د ابراهیم او پر دین د ابراهیم علیه السلام یم، علیه الصلوة والسلام ورته وویل "بلی" هوا زه داغه وایم، ددوی غرض دا و

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې د ابراهیم دین خو موافق د تورات سره و، نو ځکه علیه الصلوة والسلام وویل "لکن احدثتم وجحدتم بمافیها وکتمتم ما امرتم ان تبینوه للناس" قالوا فانا ناخذ بما في ایدینا فانا علی الهدی والحق. فانزل الله تعالی" ترجمه: لکن تاسي داسي نوي شان په تورات ګډ کړي دي او تاسي منکر یاست د مافي التوراة څخه او تاسي پټ کړي دي هغه شیان چې تاسي امر سوي واست یعني په تورات کې چې خلګو ته یې بیانوئ دوی ورته وویل چې مونږ عمل کوو په هغه تورات چې زمونږ په لاس کې دی، نو مونږ پر هدایت یو او پر حق یو.

قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لَسْتُمْ عَلَىٰ شَىْءٍ

ته ورته ووایه اې محمد ﷺ چې اې اهل کتابو یعني یهودانو تاسي نه یاست پر هیڅ شي د دین.

سوال: باطل خو هم شی دی، نو نفي د شي ددوی له دین څخه څرنګه صحیح کېږي؟

ځواب: مراد له شي څخه شی متعد به عندالله دی، والباطل لیس بمعتدبه عندالله، او یا نفي د شي مبالغه ده په بطلان کې د دین ددوی چې دوی په تورات کې نور محدثات ګډ کړي دي او یا یې کم کړي دي.

حَتَّىٰ تُقِيمُوا۟ ٱلتَّوْرَىٰةَ وَٱلْإِنجِيلَ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ

تر هغه وخته تاسي پر شي معتدبه عندالله نه یاست چې تاسي به پوره او سم عمل ونه کړئ په تورات او په انجیل سره او په هغه کتاب چې نازل سوی وتاسي نه یعني القرآن العزیز له جانبه څخه د رب ستاسي، او یو له اقامت څخه ددغو دوو کتابو ایمان درلودل دي بمافیها من اصول الدین کالایمان بالتوحید، او ایمان پر بعث بعد الموت والجنة والنار وغیرها من العقائد الدینیة المشترکة بین الکتب الثلاثة بل بین جمیع الکتب المنزلة. ولې چې اصول د ادیانو سره یو دی، ولې چې اصول الدین خو نسخ نه قبلوي، او بل د اصول مشترکه وو څخه د دغو دوو کتابو ایمان دی بمحمد ﷺ او پر قرآن او عمل به کوي په مقتضی سره د دغو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کتابو چي یو یې نعت د علیه الصلوة والسلام دی په تورات او انجیل کي هغه به خلګو ته بیانوي. او په هغه فروعو د تورات به هم عمل کوو چي نسخ یې نه وي ثابت سوی لکه رجم المحصن والمحصنة کمامر، او که نسخ د یو حکم ثابته سي بیا به عمل په ناسخ کوي لکه لمونځونه، زکوٰة او روژه چي په تورات کي یې یو ډول حکم وو او په قرآن کي غیر د هغه، و عمل موافق د قرآن لازم دی لانه ناسخ.

پوه سه: چي ددې آیت څخه عمل کول په شرائعو متقدمه وو سره چي نسخ یې نه وي ثابت واجب دی لکن نه ددې جهته مثلاً چي دا حکم د تورات دی، بلکي ددې جهته چي حکم د قرآن عزیز دی.

فائده: د قرآن په باره کي خدای پاک داسي وویل "وما انزل الیکم" ددې لپاره چي رد پر یهودانو وسي، ولي چي دوی به ویل چي قرآن زمونږ لپاره نه دی نازل بلکي د عربو لپاره او علیه الصلوة والسلام یې هم خپل نبي نه باله بلکي د عربو نبي یې باله.

وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرًا مِّنْهُم مَّا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ طُغْيَانًا وَكُفْرًا

دروښ وایي: چي دا آیت دمخه هم راغلی و او ترجمه او بیان یې هوري تهر سو، نو هغه ځای ته رجوع وکړي.

فَلَا تَأْسَ عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ ﴿٦٨﴾

نو ته غم مه کوه د کفارو پر قوم په سبب د دې پر طغیان ددوی او ددوی له شره څخه هم مه ویره لما وعدک الله تعالی والله یعصمک من الناس ولا خلف لوعده تعالی.

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا

تحقیق هغه کسان چي ایمان یې راوړی دی یعني په لسانه سره فقط وهو المنافقون لیس الا.

وَالَّذِينَ هَادُوا وَالصَّابِئُونَ وَالنَّصَارَىٰ

ای دخلوا في دین الیهودیة، او هغه چي میل یې کړی زړو ددوی وجهل ته، او دا یو صنف له نصاری وو څخه چي سائحون یې هم بولي "النصاری" جمع د نصران ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې ددې آیت ټوله تفصیل او اختلاف په "صائبون" کې په سورت بقره کې تېر سوی دی فلیراجع.

پوښتنه: صائبون "خو عطف دی پر "الذین هادوا" باندې نو حق د اعراب خو یې دا و چې "صائبین" ویل سوي وای لانه اسم ان وهو منصوب نو مرفوع ولي وویل سو؟

ځواب: د کوفیینو په نیز عطف پر اسم د ان په رفع سره روا دی نظراً الی محله ولي اسم د ان محلاً مرفوع مبتدا. ده، او په نېز د مبرد عطف د مرفوع پر اسم ده ان چې مبني وي روا دی لظهور عدم عمل ان نافیه فکانها لم تعمل فیه، او په نېز د بصریون صائبون مرفوع دی مبتدا. ده او خبر یې محذوف دی، ای والصائبون کذالک، وهذا لایخلو عن تکلف کمالا یخفی، ددوی په نېز جمله د والصائبون کذالک معطوف ده پر ان الذین آه، لا علی اسم ان حتی یکون منصوباً وهو تکلف علی تکلف.

مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ۝

پوه سه: چې کلمه د "من" مبتدا. ده او جمله د فلا خوف آه یې خبر دی، نو چونکه کلمه د من متضمن ده معنی لره د شرط نو ځکه یې په خبر کې فا راوړه او دا ټوله جمله خبر ده "ان" ده.

ترجمه: په تحقیق هغه کسان چې څوک ایمان راوړي که منافقان دي که یهودان او که صائبون او که نصاری دي څوک چې ایمان راوړي له دوی څخه یعني منافق په زړه سره هم لکه په خوله ایمان او یهودان او صائبون او نصاری ایمان راوړي په ژبه او په زړه سره پر خدای ﷻ باندې یعني پر توحید د خدای پاک او په نورو مایلیق بشانه تعالی من عدم الولد وغیر ذالک، او ایمان پر یوم آخر یعني وما یتعلق بذالک الیوم من الحساب والجنة والنار وغیر ذالک او عمل صالح هم وکړي یعني مایوافق الشریعة الغراء، نو هیڅ بېره نسته پر دوی باندې او نه به دوی غمجن وي یعني په ورځ د قیامت، د خوف او حزن فرق دمخه تېر سوی دی.

لَقَدْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ وَاَرْسَلْنَآ اِلَيْهِمْ رُسُلًا

یعني قسم په خدای دی چې موږ اخستی دی تینګ عهد او وعده د بني اسرائیلو څخه یعني په تورات بالتوحید والعمل بما فیها او په ایمان پر ټولو انبیاؤ او پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

محمد ﷺ، او موږ استولي دي دوی ته نور رسولان ټاچي دوی ته هغه میثاق ورپه یاد کي او دوی ته بیان کړي کارونه د دین ددوی.

دروښ وایي: چي په یوه روایت کي راغلي دي چي خدای ﷻ وروسته تر موسی ځلور زره انبیاء وبني اسرائیلو ته رالېږلي دي چي ټوله پر دین د موسی وه او کتاب یې هم تورات و.

كُلَّمَا جَآءَهُمْ رَسُولٌۢ بِمَا لَا تَهْوَىٰٓ أَنفُسُهُمُ فَرِيقًا كَذَّبُوا۟ وَفَرِيقًا يَقْتُلُونَ ﴿٧٠﴾

پوه سه: چي له دې آیت څخه دا معلومه سوه چي دوی متابعت پرېښود تورات، او خپل د خواهشاتو نفسانیه و یې متابعت کاوه، ولي چي انبیاء خو ټولو اوامر او نواهي د تورات ودوی ته بیانول، نو ولي دوی د بعض تکذیب کاوه او بعض یې وژله.

نو دوی د یوې ډلي د نبیانو تکذیب کاوه او مړه یې نه کړه او یوه ډله د نبیانو یې وژله یعني وروسته تر تکذیب به یې قتل هم کړه.

پوه سه: چي د "کلما" څخه تر دې ځایه پوري جمله شرطیه ده او دا جمله شرطیه صفت د "رسلاً" ده او عائد یې محذوف دی یعني "منهم" او مقتولین د یهودانو یحیی او زکریاء علیهما السلام وه.

پوښتنه: په "یقتلون" کي یې ولي مضارع لفظ راوړی او سره ددې چي دا قتل خو هم ماضي و، نو ځای خو د "قتلوا" و؟

ځواب: په نحو کي وایي چي په ماضي کي چي یو امر هائل خوفناکه پېښ سوی وي، نو اهل عربیت ای لسان العرب یې په مضارع سره راوړي لپاره د حاضرېولو د هغه حالت هائله وسامعانو د عصر حاضر لکه دلته قتل د نبیانو چي امر هائل له یهودانو څخه په ماضي کي کړه سوی و، او بل ځواب دادی چي دا مستقبل لفظ پر دې تنبیه ده چي دا قتل د نبي ددوی عادت و ماضیاً ومستقبلاً حتی چي دوی په قصد کي د قتل د عیسی علیه السلام وه خو خدای ﷻ اسمانو ته ځني بوتلی او په صدد کي قتل د علیه الصلوة والسلام هم وه په ځو واره سره حتی عصمه الله منهم او بل ځواب دادی چي لپاره د موافقت د رؤس الآیات یعني د اخیر د آیتو یعني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قوله تعالى ولايخرجون وفريقاً يقتلون" يې مستقبل عبارت ووايه يعني "وفريقا كذبتم" لكه سائل چې وويل، نو رؤس الآيات نه سره برابرېدل وتلك الموافقة امرمهم في القرآن المجيد والفرقان العزيز كما لايخفى على من طالع القرآن.

وَحَسِبُوٓا۟ أَلَّا تَكُونَ فِتْنَةٌ فَعَمُوا۟ وَصَمُّوا۟

او د بنې اسرائيلو دا ګمان و چې نه به سي موجوده عذاب او بلاء په وژلو سره د انبياء، نو دوی ړانده وه د خپل دين او د دلائلو د قدرت د خداى ﷻ، او دوی کانه وه له اورېدلو څخه د نصيحت د ناصحانو يعني وروسته تر موسى عليه السلام.

پوه سه: چې کلمه د "ان" مصدريه ده او "کان" تامه دی او فاعل يې "فتنة" دی.

ثُمَّ تَابَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمْ ثُمَّ عَمُوا۟ وَصَمُّوا۟ كَثِيرٌ مِّنْهُمْ ۚ وَٱللَّهُ بَصِيرٌۢ بِمَا يَعْمَلُونَ ﴿٧١﴾

نو بيا چې دوی وکښل خداى يې توبه قبوله کړه بيا دوی ړانده او کانه سوه ډېر له دوی څخه وروسته تر عيسى عليه السلام يعني په کفر سره د محمد ﷺ، او خداى خبر دی په عمل ددوی يعني فيجازي هم على حسب اعمالهم "كثير منهم" دا بدل دی له ضمير څخه د "عموا" او يا "كثير" فاعل دی د "عموا" والواو فيه علامة الجمع فقط.

لَقَدْ كَفَرَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓا۟ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْمَسِيحُ ٱبْنُ مَرْيَمَ ۖ

لام موطئه د قسم محذوف دی اى والله کافران ګرځېدلي دي هغه کسان يعني له نصارى وو څخه چې وايي په تحقيق سره خداى دی مسيح بن مريم، مسيح د عيسى عليه السلام لقب دی.

پوه سه: چې دا آيت په نصارى وو کې د نجران نازل سوی دی، چې يو د سيد په نامه و او بل د عاقب په نامه و او نور ډېر ګڼ شمېر نصارى ورسره چې مدينې منورې د بحث لپاره د عليه الصلوة والسلام سره په باره کې د عيسى ورغلي وه بعض مفسرين وايي چې دا ډله د يعقوبيه په نامه يادېدل، بعض وايي چې النصار يعقوبيه يې بلل، ددوی مذهب دا و چې خداى پاک داخل سوی دی په بدن کې د عيسى او خداى او عيسى سره يو شى سوله تعالى الله عن ذالک علوا كبيرا، نو خداى ﷻ رد الزامي وکړی په خپله په قول د عيسى عليه السلام بقوله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَقَالَ الْمَسِيحُ يٰبَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ اعْبُدُوا اللّٰهَ رَبِّي وَرَبَّكُمْ ۖ

یعني دوی خو د عیسی د خدایي دعوه کوي او حال دادی چي مسیح علیه السلام په خپله په خطاب کي وبني اسرائیلو ته داسي وویل ای بني اسرائیلو عبادت د خدای کوئ چي هم زما رب دی او هم ستاسي رب دی، یعني په خپله یې ځان بنده وباله د خدای ﷻ لکه بني اسرائیل او خدای یې خالق د خپل ځان او بني اسرائیلو وباله، یعني تاسي نصاری د نجران څرنګه عیسی خدای بولئ او هغه په خپله د بندګی دعوه کوي.

إِنَّهُۥ مَن يُشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَأْوٰىهُ النَّارُ ۖ وَمَا لِلظّٰلِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ ﴿٧٢﴾

دا هم د عیسی مقوله ده وبني اسرائیلو ته، په تحقیق شان دادی چي هغه څوک چي شرک وکړي په خدای یعني خدای ﷻ ته شریک ووایي یا په ذات کي یا په صفاتو کي او یا په افعالو کي چي مختص په خدای ﷻ پوري وي کالخلق والایجاد والترزیق والاحیاء والاماتة وغیر ذالک، نو په تحقیق حرام ګرځولی پر هغه باندي جنت، ولي چي جنت خو ځای د مؤمنانو دی او داسړی خو مشرک دی او ځای د ورتګ دده به اور وي یعني په ورځ د قیامت، ولي چي دوزخ ځای د قرار دی د مشرکانو او د نورو کافرانو، او نسته ظالمانو لره یعني کافرانو لره کومکیان یعني چي له خدایه دی په زوره خلاص کړي.

پوه سه: چي کلمه د من لپاره د استغراق د نفي ده.

فائده: عیسی علیه السلام چي اقرار وکړی چي خدای شریک نه قبولوي او نه یې لري، نو اتحاد د مخلوقه سره چي عیسی دی څرنګه به متصور او ممکن وي لکه یعقوبیه چي وایي کمامر.

دروښ وایي: چي اوس خدای پاک حال د نسطوریه وو او د ملکانیه وو د نصاری بیانوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ ثَالِثُ ثَلَاثَةٍ ۘ وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّا إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ۚ

په تحقیق کافران دي هغه کسان چي وایي چي خدای یو له دوو خدایانو څخه دی، یعني خدایي د دغو درو کسانو سره شریکه ده یعني الله و عیسی و مریم، او حال دادی چي نسته مستحق د الوهیت او د وجوب الوجود مګر نه یو خدای چي الله ﷻ دی.

پوه سه: چي کلمه د "من" زائده ده لپاره د استغراق د نفي کما تقرر في کتب النحو، او "اله" مرفوع محلاً دی چي اسم د "ما" دی او خبر یې محذوف دی ای في الوجود والامکان یعني نسته مستحق د عبادت، او خالق د ټولو مخلوقاتو مګر یو الله ﷻ.

وَإِنْ لَمْ يَنْتَهُوا عَمَّا يَقُولُونَ لَيَمَسَّنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٧٣﴾

او که چېري منع سي دوی له هغو څخه چي دوی یې کوي من کلمات الشرک هر آئینه به ورسېږي هغه کسانو ته چي کافران دي په دوی کي عذاب یعني د اور چي دردناکه دی.

پوه سه: چي کلمه د "من" په منهم کي یا لپاره د بیان ده، او بعض مفسران وایي چي لپاره د تبعیض ده، دوی وایي چي دائمین پر کفر بعض ددوی وه.

أَفَلَا يَتُوبُونَ إِلَى اللَّهِ وَيَسْتَغْفِرُونَهُ ۚ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿٧٤﴾

آیا دوی توبه نه کاږي له شرکه څخه.

پوه سه: چي هر ځای چي په قرآن مبارک کي وروسته تر همزه د استفهام حرف عطف راسي که واو وي او که فا وي پر ماقبل د همزه خو نه سي عطف کېدای لفوات صدارة الکلام في همزة الاستفهام فیقدر بین الهمزة وحرف العطف ما یناسب المقام مثلاً یقدر في هذا المقام ای ایدیمون علی الکفر فلا یتوبون، او همزه د استفهام لپاره د انکار ده واقع دی او استبعاد ته د هغه لا لانکار الوقوع، ولي چي وقوع خو متحقق وه په دې عبارت د لولا ددوی باعثه کول دي پر توبه، والمعنی آیا دوی همېشه توب کوي پر کفر او پر عدم د توبې و خدای ته د کفر او د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دغو اقاویل باطله وو څخه خپل او طلب د بخښني نه کوي د خدای ﷻ او خدای غفور او رحیم دی، نو که دوی طلب د بخښني وروسته تر توبې وکړي خدای پاک به یې توبه قبوله او بخښني به ورته وکړي او زائد رحم به هم پر وکړي.

مَا الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ

نه دی مسیح بن مریم مگر نه رسول، نه دته الوهیة بالاستقال سته لکه چې د نصارو یعقوبیه وایي او نه په الوهیت کې د خدای سره شراکت لکه نسطوریه او ملکانیه چې وایي چې خدای ثالث ثلاثه دی خذلهم الله انی یؤفکون. او تر مسیح دمخه نور رسلان هم راغلي دي یعني لکه نور رسلان چې خپل وظیفه د رسالت یې وپای ته ورسول، نو د عدم څپه پر راغله له دنیا څخه ولاړل، دا عیسی علیه السلام هم رسول دی د مرګ څپه به پر راځي. البته خدای ﷻ ده ته لوی لوی معجزې ورکړې دي د یهودانو د مقابلې لپاره لکه مړي ژوندي کول دده په دعاء سره او مور زاده روند دده په دعاء بینا ګرځېدی او مور زاده کوږ دده په دعاء سره اورپدونکی ګرځېدی الی غیر ذالک دغه کارونه چې خدای ﷻ به کولای چونکه په عیسی کې موجود سوه نو عیسایان یعني نصاری په دغه خطاوتل وقالوا ماقالوا او دوی دا فکر نه کاوه چې دا معجزاتي له طرفه د خدای ورده ته ورکړه سوې وې، داغسي معجزې نورو انبیاؤ ته هم ورکړه سوي لکه د وچې لکړه ژوندی مار کېدل داخو تر احیاء الموتی اعجب معجزه وه، او دغه رنګه شق القمر چې د علیه الصلوة والسلام معجزه اغرب وه وهکذا، غرض دادی چې د معجزاتو عجیبه وو په سبب خو څوک نه سي خدای کېدای.

وَأُمُّهُ صِدِّيقَةٌ

او مور د مسیح لکه نوري بنځي وه که څه هم تر نورو بنځو په سبب د غایت صدق ددې او تصدیق د انبیاء علیهم السلام یې کاوه کما ینبغي.

كَانَا يَأْكُلَانِ الطَّعَامَ

او عیسی و مور دواړو ډوډی وغیره من المأکولات خوړله، نو دوی هم وغذا او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خوراک ته محتاجه وه. والمحتاج في شئ لايكون الهاً خصوصاً الى الماكولات لتغذية الجسم لان الآله لايكون جسم. والدائل العقلية في هذا الباب كثيرة.

انْظُرْ كَيْفَ نُبَيِّنُ لَهُمُ الْاٰيٰتِ ثُمَّ انْظُرْ اَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ۝

وګوره يا محمد څرنګه موږ بيانه و دوی ته دلائل د حقيت د توحيد او د حقيت د دين د اسلام او بيا وګوره چې سره بيان د آياتو پر کومه خوا دوی مصروف د استماعت څخه د حق وشرک ته چې عيسى او مور دده د خدای شريکان دي.

قُلْ اَتَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا ؕ

ته ورته ووايه يعني نصارى وو ته چې آيا تاسي عبادت کوئ د هغه چا يعني عيسى دی چې هغه نه دی مالک د ضرر چې تاسي ته دې ورسوي عند عدم العبادة له. او نه د نفع رسولو چې تاسي يې عبادت وکړئ، ولي چې افعال د عيسى عليه السلام توله مخلوق د خدای لکه د نورو بندګانو، نو په حقيقت کې عيسى د هيڅ شي مالک نه دی.

وَاللّٰهُ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۝

او خدای ﷻ عالم دی په اقوالو د هر چا او پر اعمالو د هرچا.

يوه سه: چې "هو" ضمير فصل دی لپاره د فصل او حصر د تولو شيانو د علم په خدای پاک کې.

يوښتنه: مشهوره خو داده چې "من" په ذوی العقول کې مستعملېږي او "ما" په غير ذوی العقول کې استعمالېږي. نو څرنګه يې د عيسى عليه السلام په باره کې "ما" ذکر سو؟

ځواب: د نحوي محققينو لکه جامي رحمه الله وايي چې کلمه د "ما" عامه ده لذوی العقول وغيرهم کما في قوله تعالى "والسماء وما بناها الآية" على تقدير ان يكون المراد بما بناها هو الله. دوهم ځواب دادی چې عيسى عليه السلام په وخت کې د حمل په هيڅ شي سره علم نه درلودی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قُلْ يَاأَهْلَ الْكِتٰبِ لَا تَغْلُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ غَيْرَ الْحَقِّ

ته ورته ووایه اې محمد چې اې اهل کتابو تاسي غلو یعنې تجاوز تر حد مه کوئ په خپل دین کې غیر الحق ته.

پوه سه: چې بعض مفسران وایي چې په دې آیت کې مخاطب یهود او نصاری دواړه دي، نو د غلو معنی داده چې په باره کې د عیسی افراط او تفریط بلکې توسط بین الافراط غوره کړی والتوسط في حقه هو انه عبد الله ورسوله، لکن یهودانو په حق کې د عیسی علیه السلام تفریط مختاره کړی چې دده له رسالت څخه منکره سوه او دی یې ولد الزنی وبالله او دده مور مریم یې په زنی متهمه کړه، او نصاری وو لاره د افراط په حق کې د عیسی مختاره کړه چې دی یې اله وبالله، کما مذهب الیعقوبیة او یا یې خدای ثالث ثلاثه وبالله، یعنې خدای او عیسی او دده مور درې سره خدایان دي کماهو مذهب النسطوریة والملکانیة من النصاری وقد مر بیانه. او بعض مفسران وایي چې خطاب و نصاری وو ته دی بقرینة السیاق او غلو د هغه وه چې آنفاً ذکر سوه.

فائده: غیر الحق منصوب دی چې مفعول مطلق د تغلوا دی والتقدیر غلوا باطلاً غیر الحق.

فائده: غیر الحق صرف لپاره د تاکید دی والا فالغلوا لایکون الا غیر الحق کما هو ظاهر.

وَلَا تَتَّبِعُوْٓا اَهْوَآءَ قَوْمٍ قَدْ ضَلُّوْا مِنْ قَبْلُ وَاَضَلُّوْا كَثِيْرًا وَّضَلُّوْا عَنْ سَوَآءِ السَّبِيْلِ ۝

او تاسي متابعت مه کوئ د خواهشاتو باطله وو د هغه قوم چې گمراهان سوي وه په دمخه وخت کې چې ددوی اسلاف وه دمخه تر بعثة النبي ﷺ او دهر خلګ یې نور هم گمراهان کړه، یعنې تابعان ددوی په کفر او ضلال کې او ددوی گمراهان سوه وروسته تر بعثت د علیه الصلوة والسلام له لاري حقې مستوي څخه چې دین د اسلام دی، او د علیه الصلوة والسلام تکذیب یې وکړی او سره ددې چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حقیت د دین اسلام اظهر دی من الشمس في السماء الرابعة بالمعجزات الباهرة المتواترة الباقية کر الازمان ومر الدهور کالقرآن العظیم الشان.

لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَىٰ لِسَانِ دَاوُودَ

ملعون کړه سوه یعني لېرې کړه سوه له رحمت عامه څخه د خدای هغه کسان چې کافران دي حال کونهم من اسرائیل، پر ژبه د داوود علیه السلام، چې هغه د ایله اوسېدونکي وه چې بنکار د ماهیانو یې په حیله کاوه په ورځ کې د شنبې چې دوی څنې منع وه د عبادت لپاره، نو داوود علیه السلام وویل اللهم العنهم واجعلهم ﷺ "ومثلاً لخلقک نو دوی مسخ سوه او بیزوګان څنې جوړ سوه، او درې ورځې وروسته یوله مړه سوه لان الممسوخ لایتناسل.

وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ

او پر ژبه د عیسی علیه السلام بحذف المضاف ای لفظ لسان چې مراد څنې اصحاب د مائده اسماني وه چې پر مائده اسماني یې ایمان نه راوړی، نو عیسی علیه السلام وویل اللهم العن عم واجعلهم آیة" نو هغه مسخ او سرکوزان څنې جوړ سوه.

دروېش وایي: چې دا دواړي قصې وړاندې په دې تفسیر کې تېرې سوې دي.

ذَٰلِكَ بِمَا عَصَوا وَّكَانُوا يَعْتَدُونَ ﴿٧٨﴾ كَانُوا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَن مُّنكَرٍ فَعَلُوهُ

دغه لعن په سبب د عصیان ددوی و او ددوی عادت دا و چې تر حدود د خدای یې تجاوز کاوه، دوی داسي وه چې یو بل به یې نه منع کاوه له منکر شرعي څخه چې هغو به کاوه، ولي چې جرم د هغو کسانو چې منکر فعل کوي او د هغو کسانو چې منکر خو نه کوي لکن بل نه څنې منع کوي سره برابر دی یعني که عذاب الهي مسلط سي دواړې ډلې به هلاکېږي، په حدیث شریف کې چې روایت یې اصحاب د سنن اربعه وو کړی دی له ابوبکر صدیق رضي الله عنه څخه ده وویل چې ما له رسول الله ﷺ څخه واوریدل چې ویل یې "ان الناس اذا رؤا الظالم فلم یاخذوا علی یدیه اوشک ان یعمهم الله بعقاب" یعني خلګ وویني ظالم یا متعارف ظالم او یا هر صاحب کبیره، دوهمه توجیه اولی ده په سبب د عموم نو دوی ونه ټیوی ظالم تر لاسو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې مراد له لاسو نیولو څخه نهي عن المنکر دی که په خوله وي او که په لاس، والله اعلم بمراد رسوله ﷺ، نو قریبه ده چې دوی عام کړي په عقاب سره.

لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَفْعَلُونَ ﴿٧٩﴾

هر آئینه بد دی دغه کار چې دوی یې فعل کاوه یعني عدم النهي عن المنکر، روی عن عبدالرحمن بن مسعود ﷺ ده وویل چې علیه الصلوة والسلام وویل چې تر تاسي دمخه په بني اسرائیلو کي دا عادت و چې یو سړي به ګناه وکړه یو نهي کونکي به منع کړی لپاره د تعذیر یعن منت به یې وکړی "فاذا کانوا من الغد" چې بله ورځ چې به سوه بیا به منع کونکي کسان او ګناه کونکي خلګ پر یوه خوړو او اوبو سره ناست وه "حتی کان لم یره علی الخطیئة بالامس" حتی چې دوی ګویا نه ولیدلی پر ګناه پروند "فلماء رای الله تبارک وتعالی ذالک منهم ضرب قلوب بعضهم علی بعض وجعل منهم القردة والخنازیر ولعنهم علی لسان داؤد و عیسی بن مریم ذالک بما عصوا وکانوا یعتدون انتهی الحدیث باختصار رواه البغوي والترمذي وابو داؤد من حدیث عبدالله بن مسعود ﷺ مرفوعاً.

تَرَىٰ كَثِيرًا مِّنْهُمْ يَتَوَلَّوْنَ الَّذِينَ كَفَرُوا

ته وینې اې محمد ﷺ ده هر کسان له یهودانو څخه یعني کعب بن الاشرف واصحابه، چې دوی موالات دوستي محبت کوي د هغو کسانو سره چې کافران دي یعني د مکې مشرکین، ولي چې کعب بن الاشرف سره د اوویا کسانو مکې ته تللی و او د ابو سفیان څخه یې فوج کشي پر علیه الصلوة والسلام طلب کړې وه او خپل د کومک وعده یې هم ورسره کړې وه.

لَبِئْسَ مَا قَدَّمَتْ لَهُمْ أَنفُسُهُمْ أَن سَخِطَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ وَفِي الْعَذَابِ هُمْ خَالِدُونَ ﴿٨٠﴾

ای بد دی شیئاً چې دوی لره خپلو نفسو دمخه واستاوه یعني قیامت ته یعني په قیامت به دغه شی پر دوی رد سي او عذاب به یې وویني او په عذاب کي به دوی همیشه پاته وي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې "ان سخط الله" مخصوص بالذم دی بتقدیر المضاف ای موجب سخط الله والخلود في العذاب.

فائده: د مضاف د تقدیر سبب دادی چې نفس سخط چې مضاف سي و خدای پاک ته هغه ته خو مخصوص بالذم نه ویل کېږي، بلکې مخصوص بالذم خو هغه اسباب دي چې موجب د سخط الله وي.

وَلَوْ كَانُوا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالنَّبِيِّ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوهُمْ أَوْلِيَاءَ وَلَٰكِنَّ كَثِيرًا مِنْهُمْ فَاسِقُونَ ﴿٨١﴾

که وای دغه یهودان ایمان یې درلودلای پر خدای او پر نبي یعني نبي ددوی چې موسی علیه السلام و، او پر هغه کتاب چې ددوی نبي ته نازل سوی و یعني التورات، یعني نه به وای ګرځولي یهودانو کفار د مکې خپل دوستان او پر جنګ د علیه الصلوة والسلام به یې نه وای باعثه کړي ولي چې توله کتب سماویه له موالاتو څخه د مؤمنانو د مشرکینو سره منع کوي، لکن ډېر له لیهودانو وتلي دي له امتثال څخه د اوامر الهیه وو.

لَتَجِدَنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَدَاوَةً لِلَّذِينَ آمَنُوا الْيَهُودَ وَالَّذِينَ أَشْرَكُوا

اې محمده ﷺ ته به پیدا کوې سخت ترین د خلګو از روی عداوت د هغه کسانو سره چې ایمان یې راوړی دی او هغه کسان چې مشرکان دي یعني مشرکوا العرب.

پوه سه: چې د "لتجدن" فاعل خو علیه الصلوة والسلام دی او "اشد الناس" مفعول اول دی د "لتجدن" او "عداوة" تمییز دی او "للذین آمنوا" متعلق دی په "عداوة" پورې او "الیهود" مفعول ثاني دی د "لتجدن" او "والذین اشرکوا" پر عطف دی.

وَلَتَجِدَنَّ أَقْرَبَهُمْ مَوَدَّةً لِلَّذِينَ آمَنُوا الَّذِينَ قَالُوا إِنَّا نَصَارَىٰ

او ته به پیدا کوې نژدې د خلګو په محبت کې د هغو کسانو چې ایمان یې راوړی وو، یعني الامة المحمدیة هغه کسان چې وایي مونږ نصاری یو،

دروښ وایي: چې اعراب ددې آیت داسې لکه د آیت اولی چې عنقریب تېر سو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: هرچه عداوت د یهودانو او مشرکانو دی هغه له دې سببه دی چې دوارې ډلې ډېرې حریصې دي پر دنیا او جاه وجلال او ریاست، او حرص پر دغو شیانو معدن د افعال ذمیمه وو دی، او هر څوک چې پر دغو شیانو حرص لري هغه دین په طلب کې ددغو شیانو تر شا غورځوي، او په طلب کې ددغو شیانو د هیڅ ناجائز او منکر کار څخه ځان نه ژغوري، نو له دې کبله دوس سخت دښمنان دي د هغه کسانو چې هغه یا مال پیدا کړي او یا جاه لکه مسلمانان په عصر نبوي کې وروسته تر هجرت چې په جهاد سره مامور سوه.

ذَٰلِكَ بِأَنَّ مِنْهُمْ قِسِّيسِينَ وَرُهْبَانًا

"ذالک" ای قرب مودة النصاری للذین آمنوا، په سبب ددې دی چې بعض له نصاری وو څخه.

"قسیسین ورهباناً" بغوي رحمه الله وایي چې قس او قسیس عالم متبحر ته وایي په لغت کې د رومیانو، او صاحب صحاح وایي چې قسیس عالم عابد ته وایي له رئیسانو څخه د نصاری وو، او صاحب قاموس وایي هو رئیس النصاری في العلم او اصل معنی د قس مثلثة الفاء تلاش ته د شي وایي په شپه کې کانهم سعوا بذالک لان العلماء والعباد یطلبون العلم والتوجه الی الله تعالی باللیل ای في ظلمات اللیالي.

پوه سه: چې "رهباناً" جمع د راهب ده لکه رکبان جمع د راکب، دا هغه عابدان دي چې په ګرجا (چرچ) کې چې صوامع یې بولي ناست وي لپاره د عبادت لکه زموږ په دین کې زاهدان چې په خلوت خانو کې ناست وي.

وَأَنَّهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ ﴿٨٢﴾

او بل دلیل د قرب محبت دادی چې دوی کبر نه لري له قبول څخه د حق چې دوی ته دعوت ورکړه سي او تواضع لري او کبر نه لري لکه یهودان.

پوه سه: چې اهل تفاسیر وایي چې قریشو د مکې پر دې مشوره وکړه چې د هري قبیلې سړی چې مسلمان وي، خپل قبیلې والا دې ازاروي او عذابونه دي ورکوي تر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څو چې دين د محمد ﷺ پرېږدي، خير قريشو په دې کار لاس پورې کړی هري قبيلې به خپل مسلمان واهه او ټکاوه ګاهي به يې سر ورمات کړی، او ذات اکرم د رسول الله ﷺ له دې فتنې څخه خلاص و په سبب د ابو طالب چې د بني هاشم د قوم مشر و، نو عليه الصلوة والسلام چې خپل د اصحاب، حال وليدی او په منع د کفارو هم نه و قادر او د جهاد امر هم نه و ورته سوی، نو خپل اصحاب يې امر کړه په هجرت الی ارض الحبشة، او دا يې وويل چې په حبشه کې يو ملک يعنې بادشاه سته صالح چې نه پرې ظلم کوي او دده په ملک کې هيڅ څوک پر هيڅ ظلم نه سي کولای، او دين د هر ملت پکښې ازاد دی او دی په خپله نصاری دی، فاخرجوا اليه حتى يجعل الله للمسلمين فرجاً او د عليه الصلوة والسلام مالک صالح سره د حبشه نجاشي مراد وچې اصلي نوم يې اصحمة وچې د صحمة معنی ددوی په ژبه عطية الله وه او نجاشي دوی هر باچا ته ويل لکه روميان چې هر باچا قيصر بولي او پارسيان هر باچا کسری او ترکان هر باچا خاقان بولي، نو په پټه يوولس کسه نر او څلور ښځې چې تولې پنځلس کېږي ودې هجرت ته اماده سوه چې نومان يې دادي عثمان بن عفان او دده کور والا رقيه بنت رسول الله ﷺ، زبير بن العوام، عبد الله بن مسعود، عبد الرحمن بن عوف، ابو حذيفه وزوجته سهله بنت سهل، مصعب بن عمير، ابو سلمة بن عبد الاسد وزوجته ام سلمه بنت اميه، عثمان بن مظعون، عامر بن ربيعه وزوجته ليلى بنت ابي حشمه وحاطب بن عمرو، سهيل بن بيضا رضي الله تعالى عنهم وعنهن اجمعين، نو ورغله درياب ته او کښتی يې کرايه کړه په نيم دينار في نفر تر حبشه پورې، د رجب مياشت وه پنځم کال د نبوت د عليه الصلوة والسلام و، وهذه الهجرة الاولى، وروسته جعفر بن ابي طالب هم پسې ولاړی، نورو مسلمانانو دې هجرت ته دوام ورکړی حتى چې په حبشه کې دوه اتيا کسه له نرانو څخه د مسلمانانو جمع سوه ببله ښځو او کوچنيانو، قريش چې په دې موضوع خبر سوه نو عمرو بن العاص او يو بل ملګری د هغه سره هدايا د نجاشي او دده د ملايانو په نامه واستول لکن نجاشي دا هدايا نه کړې قبولې، ولې دوی ورته ويل چې دا تولې مسلمانان لاس بسته موږ ته په لاس راکړه، او نجاشي د دا سې ظلم سره عادت نه درلودی،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې ددې موضوع پوره قصه په تفسیر کې د سورة آل عمران ټپره سوه في تفسیر قوله تعالی "ان اولی الناس بابراهیم الذین اتبعوه وهذا النبيﷺ" نو مسلمانانو په حبشه کې ډېر ښه ژوند تېراوه او خپل دین یې ازادانه کاوه.

پوه سه: چې د حبشې د هجرت پر وخت بعض مسلمانانو چې په مکه مکرمه کې ژوند پر سخت و په اجازه د علیه الصلوة والسلام یې هجرت مدینې منورې ته وکړی چې هورې انصار موجود وه چې په هغه وخت کې چې علیه الصلوة والسلام په مکه کې و، نو دوی به انفراداً او اجتماعاً راتله مکې ته او پر علیه الصلوة والسلام به یې ایمان راوړی، نو هغو انصارو د مدینې د مهاجرینو سره ډېرې په زړه پورې مرستې کولې، اخیراً علیه الصلوة والسلام د ابوبکرؓ سره مدینې ته هجرت وکړی، او اسلام ډېر لوړ سو او د جهاد اجازت هم حاصل سو، نو علیه الصلوة والسلام ونجاشي ته مکتوب نوشته کړی چې ام حبیبه چې د ابو سفیان لور وه چې هغې د مېړه سره حبشې ته هجرت کړی و او مېړه یې وفات سوی و په حبشه کې ماته یې په نکاح راوغواړه زما د خوا ته د نکاح وکیل یې، او دا خط یې د عمرو بن امیه په لاس ورکړی په سنه ۶ هـ کې د هجرت، نو نجاشي ته چې مکتوب د علیه الصلوة والسلام ورسېدی، نو نجاشي خپله مینځه چې ابرهه یې نوم و ام حبیبه ته واستول چې ستا د تزوج مرکه علیه الصلوة والسلام ماته مکتوب را استولی دی ته څه وایې، او نجاشي د خپلې مینځې په لاس څه زیورات وغیره ورکړه چې دا په خوشحاله سي او دې نکاح ته غاړه کښېږدي، نو ام حبیبيؓ خالد بن سعیدؓ وکیل کړی چې زما نکاح په څلور سوه دیناره د علیه الصلوة والسلام سره راوتړه، نو نکاح د علیه الصلوة والسلام چې وکیل یې نجاشي و او د ام حبیبه له خوا خالد بن سعیدؓ و تر منځ منعقده سوه، نو نجاشي بالفور څلور سوه دیناره د خپلې مینځې ابرهه په لاس ورکړه، ام حبیبه ته یې ورسول، ابرهه چې هغه څلور سوه دینار ام حبیبيؓ ته ورکړه، نو ام حبیبې پنځوس دیناره د انعام په ډول ابرهه ته ورکړه ابرهه بیرته ور رد کړه او وې ویل چې زمونږ ملک نجاشي امر کړې یم چې فهم کوه چې شی ځنې وانه خلې، او ابرهه وویل چې پر ما پېسې لږ نه دي، ولې چې جوړونکې د روغنو د سر غوړېدلو د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ملک یم، او ابرهه ورته وویل چې زما تصدیق دی چې محمد ﷺ د خدای ﷻ رسول دی او ما ایمان هم پر راوړی دی او زما تانه دا وصیت دی چې ته هر وخت د علیه الصلوة والسلام سره یو ځای سوې زما سلام به ورته وایه، ام حبیبې ﷺ ورته وویل نعم، او نجاشي خپلو ښځو ته وویل چې څه مشک او عنبر او نور څه تحفې چې ددوی سره وي ام حبیبې ﷺ زوجة النبي ته یې وروستوئ، او را وي وایي چې زیورات او مشک وعنبر به په وخت کې د اجتماع د ام حبیبې ﷺ او د علیه الصلوة والسلام ده مبارک لیدله لکن انکار یې نه پر کاوه، ام حبیبه ﷺ وایي چې موږ له حبشې څخه د مدینې پر خوا حرکت وکړی په دریاب کې لو علیه الصلوة والسلام ته چې موږ ورسېدلو په جنګ کې د خیبر و، نو موږ چې په یوه کیښتی کې و نارنیه ټوله خیبر ته ولاړه او زه پخپله مدینې ته ولاړم حتی چې علیه الصلوة والسلام مدینې ته راستون سو او زه ورغلم او د ابرهه مینځې سلام مې ور ورساوه، نو علیه الصلوة والسلام یې په وعلیک سره جواب ورکړی، نو دا آیت هم نازل سو "عسی الله ان یجعل بینکم وبین من عادیتم منهم" یعنې ابو سفیان مودة یعنې په سبب د تزویج د ام حبیبه، لکن ابو سفیان چې د خپل لور په نکاح خبر سو، یوه ډېره ناوړه خبره یې وکړه چې نقل یې نازیبا دی، راوي وایي چې په وخت کې د قدوم د جعفر بن ابي طالب یعنې د علیه الصلوة والسلام وخواته چې زارهي کهدی نجاشي دا خط وعلیه الصلوة والسلام ته نوشته کړی او دجعفر په لاس یې ورکړی، یا رسول الله اشهد انک رسول الله صادقاً مصدقاً وقد بایعتک، یعنې غیابا وبایعت ابن عمک یعنې جعفر واسلمت لله رب العالمین وقد بعثت بابني ارها وانت ان شئت ان آتیک بنفسي فعلت، والسلام علیک یا رسول الله، نو د نجاشي زوی په کیښتی کې سپور سو، وروسته تر جعفر واصحابه ﷺ حتی چې د نجاشي د زوی کیښتی د دریاب منځ ته ورسېدل غرقه سوه هر څو کسان چې یکښې وه شهیدان سوه، او جعفر و اصحابه ﷺ و علیه الصلوة والسلام ته ورسېدل، اوویا کسه چې گردو د وریږو کالي اغوستي وه دوه شپیته کسان د حبشې وه او اته کسان د شام وه، نو علیه الصلوة والسلام پر دوی سورة یٰس تلاوت کړی فبکوا حین سمعوا القرآن او دوی وویل چې څه عجب مشابه دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دا قرآن د ما انزل الله علی عیسی علیه السلام، وآمنوا فانزل هذه الآیة "ولتجدن اقربهم مودة" نو مراد په دې آیت کې وفد د نجاشي دی چې د جعفر رضي الله عنه سره راغلي وه اوویا کسه چې اصحاب الصوامع وه.

دروېش وایي: چې دا سوال په عوامو او خواصو کې همېشه مطرح دی چې نصاری په عداوت کې تر یهودانو کم نه دي، بلکې دروېش وایي چې په اوسنۍ زمانه کې تر یهودانو بالا دي، ولې چې مسلمانان عموماً په بمبارېو وژنې او بنديان کوي يې مساجد يې خرابوي په بمبارېو نر اوښځې او کوچنیان حتی شیر خواره کوچنیان په بمبارېو کې ددوی په اسلامي مملکتو کې او قرآن شریفان سوځل کېږي او د مسلمانانو باغونه او کورونه په بمبارېو ور اواروي، چې قوي حکومت د مسلمانانو چې عراق و په بهانه ددې چې په دې کې مواد جوهري دي او ایتم بم لري اول خو یې بار بار تلاشي وکړه شی یې نه کړی پیدا اخیر یې په ډېره بې رحمۍ سره حمله پر وکړه او ښځې، کوچنیان. مسجدونه او مدرسې یې په بمبارېو ویراني کړې، او پنځه کاله کېږي چې د امریکایانو او انګریزانو چې ټوله نصاری دي ظلم روان دی، او د ټهلو چینې او ځاهان یې ټوله تر قبضه لاندې راوستل، سنیان، شیعه ګان او کردان یې ټوله په جنګ سره واچول، او په نامه بین الملل کمپتی له بېرې څخه څه نه سي ورت ویلای. او کوفي عنان هم دغ نه سي ورته کولای، نو دا نصاری څرنګه اقرب مودةً دي.

او دا اوس امریکایانو چې نصاری دي په افغانستان کې چې خپل یو دست نشین په نامه د یو رئیس جمهور مقرر کړی دی او په حقیقت کې ریاست دافغانستان د امریکایانو په قبضه کې دی او د رئیس جمهور هیڅ په وسه نه ده صرف دادی چې پر چوکۍ د ریاست جمهوریه په خپله امریکایي په افغانستان کې نه سي کښې نسټلای چې دنیا وال ټوله دی محکوموي، دوی په خوله وایي چې موږ په افغانستان کې صلح راولو، دېرلوی درواغ وایي په افغانستان کې کرار کرار انګرېزي قوانین پیاده کول غواړي په افغانستان کې دي خلګ ددوی د پاشمول او پنجوایي حالات ملاحظه کړي چې خلګو د امریکایانو د بمبارۍ له کبله خپل کورونه پرې اېښي دي ددوی باغونه يې ټوله د مځکې سره هموار کړه، دنیا وال که نه دي په خبر موږ خو ورځ ورځ په ټولو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حالاتو یې خبر یو آیا دا ددوی صلح راوستل دي؟

حاصل دادی چې ډېره زمانه دمخه د لندن نصاری وو عالمگیر سلطنت پر ټوله دنیا کاوه حتی پر افغانستان په نامه د یو سامبولي بادشاه یې سلطنت کاوه، هغه سلطنت خو خدای ﷻ په خپل قدرت پای ته ورساوه چې ډېرو زیږ دستو حکومتو د استقلال دعوې وکړې او ځانونه یې استقلال ته ورسول، اوس بیا امریکایانو چې هم نصاری دي هغه پلان په نړۍ کې پلی کول غواړي، نو داسې نصاری اوس څه رنګه اقرب مودة کېدای سي؟

ځواب: امام بغوي رحمه الله چې لوی مفسر د قرآن عزیز دی وایي چې دا آیت په باره کې د ټولو نصاری وو نه دی، بلکې د هغو نصاری وو په باره کې دی چې اسلام یې قبول کړی وي لکه نجاشي و اصحابه کمامر بیانه عنقریب، او یا مراد ځنډي هغه نصاری دي چې دوی پر دین حقه د عیسی علیه السلام وه قبل مبعث النبي ﷺ او وصیت د عیسی علیه السلام یې په عمل سره ورساوه او انجیل یې په غوږ کې و او منتظر وه ومصداق ته د هغه آیت د انجیل "ونبشرک بنبي یاتي من بعدي اسمه احمد" او دوی به همېشه مشغوله وه په علم او عمل سره او په انتظار د نبي مبشر به في الانجیل به وه کما سیأتي في تفسیر قوله تعالی واذا سمعوا ما انزل.

دروېش وایي: چې بحمدالله تعالی وحسن توفیقه ایای تفسیر د جزء قرآني لایحب الله الجهر آه د چهار شنبې د مازدیګر له راتلو سره پای ته ورسېدی د میاشتي د ذی القعدة الحرام شلمه نېټه وه او سنه ۱۴۲۷ هـ وه یعني په تخمیناً دوې میاشتي او دوې ورځو او دوې شپو کې.

دروېش وایي: چې تبرکاً به ددې جزء تفسیر په یو مناجات سره د سیدنا زین العابدین بن علي بن حسین بن علي بن ابي طالب رضي الله عنهم ختم کړم، دا مناجات غالباً مقبول عند قاضي الحاجات دي، زه به زور او زیر او پېښې ورکړم تاچې امیان یې هم ویلای سي، دا مناجات لپاره د مغفرت د ګنهو او د شفاعت د سید المرسلین لپاره د دروېش په ظن تیر بهدف دي لان کلام السادات سادات الکلام.

چونکه دا مناجات په طور د وظیفې ویل کېږي او دروېش په پښتو کې دومره بلیغ الفاظ چې د امام رضي الله عنه ټوله مطلب دي پکښې اداء کړي په پښتو ژبه کې نه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درلوده، نو عربي عبارت مي رانقل کړی، نوکه يې ملا يانو وظيفه کول هغه به يې غالباً په معنی هم پوهېږي او که امیان وظيفه کوي هغو ته د الفاظو ويل کافي دی، چونکه امام زين العابدين دا مناجات د شپې په وخت کي کړي دي، نو زمونږ لپاره يې هم ښه وخت شپه ده، امام اصمعي لغوي رحمه الله وايي چې ما په يو شپه کي چې سپوږمی پکښې ځلېدله طواف د بيت الله شريفي کاوه چې يو ځوان دی په رنګ دهر ښائسته او په علم پوره په پردو پوري د کعبې مبارکي يې لاسونه نيولي دي او ده داسې ويل.

نَامَتِ الْعُيُوْنُ وَغَارَتِ النُّجُوْمُ وَاَنْتَ الْمَلِكُ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ
قَدْ غَلَّقَتِ الْمُلُوْكُ اَبْوَابَهَا وَاَقَامَتْ عَلَيْهَا حَرَسَهَا وَحُجَّابَهَا
وَبَابُكَ مَفْتُوْحٌ لِلسَّائِلِيْنَ فَهَا اَنَا مَا ثِلٌ بِبَابِكَ
مُذْنِبًا فَقِيْرًا مِسْكِيْنًا اَسِيْرًا جِئْتُ اَنْتَظِرُ رَحْمَتَكَ يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ

بيا يې داځو خواږه له تاثيره ډک بيتونه وويل

يَا مَنْ يُجِيْبُ دُعَاءَ الْمُضْطَرِّ فِي الظُّلَمِ يَا كَاشِفَ الضُّرِّ وَالْبَلْوٰى مَعَ الْقَسَمِ
قَدْ نَامَ وَ فُدِيْ وَ انْتَهِبُوْا وَاَنْتَ يَا قَيُّوْمُ يَا حَيُّ لَمْ تَنَمْ
اَدْعُوْكَ رَبِّيْ وَمَوْلَايَ وَمُسْتَنَدِيْ فَارْحَمْ بُكَائِيْ بِحَقِّ الْبَيْتِ وَالْحَرَمِ
اَنْتَ الْغَفُوْرُ فَجُدْلِيْ مِنْكَ بِمَغْفِرَةٍ اَوِ اعْفُ عَنِّيْ يَا ذَا الْجُوْدِ وَالْكَرَمِ
اِنْ كَانَ عَفْوُكَ لَا يَرْجُوْهُ ذُوْ جُرَمٍ فَمَنْ يَّجُوْدُ عَلَى الْعَاصِيْنَ بِالْكَرَمِ

وروسته امام زين العابدين رحمه الله د اسمان وخوا ته سر پورته کړی او داسې يې وويل

يَا اِلٰهِيْ وَسَيِّدِيْ مَوْلَايَ اِنْ اَطَعْتُكَ فَلَكَ الْمِنَّةُ عَلَيَّ، وَاِنْ عَصَيْتُكَ فَبِجَهْلِيْ فَلَكَ الْحُجَّةُ عَلَيَّ، اَللّٰهُمَّ فَبِاظْهَارِ مِنَّتِكَ عَلَيَّ وَاِثْبَاتِ حُجَّتِكَ لَدَيَّ اَرْحِمْنِيْ وَاغْفِرْ ذُنُوْبِيْ وَلَا تَحْرِمْنِيْ رُؤْيَةَ جَدِّيْ قُرَّةُ عَيْنِيْ وَحَبِيْبِكَ وَصَفِيِّكَ مُحَمَّدًا ﷺ.

پوه سه: چې مراد له جد څخه عليه الصلوة والسلام و، او بيا زين العابدين رحمه الله دا بيتونه وويل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اَلاَ اَيُّهَا الْعَامُوْلُ فِيْ كُلِّ شِدَّةٍ اِلَيْكَ شَكَوْتُ الضُّرَّ فَارْحَمْ شِكَايَتِيْ
اَلاَيَارَجَانِيْ اَنْتَ كَاشِفُ كُرْبَتِيْ فَهَبْ لِيْ ذُنُوْبِيْ كُلَّهَا وَاقْضِ حَاجَتِيْ
فَزَادِيْ قَلِيْلٌ مَا اَرَاهُ مُبَلِّغِيْ عَلَى الزَّادِ اَبْكِيْ اَمْ لِبُعْدِيْ مَسَافَتِيْ
اَتَيْتُ بِاَعْمَالٍ قِبَاحٍ رَدِيَّةٍ وَمَالِيْ فِي الْوَرٰى خَلْقٌ جَنٰى كَجِنَايَتِيْ

اصمعي رحمه الله وايي چې دا ابيات يې څو وراړه مکرر وويل باره پر محکمه غوڅار سو او بې هوشه سو. اصمعي رحمه الله وايي زه ور نژدې سوم نو ومې پېژنلی چې دا څو امام زين العابدين بن علي بن الحسين بن علي بن ابي طالب دی. نو ما دده سر په خپل غېږ کې ونيوی اصمعي رحمه الله وايي چې ما وژړل په سبب د ژړا دده بکاء شديداً شفقةً عليه. نو زما څخ اوښکې دده پر مبارک مخ ولګېدلې. نو دی په هوش کې راغلی او سترګې يې خلاصې کړې او وه يې ويل چې څوک يې چې زه دي له ذکر څخه د خپل باندار وه ايستلم، ما ورته وويل چې زه اصمعي يم ياسيدي ماهذا البکاء. ای اې زما باندارې دا ستا دومره ژړا پر څه وه او دا دومره فرياد و. او ته څو له اهل بيت څخه د نبوت يې او له معدنه څخه د رسالت يې. آيا ستاسې اهل بيت الرسول په باره کې خدای پاک داسې نه دي ويلي "اِنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ اَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيْرًا" باره زين العابدين رحمه الله راکښېنستی او ماته يې وويل يَااَصْمَعِيْ هَيْهَاتَ اِنَّ اللّٰهَ خَلَقَ الْجَنَّةَ لِمَنْ اَطَاعَهُ وَاِنْ كَانَ عَبْدًا حَبَشِيًّا وَخَلَقَ النَّارَ لِمَنْ عَصَاهُ وَاِنْ كَانَ مَلِكًا قُرَيْشِيًّا" اصمعي تا دا قول د خدای ﷻ نه دی اوربدلی "اِذَا نُفِخَ فِي الصُّوْرِ فَلَا اَنْسَابَ بَيْنَهُمْ وَلَايَتَسَائَلُوْنَ.

دروښ وايي: چې دا وه چې تفسير د "لايحب الله" من القرآن په دې حيرت انګېزه قصه او موعظت اميزه بيان پای ته ورسېدی.

اَللّٰهُمَّ اَسْئَلُكَ بِاَسْمَائِكَ هٰؤُلَاءِ السَّادَاتِ الْكِرَامِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فهرست تفسير ايوبي حنفي جلد شپږم

شمېر	مضمون	مخ
۱	سريزه	۳
۲	شکريه	۵
۳	معذرت دروېش	۶
۴	نصيحت	۱۰
۵	د "والمحصنٰت تفسير	۱۲
۶	حکايت	۱۷
۷	د مهر تفصيل	۲۲
۸	تنبيه	۲۹
۹	د ګناه کبيره بيان	۳۹
۱۰	نصيحت عام	۵۰
۱۱	د "والذين ينفقون اموالهم" بيان	۷۱
۱۲	د بخل په مذمت کې يوه عبرتناکه قصه	۷۵
۱۳	د کلمې شريفې فضيلت	۸۵
۱۴	المسائل المتعلقة بالجنابة	۹۵
۱۵	د تيمم بيان	۱۰۰
۱۶	يوه عبرتناکه قصه	۱۱۲
۱۷	د يهودو د بخل مذمت	۱۲۷
۱۸	د جنتيانو حليه	۱۳۰
۱۹	نکته	۱۳۹
۳۰	د "لوجد الله تواباً رحيماً بيان	۱۵۲
۲۱	د "والصديقين والشهداء والصالحين" بيان	۱۶۰
۲۲	د "من يطع الرسول" بيان	۱۸۲
۲۳	د سلام بيان	۱۹۵
۲۴	د عياش بن ربيعه قصه	۲۱۱
۲۵	د مقيس بن صبابه او هشام اسلام راوړل	۲۱۹

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

فهرست تفسير ايوبي حنفي جلد شپږم

شمېر	مضمون	مخ
۲۶	د مجاهد في سبيل الله فضيلت	۲۳۲
۲۷	د سفر د لمانځه بيان	۲۴۸
۲۸	د مريانو اقسام	۲۸۵
۲۹	مسائل متفرقه	۳۰۰
۳۰	لايحب الله	۳۲۷
۳۱	سوال، ځواب	۳۵۰
۳۲	د "وكان الله عزيزاً حكيماً" تفسير	۳۶۰
۳۳	حكايت عن حال الاستكبار	۳۷۴
۳۴	احكام ميراث	۳۸۰
۳۵	سورة المائدة	۳۸۲
۳۶	د ماكولاتو بيان	۳۹۲
۳۷	د مشركينو د ازلامو بيان	۳۹۸
۳۸	مسائل متفرقه	۴۱۰
۳۹	د "فاغسلوا وجوهكم وايديكم" بيان.	۴۳۳
۴۰	د مسح احكام ومسائل	۴۴۰
۴۱	حكايت	۴۵۲
۴۲	د جبابره وو قد وقامت	۴۷۴
۴۳	قصه وفات هارون عليه السلام	۴۸۲
۴۴	قصه وفات موسى عليه السلام	۴۸۳
۴۵	مسائل	۴۹۸
۴۶	د حدودو بيان	۵۰۵
۴۷	د يهودانو د زاني او زانيې قصه	۵۱۱
۴۸	د زكوٰة د منكرينو سره د صحابه كرامو رضي الله عنهم جنګ	۵۳۸
۴۹	د ام حبيبې رضي الله عنها د نكاح بيان	۵۷۷
۵۰	تتمه تفسير جلد سادس	۵۸۱

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

تفسير ايوبي حنفي۶ توک

د نصيراحمد احمدي لخوا

سکين او pdf سو.

تاريخ. ۳-۱-۱۳۹۹

واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

د دعا محتاج احمدي!

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner